فسئلوا اهل الذكر ان كنتم لا تعلمون

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاوی فریدیہ

افادات

محدث کبیر فقیہ العصر مفتی اعظم عارف باللہ مولانا مفتی محمد فرید رحمہ اللہ

جامعہ دار العلوم حقانیہ اکوڑہ خٹک

تخریج وترتیب

مفتی محمد وہاب منگلوری مدرس دار العلوم صدیقیہ زروبی

مکتبہ رشیدیہ

جی ٹی روڈ سردار پلازہ اکوڑہ خٹک

بسم اللہ الرحمن الرحیم

فَاسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ۝

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاوی فریدیه

جلد اول

افادات	محدث کبیر فقیه العصر مفتی اعظم عارف باللہ مولانا مفتی **محمد فرید** رحمۃ اللہ علیہ جامعه دار العلوم حقانیه اکوڑہ خٹک
تخریج وترتیب	مفتی محمد وهاب منگلوری مدرس دار العلوم صدیقیه زروبی
ترجمه وکمپوزنگ	**دار الترجمه وکمپوزنگ سنٹر** عبد الغنی پلازہ محله جنگی پشاور
زیر سرپرستی	مولانا حافظ **حسین احمد صدیقی** نقشبندی مهتمم دار العلوم صدیقیه زروبی ضلع صوابی
ناشر	مکتبه رشیدیه اکوڑہ خٹک

دکتاب نوم فتاوی دیوبند پاکستان المعروف بفتاوی فریدیه (اول جلد)

افادات محدث کبیرفقیه العصر مفتی اعظم عارف بالله مولانا مفتی محمد فرید مجددی زروبوی رحمة الله علیه شیخ الحدیث وصدر دارالافتاء جامعه دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

ترتیب و تخریج مولانا مفتی محمد وهاب منگلوری نقشبندی دارالافتاء دارالعلوم صدیقیه

معاون مولانا مفتی عصمت الله حقانی

مترجمین مولانا محمد منظر مردانی فاضل جامعه امداد العلوم صدر برهان الدین صدیقی فاضل جامعه دارالعلوم کراچی ایم اے پشاور یونیورسټی (فون: ۰۳۴۴_۹۱۲۹۰۲۳)

مصحح مولانا لطف الرحمٰن صاحب مدرس ونگران قاسم العلوم شه ځدر

کمپوزنګ دارالترجمه وکمپوزنګ سنټر عبدالغنی پلازه محله جنګی پشاور

ضخامت ۲۱۲ صفحات

رومبی چهاپ اکتوبر ۲۰۱۱ء .... شوال ۱۴۳۲ھ

زیر سرپرستی مولانا حافظ حسین احمد صدیقی نقشبندی مهتمم دارالعلوم صدیقیه زروبی ضلع صوابی (پاکستان)

ناشر مکتبه رشیدیه سردار پلازه اکوړه خټک نوشهره

رابطه نمبر: ۹۰۸۴۶۹۳-۰۳۴۴

فهرست مضامین د اول جلد

کتاب الفرق

باب فی الفرق الباطله

مضمون — صفحه

باب فی الفِرق الاسلامیه

فصل في مایتعلق بالجماعت التبلیغیة

مضمون — صفحه

مضمون	صفحه

کتاب الذکر والدعا والصلوة علی النبی ﷺ

مضمون	صفحه

کتاب التصوف والسلوک

كتاب الطب والرقية والتعويذ

مضمون	صفحه

کتاب السیر والمناقب

باب ما یتعلق بالنبی صلی الله علیه وسلم

مضمون	صفحه

باب ما یتعلق بالانبیاء علیهم السلام

باب ما یتعلق بالصحابة رضی الله عنهم

باب ما یتعلق بالائمة والعلماء

باب ما یتعلق بالافلاک

باب الکرامات

کتاب السیاسة

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

حرف آغاز

الحمد لله الذی اعلی معالم العلم واعلامه واظهر شعائر الشرع واحکامه وبعث رسلا وانبیاء صلوات الله علیهم اجمعین الی سبیل الحق هادین واخلفهم علماء الیٰ سنن سننهم داعین یسلکون فیما لم یوثر عنهم مسلك الاجتهاد مسترشدین منه فی ذالك وهو ولی الارشاد.

ددارالعلوم حقانیه انتهائی عام شهرت سره ددارلعلوم (دارالافتاء) ته هم په عالمِ اسلام کښې د اعتماد سند او عام مقبولیت حاصل دې، د دارالعلوم په ۱۳۶۶هـ کښې د بنیاد کیښودونه د افتاء سلسله هم جاري ده.او په انفرادي طورسره هم د دارالعلوم مشائخ او اساتذه کرام دخلقومختلف مسئلې حل کوي.

په ۱۳۸۶ھ کښې چه کله د حضرت سیدی و والدی وسندي شیخ الحدیث حضرت مولانا مفتي محمد فرید صاحب دام الله فیوضهم دارالعلوم ته راتلل اوشو نو دارالافتاء د یو منظمې شعبې شکل اختیار کړو. او په عملي نظم وضبط سره یو اداري کارشروع کړو.دا د دارالعلوم حقانیه د هغه ښائسته زمانې دیو عظیمې هستۍ د علمي او عملي ژوند یو باب دې نو ددې وجې نه د فتاؤو سره سره د صاحب فتاوٰی څه نا څه تذکره ضرور پکار ده. چه د صاحبِ فتاوٰی د عظمت په وجې سره ددې مجموعې عظمت هم په زړونو کښې کوز شي نو ځما والدِ مکرم شیخ الحدیث حضرت مفتي اعظم دامت برکاته د تقوٰی. للهیت.خاموش طبیعت . او د کمې وینا او ساده مزاج خاوند شخصیت دې.

د بنده ټوله د طالب علمۍ زندګی د والد صاحب سره تیره شوه دده علمي او عملي جلالت او رفعت د نمر د رڼرا په شان ښکاره دې دده په سوونو فیض یافته شاګردان په خپل ملک او بهر ملکونو کښې لوئې لوئې مفتیان. شیخ الحدیث أوشیوخ التفسیر.اوچتې درجې والا فقهاء، ممتازمصنفین. خطیبان او مهتممین ددین په خدمت کښې مشغول دې.

د دوي په مشهورو شاګردانو کښې قائدملت اسلامیه حضرت مولانا فضل الرحمٰن صاحب. حضرت مولانا حبیب الله صاحب شَیخ الحدیث جامعه اسلامیه

پشتون آباد کوئټه (دامیر المؤمنین مولانا محمد عمر مجاهد حفظه الله استاذ دي) د افغانستان سابقه چیف جسټس مولانا نور محمد ثاقب، حضرت مولانا انوار الحق صاحب نائب مهتمم جامعه حقانیه اکوړه خټك شیخ الحدیث مولانا ګوهر شاه صاحب، استاد الحدیث والتفسیر مولانا غلام محمد صادق صاحب دار العلوم اسلامیه چارسده، الداعي الکبیر مولانا حبیب الحق صاحب شیوه صوابی، استاذ الحدیث مولانا مفتي غلام الرحمان مهتمم جامعه عثمانیه، مولانا مفتي بدر منیر صاحب جامعه مدنیه بټ خیله سوات. استاذ الحدیث والتفسیر دار العلوم حقانیه مولانا مفتي سیف الله حقاني. استاذ الحدیث مولانا نصیب خان صاحب دار العلوم حقانیه، مولانا جلال الدین حقاني. مولانا سید عبد الباري آغا صاحب سابق سنئیر وزیر حکومت بلوچستان. شیخ الحدیث مولانا محمد ادریس صاحب تنګي چارسده. مولانا عبد الکبیر ننګرهار سابق ګورنر جلال آباد، علامه قاضي فضل الله صاحب (امیر جمعیت العلماء امریکه) مولانا مفتي رضاء الحق صاحب لینیشیا (مفتي افریقه) دا ټول شامل دي. د مفتي صاحب د شاګردانو شمیر د زرګونو نه هم اوړیدلي دي او په زرګونو علماء. طلباء او مخلصین صوفیاء د دوي په لاس مبارک باندې بیعت دي تر اوسه پورې د خلفاء تعداد څلور سوو پورې رسیدلي دي چه ما شاء الله د قران او حدیث او د علم دین په خدمت کښې شپه او ورځ مشغول دي.

دحضرت مفتي صاحب مدظله اولنی استاذ او تربیت کونکې دهغوي والد ماجد صاحب وو، چه د هغوي د شفقت په غیږ کښې ئې قرآن مجید او د فارسئ عربئ اولني کتابونو سره د استاذ العلماء رئیس الاتقیاء شیخ المعقول والمنقول حضرت العلامه مولانا خان بهادر رحمه الله المعروف په مارتونګ مولانا صاحب او حضرت العلامه شیخ المعقولات والمنقولات مولانا محمد نذیر صاحب چکیسري رحمه الله نه په سیدو شریف سوات کښې اولوستل، اودغه شان بعضې اوچت او لوې کتابونه د حضرت العلامه رئیس الاذکیاء مولانا عبد الرزاق رحمه الله (شاه منصور) نه په مردان کښې اولوستل. دا ټول شیوخ او اساطین دعلم اومعرفت دخپل دور رازی اوغزالی شمارلی کیدل. ددرس نظامي د ټولو علومو او د درجه تکمیل نه پس د موقوف علیه او صحاح سته لوستلو د پاره اسوة الفقهاء زبدة الاتقیاء، زینة المحدثین حضرت شیخ الحدیث مولانا نصیر الدین غور غشتوی نور الله مرقده په لویه او مشهوره درسګاه د حدیث شریف کښې شریک شو، حضرت شیخ الحدیث مولانا نصیر الدین

غور غشتوي رحمه الله په خپل نوراني فراست او باریک نظر سره په خپلو زرګونو شاګردانو کښې یواځې دحضرت مفتي صاحب مدظله العالي دعلمي قابلیت، ذهانت وفطانت ادب او احترام، زهد او تقوی تعریف اوکړو، دپاک وهند عظیم محدث، شیخ اکبر، شیخ الحدیث مولانا عبد الرحمان کاملپوري (المتوفی ۱۳۸۵هـ) د شفقتونو دا حال وو چه او محدثانه اود کمې وینا باجود به هم د حضرت مفتي صاحب سره آزادانه اندازه کښې خبرې اترې کولې، عمدة العارفین حضرت مولانا خواجه عبد المالک صدیقي قدس سره به فرمائیل چه دمفتي صاحب په خبرو کښې ډیر زیات اثر دې اوپه پښتنو کښې مضبوط نسبت والا دې.

محدث کبیر حضرت مولانا عبد الحق صاحب رحمه الله به فرمائیل چه حضرت مفتي صاحب د دار العلوم حقانیه روح روان دې. حضرت مفتي صاحب درې ځل باندې حج د پاره حرمین شریفین ته تشریف یوړلو، آخری ځل د کمزورئ او بیمارئ باوجود دحضرت امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد اودامارت اسلامیه افغانستان د امیرانو او وزیرانو د خواهش مطابق د (بعثة الحج الافغانیة) په سرپرستئ کښې تشریف یوړلو.

دسیاست په میدان کارزار کښې هم مفتي صاحب د تیز او رسیدلی فکر و نظر او د پخې نظرئې مالک دې. دجمیعت علمائې اسلام په مرکزی سرپرستانو کښې دې د مولانا مفتي محمود رحمه الله نه هم مخکښې د شیخ الاسلام حضرت مولانا سید حسین احمد مدني رحمه الله اودجمیعت علماء هند د اکابرینو په نظریاتو باندې روان دې. دپاکستان بلکه په عالم اسلام کښې د ټولو نه لوئې سیاسي او مذهبي جماعت جمیعت علمائې اسلام د ضلعي، صوبائي اومرکزي عمائدین او قائدینو ډیر شمیر د حضرت مفتي صاحب شاګردان او مریدان دي. دغه شان د امارت اسلامیه افغانستان اکثر وزیران اومسئولین (مشران) دحضرت صاحب شاګردان، خلفاء یا مریدان دی.

ددوی دوه ځامن او اووۀ بچیانې دي. په دوې کښې د ټولو نه لوئې صاحبزاده برادر مکرم حضرت مولانا مفتي رشید احمد حقاني دې چه په دار العلوم کښې ترشلو کالو پورې مدرس او د افتاء منصب باندې پاتې شو. د علوم نبویه طالبان د زرګونو په شمیر کښې دده نه مستفید شول. دوي د والد محترم په لاس مبارک سره په سلسله نقشبندیه کښې بیعت او خلیفه مجاز وو. د دار العلوم حقانیه د دار الافتاء نه دده په زرګونو باندې فتاوې شائع شوې دي. او څو تصنیفات ئې هم کړې دي آخر عمر کښې

د بیمارۍ په وجه د تدریس نه عاجزشو او د سلسله نقشبندیه او افتاء کارکوی، راقم
الحروف د حضرت صاحب دویم فرزند دې چه په کور کښې د والد صاحب په خدمت او
ورسره ورسره د دارالعلوم صدیقیه په نګرانۍ او اهتمام باندې مامور دې او د والد
محترم په لاس مبارک باندې د سلسله نقشبندیه بیعت او خلیفه مجاز دې، اصل کښې
تقریباً د یو نیم سل دوه سوو کالونه په زروبۍ کښې ځمونږ پخوانۍ د پلار نیکه یوه
درسګاه قائمه ده دې درسګاه ته ځمونږ د پلار نیکه سیبویه دزمانې، حکیم صادق
حضرت مولانا امان الله صاحب فاضل مدرسه عالیه رامپور په وجې سره ډیر شهرت
ملاؤ شوې وو دهغه نه پس ددې ذمه وارۍ ځمونږ نیکه حضرت العلامه جامع
المعقول والمنقول استاذ العلماء مولانا حبیب الله صاحب (المتوفي ۱۳۶۸ھـ ۱۹۴۸ء)
سنبهال کړه چه هغه د زروبۍ په صاحب حق صاحب باندې مشهور وو. دهغوې د وفات
نه پس دا درسګاه ځمونږ تره حضرت مولانا محمد زاهد افغاني رحمة الله علیه قائمه او دائمه
اوساتله، دا درسګاه په یو جماعت کښې قائمه وه بیا آخره کښې دې درسګاه د
حضرت مفتي صاحب په مشرۍ کښې د یوې منظمې مدرسې او دارالعلوم شکل
اختیار کړو. او راقم الحروف ددې په اهتمام او نګرانۍ باندې مامور دې الله تعالی دې
تر قیامته پورې ددې فیض جاري اوساتي.
الله تعالی حضرت مفتی صاحب ته د تدریسي فریضو دعالمي شهرت د
مقبولیت سره سره د تصنیف او تالیف مضبوطه ملکه هم ورکړې ده، دیوځو
کتابونو ذکر دلته کولې شي چه د هغې څو ایډیشنې چهاپ شوې دې.
(۱) **منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذي**(عربي): دا یوه جامع او مختصره شرحه ده چه په
پنځه جلدونو باندې مشتمله ده ټول اهم فقهی او حدیثی بحثونه پکښې جمع دی.
چه په یو وخت کښې ورته د شرح حدیث او د فتاوٰی حیثیت حاصل دې په علماؤ
او طلباؤ کښې یو شان مقبول ده.
(۲) **هدایة القاري علی صحیح البخاري**(عربی): کومه چه د بخاري شریف د اوږدو او غټو
شرحو خلاصه ده. او د اکابرو محدثینو د املاګانو نچوړ دې.
(۳) **فتح المنعم شرح مقدمة المسلم** (عربی): دا د صحیح مسلم د مقدمې ډیره محققانه
شرح ده چه په لسو اهمو بحثونو باندې مشتمله ده د طالبانو د پاره لارښودونکې ده.
(۴) **البشریٰ لارباب الفتویٰ** (عربی): دا مختصره رساله د افتاء په اصولو او ضوابطو باندې
مشتمله ده په لسو فصلونو باندې تقسیم ده. په آخرنی فصل کښې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه

مختصر د زندګي حالات دې او په هغوې باندې د اعتراضونو جوابونه بیان شوې دی
شیخ الحدیث مولانا عبدالحق رحمة الله علیه ددې رسالې په تقریظ کښې لیکلې دي
وفضیلة الشیخ محمد فرید المفتی بدارالعلوم الحقانیة قد افتٰی طیلة قیامه في الجامعة
وقدالف کتابه الفرید البشریٰ لارباب الفتویٰ وانی طالعته من مواضع متعددة
فوجدته نافعاً للعلماء والمفتین،، (دا رساله د فتاوې په ابتداء کښې د مقدمې په
طور شامل کړې شوې ده) اوس ددې رسالې ترجمه مفتی محمد وهاب منګلوری
اردو ترجمه سره شائع شوې ده.
(۵) **العقائد الاسلامیة باللغة السلیمانیة** (پښتو): دا کتاب په څلویښتو عقیدو او
څلویښت اهمو احکامو باندې مشتمل دې په موجوده زمانه کښې ددې اشاعت او
تدریس ډیر زیات ضروری دې.
(۶) **مقالات**: (پښتو) په دې کتاب کښې دبعضې اختلافي مسئلو دحل نه علاوه د
توحید مسئله په واضحه اندازه کښې بیان کړې شوې ده او په آخره کښې د
حضرت مفتي صاحب د ختم بخاري شریف تقریر لیکلې شوې دې کوم چه ئې د
دارالعلوم حقانیه او د مختلفو مدارسو. د ختم بخاري شریف په اجتماعاتو کښې
بیان کړې دې.
(۷) **مسائل حج**: (پښتو) دا رساله د حج په اهمو بحثونو او مسائلو او احکاماتو
باندې مشتمله ده.
(۸) **رسالة التوسل** (عربي) په دې رساله کښې په معتدل انداز سره د توسل په مسئلې
باندې رڼا اچولې شوې ده. او د توسل په حقیقت او قسمونو باندې ښه تفصیلی
تبصره شویده.
(۹) **سلسله مبارکه**: (اردو) په دې کښې د تصوف، تعریف، غرض وغایت او د سلسله
نقشبندیه د سبقونو تشریح کړې شوې ده.
(۱۰) **رساله قبریه** (پښتو) په دې کښې د مړي د مړ کیدلو نه واخله تر کفن دفن پورې
ټولې مسئلې جمع کړې شوې دی.
د حضرت شیخ الحدیث مفتي اعظم دامت فیوضهم فتوې د کتاب او سنت
او فقهې په اعتبار سره په ټوله اسلامي نړۍ کښې معتمد. قابل وثوق، مسلم او
مستند ګڼړلې کیږي. د جهاد افغانستان په ابتدائي ورځو کښې د روسي استعمار

دجهاد فتوی د ټولونه مخکښې حضرت مفتی دامت بر کاتهم ورکړې وه. چه په هغې پخپل ځائې باندې فخر کولې شی. په هغې باندې حضرت مولانا عبدالحق صاحب رحمه الله او نورو علمائې کرامو د ستخطې کړې وې او دده په پیروئ کښې بیا نورو مفتیانو کرامو هم فتوې ورکړې. اوهم دغه شان روسي استعمار خپل انجام ته اورسیدو. د مفتي صاحب فتوي مختصره، جامعه او مانعه وي د هرې علاقې په رواج او دستور باندې خاص خیال ساتي. دبې ځایه او نا مناسبه اوږد والي نه ځان ساتي د بې انتهاء کمزورئ او بیمارئ او ضعف او بوډاتوب سره سره تراوسه پورې د افتاء او سلسله نقشبندیه مبارکه په خدمت کښې مشغول دې.

د دارالعلوم حقانیه د ۳۱ کالو د فتاؤو نه بنده فوټوسټیټ اخستې او محفوظ کړې دی. محترم فاضل نوجوان مولانا مفتي محمد وهاب صاحب منګلورې فاضل و متخصص دارالعلوم حقانیه، مفتي و مدرس دارالعلوم صدیقیه زروبئ چه دوالدصاحب شاګرد رشید او په سلسله نقشبندیه کښې خلیفه مجاز هم دې ډیر زیات صفت او تعریف لائق دې چه هغه ددې قیمتې تالیف. فتاویٰ دیوبند پاکستان المعروف بفتاویٰ فریدیه) تبویب و ترتیب او تدوین د ایتونو او حدیثونو په تخریج او خاصکر د فقهي حوالو په مصادرو او مراجعو کښې د کامل احتیاط او توثیق نه کار اخستې دې. چه د ډیر زیات ګران او ډیر اوږد کوشش اود مشقت تقاضا کوي. الله تعالی دې ورته ددې بې مثاله او د اخلاص ډکو ښائسته کوششونو صله او آجر په دواړو جهانونو کښې ورکړي.

په اخره کښې مونږ لاس په دعایو چه الله تعالی دې د حضرت مفتي صاحب سورې په مونږ باندې همیشه ساتي او الله تعالی دې د ده علم د سلفونه خلفوته منتقل کړي. د مولانا حافظ ظهیرالدین صاحب مردان، مولوي عبدالجلیل صاحب قلعه سیف الله اودغه شان د نورو معاونینو دعاګانې غواړو چه الله تعالی جزائې خیر ورکړي. ان شاءالله چه د فتاؤو مجموعه به نه صرف د عوامو د پاره بلکه د علماؤ او د خواصو اهل علمو طبقې د پاره به هم ډیر زیاته مفیده وي.

حضرت مولانه حافظ (حسین احمد عفي عنه) صدیقي نقشبندی
ابن حضرت شیخ الحدیث مفتي اعظم محمد فرید صاحب دامت بر کاتهم
مهتمم دارالعلوم صدیقیه زروبئ صوابي

....

بسم الله الرحمن الرحیم

صورة ما املاه

فضیلة الشیخ المحدث الکبیر العلامة المفتي الاعظم
العارف بالله مولانا مفتي محمد فرید دامت بر کاتهم

الحمد لله وسلام علي عباده الذین اصطفیٰ؛ اما بعد! د حمد وصلوٰة د نه پس د الله یو فقیر بنده محمد فرید مجددي وائي چه ځه د حضرت مولانا شیخ الحدیث نصیرالدین غور غشتوي رحمة الله علیه په اشارې سره او د حضرت مولانا عبدالمالک صدیقي رحمه الله په حکم سره دارالعلوم حقانیه ته د تدریس د پاره راغلم او د استخارې نه پس ما د خوب او بیدارئې په مینځ مینځ کښې د دارالعلوم په جنوبي طرف کښې دا ایت. (ومن دخله کان امنا هم اولیدلو. نو ما په دارالعلوم حقانیه کښې دوه کالو پورې د مشکوة شریف جلد اول او ترمذي شریف جلد ثاني درس ورکړو په دریم کال د ابوداؤد شریف مکمل او د بخاري شریف جلد اول از کتاب الجهاد نه درس ورکړو. دې زمانه کښې څه بشارتونو نه هم څه مستفید شوم. بیا بل کال کښې بخاري شریف جلداول د کتاب البیوع نه او بیا د کتاب الایمان نه څما په حواله کړې شو. او ورسره ورسره ترمذي شریف هم ماته حواله شو. په دغې کال بخاري شریف جلد اول او ترمزي شریف جلد اول مِ په درس کښې شامل وو، په دغه زمانه (هدایة القاري شرح صحیح البخاري) او منهاج السنن شرح جامع السنن (پنځه جلدونه) اولیکلې شول. او مقبول شول چه د هغې تراوسه پورې اووه ځلې چهاپ شویدي.

بعضې مشائخو ته د هغوي د فرمائش په وجه باندې شیخ الحدیث مولانا عبدالحق رحمه الله (چه دهغه خبرې نرمې او فیصلې او ارادې د غرونو پشان پخې وې) اوفرمائیل! چه زه بیمار او کمزورې یم نو دې وجه نه څه دا خدمت مفتي صاحب ته حواله کوم اوچونکه تاسوهم کمزورې او بیماریئ او طالبان ستانه په خپلو کتابونو کښې مطمئن دي نو ددې و جې په دې صبر او کړئ.

ددې نه پس د بعضې مشائخو د بیمارئ او کمزورئ په وجه باندې مکمل صحیح مسلم هم ماته حواله شو، آخره کښې د دیرش کالو تدریس نه پس ما باندې فالج حمله اوکړه چه د هغې په وجې سره څه د تدریس نه عاجز شوم. تر اوسه صرف د افتاء او سلسله نقشبندیه خدمت کوم والله المستعان

حضرت مفتي اعظم شیخ الحدیث (محمد فرید) عفي عنه د امت بر کاته
۱۱۰ اپریل ۲۰۰۲م

بسم الله الرحمن الرحيم

البشریٰ لارباب الفتویٰ

الحمدلله رب العالمين. والصلوٰة والسلام

علیٰ سيد الأنبياء و المرسلين وعلیٰ اله وأصحابه وأتباعه أجمعين.

أمابعد: فيقول العبد الفقير إلى اللّٰه الغنى محمد فريد بن أستاذ العلمآء الشيخ مولانا حبيب اللّٰه الزروبوى. قدسألنى الفاضل القارى محمد عبداللّٰه الديروى (ڈی آئی خان) الديوبندى أن أؤلف رسالة وجيزة فى أحكام الفتيا، فأجبته سآئلا من اللّٰه تعالیٰ أن يتم علیّ هذه النعمة العظمیٰ. وسميتها بالبشریٰ لأرباب الفتویٰ. وأسأل اللّٰه تعالیٰ أن ينفع بها إياى وسآئر المسلمين. ولاحول ولاقوة إلابالله العلى العظيم.

إعلم! أن هذه الرسالة مشتملة علیٰ عشرة فصول.

الفصل الأول: فى بيان معنى الإفتآء وحقيقته وحكمه وحكمته.

والثانى: فى بيان فضله والترغيب فيه وفى بيان محل التحذير منه.

والثالث: فى بيان ألفاظ الفتویٰ.

والرابع: فى ضابطة ترجيح بعضها على بعض.

والخامس: فى رسم المفتى.

والسادس: فى مواضع الإفتآء بالقول المرجوح وبمذهب سائر الأئمة.

والسابع: فى بيان طريق الإفتآء فى الحوادث الجديدة.

والثامن: فى أحكام المفتى وآدابه.

والتاسع: فى أحكام المستفتى وآدابه.

والعاشر: فى ترجمة رأس المفتيين، سراج الأمة وإمام أئمة الدين.

الفصل الأول
فى بيان معنى الإفتآء وحقيقته وحكمه وحكمته

معنیٰ الإفتآء: .... قال الإمام الراغب: الفتيا والفتویٰ الجواب عما يشكل من الأحكام وقال الإمام الرازى: فى التفسير الكبير فى تفسير سورة النسآء: معنى الإفتآء إظهار المشكل وأصله من الفتیٰ وهو الشاب. فالمفتى كأنه يقوى ببيانه ما أشكل، ويصير قويا فتيا، وقال أيضا: فتيا وفتویٰ إسمان موضوعان موضع الإفتآء. وقال العلامة الشامى فى مقدمة ردالمحتار: عن ابن عبدالرزاق عن شرح المجمع للعينى. الفتویٰ مشتقة من الفتى وهو الشاب القوى وسميت به لأن المفتى يقوى السائل بجواب حادثته. إنتهیٰ.

وحقيقة الإفتآء: .... هو الإخبار عن حكم شرعى لاعلیٰ سبيل الإلزام بخلاف القضآء كما فى تصحيح الشيخ قاسم على القدورى. وكذا هو التوسط بين الله تعالیٰ وبين عباده كما فى شرح عقود رسم المفتى.

وحكم الإفتآء: .... ما فى قضآء البحر: أنه إن لم يكن غيره تعين عليه، وإن كان غيره فهو فرض كفاية، ومع هذا لايحل التسارع إلیٰ مالايتحقق. وفى قضآء البحر عن شرح الروض: وينبغى للإمام أن يسئل أهل العلم المشهورين فى عصره عمن يصلح للفتویٰ ليمنع من لايصلح ويتوعده بالعقوبة بالعود. وفى شرح التنوير مع ردالمحتار: بل يمنع مفت ماجن يعلم الحيل الباطلة كتعليم الردة وكالذى يفتى عن جهل. إنتهیٰ.

وحكمة الإفتآء: .... رد التحير ورفع الإشكال و التهارج، ولذا قال فى الفتاویٰ السراجية: عالم ليس فى البلدة أفقه منه ليس له أن يغزو لما يدخل عليهم الضياعة. إنتهیٰ.

الفصل الثانی فی بیان فضله والترغیب وفی بیان محل التحذیر منه

لا شک فی فضل أمر الإفتآء، کیف وهو شأن من شئون الله تعالیٰ، قال الله تبارک وتعالیٰ: ﴿قل الله یفتیکم فیهن﴾ وقال تعالیٰ: ﴿قل الله یفتیکم فی الکلالة﴾ (سورة النسآء) وکذاهو منصب من مناصب النبوة، قال الله تعالیٰ: ﴿ویستفتونک فی النسآء﴾. وقال تعالیٰ: ﴿یستفتونک﴾ (سورة النسآء) وکذاهو نوع من أنواع التعلیم والتبلیغ وکذا کانت الصحابة رضی الله تعالیٰ عنهم یفتون فی حیات النبی علیه الصلوٰة والسلام وفی خلافة الصدیق الأکبر وعمر الفاروق. کما فی طبقات بن سعد (۲:۱۰۹) أن عمر الفاروق وعثمان ذالنورین وعلی بن أبی طالب من المهاجرین وأبی بن کعب ومعاذبن جبل وزیدبن ثابت من الأنصار کانوا یفتون فی عهدالنبی ﷺ وفی عهدالصدیق الأکبر وفی عهدالفاروق الأعظم إنتهیٰ ملخصاً. وتعاملت علیه الأمة سلفاً وخلفاً والضرورة داعیة إلیه، قال الله تبارک وتعالیٰ: ﴿فسئلوا أهل الذکر إن کنتم لاتعلمون﴾ (النحل: ۴۳)

وکذافیه منقبة وراثة الأنبیآء علیهم الصلوٰة والسلام. وأمامارواه الدارمی: عن ابن المنکدر موقوفاً علیه أن العالم یدخل فی مابین الله وبین عباده. فلیطلب لنفسه المخرج ومارواه عن ابن مسعود رضی الله عنه: موقوفاً علیه، أن الذی یفتی الناس فی کل مایستفتیٰ لمجنون ومارواه عن عبیدالله بن جعفر: مرفوعاً، أجرء کم علی الفتیا أجرء کم علی النار فمحمول علی التحذیر من الإفتآء من غیر ثبت وتحقیق. کمایدل علیه مارواه الدارمی: عن أبی هریرة رضی الله تعالیٰ عنه مرفوعاً: من أفتیٰ بفتیا من غیر ثبت فإنما إثمه علی من أفتاه. وقال الإمام مالک رحمة الله علیه: من أجاب فی مسئلة فینبغی قبل الجواب أن یعرض نفسه علی الجنة والنار وکیف خلاصه ثم یجیب کمافی شرح المهذب. وفیه أیضاً عن أبی حنیفة رحمة الله علیه، أنه قال: لولا الفرق أی الخوف من الله تعالیٰ أن یضیع العلم ما أفتیت یکون لهم ألهنآء وعلیّ الوزر.

الفصل الثالث
فی بیان ألفاظ الفتوی

إعلم! أن ألفاظ الفتویٰ کثیرة مذکورة فی الفتاویٰ،

منها: ....مایشتمل علی اللفظ الذی فیه حروف الفتویٰ مثل علیه الفتویٰ وبه یفتیٰ والفتویٰ علیه وغیر ذٰلک.

ومنها: ......مالا یکون کذٰلک. مثل به نأخذ، وعلیه الإعتماد، وعلیه عمل الیوم، وعلیه عمل الأمة، وهو الصحیح، وهو المأخوذ به، وهو الإحتیاط، وبه جری العرف، وبه أخذ علمآءنا، وهو المتعارف، وهو الأصح، وهو الأظهر، وهو الأشبه أی الأشبه بالنصوص روایة والراجح درایة، وهو الأوجه أی الأظهر وجها، وهو الأحوط، وهو الأوفق، وهو الأولیٰ، وغیر ذٰلک. کمافی شرح عقود رسم المفتی وردالمحتار.

الفصل الرابع
فی ضابطة ترجیح بعض هٰذه الألفاظ علیٰ بعض

إعلم! أن اللفظ الذی فیه حروف الفتویٰ الأصلیة وکذامایساویه مثل: وبه نأخذ وعلیه العمل آکد من غیره کمافی شرح التنویر مع ردالمحتار، وفی رد المحتار من فصل صفة الصلوٰة: لفظة الفتویٰ آکد من لفظة المختار، وفی شرح التنویر: ولفظ "وبه یفتیٰ" آکد من "الفتویٰ علیه" لأن الأول یفید الحصر. قلت: لم أجد التصریح علی کون وبه یفتیٰ آکد من "وعلیه الفتویٰ" أو بالعکس إلا فی رسالة أحسن الأقاویل فی ردالأباطیل حیث ذکر فیها أن "وبه یفتیٰ" آکد من "وعلیه الفتویٰ" لأن الأول یفید الحصر والثانی یفید الأصحیة دون الحصر. إنتهیٰ قلت: وفیه نظر ظاهر، لأن الثانی أیضاً فیه تقدیم ماحقه التاخیر فیفید الحصر، فهما متساویان فی إفادة الحصر کمافی شرح عقود رسم المفتی، وفی شرح التنویر: أن لفظ إسم التفضیل آکد من غیره عندالرملی، وقیل: بالعکس وهو المنقول عن شرح المنیة.

إعلم ! أن الفقهآء علیٰ سبع طبقات

(١)الأولیٰ:......طبقة المجتهدین بالإجتهادالمطلق کالأئمة الأربعة وفاقاً وأبی یوسف ومحمدعندأرباب التحقیق.

(٢)و الثانیة:......طبقة المجتهدین فی المذهب الذین یستخرجون الأحکام عن الأدلة حسب القواعدالتی قررهاالمجتهدالمطلق لا یخالفونه فی قواعدالأصول وإن خالفوه فی بعض الفروع .

(٣)و الثالثة:......طبقة أکابرالمتأخرین الذین یقدرون علی الإجتهادفی المسآئل التی لارو ایة فیهاعن صاحب المذهب ولایقدرون علی المخالفة له.

(٤)و الرابعة:......طبقة المخرجین الذین یقدرون علی تفصیل قول مجمل ذی وجهین وحکم مبهم محتمل لأمرین منقول عن المجتهد.

(٥)و الخامسة:......طبقة المرجحین الذین یقدرون علیٰ ترجیح بعض الروایات علی بعض آخر.

(٦)و السادسة:......طبقة الممیزین الذین یقدرون علی التمیزبین الأقویٰ والقوی والضعیف.

(٧)و السابعة:...... طبقة المقلدین الذین لایمیزون بین الغث والسمین.نعم یمیزون بین ماظهرعلیه التعامل وهو الأرفق وماهو المعروف وبین مالم یکن کذٰلک فعلیهم إتباع مارجحه وصحّحه أهل الطبقات العالیة.نعم قد یوجد أقوال بلا ترجیح:فیعمل بماوقع علیه التعامل وماهوالأرفق والمعروف،وقد یختلفون فی التصحیح فیعمل بقواعدهذاالفصل من ترجیح بعض الألفاظ علیٰ بعض آخر،و کذابماوقع علیه التعامل وبماهوالأرفق وبماهو المعروف کما أشیرإلیه فی شرح التنویر.

الفصل الخامس

فی رسم المفتی أی بیان العلامة تدل المفتی علیٰ مایفتیٰ به

إعلم !أن المفتی هوالمخبرعن حکم شرعی لاعلی سبیل الإلزام بخلاف القاضی کمامر.

قال ابن الهمام فی فتح القدیر:وقداستقررأی الأصولیین علیٰ أن المفتی هوالمجتهد وأماغیرالمجتهد ممن یحفظ أقوال المجتهدفلیس بمفت والواجب علیه إذاسئل أن یذکرقول المجتهد کالإمام علیٰ وجه الحکایة، فعرف أن مایکون فی زماننامن فتوی الموجودین لیس بفتویٰ بل هونقل کلام المفتی فیأخذبه المستفتی.وطریق نقله لذٰلک عن المجتهدأحدالأمرین إماأن یکون له سند فیه أویأخذه من کتاب معروف تداولته الأ یدی نحوکتب محمدبن الحسن ونحوهالأنه بمنزلة الخبرالمتواتروالمشهور.إنتهٰی قلت:وقداصطلح أهل الأعصارالحادثة علی أن المفتی هوالناقل لحکم شرعی ولامشاحة فی الإصطلاح،

فرسم المفتی یؤخذ من الجمل الأتیة:

(ا)...... أن الحکم إن اتفق علیه أصحابنایفتیٰ به قطعاً.

(ب)......وإلافإماأن یصحح المشایخ أحدالقولین فیه أو کلاً منهماأولا ، ففی الثالث یعتبرالترتیب بأن یفتی بقول أبی حنیفة ثم بقول أبی یوسف ثم بقول محمدثم بقول زفرثم بقول الحسن بن زیاد کذافی الفتاویٰ السراجیة وغیرها، وصحح الحاوی القدسی قوة الدلیل . قال العلامة الحلبی:والذی یظهرفی التوفیق أی بین مافی الحاوی ومافی السراجیة،أن من کان له قوة إدراک لقوة المدرک یفتیٰ بالقول القوی المدرک،وإلافبالترتیب.وفی ردالمحتارماملخصة:أن الفتویٰ علی قول الإمام الأعظم أبی حنیفة فی العبادات مطلقاً، سوآء انفرد وحده أم لا.وقیل:إذاکان أبوحنیفة فی جانب وصاحباه فی جانب فالمفتی بالخیار،والأول أصح إذالم یکن المفتی مجتهداً،کذافی الفتاویٰ السراجیة.وفی ردالمحتار:وهو(أی کون الفتویٰ علی قول الإمام الأعظم فی العبادات)الواقع بالإ ستقرآء مالم یکن عنه روایة کقول المخالف کمافی طهارة المآء المستعمل.وعلی قول أبی یوسف فی مایتعلق بالقضآء والشهادات.وعلی قول محمد فی جمیع مسآئل ذوی الأرحام.وعلی قول زفرفی سبعة عشرمسألة بل عشرین مسئلة مذکورة فی ردالمحتار من باب النفقة.

(ج)......إذا كان فى المسئلة قياس وإستحسان،فالعمل على الإستحسان إلا فى مسائل معدودة شهيرة،كذافى ردالمحتار.

(د)......وفى البحرمن باب قضآء الفوائت: المسئلة إذالم تذكرفى ظاهرالرواية وثبتت فى رواية أخرىٰ تعين المصيرإليها.

(ﮬ)......وفى الأول: أى إن صحح المشايخ أحدالقولين، إن كان التصحيح بأفعل التفضيل خيرالمفتى وإلا فلا،بل يفتى بالمصحح فقط.

(و)......وفى الثانى: أى إن صحح المشايخ كلاًمنهما إما أن يكون أحدهما بأفعل التفضيل أولا،ففى الأول قيل: يفتىٰ بالأصح وهو المنقول عن الخيرية. وقيل: بالصحيح وهو المنقول عن شرح المنية كمامر،وفى الثانى: يخير المفتى وهو المنقول عن وقف البحروالرسالة أفاده الحلبى.

(ز)......وفى البحر: الفتوىٰ إذااختلف كان الترجيح لظاهرالرواية، وفى الأشباه: يتعين الإفتاء فى الوقف بالأنفع له كما فى شرح المجمع والحاوى القدسى.

إعلم! أن مسائل مذهبناعلىٰ ثلاث طبقات.

الطبقة الأولىٰ:...... مسائل الأصول: وهى مسائل ظاهرالرواية، ويقال لها مسائل ظاهرالمذهب أيضاً. وهى مسائل المبسوط لمُحَمَّد ومسائل الجامع الصغيرومسائل الجامع الكبيرومسائل السيرالصغيرومسائل السير الكبيرومسائل الزيادات.

والطبقة الثانية:......من مسائل المذهب: هى غيرظاهرالرواية،وهى المسائل التى رويت عن الأئمة لكن فى غيرالكتب المذكورة.

والطبقة الثالثة:......الفتاوىٰ وتسمىٰ الواقعات: وهى مسائل استبطها المتأخرون من أصحاب محمد وأصحاب أصحاب محمد، فمن بعدهم فى الواقعات التى لم توجد فيهارواية عن الأئمة الثلاثة. ثم ذكرالمتأخرون هذه المسائل مختلطة غيرمتميزة كمافى فتاوىٰ قاضيخان،وذكرهابعضهم متميزة كمافى كتاب المحيط لرضى الدين السرخسى،إنه ذكرأولاًمسائل الأصول ثم النوادرثم الفتاوىٰ ونعم مافعل.

(ح)......وفى تنقيح الفتاوىٰ الحامدية: وقالوا أيضاً: أن مافى المتون مقدم علىٰ مافى الشروح. ومافى الشروح مقدم علىٰ مافى الفتاوىٰ. إنتهىٰ

قالوا: المرادمن المتون ليس جميع المتون،بل المرادالمختصرات التى ألفهاحذاق الأئمة كالطحاوى والكرخى والحاكم.

وقالوا أيضاً: هذا إذالم يوجدالتصحيح الصريحى فى الطبقة التحتانية،قال العلامة الشامى فى تنقيح الفتاوىٰ فى باب الحجر: أن ماجرى عليه أصحاب المتون من أنه لا يحجرعلى الحرتصحيح التزامى بمعنى أن أصحاب المتون التزمواذكرالصحيح وهم فى الغالب يمشون على قول الإمام. وقدمشوا فى هذه المسئلة على قوله،فهوتصحيح له التزاماً،ومامرعن الخانية: من أن الفتوىٰ علىٰ قولهما تصحيح صريح فيقدم على الإلتزامى.

(ط)......وفى شرح التنوير: أمانحن أى طبقة المقلدين الذين لا يقدرون على التميزفعلينااتباع مارجحوه وماصححوه كمالوأفتوافى حياتهم.

(ى)......فى تنقيح الفتاوىٰ: المرادمن قولهم "يدين ديانة لاقضآء" أنه إذااستفتى فقيهاًيجيبه على وفق مانوى ولكن القاضى يحكم عليه بوفق كلامه لايلتفت إلىٰ نيته إذا كان فى مانوىٰ تخفيف عليه.

(ك)......وفى القنية: ليس للمفتى ولاللقاضى أن يحكماعلى ظاهر المذهب ويتركاالعرف،ونقله عنه فى خزانة الروايات.

وفى شرح عقودرسم المفتى ماملخصة: أن للمفتى اتباع العرف الحادث فى الألفاظ العرفية. وكذافى الأحكام التى بناهاالمجتهدعلىٰ ماكان فى عرف زمانه وتغيرعرفه إلىٰ عرف اخر، لكن بعدأن يكون المفتى ممن له رأى ونظربقواعدالشرع،حتىٰ يميزبين العرف الذى يجوزبنآء الأحكام عليه وبين غيره. وكذالابدله من معرفة عرف زمانه وأحوال أهله ومن التخرج فى ذلك علىٰ أستاذماهر. وقدقالوا: من جهل بأهل زمانه فهوجاهل،وقالوا: أن جمودالمفتى أوالقاضى على ظاهرالمنقول مع ترك العرف والقرآئن الواضحة والجهل بأحوال الناس يلزم منه تضيع حقوق

كثيـرة وظـلـم خـلـق كثيـريـن. وبـالـجـملة يلزم اتباع العرف وهذامالم يخالف الشريعة كالمكس والربـا ونـحـوذلک. ولايعتبر العرف العام إذالزم منه ترک النص، ويعتبر إذالزم منه تخصيص النص ويعتبر العرف الخاص فی حق أهله فقط إذالم يلزم منه ترک النص ولا تخصيصه. إنتهىٰ

(فـائـدة) ماقال المتأخرون: أن مفهوم المخالفة حجة فی الروايات وكلام الناس دون كلام الشارع فمبنی علی أنه المتعارف بينهم ويؤيده مافی شرح السير الكبير: أن الثابت بالعرف كالثابت بالنص.

الفصل السادس فی مواضع الإفتآء بالقول المرجوح وبمذهب سآئرالأئمة

إعلم! أنه لايجوز الحكم والإفتآء بالقول المرجوح وبمذهب سآئر الأئمة إلافی ثلاثة مواضع.

(الأول)......عندالضرورة دون التشهی والتلهی، فإنـه حرام كما حرّم الحكم الملفق الـخارق لـلإجـمـاع فـی عمل واحد كالحكم بصحة وضوء من ترک الترتيب ومسح دون ربع الرأس. قال العلامة الشرنبلالی فی رسالته عقدالفريدفی جوازالتقليد: مذهب الحنفية: المنع عن المرجوح حتیٰ لنفسه لكون الـمرجوح صارمنسوخاً. إنتهیٰ نعم قيدالبيری بالعامی، وذكرعن خزانةالروايات أن العالم الذی يعرف معنی الـنـصـوص والإخبار وهومن أهل الدراية يجوزله أن يعمل عليها وإن كان مخالفاًلمذهبه. إنتهیٰ وقال العلامةالشامی فی مقدمة ردالمحتار: هذافی غيرموضع الضرورة، وبـمعناه فی شرح عقودرسم المفتی. وفی البزازية: أنه روی عن أبی يوسف رحمه الله تعالیٰ: أنه صلی الجمعة مغتسلاًمن الحمام ثم أخبربفارة ميتةفی بئرالـحـمام، فقال: نأخذبقول إخواننامن أهل المدينة إذابلغ الماء قلتين لم يحمل خبثاً. وفی ردالمحتارعن القهستـانـی: لـوأفتـی بـه(أی بـمـذهـب مـالک فـی الـمفقود) لابـأس بـه علیٰ مـاأظن. إنتهیٰ. قال العلامةالشامی: ونظيرهذه المسئلة عدةممتدةالطهرالتی بلغت برؤيةالدم ثلاثةأيام ثم امتدطهرهافإنهاتبقی فی العدةإلیٰ أن تـحيض ثـلاث حيض، وعندمالک تنقضی عدتهابتسعةأشهر. وقال فی البزازية: الفتویٰ فی زماننا علی قول مالک. وقال الزاهدیؒ: كان بعض أصحابنايفتون به للضرورة. إنتهیٰ وفی شرح التنويرفی باب الحظروالإباحة: ليس لـذی الـحق أن يأخذ غيرجنس حقه وجوزه الشافعی وهوالأوسع. إنتهیٰ وقال

العلامةالشامی: قدمنافی باب الحجر: أن عدم الجواز كان فی زمانهم، أمااليوم فالفتویٰ علی الجواز. وفی شرح التنوير: كـره صـلـوٰة مـطـلـقـاً مـع شـروق الشـمـس إلاالعوام فلايمنعون من فعلهالأنهم يتركونها، والأدآء الـجائزعـنـدالـبعض أولیٰ من الترک كمافی القنيةوغيرها. وفی مختارات النوازل: ولوخرج منه شیء قليل ومسحـه بـخـرقة حتیٰ لـوتـرک يسيـل لاينقض. قلت: وأصل هذه المسآئل قوله تعالیٰ: ﴿إلامـااضطررتم﴾ وقولهﷺ: "يسروا ولاتعسروا بشروا ولاتنفروا". رواه البخاری ومسلم.

(فـائـدة)......لما كان الإفتاء عليه عندالضرورة من أصول الحنفية كان الحكم المبنی عليه مـذهـب الـحـنـفية أيضاً لإبتناء ه علی قواعد هم كما صرح به العلامة الشامی فی عقود رسم المفتی فيما إذا خالف فيه الأصحاب إمامهم الأعظم.

(والثـانـی)......أنـه جازالإفتآء بالمرجوح وبمذهب سآئرالأئمة عندصحة الحديث فيه، أی عـنـدكـون الـحديث المخالف ثابتاً سنداً ومتناًغيرمنسوخ وغيرمعلول وغيرمعارض بحديث اخر. قـال ابن الشحنة: إذاصح الحديث وكان علیٰ خلاف المذهب عمل بالحديث ويكون ذٰلک مذهبه ولايـخـرج مـقـلـده عـن كونه حنفياًبالعمل به فقدصح عنه أنه قال: "إذاصح الحديث فهومذهبی." وقـدحـكـی ذٰلک ابـن عـبـدالبـرعـن أبـی حـنيـفة وغيـره مـن الأئمة. إنتهیٰ وقال الإمام عبدالوهاب الشعرانـی الشـافـعـی فـی الميزان الكبریٰ: قد روی الإمام أبوجعفرالشيزاماری بالسندالمتصل إلیٰ الإمـام أبـی حـنيـفة: كـذب والـلـه وافتریٰ عليناممن يقول عناأننانقدم القياس علی النص، وهل يحتاج بـعدالـنص إلی القياس. وكان رضی الله عنه، يقول: "نحن لانقيس إلاعندالضرورة الشديدة وذٰلک أنـنانـنظرأولادليل تلک المسئلة من الكتاب والسنة وأقضيةالصحابة فإن لم نجد دليلاً قسناحينئذٍ". وفـی رواية أخـریٰ كـان يـقـول: "ماجآء عن رسول اللهﷺفعلی الرأس والعين بأبی هووأمی وليس لنامخالفة، ومـاجـآءنـاعـن أصـحابه تخيرناوماجآءنا عن غيرهم فهم رجال ونحن رجال". إنتهیٰ قـلـت: ولـم أجـدفـی صـريـح كـلام الـحـنـفية مثالاً لهٰذاالـنوع. ولايبعدأن يمثل لـه بماقالـه الإمام

أبو حنيفة: أن من حمل خمر الذمي يطيب له الأجر خلافاً لأبي يوسف و محمد رحمهما الله تعالىٰ لصحة الحديث: "لعن الله الخمر وحاملها والمحمولة إليه." رواه أبو داؤد. و بما قال: لا تعزير بأخذ المال، لصحة حديث أبي داؤد: ومن منعها أي الزكوٰة فإنا آخذوها وشطر ماله غرمة من غرمات ربنا عز وجل. ولصحة مصادرة عمر عماله بأخذ شطر أموالهم، فقسمها بينهم وبين المسلمين، كما أشير إلى المثال الثاني في معين الحكام.

(والثالث)......أنه أجاز الإفتآء بالمرجوح وغيره عند تبدل العرف كما في معين الحكام عن القرافي. أما الصحيح في هذه الأحكام في مذهب أبي حنيفة والشافعي وغيرهما رحمهم الله تعالىٰ، المرتبة على العوآئد، فهل إذا تغيرت تلك العوآئد وصارت تدل على ضد ما كانت تدل عليه أولاً، فهل تبطل هذه الفتاوىٰ في الكتب، ويفتي بما تقتضيه العوآئد المتجددة، أو يقال: نحن مقلدون ومالنا إحداث شرع لعدم أهليتنا للإجتهاد فيفتىٰ بما في الكتب المنقولة عن المجتهدين؟ والجواب: أن إجرآء هذه الأحكام التي مدركها العوآئد متىٰ تغيرت تلك العوآئد خلاف الإجماع جهالة في الدين، بل كل ما هو في الشريعة يتبع العوآئد يتغير الحكم فيه عند تغير العادة إلىٰ ما تقتضيه العادة الجديدة. إنتهىٰ بحذف يسير ومثله في شرح عقود رسم المفتي كما مر في الفصل الخامس.

الفصل السابع

في طريق الإفتآء في الحوادث الجديدة

قال المحقق الشاطبي: الإجتهاد علىٰ ضربين. أحدهما: لا يمكن أن ينقطع حتى ينقطع أصل التكليف. والثاني: يمكن أن ينقطع قبل فنآء الدنيا. فأما الأول: هو الإجتهاد المتعلق بتحقيق المناط. و معناه أن يثبت الحكم بمدركه الشرعي لاكن يبقى النظر في تعين محله. إنتهىٰ بحذف يسير. وملخصه: أنه تعرف العلة المنصوصة أو المجمع عليها في غير الصورة المنصوصة، مثل تعرف وصف السرقة في صورة النباش،

فجاز تخريج حكم الحوادث الجديدة بهٰذه السبيل، كيف، وقد تعاملت الأمة عليها حيث خرجوا مثل هٰذه الأحكام من القرآن والأحاديث والآثار وعبارات المشايخ والنظآئر والشواهد إذا لم يجدوها صريحة. وبالجملة: أن الأصل في تشريعها التخريج من النصوص، ويكفي في إباحتها علم تعارضها بالنصوص. وهٰذا التخريج لا يتيسر إلا لمن كان حافظاً بصيرًا عارفاً للمسآئل بشروطها وقيودها ذا ذوق سليم وذا مشورة بأهل العلم غير جاهل بأهل زمانه، فافهم

الفصل الثامن

في أحكام المفتي وآدابه

إعلم! أن الفقهآء ذكروا له شرآئط وآداباً كثيرة مسطورة في شرح المهذب للنواوي وقضآء البحر.

(١) إحداها:...... أنه يشترط فيه أن يكون مسلماً عادلاً عاقلاً بالغاً، فلا يصح فتوى الكافر والفاسق والمجنون والصبي، كما في البحر وشرح المهذب للنواوي. ولا يشترط فيه الإجتهاد في زماننا لتعذره في المفتي كالقاضي، نبه عليه العلامة الشامي في قضآء رد المحتار. ولذا شاع إطلاق المفتي على الحاكي لأقوال الفقهآء إذا كان ذا بصيرة في العصر الحادث.

(٢) الثانية:......أنه يشترط فيه، أن يكون متيقظاً يعلم حيل الناس ودسآئسهم لئلا يكون معيناً علىٰ ضلالة وظلم كما في رد المحتار وشرح المهذب.

(٣) الثالثة:......أنه يشترط، أن يحفظ مذهب إمامه ويعرف قواعده وأساليبه، ولا يشترط في زماننا أن يعرف أقاويل العلمآء ولا أن يعرف من أين قالوا. كذا في البحر

(٤) الرابعة:......أنه ينبغي، أن يكون ظاهر الورع مشهوراً بالديانة الظاهرة والصيانة الباهرة، كذا في شرح المهذب، وقواعدنا لا تأباه. ولا ينبغي، أن يكون جبارًا، فظاً، غليظاً، بل يكون متواضعاً كما في لسان الحكام.

(٥) الخامسة:...... أنه يحرم عليه التساهل في الفتوىٰ بأن لا يثبت في الفتوىٰ ويسرع فيها، ومن

التساهل: أن تحمله الأغراض الفاسدة علىٰ تتبع الحيل المحرمة أو المكروهة و التمسك بالشبه طلباً للترخيص لمن يروم نفعه، أو التغليظ علىٰ من يريد ضره. كذا في شرح المهذب و البحر.

(٦) السادسة :......أن لايفتى في حال تغير خلقه وتشغل قلبه كغضب وجوع وعطش وحزن وفرح وغير ذلك ، كمافي شرح المهذب والبحر

(٧) السابعة :......أن يغلظ للزجر متأولاً. كماإذا سأله من له عبد عن قتله، وخشى أن يقتله، جازله أن يقول له: "إن قتلته قتلناك" متأولاً لقوله ﷺ :من قتل عبده قتلناه، (١) وهذا إذالم يترتب علىٰ إطلاقه مفسدة . كذا في البحر

(٨) الثامنة :......أن يتبرع بالفتوىٰ ولايأخذبه الأجرة. نعم، جازله قبول الهدية. ذكر العلامة الشامي في قضآء ردالمحتار عن بعض الشافعية: ولا يلحق بالقاضي في ماذكر المفتي والواعظ ومعلم القرآن والعلم، لأنهم ليس لهم أهلية الإلزام، والأولىٰ في حقهم إن كانت الهدية لأجل مايحصل منهم من الإفتآء والوعظ والتعليم عدم القبول ليكون علمهم خالصاً لله تعالىٰ، إن اهدىٰ إليهم تحبياً وتودداً لعلمهم وصلاحهم فالأولىٰ القبول. وأما إذا أخذ المفتي الهدية ليرخص في الفتوىٰ فإن كان بوجه باطل فهو رجل فاجر، يبدل أحكام الله تعالىٰ ويشتري به ثمناً قليلاً . وإن كان بوجه صحيح فهو مكروه كراهة شديدة. إنتهىٰ كلامه وقواعدنا لا تأباه. ولاحول ولاقوة إلابالله العلي العظيم وأما إذاأخذ، لاليرخص له، بل لبيان حكم شرعي فهذاما ذكره أولاً، وهذا إذالم يكن بطريق الأجرة، بل مجرد هدية لأن أخذ الأجرة علىٰ بيان الحكم الشرعي لايحل عندنا، وإنمايحل على الكتابة لأنهاغير واجبة عليه، إنتهىٰ مافي ردالمحتار. وفي قضآء البحر: وعلى الإمام أن يفرض لمدرس ومفت كفاية. وفي لسان الحكام في اداب القضآء: يجوز للقاضي أخذ الأجرة علىٰ كتبه السجلات المحاضر وغيرها من الوثائق بمقدار أجرة المثل وذلك لأن القاضي إنمايجب عليه القضآء. ولابأس للمفتي أن يأخذ شيئاً علىٰ كتابة جواب الفتوىٰ، وذلك لأن الواجب على المفتي الجواب باللسان دون الكتابة بالبنان. وفي

تكملة ردالمحتار قبيل كتاب الشهادات: لايجب عليه دفع الرقعة ولاأن يفهمه مايشق عليه. وفيها أيضاً: والحاصل أن على المفتي الجواب بأي طريق يتوصل به إليه، وكل مالايتوصل إلى الفرض إلابه فهو فرض. وحيث كان في وسع المفتي الجواب بالكتابة لاباللسان وجب عليه الجواب بها، حيث تيسرت إليه بلامشقة عليه بأن أحضرها له السآئل، ولايلزم للمفتي بذلهامن عنده له . وهذا كله إذا تعين عليه الإفتآء ولم يكن في البلدة من يقوم مقامه في ذلك .انتهىٰ وفي شرح التنوير في مسآئل شتىٰ من كتاب الإجارة: ويستحق القاضي الأجر علىٰ كتب الوثآئق والمحاضر والسجلات قدر مايجوز لغيره كالمفتي فإنه يستحق أجر المثل على كتابة الفتوىٰ لأن الواجب عليه الجواب باللسان دون الكتابة بالبنان، إنتهىٰ مافي شرح التنوير .وفي ردالمحتار عن جامع الفصولين: وإنماأجر مثله بقدر مشقته أوبقدر عمله في صنعته أيضاً كحكاك (للأثمدوغيرها) وثقاب يستأجر بأجر كثير في مشقة قليلة. إنتهىٰ قال بعض الفضلآء: أفهم ذلك جواز أخذ الأجرة الزآئدة وإن كان العمل مشقته قليلة ونظرهم لمنفعة المكتوب له. إنتهىٰ قلت: ولايخرج ذلك عن أجرة مثله فإن من تفرغ لهذا العمل كثقاب اللألى مثلاً لايأخذ الأجر على قدر مشقته فإنه لايقوم بمؤنته ولوألزمناه ذلك لزم ضياع هذه الصنعة فكان ذلك أجر مثله. إنتهىٰ مافي ردالمحتار هامش الدر المختار.

(فائدة)......ولاضمان على المفتي إذاأخطأ. لمارواه أبوداود عن جابر: خرجنافي سفرٍ فأصاب رجلاًمنا حجر فشجه في رأسه ثم احتلم فسأل أصحابه، فقال: هل تجدون لي رخصة في التيمم ، قالوا: مانجدلك رخصة وأنت تقدر على المآء فاغتسل، فمات فلما قدمنا على النبي ﷺ أخبر بذلك فقال: قتلوه قتلهم الله تعالىٰ ألاسئلوا إذلم يعلموا، قال العلي بن سلطان محمد القاري في المرقاة: أخذ منه أنه لاقود ولادية على المفتي وإن افتىٰ بغير الحق. إنتهىٰ

(٩) التاسعة: ......أنه لكل بلداصطلاح في اللفظ فلايجوز أن يفتي أهل بلدبمايتعلق باللفظ من لايعرف اصطلاحهم كالأيمان والإقرار ونحوهما، كمافي البحر وشرح المهذب.

(١٠) العاشرة: أنه ينبغي، أن يجزم بماهو الراجح، فإن لم يعرفه توقف كمافي شرح المهذب والبحر

(١١) الحادية عشرة:......مافي البحر: أفتاه ثم رجع قبل العمل كف عنه وكذا إذانكح إمرء ةبفتواه ثم رجع،

لزمه فرقهاوإن رجع بعدالعمل وقدخالف دليلاً قاطعاً نقضه وإلا فلا.وعلى الدفتى إعلامه برجوعه قبل العمل وكذابعده إن وجب النقض وإن أتلف بفتواه لايغرم ولوكان أهلاً.إنتهىٰ بحذفٍ يسير.وفى شرح المهذب عن الأستاذأبى إسحاق:أنه يضمن إن كان أهلاً للفتوىٰ ولايضمن إن لم يكن أهلاً لأن المستفتى قصر.

(١٢) الثانية عشرة:......مافى شرح المهذب يلزم للمفتى أن يبين الجواب بياناًيزيل الإشكال وإذا كانت فى الرقعة مسآئل فالأحسن ترتيب الجواب على ترتيب السؤال، ولوترك الترتيب فلاباس. وإن أرادجواب ماليس فى الرقعة فليقل وإن كان الأمر كذاوكذا فجوابه كذا.واستحب العلمآء:أن يزيدعلىٰ مافى الرقعة ماله تعلق بهامما يحتاج إليه السآئل لحديث:هوالطهورمآءه الحل ميتته.وبمعناه فى البحر

(١٣) الثالثة عشرة:......أنه ينبغى أن يأخذالورقة بالحرمة ويقرء المسئلة بالبصيرة مرة بعد مرةٍ حتىٰ يتضح له السؤال ثم يجيب.ويقدم السابق وان تساووأوجهل السابق قدم بالقرعة،نعم يجب تقديم نسآء ومسافرين تهيئواأوتضرروابالتخلف إلاأن ظهرتضررغيرهم بكثرتهم .ولايميل إلى الأغنيآء وأعوان السلطان والأمرآء.وينبغى أن يكتب فى أول الجواب ﴿الحمد لله﴾وعقيب جوابه ﴿والله أعلم﴾ أونحوه وقيل فى العقآئد: يكتب ﴿والله الموفق﴾ ونحوه. كمافى البحرولاينكرأن يذكرالمفتى فى فتواه الحجة إذاكانت نصاًواضحاً مختصراً.قال الصميرى:لايذكرالحجة إن افتى عامياً،ويذكرهاإن افتى فقيهاً كمافى شرح المهذب.وينبغى إذاضاق موضع الجواب أن لايكتبه فى رقعةأخرى خوفاًمن التلبيس. كمافى شرح المهذب وبمعناه فى البحر.وليكتب بعد الفتوىٰ "كتبه:فلان أوفلان بن فلان" كمافى شرح المهذب.

(١٤) الرابعة عشرة:......وفى البحر:لايجب الإفتآء فيمالايقع. إنتهىٰ لمارواه أبوداؤد وغيره فى باب اللعان:أن رسول الله ﷺ كره المسآئل وعابهاأى كره أن يسئل أمراً فيه فاحشة ولايكون إليها حاجة. كما فى شروح البخارى نعم، يجب الإفتآء فيما سيقع.لمارواه الترمذى فى حديث الدجال:قلنا:يارسول الله ﷺ مالبثه فى الأرض،قال:أربعون يوماً يوم كسنة ويوم كشهرويوم كجمعة وسآئرأيامه كأيامكم ، قلنا: يارسول الله ﷺ فذلك اليوم الذى كسنة أيكفينافيه صلوة يوم؟ قال: لا أقدروا له قدره.

(١٥) الخامسة العشرة:......أنه ينبغى أن يحفظ فى دفتردارالإفتآء مثل ماكتبه المستفتى وما أجابه

بأعيانهما مرسوماً بالرقوم المنتظمة المرتبة ، أمناً من التغير والتزوير، وذخرًا لأهل العلم، ثم يعيد الأصل إلى المستفتى مرسوماً برقم الدفتر ومختوماً بختم دارالإفتآء.

(١٦) السادسة عشر: ......مافى البحر:أنه لايكتب خلف من لايصلح للإفتآء ولايفتى معه،بل له أن يضرب عليه بأمرصاحب الرقعة،ولولم يستأذنه فى هذاالقدر،جازإن أمن الفتنة،وليس له حبس الرقعة.إنتهىٰ مع بعض التوضيح.

الفصل التاسع

فى أحكام المستفتى وآدابه

(١) إحداها: ......أنه يجب عليه أن يستفتى من عرف عمله وعدالته ولوبإخبارثقة عارف أوبإستفاضة وإلابحث عن ذٰلک، فلوخفيت عدالته الباطنة إكتفىٰ بالعدالة الظاهرة.

(٢) والثانية: ......أنه جازله أن يعمل بفتوىٰ عالم مع وجودأعلم جهله.فإن اختلفا ولانص قدم الأعلم،وكذا إذا اعتقدأحدهماأعلم أوأورع،ويقدم الأعلم على الأورع.

(٣) والثالثة: ......أنه لوأجيب فى واقعةٍ لاتتكرر،ثم حدثت لزم إعادة السؤال إن لم يعلم إستنادالجواب إلىٰ نص أوإجماع.

(٤) والرابعة: ......أنه إن لم تطمئن نفسه إلى جواب المفتى استحب سؤال غيره ولايجب.

(٥) والخامسة: ......أنه يكفى المستفتى بعث رقعة أورسول ثقة هذاكله مأخوذمن البحر

(٦) والسادسة: ......أنه يجب عليه الرحيل إلىٰ من يفتيه إن لم يجدببلده من يستفتيه. وقدرحل خلآئق من السلف فى الحديث الواحدوالمسئلة الواحدة كمافى كتاب العلم من صحيح البخارى.

(٧) والسابعة: ......أنه لايسئل المفتى وهوقآئم أو مشغول بما يمنع تمام الفكر.

(٨) والثامنة: ......أن يتادب مع المفتى ويجله فى خطابه وجوابه،وأن لايقول إذاأجابه هكذاقلت أنا

(٩) والتاسعة: ......أنه لايطالبه بدليل فإن أراده ففى وقت اٰخر.

(١٠) والعاشرة:......أنه ينبغى أن يكون كاتب السؤال من أهل العلم ممن يحسن السؤال ويبين موضع السؤال ويتثبت فيه ويصلح لحناًفاحشاً ويشغل بياضاًبخطه.

(١١) والحادية عشر ة:......أن يشاور فيمايحسن إظهاره من حضرمتأهلاً، هذاأيضاًماخوذمن البحر، إلاأنى زدت عليه بعض الكلمات إيضاحاً.

الفصل العاشر

فى ترجمة رأس المفتيين الإمام أبى حنيفة رحمه الله

إعلم! أن إمام الأئمة وسراج الأمة:إسمه:النعمان بن ثابت بن زوطىٰ بن ماه. وزوطىٰ من أهل كابل،وقيل:من أهل الأنباربلدة بعراق،كان مملوكاًلبنى تيم الله فاعتق.وقيل:أنه النعمان بن ثابت بن النعمان بن المرزبان من أبناء فارس من الأحرار.وولدأبوه ثابت فى الإسلام، ووصل هوإلىٰ خدمة على المرتضىٰ كرم الله وجهه وهوصغيرفدعاله بالبركة فيه وفى ذريته، كذافى تهذيب الكمال.وذكرفيه:عن إسماعيل بن حماد بن أبى حنيفة رحمه الله تعالىٰ نحن من أبنآء فارس الأحرارماوقع علينارق قط.ونقل فى مفتاح السعادة:أن ثابتاً توفى وتزوج أم الإمام أبى حنيفة الإمام جعفر الصادق وكان الإمام أبوحنيفة صغيراً.وتربى فى حجر الإمام جعفرالصادق وهذه منقبة عظيمة له.إنتهىٰ ولم يكن له ولدإلاحماد،وسمى بأبى حنيفة لأنه أول من وضع أصول الإجتهاد،وربى الملة الحنفية البيضآء.وقيل:سمى به لأن الحنيفة فى لغة العراق الدواة،وكان الإمام يلازمهامعه.وقيل:فى وجه التسمية غيرذلك،وتمام الكلام فى خيرات الحسان للعلامة أحمدبن حجر المكى.

ولدبالكوفة: سنة ثمانين (٨٠ﻫ)، وتوفى ببغدادفى رجب سنة خمسين ومائة (١٥٠ﻫ).

قيل:مات فى السجن.وقيل:لم يمت فى السجن.وقيل:أنه دفع إليه قدح فيه سم فامتنع، وقال:لاأعين على قتل نفسى فصب فى فيه قهراً.غسله قاضى القضاة الحسن بن عمارة وصلى عليه.صلى عليه خمس مرات من كثرة الإزدحام.وحزّرمن صلى عليه مقدارخمسين ألفاً.وآخرهم صلى عليه حماد إبنه، وجآء الملك منصورفصلى علىٰ قبره وكان الناس يصلون على قبره إلى عشرين يوماً،كذافى مفتاح السعادة وتاريخ ابن خلكان،وتهذيب الكمال للمزى.

واختلف فى طبقته:......فقيل: كان فى أيامه أربعة من الصحابة (رضى الله تعالىٰ عنهم) أنس بن مالك رضى الله عنه بالبصرة،وعبدالله بن أبى أوفى رضى الله عنه بالكوفة،وسهل بن سعدالساعدى رضى الله عنه بالمدينة،وأبو الطفيل عامربن واصلة رضى الله عنه بمكة،ولكن لم يلق أحداً منهم ولاأخذ منهم، أى هومن أتباع التابعين،مال إليه صاحب المشكوٰة فى الإكمال والحافظ ابن حجرفى تقريب التهذيب وابن خلكان فى تاريخه.وقيل: أدرك بالسن الصحابة، ورءىٰ أنس بن مالك غيرمرة لماقدم الكوفة، وهذا هوالصحيح الذى ليس ماسواه إلاغلط.وقدنص عليه الخطيب البغدادى والدارقطنى وابن الجوزى والنووى والذهبى والسيوطى وابن حجرالعسقلانى فى جواب سئل عنه كمافى مقدمة عمدة الرعاية،فهومن التابعين الذين ثبت لهم الرؤية دون الرواية والسماع.وقيل:أنه من التابعين الذين ثبت لهم الرؤية والرواية،جمع الحافظ ابو معشرعبدالكريم بن عبدالصمدالطبرى رسالة ذكرفيهاالروايات التى سمعهاالإمام أبوحنيفة من الصحابة،منها:مانقل عنه السيوطى فى تبييض الصحيفة:أبوحنيفة عن أنس بن مالك،قال:سمعت النبى ﷺ يقول:طلب العلم فريضة على كل مسلم، وصححه،والحافظ المزى حسنه لتعددالطرق.وأثبت العينى سماعه لجماعة من الصحابة ورده عليه صاحبه الشيخ قاسم الحنفى.وبالجملة أنه من التابعين الذين ثبت لهم رؤية الصحابة دون الرواية والسماع.ورواية الطبرى محمولة على الإرسال والإنقطاع على أصل البخارى دون أصل مسلم، فافهم

وأمامشايخه فكثيرون:......عددمنهم فى تهذيب الكمال أزيد من خمس وستين.منهم نافع مولىٰ ابن عمروموسىٰ بن أبى عآئشة وحمادبن أبى سليمان وابن شهاب الزهرى وعكرمة مولىٰ ابن عباس،وقال الذهبى:عامربن شراحيل من أكبرشيوخ أبى حنيفة،وذكر العلى بن سلطان محمدالقارى فى شرح مسندأبى حنيفة:أن عددشيوخه أربعة الاف،وفى مفتاح السعادة: قدعد مشايخه فبلغ أربعة الاف شيخ.

وأماتلامذته فخلق كثير:......منهم:زفروأبومطيع والحسن بن زيادومحمدبن الحسن وأبويوسف ووكيع بن الجراح وعبدالله بن المبارك ومكى بن ابراهيم وزيدبن هارون وعبدالرزاق بن همام ويحيىٰ بن سعيدالقطان.

وأما تاليفاته فكثيرة:...... كما يشير إليه ما رواه الحافظ الذهبي عن عبدالعزيز الدراوردي: كان مالك ينظر في كتب أبي حنيفة وينتفع بها ومنها كتاب الآثار. قال السيوطي في تبييض الصحيفة: أنه أول كتاب دون على الأبواب الفقهية وهكذا ذكر الموفق المكي في مناقب أبي حنيفة. وذكر أيضاً: انتخب أبوحنيفة الآثار من أربعين ألف حديث. إنتهىٰ وله نسخ نسخة الإمام أبي يوسف ونسخة الإمام محمد ونسخة الإمام زفر. وفي مقدمة عمدة الرعاية: وأما تصانيف أبي حنيفة فذكروا منها: الفقه الأكبر وكتاب الوصية وكتاب العالم والمتعلم وغير ذلك. إنتهىٰ وأما مسند أبي حنيفة فليس من تاليفاته، بل هو مروياته التي جمعها المحدثون مثل أبي نعيم الأصفهاني والحافظ ابن عساكر والحافظ ابن منده وغيرهم. بلغ عدده إلىٰ عشرين مسنداً، ثم جمع العلامة الخوارزمي كلها في تاليف واحد سماه جامع مسانيد الإمام الأعظم.

وأما مناقبه فأكثر من أن تحصىٰ:...... منها: ما أشير إليه فيما رواه الشيخان: عن أبي هريرة رضي الله عنه: لو كان الإيمان عند الثريا لتناوله رجال من أبناء فارس. أي من العجم ولعل طريق التناول التلقف كما هو معروف عند أهل الرياضة. ومنها: أنه أول من دون الفقه ورتبه أبواباً وكتباً. كذا في الخيرات الحسان للعلامة ابن حجر. ومنها: اشتهار مذهبه في عامة بلاد المسلمين. ومنها: شيوع مذهبه على سبيل شيوع الإسلام رغماً لأنوف الحساد. ومنها: ما مر أنه تابعي. ومنها: حكم السلاطين السالفة بفقهه غالباً دون فقه غيره.

أما ما نقموا عليه

(١) فمنه:...... ما قال النسائي في كتابه المسمىٰ بالضعفآء: نعمان بن ثابت أبو حنيفة ليس بالقوي في الحديث. قلنا: أولاً أن الأصل أن من كانت إمامته وعدالته متواترة فلا يؤثر فيه جرح الآحاد، كما صرح به وإلا فقد جرح يحيٰ بن معين الإمام الشافعي، والكرابيسي الإمام أحمد، والذهلي البخاري، والإمام أحمد الإمام الأوزاعي، وابن حزم الترمذي، وابن ماجة، فيلزم أن يكونوا مجروحين. وثانياً: أن موثقوه أكثر من جارحيه، ورمى النسائي بالتشيع، وثقه شعبة ويحيٰ بن سعيد القطان

ويحيىٰ بن معين وعلي بن المديني وعبدالله بن المبارك ومكي بن إبراهيم وسفيان الثوري وسفيان بن عيينه ووكيع بن الجراح والإمام الشافعي وغيرهم، وضعفه النسآئي والإمام البخاري والدارقطني والحافظ بن عدي قبل التلمذ على الطحاوي، فيختار التعديل على الجرح كما صرح به الخطيب في الكفاية. وثالثاً: أن التعديل مقدم على الجرح الغير المفسر كما في مقدمة ابن الصلاح. فان قيل: ذكر الذهبي في ميزان الإعتدال: أن النعمان بن ثابت إمام أهل الرأي، ضعفه النسآئي وابن عدي والدارقطني وآخرون. قلنا: ليست هٰذه العبارة عبارة الذهبي بل هو الحاق من البعض. يدل عليه أن الحافظ الذهبي صرّح في مقدمة الميزان علىٰ أنه لا يذكر في هذا الكتاب الأئمة الأجلآء مثل الإمام أبي حنيفة، وصرح بإسمه رضي الله عنه، وألف لتذكرتهم تذكرة الحفاظ، ومدح فيه أبا حنيفة وأثنىٰ عليه. ويدل عليه أن بعض النسخ لم يوجد فيها هٰذه العبارة، كما صرح به الشيخ عبدالفتاح في هامش الرفع والتكميل، ويدل عليه أيضاً أنه ألف كتاباً في مناقب أبي حنيفة.

(٢) ومنه:...... ما قال الدارقطني في سننه في نقد حديث: من كان له إمام فقرآءة الإمام له قرآءة. لم يسنده عن موسىٰ بن أبي عآئشة رضي الله عنها غير أبي حنيفة والحسين عمارة وهما ضعيفان وقد مر جوابه.

(٣) ومنه:...... ما ذكره الإمام البخاري في التاريخ الصغير: عن نعيم بن حماد: أن سفيان الثوري لما بلغه موت أبي حنفية، قال: الحمدلله كان ينقض الإسلام عروةً عروةً، ما ولد في الإسلام أشئم منه، قلنا: كان نعيم بن حماد متعصباً في حق أبي حنيفة، قال الحافظ ابن حجر: يروي حكايات في ثلب أبي حنيفة كلها كذب

(٤) ومنه:...... ما ذكره الساجي من سفيان الثوري: أستتيب أبوحنيفة مرتين، لأنه قال: القرآن مخلوق. قلنا أولاً: قال ابن عبدالبر: الساجي ممن كان ينافس أصحاب أبي حنيفة، وأما محمد بن يونس، فان كان الكريمي البصري، فقال الذهبي: أحد المتروكين. وقال ابن عدي: أتهم بالوضع. قلت: وإن كان غيره فالجواب عنه كالجواب عن النسآئي. وثانياً: أنه روى البيهقي بإسناده: عن أبي يوسف كلمت أباحنفية سنة جردآء، في أن القرآن مخلوق أم لا؟ فاتفق رأيه ورأيي على أن من قال: القرآن مخلوق فهو كافر، قال البيهقي: رواته كلهم ثقات.

(٥)ومنه: ......مانقله ابن خلدون عن بعض الناس: أن أباحنيفةلم يحفظ إلاسبعة عشر حديثاً. قلنا: هٰذا إفتر آء بلا إمترآء، كيف؟ وإنه مجتهد وفاقاً. وتلمذعلى أربعة الاف شيوخ، وألف كتاب الأثار والتخبه من أربعين ألف حديث، وجمعت مروياته فى المسانيد وتمسک بالأحاديث وأجاب عن أحاديث الخصم. فافهم وحقيقة الأمر: أنه كان الغالب عليه الإستنباط وفقه القرآن والحديث، ولايسرد الأحاديث كسرد أهل الحديث، فلم يروعنه من كان طالب الألفاظ دون الفقه

(٦)ومنه: ......أنه رمى بالإرجآء، رماه به الشيخ عبدالقادر الجيلى وغيره قلنا: أصحاب أبى حنيفة كلهم على خلاف رأى الإرجآء، فلو كان أبو حنيفة مرجئاً، لكان أصحابه على رأيه. وحقيقة الأمر: أن الإرجآء إرجاءان. أحدهما: الإرجآء بمعنى تاخير العمل وإخراجه عن الإعتداد، بحيث لايخرج تارک العمل عن الإيمان المنجى ولاعن الإيمان المعلى ولاشک فى كون هذا الإرجآء بدعة سيئة. وثانيهما: الإرجآء بمعنى تاخير العمل وإخراجه عن حقيقة الإيمان وأجزآءه بحيث لايخرج تارک العمل عن الإيمان المنجى وإن كان يخرج عن الإيمان المعلى. ولاشک فى كون هٰذا الإرجآء حقاً. كمالاشک فى كون علم الفارق بينهمامخطئاًاو مبغضاً.

(٧)ومنه: ......أنه يقدم القياس على الحديث. قلنا: هٰذا إفترآء بلا إمترآء، كان يقدم الحديث وإن كان ضعيفاً على القياس، كمافى مسئلة نقض وضوء المصلى بالقهقهة، كمامر فى الفصل السادس: عن ابن عبدالبر وأبى جعفر الشيزامارى. وحقيقة الأمر: أنه ماترک حديثاً إلا لحديث معارض له. كمافى مسئلة رفع اليدين. وكان يرجح من الحديثين المتعارضين مايؤيده القياس كمافى مسئلة عدم صحة الصلوٰة عند الشروق دون الغرب. وكذا يرجح من معانى الحديث مايؤيده القياس كما فى مسئلة نكاح المحرم بالحج أو العمرة وكما فى مسئلة نضح بول الصبى. من أراد الإطلاع على تفصيل هٰذه المسائل فليراجع إلىٰ منهاج السنن شرح الجامع السنن للترمذى. ولعمرى! أنه أحدث للدين ماهو خيروأسهل وأفيد للأمة، ولم يحدث فى الدين ماليس منه. هٰذاآخر ماأردت إيراده، ولله حمداًولاًوآخراً. وصلى الله تعالىٰ على سيدنا خير خلقه محمدوآله وأصحابه وأتباعه اجمعين.

بسم الله الرحمن الرحيم

فتاوٰی دیوبند پاکستان المعروف بفتاوی فریدیه (جلداول)

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام علي سيد الا نبيـاء والمرسـلين وعلى آله وا صحابه واتباعه اجمعين.

اسلام د ژوند په هر اړخ باندې احاطه کونکې دي دهر ورځې د حوادثو او واقعاتو متعلق راهنمائي کوي. د قران او احاديثو نصوص محدود دي او مسئلې او حوادثات (نوې نوې مسئلې) لا محدود دي. حضرت زيد بن ثابت رضی الله عنه فرمائي چه ما د پيغمبر عليه السلام نه اوريدلي فرمائيل ئې! ((رب حامل فقه غير فقيـه و رب حامل فقه الىٰ هو افقه منـه. (ترمذي) څه کسان راشي چه د فقهې او حديثونو روايت کونکي وي ليکن هغوي فقيه نه وي او څه حاملين فقه داسې وي چه د هغوي طرف ته تلل کيدې شي چه هغې ددوي نه زيات پوهه وي.

نو په داسې صورت کښې دنصوصوعبارت، اشارت، دلالت، او اقتضاء، بنياد جوړولې شي اودمسائلو استنباط کولې شی چه دهغې دپاره تيزنظر مضبوط بصيرت اوښه ملکه داجتهاد اوفقاهت ډير زيات ضرورت وی.

الحمد لله جامعه دارالعلوم حقانيه په علوم دينيه کښې دخپل عظمت او شرافت اومضبوط علمی مقام په بنا باندې په ټول عالم کښې شهرت او مقبوليت لری. اودالله تعالی په خصوصی مهربانو کښې داهم دي چه د دارالعلوم دارالافتاء ته هم په فقه او فتاوٰی کښې د قيادت حيثيت حاصل دې لکه څنګه چه قضاء او افتاء يونازکه ذمه واري ده دغه شان ددې شرائط او صفات هم نازک او حساس دي، نو دې دپاره د يو داسې شخصيت ضرورت وي چه صرف دا نه چه د فقهې په جزئياتو باندې ژور نظر لري او د قرآن او سنت نه په استنباط او استخراج باندې پوره ملکه حاصله وي بلکه چه هغه ته تبحر علمي. ژورنظر، دکتاب اوسنت په وسيع اوقسماقسم زړو او نوو ذخيره باندې ورته کامل عبور حاصل وي. ډيره مطالعه ئې وي د پيغمبر عليه السلام د کلام او احکام مزاج او روح ته د رسيدلو ښه ذوق او صلاحيت واله قوت نه هم مالامال وي. چه دمکتب اومدرسې د رسمي تعليم وتعلم نه زيات به ئې د اولياء الله د فيضونو نظر. دقدرت د طرفنه ورته خصوصي ورکړې وي. اود زړه او ذهن استعداد او پرواز ورته حاصل وي. نو د حقانيه پشان د علمي مرکز دارالافتاء دپاره د يو داسې سړي ضرورت وو چه ددې اوصافو سره

سره په خپل ذات کښې هم دیو مستقل علمي اداري او مرکزي حیثیت مالک وي. چونکه حضرت صاحب دامت برکاتهم په طالب علمي په زمانه کښې هم د امین الله في الارض حضرت مولانا نصیرالدین غورغشتوي رحمه الله نه دکړې شوی استفتاګانو جوابونه ورکول، بیا د ۱۳۷۳ هـ نه تر ۱۳۸۲ هـ پورې داکوړه خټك په مشهوره دیني درسګاه جامعه اسلامیه کښې نهه کاله پورې په حیثیت د مدرس اعلیٰ، شیخ الحدیث اومفتي خدمات پوره کړل، په جامعه کښې ئې هرقسم کتابونه اوښودل چه په هغې کښې ترمذي شریف ټول سره د شمائل ترمذي، ابو داؤد د شریف مسلم شریف، موطاء امام مالک رحمه الله موطاء امام محمد رحمه الله سننین، مشکوٰة شریف جلالین، بیضاوی شریف، هدایه، مطول، قاضي، مسلم الثبوت، حمد الله، صدرٰی اوشرح جامي د یادولو قابل دي، بیادرې کالو پورې په دار العلوم اسلامیه چارسده کښې دصدر المدرسین، شیخ الحدیث او مفتي په عهدو پاتې شو، بیا د ۱۳۸۵ هـ مطابق ۱۹۶۶ ء نه واخلې تر ۱۹۹۲ ء پورې، د حضرت صاحب ذات د برکتونو نه ډک د دار العلوم حقانیه دجاذبیت او مقبولیت علامت جوړ شو. په خپل مُلک اوبهر ملکونو کښې عموماً په اختلافی مسئلو کښې دحضرت صاحب فتوٰی آخري خبره (قول فیصل) ګڼړلې کیږي. په سپریم کورټ اوصوبائي هائي کورټونو چه د افغانیانو په علاقو کښې د ټولو نه مخکښې حضرت صاحب فتوٰی آخرنۍ خبره (قول فیصل) ګڼړلې کیږي. په سپرین کورټ او صوبائی هائي کورټونو کښې د حضرت صاحب فتوو ته قانوني حیثیت جاصل دې یو نبرک عالم دین او فرمائیل چه د افغانیانو په علاقه کښې د ټولو نه مخکښې حضرت صاحب د فتوٰی بنیاد کیښودو وو، علامه قاضي فضل الله (مقیم امریکه) په خپل یو مکتوب کښې لیکونکې دي، حضرت الاستاذ شیخ الحدیث مولانا محمد فرید صاحب. یقیناً چه په دې زمانه کښې فرید العصر او بُخاري زمانه دې، په نن وخت کښې دوی سلفو او خلفو حجت او یادګار دې مفتی صاحب حقیقتاً وارث الانبیاء دي چه د رسول کریم ﷺ درې بنیادی ذمه دارئ وې یعنی (یتلو علیهم آیاته ویعلمهم الکتاب (دشریعت تعلیم (والحکمة) سیاست (ویزکیهم) تزکیه نفس یا طریقت او حضرت صاحب دامت برکاتهم دا درې واړه د خپلې سینې سره لګولې دي، او د اسلافو نمونه جوړ شویده، مونږ د حضرت صاحب ذات په نن زمانه کښې د حق یوه خصوصي نښه ګڼړلې د دار العلوم حقانیه باني شیخ الحدیث مولانا عبدالحق رحمه الله

به فرمائیل چه مفتي صاحب د دار العلوم حقانیه روح روان دې هم دا وجه ده چه دوي په یو وخت د دار العلوم حقانیه د شیخ الحدیث او مفتي اعظم په عهدو باند ې پاتې شو او د شیخ الحدیث مولانا عبدالحق رحمه الله د وفات نه پس د دار العلوم حقانیه د وره حدیث شریف ته دومره مشهورتیا حاصله شوه چه په ټول مُلک کښ د حدیثو طالبانو کښې د ټولونه زیاتو طالبانو راتګ دلته شروع شو. اودغه شان د طالبانو شمیر اووۀ سوو ته اورسیدو، او ورسره ورسره دده دتعلیم او تربیت او د فتاواؤ په رنړا کښې یو لوئې جماعت ته د مفتیانو جوړلو سعادت هم نصیب شو.

په دار العلوم کښې دده دورکړې شوو فتوو شمیر پنځوس زره ښودلې شی اودغه شان دغیرمندرج شووفتاؤوشمیرشل زره ته رسیږي چه حضرت صاحب به په کورکښې یا نورو ځایونو کښې لیکلي چه د هغې د لیکلو پوره اهتمام نه وو ددینه علاوه د جامعه اسلامیه اکوړه خټک اوچارسده د دولسو کالوفتاوي هم دي دیو محتاط اندازې مطابق د ټولو تعداد څه کم وزیات یو لاکهـ ته رسیږي.

په دار العلوم کښې په د نقل فتوؤ خدمت بعضې اساتذه کرامو او طلبائې کرامو کولو. چه په هغې کښې دهرې فتوې سره دنقل کونکي نوم لیکلې شوې دي، په ناقلینو کښې اکثریت سره مولانا قاضي انورالدین، مولانا مفتي غلام الرحمان، مولانا عبدالحلیم کلاچوي، اودحضرت صاحب فرزندان مولانا مفتي رشید احمد حقاني اومولانا حسین احمد صدیقي مهتمم دار العلوم صدیقیه دې، د دار العلوم حقانیه نه چه کوم رجسټر ملاؤ شو مولانا حسین احمد صدیقي صاحب دهغې فوټو سټیټ او کړو اومحفوظ ئې کړې، په اپریل ۲۰۰۰ ء کښې د هغې په تخریج وحاشیې برابرولو او تبویب باندې دې فقیر کار اوکړو. او تقریباً د اپریل ۲۰۰۱ ء پورې په یو کال کښې اولنې جلد ددې مختلفو مرحلو نه تیرشو او د لیکلو مرحله ئې شروع شوه په ترتیب او تخریج کښې د لاندینی امورو خیال سا تلې شوې دې.

(۱) مکررات پکښې حذف شوې دي.

(۲) د حضرت صاحب جوابونه پوره پوره نقل کړې شوې دي.

(۳) په استفتاء کښې څه واقعه یاحادثه خو بخوپه هغه اندازکښې پیش کړې شوې ده.

(۴) د هرې استفتاء سره د مستفتي نوم، تاریخ او د ځائې د لیکلو اهتمام کړې شوې دې، چه د عُرف او زماني او علاقې په مناسبت سره د فتوې حال معلوم وي او یو تاریخي یادګار هم وي.

(۵) په تخريج او حاشيو کښې د معروف او متداولو کتابونو خصوصيت سره خيال ساتلې شوې دې.

(۶) په بعضې ځايونو د حضرت مفتي صاحب د نقطه نظر د زيات وضاحت کولو د پاره د هغوي د خپلو تصانيفو او تاليفاتو نه حوالې نقل کړې شوې دي.

(۷) د امام بخاري رحمه الله په شان مخکښې وحي، کتاب الايمان او کتاب العلم شروع کړې ده بيا د جديد فتاوي په طرز باندې د ابواب الفقه نه علاوه چه څومره بابونه دي هغه په اولنې جلد کښې جمع کړې شوې دي.

(۸) د بعضې ناقلينو په کوتاهئ او د فوټو کاپئ په وجه باندې د بعضې فتوو خط ډير کمزورې وو نو دې وجې نه هر باب او هر کتاب تيار يدلو باندې به د دار العلوم حقانيه استاد الحديث والتفسير حضرت مولانا مفتي سيف الله حقانى مدظله العالي په هغې نظر ثاني فرمائيله.

(۹) او کوم ځائې کښې چه به څه شک راتلونو حضرت مفتي اعظم دامت برکاتهم برکاتهم ته به رجوع کولې شوه.

(۱۰) اولنې جلد چه مکمل شو نو مفتي اعظم دامت برکاتهم ته پيش کړې شو هغوي په ټول جلد باندې نظر واچولو او د بعضې ځايونو تصحيح ئې اوکړه.

په آخره کښې عرض دې. اگر چه د محنت د حد پورې خو څه کوتاهي نه ده شوې د فتوي اصل مقصد حکم بيانول دى مضمون نگاري، د تصنع او تکلف سره گول او پيچيده الفاظو پسې لگيدل او فصاحت او بلاغت اظهار کول نه وى. بيا هم که چالئه په يو ځائې کښې غلطي په نظر راغله نو په اولنې فرصت کښې مونږ ته اطلاع راکړئ چه په راتلونکې څل باندې د دې غلطئ ازاله اوکړيشي. پروردگار عالم ته مونږ لاس په دعا يو چه کوم ملگرو بالخصوص محترم جناب سيد الرحمان صاحب چه هغوي په اردو گرائمر او محاوراتو کښې د خپل طاقت مطابق کوشش کړې دې. محترم مولانا امداد الله حقاني، مولانا سعد الاحد حقانى، مولانا سيدنواز حقانى، مولوى ولى الزمان صديقى، او مولوى ولى الرحمن صديقي صاحب چه هغوي په کتاب پروف او نورو مرحلو کښې خدمات اوکړل، الله تعالى دې د دوې کوششونو ته قبوليت نصيب کړې. او الله تعالى دې د دې ټولو په علم او عمل کښې برکتونه واچوي، آمين.

طالب دعا:

محمد وهاب منگلوري عفي عنه

فاضل و متخصص دار العلوم حقانيه اکوړه خټک

خادم افتاء وتدريس دار العلوم صديقيه زروبي ضلع صوابئ

کتاب الايمان و العقائد

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ (١)
الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۙ (٢) مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۭ (٣)
اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۭ (٤)
اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۙ (٥)
صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۙ غَيْرِ
الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّاۗلِّيْنَ ۧ (٧)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

كتاب الايمان والعقائد

باب بدء الوحي

د اولنئ وحی حالت:

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي چه د وحې اولنې حالت څه وۀ؟ د ليكلو په شكل يا د حضور ﷺ په زړه مبارك باندې د الهام په صورت كښې، اوپه دريم ځل چه كوم ايتونه لوستلى شوې وۀ هغه پيغمبر عليه السلام څنګه لوستلې وۀ؟

المستفتي: مولانا سعد الرشيد زيارت كاكا صاحب نوشهره.

الجواب: د قرآن مجيد د وحې كيفيت دا وۀ چه حضرت جبرائيل عليه السلام به لوستلو او پيغمبر عليه السلام به اوريدلو او د اولنئ وحې نه مراد هغه وحې ده كومه چه جبرايل عليه السلام په دريم ځل، اِقراء، ته تر ما لم يعلم پورې اولوستلو او حضور ﷺ واوريده. كما صرح به في اول صحيح البخارى، ﴿١﴾

رحماني وحي بند او د شيطان ګمراه كول جاري دي

سوال: علمائې دين او شرع متين ددې مسئلې په باره كښې څه فرمائى چه آيا وحى رحمانى بنده شوې ده او وحى شيطانى به تر قيامت پورې جاري وي نو آيا د اظلم نه دې؟ (نعوذ بالله)

المستفتي: مولانا عبدالستار ټاؤن شپ لاهور...يكم ذيقعده ١٤٠٢هـ

﴿١﴾ عن عائشة ام المؤمنين رضى الله عنها .... وهوفى غار حراء فجاءه الملک فقال اقرأ فقال فقلت ما انا بقارئ قال فاخذنى فغطنى حتى بلغ منى الجهد ثم ارسلنى فقال اقرأ فقلت ما انا بقارئ فاخذنى فغطنى الثانية حتى بلغ منى الجهد ثم ارسلنى فقال اقرأ فقلت ما انا بقارئ قال فاخذنى فغطنى الثالثة ثم ارسلنى فقال اقرأ باسم ربک الذى خلق خلق الانسان من علق اقرأ وربک الاكرم. فرجع بها رسول الله ﷺ يرجف فؤاده فدخل على خديجة بنت خويلد الخ الحديث.
(صحيح البخارى صفحه ٢ جلد ١ باب كيف كان بدء الوحى الى رسول الله ﷺ)

الجواب: ځکه چه رحماني وحي تر قیامته پورې د هرې زمانې د اصلاح دپاره کافي ده(۱) نو ددې په بندیدلو کښې د ظلم بوئې پورې نه کیدل ثابت شو او شیطان ته خو د هرې زمانې د ګمراه کولو دپاره د نوې چلونو ضرورت دې(۲)

باب الایمان

د یو عیسائي د ایمان په تعریف باندې اعتراض جواب

سوال: یو عیسائي دا اعتراض کړې که چرته ځه د مولانا مفتي محمود صاحب په لاس باندې اسلام قبول کړم نود بریلویانو او اهل حدیثو په نزد به بیاهم کافر یم ځکه چه اسلام یو عالمي مذهب منلو والا خلقو د مسلمان او ایمان یو جامع تعریف اونه کړلو ځوک وائي چه چاپه الله، فرشتو، پیغمبرانو، کتابونو اوآخرت باندې، ایمان اوساتلو هغه مسلمان دې اوبعضې وائي چه په شهادتینو اوپه ورځ دآخرت باندې ایمان لرې اوقبلې طرف ته مخ کولو سره مونځ کوی لهٰذا عرض دادې چه دایمان متفقه تعریف څه دې؟

المستفتي: مجاهد امر تسري بازار ګنج مغل پوره لاهور.

جواب خبر شئ چه د ایمان په تعریف کښې معنوي او حقیقي اختلاف نشته وهو التصدیق بجمیع ما جاء به النبي ﷺ مما علم مجیئه به بالضرورة.(۳) یعني ددین ضروریات او وضاحتونه منل، په نورو الفاظو کښې داسې اووایه، چه الله تعالی، فرشتې، آسماني کتابونه خاص طور قرآن کریم، پیغمبران وغیره دمحمدرسول الله ﷺ اود صحابه کرامو ﷺ دتشریح مطابق منل. په دې تعریف کښې دهیچا اختلاف نشته.اوپه مؤمن مسلمان کیدو کښې صرف دعوی ناکافی ده.ځکه چه ایمان او اسلام یوه عملی معاهده ده.د نصاراؤ دپاره ضروري ده چه هغوی دعیسائیت داسې تعریف راوړي چه دهغوي ټولو

(۱) قال الله تعالی الیوم اکملت لکم دینکم واتممت علیکم نعمتی ورضیت لکم الاسلام دینا...... الآیة (پ: ٦ سورة المائدة آیت: ۳)

(۲) قال الله تعالیٰ قال رب فانظرنی الیٰ یوم یبعثون قال فانک من المنظرین الیٰ یوم الوقت المعلوم قال فبعزتک لاغوینهم اجمعین الا عبادک منهم المخلصین (پ: ۲۳ سورة ص آیت: ۷۹ تا ۸۳ ع: ۱۴)

(۳) قال الحصکفی الایمان وهو تصدیق محمد ﷺ فی جمیع ماجاء به عن الله تعالیٰ مما علم مجیئه ضرورة وقال ابن عابدین لما علم بالضرورة انه من دین محمد ﷺ بحیث تعلمه العامة من غیر افتقار الیٰ نظر واستدلال کالوحدانیة والنبوة والبعث والجزاء ووجوب الصلاة والزکاة وحرمة الخمر ونحوها. انتهیٰ (الدرالمختار مع ردالمحتار صفحه ۰۱۳ جلد۱ باب المرتد.)

فرقوته شامل وي. په هغوي کښې څومره لوئې اختلاف دې په هغوي کښې تراوسه پورې د انجیل په تعین باندې اتفاق نشته،نودهغې په تشریحاتو باندې به څه اتفاق راشی. فقط

حضور ﷺ حاضر ناظر او عالم الغیب ګڼړل

سوال: د حضور ﷺ حاضر ناظر کیدل د قرآن او حدیث نه ثابت دي که نه؟. او حضور ﷺ عالم الغیب ګڼړل څنګه دي؟

المستفتي: ملک فضل الرحمان جهلم............................. ۱۱۷۷۱۱۹۷۲

جواب د حضور ﷺ هر ځائې حاضر کیدل د قرآن او حدیث او فقهي سره متصادم دي او دهغه د ټولو غیبو څیزونو عالم الغیب ګڼړل کفر دې.فقط(۱)

د حضور ﷺ پوره اختیارمند اود الله د نور نه راوتلې حصه منل شرک او کفر دې

سوال: یو سړې د اهل سنت والجماعت نه دعالم کیدو دعوی کوی اونبی کریم ﷺ حاضرناظر،عالم الغیب،او مختار کل منی اودا وائی چه الله تعالی د نور نه جوړ دې او حضور ﷺ د الله تعالی د واحد خاص نور نه د نورحصه جدا شوې او جوړشوې دې.نو آیا دا عقیده صحیح ده؟

المستفتي: فضل کریم

جواب دا سړې مشرک او کافر دې همدارنګه د عیسایانو پشان د ابن الله (الله لره ځوئې ثابتولو) قائل دې اهل اسلام او اهل سنت والجماعت ددې عقیدې نه بیزاره دی.(۲) وهو الموفق.

د ټولونه مخکښې د محمد ﷺ نور پیدا کیدل اود اولیاؤ د تصرف عقیده

سوال:(۱)که یو سړې دا عقیده ساتي چه دټول مخلوق نه مخکښې د حضور ﷺ نور پیدا شوې دې او ددې نور نه عرش کرسی او قلم پیدا شوې دي دا عقیده ساتل شرک دې اوکه نه؟(۲) او دا عقیده چه دکامل ولي دتصرف

(۱) قال الله تعالیٰ قل لایعلم من فی السمٰوات والارض الغیب الا الله. (پاره: ۲۰ سورة النمل رکوع: ۱ آیت: ٦)
وقال الله تعالیٰ ما کان الله لیطلعکم علی الغیب ولکن الله یجتبی من رسله من یشاء. (پاره: ۴ سورة ال عمران رکوع: ۹ آیت: ۱۷۹)
وفی فتاویٰ قاضیخان رجل تزوج امرأة بغیر شهود فقال الرجل ....

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

لاس د خپلو مریدانو نه لنډ نه دي ځکه چه د ولي لاس د الله تعالی لاس دي.
دا عقیده شرک دي که صحیح ده؟ بینوا وتوجروا

المستفتي: نامعلوم............... ١١٣٥١١٩٨٦

جواب د نور محمدي ﷺ دا مسئله د بعضې ضعیفو روایتونو نه ثابت ده ددي په انکار او اقرار یا تاویل باندې څه کفر یا شرک نه لازمیږي. (٢) که د تصرف نه مراد دا اصطلاحي تصرف یعني توجه مرادوي نو صحیح دي (١) دا خو غائبانه دعا ده او که غیبي تسلط مرادوي نو دا شرک جلي (ښکاره شرک) دي. وهو الموفق

د مصیبت په وخت کښې د یومړي استاذ یا پیر د حاضریدلو او امداد عقیده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه ځوك دا عقیده ساتي چه دمشکل او مصیبت په وخت کښې استاذ یا پیر اګرکه مړوي حاضریږی او مدد

(بقیه حاشیه) والمرء خدائے راو پیغامبر مرا گواه کردیم قالوا یکون کفرا لانه اعتقد ان رسول الله ﷺ یعلم الغیب وهو ماکان یعلم الغیب حین کان فی الاحیاء فکیف بعد الموت (فتاوٰی قاضیخان علی الهندیة ص٥٧٦ ج٣ باب مایکون کفرا من المسلم وما لایکون.

(٢) قال الله تعالیٰ ولو کنت اعلم الغیب لاستکثرت من الخیر ومامسنی السوء (پ: سورة اعراف آیت:)
قال الله تعالیٰ یعلم مابین ایدیهم وما خلفهم ولا یحیطون بشیء من علمه الا بماشاء.
(پ:٣ سورة البقرة رکوع: ٢ آیت: ٢٥٥) قال الله تعالیٰ قل انما انا بشر مثلکم (سورة کهف)
قال الله تعالیٰ سبحان ربی هل کنت الا بشرا رسولا (سورة الاسراء)

﴿١﴾ شیخ الحدیث مفتی اعظم صاحب فرمائي چه توجه تصرف او تاثیر یو ځیز دي توجه
یو خو یو نفساني کمال دي نه کرامت دي او نه په تصوف کښې دا خل دي، دا کافر او
فاسق هم ورکولې شي او توجه د وسلې حکم لري. د جائز مقصد دپاره جائز د او ناجائز
مقصد دپاره ناجائز ده. د توجه حقیقت په قوت ارادي سره یو کار کول دي. حضور ﷺ
فرمائي ان من عبادالله من لو اقسم علی الله لابره رواه البخاری) یعني د الله تعالی بعضې
بند ګان د همت او قوت ارادي خاوندان دي. او په حدیث قدسي کښې دي انا عند ظن
عبدي بي رواه الشیخان یعني چه د چا الله تعالی با ندې د احسن ظن وي چه څه د کوم کار
اراده کوم نو الله به هغه کوي نو الله تعالی هم هغه نامراده کوي نه. (سلسله مبارکه خاندان
نقشبندیه مجددیه عثمانیه مالکیه ص: ١٧٤) وهاب

کوي او د خپل عنصري بدن سره حاضریږي چه کله مرید یا شاګرد مطمئن شی نو بیا ځي. د داسې عقیدې والا کس څه حکم دي؟

المستفتی: عبدالهادی، ظهیرالحق ګړهی کپوره مردان..... ١٤٠١ھ١٧١٥

الجواب: په جزوي طور باندې دا ممکن دي بلکه واقع دي.﴿١﴾ لیکن کلی طور او دقاعدې مطابق دحاضریدلو عقیده ښکاره شرک دي. ﴿٢﴾ او واقعې نه خلاف دي په دې کښې د غیر الله دپاره عِلم غیب ثابتیدل دي او د کربلا په مقام کښې د ,,انصر اخاك ظالماً او مظلوماً،، نه اجتناب راځی.﴿٣﴾

د کلمه طیبه مقصد او د جبریه ؤ عقیده

سوال: تبلیغي حضرات د کلمه طیبې مقصد د خدائې نه د کیدلو یقین او مخلوق د نه کیدلو یقین ښائي خو ځما په خیال کښې دا د جبریه ؤعقیده ده ددې متعلق وضاحت او کړئ؟

المستفتی: فضل ګل ملوزی صده کوهاټ...... ١٤ رجب ١٤٠٤ھ

جواب توکل علي الله او جبر کښې فرق نه کول غلط فهمي او بد فهمي ده دټول

﴿١﴾ قال ابن عابدین وعبارة النسفی فی عقائده وکرامات الاولیاء حق فتظهر الکرامة علی طریق نقض العادة للولی من قطع المسافة البعیدة فی المدة القلیلة وظهور الطعام والشراب واللباس عندالحاجة والمشی علی الماء والهواء وکلام الجماد والعجماء واندفاع المتوجه من البلاء وکفایة المهم من العداء وغیر ذالک من الاشیاء اه.

(ردالمختار ص ٦٨٤ ج ٢ مطلب فی ثبوت کرامات الاولیاء والاستخدامات)
قال الشاه غلام علی عبدالله المجددی: میاں زلف شاه که یکے از مخلصان حضرت ایشان (مرزا مظهر جان جانان) است گفت که من در اوائل حال که بخدمت حضرت ایشان ے آمدم در دشت راه گم کردم ناگاه بزرگے نموده شد مرا براه راست آوردند گفتم که شما کیستید گفتند تو برائے بیعت پیش کسی که میروی من همانم دوبار مرا این واقعه پیش آمد۔
(مقامات مظهریه للشاه غلام علی عبدالله المجددی رحمهم الله تعالیٰ حرمة واسعة ص: ١٦١)
﴿٢﴾ یعلم مابین ایدیهم وماخلفهم ولا یحیطون بشیء من علمه الا بماشاء (پ:٣ سورة البقره ع: ٢ آیت: ٢٥٥
﴿٣﴾ عن انس بن مالک قال قال رسول الله ﷺ انصر اخاک ظالما او مظلوما قال یارسول الله هذا ننصره مظلوما فکیف ننصره ظالما قال تأخذ فوق یدیه.
(صحیح البخاری کتاب المظالم ص ٣٣٠ ج ١ باب اعن اخاک ظالماً او مظلوماً)

اهل اسلام دا عقیده ده چه د الله د اجازت او امر نه بغیر هیڅ یو کارنهٔ کیږي ﴿۱﴾ او الله تعالی د هر کار خالق (پیدا کونکي) دي کاسب نه دې ﴿۲﴾ او په خلق او کسب کښې فرق کول پکار دي نو دې جماعت (ډلې) باندې اعتراض کول پخپله غلطي کول اهل حق ته دغلطۍ نسبت کول دی. والی الله المشتکیٰ

د نظم شاعر ته خالق نظم وئیل جائز نه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه داسې وئیل چه، ددې نظم خالق ځوک دې. دا جائز دې که نه؟

المستفتي: مولانا روح الامین صوابي مردان............ ۱۲\۱۳\۱۹۸۷

جواب د هر څیز خالق یعني د نشت نه شته کول صرف الله تعالی دې شعر جوړولو والا جوړونکي او ویونکي دې ﴿۳﴾ خو خالق نه دې قال الله تعالی قل الله خالق کل شي الایة ﴿٤﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامه علی القاری ولایکون فی الدنیا ولا فی الاخرة شئ ای موجود حادث فی الاحوال جمیعاً الا بمشیئته ای مقروناً بارادته وعلمه وقضاءه ای حکمه وامره الخ (شرح فقه الاکبر ص ۴۱ لله تعالیٰ اوجد المخلوقات لامن شئ)

﴿۲﴾ قال الملا علی قاری وجمیع افعال العباد من الحرکة والسکون ای علم ای وجه یکون من الکفر والایمان والطاعة والعصیان کسبهم علی الحقیقة ای لاعلی طریق المجاز فی النسبة ولا علی سبیل الاکراه والغلبة بل باختیارهم فی فعلهم بحسب اختلاف اهوائهم ومیل انفسهم فلها ماکسبت وعلیها ما اکتسبت لاکما زعمت المعتزلة ان العبد خالق لافعاله الاختیاریة من الضرب والشتم وغیره ذالک ولا کما زعمت الجبریة القائلون بنفی الکسب و الاختیار بالکلیة ففی قوله تعالیٰ ایاک نعبد وایاک نستعین رد علی الطائفتین فی هذه القضیة. والحاصل ان الفرق بین الکسب و الخلق هوان الکسب امر لا یستقل به الکاسب والخلق امر مستقل به الخالق وقیل ماوقع بآلة فهو کسب وماوقع لا بآلة فهو خلق ثم ما اوجده سبحانه من غیر اقتران قدرة الله تعالیٰ بقدرة العبد وارادته یکون صفة له ولا یکون فعلا له کحرکة المرتعش وما اوجده مقارنا لایجاد قدرته واختیاره فیوصف بکونه صفة وفعلاً وکسبا للعبد کالحرکات الاختیاریة. ثم المتولدات کالالم فی المضروب والانکسار فی الزجاج بخلق الله وعند المعتزلة بخلق العبد (والله تعالیٰ خالقها) ای موجد افعال العباد وفق ما اراد لقوله تعالیٰ الله خالق کل شئ الخ (شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص: ۴۹، ۵۰ افعال العباد کسبهم وخلق الله تعالیٰ)

﴿۳﴾ قال الملا علی قاری والله تعالیٰ خالقها ای موجد افعال العباد وفق ما اراد لقوله تعالیٰ الله خالق کل شئ (شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۵۰ الفرق بین الکسب و الخلق)

﴿۴﴾ پ: ۱۳ سورة الرعد رکوع: ۸ آیت: ۱۶)

غیر الله ته دآواز کولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه یا رسول الله، یا غوث الاعظم، یا پیر بابا وئیل جائز دي که نه؟ ددې عقیده شرک دې یا نه؟ غیر الله ته د آواز کولو حکم واضح کړئ؟

المستفتي: عبدالمتین چمکني پشاور...... ۱\۲\۱۹۸۴

الجواب: غیر الله ته د غیبي تسلط په ارادې سره آواز کول ښکاره شرک دې او په نورو ارادو سره کله مو هم د شرک او کله جائز دې. (والتفصیل في الفتاوي الرشیدیه)

په صحیح عقیدې سره یا محمد وئیل جائز دی

سوال: که د یو سړي عقیده صحیح وي پیغمبران او ولیان عالم الغیب او حاضر نه ګڼړي نو دهغوی دپاره په یا محمد سره آواز کول جائز دي که نه؟

المستفتي: نور الله هرات افغانستان

جواب: المحظور هو النداء بیا محمد علی عقیدة علم الغیب واعتقاد التسلط الغیبی علما وقدرة لامحض النداء کما فی التشهد ﴿۱﴾ وکما فی حدیث الطبرانی الصغیر صفحه ۱۰۳ فمن قال یامحمد انی اتوجه الیک فلا اثم فیه الا ان الاجتناب عنه احوط فی غیر التشهد والصلاة والسلام لکونه موهما ﴿۲﴾ وهو الموفق

د اولیاء الله نه مدد طلب کول په دې عقیده باندې چه دې ددې د پاره مقرر دې دا ښکاره شرک دې

سوال: علمائې دین د ې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د اولیاؤ نه براه راست څه غوښتل او مدد غوښتل ناجائز دي لیکن زید وائي چه ولي مشکل کشا دې د ولي نه بذاتِ خو د هم غوښتل جائز دي پدیکښې څه بدي نشته وضاحت اوکړئ؟

المستفتی: محمد پیر سدو مردان............ ۲۷\ستمبر ۱۹۸۲

﴿۱﴾ السلام علیک ایها النبی ورحمة الله وبرکاته کما فی التشهد الصلاة.

﴿۲﴾ دا آواز (ندا) که د حاضر ناظر په عقیدې سره نه وي نو بیا هم په دې خاص آواز یعني په دې خاص نوم د آواز کولو ګنجائش نشته ځکه چه پیغمبر ﷺ ته د هغه په خپل نوم سره آواز کول منع دي. البته یا رسول الله وغیره پشان آواز کول خیر دي چه عقیده خرابه نه وي.

الجواب: په اولیاؤ وسیله نیول جائز دي ﴿۱﴾ لیکن د غیر الله نه په دې عقیدې سره غوښتل چه الله تعالی دې د حاجتونو ﴿۲﴾ پوره کولو دپاره مقرر کړیدي، دا شرک جلي دي ﴿۳﴾ وهو الموفق

یا مصطفی مشکل کشا وئیل

سوال: یا مصطفي، مشکل کشا وئیل شرک دي یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتي: لطیف الله مدرسه عربیه شمس العلوم......۱۵ شعبان ۱۴۱۰ھ

الجواب: دا الفاظ دحاظرناظر او عالم الغیب په عقیدې سره وئیل شرک جلی دي او د عشق او محبت په انداز کښې وئیل جائز دي ﴿۴﴾ او پیغمبر ﷺ ته مشکل کشا وئیل په دې معنې سره چه د خدائې د طرفنه د مشکلاتو د حل کولو دپاره مقرر دي دروغ دي او کفر دي. او په دې معنې سره چه دهغه په توسل (وسیله نیولو) سره به مشکلات حل شي صحیح او جائز دي ﴿۵﴾

د خوب تعبیر او. یا رسو ل الله په ما باندې رحم اوکړه. والا مسئله

سوال: علمائي دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائي (۱) چه یو سړې خپل خوب داسې بیان کړي چه ماته په خوب کښې دنبي علیه السلام زیارت نصیب شو نو وې فرمائیل چه کوم سړې په ما باندې درود شریف وائي نو څه دهغه

﴿۱﴾ قال الله تعالیٰ وكانو من قبل يستفتحون على الذين كفروا (پ:۲ سورة البقرة ع: ۱۱ آیت: ۸۹)
قال الله تعالیٰ وما كان الله ليعذبهم وانت فيهم وما كان الله معذبهم وهم يستغفرون (پ: ۹ سورة الانفال ع:۱۸ آیت: ۳۳) وقال الله تعالیٰ وكان ابوهما صالحا (پ: ۱۶ سورة الكهف ع: ۱ آیت ۸۲) وقال الله تعالیٰ وابتغوا اليه الوسيلة (پ: ۶ سورة المائدة ركوع: ۱۰ آیت: ۳۵)
﴿۲﴾ قال الله تعالیٰ ما نعبدهم الا ليقربونا الى الله زلفیٰ (پ: ۲۴ سورة زمر ركوع: ۱۵ آیت: ۳)
﴿۳﴾ (وتمامه فى رسالة مقالات ص ۵ و ص ۵۵ للشيخ محمد فريد دامت بركاتهم)
﴿۴﴾ قال الحصكفى كره قوله بحق رسلك وانبيائك واوليائك اوبحق البيت لانه لاحق للخلق على الخالق تعالیٰ وقال ابن عابدين قد يقال انه لاحق له وجوبا على الله تعالیٰ لكن الله تعالیٰ جعل لهم حقا من فضله او يراد بالحق الحرمة والعظمة فيكون من باب الوسيلة وقد قال الله تعالیٰ وابتغوا اليه الوسيلة وقد عد من اداب الدعاء التوسل على ما فى الحصن وجاء فى رواية اللهم انى اسألك بحق السائلين عليك وبحق ممشای اليك فانى لم اخرج اشرا ولا بطرا الحديث (الدر المختار مع ردالمحتار ص ۲۸۱ ج۵ كتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع)
﴿۵﴾ قال العلامة ان عابدين قوله لانه لا حق للخلق على الخالق قد يقال انه لاحق لهم وجوبا على الله تعالیٰ لكن الله سبحانه وتعالیٰ جعل لهم حقا من فضله او يراد بالحق الحرمة والعظمة فيكون من باب الوسيلة وقد قال الله تعالیٰ وابتغوا اليه الوسيلة وقد عد من آداب الدعاء التوسل على ما فى الحصن الخ (ردالمحتار ص ۲۸۱ ج۵ كتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع)

فریاد ته رسیږم نو آیا د قران او حدیث په رڼا کښې غیر الله دستګیري او فریاد رسي کولې شی؟ (۲) او که څوک داسې اووائي چه اې د الله نبي په ما باندې رحم اوکړې نو آیا غیر الله رحم کولې شي.

المستفتي: شیر زمان هولز مین کمپني تبوک سعودي عرب. ۱۲۲۲صفر ۱۴۰۱ھ

جواب د قرآن او سنت په رو سره غائبانه فریاد پوره کونکې او مشکلاتو حل کونکې صرف الله تعالی دې په خوب کښې د پیغمبر علیه السلام نه اوریدلې شوې کلام حجت او دلیل نه دې. د خوب وخت د غفلت وخت دې پس چه کوم خوب والا کلام او خبرې د قرآن او سنت سره متعارض وي د هغې به یا تاویل کیږي او یا به غلط وي والتاويل المناسب في المنام المسطور ان الله تعالي يغيث بجاهى وبكثـرة صلاته علي هذا الرجل. (۲) حضور ﷺ رؤف او رحیم دې خو چه کوم رحم د علم غیب تقاضا کوي نو د هغې ثبوت به صرف د الله تعالی دپاره کولې شی. ﴿۱﴾

بنده په کولو کښې با اختیاره دې

سوال: یو سړې کانړې یا بل څه څیز او غورځوي او وائي چه دا ما او غورځولو که الله تعالیٰ؟ په دلیل کښې وائي. فمن شاء فليؤمن ومن شآء فليكفـر، چه مونږ ته اختیار شته او که اختیار نه وي نو پدې آیت عمل نشي راتلې. ددې مسئلې حقیقت واضحه کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي محمد دین مسعود وزیرستان........ ۲۱۴۱۱۹۸۶

الجواب: دا سړې جاهل دې دې په توکل او تعطل (بې کاره کیدلو) کښې فرق نشي کولې او نه په خلق (پیدا کولو) او کسب (کول) فرق کولې شي. دمخلوق نه دنه کیدو یقین په اسبابو باندې عدم اعتماد ته وائی، فافهم ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الله تعالیٰ (وعنده مفاتح الغيب لايعلمها الا هو) (پ: ۷ سورة الانعام ركوع: ۱۳ آیت: ۵۹) وقال الله تعالیٰ ولو كنت اعلم الغيب لاستكثرت من الخير..الآية (پ: ۹ سورة الاعراف ع: ۱۳ آیت: ۱۸۸)
﴿۲﴾ قال الملاعلى القارى وجميع افعال العباد من الحركة والسكون اى علم اى وجه يكون من الكفر والايمان والطاعة والعصيان كسبهم على الحقيقة اى لا على طريق المجاز فى النسبة ولا على سبيل الاكراه والغلبة بل باختيارهم فى فعلهم بحسب اختلاف اهوائهم وميل انفسهم فلها ما كسبت وعليها ما اكتسبت لاكما زعمت المعتزلة ان العبد خالق لافعاله الاختيارية من الضرب والشتم وغيره ذالك ولا كما زعمت الجبرية القائلون بنفى الكسب والاختيار بالكلية ...الخ
(شرح فقه الاكبر لملا على قارى ص: ۴۹، ۵۰ افعال العباد كسبهم وخلق الله تعالیٰ)

(نوټ): دآيت مطلب دادي چه بنده ته په کسب کښې اختيار دې مجبور نه دې.

تقدير اسباب پريښودل نه لازموي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د تقدير فيصله په ازل کښې شوې ده چه الله تعالىٰ دلوح محفوظ نه دانسان د ژوند فيصله د غريبئ او مالدارې په صورت کښې کوې نو بيا مونږ په دنيا کښې دا تکليفونه ولې اوچتوؤ بلکه چه څه مونږ په تقدير کښې وي هغه به په خپله رسيږي، وضاحت اوکړئ او مطمئن کړئ؟

المستفتي: حکم خان رسالپور نوشهره.......۲۸ ذوالحجه ۱۴۰۴ھ

جواب: الله تعالىٰ چه حکيم مطلق دې او په بندګانو د مور پلار نه هم زيات مهربان دې دا فقيرى او مالدارى دازل نه شوى دى ليکن دا ئې زمونږ نه پټ ساتلى دى. او مونږ ته ئې داحکم کړې دې چه تاسو د ذرائع او اسباب استعمال کړئ تاسو ته به خپل قسمت رسيږي. او مونږ ته ئې دا اجازت نه دې راکړې چه ذريعې او اسباب پريږدو او قسمت په انتظار کښې کينو.

(نوټ): په داسې باريکو (نازکو) اود ذهنونو نه اوچتو مسئلو کښې سمعنا واطعنا والاعمل اختيارول دصحابه کرامو شان دې تحقيق پسې تلل نه.(۱)

تقدير څه شي دې؟

سوال: د تقدير حقيقت حقيقت څه دې، او په څه طريقې سره تقدير بدليږي او د مقدر په وجې مونږ مکلف ولې يو وضاحت اوکړئ؟

المستفتي: مياں محمد ملاکنډ ايجنسي......۱۹۷۸ء۳/۷/۱

الجواب: تقدير د الله دارادې نه عبارت دې او د الله تعالىٰ د ذات او صفاتو علم په حقيقت کښې څمونږ د طاقت نه بهر دې لهذا د تقدير حقيقت معلومولو پسې لګيدل وخت ضائع کول دې. په داسې نازکو او عام ذهنونو نه اوچتو مسئلو کښې سمعنا واطعنا وئيل د صحابه کرامو شان دې (۲) اوتقدير مبرم نه بدليږي اوتقدير معلق بدليدې شي. وهو الموفق

(۱)(۲) عن عائشة رضى الله عنها قالت سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول من تكلم فى شئ من القدر سئل عنه يوم القيمة ومن لم يتكلم فيه لم يسئل عنه رواه ابن ماجة. (مشكوٰة المصابيح ص۲۳ ج۱ باب الايمان بالقدر الفصل الثالث)

په تقدير او اسبابو او محنت کښې منافات نشته

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه يو طالب علم په امتحان کښې فيل شي يا تاجر ته په تجارت کښې نقصان اوشي يا يو زميندار په پټي کښې خاوره (مصنوعي خاوره) نه غو رځوي او د حفاظت خيال نه کوي او د پټي نه کم پيداوار اوشي نو دا خلق وائي چه څمونږ په قسمت کښې ئې داسې ليکلي وو که مونږ زر وارې کوشش کړې وې خوختم کيدلې نه شوه. الله تعالىٰ نه دغه شان منظوره وه او س سوال دادې چه آيا خدائې ددوى په تقدير کښې ناکامى ليکلې وه؟ آيا ددې ناکاميابو اصل وجه محنت نه کول دې او که تقدير هم داسې وو بعضې خلق وائي چه مونږ مجبور يو که محنت کوؤ او که نه چه خدائې څه کوي هغه به کيږي. (۲) الله احسن الرازقين (ښائسته رزق ورکونکې) دې په دې کښې څه شبه نشته خو انسان له د رزق د حاصل کولو ذريعې تلاش کول پکار دي يا لاس نه په يو بل واړوي او کيني او وائي چه څه نه کوم هغه رازق دې بغير څه تلاش او مخنت نه به خامخا ماته روزي راکوي. (۳) د خوراک څيزونو نرخونه او په هغې کښې بره ښکته تلل راتلل د معاشرې په افرادو باندې منحصر ده او که دا نرخونه روزانه الله تعالىٰ د فرشتو په ذريعې سره زمکې والؤ ته رسوي، او د ګرانئ ارزانئ هغه په خپله اعلان کوي؟

المستفتي: غلام نبي هوتي مردان.....۱۲۱محرم الحرام ۱۳۹۲ھ

جواب (۱) الله تعالىٰ ته په ازل کښې معلومه وه چه دا سړې به محنت نه کوي نو دهغه دپاره ئې ناکامي او نقصان مقدر کړو او ډير کرته بغير محنت نه هم دده دپاره کاميابي وى، ځکه چه الله تعالىٰ ته په ازل کښې معلومه وه چه دا سړې به نقل يا سفارش وغيره سبب په کار راولي ګني نو په عقلي او نقلي دليلونو سره دا خبره ثابته ده چه انسان خالص مجبوره نه دې (۲) د رازق دا مقصد نه دې چه انسان به هيڅ کار نه کوي. لکه چه د خالق دا مطلب نه دې چه انسان دې واده نه کوي او بچي دې ورته ملاؤ شي. (۳) ګراني او ارزاني د الله تعالىٰ د طرف نه ده. ډير کرته د معاشرې د افرادو د خواهش خلاف بره والې ښکته والې کيږي (قال رسول الله ﷺ ان الله هو المسعر (۱) ددې دامقصد نه دې چه د معاشرې دافرادو دبې اعتدالو

(۱) عن انس رضى الله عنه قال قال الناس يارسول الله غلا السعر فسعر لنا فقال ان الله هوا لمسعر القابض الباسط الرزاق وانى لأرجوا ان القى الله وليس احد منكم يطالبنى بمظلمة فى دم ولامال واسناده على شرط مسلم وصححه ابن حبان والترمذى (ردالمحتار ص۲۸۳ ج۵ كتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع)

پدې کښې څه دخل نشته، بلکه ددې دخل (اثر) خو موجود دې لکه چه په صحت او
مرض کښې د بې اعتدالو اثر موجود دې. وهوالموفق

قاتل ته په مقدر قتل باندې سزا ولې ؟

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه مرګ د الله تعالى د
طرفنه مقرر شوې وي نو که څوک بل کس قتل کړي نو قاتل ته د هغې سزا
ولې ور کولې کيږي؟

المستفتي: محمد قاسم متعلم دارالعلوم حقانيه.....۱۹ رجب ۱۴۰۴ھ

جواب چونکه الله تعالى دا مقرر کړې چه دا قاتل به دا سړې په قصد او ارادې
سره قتلوي نو ده ته به ددې اختيار او ارادې په دې فعل باندې سزا ورکولې
کيږي لکه چه الله تعالى د يو طالب علم متعلق مقرر کړې وي چه دې به ارادةً
کوشش نه کوي نو ممتحن به ئې فيل کوي يا لکه د مستفتي د ناپوهئ او بې
علمئ د وجې نه الله تعالى دده د پاره تپوس کول مقرر کړې او مفتي هم
جواب ورکوى. وهوالموفق

د معدن السرور رسالې (تاليف مولانا شمس الحق افغانى) بهاولپور تصديق او تصويب

عرض! دا رساله معدن السرور فتوي بهاولپور چه د علامه شمس الحق
افغاني ده مجلس اهل السنت والجماعت شائع کړې نو بنده په مقدس جناب
کښې عرض کونکې دې چه تصديق او تصويب سره د مُهر لګولو نه اوکړې
ډير مهرباني به وي. المستفتي :اهل سنت والجماعت پاکستان

جواب ددې ټولو جوابو سره څمونږ پوره اتفاق دې د حضرت مولانا شمس الحق
افغاني صاحب رائې څمونږ رائې ده. نجديه او سلفيه فرقې د دليلونو په رڼړا
کښې په بدفهمئ او غلط فهمئ کښې مبتلا دې. فقط از (حضرت مولانا مفتي
محمد فريد عفي عنه (شيخ الحديث دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک

په کلمه طيبه کښې زياتوالې او د شيعه ګانو عقيده

سوال: حضرات علمائې کرامو او د ملت مشرانو ته عرض دې چه د نهم او لسم
جمات د دينيات په نصاب کښې دوه کلمې راغلې دي (۱) لا اله الا الله
محمدرسول الله.. راهنمائي اساتذه ص ۲۷ جمات نهم و دهم وزارت تعليم
حکومت پاکستان (۲) لا اله الا الله محمدرسول الله على ولى الله وصى

رسول الله وخليفة بلا فصل. همدارنګې په صفحه ۳۶ ئې هره يوه د اسلام
کلمه ګرځولې ده ددې حکم څه دې وضاحت ئې اوکړئ؟

المستفتي: محمد توصيف الرحمان عزيز الله جامع مسجد ګنبد والي جهلم شهر. ۱۹۷۲/۱۲/۱۵

الجواب: ښکاره خبره ده چه حضرت علي رضي الله عنه وصي کيدل يا خليفه بلا فصل
کيدل دروغ دي او د شيعه ګانو بې ثبوته دعوى ده البته کفر نه دې فسق او
بدعت دې ﴿۱﴾ نو چه څنګه په زنا او سود سره په اولنئ کلمه کښې څه خرابي
نه راځي البته په تابعدارئ او وفا دارئ کښې نقصان راځي نو دغه شان
پدې دويمه کلمه کښې په مخصوص الفاظو او وفادارئ کښې نقصان راځي
خو په وفادارئ او تابعدارئ يعني د ايمان په کمال کښې نقصان راځي او دا
سړې فاسق او بدعتي دې ده پاک او ناپاک په ملاوټ او يو ځائې والې سره
پاک هم ناپاکه کيږي. وهوالموفق

د الله نه د علم، حکمت او قدرت نفي کول کفر دې

سوال: (۱) لوقال احد لاحد من الذكر اوالمرءة الله جل جلاله خلقك ذكرا بغير
علم يعنى ولم يعلم والمناسب ان يخلقك امراءة اوقال خلقك امراءة بغيرعلم
والمناسب ان يخلقك ذكرا هذا مفهوم الكلام. ماالحكم لقائل هذا الكلام؟
(۲) ولوقال احدا لدعاء الابلق شر من الله يعنى السحر والجادو اقوئ من الله ماالحكم
لقائل هذا الكلام؟ المستفتى: محمدصادق صابر هزاره.... ۲۴-جمادى الثانى ۱۴۰۲ھ

جواب: هذا الشخص يصير بهذه الالفاظ كافرا بالله لانه نفى عن الله تعالىٰ العلم
﴿۲﴾ وقال الله تعالىٰ ان الله بكل شئ عليم الآية ﴿۳﴾ ولانه نفى عن الله تعالىٰ حكمة
وهوعليم حكيم كما قال الله تعالىٰ انك انت العليم الحكيم. الاية ﴿۴﴾

﴿۱﴾ قال ابن عابدين اقول نعم نقل فى البزازية عن الخلاصة ان الرافضى اذا كان يسب الشيخين ويعلنهما
فهو كافر وان كان يفضل علياً عليهما فهو مبتدع (ردالمحتار ص ۳۲۱ ج ۳ مطلب مهم فى حكم سب الشيخين)
وفى الهندية وان كان يفضل عليا كرم الله وجهه على ابى بكر رضى الله عنه لايكون كافراً الا انه مبتدع
والمعتزلى مبتدع الا اذا قال باستحالة الرؤية فحينئذ هو كافر. خلاصه (هنديه ص ۲۶۴ ج ۲ منها ما يتعلق
بالانبياء عليهم الصلاة والسلام)
﴿۲﴾ وفى الهندية يكفر اذا وصف الله تعالىٰ بما لايليق به...... اونسبه الى الجهل او العجز او النقص
ويجوز ان يفعل الله تعالىٰ فعلا لاحكمة فيه الخ. (عالمگيرى ص ۲۵۸ ج ۲ فصل فى موجبات الكفر)
﴿۳﴾ (پ: ۱۰ سورة الانفال ركوع: ۶ آيت: ۷۵)
﴿۴﴾ (پ: ۱ سورة البقرة ركوع: ۵ آيت: ۳۲)

(۲) ان الله خالق کل شئ من الخیر والشر ومرید کل شئ من الخیر والشر وودع فی کل شئ خواص متفاوتة بعضها اقویٰ من بعض آخر فان کان قصد هٰذا القائل تفاوت التاثیر فلا حرج علیه وان کان قصده تنقیص کلام الله تعالیٰ فهو کافر ﴿۱﴾ فقط

ددې اسلام نه خو کفر ښه دې ددې کلماتو حکم

سوال: یو سړې د ښځې خاوند په مینځ کښې د اختلاف اچولو کوشش اوکړو نو ښځې ورته خیرې شروع کړې خاوند ورته اووئیلې چه خیرې مه کوه اسلام ددې نه منع کړې ده بلکه د هدایت دعاګانې کوه نو ښځې ئې د خولې نه دا الفاظ ویستل چه د دداسې اسلام نه کفر ښه دې کفر ښه دې کفر ښه دې. نو په دې الفاظو سره ښځه کافره شوه او که نه؟او نکاح باقي پاتې شوه اوکه نه؟

المستفتي: محبوب الرحمان....... ۱۱۲۱۱۹۷۴

جواب په ظاهره د ښځې مراد دادې چه دداسې اسلام نه چه په هغې کښې دظالم دپاره بددعا (خیرې) منع وی کفرښه دې لهذا دا خبره اګرچه غلطه ده لیکن کفریه نه ده، پس په دې صورت کښې تجدید د نکاح کول احوط دی ضروری اوفرض نه دی. ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال ابن عابدین و کذا لو اسنده الی امارة عادیة بجعل الله تعالیٰ.......... والشمس والقمر بحسبان ای سیرهما بحسبان واستدلالی بسیر النجوم وحرکة الافلاک علی الحوادث بقضاء الله تعالیٰ وقدره وهو جائز کاستدلال الطبیب بالنبض علی الصحة والمرض ولو لم یعتقد بقضاء الله تعالیٰ او ادعی علم الغیب بنفسه یکفر. (ردالمحتار ص۳۲۵ ج۳ مطلب فی دعوی علم الغیب)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین انه لایکفر بشتم دین مسلم ای لایحکم بکفره لامکان التاویل .... اقول وعلی هذا ینبغی ان یکفر من شتم دین مسلم ولکن یمکن التاویل بان مراده اخلاق الردیئة ومعاملة القبیحة لا حقیقیة دین الاسلام فینبغی ان لایکفر حینئذ واقره فی نور العین.......... واما امره بتجدید النکاح فهو لا شک فیه احتیاطاً خصوصا فی حق الهمج الارذال الذین یشتمون بهٰذا الکلمة فانهم لا یخطر علی بالهم هٰذا المعنی الخ (ردالمحتار ص۳۱۶ ج۳ مطلب فی حکم من شتم دین مسلم)

قبر ته سجده د عبادت کول مکروه دي

سوال: عالمان ددین په دې مسئله کښې څه فرمائی چه قبرته یا قبرته نزدې سجده کول څنګه دی شرک دي یا کبیره ګناه ده؟ د قرآن اوسنت په رڼا کښې جواب راکړئ.

المستفتي: مولوی نورالحق باره بازار خیبرایجنسی ۱۶ ربیع الثانی ۱۴۱۱ھ

جواب قبرته نزدې سجده کول مکروه تحریمی دی. ﴿۱﴾ اوقبرته سجده د عبادت کول شرک دی. اوقبرته سجده دتعظیم کول حرام دی.

والفرق بینهما في کون الساجد معتقدا لکون المسجود له مسلطا علي الساجد علما وقدرة او غیر معتقد لهذا. کما في الهندیة ص ۳۶۸ ج۵ من سجد للسلطان علي وجه التحیة اوقبل الارض بین یدیه لا یکفر ولاکن یأثم وارتکابه الکبیرة وهوالمختار وقال الفقیه ابوجعفر رحمه الله وان سجد للسلطان بنیة العبادة اولم تحضره النیة فقد کفر کذا في جواهر الاخلاطي﴿۲﴾

شریعت پریده.. دا الفاظ دَ کفر دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه د یو سړي نه دهغه خور د جینئ رشته او غوښتله نو هغه سړي (زید) په دې شرائطو منظوره کړه چه واده وغیره به شرعي طریقه باندې وي ګانې بجانې او ډولونه به پکښې نه وي نو د زید او رونړو او خور اووې چه د شریعت خبرې پریږده په ودونو کښې خو دا رسمونه او رواجونه وي.چه شرائط ئې اونه منل،نو زید بل ځائې کښې رشته اوکړه او هغوي ئې شرطونه اومنل نو اوس چه د زید رونړو او خور دا الفاظ استعمال کړي دي چه شریعت پریږده. ددې حکم څه دې؟او ددوې دنکاح به څه کیږي؟

المستفتي: محمد اقبال مدرسه کنز العلوم ګجرات مظفر ګړه ۱۷ مئ ۱۹۸۳ء

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین وتکره فی اماکن .... ومقبرة...... لان اصل عبادة الاصنام اتخاذ قبور الصالحین مساجد وقیل لانه تشبه بالیهود وعلیه مشی فی الخانیة ولا بأس بالصلاة فیها اذا کان فیها موضع اعد للصلاة ولیس فیه قبر ولانجاسة کما فی الخانیة ولا قبلته الی قبر حلیة. (ردالمحتار ص۲۷۹ ج۱ مطلب تکره الصلاة فی الکنیسة)

﴿۲﴾ (هندیه ص۳۶۸ ج۵ الباب الثامن والعشرون فی ملاقات الملوک والتواضع لهم الخ)

الجواب: په دې شرط که لیکلې شوې خبرې رشتیا او ثابتې وي نو په دغه کسانو چه د شریعت ردئې کړې ایمان او نکاح تازه کول ضروري دي د کفر د کلمو په وئیلو سره نه نکاح باقي پاتې کیږي او نه حقوق. يدل عليه ما في الهندية و اذا قال الرجل لغيره حكم الشرع فى هذه الحادثة كذا فقال ذالک الغير(من برسم كارمی كنم نه بشرع) يكفر عند بعض المشائخ (هندية ص ۲۹۹ جلد۲) والله اعلم(۱)

د نور اوبشر مسئله. دَ علم کلی، اختیار کلي او حاضرناظر عقیدو وضاحت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمایئ چه حضور ﷺ بشر هم دې اونورهم مگر لبا ساً (ظاهراً) بَشر او حقیقتاً نوردې (۲) دده د پاره د کائنات د ابتداء نه نه جهنم او جنت ته داخلېدلو پورې علم کلي حاصل دې اوهغه مختار کل او حاضرناظر دي که دا عقیدې غلطې وي نو ددې سړي څه حکم دې؟

المستفتي: حافظ افسر ګندي خانخیل لکي مروت....... ۱۰ ستمبر ۱۹۹۰

جواب کوم سړي چه پیغمبر ﷺ بشر او سید البشر منی او پیغمبر ﷺ د پاره ټول هغه څیزونه مني چه د نبي ﷺ د شان سره مناسب وي وهو الاستغراق العرفی كما فى اتينٰه كل شئ سبباً (۲) او اوتيت من كل شيئ الاية (۳) او د مختارکل دا معني کوي چه کومه د عربئ معني ده، په ټولو مخلوقاتو کښې بزرګ ترین او د ټولو امورو د مشاهدې نه دا مراد وي چه پیغمبر ﷺ د الله تعالی په ذات او صفاتو کښې مستغرق اوفنا دې او د الله تعالی په حکم بعضې مناسب کائنات طرف ته هم نظر کوي. (۴) نو دا سړي مشرک نه دې ګینی مشرک به وي (۵) (**نوټ**): دا خلق (بریلیان) په عشقِ رسول ﷺ کښې بې اعتدالئ په شرک مبتلاء (اخته) کړې دي. وهو الموفق

﴿۱﴾ عالمگیری ص ۲۷۲ جلد ۲ موجبات الكفر انواع)

﴿۲﴾ (پ: ۱۶ سورة الكهف ركوع: ۱ آیت: ۸۴)

﴿۳﴾ (پ: ۱۹ سورة النمل ركوع: ۱۷ آیت: ۲۳)

﴿۴﴾ قال الله تعالیٰ ولا يحيطون بشئ من علمه الا بما شاء...... اه (پ: ۳ سورة البقره ركوع: ۲ آیت: ۲۵۵)

﴿۵﴾ وعنده مفاتح الغيب لايعلمها الا هو ويعلم ما فى البر والبحر وماتسقط من ورقة الا يعلمها. الآية (پ: ۷ سورة الانعام ركوع: ۱۳ آیت: ۵۹)

ستا په سبق دې اسمانی تندر اوغورځیږی.. دا الفاظ د کفرنه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د زید لس کلنې بچې قران مجید په ناظره وائی د زید ښځه هنده، په غصه کښې راغله په کنځلو کښې ئې ورته د الفاظ هم استعمال کړل چه ستا په سبق دې تندر پریوځی، ، یعنی ستاپه سبق دې آسمانی بجلی راوغورزیږی. نو ددې الفاظو استعمالولو سره څه فرق پریوځی. او کفاره ئې څه ده؟ اوپه نکاح څه فرق پریو ځي که نه؟

المستفتي: متعلم جامعه حقانیه...۴ ستمبر ۱۹۸۲

جواب دا جاهلانه غصه ده په دیکښې کفریه یا شرکیه یا قسمیه الفاظ نشته نو کفاره هم نه لازمیږي. ﴿۱﴾

قران سره به مې جماع کړې وی ونیلو سره د کفر لازمیدل

سوال: یو سړي دا الفاظ وئیلي دی که ما دا بد کار اوکړو نونعوذ بالله د قران سره چه مې جماع کړې دې بیاهغه کارهم اوشو اوس هغه سړي غواړي چه ما دا کفریه الفاظ وئیلي دي اوس به ماته کوم عذاب راکولې شي. او توبه ئې کړې ده خو دا سړې به اوس کافر وی یانه، اوکفاره به ورکوی یا نه؟

المستفتي: عبدالمالک نریاب کوهاټ..... ۲۷ شوال ۱۴۰۱

جواب داد قسم معامله ده لکه، ان فعلت كذا فانا يهودي لكون جماع المصحف تو هينا و كفرا، بس کله چه هغه سړې بد کار اوکړو نو خا نث شو او که ددې سړي عقیده داوه چه په دې صورت کښې بدکارکولو والا کافر کیږي نو دا سړې کافر هم شو كما في الهنديه وغيره (۲) ګني نه کافر کیږي بهرحال دا سړې دې توبه او استغفار اوکړي اوایمان دې تازه کړي او احتیاطاً د کفاره هم ورکړي، وهوالموفق

﴿۱﴾ وفى الهندية وماكان خطا من الالفاظ ولا يوجب الكفر فقائله مؤمن على حاله ولا يؤمر بتجديد النكاح والرجوع عن ذالک كذا فى المحيط (فتاویٰ هنديه ص۲۸۳ ج ۲ قبيل الباب العاشر فى البغاة)

﴿۲﴾ ولو قال ان فعل كذا فهو يهودى اونصرانى او مجوسى او برئ من الاسلام او كافر او يعبد من دون الله او يعبد الصليب اونحو ذالک مما يكون اعتقاده كفرا فهو يمين استحسانا كذا فى البدائع حتى لوفعل ذالک الفعل يلزمه الكفارة وهل يصير كافرا اختلف المشائخ فيه قال شمس الائمة السرخسى رحمة الله عليه والمختار للفتوىٰ انه ان كان عنده انه يكفر متى اتى بهٰذا الشرط ومع هذا اتى يصير كافرا لرضاه بالكفر...... وان كان عنده انه اذا اتى بهٰذا الشرط لا يصير كافرا لايكفر الخ (عالمگیری ص ۵۴ جلد۲ الباب الثانى فيما يكون يمينا وما لايكون يمينا)

د کافر د جهنم په همیشګئ باندې د اعتراض جواب

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د دوزخ دپاره فنا شته که نشته؟ که دیو سړي دا عقیده وي چه یو سړي ټول عمر مثلاً ۶۰ کاله کفر اوکړو هغه ته الله تعالی څنګه همیشه عذاب ورکوي دا خو ظلم دې سزا د جرم مطابق پکار وي. یو عالم وئیلي دي چه آخره کښې به کافر هم جنت ته لاړشي آیا داعقیدې داهل سنت والجماعت دي که نه؟ بینواتوجروا

المستفتي: مو لانا قاري عبدالله بنوں..... ۲۲صفر ۱۴۰۳ھ

جواب د اهل سنت والجماعت دا عقیده ده چه دوزخ به همیشه دپاره وي او کفار به هم همیشه دپاره په هغې کښې وي الله تعالی د کافرانو متعلق د خالدین فیها ابداً ﴿۱﴾ الفاظ استعمال کړي دي. چه د کافرانو متعلق په دوزخ کښې همیشه پاتې کیدو باندې دلالت کوي. دارنګې الله تعالی فرمائي في العذاب هم خالدون﴿۲﴾ چه په همیشوالی باندې دلالت کوي. او دا قول هم کلما نضجت جلودهم الایة ﴿۳﴾ په دې مقصد باندې دلالت کوي چه دا کافران بهٔ د اور سره عادت کیږي نه بلکه بې شمیره کلونه په عذاب تیریدو باندې به هم د اول داخلیدو پشان وي.

ویدل علیه ما اخرجه الطبرانی وجعل لهم الابد وما اخرجه ایضا خلود بلاموت وما اخرج الشیخان یا اهل النار لاموت و کذا حدیث ذبح الموت. واما ما روی عن ابی هریرة رضی الله عنه وابن مسعود رضی الله عنه وغیرما" لیاتین علی جهنم زمان لیس فیها احد فقال البغوی ان ثبت فمعناه ان لا یبقی فیها احد من اهل الایمان کذا فی التفسیر المظهری ص۵۵ سورة هود.

پس دې عقیدې ساتلو والا عالم ددین د ضروریاتو نه منکر دي او داسې عالم د کافرانو او اهل زیغ خلقو امام ګڼړل پکار دي. اودویمه مسئله داده چه د قران مجید دا یت، لو ردوا لعادوا الی ما نهوا، الایه﴿۴﴾ نه هم دا معلومیږي چه په کفرباندې خاتمه دهغه سړي کیږي چه دهغه متعلق الله تعالی ته معلومه ده که دې همیشه ژوندي وي نو کافر به وي نوبس کفرهم

﴿۱﴾ قال العلامه محمد عبدالعزیز الفرهاری باقیتان لا تفنیان ولا یفنیٰ اهلها ای دائمتان لا یطرء ای لا یعرض علیهما عدم مستمر لا دائماً ولا زمانا یعتد به لقوله تعالیٰ فی حق الفریقین ای اهل الجنة والنار خالدین فیها ابداً ای فی الجنة او فی النار الخ (النبراس شرح شرح العقائد ص ۲۲۲ الجنة حق والنار حق)

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

همیشه شواوسزائې هم همیشه شوه دارنګې حکومت چه یو جرم باندې سزا مقرر کړي نوپه دغه جرم باندې اقدام ددغې سزا التزام دي. فافهم وهوالموفق

یا رسول الله او یا محمد وئیل شرک دې که نه؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه یا رسول الله یا محمد وئیل شرک دې که نه؟

المستفتي: سید هارون علي شاه تاروجبه پشاور ۲رمضان المبارک ۱۴۰۱ھ

جواب کوم سړې چه پیغمبر علیه السلام حاضر ناظر او عالم الغیب ګڼړي هغه د قرآن او حدیث او آثارو (د تابیعینو او صحابو اقوال) او د فقهاؤ دعبارتونو په بناء باندې کافر او مشرک دې البته د خوند یامحبت دپاره ندا کولو ته شرک وئیل جاهل یا متجاهل دې. دارنګې په صلاة او سلام کښې آواز کول جائز دی کله چه د ملائکو د رسولو په عقیدې باندې وی ﴿۲﴾ وهوالموفق

غیرارادی طورباندې ذهن کښې د الله تعالی د وجود باره کښې خیالات راتلل کفرنه دې

سوال: ماته په مونځ کښې د الله تعالی د وجود متعلق مختلف خیالات راځي په وړوکوالي مې د چانه اوریدلي وؤ چه الله تعالی نور دې نو اکثر د خدائې تعالی د وجود متعلق یوه د نور د کرښې پشان تصویر ذهن ته راځي یو څو میاشتې مخکښې مې په اسمان کښې شنې، سرې اوزیړې وریځې پشان کرښې لیدلې وې اوس راته هغه په مونځ کښې مخې ته راځي او کله کله څه تصویر هم په خیال کښې راځي براه کرم دې باره کښې تسلی راکړئ چه په کفر کښې مبتلا نه شم.

المستفتي: کفایت احمد سي تي ټیچر نوشهره زیارت کاکا صاحب۱۹۸۹ء۱۰۱۱/۷

(بقیه حاشیه) ﴿۲﴾ (پ:۶ سورة المائده آیت:۸۰) ﴿۳﴾ پ:۴ سورة النساء رکوع:۵ آیت:۵۶)
﴿۴﴾ (پ:۷ سورة الانعام رکوع:۸ آیت:۲۸)
﴿۱﴾ علامه مفتی اعظم محمدفریدصاحب دامت برکاتهم فرمائی چه غیرالله ته نداء په پنځه قسمه ده.(۱) دپیغمبروغیره کشف اوشی اونداء اوکړی نوداجائزده.(۲) اودې عقیدې سره چه فرشتې ئې ورته رسوی صرف صلاة اوسلام کښې جائزده.(۳) اودې خیال سره چه ممکن ده چه الله تعالی به ئې ورته اورسوی داموهم د شرك دي.(۴) اود عشق اومحبت په وجه د حاضر اومخاطب په شان نداء کول نه شرك دي اونه موهم د شرك دي بلکه معمول او معروف ده.(۵) اود علم غیب اوعلم کلی اعتقاد سره شرك جلی دي.اود اهل شرك او اهل بدع د شعارنه اجتناب ضروری دي.(مقالات ص۲۰ لفقیه العصر مولانا مفتی محمد فرید مجددی)

الجواب: داخيالات راتلل نه شرک دي نه گناه ده ﴿۱﴾ بلکه څنگه چه پيدائشي روند ديوسړي په باره کښې په خيالاتو کښې مبتلا وي ته هم داسې ئې بيا هم چه ستا په دماغو کښې کوم خيالات تصويرونه انوارات وغيره راځي د هغې متعلق په زړه کښې دا عقيده اوساته چه دا خدائي نه دي. وهو الموفق

د امام اعظم ابو حنيفه او علم غيب

سوال: دامام اعظم په نزد يو نبي يا ولی له علم غيب کُلي ثابت دي يا نه ؟

المستفتي:محمد اکرم هوتي مردان......۲۵جولائي ۱۹۷۹

جواب په تفسير مدارک کښې ﴿۲﴾ د سورة لقمان په آخره کښې د امام ابو حنيفه ؒ نه نقل دي چه د مفا تيح الغيب علم نه نبي او رسول ته ورکړې شوې او نه مقربې فرشتې ته نو اوليائي کرامو ته د علمِ غيبِ کلی حاصليدل به دکوم ځائي نه ثابت شي.

د وحي او کشف په ذريعې سره معلومات علم غيب نه دي

سوال: کتاب الايمان الفصل الاول عن عمر بن الخطاب قال بينما نحن عند رسول الله ﷺ ذات يوم اذ طلع ...... الخ ثم قرء ان الله عنده علم الساعة الخ فکيف يخفی عليه ذالک والاقطاب السبعة من امة الشريفة يعلمونها وهم دون الغوث فکيف بالغوث فکيف لسيد الاولين والآخرين کلمة العلياء (ابريز ص۱۰۵ علوم خمسه) بل ځائي کښې دی: کيف يخفي امرالخمس عليه والواحد من اهل التصرف من امة الشريفة لا يمکنه التصرف الا بمعرفة هذه الخمس،(ابريز ص۱٤۱ مطبوعه مصر) مشکوٰاة کښې دي چه په بدر کښې پيغمبر عليه السلام فرمائيلي وو چه

﴿۱﴾ وفی الهندية من خطر بقلبه ما يوجب الکفر ان تکلم به وهو کاره لذالک فذالک محض الايمان (عالمگيری ص۲۸۳ ج۲ قبيل الباب العاشر فی البغاة) وقال الحصکفی فلا تصح ردة مجنون ومعتوه وموسوس قال ابن عابدين ولکن موسوس له او اليه ای تلقی اليه الوسوسة وقال الليث الوسوسة حديث النفس (الدر المختار مع رد المحتار ص۳۱۲ ج۳ مطلب ما يشک فی انه ردة لا يحکم بها)

﴿۲﴾ قال صاحب المدارک .... عن ابی حنيفة لا يعلم هذه العلوم الخمس الا الله. (تفسير مدارک پ:۲۱ سورة لقمان آيت: ۳۴)

صباله به دلته فلانکې سړې مري او دلته فلانکې نو ددې نه دا معلوميږي چه پيغمبر عليه السلام ته معلومه وه چه صباله به څه کيږي، يعني بای ارض تموت والا علم ورته الله تعالی ورکړې وو ، دارنگې په مناقب اهل بيت کښې تلد فاطمة ان شاء الله غلاماً او په عرائس البيان او تاريخ الخلفاء کښې دصديق اکبر حضرت عائشي رضي الله عنها ته دهغې د خورخبر ورکول کومه چه دخپلې مورپه خيټه کښې وه وغيره، نو آيا دي واقعاتوسره هغه دپاره علم غيب نه ثابتيږی؟ پس عرض دادي چه ددي دلائلو به مونږ څه جواب ورکوو؟ وضاحت سره دا مسئله بيان کړئ.

المستفتي:مو لانا غلام يحي پنډي گهيپ.....۲ ستمبر ۱۹۷۵

جواب چه کله د قران ﴿۱﴾ او حديثونو ﴿۲﴾ او آثارو او د متکلمينو او فقهاؤ عبارتو نو ﴿۳﴾ نه دا خبره ثابت ده چه الله تعالی د ټولو څيزونو علم چاته هم نه دي ورکړې نو د صوفياؤ وغيره د کتابونو (چه هغه محفوظ هم نه دی او نه ئې الله تعالی د حفاظت وعده کړې) عبارتونه يا خو پکښې د ځان نه څه وردننه شوي او يا پکښې غلطي ده البته د جزئياتو خبر ورکول په وحي او کشف سره دا د رواياتو او واقعاتو نه ثابته ده کما اقره الخصم ايضاً فقط

﴿۱﴾ قال الله تعالیٰ لو کنت اعلم الغيب لا ستکثرت من الخير الآية. (پ: ۹ سورة الاعراف آيت:۱۸۸)

﴿۲﴾ وعن ابن عمر رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال مفاتيح الغيب خمس لا يعلمها الا الله ولا يعلم ما تغيض الارحام الا الله ما يعلم ما فی غدٍ الا الله ولا يعلم متی يأتی المطر الا الله ولا تدری نفس بای ارض تموت الا الله ولا يعلم متی تقوم الساعة الا الله (صحيح البخاری ص۱۰۹۷ جلد۲ کتاب الرد علی الجهميه باب قول الله عالم الغيب)

﴿۳﴾ قال ابن عابدين واما ما وقع لبعض الخواص کالانبياء والاولياء بالوحی او الالهام فهو باعلام من الله تعالیٰ فليس مما نحن فيه........... وحاصله ان دعویٰ علم الغيب معارضة لنص القرآن فيکفربها الا اذا اسند ذالک صريحا او دلالة الیٰ سبب من الله تعالیٰ کوحی او الهام وکذا لو اسنده الی امارة عادية بجعل الله تعالیٰ الخ. (رد المحتار علی الدر المختار ص۳۲۵ جلد۳ مطلب فی دعویٰ علم الغيب)

﴿۴﴾ وفی الخانية رجل تزوج امرءة بغير شهود فقال الرجل والمرأة خدائے را ويا پيغامبر مرا گواه کرديم قالوا يکون کفرا لانه اعتقد ان رسول الله ﷺ يعلم الغيب وهو ما کان يعلم الغيب حين کان فی الاحياء فکيف بعد الموت (فتاویٰ قاضيخان علی الهندية ص۵۷۶ ج۳ باب مايکون کفرا من المسلم وما لايکون.

علم غیب لغوي انبیاؤ ته د ضرورت په اندازه ورکړې شوې وو

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه پیغمبر علیه السلام ته علم غیب حاصل وو که نه؟

المستفتي: سراج احمد پیر پیائي نوشهره.

جواب د علم غیب دوه معنې دي یو علم ما فوق الاسباب ٠یعني بغیر د اسبابو نه علم لرل) او د اشرعي او اصطلاحي معنٰی ده، دویم دا چه علم په هغه څیزونو چه د حواسو او عقل نه او چت وي او دیته غیب لغوي وائی علم غیب په اولنۍ معنې سره د الله تعالی سره مختص دې ځکه چه د ممکن د ټولو کارونو ذات او صفات دالله تعالی ورکړه ده. وما لکم من نعمة فمن الله ﴿۱﴾ او دویم قسم انبیاء علیهم السلام ته ورکړې شوې خو په قدر د ضرورت نه دا چه ټول په ټوله یدل علیه القرآن والاحادیث:

قال الله تعالیٰ و لو کنت اعلم الغیب لا ستکثرت من الخیر ﴿۲﴾ وقال الخضر علیه السلام فی السفینة انی اعلم جمیع الخلق فی علم الخالق کالنقرة بالنسبة الی البحر و لفظ الحدیث مسطور فی البخاری فی قصة موسیٰ علیه السلام ﴿۳﴾ فقط

په ځنګل کښې د پیدا شوی انسان د ایمان مسئله

سوال: یو سړې په ځنګل کښې پیدا شوې او هلته لوئې شو او مړ شو، د هدایت او راهنمایۍ څه ذریعه هغه ته نه وه رسیدلې لکه چه د افریقې او چین د بعضې علاقو حالت دې نو آیا داسړې به شرعي طورسره د ایمان او اسلام مکلف دې؟

المستفتي: پروین شاهF ABERTECO HONG KONG ۱۲|۱۰|۱۹۸۲

﴿۱﴾ (پ: ۱۴ سورة النحل رکوع: ۱۲ آیت: ۵۲)

﴿۲﴾ (پ: ۹ سورة الاعراف ایت: ۱۸۸) وایضاً قال الله تعالیٰ وعنده مفاتیح الغیب لایعلمها الاهو. (پ: ۷ سورة الانعام رکوع: ۱۳ آیت: ۵۹)

﴿۳﴾ حدثنا ابی بن کعب عن النبی صلی الله علیه وسلم...... فلما رکبا فی السفینة جاء عصفور فوقع علی حرف السفینة فنقر فی البحر نقرة او نقرتین قال له الخضر یا موسیٰ مانقص علمی وعلمک من علم وعلمک من علم الله الا مثل ما نقص هذا العصفور بمنقارة من البحر الخ (صحیح البخاری ص ۳۸۲ ج ۱ باب حدیث الخضر مع موسیٰ علیه السلام)

الجواب: حضور صلی الله علیه وسلم تر قیامته پورې ټولو انسانانو طرفته رالیږلې شوې دې نود وما کنا معذبین حتی نبعث رسولا الآیة ﴿۱﴾ سره دا ځنګلې خلق دلیل او حجت نشي نیولې باقي پاتې شو ددې رسول صلی الله علیه وسلم تعلیمات رسیدل نو دغې خلقو ته دعلماؤ په ذریعې سره د تعلیماتو علم شوې دې او که دا اومنلې شي چه بعضې ته خو دا تعلیم نه دې رسیدلې نو هغوي به صرف د هغې احکاماتو مکلف ګڼرلې شي چه دهغه درسول صلی الله علیه وسلم د قائم مقام (عقل) نه هم معلوم کیدلې شي ﴿۲﴾ لکه د الله تعالی وجود وغیره، هو الموفق

د زنکدن ایمان

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د زنکدن په وخت مسلمان کافر کیدیشي اویا کافر مسلمان کیدیشي؟ تفصیل تشریح سره اوکړئ.

المستفتي: سیف الرحمان ایم، اې بي ایډ بونیر...... ۹|۱۰|۱۹۷۷

جواب د زنکدن په وخت کښې ایمان راوړل نا منظور دي (رد المحتار ص ۲۸۹ ج ۳) ﴿۳﴾ وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله یقبل توبة العبد مالم یغرغر ﴿۴﴾ او په دغه وخت کښې کفر او انکار متصور نه دې لانه یشاهد ما کان یو من به با لغیب، او ظاهراً که ترینه څه کلمات اووتل نو هغه به د سختۍ د وجهې نه معاف وي، فقط

﴿۱﴾ (پ: ۱۵ سورة بنی اسرائیل رکوع: ۲ آیت: ۱۵)

﴿۲﴾ قال العلامه ملا علی قاری والصحیح ما علیه عامة اهل العلم فان الایمان هو التصدیق مطلقا فمن اخبر بخبر فصدقة صح ان یقال آمن به وآمن له ولان الصحابة کانوا یقبلون ایمان عوام الامصار التی فتحوها من العجم تحت السیف او الموافقة بعضهم بعضا وتجویز حملهم ایاهم علی الاستدلال لا سیما فی بعض الاحوال وهذا الخلاف فیمن نشأ شا هق الجبل ولم یتفکر فی العالم ولا فی الصانع عزوجل اصلاً فامامن نشاء فی بلاد المسلمین وسبح الله تعالیٰ عند رویة صنائعة فهوخارج عن حد التقلید فقد قیل لاعرابی بم عرفت الله؟ فقال البعرة تدل علی البعیر واثار الاقدام تدل ا المسیر فهٰذا الایوان العلوی والمرکزی السفلی الا یدلان علی الصانع الخبیر الخ (شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۱۴۵ ایمان المقلد جائز)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین واما ایمان الیاس فلهب اهل الحق انه لا ینفع عند الغرغرة ولا عند معاینة عذاب الاستصال لقوله تعالیٰ فلم یک ینفعهم ایمانهم لما رأو باسنا ولذا اجمعوا علی کفر فرعون الخ. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۳۱۷ ج ۳ مطلب توبة الیاس وایمان الیاس)

﴿۴﴾ وعن ابن عمر قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله یقبل توبه العبد مالم یغر غر رواه الترمذی وابن ماجه. (مشکواة المصابیح ص ۲۰۴ ج ۱ باب الاستغفار والتوبة الفصل الثانی)

د المهند علي المفند مسائل

سوال: الحمد لوليه والصلاة على نبيه اما بعد فانا اصدق واشهد ان المسائل التى اشتمل عليها المهند على المفند هى المسائل الصحيحة والعقائد الحقة التى اجمعت عليها الامة المسلمة فى القرون السابقة واتفقت عليها العلماء الديوبندية وجميع اهل السنة والجماعة والذى ينكر هذه المسائل ويخالفها لا سيما مسئلة حيوٰة النبى ﷺ فهو مبتدع وخارج عن مسلک الديوبندية وعن مذهب اهل السنة والجماعة والاقتداء به ليس بصحيح اعاذنا الله منه وسائر المسلمين كافة وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين (محمد رمضان عفى عنه)

يا معشر العلماء والفضلاء للعلوم الدينية ما قولكم فى ما قال الشيخ محمد رمضان نعمانى فى حق المهند على المفند هل هو صحيح وموافق للكتاب والسنة النبوية و اسلاف العلماء الديوبندية والذى قال الفاضل المحقق النعمانى فى مسئلة حياة النبى ﷺ هل هو ايضا صحيح ام لا ؟

المستفتي:قاري غلام قادراحمد پور شرقيه
ضلع بهاولپور ۲۹جمادي الثاني ۱۴۰۴

جواب: المسائل التى اشتمل على المهند هى المسائل الصحيحة لكن من اعتقد ان النبى ﷺ حى فى قبره بالحياة الجسمانية والروحانية فلا نخرجه من زمرة اهل السنة والجماعة باختلافه فيما هو من النظريات وان كان الحق هو مالم يقل به من الحياة الدنيوية بعد الموت الموعود. وهو الموفق

د شرک نه بچکیدو د پاره په عوامو باندې د عقیدو پیژندل فرض عین دي

سوال: شرک هغه گناه ده چه رب کریم هغه نه بخښي اوس که څمونږ بې تعلیمه خلقو نه هم شرک اوشی نو د هغې به څه حکم وي حال دا چه مونږ د زړه نه مسلمانان یو؟ بینوا توجروا

المستفتي:بابر حسین العین ابو ظهبي یو، اې، اي،......۱۴۰۱ه۲۱۷۱

جواب په عوامو باندې دعقیدو پیژندل فرض عین دي (۱) چه د کفر او شرک نه بچ شي په عقیدو کښې دجاهل اوغیرجاهل حکم یوشان دي (۲) وهو الموفق

[حاشیه په راروانه صفحه....

د شاه اسماعیل شهید د کتاب (صراط مستقیم) د عبارت تاویل

سوال: محترم حضرت مفتی صاحب! د شاه اسماعیل شهید رحمه الله کتاب (صراط مستقیم) په صفحه نمبر ۳۶ باندې دا الفاظ درج دي (۱) د حضرت عمر رضی الله عنه نه نقل دي چه په مانځه کښې به ئې د لښکر د سامان سوچ کولو نو په دې قصه باندې مغروررره کیدل (د هوکه کښې پریوتل) نه دي پکار چه خپل مونځونو نه تباه کړی. (۲) د زنا د وسوسې نه په مونځ کښې دخپلې ښځې کوروالي طرفته خیال بوتلل غوره دي. او شیخ یا نورو داسې بزرگانو طرفته یا جناب رسالت مآب ﷺ وي خپل همت لګول د خپل غوائي او خر په صورت کښې دمشغولیدلو نه لوئې دي. وضاحت اوکړئ؟

المستفتي: نذیر میډیکل هال بغداده مردان........ ۳۰ شعبان ۱۳۹۹ه

الجواب: محتر م په داسې ژورو او باریکو مسئلو باندې د اهل الله نه علاوه د نورو خلقو پوهیدل ډیر گران دي اوداسې مسئلې د درمیانه خلقو دپاره د متشابهاتو نه کمې نه دي او خواص خلق چه په هغوي باندې د توحید او غیرت غلبه وي هغوي ددې د مُراد نه بې خبره نه دي. (۲) وهوالموفق

(حاشیه د تیرمخ) (۱) قال الملا على قارى (ومايصح الاعتقاد عليه يجب) اى يفرض فرضا عينيا بعدما يحصل علما يقينيا (شرح فقه الاكبر ص ١١ لملا على قارى)

وقال ابن عابدين قوله (واعلم ان تعلم العلم الخ) اى العلم الموصل الى الآخرة والاعم منه قال العلامى فى فصوله من فرائض الاسلام تعلم ما يحتاج اليه العبد فى اقامة دينه واخلاص عمله لله تعالىٰ (فرض عين) رد المحتار فى صدر درالمختار ص ٣١ ج ١ مقدمه)

(۲) قال الملا على قارى اما اذا تكلم بكلمة ولم يدر انها كلمة كفر ففى فتاوىٰ قاضيخان حكاية خلاف من غير ترجيح حيث قال قيل لا يكفر لعذره بالجهل وقيل يكفر ولا يعذر بالجهل. اقول والاظهر الاول الا اذا كان من قبيل ما يعلم من الدين بالضرورة فانه حينئذ يكفر ولا يعذر بالجهل (شرح فقه الاكبر لملا على قارى ١٦٥ مطلب يجب معرفة المكفرات لاجتنابها)

(حاشیه ددې مخ) (۱) قال ابن عابدين وللمحق ابن كمال باشا فتوىٰ قال فيها بعد ما ابدع فى مدحه وله مصنفات كثيرة منها فصوص حكمية وفتوحات مكيه (للعربى) بعض مسائلها مفهوم النص والمعنى وموافق للامر الالٰهى والشرع النبوى وبعضها خفى عن ادراک اهل الظاهر دون اهل الكشف والباطن ومن لم يطلع على المعنى المرام يجب عليه السكوت فى هذا المقام لقوله تعالىٰ ولا تقف ماليس لک به علم ان السمع والبصر والفواد كل اولئک كان عنه مسئولا (رد المحتار هامش الدر المختار ص ٣٢٢ ج٣ مطلب فى حال الشيخ اكبر ابن عربى)

په مونځ کښې د پیغمبر خیال کول او د صراط مستقیم عبارت

سوال: آیا په صراط مستقیم کښې دا عبارت موجود دې چه کوم سړې نه د مونځ وخت کښې د پیغمبر علیه السلام په خیال کښې راځي داسې دې لکه چه یو ځناور ئې په خیال کښې راوستې وي.

المستفتي: حافظ عبد الرشید بغداده مردان.....۱۸ رجب ۱۳۹۹ھ

جواب: دا عبارت په صراط مستقیم کښې پیدا نه شو البته په مونځ کښې به د الله تعالی د حضورئ تصور او خیال کوي د نور چانه، ځکه چه ددې سرایت په وجه باندې د پیغمبر علیه السلام متعلق د الوهیت د عقیدې ګمان پیدا کیږي او د نورو په باره کښې موهوم کیږي. وهو الموفق

هیڅ یونبي. ولي شهید او پیر حاضر ناظر اوعالم الغیب نه دي

سوال: کوم سړې چه د یو نبي، ولي شهید یا پیر په باره کښې دا عقیده او ساتي چه هغه د هر ځائې کښې ویني او اوری حاضر او ناظر دې. چه کله ورته آواز اوکړو نو ځمونږ آواز اوري عالم الغیب او مشکل کشا دې نو داسې عقیدې والا سړې بد عتي او مشرک دې او که صحیح عاشق رسول او د اهل سنت والجماعت نه دې. بیان ئې کړئ؟

المستفتي: قائم دین ډهوک زمان میان والي......۲۳/۷/۷۸

جواب غیر الله (یعني د الله نه سوا بل څوک) حاضرناظر منل او په ټولو غیبو څیزونو باندې خبر منل کفر او شرک دې، ﴿۱﴾ وهو الموفق

د اکابرین دیوبند مسلک د افراط او تفریط نه پاک دې

سوال: بې علمه ملیان صاحبان چه د خپلو خواهشاتو مطابق د ناجائزه رسومونو او بد عاتو تعلیم ورکوي د فاسقانو فاجرانو امامت کوي. خلقو ته د بد و کارونو نه د منع کیدو تبلیغ نه کوي دا ملیا ن د رسول الله سنتو ته نوې دین وائي، کچرته مونږ صحیح مسلک او ښایو نو په مونږ باندې دبې دینه او وهابیانو فتوې لګوي.او جاهلان خلق ځمونږ خلاف راوچتوي اګرچه مونږ صرف د دیوبند د اکابرین د مسلک پابند یو چرته د افراط تفریط

﴿۱﴾ قال الله تعالیٰ قل لا یعلم من فی السمٰوٰت والارض الغیب الا الله... الآیة.
(پ: ۲۰ سورة النحل رکوع: ۱ آیت: ۶)

قائل نه یو دا ځمونږ ایمان دې دې باره کښې مونږ ته جواب راکړئ او تسلی مو او فرمایئ؟

المستفتي: الحاج محمد رسول، محمد رحیم
بازار دره آدم خیل ضلع کوهاټ۱۹۶۹/۱/۸

الجواب: ځمونږ مسلک نه د نجدیانو پشان د افراط دې او نه د بدعتیانو پشان د تفریط دې بلکه مونږ په اعتدال باندې روان یو چه کله عوام د قران او حدیث په تعلیم او د اهل حق په رسالو کتلو کښې مشغول وي نو ددغې خلقونه به پخپله واوړي او چه کله عوام ګډو ډوي نو د جماتونو امامان به هم ګډوډ وي ځکه چه ددوي مسلک هغه دې چه خلق پرې خوشحاله وي. فقط

د قیامت علم صرف الله تعالی ته حاصل دي

سوال: آیا د قیامت د ثبوت دپاره د یوې خاص صدئ تعین شوې دې او که نه؟ بعضې جاهلان وائی چه په څوارلسمه صدئ کښې به قیامت راځی؟ بینوا توجروا

المستفتي: مثل خان خلیل تهکال پشاور......۱۷/۷/۱۳۹۰ھ

جواب د قیامت علم صرف الله تعالی ته حاصل دې دالله نه سیوا دا علم چرته یو نبي، رسول او فرشتې ته نه دې ورکړې شوې. ﴿۱﴾

د تقدیر په مسئله کښې چپ کیدل بهتر دي

سوال: چه کله الله تعالی د یو انسان په تقدیر کښې دا لیکلې، چه هغه به فلانکې وژني، نو بیا هغه انسان په دې ولې ګناه ګار کیږي او هغه ته سزا ولې ورکولې کیږي؟

المستفتي: عزیز الرحمان صوابي......۲۵فروري ۱۹۷۵ھ

الجواب: محترم جناب د سلام نه پس! خبر شه چه د بې علمه او کم علمه خلقو

﴿۱﴾ قال الله تعالیٰ یسئلونک عن الساعة ایان مرسٰها. فیم انت من ذکراها. الیٰ ربک منتهٰها.
(پ: ۳۰ سورة النّزعات رکوع: ۴ آیت: ۴۲، ۴۳، ۴۴)

دپاره په داسې نازکو مسئلو کښې پرېوتل ډېر خطر ناک دي. ستا د اطمينان دپاره دومره کافي ده چه الله تعالی د کوم کس دپاره دا ليکلي دي چه هغه به په خپل اختيار او ارادې سره دا ګناه وغيره کوي، نو هغه ته به عذاب ورکوی. او دچا دپاره چه ئې دا ليکلی دی چه هغه به غيرارادی او مجبورئ سره ګناه کوی نو هغه ته به عذاب نه ورکوی. د زيات اطمينان حاصلولو دپاره پخپله مونږ سره خبرې کولې شئ. وهو الموفق

پيغمبر ﷺ مختار کل، حاضر ناظر او عالم غيب منل

سوال: بعضې خلق وائي چه محمد ﷺ ته د هر څيز اختيار ورکړې شوې دې او په هر ځائې کښې حاضرناظر دې او عالم الغيب دې. نو چه کوم سړې داسې عقيده ساتي د هغه څه حکم دې؟

المستفتي: مصباح الله مردان...... ۲۱ جنوري ۱۹۷۵ء

الجواب: دا سړې مشرک او کافر دې:

قال الله تعالیٰ ليس لک من الامر شئ. ﴿۱﴾ وفی البزازيه من قال ان ارواح المشائخ حاضرة تعلم يکفر (مجموعة الفتاوٰی ص۳۵ جلد۱) وفی فتاوٰیٰ قاضی خان وهو ما کان يعلم الغيب حين کان فی الاحياء فکيف بعد الموت (علی هامش الهندية ص۶۲۸ جلد۳) والمسئلة من الواضحات فلا حاجة الی توضيح الواضحات. وهو الموفق

الله تعالی خالق دې او مخلوق کاسب دې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه يو سړې وائي چه والقدر خيره وشره من الله تعالی او الله پخپله محيي او مميت دې. نو قاتل دې د مقتول په بدله کښې قصاص نه کړې شي. ځکه چه دا قتل او د مقتول مرګ خو الله تعالی واقع کوي دارنګې دقاتل دپاره په قيامت کښې سزا هم نه مني. ددې مسئلې وضاحت او کړئ؟

المستفتي: زاهد حسين نور کلا تهه هاوس بټ خيله ملاکنډ ايجنسي

﴿۱﴾ (پ:۴ سورة آل عمران رکوع:۳ آيت:۱۲۸)

الجواب: په خلق او کسب کښې د زمکې او آسمان فرق دې چه د علم کلام په کتابونو کښې ليکلي شوې دي. ﴿۱﴾ بهرحال د مرګ پيدا کول او ايجاد الله تعالی کوي او کسب او د اسبابو استعمال قاتل کوي. دقانون خلاف چه څوک زنځير راکاږي حکومت هغه ته سزا ورکوي اګر چه ريل ودرولو والا حکومت پخپله دې. وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری (وجميع افعال العباد من الحرکة والسکون) ای علی ای وجه يکون من الکفر والايمان والطاعة والعصيان (کسبهم علی الحقيقة) ای لا علی طريق المجاز فی النسبة......... (والله تعالیٰ خالقها) والحاصل ان الفرق بين الکسب والخلق هو ان الکسب امر لايستقل به الکاسب والخلق امر مستقل به الخالق .... والله خلقکم وما تعملون ای وعملکم او معمولکم الخ.

(شرح الاکبر للقاری ص۴۹، ۵۰ افعال العباد کسبهم وخلق الله تعالیٰ.

وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ

وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ط

اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا ﴿٨١﴾

...

فصل

فی کلمات الکفر

...

فصل فی کلمات الکفر

ټول پیران کافران او مشرکان دي ددې الفاظو حکم

سوال: یو سړي د ډیر خلقو په مخکښې دا الفاظ اووئیل چه ټول پیران کافران او مشرکان دي حال دادې چه مجدد د الف ثاني رحمه الله په خپله رساله (مبدا و معاد کښې لیکي چه د الله جل جلاله شانه د انعاماتو او د رسول الله ﷺ د احساناتو نه وروستو د پیر او مرشد حق دي نو د داسې سړي په باره کښې څه حکم دي؟ چه هغه پخپله کافر شو که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: حاجي فقیر ګل چارسده......۱۵اکتوبر ۱۹۸۲

الجواب: کیدیشي ددې سړي دې ټولو. نه مراد استغراق عرفي وي یا رسمي پیران ئې مراد وي نو داسې بې باکه سړې کافر نه شي ګرځولې. (۱)

د پیغمبر په توهین او تکلیف خوشحالیدل کفر دي

سوال: یو سړې خپل خر پسې په غصه کښې چو که په لاس بهر راووتلو او خر مخکښې زغلیدلو نو چا او درولو چه ګوره بې زبانه څناور مه وهه هغه اووئیل که دا پیغمبر وي نو هم ئې نه پریږدم او اوئې وهلو. بیا هغه سړې پوهه کړو چه ستا د ژبې نه خطرناک الفاظ وتلي دي توبه اوکړه او چرته د عالم نه تپوس اوکړه، لیکن ترا وسه ئې د چا نه تپوس نه دې کړې نو دداسې سړي په شریعت کښې څه حکم دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: مطیع الحق لوند خوړ مردان.........۱۳صفر ۱۴۰۱ھ

الجواب: د پیغمبر په توهین او تکلیف باندې راضي کیدل کفر دي لکه څنګه چه توهین کول او تکلیف رسول کفر دي نو په دې سړي باندې ایمان تازه کول لازم دي او دې سړي له توبه کول پکار دي. (۲) وهو الموفق

---

(۱) قال الحصکفی و فی الدرر وغیرها اذا کان فی المسئلة وجوه توجب الکفر و واحد یمنعه فعلی المفتی المیل لما یمنعه. (الدرالمختار ص ۳۱۶ جلد ۳ قبیل توبة الیأس)

(۲) قال الحصکفی والکافر بسب نبی من الانبیاء ......لکن صرح فی آخر الشفاء بان حکمه کالمرتد و مفاده قبول التوبة ......و لفظ النتف من سب الرسول ﷺ فانه مرتد و حکمه حکم المرتد و یفعل به ما یفعل بالمرتد انتهی. (الدرالمختار ص ۳۱۷، ۳۱۹ جلد ۳ مطلب مهم فی حکم سباب الانبیاء)

کلمه به اوواېم خو ډیر کارونه به نه کوم دا د کفر کلمه نه ده

سوال: که یو سړې اووائی چه څه کلمه د توحید او رسالت یعني لا اله الا الله محمد رسول الله وائم لیکن بغیر د مجبورئ نه به هم په ډیرو اعمالو باندې عمل نه کوم نو داسې سړې مسلمان کیدیشي که نه؟

المستفتي: محمد نذیر پنډي ګهیپ اټک. یکم ربیع الثاني ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا یو جاهلانه او فاسقانه خبره ده په دې سره دا سړې کافر کیږي نه. لعدم انکارعن ضروریات الدین ولعدم الاستحلال والاستخفاف (۱) وهوالموفق

په محتمل خبرو د کفر شوی نشی لګیدلې

سوال: د زید د کور والاؤ خاندان خلق د زید کره راغلل چه بې ډیرې خریونکې وؤ نو د زید پلار هغوي سره ډیر د ګستاخئ خبرې اوکړې چه دا خلق ډیرې خریونکي او د شریعت مطابق نه دي. په دې باندې د زید ښځې اووئیل چه اوس زمانه بدله شوې کوم کارونه چه شل کاله مخکښې وو اوس نشته ددې نه دا پته لږي چه د زید د ښځې په نزد شرعي احکامات اوس معطل شوې دي. ډیره خرئیل بې پردې ګرزیدل وغیره کارونه ناجائز پاتې نه شو نو اوس د احکام الهی پورې خندا کول، بې ادبي. مذاق او بې قدري څنګه ده. د مجدد الف ثاني رحمه الله په مکتوب ۲۶۶ جلد اول کښې دي چه څوک حرام کار ښه اوګڼي هغه د اسلام د ډلي نه اووتلو او مرتد شو؟ بینوا توجروا

المستفتي: ایم صدیق ایف. پي. ټي کالوني لاهور

الجواب: د زید د ښځې د دواړو الفاظو دوه مطلبه کیدیشي اول دا چه شرعي احکامات ناقابل عمل ناحق او د مصلحت نه خلاف دي دویم دا چه شرعي احکام سره ددینه چه حق دي خو عمل پرې پریخودې شوې دي. (۲) نو دي

---

(۱) قال فی الهندیة و قول الرجل لا اصلی یحتمل اربعة اوجه احدها لا اصلی لانی صلیت والثانی لا اصلی بامرک فقد امرنی بها من هو خیر منک و الثالث لا اصلی فسقا مجانة فهذه الثلاثة لیست بکفر والرابع لا اصلی اذ لیس یجب علی الصلاة و لم او مر بها یکفر. و لو اطلق وقال لا اصلی لا یکفر لاحتمال هذه الوجوه. (فتاوی هندیه ص ۲۶۸ جلد ۲ مطلب موجبات الکفر منها ما یتعلق بالصلوة و الصوم)

(۲) وفی الهندیة سئل الحاکم عبدالرحمن عمن قال برسم کلوکم بحکم نی هل هو کفر قال ان کان (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

احتمال سره د کفرفتوی ورکول دهیڅ مذهب هم نه دي. قال العلامه ابن عابدین وفي التتارخانیه لا یکفر بالمحتمل لان الکفر نهایة في العقوبة فیستدعي نهایة في الجنایة ومع الاحتمال لا نهایة انتهی﴿۱﴾ (ردالمحتار صفحه ۲۸۵ جلد۳)

د الله تعالى توحيد مذاق دي، شريعت، مونځ روژه هيڅ څيزنه دي.. دا كفريه كلمات دي

سوال: که یو سړی دا عقیده وي چه توحید باري تعالی (معاذالله)یو مذاق دي او شریعت د سرمایه دارانه او جاګیردارانه نظام ملګرې دي مونځ او روژه هیڅ څیزونه نهٔ دي ځما یو مستقل دین دي د هغې په قبلولو کښې د خلقو فائده ده، نو آیا دا سړی کافر دي او که نه؟

المستفتي: مولوي رحمان الدین مسجد شا بنګل.....۹۱۱۰۱۱۹۷۸

الجواب: بشرط صدق وثبوت دا سړی مرتد او کافر دي.﴿۲﴾ اود اثر رسوخ مسلمانانو ته پکار دي که دې توبه اونه باسي نو چه ده له د مرتد والا سزا ورکړي یا دي ورله په حکومت هغه سزا ورکړي او ټول مسلمانان دې ده سره قطع تعلق اوکړي.

(بقیه حاشیه)مراده فساد الخلق و ترک الشرع واتباع الرسم لا ردالحکم لا یکفر کذا فی المحیط. (هندیه ص ۲۵۸ جلد ۲ الباب التاسع فی احکام المرتدین)

﴿۱﴾ (ردالمحتار علی الدر المختار ص ۳۱۲ جلد۳مطلب مایشک فی انه ردة لا یحکم بها)

﴿۲﴾ و فی الهندیة المرتد عرفا هو الراجع عن دین الاسلام کذا فی النهر الفائق و رکن الردة اجراء کلمة الکفر علی اللسان بعد وجود الایمان.

(هندیه ص ۲۵۳ جلد ۲ الباب التاسع فی احکام المرتدین)

قال ابن عابدین و رکنها اجراء کلمة الکفر علی اللسان هذا بالنسبة الی الظاهر الذی یحکم به الحاکم و الا فقد تکون بدونه کما لو عرض له اعتقاد باطل او نوی ان یکفر بعد حین افادة.

(ردالمحتار ص ۳۱۰ جلد ۳ باب المرتد)

و فی الهندیة سئل عن امرأة قیل لها توحید میدانی فقالت لا ان ارادت انها لا تحفظ التوحید الذی یقوله الصبیان فی المکتب لا یضرها و ان ارادت انها لا تعرف وحدانیة الله تعالی فلیست بمؤمنة ولا یصح نکاحها. (هندیه ص۲۵۷ جلد ۲ منها ما یتعلق با لایمان و الاسلام)

د مسلمان دين او مذهب ته كنځل كول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څهٔ فرمائي چه یو سړی بل مسلمان ته د دین کنځل اوکړي مثلاً ستا دین اوغیم، ستامذهب اوغیم) اودائې عادت جوړ شوې وي نو په اسلام اوکفر د دغه سړي کښې څه حکم دې؟

المستفتي: امین جان کوچی بخشی پل پشاور...۱۵۱۱۱۱۹۲۹

الجواب: کافر نه دې او خطره ئې موجوده ده لهذا توبه او استغفار دې اوکړي قال العلامه الشامي ج ۳ص۳۹۹ ثم ان مقتضي کلامهم ایضا انه لا یکفر بشتم دین مسلم اي لا یحکم بکفره.﴿۱﴾ فقط

صحابه كرامو رضي الله عنهم ته كنځل كول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه څوك حضرت علي رضي الله عنه ته سخت کنځل کوي. هغه مسلمان پاتې کیدیشي که نه؟ او که توبه اونه باسي نو د مسلمانانو ورسره څه رویه پکار ده؟

المستفتي: صلاح الدین ناظم شبان اسلام ټیکسلا اټک..۱۲۱۱۰۱۱۹۷۵

الجواب: صحابه کرامو ته کنځل کول حرام دي ددې وجې نه دا سړی باغي او فاسق دي او ګواهي ئې نه قبلیږي. (کما في ردالمحتار ص۲۹۳ ج۳ دي به لکه د باغي پشان په توبه باندې مجبور ولې شي او که توبه نه اوباسی نو کم از کم ده سره دي تعلقات ختم کړې شی.﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾(ردالمحتار ص ۳۱۲ جلد ۳ مطلب فی حکم من شتم دین مسلم) و قال ابن عابدین اقول و علی هذا ینبغی ان یکفر من شتم دین مسلم و لکن یمکن التأویل بان مراده اخلاق الردیئة ومعاملة القبیحة لا حقیقه دین الاسلام فینبغی ان لا یکفر حینئذٍ. (ایضاً)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین ذکر فی شرحه علی الملتقی ایضاًانه لو علی وجه المزاح یعزر فلو بطریق الحقارة کفر لان اهانة اهل العلم کفر علی المختار فتاوی بدیعیة لکنه یشکل بما فی الخلاصة ان سب الختنین لیس بکفر اه والمراد با لختنین عثمان و علی رضی الله تعالی عنهما. (ردالمحتار ص ۲۰۳ جلد ۳ قبیل مطلب فیما لو شتم رجلاً با لفاظ متعددة) وایضاً فی ردالمحتار وسب احد من الصحابة و بغضه لا یکون کفراً لکن یضلل...... وقال ابن ملک فی شرح المجمع و ترد شهادة من یظهر سب السلف لانه یکون ظاهر الفسق ......وقال الزیلعی او یظهر سب السلف یعنی الصالحین منهم و هم الصحابة و التابعون الخ (ردالمحتار ص ۳۲۱ جلد ۳ مطلب مهم فی سب الشیخین)

احادیثو ته د دروغو قصې وئیلو والا زندیق او ملحد دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه په احادیثو باندې اعتراض کوي او صحاح سته (د حدیثو شپږ غټ کتابونو) ته دروغ قصې وائي ته ترمذی ته ګند بلا وائی. د مشکوة په باره کښې وائی چه دا د حدیثونو کتاب نه دې او وائي چه اسلام په خپل اصلي شکل کښې د بنوامیه دوخت پورې پاتې شوې وو اوس پکښې تبدیلي راغلې د قرآن نه علاوه هیڅ هم په اصل شکل کښې نشته د حسنینو (حضرت حسن رضی الله عنه او حضرت حسین رضی الله عنه) د صحابیت هم قائل نه دې وائي چه په اسلام کښې حضرت علي رضی الله عنه دا اختلافات اچولې دي. ددې سړی څه حکم دې سزائې څه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالله نعمانی مدرسه مدنیه کریم پارک

راوی روډ لاهور ۱۵ رمضان ۱۴۱۰ھ

الجواب: بشرط صدق وثبوت دا سړې زندیق او ملحد دې دا منکر حدیث دې ده هر قسم عزت کول ددین بې عزتي او د کفر ساتنه کول او ددې زندیقانو په دور کښې به سزا څوک ورکړي خو صرف بائیکاټ (تعلقات پریخودل) ورسره هم کافي دي. ﴿۱﴾

یوکس په قرآن قسم اخستلو نودویم اووئیل زه قرآن نه منم. دریم اووئیل چه زه داسې اسلام په لته وهم چه په هغې کښې حق پوشی ضروری وی‌نوآیا داکلمات دکفردی؟

سوال: علمائې دین څه فرمائي چه زید د جمات امام دې حافظ قرآن هم دې د خپلې مورسره ئې څه اختلاف شو نومور ئې قرآن اوچت کړو قسم ئې اوخوړلو چه څه رشتني یم مګر زید اووئیل چه څه قرآن نه منم مخکښني امام عمرو او د مور سره اختلاف اوکړو او دا الفاظ چه څه قرآن نه منم په خلقو کښې مشهور کړل. خلقو عمرو ته اووئیل چه دا خپلو کښې دهغوي جهګړه ده پریږده ئې. لیکن عمرو اووئیل چه په کوم اسلام کښې حق پټول ضروری وی هغه په

﴿۱﴾ قال ابن عابدین المراد با لتکذیب عدم التصدیق الذی مرای عدم الاذعان والقبول لما علم مجیئه به صلی الله علیه وسلم ضرورة ای علما ضروریا لایتوقف علی نظر و استدلال ولیس المراد التصریح با نه کاذب فی کذا لان مجرد نسبة الکذب الیه صلی الله علیه وسلم کفر و ظاهر کلامه تخصیص الکفر بجحد الضروری فقط مع ان الشرط عندنا ثبوته علی وجه القطع وان لم یکن ضروریا بل قلیکون بما یکون استخفا فامن قول او فعل کما مر. (ردالمحتار ص ۳۱۱ جلد ۳ مطلب فی منکر الاجماع)

وفی الهندیة قال رضی الله عنه سالت صدر الاسلام جمال الدین عمن قرء حدیثا من احادیث النبی صلی الله علیه وسلم فقال رجل همه روز خلشها خواند قال ان اضاف ذلک الی القاری لا الی النبی صلی الله علیه وسلم ینظر ان کان حدیثا یتعلق با لدین واحکام الشرع یکفر وان کان حدیثا لا یتعلق به لا یکفر. (هندیه ص ۲۶۶ جلد ۲ احکام المرتدین منها ما یتعلق با لانبیاء)

لته وهم، اوس د زید او عمرو ددې الفاظو څه حکم دې آیا په دې سره کافر شول یا نه؟

المستفتي: اهالیان ډوک فیض بخش..... ۱۹۷۳\۷\۱۹

الجواب: خبره دا ده چه زید د مور په قسم باندې د اعتماد کولو نه انکار اوکړو نه داچه د قران د کلام الله کیدلو نه ئې انکار کړې دې لهذا زید حافظ صاحب کافر نه دې. البته د مور او پلار نافرماني ګناه کبیره ده. که والدین په ناجائزه ټینګ نه وي. د (لحدیث لاطاعة لمخلوق في معصیة الخالق) ﴿۱﴾ د وجې نه او عمرو د حق پټولو او خرڅولو نه بیزاري اختیار کړې دا سلام نه نه، نو دې هم کافر نه دې، دواړو طرفته د کفر فتوې ورکول غلط څیز دې ﴿۲﴾ وهو الموفق

ددیني مسئلې توهین کولو والا باندې د کفر سخته خطره ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د سود متعلق یو مسئله باندې د علمائې کرامو مهرونه او د ستخطونه هم شته چه ددې ایتونو او حدیثونو په حوالو سره ئې سود اخستل، ورکول او د هغې لیکل یو شان جرم ګرځولې، د څه خلقو په موجود ګئ کښې زید ته دا فتوې د لوستلو دپاره ورکړې شوه، نو زید فتوي او لوستله او وروستو ئې اووئیل چه څه په دې فتوې باندې متیازې کوم او فتوي پیش کولو باندې ئې په لزګی سره ګزارونه اوکړل، او کنځل وینا او سپورې ستغې ئې اووئیلې، د قرآن او حدیث په نزد ددې داسې سړي متعلق اخري فیصله اوکړئ؟

المستفتي: محمد اکرم قریشي واه کینټ.....شوال ۱۳۸۹

الجواب: په دې سړي باندې ددین د توهین د وجې نه د کفر سخته خطره ده ﴿۳﴾ که توبه ئې اونه ویستله نو سلام کلام ورسره پریخودل ضروري دي. فقط

﴿۱﴾ عن النواس بن سمعان قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق رواه فی شرح السنة. (مشکواة المصابیح ص ۳۲۱ جلد ۲ کتاب الامارة الفصل الثانی)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین و علی هذا ینبغی ان یکفر من شتم دین مسلم و لکن یمکن التأویل بان مراده اخلاق الردیئة و معاملة القبیحة لا حقیقة دین الاسلام فینبغی ان لا یکفر حینئذ. (ردالمحتار ص ۳۱۶ جلد ۳ مطلب فی حکم من شتم دین مسلم)

﴿۳﴾ قال العلامه حصکفی و فی الفتح من هزل بلفظ کفر ارتد و ان لم یعتقده للاستخفاف فهو ککفر العناد. قال ابن عابدین ثم قال و الاعتبار التعظیم المنافی للاستخفاف کفر الحنفیة با لفاظ کثیرة و افعال تصدر من المتهتکین لدلالتها علی الاستخفاف با لدین الخ. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۳۱۰ جلد ۳ باب المرتد) و فی الهندیة رجل عرض علیه خصمه فتوی الائمة فردها وقال چه با رنامه فتوی آورده قیل یکفر لانه رد حکم الشرع و کذا لو لم یقل شیئا لکن القی الفتوی علی الارض و قال این چه شرع است کفر. اذا جاء احد الخصمین الی صاحبه بفتوی الائمة فقال صاحبه لیس کما افتوا او قال لا نعمل بهذا کان علیه التعزیر. (هندیه ص ۲۷۲ جلد ۲ منها ما یعلق با لعلم و العلماء)

داسلام اومسلمانانو خلاف نازیبا الفاظ استعمالول

سوال: علمائي دين دي مسئلې باره کښې څه فرمائي چه هغه داسې الفاظ اووائي! چه ټول مسلمانان اوعلمائې کرام بناؤ تي اومصنوعي مسلمانان دي په دوی کښې څوک هم صحيح اوعملي مسلمان نشته مجلس والاؤ ورته جواب ورکړو چه مونږ مسلمانان يو کم از کم په ظاهري طور سره خو مو ږيرې او سرونه د شريعت مطابق دي او په اودس کښې يو اوس د ماسخوتن د مانځه نه او ذکار شو نو هغه جواب ورکړو او د مسخرې په طور ئې اوخندل چه اسلام او مسلماني په سر او ږيره کښې نه ده د سيکانو ږيرې د ټولو نه لوئي وي بيا په يو واده کښې امام صاحب د ډول خلاف خبرې اوکړې نو هغه اووئيل چه ملا ددوی خلاف کمکور اوچلولو .دا يو ګستاخانه او سپک لفظ دي مطلب ئې هسې سمسې وهل او چيچچې وهل دي. نو په شريعت کښې دداسې سړي څه حکم دي مسلمان پاتې کيدې شي او که نه؟

المستفتي محمد گل تاج عباسي مري راولپنډي......۲۵/۲/۱۹۲۹

الجواب: ددې سړي په خبرو کښې دتاويل احتمال شته چه يعنی د استغراق نه مراد استغراق عرفی دې حقيقی نه دې.او ږيره نه ساتلو سره مسلمان داسلام نه خارجيږي.اوچا دا وئيل چه ږيرې خو د سيکانو هم وي په هغه مونږ د کفر فتویٰ نه شو لګولې ليکن د کفر ويره پرې موجود ده.او په داسې شک والا خبرو باندې ده لره توبه پکار ده او دهغه سره تعلقات پريخودل پکار دي تر څو چه ئې توبه نه وي ويستلې (في الدرالمختار لا يفتي بكفر مسلم امكن حمل كلامه علي محمل حسن وفي الدرر وغيره اذاكان في المسئلة وجوه توجب الكفر وواحد يمنعه فعلى المفتي الميل لما يمنعه فقط.(۱)

اګرچه د پيغمبر عليه السلام حکم وي خو د ۲۹ شعبان روژه نه ماتوم ددې الفاظو حکم

سوال: علمائي دين دي مسئلې باره کښې څه فرمائي چه يو سړي وائي. اګر که د پيغمبر عليه السلام فرمان وي چه په ۲۹ شعبان روژه مه نيسئ نو که کافر هم شم خو روژه نه ماتوم، دده څه حکم دې ؟

المستفتي محمد زاهد مهتمم تعليم القرآن بكوټ شريف هزاره

الجواب: که داسړې مغلوب الحال نه وي نو ده لره پکار دي چه نکاح او ايمان

(۱) (الدرالمختار ص ۳۱۶ جلد ۳ قبيل مطلب توبة الياس مقبولة دون ايمان الياس)

تازه کړي ځکه چه په کفر باندې راضي کيدل کفر دي (۱) وهو الموفق

,,دي مُلک کښې د دهرې په لاسونو اسلامی قانون مونږ نه منو.. ددې الفاظو حکم

سوال: علمائي دين دي مسئلې باره کښې څه فرمائي چه دوه سړي بکر او عمرو عالمان دی او دريم سړې زيد دې هغه وائي چه دا دواړه کافران دي او وائي چه ددوي په لاسونو باندې چه کوم اسلامي قانون په مُلک کښې راشي هغه مونږ نه منو . او دا هم وائي چه دا دواړه به د دجال تابعدارانو کښې وي نو اوس زيد کافر دي که مسلمان؟ دده دپاره څه حکم دې؟

المستفتي محمد نور ولد محمد امين....مورخه ۲/۴/۱۹۷۲

الجواب: که دا توهين (بې عزتی) د ذاتياتو په بنياد نه وي (۲) نو دا زيد کافر دې (۳) فقط

که پيغمبر عليه السلام هم د شرکت دعوت راکړي نو بيا به هم شريک نه شم. دا جاهلانه کلام دي

سوال: که يو سړي ته په يو اجلاس کښې د شرکت دعوت ورکړې شوې وي او هغه سړې صرف د عناد د وجې نه تر دې پورې وئيلې وي. چه د پيغمبرانو راتلل بند شوې دی خو که پيغمبر هم راشي چه فلانکي مجلس کښې شريک شه نو هم به شريک نه شم عند الشرع ددې سړي څه حکم دې؟

المستفتي: نامعلوم...

(۱) وفی الهنديه و من يرضى بكفر نفسه فقد كفر ومن يرضى بكفر غيره فقد اختلف فيه المشائخ رحمهم الله تعالى فی كتاب التخير فی كلمات الكفر ...... و ان رضى بكفره ليقول فی الله ما لا يليق بصفاته يكفر و عليه الفتوى كذا فی التتار خانيه .(هنديه ص ۲۵۷ جلد ۲ الباب التاسع فی احكام المرتدين) و فی الهنلية رجل اراد ان يضرب عبده فقال له رجل لا تضربه فقال اگر محمد مصطفی گويد مزن نهلم او قال اگر از اسمان با نگ آيد كه مزن هم بزنم يلزمه الكفر .(هنديه ص ۲۶۶ جلد ۲ احكام المرتدين منها ما يتعلق با لانبياء)

(۲) قال ابن عابدين ينبغی ان يكفر من شتم دين مسلم ولكن يكمن التأويل بان مراده اخلاقه الرديئة ومعاملة القبيحة لا حقيقة دين الاسلام فينبغی ان لا يكفر حينئذٍ .(ردالمحتار ص ۳۱۶ جلد ۳ قبيل طلب توبة الياس)

(۳) و فی الهنديه و يخاف عليه الكفر اذا شتم عالماً او فقيهاً من غير سبب و يكفر بقوله لعالم ذكر الحمار فی است علمک يريد علم الدين كذا فی البحر .(هنديه ص ۲۷۰ جلد ۲ منها ما يتعلق با لعلم و العلماء)

الجواب: چونکه دعوت صرف حکم ته نشي وئيلي بلکه مشورې او خوراک څښاک دپاره راغوښتلو ته هم وائي نو په داسې جاهلانه کلام باندې د کفر یا فسق فتوې ورکول د قاعدې نه خلاف دي. ﴿۱﴾ فافهم في حديث بريرة﴿۲﴾ وهو الموفق

بتان خرڅول په رضا بالکفر کښې داخل نه دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه آیا بتان تلاش کول او بیا هغه خرڅول په دې وعید کښې داخل دي که نه؟ من رضي بکفر الغير يصير كافرا (قاضیخان) یا دا د تکذیب علامت دي که نه؟ او که څوک په دې صورت کښې د کفر فتوې ورکړي نو دا جائز ده؟

المستفتي: عطاء الله متعلم دار العلوم حقانیه...مورخه ۱۱/۲/۱۱ ۱۴۰

الجواب: بتان خرڅول نه بت پرستي ده او نه التزام د بت پرستئ دي او نه په دې سره بت پرستي لازم ده. (لزوم بین هم نه دې) خو دا رضا د کفر ګرځول غلط فهمي یا بد فهمي ده. ومثله اذا آجر بيتاً للمعاصي وغيرها﴿۳﴾ فقط

د بینډ باجې د وجې نه تلاوت بندول

سوال: څمونږ په جمات (مسجد) کښې د جمع نه مخکښې د تلاوت کیسټ لګیدلې وو په هغه کوڅه کښې واده وو کله چه د هغوی بینډ باجو واله راغلل نو د هغوی یو سړي په زوره جمات ته وردننه شو او تلاوت ئې بند کړو او ددې نه ئې په شیطانیت سره تعبیر اوکړو، نو ددې سړي متعلق شرعي حکم څه دې دا کافر شوې دي که نه؟

المستفتي: مولوي محمد سلیم جامع مسجد بلال نیشنل ټاؤن راولپنډي ۱۹۸۲/۹/۱۴

﴿۱﴾ قال الحصكفى و فى الدرر وغيرها اذا كان فى المسئلة وجوه توجب الكفر و واحد يمنعه فعلى المفتى الميل لما يمنعه. (الدرالمختار ص ۳۱۶ جلد۳ قبيل توبة اليأس)

﴿۲﴾ عن ابن عباس ان زوج بريرة كان عبداً يقال له مغيث كانى انظر اليه يطوف خلفها يبكى و دموعه تسيل على لحيته فقال النبى ﷺ لعباس يا عباس الا تعجب من حب مغيث بريرة و من بغض بريرة مغيثا فقال النبى ﷺ لو راجعتيه قالت يا رسول الله ﷺ تامرنى قال انما اشفع قالت فلا حاجة لى فيه. (صحيح البخارى ص ۷۹۵ جلد۲ باب شفاعة النبى ﷺ فى زوج بريرة)

﴿۳﴾ قال العلامه حصكفى و جاز اجارة بيت بسواد الكوفة اى قراها لا بغيرها على الاصح ...... ليتخذ بيت نار او كنيسة او بيعة او يباع فيه الخمر و قال لا ينبغى ذلک لانه اعانة على المعصية و به قالت الثلاثة زيلعى و قال ابن عابدين هذا عنده ايضاً لان الاجارة على منفعة...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

الجواب: کیدیشي دې سړي دګناه دکم والي په ارادې سره داکارکړې وي خو بیاهم دده په دې جاهلانه خبرو او کارباندې دې کافر ګڼړلې نشي. ﴿۱﴾ والله اعلم

فرشتې ته کنځل کول کفر دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه یو سړې بل ته د غُصې په حالت کښې داسې اووائي چه، عزرائيل علیه السلام د فلانکي د مور سره شپه تیره کړیده او دې د هغې نه پیدا شوې دې، اوس هغه سړې ددې خبرې اقرار هم کوي شرعاً دده څه حکم دې؟

المستفتي: سائیس محمد عباس راولپنډي.......... ۲۲ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: دا جاهلانه او کافرانه کلام دې فرشتې ته د زنا او اولاد نسبت کول کنځل دي. ﴿۲﴾ دې سړي له ضروري ده چه د الله تعالی نه معافي اوغواړي او خپله نکاح تازه کړي.فقط

د حافظانو د توهین والا حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه یو سړې دا الفاظ استعمال کړي چه حفاظ کرام ټول په ټوله کونیان دي ددې وجې نه څه په خپلو بچو باندې حفظ قرآن نه کوم چه کونیان نشي ددې سړي شرعاً څه حکم دې؟ او آیا د حفاظ کرام په دې توهین سره دا سړې کافر کیږي که نه؟

المستفتي: مولوي فتح محمد خان...... ۱۹۸۲/۷/۲۱

(بقيه حاشيه) البيت ولهذا يجب الاجر بمجرد التسليم ولا معصية فيه وانما المعصية بفعل المستأجر وهو مختار فينقطع نسبته عنه فصار كبيع الجارية ممن لا يستبرئها او ياتيها من دبر و بيع الغلام من لوطى و الدليل عليه انه لو آجره للسكنى جاز و هو لا بد له من عبادته فيه .اه (الدرالمختار مع ردالمحتار ص۲۷۷ جلد۵ كتاب الحظر و الاباحة فصل فى البيع)

﴿۱﴾ قال العلامه حصكفى لا يفتى بكفر مسلم امكن حمل كلامه على محمل حسن ...... وفى الدرر وغيرها اذا كان فى المسئلة وجوه توجب الكفر وواحد يمنعه فعلى المفتى الميل لما يمنعه. (الدرالمختار ص ۳۱۶ جلد ۳ قبيل مطلب توبة الياس)

﴿۲﴾ قال ابن عابدين هو مصرح به عندنا فقالوا اذا شتم احدا من الانبياء او الملائكة كفر وقد علمت ان الكفر بشتم الانبياء كفر ردة فكذا لملائكة فان تاب فبها و الا قتل. (ردالمحتار ص ۳۲۰ جلد ۳ قبيل مطلب مهم فى حكم سب الشيخين)

الجواب: که ددې سرې مرادتول حافظان وي نودا کفریه کلام دې ﴿۱﴾ او که د خپل علم مطابق ئې مرادوي نوداد حفظ قرآن توهین نه دې او جاهلانه کلام دې. فقط

ګډيدل او سندرې وئیل حلال ګڼل کفر دې

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه ګډيدل او سندرې وئیل حلال ګڼل دده څه حکم دې؟

المستفتي: غلام حيدر كيمل پور.

الجواب: ګډيدل او سندرې وئیل حلال ګڼونکې کافر دې. کما في شرح التنوير ومن يستحل الرقص قالوا يكفره هامش ردالمحتار ص۴۲۵ جلد۳ ﴿۲﴾ وهوالموفق

د ذاتي دشمنۍ په وجه باندې د امام او قران د توهين کولو حکم

سوال: د يو جمات امام صاحب تلاوت کولو چه يو سړي د خپلې ذاتي دشمنۍ په وجه باندې مولوي صاحب د ډيرې نه اونيولو او راښکلوئې او قرآن شريف ئې اوشلولو او پاڼې پاڼې ئې کړو، او د وهلو درز درز کښې آواز او چيدلو سره دوه کسان راغلل او خلاصې ئې اوکړو، دداسې سړې دپاره په شريعت محمدی ﷺ کښې څه حکم دې؟

المستفتي: مولوي محمد سليمان کوهاله کوه مري... ۲رجب۱۳۸۹ھ

الجواب: که په دې کار باندې خفه هم نه وي نو داسړې خو يقيني طور فاسق دې او دقرآن د توهين په وجه باندې په ده د کفر خطره موجوده ده. ﴿۳﴾ قال رسول الله ﷺ كل المسلم علي المسلم حرام دمه وماله وعرضه وقال عليه الصلوة والسلام المسلم اخوالمسلم لايظلمه ولايخذله ولايحقره انتهي ﴿۴﴾ رواه مسلم. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال ابن عابدين ثم قال و لاعتبار التعظيم المنافى للاستخفاف كفر الحنفيه با لفاظ كثيره و افعال تصدر من المتهتكين لدلالتها على الاستخفاف بالدين ..... او استقبا حها كمن استقبح من آخر جعل بعض العمامة تحت حلقه او احفاء شاربه قلت و يظهر من هذا ان ما كان دليل الاستخفاف يكفر به وان لم يقصد الاستخفاف لانه لو توقف على قصده لما احتاج الى زيادة عدم الاخلال بما مر لان قصد الاستخفاف منافٍ للتصديق. (ردالمحتار ص ۳۱۱ جلد ۳ مطلب فى منكر الاجماع) قال العلامه ابن البزاز الكردرى لان حفظ القرآن فرض كفاية و تعلم ما لا بد من الفقه فرض عين. (فتاوى بزازيه موضوع على الهنديه ص۳۷۷ جلد ۶ كتاب الاستحسان)

﴿۲﴾ (الدرالمختار ص ۳۳۷ جلد ۳ مطلب فى مستحل الرقص قبيل باب البغاة)

﴿۳﴾ قال ابن عابدين فى تحقيق الايمان امور الاخلال بها اخلال بالايمان اتفاقاً كترك السجود لصنم وقتل نبى والاستخفاف به وبالمصحف والكعبه الخ (رد المحتار ص ۳۱۰ جلد ۳ قبيل مطلب فى منكر الاجماع)

﴿۴﴾ (مشكواة المصابيح ص ۴۲۲ جلد ۲ باب الشفقة والرحمة على الخلق)

علماء ته د سيکانو پشان ښکارې او دداسې نورو الفاظو حکم

سوال: اهل سنت والجماعت دداسې سړې په باره کښې څه فرمائي چه دعلمائې دين په باره کښې د ګستاخانه خبرو نه علاوه دا هم وائي چه ددوې ماته د سيکانو پشان ښکارې ددې سړې په شريعت کښې څه حکم دې؟

المستفتي: .... نامعلوم

الجواب: که دا ګستاخې د بعضې علماؤ سره وي او د ذاتياتو په بناء باندې وي نو دا فسق دې او که دعام علماؤ په حق کښې وي نو په دې باندې د کفر ويره ده ﴿۱﴾ في شرح فقه الاكبر عن الخلاصة من ابغض عالماً بغير سبب ظاهر خيف عليه الكفر ﴿۲﴾ انتهي.

په امربالمعروف کښې دطاقت استعمالول اودعالم بې حرمتي کول

سوال: علمائي دين څه فرمائي چه عالم من حيث انه عالم ته کنځل کول څنګه دي او عالم په امر بالمعروف کښې طاقت استعمالولې شي او که نه؟ او عالم ته کنځل کولو سره کفر لازم کيږې او که نه؟

المستفتي: عبدالرحمان مال روډ پشاور... ۳۰۱۱۰۱۱۹۷۷

الجواب: که عالم ته کنځل کول د امربالمعروف او نهي المنكر د وجې نه وي او د دنيوي سبب د وجې نه وي نو د شرعی قواعدو په نظر سره دا سړې کافر شوې دې. ﴿۳﴾ عالم ته امر بالمعروف په ژبې باندې پکار دې ﴿۴﴾ ماخوذ از فتاوی هنديه و هدايه. فقط

﴿۱﴾ قال ابن نجيم و يخاف عليه الكفر اذا شتم عالماً او فقيهاً من غير سبب. (بحرالرائق ص ۱۲۳ جلد ۵ باب احكام المرتدين)

﴿۲﴾ (شرح فقه الاكبر لملا على قارى ص ۱۷۳ فصل فى العلم والعلماء)

﴿۳﴾ و فى الهندية و يخاف عليه الكفر اذا شتم عالماً او فقيهاً من غير سبب و يكفر بقوله لعالم ذكر الحمار فى است علمك يريد علم الدين. كذا فى البحر الرائق. (هنديه ص ۲۷۰ جلد ۲ منها ما يتعلق بالعلم و العلماء) و فى الخانيه رجلان بينهما خصومة فقال احدهما للاخر بيا تا بعلم رويم فقال الاخر من علم چه دانم قال ابو بكر القاضى يكفر المجيب لانه استخف بالعلم. (فتاوى خانيه موضوع على هامش الهنديه ص ۵۷۵ جلد ۳ باب ما يكون كفراً من المسلم و ما لا يكون)

﴿۴﴾ فى الهنديه ولو علم باكبر رأيه انه لو امرهم بذلك قذفوه وشتموه فتركه افضل و كذلك لو علم انهم يضربونه ولا يصبر على ذلك ويقع بينهم عداوة ويهيج منه القتال فتركه افضل ...... ويقال الامر بالمعروف باليد على الامراء وباللسان على العلماء وبالقلب لعوام الناس وهو اختيار الزندويستي كذافى الظهيرية. (هنديه ص ۳۵۳ جلد ۵ الباب السابع عشر فى الغناء .... والامر بالمعروف كتاب الكراهية)

ټول علماؤ ته فتنه باز ګرځول کفر دي

سوال: که چرته یو سړي دا وائي چه څومره علماء دي ټول فتني او فسادونه جوړوي. دداسي الفاظو استعمالونکی په باره کښي د اسلام څه حکم دي؟

المستفتي: نامعلوم.... ۱۸۱۹۱۱۹۷۷

الجواب: ټول علمائي کرام فتني والا ګرځول کفر دي﴿۱﴾

لانه یستلزم بغض العلم واستخفاف العلم لزوماً بیناً وهو کفر کما فی شرح الفقه الاکبر لملا علی القاری ص ۱۴۰ وفی الخلاصة من ابغض عالما من غیر سبب ظاهر خیف علیه الکفر قلت الظاهر انه یکفر لانه اذا ابغض العالم من غیر سبب دنیوی او اخروی فیکون بغضه لعلم الشریعة ولا شک فی کفر من انکره فضلا عمن ابغضه انتهیٰ قلت وهذا اظهر جداً عند بغض الجمیع فافهم وفیه ایضا ص ۱۴۱ من قال لعالم عویلم اولعلوی علیوی ای بصیغة التصغیر فیهما للتحقیر کما قیده بقوله قاصداً به الاستخفاف کفر انتهیٰ.﴿۲﴾

د ږیرې والا ته (سیکھ) سره آواز کول

سوال: علمائي دین دي باره کښي څه فرمائي چه یو سړی بل متشرع ږیرې والا مسلمان ته کله آواز کوي نو په سیکھ سره ورته آواز کوي او دا ږیرې والا د هغه دوست دي نو په شریت محمدي ﷺ کښي ددي څه فیصله ده؟

المستفتي: فیض محمد راولپنډی

الجواب: که دا سیکھ وغیره القابو سره راغوښتل د ږیرې د توهین په وجې باندې وي نو دا سړي کافر شو او که د خوش طبعیتئ او مشابهت په وجې وی نو فاسق دي. یدل علیه مافی ردالمحتار﴿۳﴾ص۳۹۲جلد۳ ان ما کان دلیل الاستخفاف یکفر به وان لم یقصد الاستخفاف فافهم، فقط

﴿۱﴾ وفی الهندیه یخاف علیه الکفر اذا شتم عالماً او فقیهاً من غیر سبب ویکفر بقوله لعالم ذکر الحمار فی است علمک یرید علم الدین کذا فی البحر الرائق.
(هندیه ص ۲۷۰ جلد ۲ منها ما یتعلق بالعلم و العلماء)

﴿۲﴾ (شرح فقه الاکبر لملا علی القاری ص ۱۷۳، ۱۷۴ فصل فی العلم و العلماء)

﴿۳﴾ (ردالمحتار ص ۳۱۱ جلد ۳ قبیل مطلب فی منکر الاجماع)

(په ږیرې والؤ کښي ډیر شیطانیت دي) ددي الفاظو حکم

سوال: علمائي دین دي مسئلې باره کښي څه فرمائي چه د نکاح په تقریب کښي نکاح خوان مولوي صاحب د ناوې خواته د ګواهان لیږل او غوښتل یو سړي اووئیل هغه ګواهان اولیږه چه د ستخط کولې شي اوس د ګوتې لګولو وخت نه دي نو مولوي صاحب ورته اووئیل چه اسلامي نقطه نظر مطابق به شرعي ګواهان لیږم هغه سړي اووئیل چه ږیرو والاؤ کښې ډیر شیطانیت دي د ږیرو والؤ نه دا بې ږیرې ډیر تعلیم یافته هم وي او ښه هم وي نو اوس په شریعت محمدي کښي دداسې سړي څه حکم دي؟

المستفتي: عبدالقدوس کوه مري راولپنډی

الجواب: دي سړي براه راست د ږیرې توهین نه دي کړي بلکه د بعضي ږیرې والاؤ ئي (شیطانیت په وجه باندي) توهین کړي نو ددي وجي نه دا سړي کافر نه شو﴿۱﴾ لیکن دومره معلومیږي چه دده په زړه کښي د ږیرې عزت نشته نو په دي وجه دده ایمان ته خامخا خطره شته﴿۲﴾ فقط.

د شرعي فیصلې نه انکار کول کفر دي

سوال: که په فیصله (جرګه) کښي یو سړي د شرعي فیصلې نه انکار اوکړي نو آیا دا کفر نه دي وضاحت اوکړئ؟

المستفتي: سعید الله مولوي صوابی.... ۱۴ ذي قعده ۱۳۹۲ھ

الجواب: د شرعي فیصلې نه انکار کول کفر دي البته د قاضي او فیصله کونکي د جهالت (ناپوهئ) او ظلم په وجې انکار کول کفر نه دي﴿۳﴾ کما في شرح الفقه الاکبر من قال لاخر اذهب معی الی الشرع فقال الاخر لا اذهب حتی تاتی بالبیدق ای المحضر کفر لانه عاند الشرع.﴿۴﴾ فقط.

﴿۱﴾ قال ابن عابدین ینبغی ان یکفر من شتم دین مسلم و لکن یمکن التاویل بان مراده اخلاقه الردیئة ومعا ملته القبیحة لاحقیقه دین الاسلام فینبغی ان لایکفر حینئذٍ. (ردالمحتار ص ۳۱۶ جلد ۳ قبیل مطلب توبة الیاس)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین ان ما کان دلیل الاستخفاف یکفر به وان لم یقصد الاستخفاف.
(ردالمحتار ص ۳۱۱ جلد ۳ مطلب فی منکر الاجماع)

﴿۳﴾ فی الهندیه ولو قال آن وقت که سیم ستدی شریعت وقاضی کجا بود یکفر ایضا ومن المتاخرین من قال ان عنی به قاضی البلدة لا یکفر. (هندیه ص ۲۷۲ جلد ۲ منها ما یتعلق بالعلم والعلماء)

﴿۴﴾ (شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۱۷۵ فصل فی العلم و العلماء)

چه څوک د شریعت فیصلې ته تیار نه وي دهغه حکم

سوال: ددوو کسانوخپل مینځ کښې اختلاف پیدا شو یو کس په تحریري طریقې سره هم اوپه جُمات کښې د ټولو خلقو مخې ته دا ووئیل چه په دې اختلافي مسئله کښې په شریعت فیصله اوکړه مګر هغه مخالف ئې په شریعت باندې فیصلې ته نه دې تیار نو اوس دهغه سړې د شریعت نه د تښتیدلو په نتیجه کښې څه پوزیشن پاتې شو آیا چرته د جمات امام او خطیب جوړیدلې شي یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: اهالیان مسجد اشرفیه اسلام آباد.... ۱۳ ربیع الثاني ۱۴۰۲ھ

الجواب: کوم سړې چه د شریعت فیصلې ته تیارنه وي نو هغه دددې جاهلانه او منافقانه رویې په وجه باندې دشرعی منصب (امامت او خطابت) اهل نه دې،

قال الله تبارک وتعالیٰ واذا قیل لهم تعالوا الی ما انزل الله والی الرسول قالوا حسبنا ما وجدنا علیه آباء نا (الآیة سورة مائده) ﴿۱﴾ وقال فلا وربک لا یؤمنون حتی یحکموک فیما شجر بینهم ثم لا یجدوا فی انفسهم حرجا مما قضیت ویسلموا تسلیماً. النساء ﴿۲﴾. وفی الهندیه ص ۲۹۸، ۲۹۹ جلد ۲ رجل قال لخصمه اذهب معی الی الشرع او قال بالفارسیه با من بشرع برو وقال خصمه بیاده بیارتا بروم بے جبر نروم یکفر لا نه عاند الشرع وقال بعد اسطرِ من بر سم کار کنم نه بشرع یکفر ﴿۳﴾. وفی ردالمحتار ص ۳۹۲ جلد ۳ وبالجمله فقد ضم الی التصدیق بالقلب اوبالقلب واللسان فی تحقیق ایمان امور الاخلال بها اخلال بالایمان اتفاقاً کترک السجود للصنم .... وکذا مخالفة... او... انکار ما اجمع علیه الخ ﴿۴﴾

ددې ایاتونو او عبارتونو نه معلومه شوه چه شرعي فیصلې ته نه تیاریدو والا او ددې نه علاوه رسمونو اوقانون طرفته مائل کیدو والا سړې کافر دې کله چه شریعت نا مکمله یا بې فائدې ګڼړي. وهو الموفق

﴿۱﴾ (پ: ۷ سورة مائده رکوع: ۴ آیت: ۱۰۴)
﴿۲﴾ (پ: ۵ سورة النساء رکوع: ۶ آیت: ۶۴)
﴿۳﴾ (هندیه ص ۲۷۱، ۲۷۲ منها ما یتعلق با لعلم والعلماء)
﴿۴﴾ (ردالمحتار ص ۳۱۰ جلد ۳ قبیل مطلب فی منکر الاجماع)

خدائې تعالی ته د کنځلو والا ملګرتیا کونکې هم کافران دی

سوال: زید خدائې ته کنځل اوکړل نو دهغه اوښې (د خور خاوند) هغه لره او وهلو ددینه وروستو یو بل اوښې ئې راغې هغه وهلو والا ئې اووهلو وئیل ئې چه تا زید ولې وهلې دې داسې کنځل خو خدائې ته هر څوک کوی هغه داسې الفاظ استعمال کړې وو چه الله تعالی ما وړې ساتې دهغه داسې داسې اوکړم، اوس په شریعت دهغه څه حکم دې.

المستفتي: شمس الدین ملتان شهر.... ۲۰ جولائې ۱۹۷۹

الجواب: زید او دهغه ملګرتیا کولو والا ټول کافران دې ددوې نکاحونه ختم شویدي په دوی باندې د تجدید اسلام (اسلام تازه کولو) نه پس تجدید نکاح ضروري ده. لانهم صرحوا بکفر من سب الله تعالی ﴿۱﴾ کما في شرح الفقه الاکبر ولانه اعترض علی الله تعالی لفوات الماکل کما ان الشیطان اعترض علی الله تعالی لفوات الجاه والخلافة.﴿۲﴾ فقط

خدائې او رسول ته د کنځلو کولو والا توبه اود ایمان تجدید

سوال: زید په کورنۍ کښې په جذ باتو کښې نا څا په د خدائې او رسول په باره کښې داسې نازیبا الفاظ استعمال کړل چه د هغې لیکل هم څه مناسب نه ګڼړم لیکن زید سمدستي جمات ته لاړلو دوه رکعته نفل ئې اوکړل تجدید ایمان ئې اوکړو او ډیر په ژړائې معافي اوغوښتله نو مقامي کسانو ئې د خدائې متعلق وئیلې شوو الفاظونه د توبې قبلیدو اعتماد اوکړو لیکن د رسول متعلق د توبې نه قبلیدو نه ئې انکار اوکړو او ښځه ئې ورله مطلقه اوګرځوله نو تاسو شرعي حیثیت واضح کړئ. مهرباني به وي؟

المستفتي: مولوي عبدالمتین ډاګئ مردان............ ۱۹ شوال ۱۴۰۵ھ

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری ان الرضا بکفر غیره انما یکون کفراً اذا کان یستجیزه ویستحسنه .... وقد عثرنا علی روایة ابی حنیفه رحمه الله ان الرضاء بکفر الغیر کفر من غیر تفصیل.
(شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۱۸۰ فصل فی الکفر صریحاً و کنایةً)
﴿۲﴾ وفی الهندیه: قال ابو حفص رحمه الله تعالی من نسب الله تعالی الی الجور فقد کفر و بعد اسطرٍ رجل قال یاخدای روزی بر من فراخ کن یا با زر کانی من رونده کن یا بر من جور مکن قال ابو نصر الدبوسی رحمه الله تعالی یصیر کافراً بالله کذا فی فتاوی قاضیخان.
(هندیه ص ۲۵۹، ۲۶۰ جلد ۲ منها ما یتعلق بذات الله تعالی و صفاته)

الجواب: الله تعالی یا رسول الله ﷺ ته کنځل کول کفر او ارتداد دي خود اهل تحقیق علماؤ په نزد توبه ئې قبوله ده کما في الدرالمختار ﴿۱﴾ نو بس په دې کنځلو واله باندې ضرورري دي چه توبه اوباسی او تجدید ایمان او تجدید نکاح اوکړي په دې کښې حلاله وغیره نه وي. والله اعلم

په مرتد او کافر کښې فرق اود دواړو توبه او استغفار

سوال: په مرتد او کافر کښې څه فرق دي اوکه دا دواړه رشتني زړه سره توبه او استغفار اوکړي نو آیا دا سړې په دائره اسلام (اسلامي حلقه کښې) شامل دي او مسلمان کیدیشي؟

المستفتي: روښن ګل صوابي مردان.....۱۱۱۱۱۱۹۶۹

الجواب: مرتد هغه سړي ته وئیلې شي چه د اسلام مذهب پریږدي او کافر هغه سړي دي چه د دین د ضروري خبرو نه منکر وي ﴿۲﴾ نو هر مرتد کافر وي او هر کافر مرتد نه وي او دواړو دپاره توبه او استغفار کافي دي. ﴿۳﴾ فقط

د کافر په مرګ باندې اِنَالِله وئیل

سوال: آیا د کافر د مرګ په وخت کښې انا لله وانا الیه راجعون وئیل صحیح دي که نه؟

المستفتي: یو د خدائې بنده...۱۲ ربع الثاني ۱۴۰۳ھ

الجواب: د کافر رشته دار مرګ هم مصیبت دې نو په هغې هم استرجاع (یعني انالله...) وئیل جائز دي. ﴿۴﴾:

﴿۱﴾ قال الحصكفى والكافر بسب نبى من الانبياء فانه يقتل حدا و لا تقبل توبته مطلقا و لو سب الله تعالى قبلت .... لكن صرح فى آخر الشفاء بان حكمه كالمرتد و مفاده قبول التوبة.
(الدرالمختار ص ۳۱۷، ۳۱۹ جلد ۳ مطلب مهم فى حكم ساب الانبياء)

﴿۲﴾ قال الحصكفى باب المرتد هوالراجع عن دين الاسلام وركنها اجراء الكفر على اللسان .... والكفر شرعاً تكذيبه ﷺ فى شئ مما جاء به من الدين ضرورة. (الدرالمختار ص ۳۰۹، ۳۱۱ جلد ۳ باب المرتد)

﴿۳﴾ قال الحصكفى وكل مسلم ارتد فتوبته مقبولة و بعد اسطر و مفاده قبول التوبة كما لا يخفى.
(الدرالمختار ص ۳۱۷، ۳۱۹ جلد ۳ مطلب مهم فى حكم سباب الانبياء)

﴿۴﴾ عن ام سلمة قالت قال رسول الله ﷺ اذا اصابت احدكم مصيبة فليقل انا لله و انا اليه راجعون اللهم عندك احتسب مصيبتى فاجرنى فيها و ابدل بها خيراً منها. (ابو داؤد ص ۸۹ جلد ۲ باب فى الاسترجاع)

کوم سړي چه د معراج نه انکار اوکړی نود هغه څه حکم دي؟

سوال: څه فرمائی علمائې دین دهغه سړی باره کښې چه هغه زیږې والوته منافق وائی اودهغه عقیده داده چه دحضور ﷺ معراج په خوب کښې شوې دې، حضرت عیسیٰ علیه السلام وفات شوې دې، سیرت النبی ﷺ جلسه کول د ابوجهل سنت دی حضرت اویس قرنی جاهل وو، حضور ﷺ آسمان ته د بللو څه ضرورت وو، خدائې هرځائې موجود دې، مونځ ورکونکی په غوړونو کانړۀ دی وغیره وغیره. دداسې سړی څه حکم دې؟

المستفتی: عبدالله صدر کیمل پور

الجواب: که مستفی رښتیا وی نودا سړې کافردې:

فى الهنديه ومن انكر المعراج ينظر ان انكر الاسراء من مكة الىٰ بيت المقدس فهو كافر وان انكر المعراج من بيت المقدس لايكفر ﴿۱﴾ ص ۸۸ جلد ۱ والبحر ص ۳۴۹ جلد ۱ ﴿۲﴾ فقط (یعني هندیه کښی دی چه د معراج نه منکرباره کښې په کتلې شی که هغه د اسراء من مکة الی بیت المقدس نه انکارکوی نوکافر به وی اوکه د بیت المقدس نه آسمانونو ته د تلونه انکار کوی نوکافر به نه وی.)

د دهری په عذاب قبرباندې اعتراض

سوال: دلته زمونږ په علاقه کښې یو دهری کمیونسټ لاندې قسم خرافات خوروی: (۱) چه مسلمان مرګ یوځل منی اوکه دوه ځل؟ که یوځل ئې منی نویو مرګ خوپه عالم دنیاکښې دې او ستاسو د نظرئې مطابق خوپه قبرکښې سوال اوجواب دې نودغه حیات څنګه دې، روح عود کوی که نه. حیات مکمل دې یا نه، که جواب په نفی کښې دې نوسوال کول څنګه صحیح شو. اوکه حیات مکمل دې نوبیا مرګ دوه ځل شو که بیا مرګ نشته نو ژوندې به په قبرکښې ناست وی وغیره وغیره، اودا وائی چه که مجرم مړی ته عذاب ورکړې کیږی نوپه دوه دوه نیم ګزه قبرکښې دا لوئې لوئې ګرزونه وغیره څنګه ځائې کیدې شی؟

المستفتی: حاجی غلام محمد تور ورسك بونیر سوات ۲۹ ا شوال ۱۴۰۴ھ

﴿۱﴾ هنديه ص ۸۴ جلد ۱ (الفصل الثالث فى بيان من يصلح اماماً لغيره)

﴿۲﴾ (بحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

الجواب: واضحه دي وی چه د دنیوی مرګ نه پس دعام مړو روحونه ژوندی وی اوپه اجسادو کښې یوقسم حیات ایخودې شی.﴿۱﴾ په روح یا جسم ته د ثواب یا عذاب مسئله اودغسې نورې مسئلې حل شوې او چونکه د قبرنه مراد عالم برزخ دې،اود قبر دکیفیاتو د ادراك نه بنده عاجزدې،اودا وهل او کینول وغیره تعبیرات د افهام او تفهیم دپاره دی، لهٰذا دا اجمالا منل اود تفصیل علم الله تعالٰی ته سپارل ضروری دی.فقط

د حجیت حدیث منکر کافر دې

سوال: د منکرحدیث څه حکم دې؟ وضاحت اوکړئ.

المستفتی: عبدالرحیم طوروی مردان

الجواب: د حجیت حدیث منکرکافردې.﴿۲﴾ البته یوحدیث د مسلمه اصولو لاندې پریخودل معروف اومتعامل دی اود صحابه کرامو رضی الله عنهم ثابت سنت ختمونکې او بدعت سیئه جاری کونکې مبتدع او ملحد دې.

کفریه عقائد لرونکی، دده معاون اود کتابونو ضبط کولو حکم

سوال: یوسړې اعلانیه او تحریری طورباندې لاندې عقائد لری.(۱) چه د حضور ﷺ جسمانی معراج یوه تاریخی قصئ ده،چه دا دعیسٰی علیه السلام د ژوندی پورته کولو په نمونه کښې دځانه جوړه کړې شوې ده، دحضرت جبرئیل علیه السلام هیڅ وجود نشته قرآن مجید دالله تعالی اود نبی کریم ﷺ په شریکه ژبه کښې دې چه ددې اصول او قواعد دائمی او ابدی نه دی د وحی انداز شاعرانه تخیل دې، حضور ﷺ که هرڅرته ګرځیدو نه، نو تاریخی واقعات به نه معلومیدل

﴿۱﴾ قال العلامه قاری و اعلم ان اهل الحق اتفقوا علی ان الله تعالی یخلق فی المیت نوع حیاة فی القبر قدر ما یتألم او یتلذذ ، و لکن اختلفوا فی انه اهل یعاد الروح الیه؟ والمنقول عن ابی حنیفه رحمه الله التوقف الا ان کلامه هنا یدل علی اعادة الروح اذ جواب الملکین فعل اختیاری فلا یتصور بدون الروح وقیل قد یتصور الا تری ان النائم یخرج روحه ویکون روحه متصلاً بجسده حتی یتألم فی المنام ویتنعم ؟ وقد روی عنه علیه الصلواة و السلام انه سئل کیف یوجع اللحم فی القبور ولم یکن فیه الروح فقال ﷺ کما یوجع سنک و لیس فیه الروح الخ (شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۱۰۱ ضغطة القبر وعذابه حق)

﴿۲﴾ قال الله تعالی و ما ینطق عن الهوی .ان هو الا وحی یوحی .الایة .وفی الهندیه من قرأ حدیثا من احادیث النبی ﷺ فقال رجل همه روز خلشها خواند قال ان اضاف ذلک الی القاری لا الی النبی ﷺ ینظر ان کان حدیثا یتعلق بالدین واحکام الشرع یکفر . (هندیه ص ۲۶۶ جلد۲ منها ما یتعلق بالانبیاء علیهم الصلاة والسلام)

نو قرآنی واقعات به قطعاً پوهه کښی نه راتلل،دحضور ﷺ د نوم مبارك لیکلو په وخت احترام ضروری نه دې،په انګریزئ په سوونو ځل اسم مبارك ذکر کړه خویو ځل هم (the holy) یا روستو د نوم مبارك نه (peace be upon him) لیکلو تکلیف مه کوه،د منکرین ختم نبوت دمسلمان کیدو دې سرکاری طورباندې اعلان اوکړې شی.(۲) دداسې سړی باره کښې څه حکم دې چه هغه داسې کسانوته د قومی خزانې نه ډیر مالی امداد ورکړی اود ناپاکو عقیدو د خورولو او اشاعت دپاره باقاعده یومنظم اداره جوړه کړی چه هغې سره عملی معاونت ثابت شی، او دهغه د خرافاتو یعنی مطبوعاتو ضبط کولونه مخ اړوی، دمنکرین ختم نبوت طرفداری کوی او د مرزائیت عقیدو مشهورولو دپاره د قومی بجټ نه په لکهونو روپئ ورکوی د عائلی قوانینو او خاندانی منصوبه بندئ په ذریعه فحاشی او بدو اخلاقو خورولو دپاره سامان اسباب تیاروی.(۳) د مذکوره عقائدو مشهورولو او خورولو دپاره که یو کتاب په کومه ژبه کښې شائع شوې وی نو دهغې باره کښې د کلام پاك فیصله څهٔ ده؟ په دې باره کښې فتویٰ راکړئ؟

المستفتی: رانا ظفرالله ډاکخانه الجامه ضلع ساهیوال ... ۹/۱/۱۹۶۹ء

الجواب: (۱) چونکه دا سړې د ضروریاتو ددین نه منکردې.﴿۱﴾ لهٰذا دا سړې بې شکه او بې شبهې کافردې.(۲) داسې فرد او افراد مداهن یا منافق یا زندیقان دی.(۳) داسې کتاب نه ضبط کول د کفر تابعداری ده.فقط

د ږیرې توهین کونکې کافردې

سوال: د ږیرې د توهین او بې عزتی کونکی څه حکم دې؟ اود کنځل کونکی څه حکم دې؟

المستفتی: سیدمحمد پنډ بیګوال اسلام آباد... ۲۳ اشوال ۱۴۰۱ھ

الجواب: د ږیرې توهین او بې عزتی کونکې کافردې.د انبیاؤ سنتو پورې استهزاء او سنتو لره سپك ګنړلو سره سړې کافرکیږی.

لما فی ردالمحتار ص ۳۹۲ جلد۳ اوا ستقباحها کمن اسقبح من آخر ......الی ان قال ان ما کان دلیل الاستخفاف یکفر به وان لم یقصد الاستخفاف﴿۲﴾

﴿۱﴾ قال الحصکفی والکفر شرعاً تکذیبه ﷺ فی شئی مما جاء به من الدین ضرورة . (الدرالمختار ص ۳۱۱ جلد ۳ باب المرتد)

﴿۲﴾ (ردالمحتار ص ۳۱۱ جلد ۳ مطلب فی منکر الاجماع)

﴿۳﴾ عن عبدالله بن مسعود قال قال رسول الله ﷺ سباب المسلم فسوق وقتاله کفر متفق علیه . (مشکواة المصابیح ص ۴۱۱ جلد۲ باب حفظ اللسان والغیبة و الشتم الفصل الاول)

د آذان او مؤذن د توهین حکم

سوال: یو سړی په جمات کښې آذان کولو نو یوې ښځې اووئیل چیلې چغې وهی. لهٰذا ددې دپاره شرعی حکم راکړئ؟

المستفتی: خلیل الرحمٰن هزاره

الجواب: اذان ددین د شعائرونه دې، دې پورې استهزاء کول کفردې.﴿۱﴾ او غیر شعائرو پورې استهزاء کول کفرنه دې، اوکه د آواز قباحت ئې مقصود وی نو فسق دې.﴿۲﴾

یدل علی الاول مافی ردالمحتار ص ۲۸۴ جلد۳ اواستقباحها کمن استقبح من آخر جعل بعض العمامة تحت حلقه اواحفاء شاربه﴿۳﴾اه وما الثانی فلقوله تعالیٰ لایسخر قوم من قوم الآیه.﴿۴﴾

د فقهې او اجتهاد نه د منکرحکم

سوال: د فقهې نه د منکرڅه حکم دې؟ بعضې حضرات ورته کافر او مرتد او بعضې ورته مسلمان وائی لهٰذا دده باره کښې وضاحت سره شرعی حکم واضحه کړئ چه خلق ئې په حقیقت باندې خبرشی؟

المستفتی: مرادالحق ناصر پوره پشاور.... ۱۳رجب ۱۴۰۱ھ

الجواب: د فقهې د منکرنه مراد که غیرمقلد وی نودا انکار کفرنه دې البته د اهل تقلید د امامت اهل نه دې، اوکه ددې نه مراد منکراجتهاد اوِد ائمه کرامو توهین کونکې وی نوپه ظاهر ده ته مسلمان وئیل صحیح او مناسب نه دی.﴿۵﴾

د آذان په دعا کښې ،،وارزقنا شفاعته،، نه ویونکې کافرنه دې

سوال: بعضې خلق د آذان نه روسته دعا کښې وارزقنا شفاعته،، وئیلو ته بدعت

﴿۱﴾وفی الهندیه فی التخیر موذن اذن فقال رجل این بانگ غوغا است یکفر ان قال علی وجه الانکار. (هندیه ص۲۶۹ جلد۲ منها ما یتعلق با لصلواة والصوم)

﴿۲﴾قال ابن نجیم ویکفر بالاستهزاء با لاذان لابالموذن. (بحرالرائق ص ۱۲۲ جلد۵ احکام المرتدین)

﴿۳﴾ردالمحتار ص ۳۱۱ جلد۳باب المرتد قبیل مطلب فی منکر الاجماع)

﴿۴﴾قال الله تعالی لا یسخر قوم من قوم.(پ: ۲۶ سورة الحجرات رکوع: ۱۳ آیت: ۱۱)

﴿۵﴾وفی الهندیه رجل قال قیاس ابی حنیفة رحمه الله تعالی حق نیسبت یکفر کذافی التتارخانیه. (عالمگیری ص ۲۷۱ جلد ۲موجبات الکفر منها ما یتعلق بالعلم والعلماء)

حسنه وائی، اودا وائی چه دې الفاظو لره ددعا نه کټ کونکې دحضور ﷺ د درجاتو اود شفاعت منکر کیږی لهٰذا دې سره سړې کافرکیږی آیا دا صحیح دی؟

المستفتی: فضل واحد سالارزی باجوړ..... ۲۳ رمضان ۱۴۱۰ھ

الجواب: دا جاهلانه خبره ده.﴿۱﴾ فقط

ختم قرآن باندې ملیانو ته څه ورکول او دوی ته کافر ویونکی باندی په خپله د کفر خطره ده

سوال: (۱) زمونږپه کلی کښې یو سړی قبر پوخ کړواو ختم قرآن دپاره ئې مولایان صاحبان راوستل اود ختم نه روسته ئې هغوی ته څه رقم ورکړو آیا دا اجرت اخستل جائزدی؟ (۲) ما دغه ملیانو ته اووئیل چه تاسو حرام اوخوړل دا ناجائزدی په جواب کښې راته یو مولوی صاحب اووئیل چه دا حلال دی مونږ به ئې خورو ته څه ملا خونه ئې. ماپه جواب کښې اووئیل چه حرامو ته حلال وئیل کفردې په تاسو باندې ښځې طلاق شوې آیا دا مولیان صاحبان په دې حکم کښې راغلل یا نه؟ (۳) ما دغه مولیانو صاحبانو ته اووئیل چه په تاسو پسې مونځ نه کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد یونس ختك ضلع وتحصیل مردان ساوله‌هیر ۲۶ اشوال ۱۴۰۵ھ

الجواب: (۱) په داسې قسم ختم باندې اجرت اخستل او ورکول مختلف فیه دی اوپه فتاوٰی هندیه کښې ئې جواز ته اصح وئیلی دی.

حیث ذکر فیها واختلفوا فی الاستیجار علی قراءة القرآن علی القبرمدة معلومة قال بعضهم لا یجوزوقال بعضهم یجوز وهوالمختار وکذا فی السراج الوهاج﴿۲﴾الهندیه ص ۴۶۱ جلد۴)

البته زمونږ اکابرو محرم ته ترجیح ورکړې ده.(۲) دا طعام او روپئ اولاً هدیه دی اوحلال دی اوکه ددوی اجرت اخستل ناجائز اومنلې شی نودا حرام قطعی نه دی چه ددې مستحل کافرشی.(۳) په داسې بې علمه سړی باندې په داسې فتوٰی ورکولو کښې په خپله د کافرکیدو خطره ده.(۳) په دې امام پسې مونځ صحیح دې دا سړې بدعتی نه دې البته سلفیه خلق مبتدعین دی. وهوالموفق

﴿۱﴾ ددې الفاظو دعانه کټ کولو سره هیڅ نه کیږی اونه دا الفاظ دعاکښې شاملولو سره څه قباحت لازمیږی. دا شریعت سره متصادم نه دی. اونه ددې الفاظوپه کټ کولو سره د شفاعت دمنکرفتوٰی ورکولې شی البته که څوك هسې د شفاعت نه انکار اوکړی نوهغه کافردې.

لما قال العلامه ابن نجیم ولا تجوز الصلاة خلف من ینکر شفاعة النبی ﷺ او ینکر الکرام الکاتبین او ینکر الرؤیة لانه کافر. (بحرالرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة.)(ازمرتب)

﴿۲﴾فتاوی هندیه ص ۴۴۹ جلدمطلب الاستئجار علی الطاعات)

﴿۳﴾قال ابن عابدین "تنبیه،، فی البحر والاصل من اعتقد الحرام حلالا فان کان حراما لغیره کما ل الغیر لا یکفروان کان لعینه فان کان دلیله قطعیا کفرو الا فلا. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۱۱ جلد۳ مطلب فی منکر الاجماع باب المرتد)

د بزرګانو په خبروکښې غلو کول

سوال: محترم مفتی صاحب! بعضې خلقو د بزرګانو په خبرو کښې غلو کوی او وائی چه هر که الله الله ګوید الله شود تعالی الله.، ددې څه حکم دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: رحمن الدین عفی عنه هائی سکول شیرینګل دیربالا ۲۳ | ذیقعده ۱۳۹۶ھ

الجواب: ددې سړی دا کلام جاهلانه او مشرکانه کلام دې دده دپاره ضروری ده چه ددې کلام نه واپس شی او اصرار اونه کړی اومقابل له پکاردی چه افهام او تفهیم اوکړی. وهوالموفق

یامحمد لیکل نه شرعی مطلوب دی نه ممنوع شرعی دی

سوال: یا الله سره د یا محمد لیکلو متعلق څۀ حکم دې آیا ,,یا،، حرف ندا حاضر ناظر د پاره ده چه محمد ﷺ سره لیکل ممنوع دی ددې د لیکلو وضاحت اوکړئ؟

المستفتی: هدایت خان بټ خیله ملاکنډ ایجنسی.... ۱۱ | نومبر ۱۹۷۴ء

الجواب: یا الله سره یا محمد لیکل نه شرعی مطلوب دې اونه ممنوع شرعی دی البته غیرالله حاضرناظر منل یا عالم الغیب منل کفرجلی دې اوپه دې لحاظ سره موهم الفاظونه اجتناب مطلوب شرعی دی. ﴿۱﴾ وهو الموفق

نداء لغیرالله .. یاحق چاریار..

سوال: ماقولکم اهل العلم رحمکم الله تبارک وتعالیٰ فی رجل اصابته مصیبة فاستغاث من الخلفاء الراشدین وناداهم حیث قال "یا حق چاریار" فهل تجوز هذه الاستغاثة والنداء علی عقیدة انهم من عبادالله الافضلین ویعلمهم الله تعالیٰ رجلا مصابانادیاثم ینصرونه بامداد الله تبارک وتعالیٰ ایاهم فی ازالة النوائب ودفع المصائب لان التاثیر لله العزیز الغالب وما هؤلاء اولو االکراماة الا کامل الا وسائل المواهب حل المتاعب وسائر

﴿۱﴾ شیخ محمدفرید مفتی اعظم پاکستان فرمائی: غیرالله ته غائبانه ندا کول په پنځه قسمه دی: (۱) چه نبی وغیره ته کشف اوشی اونداء اوکړی دا جائزدی. (۲) دې عقیدې سره چه فرشتې ئې هغوی ته رسوی صرف په صلاة سلام کښې جائزدې. (۳) اوپه دې خیال چه ممکن ده چه الله تعالی ئې هغوی ته اورسوی دا موهم د شرک دې. (۴) دعشق اومحبت په وجه دحاضر اومخاطب په شان دا نه شرک دې اونه موهم د شرک، بلکه معمول اومعروف دې. (۵) دعلم غیب اوعلم کلی اعتقاد سره داشرك جلی دې. اود اهل شرك او اهل بدعۃ شعار نه اجتناب ضروری دې. (مقالات ص ۲۰ غیرالله ته غائبانه نداء کول) (ازمرتب)

المشاکل کما ورد الشرع بالنداء لاولی الکرامات فی الفلاة حین اصابته نائبة من النائباة عباد الله اعینونی ام لا بل انما هذا اشراک بالله وما ورد من النداء فی الصلاة امر منصوصی فی مورد خاص للرجال الاقارب بالغیب اوالملئکة فلا سبیل للقیاس فلا یتعدی غیره من حادثات الناس فلیفد ناسائر الکرام نظرهم الله العلام کما نصروا الله تعالیٰ بالرد علی الواقعین فی ورطاة البدعاة والضلالاة والاثام مستدلین بما رأو فی الاجواف للوصول الی الاهداف مؤولین لصحاح الاحادیث ونصوص مجید الکتاب بالجواب الصریح الصواب وحررر د الجواب تحت الاسطار لیکون داعیا لدعاء برکاتهم فی حیاتهم ومما تهم مرور الدهور والاعصار والسلام علیکم وعلی من لدیکم یا هؤ الاء الاحرار.

المستفتی: مولوی خلیل الله باغ کیمپ نمبر ۴

تحصیل مسلم باغ ضلع ژوب ۱۹۸۶ء | ۹ | ۷

جواب: النداء الی غیرالله اذاکان علی وجه اعتقاد انه یعلم الغیب ویقدر علی النفع و الاضرار فشرک جلی. بخلاف نداء التشهد علی اعتقاد ان الملائکة یبلغون الصلاة والسلام وبخلاف عبادالله اعینونی فانه لم یثبت عند اهل الفن وعلی تقدیر الثبوت ارید منهم الکاتبون دون الارواح ودون الجن ودون رجال الغیب فان الاخیر من الاوهام. والاولین من المحتملات لکن الاحتمال لا یدفع الشرک کما عند النکاح باشهاد الله ورسوله﴿۱﴾ فافهم. وللبسط موضع آخر. وهوالموفق

د پنج تن پاک د پنځو بتانوسره تشبیه ورکول

سوال: یو خطیب دخپل تقریر په دوران کښې د پنج تن پاک چه ددې نه مراد حضور ﷺ، حضرت علی رضی الله عنه، حضرت فاطمه رضی الله عنها، حضرت حسین رضی الله عنه او حضرت حسن رضی الله عنه دی، ددوی تشبیه ئې پنځو بتانو سره ورکړه چه دهغې نومونه ئې ګتوسره اوشمارل، چه وداً، سواعاً، یغوث، یعوق، نسراً۔ آیا دې کلماتوسره دا خطیب مرتد شوې خونه دې؟ آیا داسې سړې د امامت اهل دې؟ جواب راکړئ.

المستفتی: محمد اصغرخان صاحب..... ۱۹۷۲ء | ۹ | ۲

﴿۱﴾ رجل تزوج امرأة بشهادة الله ورسوله کان باطلاً لقوله علیه السلام لا نکاح الا بشهود وکل نکاح یکون بشهادة الله وبعضهم جعلوا ذلک کفراً لانه یعتقد ان الرسول علیه السلام یعلم الغیب وهو کفر. (فتاویٰ خانیه موضوع علی هامش الهندیه ص ۳۳۴ جلد ۱ فصل فی شرائط النکاح)

الجواب: که دي خطیب صاحب دا وئیلي وي چه شیعه ګانو دا پنج تن پاک معبودان جوړ کړي دي لکه څنګه چه د نوح علیه السلام قوم ود، سواع، یغوث، یعوق، او نسر چه صالحان وو.«رواه البخاری» اویا انبیاء وو.«رواه ابن کثیرفی تفسیره» دوی لره ئي معبودان جوړکړي وونوپه دې کښې هیڅ نفاق یا ارتداد یا بطلان دعمل نشته.﴿۱﴾ وهوالموفق

د زلیخا باره کښې د توهین الفاظ استعمالولو حکم

سوال: که څوک د زلیخا باره کښې دا الفاظ استعمال کړي چه دا زناکاره او بدکاره ښځه وه نوددغه سړي څه حکم دې آیا دې الفاظوسره دا سړې کافر کیږي نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتي: قاري بشیراحمد واپډا اکیډمي تربیله
پروجیکټ هزاره ۱۹ / رمضان ۱۴۰۲ھ

الجواب: چونکه قرآن اوحدیث کښې د امرءة العزیز باره کښې نه دا بیان شته چه دهغې نوم زلیخا وو اونه دا ذکرشته چه دا دحضرت یوسف علیه السلام په نکاح کښې راغلې وه، لهٰذا صرف د اسرائیلیاتو په وجه داسې بې دینه او فاحش سړی ته مونږ داسلام نه خارج نه شو وئیلې.﴿۲﴾ خصوصاً کله چه د غلبهٔ حال په وجه د حلت اوحرمت نه ذهن خالي شوې وي.وهوالموفق

په یوغیرنبی باندې د نبی یا رسول وغیره اطلاق کول

سوال: لفظ نبی غیرنبی دپاره استعمالول شرعاً څنګه دي او ظل نبوت، بروزی نبوت، غیر تشریعی نبوت، مجازی نبوت وغیره اصطلاحات دغیر دپاره استعمالول څنګه دي؟

المستفتي: صوفي انورخالد جهنګ.....رمضان المبارک ۱۴۰۵ھ

الجواب: دا اطلاقات ناجائزدي البته د رسالت او رسول باره کښې توسع راغلې ده لیکن د فتنې بندولودپاره سختي ضروري ده.﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامه حصكفى واعلم انه لا يفتى بكفر مسلم امكن حمل كلامه على محمل حسن.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص۳۱۶ جلد ۳ قبيل مطلب توبةالياس باب المرتد)
﴿۲﴾قال العلامه حصكفى واعلم انه لا يفتى بكفر مسلم امكن حمل كلامه على محمل حسن او كان فى كفره خلاف و
لو كان ذلک رواية ضعيفة.(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۳۱۶ جلد ۳ قبيل مطلب توبةالياس باب المرتد)
﴿۳﴾قال العلامه سيد احمد الطحطاوى فى هذا لمقام ان تقول امنت بالله و بجميع ما جاء من عند الله على ما اراده الله
تعالى به و بجميع الانبياء والرسل حتى لا يعتقد نبيه من ليس نبيا او عكسه.(الطحطاوى على المراقى ص۶ خطبه)

د یوعالم باره کښې دا وئیل چه .. شیطان هم عالم وو..

سوال: علمائي دین څه فرمائی دهغه سړي باره کښې چه هغه د یوعالم باره کښې دا اووائی چه شیطان هم عالم وو هغه هم علم کړې وو.آیا دا وئیل درست دي؟ دویمه داچه آیا شیطان د فرشتو استاذ وو؟ وضاحت اوکړئ.

المستفتي: قاضي حبیب السلام پیرسباق نوشهره...۴ ذیقعده ۱۴۰۵ھ

الجواب: شیطان عارف وو، عابد وو، طاؤس الملائکه وو لیکن د فرشتو استاذ نه وو﴿۱﴾ په معتبروکتابونو کښې دا نشته.پس کوم عالم یا عارف چه بې عمله وي. متکبره وي. دهغه باره کښې دا نسبت کول د اعتراض قابل نه دي ګینې قابل د اعتراض به وي.وهوالموفق

د مهدیت دعوٰی کونکی سړي حکم

سوال: د آرائین قوم یوسړي نن صبا د امام مهدی کیدو دعوٰی کړې ده.نبه په ښکاره اعلان کوي او زما مخامخ ئي هم دا دعوٰی کړې.ده دداسې سړي په شریعت محمدی صلی الله علیه وسلم کښې څه حکم دي؟

المستفتي: مولوي تاج محمود ضلع مظفرګړھ لیه کروړ...۱۹۷۲ء/۷/۳۰

الجواب: د صحیح احادیثونه ثابته ده چه د امام مهدی نوم به محمد وي اود پلار نوم به ئي عبدالله وي او سیدآل رسول به وي او بادشاه به وي.(هذه الروایات فی الترمذی وابی داؤد)﴿۱﴾ اوشاید چه په دې سړي کښې ددې علاماتو نه یوهم موجود نه وي.لهٰذا دداسې پاګل سړي نه ځان ساتل پکاردي کله چه فتنې پورې خبره نه وي رسیدلې.وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامه عمادالدين ابن كثير كان من اشدهم اى اشد الملائكة اجتهادًا و اكثرهم علماً،كان من اشراف الملائكة من ذوالاجنحة الاربعة كان من اشرف الملائكة و اكرمهم قبيلةً و كان خازنا على الجنان كان له سلطان السماء الدنيا و كان له سلطان الارض وكان يسوس ما بين السماء والارض فعصى فمسخه الله شيطانًا رجيما كان ابليس رئيس ملائكة سماء الدنيا.(تفسير ابن كثير ص۷۵ جلد ۱ سجود الملائكة لادم)
﴿۲﴾ عن عبدالله قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا تذهب الدنيا حتى يملک العرب رجل من اهل بيتى يواطئى اسمه اسمى .(جامع الترمذى ص۴۶ جلد ۲ باب ما جاء فى المهدى ابواب الفتن)عن عبدالله عن النبى صلى الله عليه وسلم قال لولم يبق من الدنيا الا يوم قال زائدة لطوّل الله ذالک اليوم حتى يبعث رجلا منى او من اهل بيتى يواطئى اسمه اسمى و اسم ابيه اسم ابى زاد فى حديث فطر يملأ الارض قسطًا و عدلاً كما ملئت ظلماً وجورًا وقال فى حديث سفيان لا تذهب اولا تنقضى الدنيا حتى يملک العرب رجل من اهل بيتى يواطئى اسمه اسمى قال ابو داؤد لفظ عمر و ابى بكر بمعنى سفيان.(سنن ابى داؤد ص ۲۳۹ جلد ۲ باب فى ذكر المهدى كتاب الفتن)

پیغمبران بیایند هم (شفاعت) تسلیم نه کنم.. ددې کلماتو حکم

سوال: چه فرمائند علماء دین دریں مسئله که سه چار نفر سفید ریش ویک عالم بطور جرگه پیش شخصے از جانب آخر که درمیان هر دو قدرے رنجش بود آمده بودند.برائے عذرومعذرت که اورامعاف کن مابطور جرگه نزدتو آمدیم .او در جواب گفت که شما تو شما هستید اگر پیغمبران علیهم السلام بیائند هم تسلم نه کنم (العیاذ بالله)پس ازروئے شرع شریف آن شخصے بایں لفظ بے ادبی گفتن مسلمان مانده یانه؟وا ز اسلام بیرون شده است یا نه .ویا کدام تعزیر برائے او لازم است؟بینواوتوجروا

المستفتی:عبدالله نادان شهید نوشهره پشاور .... ۱۹۶۹ء|۹|۸

جواب: عدم تسلیم مشورت وشفاعت پیغبر علیه الصلاة والسلام نه کفرست ونه گناه ست بلکه جائز است بدلیل حدیث صحیح رواه البخاری قال النبی ﷺ (بریره رضی الله عنها)لوراجعتیه فقالت یا رسول الله تامرنی قال انما اشفع قالت لا حاجة لی فیه﴿۱﴾.(بحواله مشکواة باب خیا رالامة)فقط

نوٹ: ایں حکم دروقت اراده عدم اهانت ست ورنه تجلید ایمان ونکاح بعد از توبه لازم است .

د عیسٰی علیه السلام کلمه وئیل ارتداد اود سنت رسول توهین کفردې

سوال: یو سړی د ګواهانو په مخکښې اووئیل (۱) چه زه د حضرت عیسٰی علیه السلام کلمه وائم.(۲) انبیاء علیهم السلام ټول د ګنده نطفې نه پیدا دی.(نعوذبالله) (۳) مسلمانان چه کومه ختنه (سنت) کوی دا د امریکې او برطانیې د ډاکټرانو په خیال کښې صحیح نه دی په دې وجه دا کول نه دی پکار،ځکه چه دې سره د متیازو جراثیم ځی،بیماری خوریږی،

﴿۱﴾ عن ابن عباس ان زوجَ بريرة كان عبداً يقال له مغيث كانى انظر اليه يطوف خلفها يبكے ودموعه تسيل على لحيته فقال النبى ﷺ لعباس يا عباس الا تعجب من حب مغيث بريرة و من بغض بريرة مغيثافقال النبى ﷺ لو راجعتيه قالت يا رسول الله ﷺ تأمرنى قال انما اشفع قالت فلا حاجةلى فيه. (صحيح البخارى ص ۷۹۵ جلد ۲ باب خيار الامة تحت العبد كتاب الطلاق)

او هم په دې وجه مسلمانان بیماریږی آیا دا د سنت رسول ﷺ توهین نه دې؟

المستفتی: مولوی عزیزالرحمٰن صاحب خطیب پنډی ۲۹|ذیقعده ۱۴۰۴ھ

الجواب: دا سړې مرتد او سابی دې د اصرار په صورت کښې به حکومت دهٔ ته سزائې موت ورکوی ځکه چه د عُرف عام په وجه د بل پیغمبر کلمه وئیل دهغه ددین خپلولو اعلان دې او مذهب اسلام پریخودل اود نصاراؤ مذهب اختیارول ارتداد دې،دغسې بعضې حقائق بې شکه اوبې شبهې استخفاف وی اود انبیاء علیهم السلام استخفاف کفردې،مثلاً که جج یا لوئې افسر وغیره ته څوك اووائی چه ستا پلار خپل آله تناسل ستا د مور په فلانی ځائې....﴿۱﴾ دغسې چه کله دغیرمشهورسنت تخفیف کفردې نود ختنه په شان سنت چه شعائرو ددین څنې دې دابه څنګه کفرنه وی.

کما فی العالمگیری ص۲۶۵ جلد۲ (منهاما یتعلق بالانبیاء علیهم الصلاة والسلام)ولو قال این چه رسم است سبلت بست کردن ودستار بزیر کلو اور دن (ترجمه بالعربیه:ما هذه العادة تقصیر الشارب وارخاء الطیلسان تحت الرقبة) فان قال ذلک علی سبیل الطعن فی سنة رسول الله ﷺ فقد کفر کذا فی المحیط.

سوشلسټ سړی ته ترک موالات ضروری دی

سوال: څوك چه د سوشلزم حمایت کوی نوهغه سره ترك موالات جائزدې یانه؟

المستفتی: نامعلوم

الجواب: واضحه دې وی چه سوشلزم اسلامی معیشت سره متصادم دې په دې کښې عملی طورسره توافق ناممکن دې پس څوك چه په سوشلزم باندې یقین ساتی نوهغه په حقیقت کښې د اسلامی نظام موجب ترقئ باندې یقین نه ساتی داسې سړی سره ترك مولات کول جائز بلکه عند القدرت ضروری دې.﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ فى الهنديه من لم يقر ببعض الانبياء عليهم الصلاة والسلام او لم يرض بسنةمن سنن المرسلين فقد كفر ......سئل عمن ينسب الى الانبياء الفواحش كعزمهم على الزنى و نحوه الذى يقوله الحشوية فى يوسف عليه السلام قال يكفر لانه شتم لهم واستخفاف بهم.
(هنديه ص ۲۶۳ جلد ۲ منها ما يتعلق با لانبياء عليهم الصلاة والسلام)

﴿۲﴾ عن ابى امامه قال قال رسول الله ﷺ من احب لله و ابغض لله و اعطے لله و منع لله فقد استكمل الايمان رواه ابوداؤد و الترمذى .(مشكواة المصابيح ص ۱۴ جلد ۱ كتاب الايمان)

اسلامی نظام ته د فرسوده ویلو حکم او بې دینه سړي سره سیاسی جوړتوړ

سوال: که څوك مسلمان اود عقل وهوش والا سړې اعلان اوکړی چه اسلامی نظام فرسوده دې نود اسلامی شریعت په رڼاکښې هغه باندې کوم حد لګیدلې شی؟ دغسې بې دینه سیاسی پارټی یا داسې سړی سره سیاسی تعاون او سیاسی جوړ توړ جائزدې یا نه؟

المستفتی: ډاکټرعبدالمنان ایم بی بی ایس جنرل هسپتال سمندری ۱۹۷۲ء|۱۱|۱۶

الجواب: الله تعالی اسلامی نظام لره رحمت، نعمت اوموجب دفلاح او ترقئ ګرځولې دې،لهٰذا دې ته فرسوده نظام اوموجب د تنزل وئیل کذب او استخفاف دې اودا ویونکې مرتد او واجب القتل دې اوسیاسی جوړ توړ چه هرکله حقیقی حربیانوسره جائزدې نوحکمی حربیانو سره به په طریقه اولی جائزوی.《۱》

یدل علی کونه مرتداً ما فی ردالمحتار ما کان دلیل الاستخفاف یکفر به وان لم یقصد الاستخفاف 《۲》.وهوالموفق

د روسی ایجنټ او دهری قسم خلقو حکم

سوال: زمونږ په علاقه کښې بعضې دهری قسم خلق د روس ایجنټان او تنخواه داردی،اود خلقو دګمراه کولو کوشش کوی، دوی سره بائیکاټ جائزدې یا نه؟ حالانکه مونږ ددوی د پوهه کولو کوشش هم کړې دې.

المستفتی: صوفی اسماعیل وزیرستان ..... ۱۴۰۴ء|۵|۳

الجواب: که دا خبره رښتیاوی نودې خلقوسره د روسیانو په شان سلوك، مقاتله او ترك موالات ضروری دې.

قال الله تعالیٰ ومن یتولهم منکم فانه منهم (سورة مائده)《۳》.وهوالموفق

《۱》قال ابن عابدین(قوله و مفاده جواز الاستعانة با لکافر عند الحاجة)ذکر فی الفتح ان فی سنده ضعفا وان جماعةقالوا لا یجوز لحدیث مسلم انه علیه السلام خرج الی بدر فلحقه رجل مشرک فقال ارجع فلن استعین بمشرک الحدیث وروی رجلان ثم قال وقال الشافعی رده علیه الصلاة والسلام المشرک والمشرکین کان فی غزوة بدر ثم انه علیه الصلاة والسلام استعان فی غزوة خیبر بیهود من بنی قینقاع و فی غزوة حنین بصفوان بن امیه و هو مشرک فالردان کان لاجل مخبرًا بین الاستعانة وعدمها الخ (ردالمحتار علی الدرالمختار ص ۲۵۷ جلد ۳ مطلب فی الاستعانة بمشرک)

《۲》ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۱۱ جلد ۳ قبیل مطلب فی منکر الاجماع)

《۳》(پ: ٦ سورة مائده ع : ۱۲ آیت : ۵۰)

د سوشلزم د معتقد حکم

سوال: د سوشلزم د معتقد څه حکم دې؟

المستفتی: احسان الدین مظهرشمسی خان ضلعدیرملاکنډ ډویژن

الجواب: دکوم کس په نزد چه سوشلزم موجب د ترقئ او اسلامی نظام موجب د تنزل وی فرسوده نظام وی، نودغه سړی پخپله خپل ځان داسلام نه خارج کړې دې علماء به دۀ ته څنګه مسلمان وائی.《۱》البته کوم سړی چه د قومیت د ویرې په وجه دهغه مدد کړې دې نوهغه منافق دې کافرنه دې.وهوالموفق

د سوشلزم باره کښې د ۱۱۵ علماؤ فتویٰ

سوال: په خدمت کښې دجناب شیخ الحدیث مولانا صاحب اود جناب مفتی صاحب دارالعلوم حقانیه اکوړه خټك عرض دادې چه مونږ د کراچئ په جنګ اخبارکښې د سوشلزم خلاف د یوسل پنځلس (۱۱۵) علمائې کرامو فتویٰ اوکتله،چه په هغې کښې سوشلزم اودهغوی سره مددکونکی کافرګرځولی شوی دی، دهغوی سره تعاون کول اوچنده ورکول ئې داسلام نړولو مترادف ګرځولی دی لهٰذا عرض دادې چه ددې فتوې باره کښې ستاسوصاحبانو څه رائې ده؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: محمدنذیرخان کهنه ډیر دیرملاکنډ ډویژن ۱۳۸۹ء

الجواب: سوشلزم کفردې اود کافرانو ایجادکړې دې البته که څوك سړې ددې داسې تشریح اوکړی چه اسلامی اصولوسره متصادم نه وی نوهغې ته به کفر نه شی وئیلې.《۲》فقط

《۱》قال العلامه علی قاری و کذالو قال هذا زمان الکفر لا زمان کسب الاسلام ای کفر ان اراد انه ینبغی فی هذاازمان کسب الکفر لا کسب الاسلام . بخلاف ما اذا اراد ان هذا زمان غلبة اهل الکفر و الجهل و ضعف کسب الاسلام والعلم .(شرح فقه الاکبر لملاعلی قاری ص ۱۸۱ فصل فی الکفر صریحا و کنایة)

《۲》قال ابن عابدین الکفر شئی عظیم فلا اجعل المومن کافرا متی وجدت روایة انه لا یکفر و فی الخلاصة وغیرها اذا کان فی المسٔلة وجوه توجب التکفیر ووجه واحد یمنعه فعلی المفتی ان یمیل الی الوجه الذی یمنع التکفیر تحسینا للظن با لمسلم زاد فی البزازیة الا اذا صرح بارادة موجب الکفر فلا ینفعه التاویل وفی التتارخانیه لا یکفر بالمحتمل لان الکفر نهایة فی العقوبة فیستدعی نهایة فی الجنایة و مع الاحتمال لا نهایتو الذی تحرر انه لا یفتی بکفر مسلم امکن حمل کلامه علی محمل حسن او کان فی کفره اختلاف ولو روایة ضعیفة فعلی هذا فاکثر الفاظ التکفیر المذکورة لایفتی با لتکفیر فیها ولقد الزمت نفسی ان لا افتی بشئی منها . کلام البحر با ختصار. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۱۲ جلد ۳ مطلب ما یشک فی انه ردة لا یحکم بها)

اسلامی اصولوسره غیرمتصادم مشرح سوشلزم ته به کفرنه شی وئیلي

سوال: د سوشلزم باره کښې چه ۱۱۳ علماء کرامو کومه د کفر فتویٰ ورکړې ده جناب مولانا مفتی محمود صاحب اکثرپه خپلو تقریرونو کښې فرمائی چه فتویٰ ورکونکو عالمانو کښې ۱۱۰ خومونږ عالمان هم نه منو، خو معلومیږی چه دري منی، نوبیا مونږپه کوم قول باندې عمل اوکړو اوپه کوم نه؟

المستفتی: طارق محمود مشین هسپتال ټیکسلا ... ۱۷ جون ۱۹۷۰ء

الجواب: سوشلزم د کافرانو ایجادکړې نظام دې لهٰذادا اسلام خلاف کیدل او کفر کیدل یو واضحه حقیقت دې لیکن که څوک د سوشلزم داسې تشریح اوکړی چه هغه اسلامی اصولوسره متصادم نه وی نوهغې ته به کفرنه وئیلې کیږی.﴿۱﴾ فقط

اسلام او سوشلزم متضاد نظامونه دی

سوال: څه فرمائی علمائې دین ددې مسئلې باره کښې چه د اسلام او سوشلزم په منځ کښې تضاد شته یا نه؟ که شته نود توافق څه صورت راوتلې شی او که نه؟

المستفتی: سیف الرحمٰن پشاور یونیورسټی .... ۱۹۶۹ء|۲|۹

الجواب: کوم عالمان چه بصیرت والادی دهغوی په نزد اسلام او سوشلزم کښې داسې تضاد دې﴿۲﴾ چه دهغې لرې کول عملی طورسره ناممکن دی اګرچه زبانی طورسره آسان دی.وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامه حصكفي واعلم انه لا يفتى بكفر مسلم امكن حمل كلامه على محمل حسن او كان في كفره خلاف ولو كان ذلك رواية ضعيفة كما حرره في البحر و عزاه في الاشباه الى الصغرى وفي الدرر وغيرها اذا كان في المسئلة وجوه توجب الكفر وواحد يمنعه فعلى المفتي الميل لما يمنعه ثم لونيته ذلك فمسلم و الا لم ينفعه حمل المفتي على خلافه .(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص۳۱۶ جلد ۳ باب المرتد قبيل مطلب توبة اليأس مقبوله)

﴿۲﴾ (۱) داسلام او سوشلزم د تضاد مختصرخاکه

د اشتراکیت اوسوشلزم تصور بنیادی طورباندې ماده پرستانه تصوردې ددې په مقابله کښې داسلام تصور د ماده پرستئ نه بغاوت او الهامی طریقه خپلول دی.(۲) اشتراکیت د ماده قدامت اود الله تعالی نه انکار باندې مبنی دې اواسلام د وجود باری تعالی قدامت باری تعالی او توحید باری تعالی باندې مبنی دی.(۳) اشتراکیت څه مستقل اصول یا اقدار اواخلاق نه لری بلکه داهم طبقاتی پیداواردې ددې په مقابله کښې اسلام اخلاقی نقطه نظر باندې نظرکول دی.(۴) اشتراکیت دښه اوبد پیژندلو دپاره عقل معیار جوړکړې دې اواسلام دښه او بد معلومولو دپاره شریعت معیارجوړکړې دې، ځکه چه عقل د ماحول او احوالو نه متاثرکیږی.(۵) اشتراکیت د فرد اجتماع او معاشرې داسې جزو جوړ کړو،چه ددې انفرادی حیثیت ختم شو،او اسلام انفرادی او اجتماعی دواړو فکری تبدیلئ نه اجتماعی تبدیلی جوړوی.

[بقیه حاشیه په راروانه صفحه]

سوشلزم زنده باد او شریعت مرده باد.. ددې نعرو حکم

سوال: د سوشلزم زنده باد نعرې لګونکو او علماؤ ته کنځل او بد رد وئیلو والؤ دغسې د شریعت مرده باد نعرې لګونکو څه حکم دې؟

المستفتی: ثناء الله جان کتوزئ پشاور

الجواب: چاچه شریعت مرده باد نعره وهلې وی دغسې دچا په نزدچه شریعت فرسوده او ناقابل ترقی نظام وی نوهغه بې شکه او بې شبهې داسلام نه خارج دی د شریعت توهین کفردې.﴿۱﴾ وهوالموفق

[بقیه حاشیه]....(۶) اشتراکیت په جبر اوقوت اوپه خون ریزانقلاب باندې یقین ساتی او وائی چه داجتماع تبدیلئ سره افراد پخپله بدلیږی اواسلام دانسان داصلاح دپاره ابتداء د عمل اوعقیدې صحیح کول ضروری ګڼړی.اود افرادو فکری تبدیلئ سره اجتماعی تبدیلی راولی.(۷) اشتراکیت ریاست اوقانون ته دظلم اواستحصال آله وائی حالانکه اسلام اجتماعی ژوند دپاره ریاست اوقانون ضروری ګڼړی،او دواړه د اسلام تابع کوی.(۸) په اشتراکیت کښې نه معاشرتی مساوات شته اونه معاشرتی جمهوریت،ددې په مقابله کښې اسلام دحقیقی اومعاشرتی مساوات اوحقوقو حفاظت اود فرائضو اداکولو درس ورکوی.(۹) په اشتراکیت کښې طبقاتی تصادم یواهم حقیقت دې حالانکه اسلام د مؤدت، محبت، اخوت، مساوات، عفت اوعصمت، خپل منځ کښې تعاون،اجتماعی تحفظ اود اجتماعی تکافل او تضامن درس ورکوی.چه ددې بنیاد په امربالمعروف اونهی عن المنکرباندې دې.(۱۰) اشتراکیت د پیداوار وسائل د ریاست په تحویل کښې راولی په دې کښې د جبر تصور دې. د یوې طبقې مکمل استحصال دې،اوحکمران طبقه ددې د آمریت او استحصال بدترینه نمونه وی، حالانکه اسلام د انفرادی ملکیت حق ورکوی،د آزادئ د جدوجهد اود صرف اوخرچ اجازت ورکوی، خود شریعت په حدودو کښې، چه په دې سره حقوق الله او حقوق العباد پائمال نه شی.(۱۱) اشتراکیت د اختلافی درجاتو نه انکارکوی، اوپه دې بنیاد باندې انسان د جدوجهد اوعمل هغه محرك دې چه د معاشرې د ارتقاء ذریعه وی، په دې باندې جمود او تعطل راولی، حالانکه اسلام دمعیشت حق علی السویه ټولوته ورکوی، لیکن د مدارجو د اختلاف باوجود د احتکار اواکتنازنه انکارکوی. دا یوڅو ظاهری تضادات کوم چه د احقر مطالعې نه حاصل شو،په دې باندې اکابرینو تحقیقی کتابونه لیکلی دی هغه دې مطالعه کړې شی.خلاصه داچه:

آن خدا نا نے دهد جانے دهد......این خدا نانے دهد جانے برد (ازمرتب محمدوهاب منګلوری)

﴿۱﴾ قال ابن عابدين ان ما كان دليل الاستخفاف يكفر به وان لم يقصد الاستخفاف لانه لو توقف على قصده لما احتاج الى زيادة عدم الاخلال بما مر لان قصد الاستخفاف مناف للتصديق .(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۱۱ جلد ۳ قبيل مطلب في منكر الاجماع)

د سوشلزم مددګارانو سره معاشرتی مقاطعه ضروری ده

سوال: که یو سړې په پیپل پارټئ کښې وی او دهغه عقیده داوی چه اسلام حق دین دې او د اسلامی قانون نه هم منکرنه وی لیکن د پارټئ په وجه بهتوسره وی، او سوشلزم هم ښه نه منی، نوآیا دا سړې کافردې یا مسلمان، او داسې سړی سره تعلقات ساتل څنګه دی؟ جواب راکړئ.

المستفتی: محمد رکازالدین دیر ...... ۵|۹|۱۹۷۷ء

الجواب: واضحه دې وی چه سوشلزم کافرانه او د اسلام معاشی نظام سره متصادم نظام دې، پس دا د ترقئ موجب منل او اسلام لره د زمانې دپاره ناسازګار منلو والا کافردې. ﴿۱﴾ او د کوم سړی چه دا عقیده وی او په دې پارټئ کښې داخل وی نو دا سړې د اهل باطل مددګار او د اهل حق دمخالفت په وجه منافق دې کافرنه دې، او په اهل اسلام باندې ضروری ده چه دواړه قسم خلقو سره معاشرتی بائیکاټ اوکړی. وهو الموفق

د خط اوکتابت په ذریعه د مرزائیت ثبوت

سوال: زید ډیره موده په ربوه کښې اوسیدلې دې او مرزائیانو سره ئې تعلقات جوړ کړی دی ملازمت ئې هم کړې دې او مرزایانو سره ئې په خط او کتابت کښې دا ظاهره کړې ده چه زه مرزائی یم، مثلاً ده په خپل لاس لیکلی شوی خط کښې دا وئیلی دی چه که زه مړشم نو زما قبر به په ربوه کښې وی، او د مرزایانو دطرفه ئې تصدیق هم شوې دې چه ستا د روز رکنیت فارم وصول شوې دې او د خوشحالئ اظهارئې کړې دې، او دعائې هم کړې ده چه الله تعالی دې دا علاقه احمدیت سره روښانه ساتی، اوهغه دا تاویل کوی چه په دې خطونو کښې د احمدیت نه مراد محمدیت دې نو ددې حالاتو او تاویل په لحاظ سره ددې سړی په احمدیت کښې د کیدلو څه شك باقی پاتې کیدې شی؟

المستفتی: ډاکټر عبدالجلیل کرم ایجنسی ...... ۲۰ جنوری ۱۹۷۵ء

﴿۱﴾ قال العلامه علی قاری و کذا لو قال هذا زمان الکفر لا زمان کسب الاسلام ای کفر ان اراد انه ینبغی فی هذا الزمان کسب الکفر لا کسب الاسلام . بخلاف ما اذا اراد ان هذا زمان غلبة اهل الکفر و الجهل و ضعف کسب الاسلام والعلم .

(شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۱۸۱ فصل فی الکفر صریحا و کنایة)

الجواب: که دغه سړې توبه نه وی کړې نو دهٔ ته به احمدی او مرزائی وئیلې شی البته د توبې او براءت نه پس هغه ته مرزائی وئیل به ناجائز او حرام وی. فقط

د رفع عیسٰی الی السمآء منکر کافردې

سوال: څوك چه دا وائی چه عیسٰی علیه السلام وفات شوې دې او س به دوباره دنیا ته نه راځی او د بل رفعه الله دا معنٰی کوی چه الله تعالٰی دهغه درجې اوچتې کړی دی نو ددا سې سړی امامت جائزدې؟

المستفتی: عبدالحکیم راهی راولپنډی .... ۱۵| رمضان ۱۴۰۴ھ

الجواب: دا سړې مرتد او کافردې، دهٔ پسې اقتداء کول باطل دی. ﴿۱﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامه ملاعلی قاری و خروج الدجال و یاجوج و ماجوج و طلوع الشمس من مغربها و نزول عیسیٰ علیه السلام من السماء کما قال الله تعالیٰ و انه ای عیسیٰ لعلم للساعة ای علامة القیامة و قال الله تعالیٰ و ان من اهل الکتب الا لیؤمنن به قبل موته ای قبل موت عیسیٰ علیه السلام بعد نزوله عند قیام الساعة .... حق کائن ای ثابت و امر قویم .

(شرح فقه الاکبر ص ۱۱۳ خروج الدجال و سائر اشراط الساعة حق)

بسم اللہ الرحمن الرحیم

اَلَآ اِنَّ
حِزْبَ اللّٰهِ
هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۲۲﴾ ع

....

کتاب الفرق
باب
فی الفرق الباطله

...

كتاب الفرق

باب فی الفرق الباطله

د موجوده دور عیسائیان اهل کتاب نه دی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه په جولائی ۱۹۷۹ء یوه عیسائی رساله ,,**کلام حق**,, د ګجرانوالې نه شائع شوې وه، چه په خداوند مسیح باندې دکلام د نزول مسئله د مسیحیانو په ایمان کښې شامل نه ده، مسیحی بالکل نه منی چه په هغه باندې څه انجیل یا کلام نازل شوې وو، دغسې د مسیحیانو دعوٰی بالکل دا نه ده، چه په خداوند مسیح باندې انجیل په ارامی، یونانی یا په بله ژبه کښې نازل شوې دې، دا سوال غلط دې. وکلف اې سنګهـ بحواله کلام حق جولائی ۱۹۷۹ء ص ۱۲، سوال دادې چه آیا موجوده دور عیسائیان به اهل کتاب وی یا نه؟

المستفتی: اسلامی مشن سنت نګر لاهور..... یکم جمادی الثانی ۱۴۰۲هـ

الجواب: دا عیسائیان اهل کتاب نه دی بلکه د موجوده زمانې اکثر عیسائیان اهل کتاب نه دی ځکه چه د پیغمبر علیه السلام په زمانه کښې چه دهغوی کومې غلطې عقیدې وې دا موجوده عیسائیان دهغې نه هم منحرف دی او دخپل طرف چه دوی هر کله د کتاب منکردی نو اهل کتاب څنګه کیدې شی. فقط

د ذکری فرقې خود ساخته خانه کعبه ورانول ضروری دی

سوال: غیرمسلم ذکری فرقې توهین او انکار رسالت ختم الانبیاء علیهم السلام، اود انکار صلاة خمسه نه علاوه کوه مراد باندې یوه مصنوعی کعبه او حوض کوثر جوړکړې دې ددې مصنوعی کعبې ورانول په حکومت پاکستان یا مسلمانانو باندې فرض عین دی یا فرض کفایه؟ اګرچه حکومت دا کارنه کوی وضاحت اوکړئ؟

المستفتی: عبدالرحمن دارالعلوم ټنډو اله یار حیدآباد سندهـ ۲ ارمضان المبارك ۱۴۰۵هـ

الجواب: دمسلمانانو دا پاکستانی حکومت دَمستحسن اقدام نه کوی او که اهل

اسلام ددې د ورانولو اراده اوکړی نود مسلمانانو حکومت مرتدینو او کافرانو سره کیږی، الله تعالی دې اسلامی حکومت قائم کړی، چه د کعبه یمانیه په شان دا کعبه هم ورانه کړی اویا د ورانونکو مدداوکړی.

د موجوده دور شیعه ګان کافران دی

سوال: څه فرمائی مفتیان د شرعې په دې باره کښې چه هغه کوم عقائد دی چه دهغې په وجه شیعه ګانو ته کافران وئیلې شی او آیا ټول شیعه ګان کافران دی یا دچا عقائد چه دکفروی او کوم شیعه ګان چه دتقیه په وجه باندې دکفریه عقائدو نه منکردی هغوی سره د مجالست او مناکحت وغیره څه حکم دې؟

المستفتی: مزمل حسین تحصیل وضلع خوشاب..... ۱۹۹۰ء|۱۲|۲

الجواب: چونکه د موجوده دور شیعه ګان دصدیق اکبر رضی الله عنه صحبت اود عائشې رضی الله عنها د براءة نه منکردی اود الله تعالی د بداء او په قرآن پاك کښې دکمی بیشئ او امامت په نبوت باندې کلاً یا بعضاً قائل دی لهٰذا ددوی په کافر کیدو کښې شك نشته.﴿۱﴾ او کوم خلق چه دضروریات دین نه منکرنه دی نو هغه کافرنه دی دا سې شیعه ګانو سره نکاح حرام ده. والله اعلم

اهل تشیع کافران دی که مسلمانان؟ او شیعه ښځې سره نکاح

سوال: څه فرمائی علمائې دین په دې مسئله کښې چه شیعه ګان کافران دی یا مسلمانان؟ او آیا د سنی مسلمان شیعه ښځې سره یا د شیعه سړی سنی ښځې سره نکاح جائز ده؟

المستفتی: جهان دوران کرك کوهاټ...... ۲۱ شوال ۱۴۰۲هـ

الجواب: پاکستانی شیعه ګان اکثر طور سره کافران دی ځکه چه دوی د ضروریات دین مثلاً د محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت، دصدیق اکبر رضی الله عنه دصحبت، د عائشه صدیقه رضی الله عنها د براءة نه انکاری دی او چونکه دا خلق د اسلام ددعوې باوجود ددې ضروریاتو نه منکردی لهٰذا ددې کفر په وجه دوی سره د مسلمانې ښځې نکاح ناجائز ده، البته چونکه دا خلق د اهل کتاب نه اهون دی لهٰذا

﴿۱﴾ قال ابن عابدین نعم لا شک فی تکفیر من قذف السیدة عائشه رضی الله عنها او انکر صحبة الصدیق او اعتقد الالوهیة فی علی او ان جبریل غلط فی الوحی او نحو ذلک من الکفر الصریح المخالف للقرآن. (ردالمحتار ص ۳۲۱ جلد ۳ مطلب فی حکم سب الشیخین)

شیعه ښځې سره دمسلمان نکاح ظاهراً جائزده.《۱》فلیراجع الیٰ ردالمحتار ص۳۹۸ جلد ۳ فقط

د شیعه ګانوحکم او (۷۲) فرقې

سوال: (۱) د شیعه ګانو متعلق څۀ حکم دې؟ (۲) د ۷۲ فرقونه څه مراد دې؟ بینوا توجروا　　　المستفتی: عبدالخالق امان کوټ منګوره سوات

الجواب: (۱) د کفر دارومدار د ضروریات دین نه په انکارباندې دې پس کوم شیعه ګان چه حضرت علی رضی الله عنه اله یا پیغمبر منی، یا د عائشې رضی الله عنها قاذف وی یایو امام دپاره علم کلی ثابتوی نوهغه کافران دی ګینی مبتدع او فاسق دی. 《۲》 (۲) د ۷۲ فرقو باره کښې دې واضحه وی چه دا فرقې به دا سلام په مدعی خلقو کښې جوړیږی.《۳》او جوړې شوی دی اوپه ظاهره دا عدد په مستقبل قریب کښې مراد دې، اګرچه مطلق هم درست دې ځکه چه دا فرقې د عقائدوپه اعتبارسره دی بعضې نورې په بعضې عقائدو کښې جدانه دی. فافهم وهوالموفق

فرقه اثنا عشریه او انکار د ختم نبوت

سوال: د شیعه ګانو مشهوره فرقه چه هغوی ائمه اثنا عشریه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په شان مامورمن الله، مفترض الطاعة او معصوم ګنړی او دا خپله بنیادی عقیده ګنړی او دې ته اصول ددین وائی، نوآیا ددې عقیدې په وجه جعفری اثناعشریه د ختم نبوت نه منکردی یا نه، په دې سلسله کښې د شاه ولی الله رحمه الله

《۱》 قال ابن عابدین علی انهم لیسوا بادنی حالاً من اهل الکتب بل هم مقرون با شرف الکتب الخ (ردالمحتار ص ۳۱۴ جلد ۲ فصل فی المحرکات مطلب مهم فی وطء السراری اللاتی ......)

《۲》 قال ابن عابدین و بهذا ظهر ان الرافضی ان کان ممن یعتقد الالوهیة فی علی او ان جبریل غلط فی الوحی او کان ینکر صحبة الصدیق او یقذف السیدة الصدیقه فهو کافر لمخالفة القواطع المعلومة من الدین با لضرورة بخلاف ما اذا کان یفضل علیا او یسب الصحابه فانه مبتدع لاکافر الخ (ردالمحتار ص ۳۱۴ جلد ۲ فصل فی المحرمات مطلب مهم فی وطء السراری اللاتی ......)

《۳》 عن عبدالله بن عمرو قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لیأتین علی امتی کما اتی علی بنی اسرائیل حلو النعل بالنعل حتی ان کان منهم من اتی امه علانیه لکان فی امتی من یصنع ذلک و ان بنی اسرائیل تفرقت علی ثنتین و سبعین ملة و تفترق امتی علی ثلث و سبعین ملة کلهم فی النار الا ملة واحدة قالوا من هی یا رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ماانا علیه و اصحابی رواه الترمذی و فی روایة احمد و ابی داؤد عن معاویة ثنتان و سبعون فی النار وواحدة فی الجنة وهی الجماعة وانه سیخرج فی امتی اقوام تتجاریٰ بهم تلک الا هواء کما یتجاریٰ الکلب لصاحبه لا یبقیٰ منه عرق و لا مفصل الا دخله. (مشکواة المصابیح ص ۳۰ جلد ۱ باب الاعتصام بالکتب والسنة)

المسوی شرح موطاء،،مطبوعه دهلی جلد دوم ص ۱۱۰ باندې هم نظراوساتلې شی. "من قال ان النبی صلی الله علیه وسلم خاتم النبوة ولکن معنی هذا الکلام انه لا یجوز ان یسمی بعده احد بالنبی واما معنی النبوة وهو کون الانسان مبعوثا من الله تعالیٰ الی الخلق مفترض الطاعة معصوماً من الذنوب فیما یری فهو موجود فی الا ئمه بعده فذالک هو الزندیق وقد اتفق جماهیر المتأ خرین من الحنفیة والشافعیه علی قتل من یجری هذه االمجری.

المستفتی: امیرزاده خان سواتی جامعه انوارالقرآن آدم ټاون نارتهه کراچی ۱۸ مئ ۱۹۸۳ء

الجواب: دافرقه خپل کفر اوانکاردختم نبوت په بعید تاویلاتو پټوی دا زنادقه دی. والزندیق هوهذا عنداهل التحقیق کما فی ردالمحتار ص ۴۱۰ جلد۳.《۱》

د کتاب ,,استخلاف یزید،، مصنف د شیعه طرفدار دې

سوال: څه فرمائی علمائې دین دهغه سړی باره کښې چه هغه په خپل کتاب کښې دا خبرې لیکلی دی: (۱) د خدائې رحمت ئې دستګیری اوکړله، امت د صدیق اکبر په بیعت باندې متفق شو، که بالفرض دوی باندې امت متفق شوې نه وې، اوبیعت دخلافت دپاره دوی توره اوچته کړې وې نودا به هم یقیناً ملوکیت وو. (استخلاف یزید ص ۵۳۴)

(۲) دحضرت علی رضی الله عنه باره کښې لیکی: که بالفرض داسې شوې وې یعنی شیعان د علی ددوی نافرمانی کولې، نود حضرت علی رضی الله عنه په شان کښې به هیڅ کمی نه راتله، اود قوم بدبختی او بدنصیبی به وه چه هغوی د امام برحق خلیفه راشد د اطاعت نه مخ واړولو، حضرت موسیٰ کلیم الله که د قوم د نافرمانۍ نه تنګ راتلوسره دعا غواړی چه ربی انی لا املك الا نفسی واخی" نو تاسو اووایئ چه دهغوی په نبوت کښې څه فرق راغې. (استخلاف یزید)

(۳) دحضرت معاویه رضی الله عنه باره کښې لیکی: دویم څیز چه دحضرت معاویه رضی الله عنه عهد خلافت ئې د خلافت د لارې نه اړولې دې هغه بیت المال دې،

《۱》 قال ابن عابدین الذندیق فی لسان العرب یطلق علی من ینفی الباری ...... واما فی اصطلاح الشرع فالفرق اظهر لاعتبار هم فیه ابطان الکفر والا عتراف بنبوة نبینا صلی الله علیه وسلم علی مافی شرح المقاصد لکن القید الثانی فی الزندیق الاسلامی بخلاف غیره الخ (ردالمحتار ص ۳۲۴ جلد ۳ کتاب المرتد مطلب الفرق بین الزندیق والمنافق والدهری)

دحضرت معاویه ؓ په زمانه کښې یعنی په عهد حکومت کښې بیت المال د خلفائې راشدینو په طریقه باندې نه وو. (حواله بالا ص ۲۳۴) (۴) دحضرت معاویه ؓ په حکامو کښې د اکل اموال او قتل نفس داسې ناخوښه صورتونه هم دی چه هغه عبدالرحمٰن بن عبدرب الکعبه باطل او ناحقه ګرځوی،، ص ۲۳۷. (۵) د محدثینو په دې باندې اتفاق دې چه دحضرت معاویه ؓ په فضیلت کښې د حدیثو په ټوله ذخیره کښې یو روایت هم صحیح نه دې. ص ۱۱۸. آیا داسې سړې اهل سنت کیدې شی او د اهل سنت د امامت حقدار دې؟

الجواب: دا مؤلف د شیعه ګانو طرفدار معلومیږی دهٔ د غیرمستند تاریخی روایاتو په وجه مسلمه اصول عدالت د صحابه کرامو ؓ ﴿۱﴾ نظر انداز کړې دې، او مستند حدیثی روایات ئې د اتباع هوئی په وجه خودساخته ګرځولی دی، پس داسې نیم شیعه یا شیعه پرور سړې د اهل سنت والجماعت د امامت او خطابت اهل نه دې. وهو الموفق

د شیعه ګانو مالونه پټول

سوال: دلته بعضې خلقو وئیلی دی چه د شیعه ګانو مالونه په غلا اخستل جائز دی او وائی چه مونږ دا فتویٰ د دارالعلوم حقانیه نه راخستې ده لیکن هغوی سره څه تحریری ثبوت نشته او شیعه ګان وائی چه دا ناجائز دی زمونږ او ستاسو په مینځ کښې معاهده ده مهربانی اوکړئ او د مسئلې وضاحت اوکړئ؟

المستفتی: نامعلوم

الجواب: چونکه شیعه ګان په بعضې اسلام کښې داخل دی او د بعضې اسلام نه خارج دی لیکن حربی نه دی لهٰذا ددوی مال اخستل ناجائز دی:

قال رسول الله ﷺ لا یحل مال امرءٍ مسلم الا عن طیب قلبه ﴿۲﴾ انتهیٰ۔

او د ذمی او مصالح او مستامن مال په غصب سره اخستل غدر او حرام دی. بې شکه که حربی محض وی نو په دې کښې هیڅ باك نشته. ﴿۳﴾ فقط

﴿۱﴾ قال ابن عابدین و سب احد من الصحابة وبغضه لا یکون کفراً لکن یضلل ...... و قال ابن ملک فی شرح المجمع و ترد شهادة من یظهر سب السلف لانه یکون ظاهر الفسق ...... وقال الزیلعی او یظهر سب السلف یعنی الصالحین منهم و هم الصحابة والتابعون الخ (ردالمحتار ص ۳۲۱ جلد ۳ مطلب مهم فی حکم سب الشیخین).

﴿۲﴾ (مشکواة المصابیح ص ۲۵۵ جلد ۱ باب الغصب والعاریة)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین والغصب فی دارالحرب سبب یفید الملک لانه استیلاء علی مال مباحٍ غیر معصومٍ فصار کالا دانة. (ردالمحتار ص ۲۷۱ جلد ۳ باب المستأمن)

د یو شیعه د یو څو سوالونو جوابونه

سوال: زما یو شیعه دوست زما نه یو څو سوالونه اوکړل که دهغې جوابونه راکړې شی نو مطمئن کیدو سره به شکرګذار هم یم. سوالات دادی:

(۱) دحضرت علی ؓ په موجودګئ کښې نورو صحابؤ خپل ځان څنګه خلیفه اوګڼړلو؟

(۲) په مشاورت کښې دعلی ؓ په مقابل نورو صحابؤ څنګه خپل ځآن د علی ؓ په موجودګئ کښې دخلافت اهل ګڼړلو؟ (۳) د غدیرخم په خطبه کښې نبی کریم ﷺ د حضرت علی ؓ په شان کښې دا اوفرمائیل چه دعلی ؓ ماسره داسې محبت دې څنګه چه د موسیٰ ؑ هارون ؑ سره وو، فرق صرف دادې چه زما نه پس څوك نبی نشته،، ددې باوجود علی ؓ د نورو برابر ګڼړلې کیږی. (۴) د علی ؓ په موجودګئ کښې ادنیٰ روایات ولې اخستلې شی، چه ددې په وجه دعبادت طریقه په دواړو فرقو کښې مختلف ده دلته چه کله ما د ادنیٰ او اعلیٰ تشریح او غوښته نو زمونږ دوست اووئیل چه دحدیث په معامله کښې غلام باندې ولې اعتماد کولې شی حالانکه دحضرت علی ؓ اولاد وغیره نه ولې تپوس اونه کړې شی؟

المستفتی: نصیراحمد صدیقی جده سعودی عرب ۱۹۸۵ء|۶|۳۰

الجواب: (۱) (۲) په صحابه کرامو ؓ باندې چه دچا اعتماد وی، هغوی دا سوال غلط او بې فائدې ګڼړی خصوصاً چه حضرت علی ؓ نه دانتخاب دپاره جنګیدلې وو، او نه چا اکثریت نامزد کړې وو، (۳) د غدیرخم په موقع باندې حضور ﷺ اوفرمائیل: اللهم من کنت مولاه فعلی مولاه رواه احمد. ﴿۱﴾ او لفظ د ،،مولی،، ډیرې معانې دی:

ومنها المحبوب و هو المراد ههنا دون الامامة والا لاشار الانصار الی امامته دون کون الامام منهم ولصار علی امیرا فی حیاته لعدم التقیید بما بعد الموت ولما امر رسول الله ﷺ بالکتاب حیث قال رسول الله ﷺ فانی اخاف ان یتمنی متمن ویقول قائل انا ولا ویأبی الله والمومنون الا ابا بکر (رواه مسلم) ﴿۲﴾ وحدیث الاترضی ان تکون منی بمنزلة هارون من موسی ﴿۳﴾ معناه التسلیه عند التخلف من تبوک.

﴿۱﴾ (مشکواة المصابیح ص ۵۶۴ جلد ۲ باب مناقب علی ابن ابی طالب رضی الله عنه)

﴿۲﴾ (مشکواة المصابیح ص ۵۵۵ جلد ۲ باب مناقب ابی بکر رضی الله عنه)

﴿۳﴾ مشکواة المصابیح ص ۵۶۳ جلد ۲ باب مناقب علی ابن ابی طالب رضی الله عنه)

(۴) د نورو صحابه کرامو ﷺ دلیل ادنی گرځول (۱) جهالت او الحاد دي.

نوټ: ددي سوالاتو متعلق اردو او عربئ کښې ډیر تالیفات موجود دی هغه د شیعه گانو سره مناظره کونکو نه طلب کړئ.

فرقه آغاخانیه بې شکه او بې شبهې کافر اود اسلام نه خارج دی

سوال: څه فرمائی مفتیان د شرع متین په دې مسئله کښې چه آغاخانی فرقه د آغاخان فاؤنډیشن تنظیم په نوم سره د تعمیر په نوم باندې مختلف مقاماتو کښې ډیر رقمونه خرچ کوی، چه ددې په وجه د ضعیف مسلمانانو عقائد خرابیږی اود آغاخانیت نه متاثره کیږی نو آیا مسلمانانو دپاره په دې کښې شمولیت، ملازمت او ددې نه مالی فوائد حاصلول جائزدی ددې تنظیم مقصد د مسلمانانو خلاف سیاسی او مذهبی برتری حاصلول اود آغاخانیت تبلیغ کول دی تفصیلی جواب راکړئ؟

المستفتی: قاری سعید الرحمٰن گلگت ....۱۹ اکتوبر ۱۹۸۳ء

الجواب: فرقه آغاخانیه د ضروریات دین نه د انکار په وجه بې شکه او بې شبهې کافر اود اسلام نه خارج دی. (۲) دوی سره موالات (دوستانه تعلقات) حرام منصوصی دی. لقوله تعالٰی:

لا یتخذ المؤمنون الکافرین اولیاء من دون المؤمنین ومن یفعل ذلک فلیس من الله فی شئٍ الا ان تتقوا منهم تقاة. الآیه(۳)

دې فرقو د اقلیت کیدو په وجه اود مذهبی دلائلو نه د محروم کیدو په وجه نه د سیاسی تحریك همت لرلو، او نه ئې د کفریاتو د دعوت ورکولو اراده لرله، موجوده دور کښې دا فرقې دخپل زیات مال دولت په وجه د تنظیمونو په دامونو کښې بې علمه او کم علمه خلق راگیرول غواړی او په دې مکروفریب سره سیاسی عروج او دعوت کښې د کامیابئ اراده لری پس په دې بنیاد باندې ددوی په تنظیمونو کښې څه حصه اخستل اسلام دشمنی او مداهنت دې. (۴) وهو الموفق

(۱) (عن عمر بن الخطاب قال سمعت رسول الله ﷺ یقول سألت ربی عن اختلاف اصحابی من بعدی فاوحٰی الی یامحمد ان اصحابک عندی بمنزلة النجوم فی السماء بعضها اقوی من بعض ولکل نور فمن اخذ شئی مماهم علیه من اختلافهم فهو عندی علی هدی قال وقال رسول الله ﷺ اصحابی کالنجوم فبایهم اقتدیتم اهتدیتم. رواه زرین. (مشکواة المصابیح ص ۵۵۴ جلد ۲ باب مناقب الصحابة)

(۲) قال العلامه ابن نجیم والکفر شرعا تکذیب محمد صلی الله علیه وسلم فی شئی مما یثبت عنه ادعاؤه ضرورة. (البحر الرائق ص۱۱۹، ج۵، باب احکام المرتدین)

(۳) (پ:۳ سوره آل عمران ع:۱۱ آیت :۲۸)

(۴) قال الله تعالی یا ایهاالذین آمنو لا تتخذوا عدوی و عدوکم اولیاء تلقون الیهم بالمودة وقد کفروا بما جاء کم من الحق. الایه (پ:۲۸ سورة الممتحنة ع:۱ آیت: ۱)

د اسماعیلیه آغاخانیه فرقې کفریات

سوال: څه فرمائی علمائې دین په دې مسئله کښې چه زمونږ په علاقه کښې یوه فرقه ده چه هغې ته اسماعیلیه وائی چه د پرنس کریم آغاخان متبعین دی داخلق د مسلمان کیدو دعویدار دی سره ددې چه ددوی عقائد دادی:

(۱) داهل سنت مخالفت کوی د مسجد په ځائې ئې د (جماعت خانه) په نوم سره عبادت خانې جوړې کړی دی چه هلته خپل وضع کړی مخصوص عبادات کوی.

(۲) د عامو مسلمانانو په شان مونځونه نه کوی او څه چه هم کوی هغه سحر، مازیگر او ماښام پورې محدود وی.

(۳) تراوسه پورې په دوی کښې د یو کس نه هم د بیت الله حج کول ثابت نه دی.

(۴) زکوٰة د اسلامی اصولو مطابق نه اداکوی بلکه هره میاشت د امیر او غریب نه د زکاتی په نوم چنده جمع کوی یو خاص وخت کښې ئې بمبئ ته لیږی چه دا د آغاخان د پلار نیکه ښاردې.

(۵) د روزې پابند نه دی یعنی نه ئې ساتی، مهربانی اوکړئ ددې سوالونو جوابونه اولیکئ؟

المستفتی: (مولانا) عبیدالله چترالی (شهید)
متعلم دارالعلوم حقانیه اکوړه خټك ۸/۶/۱۹۷۲ء

الجواب: په فرقه آغاخانیه کښې ډیر کفریات موجود دی مثلاً د آغاخان د تصویر عبادت کول او په آغاخان کښې خدائی حلول منل وغیره چه دا مستفتی نه دی ذکر کړې لهٰذا ددوی سره به د مسلمانانو په شان سلوك نه شی کولې. (۱) د زیات وضاحت دپاره بوادر النوادر ص۷۳۷ تا ۷۴۱ جلد ۲ مطالعه اوکړئ. فقط

(۱) قال الحصکفی وینبغی ان یلازم الصغار فیما یکون بینه و بین المسلم فی کل شئی و علیه فیمنع من القعود حال قیام المسلم عنده بحر ویحرم تعظیمه و تکره مصافحته ولا یبدأ بسلام الا لحاجة ولا یزاد فی الجواب علی و علیک و یضیق علیه فی المرور ویجعل علی داره علامة وقال ابن عابدین وان تعظیماً له فان کان یمیل قلبه الی الاسلام فلا بأس به.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۳۰۰ جلد ۳ مطلب فی تمیز اهل الذمة فی الملبس)

د آغاخان فاونډیشن نه مالی امداد اخستل حرام دی

سوال: څه فرمائی علمائې دین چه زمونږ په چترال علاقه کښې اسماعیلیه خلق اوسیږی چه دوی د مونځ، روژې، زکوٰة او حج منکردی آغا خان مقتدا ګڼړی نن صبا دوی یو فاونډیشن قائم کړې دې چه دوی د پلونو، سړکونو، لارو او د اوبو د ټیوب ویلونو وغیره تعمیر کوی آیا دوی نه دا رقم اخستل جائزدی؟

المستفتی: قاضی عبدالرؤف، مولاناعبدالحلیم وغیره باشندګان چترال ۱۹۸۶/۲/۱۸ء

الجواب: واضحه دې وی چه د آغاخانیانو وغیره نه دا امداد حاصلول حرام دی دا دعوامو د تاثر، مداهنت او طرفدارئ کامیابه حربه ده.《۱》

لاهوری جماعت د کفر اواسلام په مینځ کښې معلق نه دې کافردی

سوال: څۀ فرمائی علمائې دین په دې مسئله کښې چه دکوم کس دا عقیده وی چه مرزائیانو لاهوری جماعت دکفر او اسلام په منځ کښې معلق دې دوی نه د نبوت د مدعی نه بالکل براءت ښکاره کوی چه ددوی افرادو ته مسلمان اووئیلې شی نه دده د نبوت صفا اقرارکوی چه تکفیر ئې اوکړی شی دداسې سړی متعلق د شریعت په روسره څۀ فیصله ده؟

المستفتی: عبدالکریم پتافی ډیره اسماعیل خان ۲ارمضان المبارک ۱۳۸۹ء

الجواب: چونکه دټول لاهوری جماعت عقیده ده چه عیسیٰ علیه السلام د یوسف نجار ځوې دې اود پلار نه بغیرنه دې پیداشوې.(صرح به محمد علی لاهوری فی تفسیر بیان القرآن ص۳۱۳ جلد۱) دا د یومتواتر، قطعی الثبوت او قطعی الدلالت حقیقت《۲》نه انکاردې چه دا بې شکه اوبې شبهې کفردې.《۳》

فی الدر المختار ص ۶۸۴ جلد۳ المراد بالتکذیب عدم التصدیق الذی مر انتهی

《۱》قال الله تعالیٰ لا یتخذ المؤمنون الکافرین اولیاء من دون المؤمنین ومن یفعل ذلک فلیس من الله فی شئی الا ان تتقوا منهم تقاه . الایة

《۲》قال الله تعالیٰ قالت ربی انی یکون لی ولد ولم یمسسنی بشر ٠ قال کذلک الله یخلق ما یشاء .الایه (پ: ۳ سورة ال عمران: ع: ۱۳ آیت: ۴۷)

《۳》قال الحصکفی (الکفر) شرعاً تکذیبه صلی الله علیه وسلم فی شئی مما جاء به من الدین ضرورة قال ابن عابدین قوله تکذیبه صلی الله علیه وسلم الخ المراد بالتکذیب عدم التصدیق الذی مر ای عدم الاذعان والقبول لما علم مجیئه به صلی الله علیه وسلم ضرورة ای علماً ضرور یا لا یتوقف علی نظر و استدلال . (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۳۱۱ جلد ۳ باب المرتد مطلب فی منکر الاجماع)

پس دا د کفراواسلام په مینځ کښې معلق ګڼړل بې شك اوبې شبهې اعتزال دې بلکه دې سړی باندې د کفر ویره موجود ده، ځکه چه د ضروریاتو ددین نه د منکر کفر اجماعی امردې او داسړې اودده جماعت ددې نه منکرکافرنه ګڼړی اود اجماع نه مخالفت کوی.

ولنعم ماقال العلامة الخیالی ان التأویل فی ماثبت بالضرورة لا یدفع الکفرا و کما قال فلیراجع

اوکومو اکابرعلماؤ چه لاهوری جماعت ته کافرنه دی وئیلې، اودوی ته کافر وئیلو والوته ئې مسلمان وئیلی دی نوشاید چه هغه وخت هغوی ته د لاهوری جماعت متعلق دا تحقیق نه وو رسیدلې، چه داجماعت د عیسیٰ علیه السلام په پلار قائل دی ګینی دې اکابرو به ضرورددې حکم نه رجوع کړې وې.فقط

فقیه النفس مفتی اعظم (محمد فرید عفی عنه)

شیخ الحدیث دارالعلوم حقانیه اکوړه ختك نوشهره

مرزا قادیانی لره د کافرانه عقیدو باوجود کافر نه ګڼړلو والاحکم

سوال: څه فرمائی علمائې دین اومفتیان د شرع متین په دې باره کښې چه مرزا غلام احمد قادیانی چه دې د نبوت حقیقی ددعوې وغیره په وجه د پوره اسلامی ملت په نزد کافر اومرتد دې که څوك سړې یا جماعت غلام احمد قادیانی کافرنه ګڼړی بلکه مسیح موعود، مهدی معهود، مامورمن الله، ملهم، مجدد، محدث، امام زمان، ظل بروزی طورباندې جزوی نبی منی، دغسې دحضرت عیسیٰ علیه السلام د رفع الی السماء قائل نه وی بلکه د وفات مسیح قائل وی لکه څنګه چه د لاهوری پارټئ عقیده ده نوددغه سړی یا جماعت څه حکم دې، که د پورتنو عقائدوپه وجه دغه سړې یا جماعت کافر اود اسلام نه خارج دې نو که څوك سړې یا جماعت پورتنی عقائد لرلو والا سړې یا جماعت کافرنه ګڼړی،نوپه دې وجه کافرته دکافر نه ویونکی څه حکم دې؟

المستفتی: پیرمبارك شاه ناظم جمعیة العلماء اسلام مردان ... ۱۹۶۹/۹/۷ء

الجواب: کافر لره مجدد منل او دهغه کفریاتو لره ددین تجدید منل بې شکه او بې شبهې کفردې، لهٰذا د لاهوری پارټئ په کافرکیدو کښې هیڅ مسلمان له تردد نه دې پکار، لاهوری پارټی د حیات عیسیٰ علیه السلام نه منکردی، اوپه ټولو معجزو کښې تحریفات کوی او عیسیٰ علیه السلام د یوسف نجار ځوې ګڼړی. اوګورئ بیان القرآن مصنفه محمد علی لاهوری《۱》نوباوجود ددې چه څوك سړې

《۱》(تفسیر بیان القران لمحمد علی لاهوری ص ۳۱۳ جلد ۱)

یا جماعت دوی لره کافرنه ګڼری نوهغه داسلام نه خارج دی ﴿۱﴾ هغه پسې اقتداء کول، هغه سره نکاح کول، په هغه باندې جنازه کول غیرمشروع دی.

والدليل على مامر انهم انكروا مما ثبت بالضرورة وبالاجماع و هو كفر و عدم تكفير الكافر يستلزم استحسان كفره لزوماً بيناً وهوايضاً كفر . فقط

مرزا قادیانی سره ,, علیه اللعنت،، وئیل

سوال: څۀ فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه په بهشتی زیور کښې ئې لیکلی دی چه دچا نوم اخستلوسره کافروئیل یا لعنت لیږل لویه ګناه ده البته دچا نوم اخستلوسره چه الله تعالی او رسول کریم ﷺ لعنت کړې دې یا ئې دهغه د کافرکیدو خبر ورکړې دې هغه ته کافر ملعون وئیل ګناه نه ده، ددې عبارت نه معلومه شوه چه مرزا قادیانی ته کافر اوملعون وئیل او علیه اللعنت وئیل جائزدی؟

المستفتی: شاه ګئ نهاك دره ضلع دیر.... ۲۳|جولائی ۱۹۷۳ء

الجواب: محترم المقام السلام علیکم نه پس عرض دې چه دلعنت نه مراد دالله تعالی د رحمت نه همیشه دپاره لرې کیدل وی چه ددې لازمه معنی خلود فی النارده اوددې سزا مستحق هغه سړې وی چه دهغه خاتمه په کفرباندې وی او مونږ ماسوا دهغه کسانو نه چه دهغوی متعلق الله تعالی اودهغه رسول ﷺ د کافرکیدو خبر ورکړې وی لکه ابلیس، فرعون، ابولهب وغیره، دبل چا باره کښې دا فیصله نه شو کولې، ﴿۲﴾ چه ددوی خاتمه په کفرباندې شوې ده اوکه نه، مختصرداچه مونږ د منصوص کافرانو متعلق دا فیصله کولې شو چه هغوی عندالله کافردی اود اصولی کافرمتعلق دا فیصله نه شوکولې چه هغوی عندالشرع کافردی، ډیروخته یو سړې عندالشرع کافر وی لیکن عندالله هغه توبه ویستونکې مړشوې وی، اود مرزا غلام احمدقادیانی متعلق به مونږ د ملعون عندالشرع اوکافر عندالشرع اعتقاد ساتو لیکن د کافر اوملعون عندالله فیصله نه شو کولې.

﴿۱﴾ قال العلامه ابن البزاز الكردرى ان شاتمه كافر و حكمه القتل و من شك فى عذابه و كفره كفر قال الله تعالىٰ فيه ملعو نين اينما ثقفوا اخذوا و قتلوا تقتيلا سنة الله . الايه.
(الفتاوىٰ البزازيه ص ۳۲۲ جلد ۶ موضوع على هامش الهنديه الثانى فيما يكون كفراً من المسلم)

﴿۲﴾ قال ابن البزاز الكردرى اللعن على الشخص وان كان فاسقا لا يجوز بخلاف اللعن على الجنس كقوله تعالىٰ ان لعنة الله على الظالمين و قوله عليه السلام لعن الله فى الخمر عشرة الخ
(فتاوىٰ بزازيه على هامش الهنديه ص ۳۴۴ جلد ۶ الحادى عشر فيما يكون خطاء)

مرزائی خلق اهل کتاب نه دی مرتد دی

سوال: څه فرمائی علمائې دین چه مرزائیانو ته اهل کتاب وئیلې شو، او مرزائی ښځه د یوې عیسائئړې ښځې حیثیت لری؟ بیاکله چه یوه مرزائی ښځه ګونګئ ده اوپه دې صورت کښې هغه مذهبی عقائدو باندې پوهیږی هم نه، په دې صورت کښې نکاح کیدې شی؟

المستفتی: نامعلوم .... ۱۹۹۸ء|۸|۲۲

الجواب: مرزائی خلق مرتد دی، نه اهل کتاب دی اونه اهل اسلام دی، مرتد سره نکاح درست نه ده که هغه ښځه وی که سړې. ﴿۲﴾ اوګونګئ نه د اشاراتو په ذریعه معلومات کیدې شی اوکه اشاروسره معلومات نه شی کیدې، نوهغې ته مرزائی وئیل غلط دی صرف د نسب په وجه مذهب متعین کیدې نه شی.

والمسئلة من الواضحات فلا حاجة الى نقل العبارات . وهو الموفق

د غلط فهمۍ په وجه قادیانی ته دمسلمان وئیلو حکم

سوال: که یوکس د غلط فهمۍ په وجه مرزا غلام احمد قادیانیٔ ته اعلی مسلمان وائی او اووائی چه په ده باندې د کفر فتوی غلطه ده ځکه چه په حدیث کښې راغلی دی ,,من صلی صلواتنا واستقبل قبلتنا ..الخ،، بیا هغه سره سوشل او سماجی بائیکاټ اوکړې شو اود پورتنۍ عقیدې نه ئې رجوع اوکړه نوآیا دا به تجدید د نکاح کوی یا نه؟ اودا اعلان به کوی یا نه؟

المستفتی: قاری یوسف ډهانال سنګهه شیخوپوره

الجواب: چونکه دا سړې د غلط فهمۍ په وجه مرزا لره مسلمان ګڼرونکې وو لهذا په ده باندې تجدید دنکاح ضروری نه ده اګرچه بهتر او احوط دی. ﴿۲﴾ البته که هغه ددې عقیدې اظهار علی الاعلان کړې وی نو براءت به هم علی الاعلان کوی. ان سر فسراً وان جهر فجهراً. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامه ابن نجيم ولا ينكح مرتد او مرتدة احداً ...... ولامرتده لا يتزوج المرتلة مسلم ولا كافر ولا مرتد . (بحر الرائق ص ۲۰۹ جلد ۳ باب نكاح الكافر)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن البزاز الكردرى وما كان فى كونه كفراً اختلاف يؤمر قائله بتجديد النكاح والتوبة احتياطا وما كان خطاء لايؤمر الا بالاستغفار والرجوع عنه .
(فتاوىٰ بزازيه ص ۳۲۲ جلد ۶ موضوع على هامش الهنديه مقدمه فيما يكون كفراً من المسلم و مالا)

مرزائیانو سره تعلقات ساتل ممنوع دي

سوال: څه فرمائی علمائي دین په دي مسئله کښي چه د مرزائیت فرقي کفر او ارتداد عقلاً اونقلاً د نمر په شان ښکاره او واضحه شوي دي نو په دي صورت کښي اهل اسلام فرقي لره د مرزائیت سره په شرعی حدودو کښي اوسیدو سره څومره حده پوري معاملات او برتاؤ کولي شی د مرزائیانو دعوتونه هغوی سره خوراك څښاك، کاروبار، لین دین، تردي چه دوی سره ناسته پاسته وغیره مسائلو باندي رڼا واچوئ چه زمونږ تسلی اوشی؟

المستفتی: محمد عبدالعزیز علوی ملتان...... ۱۹۷۸ء | ۷ | ۲۲

الجواب: چونکه مرزائی خلق صاحب د منعه دی د پاکستان فوج او پولیس ددوی مدافعت د پاره هروخت تیاروی لهٰذا په دي خلقو به د مستامن یا ذمی احکام جاری کیږی یعنی دوی سره دنکاح او لین دین متعلق او دوی سره تعلقات قائم ساتل اگرچه څه ممنوع نه دی لیکن دخارجی عوارضو په وجه ممنوع دی. ﴿۱﴾ داخلق د اهل اسلام دختمولو موقعي تلاش کوی. وهو الموفق

د مرزائیانو قادیانی او لاهوری دواړه فرقي کافر دی

سوال: (۱) یوسړي مرزائیانو ته کافرنه وائی ددوی یا ددوی د ملگرو حمایت یا ددوی اقتداء کښي د مونځ څه حکم دي؟ یوسړي د مرزائیانو قادیانی ډلي ته کافر وائی خو لاهوری ډلي ته کافرنه وائی. دده په اقتداء کښي د مونځ څه حکم دي؟ او ددوی سره د سیاسی اتحاد کونکو باره کښي څه حکم دي؟

المستفتی: محمد حمزه پرنس گارډن کراچی نمبر ۱

الجواب: (۱) په دي سړی باندي دکفر سخته خطره ده. ﴿۲﴾ ددوی پسي اقتداء نه کول ضروری دی. (۲) په ده باندي هم د کفر سخته خطره ده د داسي سیاسی اتحاد کول چه په هغي کښي مرزایان اکثریت کښي دداخلولو حیله موجود وی دا الحاد او زندقه دي. ﴿۳﴾ فقط

﴿۱﴾ قال الحصكفي و ينبغي ان يلازم الصغار فيما يكون بينه وبين المسلم في كل شئي و عليه فيمنع من القعود حال قيام المسلم عنده بحر و يحرم تعظيمه و تكره مصافحته ولا يبدأ بسلام الا لحاجة ولا يزاد في الجواب على و عليك و يضيق عليه في المرور و يجعل على داره علامة وقال ابن عابدين وان تعظيما له فان كان ليميل قلبه الى الاسلام فلاباس به . (الدر المختار مع ردالمحتار ص ۳۰۰ جلد ۳ مطلب في تميز اهل الذمة في الملبس)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن البزاز الكردري الجاهل اذا تكلم بكلمة ولم يدرك انها كفر قال بعضهم يكفر و قيل لا الى ان قال الارتداد لانه معنى يتفرد المرتد ...... ان شاتمه كافر و حكمه القتل ومن شك في عذابه و كفره كفر قال الله تعالىٰ فيه ملعونين اينما ثقفوا اخذوا و قتلوا تقتيلا سنة الله . الاية (فتاوىٰ بزازيه على هامش الهنديه ص ۳۲۱، ۳۲۲ جلد ۶ فيما يكون كفراً من المسلم وما لا يكون)

﴿۳﴾ (يدل عليه ما في رد المختار ص ۳۲۴ مطلب في الفرق بين الذنديق والمنافق والدهري والملحد)

مرزا غلام احمد قادیانی کافردي

سوال: مستر غلام احمد قادیانی کافردي یا نه؟ که کافردي نو په څۀ وجه؟ که څوك په دي زمانه کښي مرزا غلام احمد قادیانی لره مجدد یا مسلمان منی نو هغه دي کافردي یا نه؟ مرزا لره د کافرنه منونکی جنازه کول جائزدی یا نه؟ د عامو مسلمانانو په مقبره کښي دداسي سړی دفن کول جائزدی یا نه؟ او د تعزیت څه حکم دي؟

المستفتی: ملك نعمت الله خان سکنه کمرکله بنوں ۱۸ ربیع الثانی ۱۳۹۰ھ

الجواب: مرزا غلام احمد دځانه د نبوت د دعوي وغیره په وجه کافردي د مرزا غلام احمد په مکتوباتو باندي نظر اچولونه پس داحقیقت واضح کیږی چه هغه د ضروریات دین د ډیرونه انکار اوپه دین کښي تحریف کړي دي لهٰذا ده لره مسلمان یا مجدد منل (باوجود دهغه په کفریاتو باندي دعمل نه) کافر دي. ﴿۱﴾ اوپه ده باندي جنازه نه کول ضروری دی. ﴿۲﴾ او دهغه مسلمان رشته دار ته دتعزیت دپاره ورتلل جائزدی. ﴿۳﴾ اوهغه دمسلمانانو په مقبره کښي نه دفن کول ضروری دی. ﴿۴﴾

يدل عليه ما في الهندية ص ۱۶۷ جلد ۱ و في تعزية الكافر بالمسلم احسن الله عزاك و غفر لميتك و في تعزية الكافر بالكافر اخلف الله عليك و في شرح الكبير ص ۵۰۶ مات للمسلم قريب كافر ليس له ولي من الكفار يغسله غسل الثوب النجس و يلفه في خرقة ويحفر له حفرة و يلقيه فيها من غير مراعاة السنة .... هذا كله اذا لم يكن كفره بالا ارتداد اما لو كان مرتداً يلقيه في حفرة كالكلب دفعاً لا ذى جيفته عن الناس من غير غسلٍ ولا تكفين ولا يدفعه الى اهل الدين الذى انتقل اليه . ﴿۵﴾ فقط

﴿۱﴾ قال ابن عابدين قوله و تمامه في الدرر حيث قال نقلاً عن البزاز به وقال ابن سحنون المالكي اجمع المسلمون ان شاتمه كافر و حكمه القتل ومن شك في عذابه و كفره كفر ...... المراد بها ما قبل التوبة . (ردالمحتار ص ۳۱۷ جلد ۳ مطلب في حكم ساب الانبياء)

﴿۲﴾ في الهنديه الصلوة على الجنازة ...... و شرطها اسلام الميت و طهارته. (هنديه ص ۱۶۲ جلد ۱ الفصل الخامس في الصلوة على الميت)

﴿۳﴾ (هنديه ص ۱۶۷ جلد ۱ قبيل الفصل السابع في الشهيد)

﴿۴﴾ ويكره ان يدخل الكافر في قبر قرابته المسلم ليدفنه (بحر الرائق ص ۱۹۱ جلد ۲ فصل السلطان احق بصلاته)

﴿۵﴾ (غنية المستملى ص ۵۵۵ مسائل متفرقه)

په قادیانی باندې لعنت لیږل

سوال: په یو مجلس کښې مرزا غلام احمد قادیانی باندې لعنت لیږل څنګه دی؟ المستفتی: فقیرمحمد خان.........یو ، کې لندن

الجواب: چونکه مرزا غلام احمد قادیانی د اهل شرع په نزد یعنی قانونی او اصولی کافردې منصوصی کافرنه دې.لهٰذا منصوصی کافرانو په شان لعنت به په ده باندې نه شی وئیلې، البته د تنفیر او تذلیل په طور لعنت لیږل په منع نه وی.﴿۱﴾ فقط

د قادیانیت خلاف د قومی اسمبلئ متفقه فیصلې باره کښې د ماهنامه الحق سوالنامه

سوال نامه: (۱) د آئینی فیصلې باره کښې ستاسو تاثرات څۀ دی؟

(۲) آیا ددې فیصلې نه پس زمونږ ذمه داری ختمه شوې ده؟

(۳) ملك اوبیرون ملك د قادیانی فتنې سیاسی او دینی تاثرات څه دی؟

(۴) دداسې مهلك اثراتو د تعاقب طریقهٔ کار اولائحه عمل څه کیدې شی؟

المستفتی:.......ایډیټر ماهنامه الحق اکوړه خټك

الجواب: (۱) د قومی اسمبلئ قادیانی فیصلې سره ددوی د اسلام نه خارج کیدل ټولو عوامو او تعلیم یافته طبقې باندې د رنړا ورځ په شان واضحه شوه، دې سره ددوی حوصلې کمزورې شوې او مجبورا به دوی اوس په خپلو ارادو کښې

﴿۱﴾ قال العلامه محمد عبدالعزیز الفرهاری ان اللعن ثلثة اقسام احدها اللعن با لوصف العام الوارد فی الشرع نحو لعن الله الکفار و الیهود و هذا جائز حتی انه قد صح فی بعض الصغائر کقوله علیه الصلواة والسلام لعن الله الواشمات والمستوشمات .... ثانیها اللعن علی الشخص المعین الذی صح موته علی الکفر باخبار الشارع کفرعون و ابی جهل و ابلیس و هو جائز ثالثها علی شخص لم یعلم موته علی الکفر و هو لا یجوز سواء کان حیا او میتا و کان بحسب الظاهر مؤمنا او کافر الجواز ان یوفق الله سبحانه الکافر للاسلام الخ

(النبراس شرح شرح العقائد ص ۳۳۲ اللعن علی یزید خلاف التحقیق)

ترمیم کوی، دې فیصلې سره ددوی د تبلیغ او اشاعت او د عوامو دهوکه کولو دامونه کافی حده پورې بیکاره او ختمیږی.

(۲) دا مسئله اګرچه کاغذی طورباندې خوحل شوې ده لیکن عملی طور باندې تراوسه پورې حل طلب ده، ځکه چه قادیانانو تراوسه پورې نه ده منلې، په ټولو مسلمانانو باندې فرض دی چه دوی په حکومت دا فیصله عملاً نافذ کړی ګینی په دنیا اوآخرت کښې د انتقام خطرات رامخې ته دی.

(۳) (۴) د قادیانانو اثراتو ختمولو دپاره مناسب دی چه ددې فیصلې په هره ژبه او هرحکومت کښې اشاعت اوکړې شی، اوهرمسلمان حکومت دوی لره قانونی طورباندې غیرمسلم اوګرځوی اود اسلامی ملکونو مشترکه وفود غیرمسلم حکومتونه خبردارکړی اوهغوی ته دمسلمانانو نه د جدا حقوق ورکولو مطالبه اوکړی.وهوالموفق

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم

اوصیکم بتقوی الله والسمع والطاعة
وان کان عبداً حبشیاً فانه من یعش منکم
بعدی فسیریٰ اختلافاً کثیراً فعلیکم
بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین المهدیین
تمسکوا بها وعضو علیها بالنواجذ وایاکم
ومحدثات الامور فان کل محدثة بدعة
وکل بدعة ضلالة...

(الحدیث)

باب
فی الفرق الاسلامیه

...

باب فی الفِرق الاسلامیه

د حزب الله پارټئ دواړه روئړه ملحدان دي

سوال: يو سري ډاکټر مسعود الدين عثماني په خپل کتاب، توحيد خالص، اولني قسط کښې ليکي بيادا دحلول عقيده د ابن سبامنلو والا نصريه کيسانيه قرامطه او باطنيه نه راغله راغله او په صوفياؤ کښې ور دننه شوه او چه دلته رااورسيده نو خپل اصل شکل ئې اختيار کړو، الخ صفحه ۳۴ او ددې کتاب په صفحه ۸۵ باندې ئې ليکلې دي چه ددويمې صدئ (پيرئ) نه واخلې تر څوارلسمې صدئ پورې صوفياؤ ليکلې دي او وئيلې ئې دي دا ټول حضرات د چا چه ذکر اوکړې شو د دې الحاد علمبردار وو، او نن چه کوم دين د اسلام په نوم باندې په دنيا کښې موندلې کيږي داددې حضراتو ايجاد کړې شوې دين دې. بيا په صفحه ۱۱۲ باندې ليکي ترننه پورې څوک صوفي داسې نه دې تير شوې چه ملحد نه وي. نوددا سې خبرو ليکلو او وئيلو والا څه حکم دې؟ اود دوي په پارټئ حزب الله کښې شريک کيدل څنګه دي؟

المستفتي: مولوي عبدالمقدس جلبئ صوابي.....۵محرم الحرام۱۴۰۳

الجواب: دحزب الله پارټي دواړه مشران ډاکټر عثمان او پروفيسر کمال ملحدان دي (۱) ددې خلقو بنيادي کار عوام او کم علمه خلق د علمائي حق نه بد ګمانه کول دي دارنګې د ديني مرکزونو باندې حملې هم کوي. ددوي ددې رويې نه معلوميږي چه دا خلق د کمونستانو او دهريانو ايجنټان دي په ټول اهل اسلام باندې ضروري ده چه څلور واړو امامانو، امام ابو حنيفه، امام مالک، امام شافعي، اوامام احمدبن حنبل رحمهم الله چه د قران اوحديث کوم تشريحات کړي هغه ددې ملحدينو دتشريح په وجه باندې پرې نږدي (۲) ولاحول ولاقوة الابالله،

(۱) قال ابن عابدين والملحد وهو من مال عن الشرع القويم الى جهة من جهات الكفر من الحد في الدين حاد وعدل الخ (رد المحتار ص ۳۲۴ جلد ۳ مطلب الفرق بين الزنديق والمنافق والدهرى والملحد)

(۲) عن عمران بن حصين قال قال رسول الله ﷺ خير امتى قرنى ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم ثم ان بعدهم قوما يشهدون ولا يستشهدون ويخونون ولا يؤتمنون وينذرون ولا يفون ويظهر فيهم السمن وفى رواية ويحلفون ولا يستحلفون متفق عليه وفى رواية لمسلم عن ابى هريرة ثم يخلف قوم يحبون السمانة. (مشكوٰة المصابيح ص ۵۵۳ جلد ۲ باب مناقب الصحابة الفصل الاول)

حزب الله يوه ګمراه پارټي ده

سوال: علمائې دين او مفتيان کرام څه فرمائي چه نن صبا يو خاص ډله دد حزب الله په نوم چه علمائې ديوبند او لويو لويو علماؤته کافر او مشرک وئيلو کښې څه څر په نه کوئ، ددې خلقو متعلق ستاسو حضراتو څه خيال دې؟

المستفتي: دين محمد نيو سلطان روډ آدم جي نګر کراچي ۲۸ محرم الحرام ۱۴۰۵ھ

الجواب: حزب الله پارټي يو ګمراه پارټي ده (۱) دا خلق غواړي چه په خيرالقرون (۲) کښې څلور واړو امامانو چه د وحی کومه تشريح کړې ده هغه پريخودې شي او په شرالقرون کښې د يو ډاکټر او پروفيسر تشريح خپله کړېشي او حال دادې چه دا بې ديني او بد ديني ده، فقط.

ددې زمانې اهل حديث اهل بخارى دى اهل حديث نه دى

سوال: څمونږ د بالاکوټ په علاقه کښے اهل حديث والو يو جمات جوړ کړې دې نو اوس څه اختلافي خبرې مخې ته راغلې لکه رفع اليدين، امين بالجهر، او فاتحه خلف الامام وغيره. اهل حديث خلق د بخاري شريف او مسلم شريف حديثو نه او حوالې پيش کوي او څمونږ مقامي علماء د حديث پيش کولو په پوزيشن کښې نه دي. لهذا تاسو حضرات د حديثو حوالې او دکتابونو حوالې اوليکئ او راوليږئ. چه ددوي جواب اوکړو؟

المستفتي: عبدالغفور کاغان روډ بالاکوټ. ۹۱۸۱۱۹۷۸

الجواب: محترم المقام السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته، تاسو ته دې واضحه وي چه رفع اليدين، وغيره مسائل فيصله شوې مسئلې دي، تاسو علم دين حاصل کړئ اومخالفين قابو کړئ ياچرته يو مناظر د پنډئ اوګوجرانواله نه را اوغوړئ

(۱) قال ابن عابدين وقال ابن ملک فى شرح المجمع وترد شهادة من يظهر سب السلف لانه يكون ظاهر الفسق...... وقال الزيلعى او يظهر سب السلف يعنى الصالحين منهم وهم الصحابة والتابعون لان هذه الاشياء تدل على قصور عقله وقلة مروئته ومن لم يمتنع عن مثلها الخ (رد المحتار ص ۳۲۱ جلد ۲ مطلب مهم فى حكم سب الشيخين)

(۲) عن عمر قال قال رسول الله ﷺ اكرموا اصحابى فانهم خياركم ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم ثم يظهر الكذب حتىٰ ان الرجل الخ الحديث (مشكوٰة المصابيح ص ۵۵۳ جلد ۲ باب مناقب الصحابة الفصل الثانى)

اودوي چُپ كړئ صرف په فتاوؤ او رسالو سره د دوي مقابله كول ډير ګران كار دي د موجوده زماني اهل حديث، اهل حديث نه دي دا اهل بخاري دي ددوي په قابو كښې راوستل آسان كار دي. وهوالموفق﴿۱﴾

د اهل حديثو مسلک اختيارول څه حكم لري اود اهل حديثو اقتداء

سوال: د يو حنفي دپاره بغير دليل نه حنفيت پريخودل او د اهل حديثو مسلک اختيارول څنګه دي چه دي پخپله نه په قران پوهيږي او نه په حديث ﴿۲﴾ او داسې اهل حديث چه په حنفيانو باندې جرح او اعتراضونه كوي آيا د حنفي اقتداء صحيح ده؟

المستفتي: محمد اقبال ډينټل ټيكنيشن تربت.... ۲۷ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: ائمه اربعو چه د خير القرون خلق دي. ﴿۲﴾ د قران او حديث وضاحت كونكي او تشريح كونكي دي. نو ددوي وضاحت او تشريح پريخو دو والا او د شوكاني وغيره تشريح قبلولو والا خلق يا خواهش پرست دي اويا ډير لوئي جهان دي ﴿۲﴾ او كوم اهل حديث (چه په حقيقت كښې اهل هوي يا اهل بخاري دي) چه ائمه اربعه پسې كنځل كوُي هغوي پسې اقداء نه دي كول پكار. ﴿۳﴾

﴿۱﴾ مفتي صاحب فرمائي! بې خبره خلق دا خيال كوي چه اهل حديث په قال الله او قال الرسول باندې عمل كوي او مقلدين په قال ابو حنيفه او قال الشافعي باندې عمل كوي ليكن دا خيال غلط دي هر يو امام دا تصريح كړې چه حجت او دليل صرف قران او حديث دي. او د قرآن او حديث په مقابله كښې ئې د رائې قبلولو سخت رد كړې دي دا امامان په اعتبار د عبارت، اشارت دلالت او اقتضاء سره د وحي شرحه كونكي دي شارعين نه دي دا څمونږ استاذان دی خدايان نه دي دمشترک او مجمل مراد ظاهر او ښكاره كوي او تعارض لري كوې او چه كوم حكم ظاهراً په وحي كښې موجود نه وي د هغې استنباط كوي او دې خبرو ته اهل حديث هم محتاج دي. مناسب داده چه دا خلق يو مثال پيش كړي چه امام ابو حنيفه رحمة الله عليه د رائې په وجه باندې حديث پريخودې وي او د بعضې خلقو په د ماغو كښې دا خيال پيدا كيږي چه دا امام ابو حنيفه أحاديث په بخاري او مسلم كښې نشته دي اودّ اهل حديثو احاديث په بخاري او مسلم كښې شته، چه دا دواړه صحيح ترين كتابونه دي، ليكن دا خيال د اصولو نه خلاف دي ځكه چه دليل صرف حديث ثابته دي نه يواځې بخاري شريف، مونږ اهل حديث يو، اهل بخاري نه يو بې شكه امام بخاري لوئې امام دې، امير المومنين في الحديث دې. او صحيح بخاري د كتاب الله نه پس په ټولو كتابونو كښې صحيح ترين كتاب دې ليكن داخبره نه په قرآن كښې شته اونه په حديث كښې او نه په خير القرون كښې چا وئيلې ده بلكه په شر القرون كښې بعضې امامانو وئيلې دي نو په اهل حديثو باندې هم تعجب دې چه په دې مقوله باندې اعتماد كوي دا د اهل حديثو سره مناسب نه دي څمونږ د مقلدينو سره مناسب ده. (وتمامه في المقالات ص ۱۳۳ تتمه لمفتى اعظم شيخ الحديث مفتى محمد فريد دامت بر كاتهم) (از مرتب)

﴿۲﴾ عن عبد الله ابن مسعود رضى الله تعالىٰ عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: خير الناس قرنى (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

بريليان كافران دي كه نه؟

سوال: د بريلوي فرقې څه حكم دې كافره ده كه نه؟

المستفتي: جاويد احمد چوک يادګار پيښور

الجواب: دا بريلوي فرقه كافران نه دي او چه كوم سړې د پيغمبرانو بشريت نه منكر وي ﴿۱﴾ يا د غير الله دپاره تسلط غيبى او علم كلى منى نو هغه كافر دې ﴿۲﴾ وهوالموفق

په مودودي او پنجپيري كښې فرق او د هغوي امامت

سوال: د مودو ديانو او پنجپيريانو په عقيدو او اعمالو كښې څه فرق دې؟ دوي پسې اقتداء كول او ددوي عقيدې خورول جائز دي كه نه؟

المستفتي: عبدالله متعلم دارالعلوم حقانيه اكوړه خټک..... ۱۹۸۵ء/۳/۴

الجواب: مودوديان د عصمة الانبياء، عدالت صحابه، تقليد شخصى اود مشهور تصوف منكرين دي. ﴿۳﴾ په خلاف د سلفيانو چه هغوي د توسل بالصالحين وغيره نه انكار كوي، نو كه چا صحيح عقيدې والا سړې اوموندلو په هغه پسې

(بقيه حاشيه) ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم ثم اقوام تسبق شهادة احد هم يمينه و يمينه شهادته. (مختصر صحيح البخارى ص ۲۵۹ جلد ۲ كتاب الشهادات باب لا يشهد على شهادة جور اذا اشهد)

﴿۳﴾ قال العلامه ابن عابدين و مما يزيد ذلك وضوحاما صرحوا به فى كتبهم متونا و شروحاً من قولهم ولا تقبل شهادة من يظهر سب السلف...... وقال ابن ملک فى شرح المجمع وترد شهادة من يظهر سب السلف لانه يكون ظاهر الفسق...... وقال الزيلعى او يظهر سب السلف يعنى الصالحين منهم و هم الصحابة والتابعون لان هذه الاشياء تدل على قصور عقله و قلة مروأته الخ (ردالمحتار ص ۳۲۱ جلد ۳ مطلب مهم فى حكم سب الشيخين)

﴿۱﴾ قال العلامه الوسى فلو قال شخص أومن برسالة محمد صلى الله عليه وسلم الىٰ جميع الخلق لكن لا ادرى هل هو من البشر اومن الملائكة او من الجن اولا ادرى هل هو من العرب او العجم فلا شک فى كفره لتكذيبه القران و جحده ما تلقته قرون الاسلام خلفا عن سلف و صار معلوما بالضرورة عند الخاص والعام ولا اعلم فى ذلک خلافا ...... فان جحده بعد ذلک حكمنا ه بكفره انتهىٰ. (روح المعانى ص ۱۷۸ جلد ۳ سورة آل عمران آيت: ۱۶۴)

﴿۲﴾ قال ابن عابدين والذى يدعى ان له صاحبا من الجن يخبره عما سيكون والكل مذموم شرعاً محكوم عليهم و على مصدقهم بالكفر و فى البزازيه يكفر بادعاء علم الغيب...... و فى التتار خانيه يكفر لقوله انااعلم المسروقات او انا اخبر عن اخبار الجن اياى...... واما ما وقع لبعض الخواص كالانبياء والاولياء بالوحى او الالهام فهو باعلام من الله تعالىٰ فليس مما نحن فيه ...... وحاصله ان دعوى علم الغيب معارضة لنص القران فيكفر بها الا اذا اسند ذلک صريحا او دلالة الىٰ سبب من الله تعالىٰ كوحى او الهام (ردالمحتار ص ۳۲۵ جلد ۳ مطلب فى دعوىٰ علم الغيب) (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

دې اقتداء اوکړي ګني بدعتیانو پسې هم مونځ کیږي چه کافران نه وي خو بیا هم داسې خلق امامان جوړول نه دي پکار. وهو الموفق.

د پنجپیریانو عقیدې د فرقه سلفیه نجدیه عقیدې دی

سوال: جناب مفتي صاحب بعضې علماء خپل نسبت حقانیه او دیوبند ته کوي ځان سره حقاني او دیوبندي لیکي او د وهابیانو او پنجپیریانو دعقیدو سخت پابندوی، په سوات دیر او کوهستان کښې داسې خلق ډیر دي، ددې خلقو متعلق مونږ ته فتوي راکړئ چه پنجپیریان څنګه خلق دي؟

المستفتي: عبدالرحیم طوروی یارحسین مردان یکم رمضان المبارک ۱۳۸۹

الجواب: د پنجپیریانو عقیدې د فرقه سلفیه نجدیه عقائد دې او دوي د خپلو مزعوماتو د اثبات دپاره په قرآن او حدیث کښې لرې لرې تاویلات کوي چه هغې ته من وجه تحریف وئیل هم څه غلطه خبره نه ده. فقط

پنجپیریان سلفیان او متشدده دی

سوال: نن صبا یوه فرقه ده چه پنجپیریان ورته وائي د شریعت په رڼړا کښې دا خلق څنګه دي؟

المستفتي: ارشد علي پړانګ چارسده...... ۱۵\۳\۱۹۹۰

(بقیه حاشیه) ﴿۳﴾ په دے باندے د امت اکابر علماء کرامو مختلف کتابونه لیکلی دی. فلیراجع الیها

(۱) فتنهٔ مودودیت للشیخ محمد ذکریا مهاجر مدنی (۲) صراط مستقیم للشیخ لدهیانوی

(۳) مودودی خمینی بھائی بھائی (۴) علماء حق کی مودودی سے ناراضگی کے اسباب۔ للشیخ احمد علی لاهوری رحمة الله علیه۔

(۵) صراط مستقیم، سبیل المؤمنین للشیخ عبدالسلام نوشهروی۔ (۶) مودودی مذهب للقاضی مظهر حسین چکوال

(۷) مودودی عقائد اور دستور للشیخ حسین احمد مدنی شیخ الحدیث بدار العلوم دیوبند

(۸) حضرت امیر معاویه اور تاریخی حقائق بجواب خلافت ملوکیت (محمد تقی عثمانی)

﴿۱﴾ قال الحصکفی و یکفره تنزیها امامة عبد ...... و مبتدع ای صاحب بدعة و هی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا بمعاندة بل بنوع شبهة.

(رد المحتار ص ۴۱۴ جلد ۱ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

الجواب: دا سلفیان خلق د فروعي مسئلو﴿۱﴾ په وجه باندې اهلِ اسلام ته کافران وائی ددوي د سختې روئې نه ځان ساتل پکار دي.

د پنجپیریانو سره ترجمه کول څنګه دی؟

سوال: څمونږ په کلي کښې یو حاجي صاحب دخپل کلي د یو عالم نه لفظي ترجمه تړله د قران مجید وئیلې ده بیا ئې روستو دحضرت مولانا شیخ التفسیر والحدیث مولانا عبدالهادی صاحب شاه منصوري سره ترجمه قران مجید اوکړه او دارالعلوم کښې ئې څه کتابونه هم اووئیل بیا ئې روستو په پنجپیر کښې ترجمه اوکړه. اوس صرف دپنجپیر معتقد دې او د خپل کلي د قراني استاذ او دخپل کلی د قرآنی استاذ اودحضرت مولانا شیخ التفسیر والحدیث جناب عبدالهادي صاحب او دارنګې د دارالعلوم حقانیه د استاذانو او مدرسینو ډیر بې ادبه او بد ګویه دې.نو دعلمائې حق د داسې سړي په باره کښې څه حکم دې؟ او په جمات کښې خپل قرانی استاذ پسې مونځ نه کوي او بد عتي ورته وائي او ځان له مونځ کوي.﴿۲﴾ د پنجپیر د معتقدینو او متعلقینو نه ترجمه کول، زده کول او اوریدل څنګه دي؟

المستفتي: جمله ساکنان اضاخیل بالا نوشهره.. ۶\۲\۱۹۶۹

الجواب: دا سړې د فقه سلفیه نجدیه عقیده لری او د خپل مخصوص شیخ پشان د نافرمانئ په جرم کښې مبتلاء دې، او جماعت پریخودل فسق او نفاق دې﴿ ۲ ﴾ (۲) چونکه دا خلق د خپل نجدیت داثبات دپاره د کلام الهي لرې لرې معنې کوي چه یوقسم تحریف دې نو په دې وجه د دوي نه قران وئیل نه دي پکار،

درهما از جهان شود معدوم ..... کس نه آید بزیر سایه بوم، فقط.

﴿۱﴾ کالدعاء بعد السنة والدعاء بعد الجنازة وحیلة الاسقاط، والتوسل با الذوات الفاضله والاعمال الصالحه و زیارة القبور، والاجرة علی ختم القران و طعام اهل المیت وغیرها کما یفهم من کتبهم.

﴿۲﴾ قال ابن عابدین قوله نظام الالفة بتحصیل التعاهد با للقاء فی اوقات الصلوات بین الجیران الی ان قال قوله قال الزاهدی ارادوا با لتاکید (الجماعة) الوجوب اخذاً من استدلالهم با لاخبار الواردة بالوعید الشدید بترک الجماعة و فی النهر عن المفید الجماعة واجبة وسنة لوجوبها با لسنة.

(ردالمحتار ص ۴۰۸ جلد ۱ مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد باب الامامة)

د یو وهابي مولانا د تقریر وضاحت

سوال: تاسو حضراتو ته به معلومه وي چه نن صبا د وهابیانو نازیبا الفاظ په لاوډ سپیکرو باندې خوریږي چه دهغې په وجه باندې څمونږ علاقه ډیره پریشانه ده څمونږ د یومولانا د تقریر الفاظ داسې دي. (۱) حضور ﷺ به خلقوته کنځل هم کول، العیاذ بالله. حضور ﷺ ته ئې د کنځلو نسبت کړې، (۲) وظللنا علیکم الغمام وانزلنا علیکم المن والسلوی په تشریح کښې وائي، څومره تفسیرونو چه د تیارو مړاځانو یعني وریت شو ترجمه کړې هغه ټول غلط او دروغ دي الله پاک دومره وزګار نه دي چه خلقو ته تیار خوراکونه ورکوي او نه هغه اوزګار وو (۳) د جمعې په شپه سورة ملک (تبارک الذي) وئیل عمل صالح نه دي، او هغه اسماعیل به یقیني طور دوزخ ته ځي. (۴) خپل ځان ته دوهابیانو او اصحابو نسبت کوي او غیر وهابیانو ته مشرک وائي. (۵) هرهغه عمل چه رسول الله ﷺ پاس کړې نه وي دهغې بدله به نه ملاویږي، نو آیا داسې سړې به اسلام نه خارج نه متصور کیږي؟ که جواب په نفي کښې وي نو مونږ ورپسې څنګه دی؟

المستفتي: اهلیان تهکال پشاور

الجواب: (۱) پیغمبر ﷺ مسلمانانو ته دکنځلو کولو نه منع کړیده حیث قال سباب المسلم فسوق. ﴿۱﴾ کافرته کنځل په صحیح عرض سره جائز دي. قال الله تعالی لاتطع کل حلاف مهین همّاز مشاء بنمیم مناع للخیر معتد اثیم ﴿۲﴾ (۲) د وریت کړې شو مرزانو ناز لیدل غیر تحقیقي خبره ده نو ددې انکار کولو والا سړې مسلمان دې (۳) دده دا خبره چه فلانکې به یقیني طور دوزخ ته ځي دا یقیناً غلطه ده که د خاص کس متعلق وي او که دعام او د سورة الملک تخصیص کول جمعې د شپې پورې د فقهاؤ د اصولو نه خلاف دي ﴿۳﴾ (۴) دا قسم غلو کول حرام او بدعت دي ﴿۴﴾ (۵) صحیح خبره ده. ﴿۵﴾ او پاتې شوه دا خبره چه د

﴿۱﴾ (مشکواة المصابیح ص ۴۱۱ جلد ۲ باب حفظ اللسان والغیبة والشتم)

﴿۲﴾ (پ: ۲۹ سورة قلم رکوع: ۱ آیت: ۱۰، ۱۱، ۱۲)

﴿۳﴾ قال ابن نجیم ولان ذکرالله تعالیٰ اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشيء دون شيء لم یکن مشروعاً حیث لم یرد الشرع به (بحرالرائق ص ۱۵۹ جلد ۲ باب العیدین)

﴿۴﴾ عن ابی ذر انه سمع النبی ﷺ یقول لایرمی رجل رجلاً بالفسوق ولا یرمیه بالکفر الاارتدت علیه ان لم یکن صاحبه کذالک. (صحیح البخاری ص ۸۹۳ جلد ۲ باب ماینهیٰ من السباب واللعن)

﴿۵﴾ عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ من احدث فی امرنا هذا مالیس منه فهورد. متفق علیه (مشکواة المصابیح ص ۲۷ جلد ۱ باب الاعتصام بالکتاب والسنة)

کوم عمل وهابیانو او نجدیانو نه وي پاس کړې ثواب به نه ملاویږي غلطه ده، فقط کوم اهل حدیث چه ددې سړي پشان د غلو نه ډک وي دهغوي پسې اقتداء کول مکروه ده.

ایراني شیعه ګان او نجدي خلق

سوال: مونږه سره یو پاکستاني دي چه دهغه تعلق د پنجپیریانو د ډلې سره دي، هغه وائي چه ټول ایرانیان مشرکان او کافران دي نو آیا مونږ دوی ته مشرکان او کافران وئیلې شو؟

المستفتي: ضیاء الرحمان اصفهان جمهوري اسلامي ایران ۱۲۲ جون ۱۹۸۴

الجواب: ټول ایرانیان نه شیعه ګان دي او نه مشرکان، اونه ټول شیعه ګان کافران او مشرکان دي. ﴿۱﴾ البته ټول نجدیان ټول په ټوله متشدد دي. وهوالموفق

د محمد بن عبدالوهاب نجدي متعلق وضاحت

سوال: علمائې دین ددې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه زید وائي، محمد بن عبدالوهاب، نجدي حنبلي مذهب والا وو او پوخ مسلمان وو خو په مزاج کښې ئې جلال ضرور وو. او بکر وائي چه هغه ګمراه وو، نو ددې متعلق وضاحت اوکړئ چه محمد بن عبدالوهاب نجدي څنګه سړې وو؟

المستفتي: شاه محمد مدرسه فیض العلوم پشین بلوچستان ۱۲۲ جولائي ۱۹۸۴ھ

الجواب: محمد بن عبدالوهاب او دهغه متبعین مسلمانان دي د دین د ضروریاتو نه منکر نه دي البته د اشداء علی الابرار والرحماء بالکفار د رویې په وجه باندې د خوار جونه شمار کړې شوې دي او دا خلق په بعضې اصولو او فروعو کښې ځانله دي د حنابله ؤ نه هم مخالف دي. ﴿۲﴾ کما یدل علیه کلام الذهبي في حق امامهم ابن تیمیه. ﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال ابن عابدین ان الرافضی ان کان ممن یعتقد الالوهیة فی علی او ان جبریل غلط فی الوحی او کان ینکر صحبة الصدیق او یقذف السیدة الصدیقة فهو کافر لمخالفة القواطع المعلومة من الدین بالضرورة بخلاف ما اذا کان یفضل علیا او یسب الصحابة فانه مبتدع لا کافر. الخ (رد المحتار ص ۳۱۴ جلد ۲ فصل فی المحرمات مطلب مهم فی وطء السراری اللاتی ....)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین الظاهر من کلام الاختیار وغیره ان البغاة اعم فالمراد بالبغاة ما یشمل الفریقین ولذا فسر فی البدائع البغاة بالخوارج لبیان انهم منهم وان کان البغاة اعم وهذا الیٰ ان قال ابن عابدین فی زماننا فی اتباع عبد الوهاب الذین خرجوا من نجد وتغلبوا علی الحرمین وکانوا ینتحلون مذهب الحنابله لکنهم اعتقدوا انهم هم المسلمون وان من خالف اعتقادهم مشرکون واستباحوا بذلک قتل اهل السنة وقتل علمائهم حتیٰ کسر الله تعالیٰ شوکتهم وخرب بلادهم وظفر بهم عساکر المسلمین عام ثلاث وثلاثین ومائتین والف. (ردالمحتار ص ۳۳۹ جلد ۳ مطلب فی اتباع عبدالوهاب الخوارج فی زماننا باب البغاة)

﴿۳﴾ (والتفصیل فی التذکرة للذهبی)

د وهابیانو مذهب او دَ حق مذهبونو تعداد

سوال: (۱) په وهابیانو باندې د کفر اطلاق کیږي که نه؟ (۲) وهابیان چه د خلقو د سپږونو نه د تقلید لرې کولو دپاره کوم مالونه ورکوي آیا دا مال خوړل حلال دي که نه؟ (۳) محمد بن عبدالوهاب نجدي د کوم مذهب مقلد وو (۴) حق مذهبونه څومره دي؟ آیا د څلور مذهبونو نه علاوه چه یو بل مذهب وي د هغې تقلید به واجب وي که نه؟

المستفتي: مجاهد عبدالرحمان حنفي افغانستان...۵ ربیع الثاني ۱۴۰۵ھ

الجواب: (۱) وهابي بې ادبه او ایماندار سړي دي کافر نه دي (۲) ددوی مال اخستل د غیرت نه خلاف دي حرام نه دي (۳) محمد بن عبدالوهاب نجدي د امام احمد بن حنبل د مذهب دعوي کونکي وو، لیکن په بعضې اصولو اوفروعو کښې ځانله وو (۱) (۴) اهل سنت والجماعت پنځه واړو فرقوته وائي یعني څلور واړه امامان او غیرغالی اهل حدیث. وهو الموفق

وهابیان بې ادبه او ایماندار دي

سوال: د وهابیانو څه عقیده ده او د چا مقلدین دي دوي پسې مونځ کول جائز دي یا نه؟

المستفتی: فصیح الرحمان پبي پبنور.....۱۹ اکتوبر ۱۹۸۷ء

الجواب: وهابیان د محمدبن عبدالوهاب نجدی، ابن قیم او ابن تیمیه وغیره متبعینو ته وائي دا خلق د شرعي توسل، د قبرونو د زیارت دپاره سفر کولو او د مرګ نه پس د کرامت پشان حقیقتونو نه منکر دي دا خلق بې ادبه خو ایماندار دی دوی پسې بغیر ضرورته مونځ کول مکروه تحریمي دي (۲) والله اعلم بالصواب

---

(۱) قال ابن عابدين فى زماننا فى اتباع عبدالوهاب الذين خرجوا من نجد و تغلبوا على الحرمين و كانوا ينتحلون مذهب الحنابله لكنهم اعتقدوا انهم هم المسلمون وان من خالف اعتقادهم مشركون و استباحوا بذلک قتل اهل السنة و قتل علمائهم الخ
(ردالمحتار ص ۳۳۹ جلد ۳ باب البغاة مطلب اتباع عبد الوهاب الخوارج)

(۲) قال الحصكفى و يكره امامة عبد .... واعرابى ...... و فاسق و اعمىٰ ...... و مبتدع ...... و كل من كان من قبلتنا لا يكفر بها حتى الخوارج قال ابن عابدين اراد بهم من خرج عن معتقد اهل الحق.
(الدرالمختار وردالمحتار ص ۴۱۴، ۴۱۵ جلد ۱ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

نجدیان او بریلیان په افراط او تفریط کښې مبتلا دی

نوټ: یو مفصل استفتاء چه په هغې کښې د نجدیانو او بریلیانو د افراط او تفریط ذکر وو چرته ورکه شوه په تلاش کولو سره هم ملاؤ نه شوه دهغې په جواب کښې حضرت مفتي اعظم مرشد عالم دا څو کرښې جواب لیکلي ؤو.

الجواب: مونږ نه د بریلویت حمایت کونکی یو او نه د نجدیت دعوت ورکونکي د افراط اوتفریط دواړو نه ویزاره یو (۱) تاسو هغه قصې معجزې او کرامتونه را اولیږئ چه مونږ صحیح فتوی ورکړی شو. فقط

د وهابیانو او سلفیانو د مخ نیوی فیصله صحیح ده

سوال: څمونږ د شمالي وزیرستان علاقې خلق ټول حنفي او دیوبندي مسلک لري اوس د بعضې عربي مملکتونو نه بعضې مهاجر د کنړ افغانستان په ذریعې سره ډیرې پیسې اخلي او په دې سره د وهابیت او سلفیت خورول کوي في الحال خو په خیمو کښې مدرسې جوړوي خو روستو ئې د ترقئ اراده شته دې نو مقامي علماؤ فیصله کړې ده چه ددې فتنې په وخت باندې مخ نیوې پکار دې چه عوام د فساد او خانه جنګئ نه محفوظ شي نو آیا دا فیصله او اقدام صحیح او جائز دي یا نه؟

المستفتي: مولانا حاجي محمد صاحب وعلماء شمالي وزیرستان ۱۹۸۲ء۱۱۱۱/۱۲

الجواب: الحمد لله و سلام علي عباده الذين اصطفي امابعد! ستاسو دا مخ نیوې او حفظ ما تقدم صحیح او د شاباس لائق دې ځکه چه دا فرقه سلفیه وهابیه د خیرالقرون په یو امام باندې هم اعتماد نه کوي او د غې امامانو چه د قران او حدیث کومه تشریح کړې دوي ساده عوام د هغې نه بد ګمانه کوي او خپلې تشریح طرفته دعوت ورکوي. دا فرقه شخصي تقلید ته شرک وائي او امامانو ته ارباب من دون الله وائي، او دبې خبره خلقو ذهن جوړوي چه امام اعظم صاحب به رائې په حدیث باندې وړاندې ګڼړله او حال دادې چه د شخصی تقلید مشروعیت (جائز والې) د قران او حدیث او خیرالقرون نه ثابت دي او

---

(۱) عن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ الامر ثلثة امر بين رشده فاتبعه و امر بين غيه فاجتنبه وامر اختلف فيه فكله الى الله عزوجل رواه احمد.
(مشكواة المصابيح ص ۳۱ جلد ۱ باب الاعتصام بالكتاب و السنة الفصل الثانی)

دهرې زماني لوئې خلق مفسرين، محدثين، شارحين حديث، فقهاء او تصوف والا د تقليد شخصى پابند پاتې شوي دي. او په دوى كښې بالخصوص احناف ټول مجتهدين په حقه باندې منى. او د نورو امامانو مقلدين دخپل ځان پشان مسلمانان ګڼړي او د يو امام توهين او ورته كنځل كول جائز نه ګڼړي او په كومو مسئلو كښې چه صحابه كرامو كښې اختلافات پاتې شوي مثلاً قرآة خلف الامام، رفع اليدين، آمين بالجهر وغيره نو په هغې كښې د دواړو طرفو نو دليلونه ذكر كوي او راجح او غوره په دليلونو سره متعين كوي او د مرجوح قول په قائلينو باندې طنز نه كوي او نه هغوي له خپلې رائې طرفته دعوت وركوي د سلفيه ډلې د رويې پشان نه دي. نو د كومو ښارونو اكثر خلق ياټول اوسيدونكي چه احناف وي د غيرت او مذهبي حميت نه ډک وي نو په داسې ښآرونو كښې د سلفيانو وهابيانو پشت پناهي كول او هغوي له د مدرسو دپاره ځائې وركول دائمه دين په توهين كښې ناجائزه تعاؤن دې او د عوامو تباهي او بد خواهي ده ځكه د تجربې نه ثابته ده چه سلفيان او وهابيان د كنځلو وينا ګانو اوتشدد نه نۀ منع كيږي نه نو خامخابه جنګ جګړې ته خبره رسيږي او د كميونزم سره د جنګ په ځائې به په مسلمانانو كښې جنګونه جوړشي او بله دا چه دا سلفيان او وهابيان د يو څو مسئلو نه علاوه د نور علم نه بالكل خالي دي نو لازماً به عام خلق د اسلام نه بد ګمانه شي او وائي به چه اسلام څنګه مكمل ضابطه حيات دې په دې كښې څمونږ د ټولو مسئلو حل نشته

نو ددې مفاسدو په بنا باندې دې سلفيانو وهابيانو ته ځائې وركول حرام دي ځكه چه د مفاسدو ذريعه هم خرابه وي په ټولو بااثره مسلمانانو باندې لازم دي چه ددې فتنې په وخت باندې مخ نيوې او كړې او د ډير افسوس خبره دا ده چه بعضې عربي ملكونو ددې مصلحت په وجه باندې تبليغي جماعت خلاف قانو ن ګرځولې ځكه چه په تبليغ كښې وخت لګولو سره په خلقو كښې دينَي شعور پيدا كيږي او د بې ديني او فُسق او فجور مقابله شروع كيږی نوهسې نه چه حكومت والا د هغې نه متاثره شي او د احنافو په نزد حنفي مذهب ډير اهم دې او حفاظت ئې واجب دې نو هغوي به څنګه ددې ډلې مفاسد نظر انداز كړي. وهو الموفق

فصل في مايتعلق بالجماعت التبليغية

بسم الله الرحمن الرحيم

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ أُمَّةٌ
يَدْعُوْنَ إِلَى الْخَيْرِ
وَيَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ
وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ط
وَأُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۴﴾

فصل في مايتعلق بالجماعت التبليغية

تبليغي جماعت او د عام سړي د تبليغ حکم او د تبليغي جماعت مخالفت

سوال: (۱) د تبليغي جماعت څه حکم دي؟ (۲) عام بې علمه سړي تبليغ کولې شي او که نه؟ (۳) د تبليغي جماعت مخالفت څنګه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوی خيرګل ارباب ګړهی چارسده ۲ ربيع الا ول ۱۴۰۲ هجري

الجواب: (۱) تبليغي جماعت يو نيک او بااثره جماعت دي او د اسلام په خدمت کښې د ټولو خلقو نه مخکښې مخکښې دې او دارنګې صحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعين د تبليغي محنت نقشه په دې خلقو کښې ښکاره ده.

(۲) عام بې علمه سړې د تبليغ اهل نه دې(۱) ليکن په اصلاحي پروګرام کښې د حصې اخستلو ډير زيات محتاج دي. (۳) دا مخالفت د دين د شمني ده البته ځوک چه د حد نه تجاوز کوي د هغوي اصلاح ضروري ده. (۲)

تبليغي جماعت د ديو بند مسلک لري

سوال: (۱) بعضې خلق وائي چه په تبليغي جماعت کښې وهابيان او پنجپيريان خلق ډير دي دوي سره مه اوځي، داسې کس خو به ګناه ګاريږي نه؟ (۲) بعضې خلق وائي چه د بې علمه سړي د بيان سره هغه پخپله او اوريدلو والا ټول کافران کيږي آيا دا خبره صحيح ده؟ (۳) بعضې خلق وائي چه په تبليغ کښې د يوې روپې ثواب اووه لاکهه او ديو مونځ ثواب يو کم پنځوس کروړه دا بالکل بې سنده خبره ده. ددې څه حکم دې؟

المستفتي: فضل واحد سالارزئ باجوړ.... ۲۳ رمضان ۱۴۱۰ھ

---

(۱) وفى الهنديه الامر بالمعروف يحتاج الى خمسة اشياء اولها العلم لان الجاهل لا يحسن الامر بالمعروف الخ (فتاوىٰ الهنديه ص ۳۵۳ جلد ۵ كتاب الكراهيه الباب السابع عشر)

(۲) عن جرير بن عبدالله البجلى رضى الله عنه قال بايعت رسول الله ﷺ على اقام الصلاة وايتاء الزكاة والنصح لكل مسلم. (صحيح البخارى ص ۱۳ جلد ۱ كتاب الايمان باب قول النبى ﷺ الدين النصيحة)

الجواب: (۱) په رائې ونډ کښې د سنتو نه وروستو دعا کول او ذحیلۀ اسقاط معمول نشته نو په دې وجه باندې عوام بدگمانئ کوي گڼي نو دا جماعت دیوبند مسلک ساتي. (۲) دا دروغ او جاهلانه کلام دې (۳) دا ثواب د دوو حدیثو نو د ملاوهلو په وجه سره د مجاهدینو، حاجیانو او طالبانو او تبلیغیانو دپاره ثابت دې. ﴿۱﴾ ثواب دیوې ډلې پورې خاص کول تحریف معنوي دې، وهو الموفق

په رائې ونډ او تبلیغی جماعت مشرانو باندې اعتراض کول

سوال: آیا رائې ونډ ته تلل جائز دي او د تبلیغي جماعت په علمائې کرامو باندې د اعتراض کولو څه حکم دې؟

المستفتي: هدایت خان ملاکنډ ایجنسي.....۱۴ صفر ۱۴۰۵ھ

الجواب: رائې ونډ ته تلل جائز دي او د تبلیغي جماعت مشران اولیاء الله دي په هغوي باندې بې ځایه اعتراضونه کول د اعتراض والؤ دپاره ښه نه ښکاري.

ددین تبلیغ فرض دې یا مستحب او د ثواب تخصیص کول

سوال: ددې مشهورې طریقې چه د مولانا محمد الیاس صاحب تبلیغي سلسله ده ددې څه حکم دې چه تبلیغ فرض دې یا واجب دې یا سنت دې او یا مستحب، که مستحب وي نو چه کوم حضرات د فرض واجب سنت عقیده لري نو دهغوي شرعي حکم څه دې؟. (۲) که مستحب وي نو دومره اهتمام کول چه د غریبو مسلمانانو د رائې ونډ اجتماع ته د کعبې شریفې د حاضرئ نه هم زیاته درجه ورکول په شریعت کښې څه حکم لري؟ (۳) په تبلیغ کښې یو مونځ کول د کروړونو مونځونو کولونه بهتر دي او یو درهم خرچ کول دلکهونو روپو دخرچ او خیرات کولو نه بهتر گڼړل څه حکم لري؟

المستفتي: مولوي امیر حکم شاه بنون.......۲۳ جمادي الاولي ۱۳۹۳ھ

الجواب: (۱) تبلیغ دین فرضِ کفایه دې او اصلاحِ نفس (یعني ځان په فضائلو سره

﴿۱﴾ (اما الاول رواه ابن ماجه ص ۱۹۸ باب من جهز غازیا والثانی رواه ابوداؤد ص ۳۳۸ جلد ۲ فی باب تضعیف الذکر فی سبیل الله)

ښائسته کول او د رذیل صفاتونه ځان خالي کول) فرض دی (کما اشیرالیه في ردالمحتارص ۴۰ ج ۱) ﴿۱﴾ او ظاهراً ددې جماعت اصل مقصد دویم کار معلومیږی نو ددې مقصود دپاره سفر اختیارول مستحب دي. ځکه: لان قطع العلائق و ترک المالوفات یمدان في حصول تلک المقصود. (۲) د مرتبو فرق ضروری دې. قاضي پانی پتی فرمائي. گرفرق مراتب نه کني زندیقي. (۳) د في سبیل الله لفظ دوې ته هم شامل دې نو ددې فضائلو کیدل څه لرې خبره نه ده خو تخصیص ئې دې جماعت سره کول لکه چه بعضې عوام ئې کوي غلط فهمي او بد فهمي ده. فقط

د شب جمعې تخصیص او رائې ونډ له په حج باندې فوقیت ورکول

سوال: (۱) د تبلیغي جمات څه حکم دې. ؟ او آیا یو کم پنځوس کروړه والا حدیث شته که نه؟ (۲) شبه جمعه مقرر کول ددې څه حکم دې په حدیث کښې خو راغلي دی چه لا تختصوا لیلة الجمعة لصیام الخ (۳) بعضې تبلیغیان رائې ونډ ته تللو ته د حج نه هم زیاته درجه ورکوي آیا دا صحیح ده؟

المستفتي: مولوی غلام محمد کوهستاني ضلع دیریکم ربیع الثانی ۱۴۰۲

الجواب: (۱) تبلیغي جمات یو نیک او باآثره او کارکونکې جماعت دې او د في سبیل الله والؤ په حق کښې دا ثواب د مختلفو حدیثو نه ثابت دې خو دا فضیلتونه صرف ددې جماعت سره خاص کول صحیح نه دي. (۲) که دا د وخت او ځائې تعین د ځان وزگارولو په نسبت سره وي نو جائز دي. گڼي نو بیا به بدعت وي او په دې کښې دلیل روایت دامام بخاري دې د ابن مسعود رضی الله عنه ﴿۲﴾

﴿۱﴾ قال ابن عابدین قوله وعلم القلب ای علم الاخلاق وهو علم یعرف به انواع الفضائل و کیفیة اکتسابها وانواع الرزائل و کیفیة اجتنابها اه ح وهو معطوف علی الفقه لاعلی التبحر لما علمت من ان علم الاخلاص والعجب والحسد والریاء فرض عین ومثلها غیرها من افات النفوس کاالکبر والشّح والحقد والغش والغضب والعداوة والبغضاء الخ. (ردالمحتار ص ۳۲ جلد ۱ مطلب فرض العین افضل من فرض الکفایة مقلمه)

﴿۲﴾ عن ابن مسعود قال کان النبی صلی الله علیه وسلم یتخولنا بالموعظة فی الایام کراهة السامة علینا.
(صحیح البخاری ص ۱۶ جلد ۱ ما کان النبی صلی الله علیه وسلم یتخولهم بالموعظة والعلم. کتاب العلم)
وفی تحقیق تجرید البخاری یتخولنا ای یتعهدنا والمعنی انه کان یراعی الاوقات فی تذکیرنا ولایفعل ذلک کل یوم لئلا نمل (التجرید الصریح لاحادیث الجامع الصحیح ص ۳۹ جلد ۱ رقم حدیث: ۶۲) (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

(۳) رائي وئي له په حج باندې فوقيت ورکول غلطي ده دا د تبليغي جماعت خبرې نه دي بلکه د بعضې بې علمه خلقو د حد نه تجاوزونه دي ځکه چه حاجي، عمري والا، مجاهد، استاد، طالب علم وغيره هم د الله په لاره کښې وتلي دي. خلاصه دا چه دا جماعت د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم ديني دعوت چلونکې دې او په دې کښې وخت لګول ډير بهتر کار دې ځکه چه د بعضې خلقو د بې اعتدالۍ په وجه باندې ټول جماعت غلط ګڼړل دا هم غلطي ده. وهو الموفق

د تبليغي جماعت تنظيمي هيئت اوفضائل وغيره په دې جماعت کښې منحصر کول

سوال: (۱) د بعضې تبليغيانو نه اوريدلې شويدي چه بسترې اخستل او چلې له تلل دا د حضور صلی اللہ علیہ وسلم ترتيب دې اوددې ترتيب نه علاوه خلق دين ته راوستل ډير مشکل دي، نو آيا دا خبره صحيح ده چرته بدعت خو به نه وي. (۲) د جهاد آيتونه او فضيلتونه د تبليغ دپاره استعمالول څنګه دي؟ (۳) د يو کم پنځوس کروړه ثواب دالله په لاره کښې وتونکې دپاره څه حکم دې؟

المستفتي: مولوی عبدالرشيد اورکزئ ايجنسي کوهاټ ۷ذي قعده ۱۴۰۴

الجواب: که دا طريقه په خيرالقرون کښې وې نو بيا به حضرت مولانا محمد الياس رحمۃ اللہ علیہ ته د جماعت مشر وئيل غلط وي خو حقيقت دادې چه دا تنظيمي طريقه بذاته د خيرالقرون نه ثابت نه ده ليکن اصل دليل ئې ثابت دې بدعت سيئه نه ده (۲) دا آيتونه په تبليغي جماعت کښې منحصر کول معنوي تحريف دې خو په ديکښې دا جماعت ور دننه کول صحيح دي. (۳) دا ثواب د هر هغه سړي دپاره دې چه د الله تعالی په لاره کښې اوځي برابره خبره ده چه هغه مجاهد وي يا حاجي وي، طالب علم يا تبليغ والا وي وغيره وغيره، وهو الموفق

(بقیه حاشیه گزشته صفحه) وعن عكرمة ان ابن عباس قال حدث الناس كل جمعة مرة فان ابيت فمرتين فان اكثرت فثلث مرات ولا تمل الناس هذاالقرآن الخ الحديث (مشكواة المصابيح ص ۳٦ جلد ۱ كتاب العلم) وعن شقيق كان عبدالله ابن مسعود يذكر الناس فى كل خميس فقال له رجل يا اباعبد الرحمن لوددت انک ذكرتنا فى كل يوم قال اما انه يمنعنى من ذلک انى اكره ان املكم وانى اتخولكم بالموعظة كما كان رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم يتخولنا بها مخافة السامة علينا متفق عليه. (مشكواة المصابيح ص ۳۳ جلد ۱ كتاب العلم)

﴿۱﴾ قال ابن عابدين بدعة محرمة والا فقد تكون واجبة كنصب الادلة للرد على اهل الفرق الضالة وتعلم النحو المفهم للكتاب والسنة ومندوبة كا حداث نحو رباط ومدرسة وكل احسان لم يكن فى الصدر الاول. الخ (ردالمحتار ص ۴۱۴ جلد ۱ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

د تبليغي جماعت د عقائدو متعلق د يو پمفلټ جواب

سوال: د موجوده تبليغي جمات د غلطو عقيدو بيان، په عنوان سره يو دوؤ پاڼړو والا مضمون د پمفلټ په شکل کښې جاري شوې دې چه په هغې کښې ئې تبليغي جماعت جبريه وغيره ثابت کړې. چه هغه يو پير شائع کړې او تبليغي جماعت ته يې بې دينه او ګمراه وئيلې دي. دا مضمون هم درليږم ددې متعلق وضاحت اوکړئ؟

المستفتي: نامعلوم............يکم ذي الحجه ۱۴۰۲

الجواب: تبليغي جمات صالح او ناجيه دې او جبريه نه دې خودې اعتراض کونکي په (الله خالق كل شئ) وما تشاءون الا ان يشآءالله ﴿۱﴾ ايتونو باندې غورنه دې کړې، د غلط فهمۍ يا بدفهمۍ په وجه باندې ، ،مخلوق پريږدئ او خالق سره جوړ اوساتئ، ، جملو ته جبر اووئيل، د موجوده زمانې رسمي پيرانو د خانقاهونو په نسبت په دې جماعت کښې وخت لګولو سره زر اصلاح کيږي پدې جماعت کښې وخت لګولو سره د مونږ د صحيح کولو نعمت حاصليږي او په خندا او قهقهې سره د مونږ د فاسديدلو د لعنت نه حفاظت حاصليږي. وهو الموفق

په تبليغي جماعت کښې د وخت لګولو والا د پاره شرطونه او آداب

په تبليغي جماعت کښې د وخت لګولو والا دپاره ددې کارونه خيال ساتل ضروري دي. چه دا اعتراضونه ختم شي. (۱) مدرس عالم دې د تعليم په وخت کښې ډير وخت نه ورکوي. (۲) طالب علم دې د تعليم په وخت کښې تبليغ کښې نه ځي. (۳) غريب بال بچه دار چه د خرچې پوره انتظام ئې نه وي هغه دې وخت نه ورکوي. (۴) واده کړې شوې سړې دې د کور والا (ښځې) د اجازت نه بغير څلور مياشتې يا زيات وخت نه ورکوي.

﴿۱﴾ (پاره: ۲۴ سورة الزمر آيت: ٦۲)
﴿۲﴾ (پاره: ۲۹ سورة الدهر آيت: ۳۰)

(۵) د چا مور او پلار چه محتاج وي هغه دې نه ځي دومره ده چه دې سرو له په شب جمعه او مختصر پروګرامونو باندې اکتفا کول پکار دي. (۶) دا چلې وغیره به سنت نه ګنړي او دا خاص طریقه د صحابه کرامو عمل ګنړئ. (۷) د في سبیل الله احکامات او فضیلتونه دې په تبلیغ کښې منحصر نه ګنړی بلکه جهاد، سیاست، حج او تعلیم دې هم په دې کښ داخل ګنړی. (۸) تبلیغ، سیاست، تدریس، خطابت او ناظره وغیره دا ټول خدمتونه تقسیم کار ګنړل د یو نه دې هم بې توجهی نه کوی. (۹) د جماعت مالدار حضرات دې صرف په وخت ورکولو باندې اکتفا مه کوئ بلکه هر مناسب ځائې کښې د مقامي مسلمانانو دپاره په منظم طریقې سره د درس او تدریس انتظام اوکړئ. (۱۰) د ترغیب او ترهیب نه علاوه چه د کومو کارونو علم زده کول فرض عین وي د هغې زیات اهتمام کوئ. مثلاً (۱) هغه ټولې عقیدې چه د ایمان دار و مدار دي. (۲) هغه عبادتونه چه فرضِ عین وي مثلاً مونځ، روژه او د غني دپاره زکوة او حج، (۳) هغه معامله چه د معاش ذریعه ئې جوړه کړې وي. (۴) او ټول نیک او بداخلاق او د هغې علامتونه او د حاصلولو او لرې کولو بند وبست کول. ولا حول ولا قوة الا بالله.

مرشد عالم فقیه العصر حضرت مفتی اعظم مولانا (مفتی محمد فرید عفی عنه دامت برکاتهم شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوړه خټک)

د حضرت مفتی اعظم صاحب په هدایاتو باندې

د علامه شمس الحق افغاني صاحب تقریظ

الجواب: د مسنون سلام نه پس عرض دادې چه ځه مریض یم په بستره پروت یم. تبلیغي جماعت د خپل نیک او دیني علاماتو په اعتبار سره بهترین جماعت دې او د اصلاح دپاره یوه موثر ترینه ذریعه ده. او اصل کښې تبلیغ دعوامو دپاره یوه داسې فریضه ده چه د پخوانه د صحابه کرامو د وخت نه راروانه ده باقي انتظامي امور داسې دي چه دا د اصل تبلیغ په حق کښې موجب دقدح نه دی. د سلفو په زمانه کښې دینی تعلیم په جماتونو کښې جاری وو، نه مدرسې کهلاؤ شوې، نه د حاضرئ رجسټر وو، نه د داخلې

امتحان وو نه سه ماهی، نه شش ماهی، او نه سالانه امتحانونه وو، لیکن د هغې نه پس مدرسې جوړې شوې نصاب مرتب شو د طالبانو د حاضرئ رجسټر او د امتحانونو سلسله شروع شوه. چرته یو رباني عالم په دې باندې اعتراض نه دې کړې او د الحاد او بې دینئ په دې دور (زمانه) کښې د تبلیغي جماعت کوششونه د هدایت ډیوه ده. تاسو (مفتي اعظم صاحب) چه کوم لس تجویزونه پیش کړي دي د تبلیغ مشرانو له پکار دي چه د دې خیال او ساتي چه اسلامي ټولې شعبې د تعلیم اسلامي د حقوقو دپاره کوم چه د تبلیغ بنیاد دي، وخت ملاؤ شي، او د تبلیغ مشران د انحصار د فتنې نه بچ شی. بلکه د عقائدو، اخلاقو، فقهي احکام، معاملات او د معاشرې د احکامو علم دې هم حاصل کړي او تبلیغ دې او کړي لیکن د دې کمزورو په وجه باندې جاري شوې د تبلیغ سلسله بندول او په هغوي باندې د اعتراضونو نتیجه د دین دا آخرئ ډیوه هم مړه کول دي. او د جهالت تیارو ته قوت ورکول دي، په تبلیغ کښې شامل شئ. او د دوي د کمزورو اصلاح اوکړئ.

فقط والسلام: حضرت العلامه مولانا (شمس الحق افغانی) صاحب رحمة الله علیه

۸ محرم الحرام ۱۳۹۲ھ

د یو کم پنځوس کروړ ضرب اودَ مروجه تبلیغ او جهاد او تعلیم حکم

سوال: علمائې کرام او مفتیان عظام د دین د لاندینو مسائلو په باره کښې څه فرمائی! (۱) تبلیغی جماعت والا دا الله په لار (تبلیغ) کښې وتلو سره د یو مونځ د اداکولو اجر او ثواب یو کم پنځوس کروړه ښائی. آیا د قرآن او حدیث نه دا خبره ثابته ده براه کرم د حدیث تعین اوکړئ، او د امو اوریدلي دي چه د بعضې حدیثو نو د ضرب نه دا تعداد حاصلیږي نو آیا دا ضرب ورکول صحیح دي؟ (۲) او که ضرب ورکول صحیح شي نو بیا خو که یو سړې مسواک استعمال کړي او مسجد کښې باجماعت مونځ اوکړي نو په مسواک باندې اویا درجې ثواب زیات شو او په مسجد کښې د جمعې مونځ کولو سره ۲۵ درجې زیات شو نو ۲۵۷۰ شو چه د هغې نه تقریباً ۱۷ لاکهه پنځوس زره جوړیږي. او که په رمضان کښې ئې ادا کړي نو د یو فرض ادا

کول د اویا فرضونو د ادا کولو برابر دي.نو ضرب حاصل به یو کروړ ۲۲ لاکهه او پنځوس زره مونځونه جوړ شی نو که اوس دا سړي دا سې تعبیر اوکړي چه د رمضان په میاشت کښې دمسواک استعمال او یو مونځ د جمعې سره کولو باندې یو کروړ دوه ویشت لاکهه پنځوس زره مونځونو ثواب ملاویږي، او چه دغه شان ورله په بیت الله کښې د مونځ کولو ضرب ورکړي نو ربه هم زیات شي نو آیا دغه شان د ضرب دا سلسله صحیح ده؟ (۳) مروجه یو خاص طریقې سره، خروج في سبیل الله د کومې پورې صحیح دې؟ او آیا د مدرسو طالبان د في سبیل الله په ډلو کښې راتللې شي؟ (۴) دافغانستان د جهاد څه حکم دې؟ د افغانستان او کشمیر په عملی جهاد کښې شرکت او په مروجه خروج في سبیل الله کښی کوم یو بهتر دې؟ (۵) دارنګې دا خلق د چلې متعلق دا وائي چه د قرآني چله.وواعدنا موسیٰ ثلاثین لیلة واتممناها بعشرة فتم میقات ربه اربعین لیلـــة. نه مراد اعتکاف او بستره اخستل او وتلو ته چله وائي، دوې څه حکم دې؟

المستفتي:حافظ عني الرحمان جامعة العلوم الاسلامیه
بنوری تاؤن کراچی نمبر۵..۱۹۹۰\۱۱\۲۲

الجواب: نحمده ونصلي علي رسوله الکریم،اما بعد! د الله تعالی په لاره کښې د مونځ ګزار متعلق دمونځ ثواب یو کم پنځوس کروړه کیدل د حدیث نه ثابت دي.

قال رسول اللـه ﷺ و من غزا بنفسه فی سبیل الله و انفق فی وجهه ذالک فله بکل درهم سبعمائة دراهم رواه ابن ماجه ﴿۱﴾ و قال رسول الله ﷺ ان الصلاة و الصیام والذکر یضاعف علی النفقة فی سبیل الله عزو جل بسبعمائة ضعف رواه ابو داؤد فی باب تضعیف الذکر فی سبیل الله.﴿۲﴾ (۷۰۰×۷۰۰۰۰۰=۴۹۰۰۰۰۰۰).

ددې حدیث په عبارت کښې اګر چه د مونځ ګزار ذکر شوې دې لیکن د حدیث د دلالت نه دا ثواب هر هغه چا دپاره ثابت دې چه د اعلاء کلمة الله او ددین اشاعت کوي مثلاً معلم متعلم،مجاهد او مبلغ وغیره، (۲)او چه کله په مسجد حرام کښې دیو مونځ ثواب یو لاکهه درجې زیات دې او چه دا مونځ سره د جمعې وي او دهغې په اودس کښې مسواک هم

﴿۱﴾(سنن ابن ماجه ص ۱۹۸ باب من جهز غازیاً)
﴿۲﴾(سنن ابی داؤد ص ۳۴۳ جلد ۱ کتاب الجهاد باب تضعیف الذکر فی سبیل الله)

استعمال شوې وي نو ددې مونځ ثواب اوولس کروړه او پنځوس زره کیدل څه لرې خبره خونده، یعني داسې شو (۱۰۰۰۰۰ + ۲۵ = ۲۵۰۰۰۰۰ + ۷۰ = ۱۷،۵۰،۰۰،۰۰۰)

(۳) تعلیم او تبلیغ بذاتِ خود فرائض دي او ددې د مدرسو او مرکزونو او جماعتونو په شکل کښې کیدل بدعاتِ مستحدثه مستحسنه دي.﴿ ۱﴾ او د وخت مصلحتونه دي، او خروج في سبیل الله دواړو ته شامل دي او خروج في سبیل الله د یو څیز سره محضوص کول تحریف او جهالت دې. (۴) د افغانستان جهاد شرعي جهاد دې لیکن د جهاد په نسبت سره علم ډیر اهم دي ددې وجې نه فقهاء کرام فرمائي چه فقیه مفتي وغیره به د جهاد دپاره نه ځي ﴿ ۲﴾ او عمل او اصلاحي پروګرامونه د علم نه کمه درجه لري.,,ولهـــذا قالوا العلم قبل العمل،،اوهم په دې وجې باندې د مصلحینو استثناء نه ده شوې. (۵) دا چلې وغیره اصلاحي پروګرامونه دي په دیکښې ضروري ده چه دنصوص سره ئې تکراؤ نه وي لکه چه دمسلم شریف په حدیث کښې ورته اشاره شویده اعرضو اعلي رقاکم، الحدیث ﴿ ۳﴾ وهو الموفق

په تبلغي جماعت کښې جان او مال لګول او دیته د بد ویونکي حکم

سوال: موجوده زمانه کښې چه د تبلیغ په نوم باندې د اصلاحِ نفس او اُمت کوم کارچه کیږی چه دهغې مرکز په مدرسه عربیه رائې ونډ پاکستان لاهور کښې دې او دهلته نه خپل ملک او بهر ملکونو ته جماعتونه ځی په دې کار کښې جان او مال لګول څنګه دی دارنګې دیته د بدویونکې څه حکم دې؟

المستفتي:ډاکټر مهربان شاه پبی نوشهره پشاور... ۲۰شوال ۱۴۰۳هـ

﴿۱﴾قال ابن عابدین بدعة محرمة والا فقد تکون واجبة کنصب الادلة للرد علی اهل الفرق الضالة وتعلم النحو المفهم للکتاب والسنة ومندوبة کا حداث نحور باط ومدرسة وکل احسان لم یکن فی الصدر الاول .الخ(ردالمحتار ص ۴۱۴ جلد ۱ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)
﴿۲﴾قال الحصکفی وعالم لیس فی البلدة افقه منه فلیس له الغزو خوف ضیاعهم سراجیه. (الدرالمختار ص ۶۴۲ جلد ۳ کتاب الجهاد)
﴿۳﴾(مشکواة المصابیح ص ۳۸۸ جلد ۲ کتاب الطب والرقیٰ)

الجواب: په موجود زمانه کښې تبلیغي جمات موثر کار کوي يو نیک او با آثره جمات دې په دې کښې مال او جان لګول عبادت دې دیته بد ویونکې بې خبره معلومیږي خو د بعضې خلقو په کمزورو باندې انکار کول د مسلمان شان دې(۱) وهو الموفق

د تبلیغي جماعت مخالفت کول د دین دشمنی ده

سوال: دتبلیغي جماعت اود تبلیغ والاؤ مخالفت څنګه دې؟ حالانکه تبلیغ يو ښه کاردې چه په هغې کښې امربالمعروف اونهي عن المنکر کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتي:محمد مسکین کیملپور اټک

الجواب: تبلیغي جماعت يو نیک او با آثره او فعال جماعت دې او ددې زندقه په زمانه کښې ددې جماعت مخالفت کول ددین د شمنې ده او ټولو مسلمانانو له په دې کښې تعاون کول پکار دي خو د بعضې کسانو په کمزورو باندې انکار کول د مسلمان شان دې. ﴿۲﴾

د تبلیغي نصاب دیوبندي او بریلوي اختلافي مسئلو سره کار نشته

سوال: په مسجد بلال کښې دتبلیغي نصاب روزانه درس کیږي د جمات امام اوڅه کسانو هغه بند کړو، دامام بیان دې چه ددې کتاب لیکونکې او لوستونکې دواړه ځما د عقیدې مطابق ګستاخان رسول ﷺ دي. په دې وجه باندې ددې کتاب په جمات کښې کیښودل ناجائز دي او په دې جمات کښې د بریلوي فکر کسانو تعداد ډیر دې او دا هم وائي چه د چا څه شک وي نو چرته مفتي ته لاړ شي؟

المستفتي:علم دین،محمد صدیق وغیره بلال مسجد کمال آباد راولپنډی ۱۴۱۱۰۱۱۹۷۵

﴿۱﴾عن جریر بن عبد الله البجلی رضی الله عنه قال انی اتیت رسول الله ﷺ قلت ابایعک علی الاسلام فشرط علیّ والنصح لکل مسلم فبایعته علی هذا.(صحیح البخاری کتاب الایمان ص ۱۳ جلد ۱ باب قول النبی ﷺ الدین النصیحه)

﴿۲﴾عن انس بن مالک رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ انصر اخاک ظالماً اومظلوماً قال یارسول الله ﷺ هذا ننصره مظلوماً فکیف ننصره ظالماً؟ قال تأخذ فوق یدیه.
(صحیح البخاری (تجرید) کتاب المظالم ص ۲۴۴ جلد ۱ باب اعن اخاک ظالماً او مظلوماً)

الجواب: ددې کتاب (تبلیغي نصاب) مصنف عالم با عمل اهل سنت والجماعت والا دې ددې کتاب د بریلوي او دیوبندي افکارو اختلافي مسئلو سره څه تعلق نشته په دې کښې متفقه مسئلې دي لهذا ددې کتاب د درس ورکولو نه منع کونکې مناع للخیر دې، خطیب صاحب د پاره ضروري دي چه ددې متعصبانه فیصلې نه واپس شي. وهو الموفق

د تبلیغي جماعت د بعضې کسانو د سیاست نه ډډې نه کیدل د خپل جماعت د هدایاتو نه مخالفت دی

سوال: د تبلیغي جماعت څه حکم دې؟ بعضې څیزونه ئې د شریعت نه خلاف معلومیږي لکه نفل او مستحبو ته د فرضو درجه ورکول او څوك چه ورسره کار نه کوي دهغوي نه نفرت اود سیاست نه بالکل لاتعلقي وغیره وغیره.

المستفتي:عبدالله دکی لورالائي بلوچستان......۱۲ رمضان ۱۳۹۵ ه.

الجواب: تبلیغي جماعت پخپله باندې نیک او با آثره جماعت دې د هغوي نصب العین اصلاحي او تعمیري دې خو په دې جماعت کښې داسې کسان هم شته چه د ناپوهي په وجه باندې په سوال کښې درج شوي کارونه کوي چه دا د جماعت د هدایاتو نه بالکل مخالف دې نو که تاسو ددوې اصلاح غواړئ نو ددوي مشران او سربراهان خبر کړئ په جماعت باندې اعتراض مه کوئ ځکه چه ددې زندقه او بې دینئ په دور کښې داسې خلق غنیمت دي. وهو الموفق

د تقسیم کار په طریقې سره ددین خدمت کول غنیمت دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د جماعت امام صاحب د ماسخوتن مونځ نه وروستو) سیرت رسول، اوفضائل بیانوي لیکن دامام صاحب د تبلیغي جماعت نه نفرت دې چه د هغې څه مجبوریانې او وجوهات دي، او د تبلیغي جماعت يو سړې د امام صاحب مخالف دې او دومره ضد ورسره کوي چه د مولوي صاحب د ژبې نه دالله او رسول تعریف اوریدل هم نه غواړي او د سامعینو توجه خپل طرفته کوي او د ګاندهي او

نهرو تذکره کوي د عام رواج مطابق داسې نیک او پوخ مسلمان دې خو دشریعت په رڼا کښې په دې سرې باندې څه جرم راځی؟

المستفتي: عبدالرحمان راولپنډي

الجواب: د پیغمبر علیه السلام دوفات نه پس چه ددین د خدمت دپاره د کارونو تقسیم اوشي نو دا غنیمت دې. نو تبلیغیانو له پکار دي چه په مدرسینو، واعظینو او مناظرو والا باندې اعتراض نه کوی.او مدرسینو دپاره ضروری ده چه په تبلیغی جماعت باندې اعتراض نه کوی.په دې شرط چه په اعتدال کښې دننه دننه وی.ګینی که څوک هم ددې روبې نه واپس نه شو نو هغه سړې به مناع للخیر وي. وهوالموفق

د نیکانو خلقو سره د بیعت په ذریعې سره د ظاهر او باطن اصلاح

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه نن صبا د تبلیغي جماعت په نوم سره مسلمانان د بعضې اصولو په بناء باندې یو یو کور له ځي مسلمانانو سره ملاویږي صرف په دې نیت باندې چه د الله تعالی احکامات او د پیغمبر علیه السلام طریقې په مونږ کښې او د ټولې دنیا مسلمانانو کښې راشی. نو آیا ددې څه اهمیت شته؟

المستفتي: محمد اسماعیل کمال خیل کوهاټ.....۱۵ جمادي الثاني ۱۴۰۲

الجواب: باقاعده طریقې سره ددین علم حاصلول دا ډیره اوچته درجه ده (۱) خو ددې نه پس د ظاهر او باطن داصلاح دپاره د نیکانو سره بیعت کول او په تبلیغي جماعت کښې د شریکیدلو درجه ده او دا ډیر زیات کار کونکې او با اثره جماعت دې. وهوالموفق

﴿۱﴾قال الحصکفی واعلم ان تعلم العلم یکون فرض عین وهو بقدر ما یحتاج لدینه .قال ابن عابدین وفی تبیین المحارم لاشک فی فرضیة علم الفرائض الخمس وعلم الاخلاص لان صحة العمل موقوفة علیه الخ (الدرالمختار مع ردالمحتار ص۴۲ جلد ۱ مطلب فی فرض الکفایة وفرض عین مقدمه)قال ابن عابدین وفی البزازیه طلب العلم والفقه اذا صحت النیة افضل من جمیع اعمال البر و کذا الاشتغال بزیادة العلم اذا صحت النیة لانه اعم نفعاً الخ
(ردالمحتار ص۲۸۹ جلد۵ فصل فی البیع کتاب الخطر والاباحة)

د موجوده تبلیغ درجه اود والدینو د اجازت نه بغیر او د قرض په صورت کښې تلل

سوال: (۱) نن صبا تبلیغ فرضِ عین دي که فرض کفایه؟

(۲) آیا مروجه تبلیغ کښې د والدینو د اجازت نه بغیر تلل صحیح دي که نه؟

(۳) قرضداري له اول قرض ورکول پکاردي که تبلیغ کښې تلل؟

المستفتي: مولانا محمد زرین ټل ضلع کوهاټ.....۲۱۹۱۱۹۸۲

الجواب: (۱) ښه خبره داده چه حقیقي تبلیغ کول فرضِ کفایه دي او کله کله فرضِ عین هم شي او دا عوامي تبلیغ چه په حقیقت کښې یو اصلاحي پروګرام دې دا بدعت حسنه دې. (۱) او مستحب دې لکه چه اسلامي مدرسو کښې تعلیم اود صوفیائې کرامو په خانقاګانو کښې تزکیه کول. (۲) که مور پلار ددې بچي د ګټې محتاج نه وي نو بغیر د اجازت نه هم د ې جماعت کښې وخت ورکولې شي.الا اذا کان امرد صبیح الوجه ونظیره الخروج لحصول العلم صرح به محمد في سیر الکبیر (۱) (۳) د قرضداري نه د اجازت اخستلو نه پس تللې شي، (۳)

د نو جوانانو هلکانو بغیر د والدینو نه په تبلیغ تلل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د نوجوانانو بې ږیرې

﴿۱﴾قال ابن عابدین صاحب بدعة ای محرمة والافقد تکون واجبة کنصب الادلة للرد علی اهل الفرق الضالة وتعلم النحو المفهم للکتاب والسنة ومندوبة کاحداث نحو رباط ومدرسة وکل احسان لم یکن فی الصدرالاول ومکروهة کزخرفة المساجد الخ(ردالمحتار ص۴۱۴ جلد۱ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

﴿۲﴾فی الهندیه رجل خرج فی طلب العلم بغیر اذن والدیه فلا بأس به ولم یکن هذا عقوقاً قیل هذا اذا کان ملتحیا فان کان امرد صبیح الوجه فلابیه ان یمنعه من ذلک الخروج .وایضاً فی الهندیه قال محمد رحمة الله علیه فی السیر الکبیر اذا ارادالرجل ان یسافر الی غیر الجهاد لتجارة او حج او عمرة وکره ذلک ابواه فان کان یخاف الضیعة علیهما بان کانا معسرین ونفقتهما علیه وما له لا یفی بالزاد والراحلة ونفقتهما فانه لایخرج بغیر اذنهما الخ(هندیه ص۳۶۵ جلد ۵ کتاب الکراهیه الباب السادس والعشرون)

﴿۳﴾وفی البزازیة وان علیه دین لایخرج الی الغزو بلاادائه وان لم یکن له مال لایخرج الاباذن الدائن .
(فتاویٰ بزازیه موضوع علی الهندیه ص۳۱۰ جلد۶ الحظر والاباحة)

هلکانو په تبلیغي جماعت کښې د مور پلار نه بغیر تلل څنګه دی؟

المستفتي:شاه جهان کالو خان صوابي......۲۸ ۶ ۱۹۸۸

الجواب: چه هلک بې دېرې او دلکش وي نو تبلیغي جماعت کښې ئې بغیر د والدینو نه تلل جائز نه دې او که دلکش نه وي او والدین دده خرچې او خدمت ته محتاج نه وي نو بیا جائز دي ونظیره في الهندیه عن السیر الکبیر (۱) فقط

بال بچ بغیر خرچې نه پریښودل او تبلیغ کښې تلل

سوال: بنده بال بچه دار دې څو بچي ئې سبق وائي څه خپل وطن بلوچستان ته څو ورځو دپاره لاړ م نو تبلیغ والا وائي چه څمونږ سره چلې له لاړ شه نو آیا د تبلیغ والا دا وئیل صحیح دي که نه؟ یو مولوي صاحب اووئیل چه د تبلیغیانو په چکر کښې رانشئ اوبل مولوي صاحب وائي چه دوي سره وخت اولګوه. تاسو دا مسئله حل کړئ؟

المستفتي:وزیر محمد شیر شاه کراچی......۲۳ ربیع الاول ۱۴۰۸ﻫ

الجواب: تبلیغي جماعت نیک او کار کونکي جماعت دې د عوامو داصلاح دپاره ډیر فائده مند دي لیکن ستا د بچو وغیره خرچه په تا باندې لازم ده نو ته په مقامي ورو وړو اجتماعاتو او شبِ جمعه کښې حصه اخله ځکه چه ستا دپاره د ماشومانو وغیره بغیر خرچې نه پریښودل او وخت لګول ناجائز او حرام دي (۲) دا توکل نه دې بلکه د دین نه ناخبری (نا واقفیت) ده.فقط

(۱) قال فی الهندیه وقال محمد رحمه الله تعالیٰ فی السیر الکبیر اذا اراد الرجل ان یسافر الی غیر الجهاد لتجارة او حج اوعمرة وکره ذلک ابواه فان کان یخاف الضیعة علیهما بان کانا معسرین ونفقتهما علیه وماله لایفی بالزاد والراحلة ونفقتهما فانه لایخرج بغیر اذنهما الخ......رجلٌ خرج فی طلب العلم بغیر اذن والدیه فلابأس به ولم یکن هذا عقوقا قیل هذا اذا کان ملتحیا فان کان امرد صبیح الوجه فلا بیه ان یمنعه من ذلک الخروج.
(هندیه ص۳۶۵،۳۶۶جلد۵ کتاب الکراهیه الباب السادس والعشرون)

(۲) لما فی الهندیه قال محمدؒ فی السیر الکبیر اذا اراد الرجل ان یسافر الی غیر الجها دلتجارة او حج اوعمرة وکره ذلک ابواه فان کان یخاف الضیعه علیهما بان کانا معسرین نفقتهما علیه وما له لایفی الخ
(هندیه ص۳۶۵ جلد ۵ کتاب الکراهیة الباب السادس والعشرون)

علماء او صوفیا د خپل کار نه فارغ کول او تبلیغ کښې بوتلل د اعتدال نه خروج دې

سوال: نن صبا یو جماعت راوتي دي چه هغې ته تبلیغي جماعت وائي داخلق صوفیاء او علمائي کرامو ته هم دعوت ورکوي حال دادې چه علماء او صوفیاء د زړګونو خلقو د علم او رشد باعث جوړېږي. نو علماء او صوفیاء ددې خپل عظیم خدماتو نه فارغ کول او په تبلیغ کښې بوتلل څنګه دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم افغاني افغانستان....۱۸شوال ۱۴۱۰ﻫ

الجواب: د نفس اصلاح بغیر د علم او د صالحینو د صحبت نه نه حاصلیږي. (۱) لیکن بیا هم په تبلیغي جماعت کښې د عملي قوت د حصول دپاره وخت ورکول یو موثره نسخه ده. لیکن د کم علمئ او صالحینو د صحبت نه د محرومتیا په وجه باندې په تحریف او اعتدال نه وتلو ته نزدې خبره ده. وهوالموفق

تبلیغي جماعت او جهاد اکبر

سوال: (۱) تبلیغ والا وائي چه په تبلیغ کښې تللو سره دیو ې روپۍ اجر په اووه لاکهه ده او دیو مونځ اجر یو کم پنځوس کروړه باندې ملاویږي. او د ابن ماجه او ابو داؤد دحدیث حواله ورکوي. (۲) او بعض علماء وائي چه د اوو سوو اجر د مجاهد بالمال دپاره دي او د اووه لکهو او یوکم پنځوس کروړو اجر مجاهد بالنفس سره خاص دي دا خبرې څنګه دی؟

المستفتي: مولوي عبدالقادر خال ضلع دیر..۱۵رمضان المبارک ۱۴۰۸ﻫ

الجواب: د في سبیل الله. الفاظ،حج، تعلیم، تبلیغ ټولو ته شامل دی،چونکه په توره باندې جهاد دجهاد مع النفس فرع ده،لهٰذا دې ته جهاد اکبر وئیلې شی.چه دا ناقابل انقطاع دې،نو تبلیغي او صوفي حضراتو له پکاردي چه اول جهاد اصغر یعنی د کافرانو سره جنګ او جهاد اوکړی دهغې نه دفراغت نه روستو دې په جهاد اکبر (تبلیغ او

(۱) قال ابن عابدین الطریقة هی السیرة المختصة بالسالکین الی الله تعالیٰ من قطع المنازل والترقی فی المقامات ......والعلم هو الاعتقاد الجازم المطابق للواقع ومنه فعلی وهو مالا یؤ خذ من الغیر وانفعالی ما اخذ من الغیر .(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۳۲۲جلد۳ مطلب فی حال الشیخ الاکبر)

ذکر) کښې مشغول شی، عملاً بهٰذه المقالة.

(**نوټ**) هٰذه المقاله قال العسقلانی انها من کلام ابراهیم بن عبله و قال العراقی رواه البیهقی عن جابر مرفوعا باسناد ضعیف کما فی موضوعات کبیر. ﴿۱﴾ و هو الموفق

د تبلیغي جماعت د نوم لیکلو نوې طریقه د وخت مصلحت دې

سوال: تبلیغي جماعت یوه نوې طریقه اختیار کړې ده اوهغه دا چه د وعظ نه وروستو خلق په نوم لیکلو باندې مجبور کوي لهذا ددې شرعي حکم څه دې اوددوي ددې دعوت د طریقې څه حکم دې؟

المستفتي:عبدالستار عیدک وزیرستان.....۱۷رجب ۱۴۰۲هجري

الجواب: په دې خاص طریقې سره دعوت نه د شریعت مطلوب دې او نه په شریعت کښې ممنوع دې البته د وخت مصلحت دې او یو اصلاحي پروګرام دې. ﴿۲﴾ چه دخواصو او عوامو دپاره فائده مند دې.وهوالموفق

په مسجدحرام کښې دمونځ ثواب د تبلیغ د ثواب نه لاکهه درجې زیات دې

سوال: (۱) بعضې تبلیغیان وائي چه په تبلیغ کښې د مونځ کولو ثواب په بیت الله کښې مونځ کولو نه زیات دې. (۲) او دا هم وائي چه د یو تبلیغي درجه د پنځوسو ۵۰ صحابه کرامو نه بهتره ده.

المستفتي: نامعلوم

الجواب: (۱) په تبلیغ کښې چه کوم د مونځ ثواب دې په مسجد حرام کښې ددې لاکهه چنده زیات ثواب دې ځکه چه حاجي او عمري والا د الله تعالی په لاره کښې هم دي ددې نه علاوه دبیت الله ثواب هم دي. (۲) ددا سې خلقو د وجې نه جماعت بدنام دې ددې متعلق د تبلیغ مشران خبر کړي. وهوالموفق

﴿۱﴾حدیث :رجعنا من الجهاد الاصغر الی الجهاد الاکبر قالوا وما الجهاد الاکبر ؟ قال جهاد القلب .قال العسقلانی فی تسدید القوس هو مشهور علی الالسنة وهو من کلام ابراهیم بن عبله فی,,الکنی،،للنسائی قلت ذکر الحدیث فی الاحیاء ونسبه العراقی الی البیهقی من جابر وقال هذا اسناد فیه ضعف.وروی الخطیب..........قالوا وما الجهاد الاکبر ؟قال مجاهدة العبد هواه .
(الموضوعات الکبیر للسیوطی ص۱۲۷ حرف الراء رقم حدیث:۲۸۰)

﴿۲﴾قال ابن عابدین ومندوبة کاحداث نحو رباط ومدرسة وکل احسان لم یکن فی الصدر الاول .
(ردالمحتار ص۳۱۴جلد ۱مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

د ښځو د تبلیغ د پاره وتل د خپلو محارمو سره جائز دي

سوال: مفتیان شرع او علمائې کرام څه فرمائي په دې مسئله کښې چه شریعت کښې د ښځو دپاره د کورونو نه په تبلیغ کښې وتل جائز دي که نا جائز ؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد انور شاه ګداخیل کوهاټ. ۲۷\۱۱\۱۹۸۹

الجواب: په موجوده زمانه د عوامو بلکه د خواصو په کورونو کښې هم اصلاحي نظام دنیشت برابر دې لهذا په دې زمانه کښې اصلاح اوعلم دین دحصول دپاره د زنانو د کورونونه وتل چه د شرائطو اوقواعده سره وی قابل د تحسین کاردې.

یدل علیه ما رواه الامام البخاری فی صحیحه ص ۲۰ ج ۱ عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه قال قال النساء للنبی ﷺ غلبنا علیک الرجال فاجعل لنا یوما من نفسک فوعد هن یوما لقیهن فیه فوعظهن و امرهن الحدیث ﴿۱﴾

او بیا چه کله ورته بیان کونکې هم زنانه وي نو بیا خو د شاباسي لائق دي البته چه کله د فتنې ویره وي نو د خاوند یا محرم موجود ګي ورسره بیا ضروري ده. کما عند السفر الشرعي لحدیث ورد بذالک رواه البخاري وغیره﴿۲﴾

(**نوټ**) د زنانو حاضریدل د سړو په مجلسونو کښې د فقهائې کرامو د تصریح مطابق ممنوع دي﴿ ۳﴾والله اعلم بالصواب

د زنانو په تبلیغ کښې تللو په ځائې په کورونو کښې د اصلاح کار ډیر احتیاط والا دې

سوال: په دې زمانه کښې د تبلیغ دپاره د زنانو خپل کور نه وتل او نورو کورونو ته تللو اجازت شته که نشته؟ د صحابه کرامو په زمانه کښې داسې کار شوې

﴿۱﴾(صحیح البخاری ص ۲۰ جلد۱ کتاب العلم باب هل یجعل للنساء یوم علی حدة فی العلم)

﴿۲﴾عن ابی سعید رضی الله عنه وقد غزا مع النبی ﷺ ثنتی عشرة غزوة قال اربع سمعتهن من رسول الله ﷺ فاعجبتنی وانقننی ان لاتسافر امرأة مسیرة یومین لیس معها زوجها او ذو محرم الخ.الحدیث
(صحیح البخاری ص۲۵۰ جلد ۱ ابواب العمرة باب حج النساء)

﴿۳﴾قال الحصکفی ویکرہ حضور هن الجماعة ولو لجمعة وعید ووعظ مطلقا ولو عجوزاً لیلاً علی المذهب المفتیٰ به لفساد الزمان .
(الدرالمختار ص۴۱۸جلد۱ قبیل مطلب هل الاساءة دون الکراهة اوافحش منها باب الامامة)

که نه؟ اوداسې کار چه ښځې د خپلو خاوندانو سره نورو ښارونو ته د تبلیغ اجتماع دپاره درې ورځو دپاره ځي او هلته درې ورځې اجتماع کښې تیروي او هغوي دیته د کامیابئ ذریعه وائي نو د شریعت په دې کښې څه حکم دې؟

المستفتي: حافظ شیر دارعلی شاه چوک بازار بنوں..... ۱۴۰۱\۶\۲۶ه

الجواب: د ښځو خپلو خاوندانو سره په تبلیغ کښې وتل نه مطلوب دي او نه ممنوع دي. البته زیات احتیاط دیکښې دې چه خاوندان او محارم ددې زنانو د اصلاح انتظام په کورونو کښې اوکړي چه د حقوق الازواج د پامال کیدلو مسئله رانشي ځنګه چه د حقوق الزوجات د پامال کولو جرم ددین په صورت کښې رواج دې او شائع دې. وهوالموفق

د بې دینه ماحول والا زنانو د پاره د محرم په ملګرتیا کښې په تبلیغ کښې تلل ضروري دي

سوال: آیا په شریعت کښې د تبلیغ دپاره د مستوراتو جماعت ویستل جائز دي که نه؟ المستفتي: ما ستر رضاء الله ضلع مردان. ۱۷ شعبان ۱۴۱۰ه

الجواب: په کومو کورونو کښې چه د بې دینئ ماحول وي د هغې کورونو د مستوراتو دپاره ضروري دي چه د خاوند یا محرم په ملګرتیا کښې سره د شرائطو نه ﴿۱﴾ داسې اصلاحي مجلسونو کښې حاضرې شي.

دمونځ نه فوراً پس تبلیغي نصاب لوستلوسره خلقوکښې پابندي لازمیږي یانه؟

سوال: ځمونږ د جمات امام د تبلیغي جماعت سره تعلق لري هغه د مازیګر مونځ نه پس سمدستي تبلیغي نصاب بیانوي. او خلق ددعا غوښتلو په انتظار کښې د مجبورئ نه پابندوي او ضروري کارونه ئې پریخي وي څوک دکاندار وي څوک ناجوړه وي آیا د امام دا کار ممنوع نه دې؟

المستفتي: حاجي سید اسماعیل اټک... ۱۷\۸\۱۹۸۳

﴿۱﴾ قال الشیخ الفهامه فرید العلماء محمد فرید دامت فیوضهم هل یجوز خروجهن فی الجماعة التبلیغیة اختلف فیه العلماء قال بعضهم لا یجوز لهن الخروج کما لم یجز لهن الخروج الی المساجد سواء اذن لهن الا زواج اولم یاذنوا .لعدم رعایتهن الشرائط من الاجتناب عن التعطر ولباس الزینة. والا جتناب عن اختلاط الرجال عند الدخول والخروج وهو واضح وعلیه الفتویٰ. والامر ان صلاة الجماعة اهم من التبلیغ المروج المستحدثة فی عهدنا وقال بعضهم یجوزلهن الخروج اذاکان باذن الزوج تفلات مجتنبات عن لباس الزینة والتعطر و اختلاط الرجال فما دامت النساء راعت هذه الشرائط فلاضیر فیه لانه خروج للعلم باذن الزوج وهو جائز کما فی الخانیة وقال علیه الصلاة والسلام طلب العلم فریضة علی کل مسلم و مسلمة رواه ابو حنیفة رحمة الله علیه قلت وفی عهدنا کثر الفساد والجهل عن الدین (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الجواب: دعاکول او تبلیغي نصاب اوریدل بهتر کارونه دي لیکن واجب کارونه نه دي نو چه چاته ضرروت وي هغه دې ددعا کولو نه پس ځې بغیر د دعا نه هم تللې شئ دوه درې کسانو په وجه باندې ټول خلق د خیر دکارنه محرومه کول ښه کار نه دې. فقط

د حضور ﷺ د وفات نه پس د تبلیغ فریضه په امت باندې لازم شوه.

سوال: ځمونږ په علاقه کښې تبلیغي جماعت والا راځي نو دهغوي مخالف یو سړې اووئیل چه کله رسول الله ﷺ د دنیا نه رخصت شو نود تبلیغ کار هم ختم شو ځکه چه الیوم اکملت لکم دینکم.. الایة، د الله تعالی فرمان دې البته صرف تذکیر باقي دې چه د علماؤ کار دې ددې مسئلې وضاحت اوکړئ؟

المستفتي: عبدالاحد افغانستان... ۱۵ شعبان ۱۴۰۵ه

الجواب: د حضور ﷺ د وفات نه پس د تبلیغ فریضه په امت باندې لازم شوه. ﴿ ۱ ﴾ په الیوم اکملت لکم دینکم ایة ﴿ ۲ ﴾ کښې د اتمام دین تذکره ده خو دا پکښې نشته چه ټول امت ته مکمل دین علم حاصل شو او هیڅ یو کس هم جاهل پاتې نه شو. فا فهم.

(بقیه حاشیه گزشته صفحه) فی العوام وفی نساء الخواص فاذا انسد ابواب الفساد برعایة الشرائط المارة فای شئی یمنع من الخروج فیها .والحال ان هذالخروج خروج للعلم والزوج جاهل او لایهتم لتعلم نساءه. قال قاضی خان فی فصل حقوق الزوجیة واذا ارادت المرأة ان تخرج الی مجلس العلم بغیراذن الزوج لم یکن لها ذلک فان وقعت لها نازلة فسألت زوجها وهو عالم فاخبرها بذلک لیس لها ان تخرج بغیر اذنه وان کان الزوج جاهلاوسأل عالما عن ذلک فکذلک وان امتنع الزوج عن السوال کان لها ان تخرج بغیر اذنه لان طلب العلم فی مایحتاج الیه فرض علی مسلم ومسلمة فیقدم علی حق الزوج وان لم یقع لهانازلة وارادت ان تخرج الی مجلس العلم لتتعلم مسائل الصلواة والوضوء فان کان الزوج یحفظ تلک المسائل ویذکرلها ذلک لیس لها ان تخرج بغیر اذنه فان کان الزوج لایحفظ المسائل فالاولیٰ له ان یأذن لها بالخروج فان لم یأذن فلاشئ علیه ولا یسع لها ان تخرج بغیر اذنه مالم یقع لها نازلة انتهیٰ ما فی قاضی خان وبالجملة ان الخروج لطلب العلم جائز باذن الزوج لاسیما اذاکان بمرافقته والخروج عند النازلة جائز بلا اذن الزوج. (منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ص ۱۷۰ جلد۵ باب ما جاء فی خروج النساء فی الحرب)

﴿۱﴾ قال الله تعالیٰ ولتکن منکم امة یدعون الی الخیر .(پاره: ۴ سورة ال عمران رکوع: ۲ آیت: ۱۰۴) وقال الله تعالی کنتم خیر امة اخرجت للناس (پاره: ۴ سورة ال عمران رکوع: ۳ آیت: ۱۱۰)

﴿۲﴾ (پاره: ۶ سورة المائدة رکوع: ۵ آیت: ۳)

قال رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم

ان الشيطان ذئب الانسان
كذئب الغنم يأخذ الشاذة
والقاصية والناحية
واياكم والشعاب
وعليكم بالجماعة والعامة.

[الحديث]

فصل
فی ما یتعلق
بالفرقة المودودية

...

فصل فی ما یتعلق بالفرقة المودودیة

د مودودي د کتابونو مطالعه زړه د تیارونه ډکوي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه (۱) جماعت اسلامي کوم چه د مودودي صاحب جماعت دې دده کتابونو کتل پکاردي که نه؟ او په هغې باندې عمل کول پکاردي که نه؟ ډیرخلق دا وائي چه دا جماعت د دیوبندیانو خلاف دې نو هغه کومې خبرې دي چه هغې کښې ئې مخالفت دې؟ (۲) د مو دودي صاحب مسلک څه دې هغه عالم دې یا مقلد او که غیرمقلد دې؟ دهغه کتابونو مطالعه څنګه ده جائزده که ناجائز؟ د مودودي مسلک او عقیدې والاؤ پسې مونځ کیږي یا نه؟

المستفتي: حافظ سید احمد شاه پار هوتي مردان.... ۱۲جون ۱۹۷۰ھ

الجواب: مودودي صاحب د یوبندیانو خو څه کوې د ټولو اهل سنت والجماعت د مسلک نه ئې مخالفت کړې مثلاً تارک الحج ته لکه دخوارجو پشان کافر وئیل، د ایمان او کفر په مینځ کښې لکه د معتزلؤ دواسطې قائله کیدل، ضروریات دین نه منکرینو باندې د کفر فتوې لګولو نه ډډه کول، د خوارجو پشان، د صَحابه کرامو پشان کښې باریک ګستاخیانې کول، د انبیاء علهیم السلام متعلق زبان درازي کول، په ګنده معاشره کښې شرعي سزا ګانو (حدودو) ته ظلم وئیل، تقلیدشخصی ګناه ګڼړل، چه دخیرالقرون دائمه دپاره وی. ګینی دځان دپاره مقتداء کیدل حال او زبان قال سره صحیح ګڼړی، تمام یا اکثر علمائې دین باندې اعتراضونه کول، وغیره وغیره (۲) مو دودي صاحب پخپله د شر القرون غیر مقلد دې دده د کتابونو مطالعه زړه د تیارو نه ډکوي مو دودي صاحب کافر نه دې لیکن د کفر خطرې پرې شته، او خواهش پرست او بدعتي خو خامخا دې نو په دې وجه دده او دده هم خیال خلقو پسې اقتداء نه کول ضروري ده، دده په ځائې یوصحیح العقیده کس پسې اقتداء کول پکار دي. ﴿۱﴾ فقط

﴿۱﴾ نوټ: د امت لوئې لوئې عالمانو د مودودي صاحب په لغزشاتو باندې نیول کړی او د مستقل رسالو او کتابونو په ذریعې سره ئې ددې فتنې مخ نیوې کړې، یو څو کتابونه دا هم دی (۱) مودودي عقائد اوردستور، دمولانا حسین احمد مدني صاحب. (۲) فتنه مودودیت، د مولانا الحاج محمد زکریا مهاجر مدني کاندهلوی (۳) حق پرست علماء کی مودودی سے ناراضگی کے اسباب، دعلامه شیخ التفسیر احمدعلي لاهوري (۴) حضرت امیر معاویه او تاریخي حقائق بجواب خلافت وملوکیت. دمولانا تقي عثماني صاحب (۵) مودودیت، رافضیت وغیرهم.

خلافت وملوکیت او د اسلام نه د اوریدلو جذبه

سوال: السلام علیکم: مودودي صاحب په خپل کتاب خلافت و ملوکیت کښې لیکلي دي چه حضرت عثمان رضی الله عنه د افریقې د غنیمت نه پنځه لاکهه روپې مروان له ورکړې (ص ۱۰۶) د حضرت عائشه رضی الله عنها وتل د یو خلیفه په مقابله کښې دا اجتهادي غلطي نه وه. بلکه دائې په قصد باندې کړې وه. دې ته اجتهادي غلطي نشي وئیلې کیدې (ص ۳۴۳) سستا ایډیشن صفحه۴ د ملوکیت په زمانه کښې (امیر معاویه رض نه وروستو) ټولو مسلمانانو بادشاهانو د حلال او حرامو هیڅ امتیاز نه کولو (ص ۱۷۳) دې عبارتونو په مونږ کښې د اسلام نه د اوریدلو جذبه پیدا کړې، نعوذبالله آیا داسې په رشتیا شوې دي. براه کرم! ددې شکونو او وسوسو تسلي بخش جواب راکړې چه مونږ نورو خلقو ته هم تسلي ورکړو؟

المستفتي: محمد عظیم چلاس ګلګت ایجنسی... ۲۲ ربیع الاول ۱۳۹۰ھ

الجواب: دخلافت وملوکیت لوستلو سره په صحابه کرامو رضی الله عنهم بد ګمانه کیدل لازم اونه جدا کیدونکې نتیجه ده یعني دبې علمه اود بې خبره) خلقو دپاره په دې وجه ددې د مطالعې نه ځان ساتل ضروري دي. او په دیکښې چه مودودي صاحب کوم خرافات لیکلي ددغې تفصیلي جواب په ,,البلاغ" رساله کښې اوګورئ. ﴿۱﴾ فقط

د مودودی صاحب منشور او د حدودو په باره کښې زړه ورتیا

سوال: علمائې کرام ددې مسئلې په باره کښې څه فرمائي چه ځمونږ په ملک پاکستان کښې جماعت اسلامي داسلامي قانون د جاري کولو دعویدار دي لیکن ددې جماعت د سربراه ابوالاعلی مودودي نظریات د تفهیمات ص ۲۸۱، ۲۸۰، جلد ۲ نه واضحه کیږی چه په کومه علاقه کښې فحاشي عُریاني او معاشي خرابي عام وی هلته کښې حد زنا، حد سرقه، او حد قذف وغیره جاري کول ظلم دې، ددوي په منشور کښې هم چرته د قرآني سزا ګانو د جاري کولو ذکر نشته البته د منشور ص ۱۵ د قانوني اصلاحات عنوان

﴿۱﴾ د خلافت د ملوکیت په جواب کښې اوس دددې مضمونو نو یوه مستقل رساله شائع شویده هغه مطالع کړئې پخپله به د مودودیت فتنه رابښکاره شي. حضرت امیر معاویه او تاریخي خلافت وملوکیت تالیف د جنس شریعت کورټ مفتي محمد تقي عثماني کراچی.. (وهاب)

لاندې د فع نمبر ۶ کښې داسې لیکلی دي چه زنا، شراب، عرياني، فحاشي وغیره د بندولو دپاره به بلا تاخیر قوانین جوړولې شی، ګویا چه دا جماعت قراني حدود دتعزیراتو په صف کښې راولی او په هغې کښې د ترمیم اراده لري، نو په دې جماعت کښې شرکت او ورسره د مدد کولو څه حکم دې؟

المستفتي:سید حامد علی لیاقت پور رحیم یارخان....... ۷۱۴۱۱۹۷۰

الجواب: په دې کښې شک نشته چه دحکومت دطرفنه په بې حیايئ باندې پابندی نشته بلکه ددې قیادت کوي لیکن حکومت څوک په بې حیايئ باندې مجبور کوي نه.هر سړې په خپل اختیار او خوښې سره بې حیائی کوي، لکه چه الله تعالی شیطان پیدا کړو او د ګمراه کولو قدرت ئې ورته ورکړې دې لیکن هغه څوک مجبور کولې نشي.هرسړې په خپل اختیار اومرضئ سره دهغې په دام کښې راځی.نولکه څنګه چه دالله تعالی ګمراهانو ته په دنیا یا آخرت کښې عذاب ورکول عدل دې ظلم نه دې سره ددینه چه د ګمراهئ د اسبابو پیداکونکې والا هم الله تعالی دې نو بعینه دغه شان د حکومت دا حد جاري کول به عدل او انصاف وي. ځکه چه حکومت څوک مجبور کوی نهٔ، چه ته بې حیائی اوکړه، حقیقت دادې چه مودودي صاحب دیهودعلماؤپشان حدودمنسوخ کول غواړي دبعضې وختی مصلحتونو په بنیادباندې او دې داسې کول په خپل فاسد زعم کښې د اسلام سره شفقت او همدردی کوي، لیکن ددې مثال دهغه بوډئ دې چه هغې یو شاهي باز د خپل غلط شفقت په وجه باندې بیکاره کړې وو ،لهذا په مودودي صاحب او دهغه په هم خیالوباندې د کفر سخته خطره ده. د هغوي سره د شرکت او تعاؤن نه خلق منع کول د هر مسلمان د پاره ډیره ضروري خبره ده.﴿ ۱ ﴾

د مودودي صاحب آئين اود قاديانيانو د پاره د ختم نبوت په عقيده کښې سوري کول

سوال: محترم شیخ الحدیث حضرت مولانا عبدالحق ﷫ د مسنون سلام نه پس عرض دادې چه اوس اوس د جماعت اسلامی شائع شوې ترمیمي آئین د نظر نه تیر شو دهغې د شق نمبر ۱۱ عبارت داسې دې.کوم خلق چه د محمد رسول الله ﷺ نه پس یو بل نبي مني او دهغه په نبوت باندې ایمان نه راوړونکو ته کافران وائي هغوي دې غیر مسلم اقلیت اوګرځولې شي

﴿۱﴾قال الله تعالیٰ ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان(پ: ۶ سورة المائده رکوع: ۱ آیت : ۲)

ځکه چه دهغوي مسلمانان تسلیمولو معني دا ده چه پاکستان غیر مسلم په اکثریت کښې دې. ددې نه ظاهره ده چه د کلام رُخ مرزائی فرقې طرفته دې او ددې عبارت ښکاره مطلب دادې چه مرزائي ددې وجې نه کافر دې. چه هغه په غلام احمد قادياني باندې ایمان نه راوړو نکو ته کافران وائي او که قادیاني ته نبي نه وئیلو والا خلقو ته کافر وئیل پریږدي نو بیا دویته نه کافران او مرتد وئیلې شي او نه ددوي د اقلیت ګرځولو ضرورت شته.داد یوې فتنې اونوې عقیدې ایجاد په نظر راځي چه په اول ځل دعامو مسلمانانو په ذهنونو کښې د اخباراتو په ذریعه اچولې شوې چه دعامو مسلمانانو نه د ختم نبوت د عقیدې هغه همت ختم شي نو ددې وجې نه یو څو خبرې د غور او فکر طلب دي. (۱) آیا د اسلام په دائره کښې د اوسیدو دپاره دهر مسلمان دپاره دا ضروري نه دي چه دهغه ایمان او عقیده وي چه دحضور ﷺ نه پس د نبوت دعوی کولو والا اوهغه نبي منلو والا بغیر د څه شرط نه کافران دی؟ (۲) که یو سړې داسې عقیده ساتي چه د نبي ﷺ نه پس بل څوک نبي منلو والا کافران نه دي.نو ترڅو پورې چه هغه په خپل نبي باندې ایمان نه راوړلو والا کافران او نه ګڼړي نو داسې سړې پخپله د حضور ﷺ په نبوت باندې ایمان لري یا نه؟

المستفتي:عبدالحئ لیفټ بینک بیراج کالوني حیدرآباد سنده۲۲\ذیقعده ۱۳۸۹

الجواب: مودودي صاحب د لاهوریانو متعلق صراحتاً لیکلې وو چه دا فرقه کافره نه ده او اوس د قادیانیانو متعلق اشاره واضحه کوي چه دا فرقه هم کافره نه ده. نو په مودودي صاحب باندې تعجب دې چه د ضروریاتو او قطعیاتو نه انکار کونکې هم دده په نزد کافران نه دي. حقیقیت دادې چه مودودي صاحب د کفر مفهوم او مطلب نه پیژني ګڼي نو دا غلط او غیر احتیاطي اقدامات به ئې نه کول، بغیر شک شبهې نه دخاتم النبین نه پس د نبي منلووالا غیر مشروط طور کافر دې.(۲) داسې کس زر تر زره کافر کیدو والا دې. دکفر سخته خطره ده ورته. (۳) دضروریاتو ددین نه انکار کولو والا ته به کافر وئیلې شی﴿۱﴾ برابره خبره که ده چا ته کافر وئیلې وي او که نه. فقط

شیخ الحدیث مفتی اعظم فقیه العصر(محمدفرید عفی عنه) دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

﴿۱﴾ قال العلامه ابن نجیم و الکفر شرعاً تکذیب محمد ﷺ فی شئی مما یثبت عنه ادعاء ه ضرورةً . (البحرالرائق ص ۱۱۹ جلد ۵ باب احکام المرتدین)

مودودي صاحب داجماع اُمت نه اعراض کونکي دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه دهغه متعلق د ۱۱۳ علماؤ فتوي د پکهلې نومې ځائې خطیب لوستلي ده. ددینه علاوه د مولانا نصیرالدین غورغشتوي صاحب فتوٰی د محرف قران د ارشادات نصیري. په نوم باندې او س هم په بازار کښې موجود دی نو د دومره لویو علماؤ دفتوؤ په رڼا کښې ستاسو څه رائې ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحیم طوروی صوابی مردان...رمضان المبارک ۱۳۸۹ھ

الجواب: په مودودي صاحب باندې د کفر ډیره سخته خطره ده ځکه چه دحضرت عیسی علیه السلام بغیر پلار نه د پیدا کیدو دلیل قطعي الثبوت او قطعي الدلالت دي. قال الله تعالی لم یمسسنی بشر ولم اک بغیا، الایة ﴿۱﴾ او دټولو لاهوریانو دا عقیده ده چه حضرت عیسٰی علیه السلام دیوسف نجار ځوئې دي.(صرح به محمدعلی لاهوری في تفسیر بیان القران ص ۳۱۳ جلد ۱)او لاهوري ډله د مودودي صاحب په نزد باندې کافره نه ده نو چه دیو قطعي امر نه منکر د مودودي صاحب په نزد کافرنه دې نومودودی صاحب د اجماع امت نه اعراض کولو والا دې اود ضروریاتو ددین نه اعراض کولو والا دې ځکه څنګه چه توحید او رسالت ددین د ضروریاتو نه دی دغه رنګې د ضروریاتو نه دمنکر سرې کفر او کافر کیدل هم ددین د ضروریاتو نه دي. (وما نقل عن بعض الاکابر فمحمول علی انه لم یبلغه تفصیل عقائدهم)فقط

فقیه النفس مفتی اعظم (محمدفرید عفی عنه) شیخ الحدیث وشیخ طریقت دارالعلوم حقانیه

د مودودي صاحب متعلق فتوي باندې په دویم ځل سوال

سوال: محترمي ومکرمي حضرت شیخ الحدیث صاحب دامت برکاتکم. السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! زه ستاسو ډیرد پخوانه عقیدتمندیم د کلمة الحق داوچتوالي او ددین دخورولو دپاره ستاسو کوششونه د ډیرتعریف قابل دي. په دې پر فتن زمانه کښې ستاسو خاموشي او د احتیاط نه ډکه پالیسي ستاسو په عظمت باندې دلیل دي لیکن یوه خبره چه ددې لیکلو باعث جوړه شوه. هغه د دارالعلوم حقانیه د صدر مرکزي دارالافتاء یو بې احتیاطه فتوٰی ده چه بیګاه شپه مې د نظرنه تیره شوه. مفتي صاحب فرمائیلي دي چه په مودودي صاحب باندې د کفرسخته خطره ده او وجه ئې داخودلې ده چه هغه لاهوري فرقه

﴿۱﴾(پ: ۱۶ سورة المریم رکوع: ۴ آیت: ۱۹)

کافران نه ګڼړي. نو په دې طریقه سره هغهٔ ددین د ضروریاتو او اجماع امت نه اعراض کوي. او ګورئ فتوې نمبر ۴۸۸۳، مفتي صاحب ته چه د مودودي صاحب دکوم عبارت نه دا معلومه شویده چه هغه لاهوریانو ته کافران نه وائي نو هلته خو هغه په صراحت سره دا هم لیکلي دي چه هغوي مسلمانان هم نه ګڼړي بلکه هغه د کفر او اسلام په مینځ کښې زوړند دي. نو معلومه نه ده چه د مفتي صاحب نظرد خط په دې حصه باندې ولې نه دې پریوتې چه لاهوري فرقه د مودودي صاحب په نزد مسلمانان هم نه دي نو کیدیشي دا وجه وي چه بیا به مفتي صاحب ته دقلم چلولو موقع په لاس نه ورتلله اونه ئې عوام دهغه خلاف راا وچتولې شول. خو زیات نه زیات چه دهغه په عبارت باندې کوم علمي اعتراض کیدلو. دا اووئیل چه مودودي صاحب لاهوریان کافران نه ګڼړي په دې سره ئې ددې تاثر کوشش کړې چه مودودي صاحب لاهوري فرقه مسلمانان ګڼړي. حال دادې چه دا خود توجیه القائل بمالا یرضي قائله. نه علاوه ددروغو او بهتان په ضمن کښې هم راځي دې سلسله کښې ما مودودي ته یو خط هم اولیکلو چه دهغې جواب هغه راکړو چه څه ئې درلیږم. دهغې نه هم د مفتي صاحب په بې احتیاطه چلن باندې رڼا پریوځي. بهرحال بیا دپاره دداسې بې احتیاطه فتوې نه ځان ساتل پکار دي. دجواب په انتظار کښې به یم؟

نیاز مند: عبدالعزیز مظاهری محله پیر مبارک شاه کوهاټ شهر

د مودودي صاحب د خط متن

محترمي ومکرمي السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! ستاسو خط ملاؤ شو. د لاهوریانو مرزایانو د کافر کولو په معامله کښې مونږ دهغې اصولو قائل یو کوم چه علمائې کرام په ژبه باندې خو ډیر وائي لیکن عمل پرې نه کوي یعني که په سلو کښې یو کم سل دلیلونه د چا د کفر وي او یو دلیل داسې وي چه دهغې په وجه باندې د کفر نه بچ کیدیشي نو بچ کیدل پکار دي. لاهوري فرقه چه پخپله باندې خپله عقیده بیانوي هغه دا ده! چه مرزا غلام محمد بالکل د نبوت دعوٰی نه وه کړې نو څه شک نشته مونږ ته خو د مرزا د نبوت دعوٰی ثابته شویده لیکن مونږ ته یا بل چاته هم ددې وینا حق حاصل دې چه د لاهوریانو عقیده هغه نه ده کومه چه وائي بلکه هغه ده کومه چه مونږه دهغوي عقیده او ګرځوو. چه کله هغوی د نبوت

مدعي نه ګرځوي نو هغه ته دمجدد يا مهدي وئيلو په بناء باندې مونږ د هغوي تکفير نه شو کولي. البته مونږ هغوی ته منافق وايو. ځکه چه د کوم کس دنبوت دعوىٰ صريح په خط کښې ليکلې موجود ده، او د هغې منلو والا ۹۸ فيصد (په سلو کښې اته نوي) سړی هم دهغه د تقريرونو نه دا معلومو ي چه هغه د نبوت مدعي وو او عام لوستونکې هم دهغه د خطونو نه دا معنىٰ اخلى. دهغه متعلق دا وئيل چه هغه د نبوت مدعي وؤ او بيا هغه مجدد او مهدي ګڼړي او دهغوي تصديق کول اودهغوي دقول صداقت تردې حده پورې مشتبه جوړوی چه مونږ دهغه متعلق ددې رائې په قائمولو کښې حق بجانب يو چه هغوي دده د نبوت په دعوي کښې د منافقت نه کار اخلي. بيا هم چه د منافق او کافر په مينځ کښې کوم اصولی فرق دې هغه مونږ نظر انداز کولې نشو، کوم کس چه د کفر د قول نه براءت ظاهرکړي دهغوي تکفير هم نشي کيدلې او که دقرائنو نه داسې معلوميږي چه د هغوي دا براءت په اصل کښې چل ول دې نو مومن هم ورته نشي وئيلې کيدلې اوهم داد منافق مقام دې په قران کښې داسې خلقو ته منافقان وئيلې شوې دي. چه په هغوي کښې دننه ايمان نه وي ليکن په اظهار سره هغوي خپل کفر پټوي.

(دا جواب ځما د هدايت مطابق دې) دستخط: غلام علی

دستخط ابوالاعلی فقط معاون خصوصي مولانا سيد ابوالاعلى مودودي!

د حضرت مفتی صاحب د طرف نه تفصيلی جواب

الجواب: محترم المقام السلام عليكم. حضرت شيخ الحديث صاحب! (مولانا عبدالحق صاحب رحمة الله رحمة واسعة) ستاشکايت نامه دجواب درکولو دپاره راکړه، تا د مودودي صاحب په باره کښې ځما فتوي بې احتياطه ګرځولې ده نوستا او ستا پشان نورو حضراتو د پاره چه د مودودي صاحب نه متاثره وي او هغه په زبان حال سره د غلطئ نه معصوم ګڼړي. دا يوخو ګربښې ليکم چه تاته په دې باندې د انصاف په نظرسره غور اوکړې. په دې کښې شک نشته چه مودودي صاحب يو صاحب قلم سړې دې په ظاهره دهغه په سينه کښې داسلام درد محسوسيږی خوصرف دومره خبره د اقتداء او حقانيت معيار ګڼړل سرسری کاردې. او نبي عليه السلام ارشاد دې ان الله ليؤيد هذا الدين بالرجل الفاجر ﴿۱﴾ نظر اندازکول دې يو داسې کس چه په احکاماتو اومسائلو کښې ئې دجمهورو سلفو رائې پريخودې وي او شاذ او مرجوح قولو نه ئې خپل مذهب جوړ کړې وي او په دې تحريرونو سره په سلف صالحينو باندې بدګماني او په علمائې حق باندې بې اعتمادي پيدا

﴿۱﴾ (صحيح البخاری ص ۶۰۴ جلد ۲ كتاب المغازی باب غزوة خيبر)

کيږي په ديني مسائلو او عقيدو کښې د مقتدا جوړولو مستحق نه دې او دهغه د ديني جهت او اسلامي درد مثال د هغې بوډئ پشان دې چه يو شاهي بازئې د محبت په وجه نه بې لاسو او خپو جوړ کړې وؤ.

د مرزايانو متعلق د علماؤ فتوى: تا ته به دا حقيقيت معلوم وي چه د ټولو محققينو او محتاطو علماؤ دا حتمي فيصله ده چه مرزائی فرقه برابره خبره ده چه مرزا نبي مني او که مجدد د ټول په ټوله کافران او د اسلام نه خارج دی ځکه چه دا خلق د قطعياتو نه بلکه د دين د ضرورياتو نه انکارکوي او د دين د ضرورياتو نه انکار کولو والا کافر کيږي اګر که دهغه سره څه تاويل وي. يدل عليه كلام الخيالي في مسئلة استحلال المعصية ﴿۱﴾

د فقهاؤ او متکلمينو عبارتونه: د مزيد اطمينان دپاره د فقهاؤ اومتکلمينو بعضې عبارتونه ليکم:

(۱) اعلم ان اصل الكفر هو التكذيب المعتمد لشئى من كتب الله المعلومة ولا حد من رسله عليهم الصلوٰة والسلام او لشئى مما جاء به اذا كان ذلك الامر المكذب به معلوما بالضرورة من الدين ولا خلاف ان هذا القدر كفر و من صدر عنه فهو كافر. (اكفار الملحدين للعلامة انور شاه الكشميرى ص ۲۵)

ترجمه: د کفر حقيقت دادې چه په قصد سره دالله دکتابونو يا دهغه د يو رسول يا دهغه د راوړلې شوې دين يوه حصه دروغ اوګڼړی هرکله چه ددغه څيز په باره کښې دا معلومه وي چه دا د دين د ضرورياتو نه ده او په دې کښې اختلاف نشته چه دومره خبره کفر دې او دچا نه چه داسې اوشي هغه کافر دې.

(۲) والكفر في الشرع انكار ماعلم بالضرورة مجئ الرسل به. (تفسيربيضاوي للقاضي)

ترجمه: کفر د شريعت په اصطلاح کښې ديته وائي چه د يو داسې څيز نه انکار کول چه د هغې بيانول په يقين طريقې سره د پيغمبر عليه السلام نه ثابت شوې وي.

(۳) المراد بالتكذيب عدم التصدق الذي مر. (ردالمحتار ص ۲۹۲ جلد۳)

ترجمه: د تکذيب مطلب د يو څيز تصديق نه کول دی.

﴿۱﴾ قال العلامه خيالى قوله لما اجمع عليه السلف لا يقال لا اجماع مع مخالفة الحسن لانا نقول النفاق كفر مضمر. قال العلامه عبد الحكيم السيالكوتى فى حاشية فان النفاق كفر مضمر داخل فى مطلق الكفر فيكون نفى المنزلة بين الكفر مطلق والايمان مجمعاً عليه. (الخيالى على شرح العقائد النسفيه مطبع مجتبائى دهلى ص ۱۲۳)

(۴) الكفرلغة الستر وشرعاً تكذيب محمد عليه السلام في شئ ما يثبت عنه ادعاءه ضرورة (بحرالرائق ص ۱۱۹ جلد ۵) **ترجمه:** د کفرلغوي معنٰی پټول ده او شرعي معني ئي داده چه: د حضور صلی الله علیه وسلم په يو څيز کښې تکذيب کول چه د هغې بيان لازمي طور سره د پيغمبر عليه السلام نه ثابت شوې وي.

(۵) قال العلامه الوسی واما ساداتنا الحنفية رضی الله عنهم فلم يشترطوا فی الاكفار سوی القطع بثبوت ذلک الامر الذی تعلق به الانكار لابلوغ العلم حد الضرورة.

(تفسير روح المعانی ص ۱۲۷ جلد ۱)

(۶) وفی المسامرة واما ماثبت قطعاً ولم يبلغ حد الضرورة فظاهر كلام الحنفية الاكفار بجحده لانهم لم يشترطوا فی الاكفار سوی القطع لابلوغ العلم به حدالضرورة انتهٰی مختصراً. (مسامره ص ۳۶۰)

ددې عبارتونو نه معلومه شوه چه د قطعياتونه او خاص طور سره ددين د ضرورياتو نه انکار کولو والا کافر او د اسلام نه خارج دې.

د لاهوريانو مرزايانو ددين د ضرورياتو نه انكار: لاهوري فرقه اګر چه مرزا قادياني پيغمبر نه مني ليکن څنګه چه ختم نبوت ددين د ضرورياتو نه دې او د امت مسلمه اجماعی عقيده ده دغه شان د حضرت عيسٰی عليه السلام بغير پلار نه پيدا کيدل او د پيغمبرانو عليهم السلام نه د خلاف عادت کارونو صادر کيدل قطعيات او ضروريات دي. او دامت مسلمه اجماعي عقيده ده او سلفاً او خلفاً په نقل سره را روانه ده. او دا خلق د حضرت عيسٰی عليه السلام بغير پلار نه د پيدا کيدلو منکرين دي او وائي چه حضرت عيسٰی عليه السلام د يوسف نجار ځوئ وؤ چه د حضرت مريم رضی الله عنها خاوند وو (د هغوي په فاسد زعم کښې) محمد علي لاهوري چه ددې فرقې مقتدا دې هغه په خپل تفسير بيان القرآن صفحه ۳۱۴، ۳۱۳، ۳۱۵ جلداول کښې ددې تصريح کړې او ددې ټولې فرقې هم دا عقيده ده او الله تعالی فرمائي. انٰي يكون لي غلام ولم يمسسني بشر ولم اک بغيا الاية (۱) او دې کلام الهي کښې چه متواتر دې او قطعي الثبوت دې په قطعي طور سره بغير د جماع په پيدا کيدلو باندې دلالت کوي نو د داسې حکم نه انکار کونکې به څنګه کافر نه وي. دارنګې کوم ځايې کښې چه د خلاف عادت کارونو ذکر راغلې دې، دې مرزائی هلته تحريفونه او تاويلونه کړي او هغه ئي به عادياتو کښې د داخلولو ملحدانه کوششونه کړی دی او د قران او عربی لغاتو سره

(۱) (پ: ۱۶ سورة المريم　رکوع: ۴　آيت: ۱۹)

لوبې کړي دي. مثلاً داضرب بعصاک الحجر (۱) مطلب دا آخلي چه الله تعالی حضرت موسٰی عليه السلام ته حکم کوي چه ته خپل جماعت ددې ځائې نه يو خاص غر ته منتقل کړه نو هلته موسٰی عليه السلام دولس چينې اوموندلې او ټولې قبيلې هلته خيمه زن شوې. (تفسير بيان القران ص ۶۰ جلد ۱) دارنګې د حضرت عيسٰی عليه السلام په ماشو موالي کښې د خبرو کولو د تجربې او عادت په بناء باندې ترديد کړې دې. (ايضاً ص ۱۲۱۳ جلد ۲) او صفحه ۳۱۳ جلداول: ما دلهم علي موته الا دابة الارض کښې دابة الارض نه د سليمان عليه السلام ځوئي مراد اخستلې دې. او دجناتونه ئې بعضې اجنبي قبيلې اخستلې دي. ص ۱۵۳۶ جلد ۳ او د منطق الطير نه ئې مراد د مرغو په ذريعې سره خبر رسول دې ص ۱۴۰۹ جلد ۳. او داسې نور بې شميره تحريفونه ئې کړي دي نو د ضرورياتو او قطعياتو نه د انکار کولو باوجود ددې خلقو په کافر کيدلو کښې توقف کول به څنګه صحيح وي. او د ټولو نه لويه خبره دا چه د حضور صلی الله علیه وسلم نه پس د هر مدعي نبوت تکفير کول هم ددې امت اجماعی عقيده ده.

د مودودي صاحب په نزد د كفر او اسلام مدار: مودودي صاحب مرزائی فرقه مجدد مني دائې هم اعتراف کړې دې چه د متواتراتو او اجماعياتو نه انکار کول والا کافراو داسلام نه خارج دې مودودي صاحب په ترجمان القرآن جلد ۵۶ عدد: ۶ منصب رسالت ص ۱۲۲، ۱۲۳ کښې ,,د ايمان اوکفر مدار،، عنوان لاندې ليکلی دی: داحاديثو دموجوده مجموعونه چه د کومو سنتو شواهد ملاويږی دهغې دوه لوئې قسمونه دي. يو قسم سنتو نه هغه دي جه د هغې په سنت کيدلو امت دا ولې ورځې نه متفق دې په نورو الفاظو سره هغه متواتر سنتونه دي او دامت په دې باندې اجماع ده. په دې کښې څوک د يو د منلو نه هم انکار کوي نو هغه به دغه شان د اسلام د دائرې نه خارج کيږي څنګه چه د قرآن د يو آيت نه انکار کوي، هغه به کافر وي او د اسلام نه به خارج وي. ددې عبارت نه معلوميږي چه د مودودي صاحب په نزد باندې د کفر او اسلام دار و مدار د اجماعياتو او متواتراتو نه په انکار او عدم انکار باندې دې. نو چه کوم سړې د اجماعياتو او متواتراتونه انکار کوي هغه کافر او د اسلام نه خارج دې. ځکه چه د مودودي صاحب په نزد باندې دا د اسلام او کفر مدار دې نه دا

(۱) (پ: ۱ سورة البقره　رکوع: ۷　آيت: ۶۰)

چه د اسلام او خروج د اسلام نه، لهذا کفر او داسلام نه وتل د مودودي صاحب په نزد باندې متلازم دي. دارنګې مودودي صاحب تصریح کړې ده چه د اجماعیاتو او متواتراتو نه انکار کولو واله او د قران نه انکار کولو والاحکم یوشان دي. نو څنګه چه د قران نه منکر کافر دي او د اسلام نه خارج دي. نو دغه شان د متواتراتو او اجماعیاتو نه انکار کولو والا به هم د اسلام نه خارج وي.

د مودودي صاحب عجیبه مذهب: لیکن په مودودي صاحب تعجب دي چه هغه دا فرقه د کفر او اسلام په مینځ کښې زوړنده ګنړي او د کفر او اسلام په مینځ کښې دواسطي قائل دي چه دا د معتزلو د مذهب دي او کله ددې نرمئ په مقابله کښې دومره سخت شي چه مرتکب دلوئې ګناه والا او حج پریخودونکي ته هم کافر وائي. چه د خوارجو مذهب دي. حیرانتیا ده چه د مودودي صاحب دا اخوا دیخوا اوړیدل، د مذهبونو نه د بې خبر تیا په وجې سره دي یا د یو سیاسي مصلحت په وجې سره او یا مودودي صاحب هم ددغې متبد عینو د هم خیال سړې دي. نو ددې وجې نه د اهل سنت والجماعت د مذهب څه پرواه نه کوي او یا ترینه د بې علمئ په وجې سره غلطي کیږي.

د مودودي صاحب عذرګناه: مودودی صاحب وائي چه دلاهوري مرزایانو د تکفیر په مقابله کښې مونږه دهغې اصولو قائل یو چه هغه علماء په ژبو سره وائي خو کوي ئې نه. یعني که په سلو کښې یوکم سل دلیلونو د چا د تکفیر وي او یو دلیل داسې وي چه دهغې په بنا باندې د تکفیرنه ځان ساتل پکاروي نو دهغې نه اجتناب کول پکاردي نوددې اعتذار متعلق عرض دادې چه د مودودي صاحب په نزدباندې دعلماؤ دپاره دفقهاؤ تقلید یعنی په هغوي باندې اعتماد بدترینه ګناه ده نوپخپله ولې تحقیق پریږدی او دتقلید په ګناه کښې مبتلا کیږي.

لطیفه: داهل زیغ خلقو اولنې د دروغو دام داوي چه خلق په اعتماد یافته علمائې اربعهؤ باندې بې اعتماده کوي او د دوي کوشش وي چه خلق ددوي د تقلید نه متنفر کړي ځکه چه ترڅو پورې ددې امامانو سره د اعتماد او تقلید تعلق وي نو اهل زیغ ددوي د ګمراه کولو نه مایوس وي او ددې اهل زیغو دا انتهائي او آخري کوشش وي چه ټول خلق په دوي اعتماد او کړي او ددوي مقلدین جوړشي نو بیا تقلید او اعتماد نه شرک وي او نه بدعت او نه ګناه. فاعتبروا یااهل الابصار.

د کفر او ایمان په احتمالاتو کښې د فقهاؤ د کلام مطلب

همدارنګې عرض دې چه مودودي صاحب د احتمالاتو په باره کښې څه لیکلي دي نو هغه په دې مسئله نه دې پوهه شوې فقهائې کرامو دا مسئله لیکلې ده. اذا کان فی المسئلة وجوه توجب الکفر وواحد یمنعه فعلی المفتی المیل لمایمنعة. قال العلامه ابن عابدین الشامی قوله ای احتمالات لما مر فی عبارة البحر عن التتارخانیه انه لایکفر بالمحتمل ﴿۱﴾ (ردالمحتار ص ۳۹۹ جلد ۳) قال ایضاً زاد فی البزازیة الا اذا صرح باراد ة موجب الکفر ﴿۲﴾ (ص ۳۹۳ جلد ۳) وهکذا فی الهندیه ص ۳۰۹ جلد ۲ ﴿۳﴾ ددې مطلب دادې چه په محتمل کلام کښې یوکم سل (۹۹) احتمالات د کفر وي او یو احتمال پکښې د اسلام وي نو ددې احتمال دوجې نه په سړی د کفر فتوی نشی ورکولې، ځکه چه ددې سړي احتمال (ممکن ده) هم دا مراد وي. لیکن چه دا سړې په موجب کفر کیدلو مراد باندې تصریح او کړي نو بیا بې شکه په هغه وخت کښې د کفر فتوې ورکولې کیدیشي. او په دې کښې شک نشته چه لاهوری مرزائې خلق د کفریاتو د مراد کیدلو باندې اصرار او همیشوالې کوي او ددې اشاعت هم کوي نو د مودودي صاحب اعتذار یو سوړ اعتدال دې چه د ثقه عالم په نزد باندې د اوریدلو قابل نه دې.

د مودودي صاحب د حیلې حقیقت: مودودي صاحب لاهوري مرزائیانو ته منافق وائي نو مونږ د مودودي صاحب نه تپوس کوو چه ستا دمنافق نه منافق عملي مراد دې که منافق اعتقادې. که ستا مراد منافق عملي وي نو ستا دا فتوي چه لاهوري ډله د اسلام نه خارج ده غلطه شوه ځکه چه دمنافقانو پشان اعمال او اخلاق موندلې کیږي، او که ستا مراد منافق اعتقادي وي نو دا د دوه وجوهاتو په بناء باندې غلطه ده اول دا چه منافق اعتقادي خو بلاشک شبهې کافر او سخت کافر دې نو بیا ته په لاهوریانو باندې د کفر د فتوې لګولو نه ولې تیښته کوې. دویم دا چه منافق اعتقادي هغه سړی ته وئیلې شي چه دننه کښې کافر وي لیکن په ظاهر کښې د اسلام د معتقداتو او نظریاتو اقرار کوي او تسلیموی ئې او د لاهوریانو دا رویه نه ده بلکه هغوي خپل کفري عقائد لکه حضرت عیسی علیه السلام د یوسف نجار د ځوئ کیدلو ښکاره په ښکاره اشاعت کوي. او دا خلق خپل کفریات پټ نه ساتې او که ستا د کفر د فتوې نه ځان ساتل په

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۳۱۶ جلد ۳ قبیل مطلب توبة الیأس باب المرتد)
﴿۲﴾ (ردالمحتار ص ۳۱۲ جلد ۳ قبیل مطلب فی ان الکفار خمسةاصناف ومایشترط فی اسلامهم باب المرتد)
﴿۳﴾ (فی الهندیه اذا کان فی المسئلة وجوه توجب الکفر ووجه واحد یمنع فعلی المفتی ان یمیل الی ذلک الوجه کذا فی الخلاصه فی البزازیه الا اذا صرح بارادة توجب الکفر فلا ینفعه التاویل حینئذٍ. (فتاویٰ عالمگیریه ص ۲۸۳ جلد ۲ قبیل الباب العاشر فی البغاة)

دي وجه باندي وي چه دا خلق د اسلام دعوي کوي نو آيا ستا د مرزا نبي
منلو او حضرت علي ﷺ ته نبي يا اله منلو والاؤ په کفر کښې به هم څه توقف
وی؟ خلاصه داچه ستادا حیله داهل تحقیق په نزد باندي د التفات قابله نه ده.

د مودودی صاحب بې احتیاطي او خونړ احتیاط: دینه معلومه شوه چه مودودي
صاحب په فتوي ورکولو کښې ډیره بې احتیاطي کړې په دې سره په ټولو علماؤ
باندي د بې اعتمادئي او بې احتیاطۍ وهم پیدا کیږي کوم د او سپني دیوال سره
چه هغوی دغه یاجوج ماجوج بند کړی وو، دهغې د نړولو او په هغې کښې د
سوری کولو دپاره هغه کوشش کوی. په خلاف ددې چه زمونږ په فتوی کښې
ډیر احتیاط موجود دې، ځکه چه ما دا لیکلی دی چه د ضروریاتو نه انکار کول
کفردي او څنګه چه توحید، رسالت او حشر وغیره د دین د ضروریاتو نه دي نو
دغه شان د دین د ضروریاتو نه انکار کولو والا کافر کیږي. او دده کافر ګڼړل هم
ددین د ضروریاتو نه دي. او په دې باندي د ټول مسلمان امت اجماع. او تعامل
پاتي شوي لیکن مودودي صاحب ددې اجماعي او متواتر او واضح حقیقت نه
ښکاره په ښکاره مخالفت کړې دې او ددې قبیح مخالفت دوه وجې
کیدیشي، یو داچه مودودي صاحب ته دا معلومه نه وي چه لاهوري ډله د دین د
ضروریاتو نه انکار کوي. دویم دا چه د مودودي صاحب په نزد باندي به ددین د
ضروریاتو نه انکار کولو والا نه کافر کیږي. نو داولنۍ وجې داحتمال دوجې نه
مونږ په ده باندي د کفر فتوي ورنکړه او ددویمې وجې د مراد کیدلو خطره
دمودودي صاحب د عادت نه څه لرې خبره نه ده نو مونږ د ډیر احتیاط په وجه
باندي د خوف کفر فتوي اولګوله او د کفر د فتوي نه موځان او ساتلو. او دخپلو
مشرانو مثلاً مفتي عزیز الرحمان صاحب نه مو مخالفت او نکړو چه دهغوی په
نزد باندي لاهوري ډلې والا کافران او د اسلام نه خارج دي لیکن هغوی نه
کافرنه ویونکې نه د شبهې د وجې نه کافر نه وایو.

د مودودي صاحب نه د متاثره خلقو مداهنت: ستاسو خلقو خو عجیبه رویه ده چه
د مودودي صاحب په تفردات او لغزشونو باندي هیڅ نیول او انکار نه کوی
بلکه په تعصب کښې راشئ او د مودودي صاحب متعلق سستي کوئ. او که
څوک اهل حق د مودودي صاحب په څه خبره نیول او کړي نو د خاموشئ په
ځائي تاسو مقابل جانب اختیاروئ او د وهم لهم جند محضرون، ، مصداق
جوړیږي. او په ژبې سره داوایئ چه مونږ د مودودي صاحب سره صرف په

سیاسي مسئلو کښې شریک یو. ستاسو دپاره ضروري ده چه د مودودي
صاحب هره خبره ښائسته مه ګڼئ او مودودي صاحب ته پکار دې چه ددې
غلطي فتوې نه رجوع اوکړي او کړي ګڼي نو د کفر خطره پرې موجوده ده.

مودودی او د هغه پیروکار کافران نه دي خو په الحاد کښې مبتلا دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه (۱) بعضې خلق
مودودي ته کافر، مرتد، او زندیق وائي نو براه کرم یو سرې باندي د کفر
فتوي لګول ترکومه حده صحیح دي. مفسرینو او محدثینو خو دکفر په
کیدلو کښې ډیر احتیاط کړې دې؟ (۲) بعضې خلق وائي چه د جماعت
اسلامي والؤ پسې مونځ کول ناجائز دي. ددوي سره په غم ښادئ کښې
شریکیدل او قرباني ورسره کول حرام او مکروه دي. دا څومره پورې صحیح
ده وضاحت اوکړئ؟

المستفتي: محبوب علي صوابي..... ۱۲ ربیع الثاني ۱۳۹۰ھ

الجواب: (۱) د کفر دارومدار ددین د ضروریاتو نه په انکار باندي دې او چونکه
مودودي صاحب د دین د ضروریاتو نه منکر نه دې نو هغه کافر نه دې البته د
بعضې بې احتیاطۍ او ګستاخیانو په وجه باندي پرې د کفر خطره موجوده ده.
(۲) مودودي صاحب او دهغه هم خیال خلقو پسې اقتداء نه دی کول پکار،
چرته دصحیح العقیده امام پسې اقتدا کول پکار دي ځکه چه دا خلق اګرچه په
کفر کښې داخل شوي نه دي خو په الحا د کښې خامخا مبتلا دي.

د مودودي صاحب لغزشونه او د هغه اقتداء

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه مودودي په خلافت و
ملوکیت کښې څه لیکلي دي آیا دا صحیح دي که صرف الزامات دي؟. او
دارنګې د صحابه کرامو، انبیاؤ تابعینو، نیکانو خلقو تر دې چه د اکابرین
دیوبند پورې ئې دخلقو متعلق څه لیکلي دي نو آیا دا هم صحیح دي یا الزامات؟
اوکه دا خبرې په رشتیا سره مودودي صاحب لیکلي وي نو بیا ددوي سره
تعلقات سائل، نکاح وغیره او هغوي پسې د مونځ کولو څه حکم دې؟

المستفتي: عتیق الرحمان پیښور..... ۱۱/۱۴/۱۹۷۰

الجواب: د مودودي صاحب د خپل گمان مطابق تحقیقات ټول په ټوله لغزشونه دی چه اکابرو علماؤ د تقریر او تحریر په ذریعې سره واضح کړي دي. د مودودي صاحب دا عادت دې چه عام شاهراه (لویه لاره) پریږدي او ځانله لار خپل مذهب جوړوي مودودي صاحب دخپل ځان دپاره په زبان حال سره عصمت ثابتوي لیکن پخپله په معصومینو باندې اعتراض کول جائز گڼړي. د مودودی صاحب د مصنفاتو اثر په سلفو بې اعتمادی او صرف په ځۀ اعتماد دې. د خلافت و ملوکیت اثر په بعضې صحابه کرامو باندې بدگمانه کیدل دی. چه هغې سره پخپله هم تباه شو او نور خلق پرې هم تباه کوي. خلاصه دا چه په مودودي صاحب باندې د کفر خطره ده او بغیرشک نه ضال او مضل دې ده پسې او دده هم خیالو خلقو پسې اقتدا کول نه دې پکار. فقط

د مودودي لغزشونه دروغ نه دي په کتابونو کښې شته

سوال: د جماعت اسلامي په باني مودودي صاحب باندې چه کوم الزامات لگولې شي آیا دا باحواله او صحیح دي؟ ددې جماعت رکنیت څنگه دې؟

المستفتي: مولانا نورالرحمان لانډي کراچي نمبر ۲۲

الجواب: د مودودي صاحب د کتابونو نه معلومیږي چه دا الزامات صحیح دي په دې کښې بالکل دروغ نشته او بغیر حوالې نه الزامات د منلو قابل نه دي. او دمودودي صاحب عقیده چونکه د اهل سنت والجماعت د عقیدې نه بدله ده. لهذا د مودودي صاحب اتباع کول او مداهنت وغیره خراب کارونه د رکن کیدلو سره لازم او ملزوم دی نو ددې نه بچ کیدل ضروري دي.

نوټ: ته چه دکوم الزام وغیره متعلق وضاحت غواړې نود تعین نه پس به تعمیل د حکم اوکړیشي ﴿۱﴾

مودودیت او د هغوي د کتابونو مطالعه

سوال: آیا مودودي کافر دې او د مودودي بعضې متبعین چه دهغه اشاعت کوي او کوشش کوي لیکن عقیده ئې د مودودیت نه وي نو د داسې سړو څه حکم دې؟ او ځمونږ دپاره دمودودي د کتابونو مطالعه څنگه ده؟

المستفتي: محمد اسلم چمن بلوچستان

﴿۱﴾ نوټ: اوس چه مودودی جماعت کوم کتابونه شائع کوی نو یا خود بعضې کتابونو نه هغوی د اعتراض قابلې خبرې اوباسی او یا په جدید ایډیشنو کښې په صفحاتو کښې ردوبدل کوی لهذا کومو عالمانو چه د مودودی په لغزشاتو باندې دهغه نیول کړی دی او صفحات وغیره ئې ذکر کړی دی نو د جدید ایډیشنو په وجه عام لوستونکو ته دهغې ملاویدل مشکل دی لهذا یا خو پخوانی ایډیشنې اوگوری او یا یو صحیح اپریشن کونکی عالم ته رجوع اوکړئ چه په حوالې موندلو کښې درته اسانی وی. (از مرتب)

الجواب: مودودي اهل هوی دي خو کافر نه دې ځکه چه د دین دضروریاتو نه منکر نه دې لیکن د جماعت زیاتوالي او نوې تعلیم یافته طبقې باندې د قبضې کولو دپاره په دین کښې د تجدید او تحریف ښکار شوی دی او دهغه متبعین چه دغه عقیدې ئې نه وي نو اهل هوي نه دي خو مداهن خامخا دي ځکه چه دا خلق د مودودي صاحب په لغزشونو او تفرداتو باندې نه پخپله نیول کولې شی او نه د نورو خلقو نیول برداشت کوی بلکه التمه مخالف جوړیږی او د دین نه بې خبره او کمزوری مسلمانانو دپاره د مودودي د کتابونو مطالعه ضرر ناکه ده. فقط

د مودودی خلاف فتوې اصولی دی جذباتی نه دی

سوال: بعضې خلق دا افواه خوروی چه د مولانا احمد علی لاهوری د مودودی صاحب خلاف فتویٰ په تحقیق باندې مبنی نه وه او مولانا شیخ الحدیث عبدالحق صاحب دخپلې فتوې نه روسته شوې وو، نو علماء دیوبند چه د مودودی خلاف کومې فتوې ورکړې وې آیا هغه فتوې وختی وې یاد شریعت په رنړا کښې اصولی وې؟

المستفتی: مولانا عزیزالرحمٰن فاضل دیوبند ډهکی چارسده ۲۸ شعبان ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا افواه غلطه ده دهغه اکابرو فتوې اصولی وې وختی او جذباتی نه وې مونږ د مودودی صاحب او دهغه د تفرداتو نه بیزاره یو. ﴿۱﴾

د مودودی صاحب تقلید او د اجتهاد وضاحت

سوال: محترم فخر الاماثل والاقران قدوة السالکین والعارفین شیخ الحدیث صاحب مدظله در عهد حاضره بعض مودودی را مجتهد گویند! سوال آنکه مودودی واقعةً مجتهد است و در عهد حاضره قابل صحیح اجتهاد سلف موزون فرماید یا نه؟ مودودی مقلد است یا غیر مقلد؟

المستفتی: رحمٰن الدین تالاش ضلع دیر

الجواب: مولانا مودودی نه د ائمه اربعهؤ مقلد دې او نه د اهل حدیثو مسلك سره موافق دې بلکه هغه د یوشپږم مذهب مالك دې، او مودودی صاحب د ممیزینو مرتبې ته نه دې رسیدلې نو مجتهد به څنگه شی. فقط

﴿۱﴾ دمودودی صاحب تفردات دهغه په کتابونو کښې موجود دی او کومو اکابرو چه دهغه لغزشونو باندې هغه نیولې دې تر آخره پورې په هغې باندې قائم پاتی وو او مودودی صاحب هم تر آخره پورې په هغې باندې قائم وو، او د مودودی جماعت هم تر اوسه پورې په هغې باندې قائم دې لهذا د دوی په ضال او مضل کیدو کښې هیڅ شك نشته. (از مرتب)

قال الله تعالیٰ:

يَرْفَعِ اللّٰهُ

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ

وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ

کتاب العلم

...

کتاب العلم

ښځو ته لیکل ښودل اوحدیث نهی بالکتابت تشریح

سوال: زمونږ په کلی کښې د جینکو پرائمری سکول قائم شوې دې، چه دهغې په مخالفت کښې یومولوی صاحب د یومړی ددفن کولونه پس دمعمول مطابق قبرستان کښې تقریر کولوکښې یوحدیث (دکتاب اود راوی دحوالې نه بغیر) واؤرولو، چه دهغې مطلب دادې چه نبی کریم ﷺ حضرت علی رضی الله عنه ته نصیحت اوفرمائیلو چه ښځوته فلانې فلانې هنر اوښایئ خولکیل ورته مه ښایئ، ولا تعلموهن الکتابة آیا داحدیث موجود دې؟ ددې علاوه ښځوته لیکل ښودل څنګه دی؟

المستفتی: فضل اکبر جلسئ صوابی مردان..... ۱۹۶۹ء|۲|۱۳

الجواب: حدیث ,,لاتعلموهن الکتابة،، ابن مردویه اوبیهقي د عائشه صدیقه رضی الله عنها نه مرفوعاً روایت کړې دې، اوپه کوم حدیث کښې چه اجازت ذکردې یعنی ,,علمی حفصة رقیة النملة کما علمتها الکتابة اخرجه ابوداؤد والحاکم،، داپه ابوداؤد وغیره کښې منقول دی چونکه دا حدیثونه په ظاهره متعارض دی په دې وجه بعضې علماء کراهیت ته ترجیح ورکوی، لانه محرم، اوحدیث داجازت نساء د سلفو یا امهات المؤمنین سره مخصوص کیدوباندې محمول کوی، لکه څنګه چه ملا علی قاری رحمه الله په مرقات کښې دا توجیهات نقل کړی دی ﴿۱﴾ لیکن مولانا عبدالحئ صاحب جواز طرف ته میلان کړې دې، وجه داده چه دنهی حدیث ضعیف دې او نورومحدثینو ددې په راویانو کښې ضعفاء او وضاعین راویان ظاهر کړی دی. ﴿۲﴾ لهٰذا د اجازت حدیث به معمول وی.

﴿۱﴾ قال العلامه علی بن سلطان محمد القاری (الا تعلمین هذه رقیة النملة لما علمیتها الکتابه) قال الخطابی فیه دلیل علی انه تعلم النساء الکتابة غیر مکروه قلت یحتمل ان یکون جائزًا للسلف دون الخلف لفساد النسوان فی هذا الزمان. (مرقاة المفاتیح شرح مشکواة ص ۳۶۴ جلد ۸ باب الطب و الرقیٰ)

﴿۲﴾ لا تعلموهن الکتابة قال ابن الجوزی هذا الحدیث لا یصح عن رسول الله ﷺ و قد ذکره ابو عبدالله النیشا بوری فی صحیحه و العجب کیف خفی علیه امره. قال ابو حاکم ابن حبان کان محمد ابراهیم الشامی (راوی الحدیث) یضع الحدیث علی الشامیین لا یحل الروایة عنه الا عند الاعتبار احادیث لا اصول لها من کلام رسول الله ﷺ لا یحل الا حتجاج به (الموضوعات لابن الجوزی ص ۲۶۹ جلد ۲ باب تعلیم النساء)

اود نهی حدیث به معمول نه وی، ددې نه علاوه ډیرې ښځې چه د اکابر فقهاؤ ښځې وې دهغوی نه لیکل ثابت دی د زیات تفصیل دپاره مجموعة الفتاویٰ صفحه (۱۰۷ تا ۱۱۴) اوګورئ. لهذا لیکل ورته زده کول جائزدی په دې شرط چه په مفاسدو باندې مشتمل نه وی مثلاً بې پردګی، بې حیائی، ګینی احتراز ترې ضروری دې.

په فقهی مسائلوکښې د شامی (ردالمحتار) مقام

سوال: د شامی رد المحتار څه مرتبه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: جاوید احمد چوك یادګار پشاور

الجواب: شامی (ردالمحتار) په فقهی مسائلو کښې ډیرمعتمد کتاب دې، ددې نه منونکې جاهل یا متجاهل دې اومطلق فقه نه منلو والا کافردې. ﴿۱﴾ وهوالموفق

د فرض عین علم حاصلولونه پس دموریلار خدمت کوئ

سوال: چاچه فرض علم نه دې حاصل کړې خوعلم حاصلول ئې شروع کړی دی او موریلار ئې ضعیفان وی اودهغوی دخدمت دپاره بل څوك نه وی اودا سړې په نفس او خواهش باندې هم کنټرول نه شی کولې نودا سړې به څه کوی؟

المستفتی: عبدالرحمٰن جامع مسجد مکیه فقیرآبادپشاور ۱۹ ربیع الثانی ۱۴۰۲ء

الجواب: داسې طالب علم دې د فرض عین مقدارعلم حاصل کړی ﴿۲﴾ او ددې نه پس دې د موریلار خدمت اود واده انتظام اوکړی. (ماخوذ ازهندیه ص ۴۰۱ جلد ۵) وهوالموفق

په موجوده دورکښې دښځو تعلیم

سوال: په موجوده زمانه کښې دښځو دتعلیم متعلق د شریعت څه حکم دې؟ د قرآن اوحدیث په رڼاکښې جواب راکړئ؟

المستفتی: مولوی سیال محمد صاحب تهانه ملاکنډ ایجنسی ۱۹۷۸ء|۷|۳۰

﴿۱﴾ فی الهندیه رجل قال قیاس ابی حنیفة رحمه الله تعالیٰ حق نیست یکفر کذافی التار خانیه. (عالمگیری صفحه ۲۷۱ جلد ۲ موجبات الکفر منها ما یتعلق بالعلم والعلماء)

﴿۲﴾ وفی الهندیه ولوخرج الی التعلم ان کان قدرعلی العلم وحفظ العیال فالجمع بینهما افضل ولوحصل مقدارمالا بدمنه مال الی القیام بامرالعیال ولا یخرج الی التعلم ان خاف علی ولده کذافی التارخانیه نقلاعن الینابیع. (فتاویٰ عالمگیری صفحه ۳۶۶ جلد ۵ الباب السادس والعشرون کتاب الکراهیة)

الجواب: دښځو تعلیم پخپله جائزدي البته که د مفاسدو تحقق متعین یا مظنون وی نوناجائز به وی. کما هو الاصل فی کل مباح.﴿۱﴾ وهوالموفق

د جینکو دپاره په سکول اوکالج کښې تعلیم د ممنوعاتو اومفاسدو د لزوم په وجه ممنوع دې

سوال: څه فرمائی علماء دین چه په موجوده وخت کښې دجینکو تعلیم حاصلول شرعی لحاظ سره جائزدي یا ناجائز؟ یوسړې وائی چه جینکو دپاره تعلیم حاصلول حرام دی، په دې باره کښې جواب راکړئ؟

المستفتی: نورمحمد مدینه کلاتهه هاؤس لنډی کوتل ۱۳ ذی قعده ۱۴۰۴ھ

الجواب: دجینکو دپاره په سکول اوکالج کښې تعلیم حاصلول بذات خود ممنوع نه دی بذات خودممنوع بې پردګی، اختلاط او آزادئ په شان امور دی، اود شرعی اصولو په بناء باندې هغه امرهم ممنوع شمارلې کیږی کوم چه د نورو ممنوعاتو ذریعه وی.﴿۲﴾ وهوالموفق

ښځو د پاره د خارجی مفاسدو په وجه خط او لیکل زده کول ناجائزدی

سوال: جناب مفتی صاحب آیا ښځوته خط اوکتابت زده کول اوددوی لیکل جائزدی یا ناجائز؟ جواب راکړئ.

المستفتی: ګل محمد خان کوټ ادومظفر ګړه ۱۵ اګست ۱۹۸۴ء

الجواب: ښځو دپاره خط اوکتابت زده کول جائزدی. لان حدیث الاباحة صحیح وحدیث النهی لایقاومه، البته ډیرځل یومباح څیز دخارجی مفاسدو په وجه حرامیږی.﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾وفی الخانیه والاصل فی الاشیاء الاباحة وان علم انه مغصوب بعینه لا یحل ان یا کل لانه علم بالحرمة. (فتاوٰی خانیه موضوع علی ها مش الهندیه صفحه ۴۰۰ جلد۳ کتاب الحظر والا باحة)

﴿۲﴾وفی الهندیه ان کان الاصل الا باحة ینظر الی العارض فان غلب علی الظن وجود المحرم فا لکراهة للتحریم والاّفالکراهة للتنزیه و نظیره سورالبقرة الجلاله و سباع الطیر هکذا فی خزانة الفتاوی. (عالمگیری صفحه ۳۰۸ جلد۵ کتا ب الکرا هیة)

﴿۳﴾وفی الهندیه وان کان الاصل الاباحة ینظر الی العارض فان غلب علی الظن وجود المحرم فالکراهة للتحریم والا فالکراهة للتنزیه. (عالمگیری صفحه۳۰۸ جلد ۵ کتاب الکراهیة)

ددینی تعلیم د پاره دمحرم نه بغیر سفر کول جائزدی

سوال: څه فرمائی علمائې دین چه ددینی تعلم دپاره یوه ښځه دمحرم اوخاوند نه بغیر لرې ځائې کښې اقامت کولې شی چه یومحفوظ مقام وی، خوددې په وجه هغه لرې ځائې ته په سفرکښې دمحرم نه بغیر ځی راځی، آیا هغه ددې صورت په وجه دینی تعلیم پریږدی اوکه دینی تعلیم حاصل کړی؟

المستفتی: احسان الهی ریټائرډ ایډیټر دهلی ګیټ ملتان شهر ۱۹۷۶ء|۳|۲۲

الجواب: مسئوله صورت کښې انسب اواحوط دادی چه ته ښځه اوبچی ځان سره ساته اوبهشتی زیور اوتعلیم الاسلام ورته ښایه. چه بغیردمحرم او خاوند نه د ممنوع سفرنه خلاصه شی.باقی داهم جائزدی چه دا دواړه مور اولور په یو محفوظ کورکښې وی اوته کله کله هغوی ته ورځې اودوی یواځې سفرنه کوی.﴿۱﴾ فقط

په دینی او دنیوی تعلیم کښې د بې علمه مورپلار د حکم نه منلوحکم

سوال: محترم مفتی صاحب! زۀ د دویمې درجې ددرس نظامی طالب علم یم، پلارمې وائی چه زه د ډسپنسر کورس (طب) پیشه اختیارکړم.اوخارجی طور سره ددینی کتابونومطالعه جاری اوساتم.اوحال دادې چه دطب دې ټریننګ په دوران کښې ماسره جینکۍ (نرسې) هم ناستې وی،آیا زه دپلار حکم اومنم یا خپل علم دین جاری اوساتم؟

المستفتی: ضیاء الاسلام متعلم دارالعلوم حقانیه اکوړه خټك ۱۶اکتوبر ۱۹۸۳ء

﴿۱﴾وفی المنهاج السنن والروایات الحدیثیة تدل ان جواز خروجهن مشروط بشرائط منها کونها تفلات کما فی روایة ابی داؤد ومنها عدم الاختلاط بالرجال عند الدخول و الخروج لحدیث لو ترکنا هذا الباب للنساء .رواه ابوداؤد ولحدیث کان رسول الله ﷺ اذا سلم مکث قلیلا و کانوا یرون ان ذلک کما ینفذ النساء قبل الرجال........ واشارت عائشة الی المنع عند عدم مراعاتهن الشرائط .فی حدیث ابی داؤد عنها لو ادرک رسول الله ﷺ مااحدث النساء لمنعهن المسجد ولذا کلما زادت تها ونهن فی مراعاة هذه الشرائط شددالعلماء فی امر حضورهذا المساجد حتی افتوا بعدم خروجهن باللیل ولا بالنهار سواء کن شواب او عجائز لان لکل ساقطة لاقطة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص۱۰۲،۱۰۳ جلد۳ باب فی خروج النساء الیٰ المساجد)

الجواب: دغیردینداره بې علمه پلار خبره منل دغورقابل وی، بهرحال په لیکلی شوی صورت کښې دپلار حکم نه منل په مستقبل قریب اوبعید کښې دوارو دپاره دېرزیات مفید دی.﴿۱﴾ فقط

د لازمی دینی علومو دپاره سوال نامه

سوال: (۱) د انفرادی ژوند متعلق دعلم دین فرض حصه څه ده؟ (الف) عقائد (ب) عبادات (ج) حقوق العباد (د) شعائر آداب اسلامی (ه) تربیت اخلاق اوتزکیه نفس.

(۲) داجتماعی ژوند متعلق دعلم دین فرض حصه څۀ ده؟

(الف) تنظیم معاشره (ب) تنظیم معیشت (ج) تنظیم او ریاست.

(۳) بین الاقوامی ژوند سره متعلق دعلم دین فرض حصه څۀ ده؟

(الف) داعیانه تقاضې (ولتکن منکم امة یدعون الی الخیر) (ب) غلبه دین (لیظهره علی الدین کله) (۴) آیا دمختلف اسلامی فرقو په مینځ کښې په پورته ذکرشوو امورو کښې اتفاق دې؟ (۵) (الف) آیا دکتابونو د تدریس طریقه ضروری ده یا وعظ اوتلقین هم کافی کیدې شی؟

(ب) آیا دعربئ ژبې زده کول ضروری دی؟ (ج) د تربیت اخلاق او تزکیه نفس دپاره په موجوده دورکښې تاسو څه طریقه تجویزکوئ؟ دمطلوبه امورو وضاحت کولو سره زمونږ راهنمائی اوکړئ؟

المستفتی: پروفیسرسیدمحمد سلیم مهتمم شاه ولی الله کالج منصوره لاهور ۱۸|۳|۱۹۷۲ء

الجواب: (۱) (الف) داهل سنت والجماعت دټولو اعتقاداتو علم فرض عین دې.

(ب) د طهارت، مونځ او روژې علم فرض عین دې. او د زکوٰة اوحج علم په صاحب استطاعت باندې فرض عین دې.

(ج) په کومه معامله (مثلاً تزوج، تجارت، زراعت، ملازمت وغیره) کښې چه د داخلیدو اراده وی، نودهغې علم فرض عین دې. (د) د ضرورت په اندازه ددې علم فرض عین دې (ه) اخلاص، ریا، حسد، عجب وغیره د نفسانی آفاتو

﴿۱﴾ فی الهندیه رجل خرج فی طلب العلم بغیر اذن والدیه فلا بأس به ولم یکن هذا عقوقاً.

(فتاویٰ عالمگیری ص ۳۶۶ جلد۵ کتاب الکراهیة الباب السادس والعشرون)

پیژندل اوددې د اسبابو او معالجاتو علم فرض عین دې، اودغسې داخلاقو حکم دې، بې شکه په دې کښې تبحر مندوب دې.﴿۱﴾

(۲)، (۳) داجتماعی ژوند متعلق د سوالاتو جواب دادې چه ددې علم فرض کفایه دې اوهم داجواب د بین الاقوامی ژوند متعلق د سوالاتوهم دې.﴿۲﴾

(۴) آؤ لیکن د بعضو فرقو اختلاف هم دې.

(۵) علم ضروری دې که هغه د تدریس په طریقې سره وی اوکه د وعظ او تلقین په شکل کښې وی.

(ب) فرض کفایه دې.﴿۳﴾ (ج) دقرآن اوحدیث علم دې حاصل کړې شی اوپه دې باندې دې یقین حاصل کړی. اعتماد سره یا استدلال سره، اوددې یقین په ذریعه دې دالله تعالی نه خوف حاصل کړی. نوددې نه پس به هرقسمه تخلیه اوتحلیه آسانه وی، خصوصاً کله چه تعلیم ورکونکی حامل د شریعت او عامل د شریعت وی.﴿۴﴾ فقط

﴿۱﴾ قال ابن عابدین واعلم ان تعلم العلم الخ ای العلم الموصل الی الاخرة اوالا عم منه قال العلامی فی فصوله من فرائض الاسلام تعلم ما یحتاج الیه العبد فی اقامه دینه واخلاص عمله لله تعالیٰ ومعاشرة عباده وفرض علی کل مکلف ومکلفة بعد تعلمه علم الدین والهدایة تعلم علم الوضؤ والغسل والصلاة والصوم وعلم الذکواة لمن له نصاب والحج لمن وجب علیه والبیوع علی التجار لیحترزوا عن الشبهات والمکروهات فی سائر المعاملات وکذا اهل الحرف وکل من اشتغل بشئ یفرض علیه علمه وحکمه لیمتنع عن الحرام فیه اه. وفی تبیین المحارم لاشک فی فرضیة علم الفرائض الخمس وعلم الاخلاص لان صحة العمل موقوفة علیه وعلم الحلال والحرام وعلم الریا لان العابد محروم من ثواب عمله بالریاء وعلم الحسد والعجب اذهما یاکلان العمل کما تأکل النار الحطب وعلم ....قوله وهو التبحر فی الفقه (مندوب) ای التوسع فیه والا طلاع علی غوامضه وکذا غیره من العلوم الشرعیة والاتها.

(رد المحتار علی الدرالمختار ص ۳۱،۳۲ جلد ۱ مقدمه)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین قوله وفرض کفایة ......والعلم باعمارهم واصول الصناعات والفلاحة کالحیاکة والسیاسة والحجامة. (رد المحتار علی الدرالمختار ص ۳۲ جلد ۱ مقدمه)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین قال فی تبیین المحارم واما فرض الکفایة من العلم فهو کل علم لا یستغنی عنه قوام امور الدنیا کالطب والحساب والنحو واللغة والکلام ....والمعانی والبدیع والبیان ....وکل هذه الة لعلم التفسیر والحدیث.

(ردالمحتار علی الدرالمختار ص ۳۲ جلد ۱ مقدمه)

﴿۴﴾ قال ابن عابدین وعلم القلب ای علم الاخلاق وهو علم یعرف به انواع الفضائل وکیفیة اکتسابها وانواع الرذائل وکیفیة اجتنابها وهو معطوف علی الفقه لا علی التبحر لما علمت من ان علم الاخلاص والعجب والحسد والریاء فرض عین ومثلها غیرها من افات النفوس کالکبر والشح والحقد الخ.

(رد المحتار علی الدرالمختار ص ۳۲ جلد ۱ مقدمه)

دینی تعلیم، تبلیغ، جهاد اود مورپلار اجازت

سوال: ما دا کال داتم جماعت امتحان ورکړې دې، زه جهاد هم کؤم لیکن مورپلار مې منع کوی، اوس د سکول داخلې شروع دی، مورپلار مې وائی چه سکول وایه، او افسرجوړشه، زه وائم چه زه دینی تعلیم حاصلوم چه عالم جوړشم، دغسې زه په تبلیغ کښې هم وخت لګول غواړم لیکن مورپلار مې اجازت نه راکوی، اوس زه حیران یم چه دمورپلار خبره اومنم یا اونه منم؟ مهربانی اوکړئ په ړومبی فرصت کښې جواب راکړئ.

المستفتی: احمدزمان دته خیل ضلع بنوں.... ۱۹۹۰ء|۹|۳

الجواب: ته په سکول کښې داخله واخله اودمناسب تعلیم نه پس دجائز ملازمت کوشش اوکړه، اوپه فارغ وخت کښې عالمانو نه فقه، قرآن اوحدیث اووایه، او د چهټئ په ورځو کښې جهاد اوتبلیغ دپاره ځه.《۱》وهوالموفق

جینکوته اعلیٰ تعلیم ورکول د خارجی عوارضوپه وجه حرام دی

سوال: څه فرمائی علمائې دین چه جینکوته اعلیٰ تعلیم ورکول څنګه دی آیا په شریعت کښې جینکوته اعلیٰ تعلیم ورکول جائز دی یا ناجائز؟

المستفتی: حکیم عبدالرزاق نعمانی دواخانه اټك شهر ۱۹۸۹ء|۶|۵

الجواب: جینکوته اعلیٰ دنیوی تعلیم ورکول بذات خود نه مطلوب دې اونه ممنوع دې البته د خارجی عوارضو یعنی داختلاط او بې پردګئ وغیره په وجه حرام دی.《۲》وهوالموفق

﴿۱﴾وفی الهندیه ولوخرج الی التعلم ان کان قدر علی التعلیم وحفظ العیال فالجمع بینهما افضل ولوحصل مقدار مالا بد منه مال الی القیام بامر العیال ولا یخرج الی التعلم ان خاف علی ولده کذا فی التتار خانیه ناقلاً عن الینابیع.

(هندیه ص ۳۶۶ جلد۵ الباب السادس والعشرون کتاب الکراهیة)

﴿۲﴾وفی الهندیه ان کان الاصل الاباحة ینظر الی العارض فان غلب علی الظن وجود المحرم فالکراهة للتحریم والا فالکراهة للتنزیه.

(عالمگیری ص۳۰۸ جلد۵ کتاب الکراهیة)

جینکوته د انګریزئ یا اردوتعلیم دغیراسلامی تهذیب راتلوپه وجه ممنوع دې

سوال: آیا جینکوته د انګریزئ یا اردوتعلیم ورکول جائزدی یا نه؟

المستفتی: مولوی عمرحیات دارالعلوم تعلیم القرآن راجه بازار راولپنډی ۲۵ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: د یوې ژبې تعلیم بذات خود ممنوع نه دې《۱》البته د خارجی عوارضو یعنی بې پردګئ اوغیراسلامی تهذیب نه د مهذب کیدوپه وجه ممنوع دې.《۲》وهوالموفق

علم نجوم حرام اود جواز دلائل بې اصل دی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه داسې سړې چه هغه کتاب کتلوسره دخلقو احوال د ماضی یا مستقبل ښائی، اود علم غیب خبرې ښائی، اود جواز دپاره دا دلیل بیانوی چه دا علم نجوم دحضرت علی رضی الله عنه ایجاد دې. نوآیا دا علم جائزدې او ددې سړی امامت جائز دې؟

المستفتی: ثمرخان کوهاټ ..... ۱۹۷۲ء|۶|۲۷

الجواب: که دا سړې د غیب دان کیدو مدعی وی نوکافردې.《۳》ګینی فاسق دې اود علم نجوم وغیره تعلیم اوتعلم حرام دې.

فی الدرالمختار ص ۴۱، ۴۰ جلد ۱ وحراماً وهو علم الفلسفة والشعبذة والتنجیم والرمل الخ .﴿۴﴾وهوالموفق

﴿۱﴾وفی الهندیه ان کان الاصل الاباحة ینظر الی العارض فان غلب علی الظن وجود المحرم فالکراهة للتحریم والا فالکراهة للتنزیه.

(هندیه ص۳۰۸ جلد۵ کتاب الکراهیة)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین وفی فتاوی ابن حجر ما کان منه علی طریق الفلاسفة حرام لانه یؤدی الی مفاسد کاعتقاد قدم العالم ونحوه وحرمته مشابهة لحرمة التنجیم من حیث افضاء کل الی المفسدة.

(رد المحتار علی الدر المختار ص۳۳ جلد ۱ مقدمه)

﴿۳﴾قال الامام فخر الدین حسن ابن منصور المشهور بقاضی خان ومن ادعی علم الغیب کان کافراً.

(فتاوی قاضی خان موضوع علی هامش الهندیه ص۵۷۶ جلد۳ باب ما یکون کفراً من المسلم ومالایکون)

﴿۴﴾ (الدر المختار علی هامش رد المحتار ص۳۲ جلد۱ مقدمه)

د لفظ ,, ملا ,, تحقیق اوحکم

سوال: عام خلق علمائي کراموته د ادب نه بغیر ,, ملا ,, لفظ سره آوازکوی، د لفظ ,,ملا,, تشریح اومعنی څه ده؟ دبي ادبئ اوتحقیر په طورسره دا لفظ استعمالولي شی ددې څه حکم دې؟

المستفتی: نامعلوم...................

الجواب: ,,ملا,, لفظ دعزت او احترام لفظ دې، ددې معنی ډیربنه، هوښیار او ښه لیکونکي دې.《۱》دا لفظ چه د تحقیر په طورسره نه وی نوجائزدې 《۲》ګینی ناجائزدې.فقط

علم نجوم حرام اود وحی نه بغیر په دې باندې عمل کول توهم پرستی ده

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه دعلم نجوم شرعی حیثیت څه دې ددې حاصلول اوپه دې کښې مشغولیدل جائزدی یا ناجائز؟ که جائزوی نوکومو شرائطو سره جائزدی؟

المستفتی: نامعلوم........ ۲۷/۷/۱۹۷۸ع

الجواب: علم نجوم حرام دې. کما فی شرح التنویر وحراماً وهـوعلم الفلسفة والشعبذة والتنجیم، (هامش ردالمحتار ص ۴۰ جلد۱)《۳》د وحی نه بغیر په دې باندې عمل کول توهم پرستی ده.《۴》وهوالموفق

《۱》لفظ ملا من الملأ ای اشراف القوم ومنه الملأ الاعلیٰ ای العالم الارواح ومن الاملأ ای الکتابة النفیسة .ومن الملأ ای مملوء من العلم .ومن ملاء ه علی الامر ای نصره علی الامر ،هکذا فی کتب اللغات (و المنجدعربی اردو) .

《۲》وفی الهندیه اذا قال لفقیه ای دانشمندک او قال ای علویک لا یکفر ان لم یکن قصده الاستخفاف بالدین. (هندیه ص ۲۷۱ جلد۲ مایتعلق بالعلم و العلماء الباب التاسع فی احکام المرتدین)

《۳》(الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۲ جلد ۱ مطلب فی التنجیم والرمل مقدمه)

《۴》قال ابن عابدین ان علم النجوم فی نفسه حسن غیر مذموم اذ هو قسمان حسابی و انه حق و قد نطق به الکتاب قال الله تعالیٰ الشمس و القمر بحسبان ای سیرها بحساب و استدلالی بسیر النجوم و حرکة الافلاک علی الحوادث بقضاء الله تعالیٰ و قدره و هو جائز کا ستدلال الطبیب با لنبض من الصحة و المرض و لو لم یعتقد بقضاء الله او ادعی الغیب بنفسه یکفر ثم تعلم مقدار ما یعرف به مواقیت الصلاة والقبلة لا بأس به ،تعلموا من النجوم ما تهتدوا به فی البر والبحر ثم امسکوا وانما زجر عنه من ثلاثة اوجه احدها انه مضر باکثر الخلق فانه اذا القی الیهم ان هذه الآثار تحدث عقیب سیر الکواکب وقع فی نفوسهم انها المؤثرة الخ.(ردالمحتار ص ۳۳ جلد ۱ مطلب فی التنجیم والرمل مقدمه ردالمحتار)

د بې پردګۍ، سړوسره د اختلاط اوپه پارټو کښې د شرکت په وجه دښځو تعلیم جائزنه دې

سوال: زمونږ په علاقه کښې حکومت د ښځو دیو پرائمری سکول منظوری کړې ده، یو څو علماؤ اختلاف کړې دې چه د ښځو سکول د فحاشئ اوبې دینئ ذریعه ده، بل طرف ته یو څو علمائې کرام ددې خلاف وائی چه د زنانو تعلیم ضروری دې، د ملك په اکثرو ځایونو کښې مدارس البنات قائم دی، مهربانی اوکړئ شرعی حکم اوښایئ؟ ځکه چه ستاسو عزتمند و فیصله دلته معتبر منلې کیږی.

المستفتی: عزیزالرحمن پی. پی. ایم.پی.او. ناورخیل لکی مروت بنوں ۲۹/شوال ۱۴۰۶ھ

الجواب: چه بې پردګی او د سړو اختلاط اوپه پارټو کښې دشرکت وغیره مفاسد ختم کړې شی نود اعتراض قابل نه دې.《۱》ګینی ناجائزدې《۲》وهوالموفق

لفظ خدا وئیلو باندې لس نیکئ نه ملاویږی ځکه چه قرآن کښې نشته

سوال: لفظ خدا چه په قرآن مجید کښې نه دې ذکرشوې،نوآیا په ددې په وئیلو باندې لس نیکئ ملاویږی یا نه، یا صرف په الله وئیلو باندې نیکئ ملاویږی؟

المستفتی: مهران سائیکل ستورمحراب پور....۱۳/رمضان ۱۴۰۲ھ

الجواب: د تلاوت کولو په وخت د قرآن په حرف باندې د حدیث په بناء سره لس نیکئ ملاویږی.《۲》اګرچه د فرعون او ابلیس حروف وی، اوکوم لفظ چه په قرآن کښې نه وی، نوپه هغې به نیکئ ځنګه ملاویږی. وهوالموفق

《۱》وفی منهاج السنن والروایات الحدیثیة تدل ان جواز خروجهن مشروط بشرائط منها کونها تفلات کما فی روایة ابی داؤد ومنها عدم الاختلاط بالرجال عند الدخول والخروج لحدیث لوترکنا هذا الباب للنساء رواه ابو داؤد ولحدیث کان رسول الله ﷺ اذا سلم مکث قلیلا و کانوا یرون ان ذلک کیما ینفذ النساء قبل الرجال ......واشارات عائشة الی المنع عند علم مراعاتهن الشرائط الخ.(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۰۲ جلد۳ باب فی خروج النساء الی المساجد)

《۲》وفی الهندیه وان کان الاصل الاباحة ینظر الی العارض فان غلب علی الظن وجود المحرم فالکراهة للتحریم والا فالکراهة للتنزیه. (عالمګیری ص۳۰۸ جلد۵ کتاب الکراهیة)

《۳》عن ابن مسعود قال قال رسول الله ﷺ من قرأ حرفاً من کتاب الله فله به حسنة والحسنة بعشر امثالها لا اقول الٓمٓ حرف الف حرف ولام حرف ومیم حرف .رواه الترمذی والدارمی وقال الترمذی هذا حدیث حسن صحیح غریب اسنادا . (مشکواة المصابیح ص۱۸۶ جلد ۱ کتاب فضائل القرآن)

لفظ ,,خدا. دالله تعالی د پاره استعمالول: لفظ خدا دفارسئ ژبې لفظ دې ددې اصل ماده ,,خود آی,, ده. یعنی موجود بذاته غیر المحتاج فی الوجود الیٰ غیره. دعلم النحو مشهور رساله بالشمه کی دی: و خدا علم للذاته تعالیٰ بالفارسیة جائز الاطلاق علیه تعالیٰ باجماع العلماء رحمهم الله تعالیٰ بحیث لا یجوز اطلاقه علی غیره تعالیٰ بای وجه کان ای لا بالاضافة و لا بدونها. اوپه نبراس شرح عقائد کی دی: و اذا ورد الشرع با طلاق اسم بلغة اخریٰ کاسم خدا بالفارسیة (النبراس ص ۱۱۲ اصفات الله تعالیٰ)(مرتب)

د جادو په ذریعه تخریب کار دتعزیر لائق دي

سوال: دجادو په ذریعه پاګل جوړول، دښځې خاوند په مینځ کښې اختلاف راوستل طلاق ورکول، رشتې ختمونکې، کاروبار د جادوپه ذریعې سره دختمونکی څۀ حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نورزمان شاه تله ګنګ پنجاب.... ۱۴۰۱|۵|۱۳هـ

الجواب: که د یوسړی متعلق ددې تخریبی کارونو ارتکاب شرعی ثبوت سره ثابت وی نوداسې سړې د تعزیرلائق دې حکومت دۀ ته د وهلونه واخله تر قتلولو پورې تعزیر ورکولې شی. (ماخوذ ازشامی) ﴿۱﴾ وهوالموفق

دجمع عظیم نه د صاحب هدایه مراد

سوال: دصاحب دهدایه دجمع عظیم متعلق ماته اطمینان نه کیږی ددې وضاحت اوکړئ؟

المستفتی: مولوی عبدالمجید جنګل خیل کوهاټ

جواب: مراد صاحب الهدایه جمع عظیم یقع العلم الشرعی بخبرهم وهو مفوض الی رأی الامام من غیر تقدیر ﴿۲﴾ کما صرح به فی سائر المعتبرات فلا حاجة الی تضعیف کلام الهدایة .وهوالموفق

د جادو کونکی دپاره شرعی حکم

سوال: زمونږ په علاقه کښې یوسړی دجادو په ذریعه ټول کلی والا پریشانه کړی دی او هر سړې د جادو نه ویریږی، هغه خلقوته دهمکیانې هم ورکوی، او شهادت هم موجود دې، په شریعت کښې دداسې سړی څه حکم دې؟

المستفتی: محمد اشرف ګلند کوټ راولپنډی ... ۲۶|رجب ۱۳۹۰هـ

﴿۱﴾ قال ابن عابدین ان الذی یقطع ید الرجل اویدخل السکین فی جوفه ان کان سحرا قتل والا عوقب......وحرام لیفرق به بین المرأة وزوجها ....فاذا ثبت اضراره بسحره ولو بغیر مکفر یقتل دفعاً لشره کالخناق وقطاع الطریق.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۳، ۳۴ جلد ۱ مقدمه)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۰۰ جلد ۲ کتاب الصوم)

الجواب: که داسړې د جادو په ذریعه خلقوته ضرر رسوی. او اقرار یا شهادت سره دا حقیقت واضح شوې وی، نو (حکومت وقت دپاره) دده قتلول جائزدی. فی الدرالمختار والکافر بسبب اعتقاد السحر لا توبة له ولو امرأة فی الاصح لسعیها فی الارض بالفساد ذکره الزیلعی. ﴿۱﴾ (باب المرتد) فقط

د فالنامه. علم نجوم. علم جفر حکم

سوال: (۱) فالنامه کتل، ښودل، او راروان حالات معلومول په دې باندې عمل کول څنګه دی؟ (۲) دعلم نجوم په ذریعه په هندسو کښې چه د ابجد وغیره حساب سره د مریض نوم حاصلولو سره ضرب، منفی وغیره سره دمرض وغیره معلومول څنګه دی؟

المستفتی: مولوی ګل نورشاه کلکوټ دیرکوهستان.... ۲۵|شعبان ۱۳۹۵هـ

الجواب: (۱) دا مروجه فال خپله ویستل یا بل چاله ویستل حرام دی: کما فسربه ان تستقسموا بالازلام.﴿ ۲ ﴾ (۲) علم نجوم اوعلم جفر دواړه حرام دی: کمافی الدرالمختاروالتنجیم والرمل وفی هذا القسم علم الحرف (مقدمه شامی).﴿ ۳ ﴾ فقط

د توسل په مسئله باندې مباهله

سوال: د مباهلې شرطونه څه دی؟ اوپه کومو صورتونو کښې مباهله جائزده؟ آیا دتوسل په مسئله باندې مباهله جائزده؟

المستفتی: نامعلوم.......... ۱۹۷۵ء|۱۰|۱۱

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۲۳ جلد ۳ مطلب فی الساحر والزندیق باب المرتد)

﴿۲﴾ قال العلامه آلوسی ان الاستقسام الذی کان یفعله اهل الجاهلیه حرام بلا شبهة کما هو نص الکتاب وان حرمته ناشئة من سوء الاعتقاد وانه لا یخلو عن تشاؤم ولیس بتفاول محض .وان مثل ذلک لیس من الدخول فی علم الغیب اصلا بل هو من باب الدخول فی الظن الخ.

(تفسیر روح المعانی ص ۸۸ جلد ۴ سورة المائدة آیت: ۳)

﴿۳﴾ قال الحصکفی وحراماً ....والتنجیم والرمل قال ابن عابدین هو علم بضروب اشکال من الخطوط النقط بقواعد معلومة تخرج حروفا تجمع ویستخرج جمله داله علی عواقب الامور وقد علمت انه حرام قطعاً.

(الدرالمختار مع رد المحتار ص ۳۳ جلد ۱ مقدمه)

الجواب: کوم مسائل چه د مجتهدینو په مینځ کښې مختلف فیَه دی، په هغې کښې مباهله کول نه دی پکار، په هغې کښې حق عند الله مونږ ته نامعلومه دی، هریو د حق عند الله کیدو احتمال موجود دې، او چونکه په توسل بالصالحین کښې د اهل سنت و الجماعت څه اختلاف نه وو، د دې اختلاف بنیاد فرقه سلفیه (ابن تیمیه وغیره) ایخې دې، لهٰذا په دې کښې مباهله کول به خلاف قاعده نه وی.《١》 البته اهل باطل سره د مباهله کولو په وخت د حق او باطل د معرفت دارومدار به په دلائلو باندې وی په هلاکت او عدم هلاکت باندې به نه وی. وهو الموفق

د ,,مسئلة البیر جحط،، وضاحت او دکنز الدقائق مسئله

سوال: د کنز الدقائق نه مسئله اولیکئ او د ,,مسئلة البـــــیر جحط،، مطلب او وضاحت او کړئ.

المستفتی: نامعلوم............ ١٩٧٨ء|٩|١

الجواب: په کنز الدقائق کښې لیکلی دی چه کوم هلك مادرزاد (پیدائشی مختون (سنت شوې) وی. نو هغه به نه شی سنتولې، او د مسئلة البیر جحط مطلب دا دې چه کوم جنب د بوقې راویستلو د پاره په کوهی کښې غوپه اووهی، نو د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ په نزد سړې او کوهی دواړه ناپاك دی، او د امام ابو یوسف رحمۃ اللہ علیہ په نزد دواړه په خپل حال دی، او د امام محمد رحمۃ اللہ علیہ په نزد دواړه پاك دی.《٢》 فقط

《١》 قال العلامه آلوسی وذهب النواصب الی ان المباهلة جائزة لاظهار الحق الی الیوم الاانه یمنع فیها ان یحصر الاولاد والنساء، وزعموا رفعهم الله تعالیٰ لاقدراً، وحطهم ولاحط عنهم وزراً ان ماوقع منه صلی اللہ علیہ وسلم کان لمجرد الزام الخصم وتبکیته، وانه لایدل علی فضل اولٰئک الکرام علی نبینا وعلیهم افضل الصلاة واکمل السلام. وانت تعلم ان هذا الزعم ضرب من الهزیان واثر من مس الشیطان.

ولیس یصح فی الاذهان شئ   اذا احتاج النهار الی دلیل

(تفسیر روح المعانی ص٣٠٣ جلد ٣ سورة ال عمران آیت: ٦١)

《٢》 قال العلامه ابن نجیم ومسئلة البئر جحط ای ضابط حکم مسئلة البئر جحط وصورتها جنب انغمس فی البئر للدلو او للتبرد ولانجاسة علی بدنه فعند ابی حنیفة الرجل والماء نجسان وعند ابی یوسف الرجل جنب علی حاله والماء مطهر علی حاله وعند محمد الرجل طاهر والماء طاهر طهور. فالجیم من النجس ....والحاء من الحال ....والطاء من الطاهر.

(البحر الرائق ص ٩٧ جلد ١ کتاب الطهارة)

د سحر یا د جناتو اثر معلومولو د پاره عامل ته ورتلل دکفر موجب نه دی

سوال: زید د عمر متعلق دا وائی چه شپږ میاشتې مخکښې ستا دا عقیده وه چه عامل یعنی کاهن غیب دان دې، او س په عامو مجلسونو او جلسو کښې دا وائې چه د عمر د غیب دان کیدو عقیده وه، د داسې سړی په شریعت کښې څهٔ حکم دې؟ چه مسلمان پاتې شو یا نه، او نکاح ئې باقی ده یا نه؟ یو سړې په دهوکه او فریب سره فتوٰی حاصلوی چه د فلانی سړی دا عقیده ده چه کاهن یعنی عامل غیب دان وی، او د هغه نه ئې تعویذونه وغیره اخستې دی نو د داسې فتوې په شریعت کښې څه حیثیت دې؟ او که دا (عمر) واقعی عامل ته ورغلې وی، او د مریض د مرض وجه ئې معلومه کړې وی نو بیا به څهٔ کیږی؟

المستفتی: نامعلوم........ ١٩٧١ء | ١٢ | ٢٠

الجواب: چونکه علیم بذات الصدور صرف الله تعالیٰ دې، لهٰذا دچا متعلق دا جزم کول چه دده هم دا عقیده ده دا د غیب دانئ عقیده ده، البته اقوال وغیره ذریعې سره دچا عقیده متعین کول صحیح دی، او چونکه په متنازع فیها صورت کښې یو سړې عامل ته حاضر شوې دې، چه د اماراتو په ذریعې سره معلومه کړی چه په دې بیمار باندې سحر شوې دې، یا د جن اثر دې، یا بل څه مرض دې، لهٰذا په دې سړی باندې د کفر فتوٰی ورکول بې اصل او غلط دی، حالانکه دا سړې د غیب دان کیدو عقیدې نه بې زاری ښکاره کوی، او د غیب دانئ عقیده که ثابته شی نو دده نکاح به ابتداء د امر نه غیر صحیح وی نو نکاح ختمیدل به بې معنی وی، پس خلاصه دا ده چه داسې محتمل《١》 او مبهم امر په وجه د کفر فتوٰی صحیح نه ده. فقط

د ښځو په مدرسو کښې درس ورکول

سوال: د ښځو په مدرسو کښې درس ورکول څنګه دی؟ وضاحت او کړئ.

المستفتی: حافظ نور احمد الدین مردان...... ١٩٨٦ء| ١| ٢٨

الجواب: په دې نازك دور کښې داسې ښځو له درس کول به د فتنې نه خالی نه وی. الا ما شذ وندر. وهو الموفق

《١》 قال الحصکفی اذا کان فی المسئلة وجوه توجب الکفر وواحد یمنعه فعلی المفتی المیل لما یمنعه.

(الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ٣١٦ جلد ٣ باب المرتد)

د کشف القبور علم غیراختیاری دي

سوال: کشف القبور کوم علم دي او آیا دا زده کولې او ښودلې شی، که جواب آو کښې وی نوچرته او دچا نه زده کولې شی. که ددې زده کول اوښودل جائزدی نوآیا دا دعلم غیب مترادف نه دی؟ حالانکه علم غیب دالله تعالٰی خاصه ده، پس د قرآن اوحدیث په رنړاکښې تسلی بخش جواب راکړئ چه ذهن مود پریشانئ نه خلاص شی او ثواب دارین حاصل کړئ؟

المستفتی: نامعلوم.........

الجواب: کشف القبورحق دي. ﴿۱﴾ په احادیثو اوآثار اوعلم الکلام کښې ددې ذکر شوې دې. البته دایوغیراختیاری امردې، په دې وجه په دې کښې تعلیم نه جاری کیږی. اودا ظنی امردې ته علم الغیب وئیل غلط فهمی او ناخبری ده. وهوالموفق

د تبلیغ دین په نیت سره انګریزی په سکولونو کښې ماشومانوته لوستل خپل ځان ته دهوکه ورکول دی

سوال: انګلش میډیم سکول (چه دا اکثر د انګریزانو مشنری اداري دی) چه په دې کښې د انګریزئ خودلو بهترانتظام سره سره په ګرمئ کښې نیکر چه د کنډونه ثلور ګوتې (یو سَپَق) پورته، په یخنئ کښې کوټ پتلون، ټائی اوسر تورسر تلل په ماشومانو باندې لازم دی. د ماسپښین روټئ په ماشومانو باندې په سکول کښې مخصوص طریقې سره خوړل وغیره وی، په داسې سکول کښې خپل بچی په نیك نیت سره داخلول چه ماشوم انګریزی ښه زده کړی او انګریزانوته په انګریزئ کښې ددین تبلیغ اوکړی، اوس دا بله خبره ده چه ماشوم لوئې شی اود قابونه اوځی اوپه انګریزی طبعیت باندې ژوند تیرول شروع کړی. نوپه دې نیك نیت سره داکار کول څنګه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ګل احمد، سید احمد بټ خیله ملاکنډ ایجنسی ۱۹۶۹ء

الجواب: داسلام تبلیغ هغه کس کولې شی چه هغه ته داسلام متعلق کافی

﴿۱﴾ قال الملاعلی قاری و هذا الحدیث مثل قوله علیه الصلواة والسلام لو علمتم ما اعلم بضحکتم و لبکیتم کثیرا. و فیه ان الکشف بحسب الطاقة ومن کوشف بمالا یسعه یطیح و یهلک (مرقاة المفاتیح شرح مشکواة ص ۳۴۶ جلد ۱ کتاب الایمان)

معلومات وی، اوپه هغې باندې دهغه مضبوط یقین وی، اودهغې مخالف دپاره ئې په زړه کښې کافی نفرت موجود وی، اود تجربې نه داثابته ده چه کله یوماشوم په داسې ماحول کښې تربیت حاصل کړی، نوهغه سره نه اسلامی معلومات وی، اونه هغه د یقین مالك وی، اونه دهغه په زړه کښې دانګریزانو نه نفرت وی، بلکه دهغوی نه متاثره وی، نوپه هغه باندې پخپله دانګریز او کافر جوړیدو خطره وی، نوځه به داسلام مبلغ جوړشی، دې ارادې سره بچی داخلونکې په خپل فسق او فجور باندې پرده اچوی، ګینی هغه داخله په دې ارادې سره کوی چه ښه ملازمت ملاؤشی. (اللهم اعذنا من تسویدات الشیاطین) وهوالموفق

د سکول په ریاضئ کښې د سود سوالونه لوستل

سوال: دسکول د ریاضئ په نصاب کښې د سود سوالونه هم شامل دی چه دا طالبانو ته ښودل وی، نوآیا ددې ښودل جائز دی یا نه؟

المستفتی: عبدالحمید ایس، وی چودهوان، ډیره اسماعیل خان دسمبر ۱۹۶۹ء

الجواب: که د نوکرئ بقا په دې باندې موقوف نه وی، نونه دې ښائی، ګینی ښایه او روزانه ورسره داهم وایه چه په دې حساب سره په سود کښې کار اخستل جائزنه دی، البته که څوك د قرض اداکولو په وخت کوم ځائې چه ددې شرط یا عُرف نه وی، په خوشحالئ سره اووائې چه زه ستا داحسان په عوض کښې احسان کول غواړم. چه د فیصد په دې اندازه حساب سره تاته هدیه کړم، هغه له ددې نه کار اخستل جائزدی. (امدادالفتاوٰی ص ۱۶۶ جلد ۴) وهوالموفق

د عالم د پاره ضروری کتب خانه

سوال: دیوعالم دین دپاره کم ازکم په حدیث، فقه اوفتوٰی کښې کوم کتابونه ضروری دی، چه دهغه سره وی؟

المستفتی: مثل زاده ترلاندی ضلع مردان...... ۲۴ | صفر ۱۳۸۹ء

الجواب: کم ازکم مشکوٰة شریف، جلالین شریف. ﴿۱﴾ هدایه او سراجی.

﴿۱﴾ قال الامام ولی الله الدهلوی بل یکفی من علم الکتاب ان یکون قد ضبط تفسیر المدارک او الجلالین اوغیرهما .... ومن السنة ان یکون قدضبط وحقق مثل کتاب المصابیح وعرف معانیه وشرح غریبه واعراب مشکله وتأویل معضله علی رای الفقهاء.
(القول الجمیل للامام ولی الله الدهلوی ص ۲۰)

د جینکو په تعلیم باندې دحدیث نه استدلال اوموجوده تعلیمی اداري

سوال: په موجوده زمانه کښې د جینکو په سکولونو او کالجونو کښې چه غیرمخلوط کوم تعلیم ورکولې شی، آیا دا جائزدې؟ بعضې خواص ددې تعلیم قائل اوعامل هم دی، اود ابوداؤد شریف د یو حدیث نه استدلال کوی، غالباً دهغې الفاظ څه داسې دی: الفلانية علمت عائشة رضي الله عنها. ستاسو په نظرکښې به دا روایت پټ نه وی فی الحال ماته یاد نه دې، نوآیا ددې روایت نه دښځو په موجوده تعلیم باندې استدلال درست دې؟ امید دې چه دښځو دتعلیم په موجوده طریقه کار اوددې په مالها وماعلیها به د آثار او سنن په رنړا کښې دجواب نه مطمئن کړئ؟

المستفتی: میاں خلیل ګل فاضل خیرالمدارس زیارت کاکاصاحب ۲۴|جولائی ۱۹۷۳ء

جواب: واضحه دے وی چه: حدیث علمی حفصة رقية النملة كما علمتها الكتاب (رواه ابوداؤد والحاكم صححه) بظاهر حديث لا تعلموهن الكتابة (رواه البيهقى فى شعب الايمان) سره معارض دے۔ فقال بعض الناس ان الحكم هى الحرمة والجواز مخصوص بالازواج المطهرات وقيل ان المحرم ضعيف ضعفه السيوطى والجواز غير مخصوص بالازواج المطهرات لان الخصائص لايثبت بالاحتمال وهو المختار عند العلامة اللكهنوى ويؤيده على ورود الانكار على من كن تعلمنها كما لا يخفىٰ على من راجع الى مجموعة الفتاوىٰ ص ۱۱۰، ۱۱۱ جلد ۱ فالراجح هو جواز تعلم الكتابة والاصل ان كل مباح يتلرع به الى الحرام جزما او حزمًا فيكون حراماً . والتجربة شاهدة على فساد دينهن فى تلك المجامع الا ما شذ وندر وبالجمله ان تعلم الكتابة وغيرها للنساء جائز لكن لا فى تلك المجامع الجامعة للفسادات المشاهدة. ﴿۱﴾ فقط

﴿۱﴾ ترجمه: نوبعضې علماء فرمائی چه ددې حکم دحرمت دې، اوجواز ازواج مطهرات سره مخصوص دې، اوبعضو وئیلی دی چه د منع والا حدیث ضعیف دې چه علامه سیوطی دا ضعیف ګرځولې دې، اود جوازحکم ازواج مطهرات سره مخصوص نه دې، ځکه چه خصوصیات احتمال سره نه ثابتیږی. اود علامه عبدالحئ په نزدهم دامختاردې، پس دلیکلو تعلیم ورکولو جواز راجح دې اوپه دې کښې اصل دادې چه هرمباح چه هغه حرام جزماً یا حزماً کوی نوهغه حرام وی، اوپه موجوده سکولونو اوکالجونو کښې ددې ددین په فساد باندې تجربه شاهدده، الاماشذوندر، پس خلاصه داچه د کتابت وغیره تعلیم ښځو دپاره جائزدې لیکن په موجوده تعلیمی اداروکښې د فساداتو د مشاهدې په وجه جائزنه دې. (وهاب)

شاګرد ته قرآن اورولو سره شاګرد استاذ نه شی جوړیدې

سوال: یو استاذ حافظ قرآن خپل شاګردته دخپل شك ویستلوپه وجه قرآن پاك اوروی، آیا دې سره استاذ باندې ددې شاګرد حقوق وغیره داستاذ په شان لازمیږی یا نه؟ اوکه استاذ ددې شاګرد دادب لحاظ کوی نودهغه تعلیمی حالت خرابیږی نوددې صورت څه حل دې؟

المستفتی: قاری محمد خان اچهړیاں.... ۱۰|دسمبر۱۹۷۴ء

الجواب: دې طریقې سره اورولو سره استاذی شاګردی نه ثابتیږی: کما في مراجعة جبرئيل عليه السلام مع النبي صلى الله عليه وسلم في رمضان.

د جینکو د تعلیم مسئله

سوال: (۱) که جینکۍ په سکولونو کښې دې دپاره تعلیم حاصلوی چه ډاکټره یا نرسه جوړه شی ځکه چه دښځوپه علاج کولو کښې ددوی دخدمت نه انکار نه شی کیدې، نوآیا داجائزدې؟ (۲) که ښځه دې دپاره تعلیم حاصلوی چه دکور ماحول صحیح اوساتی، او زیات نه زیات مډل یا میټرك تعلیم اوکړی خو تعلیم دمعاش ذریعه جوړه نه کړی نوداسې کول څنګه دی؟
(۳) سکول ته چه کومې جینکۍ ځی راځی، اواسلام د پردې حکم ورکوی نوپه دې صورت کښې شرعی حیثیت څۀ دې؟ (۴) که یو سړې په خپل کور کښې خویندو اولونړوته تعلیم ورکوی، چه په هغې کښې دینیات، جغرافیه، حساب، انګریزی، تاریخ وغیره وی، نوآیا په اسلام کښې به ددې ممانعت وی؟
(۵) زمونږ یوې جینۍ په سکول کښې مډل پاس کړې دې، اوس په کورکښې دبخاری، مسلم اوقرآن مجید مترجم شوق سره مطالعه کوی، اونوروخلقوته هم تعلیم ورکوی اودکورکارهم کوی، نوداسې تعلیم چه په هغې کښې انګریزۍ ته هم دخل وی څنګه دې؟ (۶) که یوه جینۍ دینی تعلیم سره انګریزی تعلیم هم جاری اوساتی نوآیا داجائزدې؟ (۷) مونږ اصل کښې د انګریزانو نه نفرت کوو، یا دانګریزۍ نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: توکل خان پاړه چنار...... ۱۹۷۵ء|۱|۳۰

الجواب: محترم السلام علیکم نه پس دي واضحه وی چه ښځو دپاره تعلیم حاصلول یا ډاکټره جوړیدل وغیره بذات خود ناجائزنه دی. البته په دې کښې بې پردګی، بې باکی، بې دینی وغیره دمفاسدو په وجه دې لره ممنوع ګرځوی. پس که کور وغیره کښې د انګریزۍ وغیره لوستلو انتظام کیدې شی نو په دې کښې به څه حرج نه وی. او کومه جینۍ چه سکول کښې د انګریزۍ وغیره تعلیم حاصل کړی اودې پورتنو مفاسدونه بچ شی نو جزوی طور سره به دې ته جائزوئیلې شی. په حقیقت کښې اسلام د کافرانو دتهذیب خپلولو مخالف دې، دتعلیم او تعلیم نه مخالف نه دې.

تبلیغ به د قیامت ورځې پورې کولې شی

سوال: زید وائی چه تبلیغ په هرمسلمان باندې اوبالخصوص په اوامر او نواهی کښې ضروری دی. اوبکر وائی چه اوس دتبلیغ فریضه ساقط شوې ده، ځکه چه دا دپیغمبر علیه السلام خصوصیت وو، په امت باندې دا ذمه داری نشته، نو په دې کښې دچا قول صحیح دې؟

المستفتی: محمد عبدالله مهمند ایجنسی...... ۳/رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: بلغوا عنی ولو آیة ﴿۱﴾ وغیره نصوصو په وجه باندې به تبلیغ دقیامت ورځې پورې باقی وی، فقط

وهابیت، پنج پیریت او مودودیت حامل سړې استاذ جوړول

سوال: څه فرمائی علمائې دین دشرع متین ددې مسئلې باره کښې چه وهابی، پنج پیری او مودودی عقائد لرونکې سړې استاذ جوړول څنګه دی؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: عبدالله مدرسه منبع العلوم میرانشاه ۱۶/صفر ۱۴۰۹ھ

الجواب: دوی سره دنیاوی تعلق ساتل ممنوع نه دی، البته دوی لره استاذ جوړول د فتنې نه خالی نه دی. ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾(رواه البخاری(مشکوٰة المصابیح ص ۳۲ جلد ۱ کتاب العلم)

﴿۲﴾قال الامام شاه ولی الله الدهلوی :. ان لا یصحب جهال الصوفیة ولا جهال (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

....

(بقیه حاشیه د تیر مخ) المتعبدین ولا المتقشفة من الفقهاء ولا الظاهریة من المحدثین ولا الغلاة من اصحاب المعقول والکلام بل یکون عالماً صوفیا زاهداً فی الدنیا دائم التوجه الی الله منصبغاً بالاحوال العلیة راغبافی السنة متبعاً لحدیث رسول الله ﷺ واثار الصحابة طالباً لشرحها و بیانها من کلام الفقهاء المحققین المآئلین الی الحدیث عن النظر و اصحاب العقائد الماخوذة من السنة الناظرین فی الدلیل العقلی تبرعاً .الخ

(القول الجمیل ص ۱۵۸ اداب العالم الربانی)

قال الله تعالیٰ:

وَلَوْ رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ
وَاِلٰٓى اُولِى الْاَمْرِ مِنْهُمْ
لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ ط

باب التقلید

...

باب التقلید

د اهل سنت والجماعت عقیده ساتل ضروری دی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دشرع متین دې مسئلې باره کښې چه عقیده داهل سنت والجماعت موافق ساتل ضروری دی یانه؟ یاکه هرڅه عقیده وی جواب راکړئ؟

المستفتی: قائم دین ډهوك زمان میاں والی..... ۲۳|۷|۱۹۷۸ء

الجواب: داهل سنت والجماعت عقیده ساتل ضروری دی.﴿۱﴾ البته د سلفیه فرقې تشددات نه بچ کیدل هم ضروری دی.ابن تیمیه، ابن قیم، محمد بن عبدالوهاب چه د سلفیه فرقې سربراهان دی ددې د تفرداتو نه اهل سنت والجماعت نفرت کوی.

صرف د اهل سنت والجماعت مذهب حق دې

سوال: آیا په دنیاکښې صرف داهل سنت والجماعت مذهب دالله اود الله د رسول ﷺ په نزد قابل قبول دې یابل څه مذهب هم شته؟ د وهابی مذهب او حنفی مذهب پوره وضاحت کولوسره د شکریه موقع راکړئ.

المستفتی: نامعلوم.......

الجواب: حق صرف دا یومذهب دې یعنی د اهل سنت والجماعت والا مذهب. وهم متبعوا الائمة الاربعة واهل الحدیث الغیر الغلاة، او وهابیان کوم چه دمحمد بن عبدالوهاب پیروی کوی، په خوارجوکښې داخل دی او مبتدع دی﴿۲﴾ (شامی ص ۳۳۹ جلد ۳ باب البغاة) اوکوم اهل حدیث چه غلاة دی تقلید ته شرك او حرام وائی، ائمه ته اصنام او ارباب وائی نوهغه هم مبتدع دی.وهوالموفق

﴿۱﴾عن العرباض بن ساریه قال صلے بنا رسول الله ﷺ......فقال......فعلیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین المهدیین تمسکوا بها وعضوا علیها بالنواجذوایاکم ومحدثات الامور......الخ الحدیث .وعن عبدالله بن عمر قال قال رسول الله ﷺ......وتفترق امتی علی ثلث وسبعین ملة کلهم فی النار الاملة واحدة قالوا من هی یارسول الله قال ما انا علیه واصحابی .وفی روایة احمد وابی داؤد عن معاویة ثنتان وسبعون فی النار وواحدة فی الجنة وهی الجماعة وانه سیخرج فی امتی اقواماًتتجاریٰ بهم تلك الاهواء کما یتجاری الکلب بصاحبه لایبقی منه عرق ولا مفصل الادخله (مشکواة المصابیح ص ۳۰ جلد ۱ باب الاعتصام بالکتاب والسنة)

﴿۲﴾قال ابن عابدین اتباع عبدالوهاب الذین خرجوامن نجد وتغلبواعلی الحرمین و(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د مقلد د بل امام په رائې باندې چلیدل

سوال: که یو سړې د یو امام تقلید کوی نوهغه دپاره دبل امام په رائې باندې دچلیدلو جواز شته یا نشته؟

المستفتی: سیف الرحمٰن پشاور یونیورستی... ۹|۲|۱۹۶۹ء

الجواب: فقهائې کرامو لیکلی دی چه کوم سړې مقلد شخصی نه وی او مقلدینو او ائمه ته بدنه وائی، نودا غیرمقلد غیرغالی اهل سنت والجماعت کښې داخل دې اودائې هم لیکلی دی چه د اتباع هوی په وجه دبل امام متبع کیدل ناجائزدی.اود آسان حکم د اتباع په بنیاد باندې مختلف فیه دې،اود اهل (اهل اجتهاد) دپاره قوت دلیل اود ضرورت په وخت بلا تقلید جائز دی.﴿۱﴾ وهوالموفق

تقلید واجب لغیره دې

سوال:(۱) فخرالاماثل والاقران قدوة السالکین والعارفین جناب شیخ الحدیث صاحب مدظله چه میفرمایند آن حضرات درباره شخصے که ازمذاهب اربعه هریکے که بطبعیت او موافق باشد معمول گرداند

(بقیه حاشیه) کانوا ینتحلون مذهب الحنابله لکنهم اعتقدوا انهم هم المسلمون وان من خالف اعتقادهم مشرکون واستباحوابذلک قتل اهل السنة وقتل علمائهم حتی کسرالله تعالیٰ شوکتهم وخرب بلادهم وظفر بهم عساکر المسلمین.........وحکم الخوارج عند جمهور الفقهاء والمحدثین حکم البغاة وذهب بعض المحدثین الیٰ کفرهم قال ابن المنذر ولااعلم احداً وافق اهل الحدیث علی تکفیرهم ....ذکر فی المحیط ان بعض الفقهاء لا یکفر احداً من اهل البدع الخ

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۳۹ جلد ۳ مطلب فی اتباع عبدالوهاب الخوارج فی زماننا باب المرتد)

﴿۱﴾ قال ابن عابدین ولوان رجلاً برئ من مذهبه باجتهاد وضح له کان محموداً ماجوراً اما انتقال غیره من غیر دلیل بل لما یرغب من غرض الدنیا وشهوتها فهو المذموم والاثم المستوجب للتادیب والتعزیر لارتکابه المنکر فی الدین واستخفافه بدینه ومذهبه ....وفی اخر التحریر للمحقق ابن الهمام مسئلة لا یرجع فیما قلد فیه ای عمل به اتفاقا وهل یقلد غیره فی غیرالمختار نعم للقطع بانهم کانوا یستفتون مرة واحدة ومرةً غیره غیر ملتزمین مفتیا واحداً فلو التزم مذهبا معینا کابی حنیفة والشافعی فقیل یلزم لاوقیل مثل من لم یلتزم وهو الغالب علی الظن لعدم مایوجبه شرعاً ....لیس للعامی ان یتحول من مذهب الی مذهب ویستوی فیه الحنفی والشافعی.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۰۹ جلد ۳ مطلب فی ما اذاارتحل الی غیر مذهبه)

واز علوم وفنون کلیۃً ماہر نبود یا بود؟ (۲) آنحضرت دربارہ تقلید دلائل از کتاب اللہ وسنت رسول اللہ مستحکم تحریر فرمائے کہ تقلید را درجہ وجوب است یا سنت یا استحباب یانہ برائے شخص خواہ عالم باشد یا جاہل؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی رحمان الدین شمسی خان تالاش دیر پائیں

جواب: (۱) برائے اہل (اہل اجتہاد) جائز است ورنہ در اتباع ہوئی داخل است۔ ﴿۱﴾

(۲) قال اللہ تعالیٰ فاسئلوا اھل الذکر ان کنتم لا تعلمون. ﴿۲﴾ واطلاق الکتاب یشمل السوال عن الواحد فی الکل کما لا یابی عن شمول السوال عن الغیر المعین و یدل علی الجواز وقوع ذلک فی خیر القرون من غیر نکیر ثم ھو واجب لغیرہ وان کان مستحباً فی نفسه. ﴿۳﴾

د ضرورت په وخت په غیرمذهب اومسلک باندې فتوٰی ورکول

سوال: الیٰ حضرت العالیة المحترم شیخ الحدیث مفتی صاحب دامت برکاتهم.

اما بعد هل یجوز لنا ان نفتیٰ علی مذهب غیر امامنا ابا حنیفة ام لا ؟ وان جاز ففی اي موضع یجوز وفی اي موضع لا یجوز ؟ فقط والسلام

المستفتی: سید صفوة الله بلوچستانی متعلم حقانیه اکوړه خټک

﴿۱﴾ قال ابن عابدین ولو کان رجلاً برئ من مذهبه باجتهاد وضح له کان محموداً ماجوراً اما انتقال غیره من غیر دلیل بل لما یرغب من عرض الدنیا و شهوتها فهوا لمذموم الاثم المستوجب للتادیب والتعزیر لارتکابه المنکر فی الدین و استخفافه بدینه و مذهبه الخ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۰۹ جلد ۳ قبیل مطلب العامی لامذهب له)

﴿۲﴾ (پ: ۱۴ سورة النحل رکوع: ۱۲ آیت: ۴۳)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین عن الفتاویٰ النسفیة الثبات علی مذهب ابی حنیفه خیر واولیٰ قال وهذه الکلمة اقرب الی الالفة ......قال شارحه المحقق ابن امیرحاج بل الدلیل الشرعی اقتضی العمل بقول المجتهد وتقلیده فیه فیما احتاج الیه وهو فاسئلوا اهل الذکر و السوال انما یتحقق عند طلب حکم الحادثة المعنیة فاذا ثبت عنده قول المجتهد وجب عمله به واما التزامه فلم یثبت من السمع اعتباره ملزماً الخ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۰۹ جلد ۳ مطلب فیما اذا ارتحل الی غیر مذهبه باب التعزیر)

جواب: قلت بتوفیقه نعم جاز الافتاء والقضاء بمذهب الغیر عند الضرورة ﴿۱﴾ قال العلامة الشامی فی ردالمحتار ص ۲۳۹ جلد ۴ و فی جامع الفصولین قد اضطرب آراءهم و بیانهم فی مسائل الحکم للغائب و علیه و لم یصف و لم ینقل عنهم اصل قوی ظاهر یبنی علیه الفروع بلا اضطراب ولا اشکال فالظاهر عندی ان یتأمل فی الوقائع و یحتاط ویلاحظ الحرج والضرورات فیفتی بحسبها جوازاً او فسادا (الی ان قال) دفعا للحرج والضرورات وصیانة للحقوق عن الضیاع مع انه مجتهد فیه ذهب الیه الائمة الثلثة الخ و فی المجلد الثالث ص ۴۵۶ ﴿۲﴾ عن القهستانی لو افتیٰ به (مذهب احمد) و فی موضع الضرورة لا باس به علی ما اظن. فقط

د مذاهب اربعه حصر امرتکوینی دې تشریعی نه دې

سوال: نرجوا منکم ان ترسلوا الینا دلیل حصر المذاهب الاربعة و اثبات الطرق الاربعة و تقلیدها و غیرها ردا علی غیر المقلدین و سائر فرق الضالین و المضلین؟

المستفتی: مولوی عمادالدین حرکت انقلاب اسلامی افغانستان ......۷/ ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

جواب: الحصر فی المذاهب الاربعة امر تکوینی. لیس امراً شرعیاً حتیٰ تقیم علیه الدلائل. نعم تعامل خواص الامة وقع علی التقلید الشخصی لا سیما علی تقلید الائمة

﴿۱﴾ قال فی البشریٰ لارباب الفتویٰ اعلم انه لایجوز الحکم والافتاء بالقول المرجوح و بمذهب سائر الائمة الا فی ثلاثة مواضع الاول عند الضرورة دون التشهی والتلهی فانه حرام کما حرم الحکم الملفق الخارق للاجماع فی عمل واحد کالحکم بصحة وضوء من ترک الترتیب ...... والثانی انه جاز الافتاء بالمرجوح و بمذهب سائر الائمة عند صحة الحدیث فیه ای عند کون الحدیث المخالف ثابتاً سنداً و متناً غیر منسوخ و غیر معلول و غیر معارض بحدیث آخر ...... والثالث انه جاز الافتاء بالمرجوح و غیره عند تبدل العرف کما فی معین الحکام عن القرافی الخ (البشریٰ لارباب الفتویٰ ص ۱۵، ۱۶، ۱۷، الفصل السادس) (و هکذا فی شرح عقود رسم المفتی لابن عابدین الشامی)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۷۷ جلد ۴ مطلب المسائل التی یکون القضاء فیها علی الحاضر الخ)

الاربعة واما للطرق فلا ینحصر فی الاربعة لا شرعاً ولا تکوینا ولا تعاملاً. وهو الموفق ﴿۱﴾

په دې دورکښې چاته د مذهب نه رجوع جائزنه ده

سوال: رجوع از مذهب احناف چه حکم دارو؟

المستفتی: قاری حافظ شریف احمد حنفی مهاجر پشاور......۱۹۸۹ء/۹/۲۳

جواب: شخصے که مقلد یکے از ائمه اربعه باشد ور جوع بعدم تقلید کند لائق تعزیر است۔

البته شخص محقق که اهل فهم و نقد (صاحب اجتهاد) باشد رجوع به مذهب امام کرده شود ﴿۲﴾ لیکن این نوع مثل عنقا مفقود ست۔

د غیرمجتهدینو د تقلید نه انکار جهل مرکب دې

سوال: څه فرمائی علمائې دین د شرع متین دهغه سړی باره کښې چه هغه مسالكِ اربعه حق ګڼړی، او ورسره داهم وائی چه په دوی کښې دیو تقلید هم ضروری نه دې بلکه څه چه په قرآن کښې مخې ته راشی په هغې باندې عمل کول پکاردی دداسې سړی څه حکم دې؟

المستفتی: زاهد قادر متعلم دار العلوم حقانیه اکوړه خټك.... ۱۹۹۰ء|۵|۱۵

﴿۱﴾ حضرت مولانا مفتی اعظم محمد فرید دامت برکاتهم فرمائی: تقلید شخصی په خیر القرون کښې بلانکیر موجود وو، دائمه اربعه په ژوند کښې به ددوی تقلید کیدلو. نودا به منکرنه وی. او په تقلید شخصی باندې سلفاً خلفاً تعامل شوې دې، نودا به حسن وی. لحدیث ماراه المومنون حسنا فهو عندالله حسن رواه المحدثون موقوفا علي ابن مسعود وجعله الامام محمد مرفوعاً في بلاغاته. او پیغمبر علیه السلام فرمائی اتبعوا السواد الاعظم (رواه ابن ماجة) او سواد اعظم خواص دامت مثلاً محدثین. مفسرین. فقهاء. شارحین داحادیثو او مصلحین، مقلدین وو تقلید شخصی سره. (مقالات ص ۳۰ تتمه مسئله تقلید)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین ولو ان رجلاً برئ من مذهبه باجتهاد وضح له کان محموداً ماجوراً اما انتقال غیره من غیر دلیل بل لما یرغب من غرض الدنیا و شهوتها فهو المذموم الآثم المستوجب للتادیب و التعزیر لارتکابه فی الدین و استخفافه بدینه و مذهبه.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۲۰۹ جلد ۳ مطلب فیما اذا ارتحل الیٰ غیر مذهبه)

الجواب: داسړې که داجتهاد درجې ته نه وی رسیدلې نو جاهل مرکب دې. ﴿۱﴾ وهوالموفق

د موجوده دور غیرمقلدینو ته جمات او مدرسې د پاره ځائې ورکول ائمه دین ته د کنځلو او بد رد وئیلو اډه جوړول دی

سوال: زمونږ په علاقه کښې دڅو کالو راسې دوه سړی غیرمقلد شوی دی دوی د عام خلقو په زړونو کښې شکوك او شبهات اچوی، د تقلید مذمت او شر او فساد خوروی، او س هم داخلق د احنافو په دې کلی کښې د یو جدا جمات بنیاد ایخودل غواړی، نو حنفیت پریخودل غیرمقلد جوړیدل د شریعت په رو سره څنګه دی؟ او د مقلدینو په کلی کښې دغیرمقلدینو جمات او مدرسه جوړول څه حکم لری؟

المستفتی: عبدالوهاب ګندف صوابی مردان ډویژن.. ۲۲| ذی قعده ۱۴۰۸ھ

الجواب: داخلق اهل حدیث نه دی دا د شرالقرون د بې واګو (آزاد) خلقو مقلدین دی او بدتر مقلدین دی، داخلق د سواد اعظم نه دخارج کیدو باوجود سواد اعظم ملامت کوی، بهرحال دوی ته جمات یا مدرسې دپاره ځائې ورکول سواد اعظم او ائمه دین ته د کنځلو او بد رد وئیلو اډه جوړول دی. ﴿۲﴾ وهوالموفق

بغیر دڅه وجې نه د احنافو مذهب پریخودل د تعزیر لائق دې

سوال: یک مسلمان وحنفی مذهب که بتوسط دینارو درا هم مذهب خود را ترک میکند از خطر خود را وهابی جور میکند۔ آں شخص چه حکم دارند؟ آن واقعه در کمپ هائے مهاجرین افغانستان اکنون واقع است۔ چه حکم دارند؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: بازمحمد مهاجر افغانستان.... ۱۹۸۶ء|۱۲| ۲۴

﴿۱﴾ قال ابن عابدین قلت و ایضاً قالوا العامی لا مذهب له بل مذهبه مذهب مفتیه و علله فی شرح التحریر بان المذهب انما یکون لمن له نوع و نظر و استدلال و بصر بالمذاهب علی حسبه اولمن قرأ کتابا فی فروع ذلک المذهب و عرف فتاویٰ امامه و اقواله واما غیره ممن قال انا حنفی لم یصر کذلک بمجرد القول کقوله انا فقیه او نحوی ...... یدل لذلک ما فی القنیه رامز البعض کتب المذهب لیس للعامی ان یتحول من مذهب الیٰ مذهب و یستوی فیه الحنفی والشافعی. (ردالمحتار ص ۲۰۹ باب التعزیر مطلب العامی لامذهب له)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین قوله ارتحل الی مذهب الشافعی یعزر ای اذا کان ارتحا له لا لغرض محمود شرعاً لما فی التاترخانیه حکی ان رجل من اصحاب ابی حنیفة خطب الی رجل من اصحاب الحدیث ابنته فی عهد ابی بکر الجوز جانی فابی الا ان یترک مذهبه فیقرأ خلف الامام ویرفع یدیه عند الانحطاط ونحو ذلک فاجابه فزوجه فقال الشیخ بعد ما سئل من هذه واطرق رأسه النکاح جائز ولکن اخاف علیه ان یذهب ایمانه وقت النزع لانه استخف بمذهبه الذی هو حق عنده وترکه لاجل جیفة منتنة ولو ان رجلاً برئ من مذهبه باجتهاد وضح له کان محموداً ماجوراً اما انتقال غیره من غیر دلیل بل لما یرغب من عرض الدنیا وشهوتها فهو المذموم الآثم المستوجب للتادیب التعذیر لارتکابه المنکر فی الدین واستخفافه بدینه ومذهبه...... قلت وایضا قالوا العامی لامذهب له بل مذهبه مذهب مفتیه وعلله فی شرح التحریر بان المذهب انما یکون لمن له نوع نظر واستدلال وبصر بالمذاهب علی حسبه الخ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۰۹ جلد ۳ باب التعزیر)

جـــواب: شخصے کہ مذہب امام ابوحنیفہ رحمۃ اللہ علیہ ترک کند لائق تعزیر است۔ خصوصاً کہ برائے حصول مال باشد۔ کما فی شرح تنویر مع ردالمحتار ص ۲۶۳ جلد ۳ ارتحل الیٰ مذهب الشافعی یعزر ای اذا کان ارتحاله لالغرض محمود شرعاً لما فی التاتر خانیه حکی ان رجلاً من اصحاب ابی حنیفة خطب الیٰ رجل من اصحاب الحدیث ابنته فی عهد ابی بکر الجوز جانی فابی الاان یترک مذهبه فیقرا خلف الامام ویرفع یدیه عند الانحطاط و نحو ذلک فاجابه فزوجه فقال الشیخ بعد ماسئل عن هذه واطرق رأسه النکاح جائز ولکن اخاف علیه ان یذهب ایمانه وقت النزع لانه استخف بمذهبه الذی هو حق عنده و ترکه لاجل جیفة منتنة. ﴿۱﴾ و هو الموفق

تقلید واجب لغیره دي امام ابوحنیفه محدث کبیر وو

سـوال: (۱) مسئلہ تقلید ثابت است یانہ؟ (۲) اقرار شدند امام اعظم ستره (۱۷) احادیث یاد داشتہ است این موضوع حقیقت دارد یانہ؟

المستفتی: محمد ولی ترکستانی افغانستان......۱۹۸۵ء/۱۰/۱۳

جواب: تقلید شخصی خصوصاً برائے عوام لازم و واجب لغیرہ است ﴿۲﴾ و امام ابوحنیفہ محدث کبیر بود استدلال از حدیث و جواب احادیث خصم بغیر از محدث کبیر کردہ نمے شود ﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار ص ۲۰۸ جلد ۳ مطلب فی ما ذا ارتحل الی غیر مذهبه باب التعزیر)

﴿۲﴾ قال الله تعالیٰ ولو ردوه الی الرسول والی اولی الامر منهم لعلمه الذین یستبطونه منهم. (النساء)
تقلید په خیرالقرون کښې بلانکیر موجود وو، په دې باندې سلفاً خلفاً تعامل شوې دې، نو دا به حسن وی. لحدیث ماراه المومنون حسنا فهو عندالله حسن رواه المحدثون موقوفا علي ابن مسعود وجعله الامام محمد مرفوعاً في بلاغاته. حجت قرآن او حدیث دې او ائمه د وحی عبارت، اشارت، دلالت، اقتضاء او اعتبار شارحین دی شارعین نه دی، استاذان دی ارباب نه دی. والتفصیل فی المقالات للشیخ محمد فرید دامت برکاتهم.

﴿۳﴾ امام ابوحنیفه حدیث د حدیث په وجه پرېږدی د رائې په وجه نه، داسې یو مثال هم څوك نه شی پیش کولې چه په هغې کښې امام صاحب د رائې په وجه حدیث پرېښې وی. والدلیل علی کونه محدثا کبیراً المسند للامام اعظم، واما یقولون المخالفین ان الاحادیث الامام الاعظم لیس بموجود فی البخاری والمسلم. فنقول ان الحجة حدیث ثابت لاالبخاری والمسلم فهم لیس باهل الحدیث بل هم اهل البخاری. واما المقولة بان الصحیح البخاری اصح الکتب بعد کتاب الله. فهذه المقولة لا فی القرآن ولا فی الحدیث ولا فی خیر القرون لکن قالها احد فی شر القرون.
(والتفصیل فی المقالات للشیخ محمد فرید دامت برکاتهم) (از مرتب)

په څلورو مذاهبو کښې حصر تکوینی دې

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه زمونږ په علاقه کښې داسې خلق موجود دی چه هغوی بالکل د څلور مذهبونو نه منکر دی او وائی چه دا مذهبونه د کوم ځائې نه راغلی دی، اوس ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه د دې څلور مذهبونو ثبوت بیان کړئ او د شکریه موقعه راکړئ؟

المستفتی: مولانا سراج الدین مدین سوات....۸/ فروری ۱۹۷۵ء

الجواب: په قرآن او حدیث کښې ټول احکام عبارةً او صراحةً مذکور دی بعضې حکیم مطلق اشارةً وغیره ذکر کړی دی، چه د اعتبار او رائې ګنجائش پاتې شی، او ورثة الانبیاء ته د جهد او اجتهاد موقع ملاؤ شی، او امت د مشقت نه خلاص شی. بهرحال صحابه رضی الله عنهم په مقام د رائې کښې خپلې رائې ښکاره کړې، او په دغه رائې کښې ائمه مجتهدینو انتخاب او کړو، تکوینی طور سره د هغې نه څلور آراء مشهور شوې، او باقی یا ختم شوې یا د هغې پیروی کونکی ډیر کم پاتې شو، خلاصه دا چه په دې څلور مذهبونو کښې انحصار یو تکوینی امر دې. او ممکن ده چه دا مت تعامل او د خواصو د استحسان په وجه تشریعی امر وی، وهو الموفق

د دیوبند د اکابرینو په مینځ کښې اختلاف په ترجیح یا توجیه کښې وی اصول کښې نه وی

سوال: علمائې دیوبند چه ورته علماء حق وئیلې شی سره د دې چه په یو مسلك باندې متفق دی بیاهم بعضې د بعض سره اختلاف ساتی، مثلاً په حیات وغیره کښې، نو دا اختلاف ولې دې، او په دې کښې مونږ د چا او منو؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: صوفی لعل خان......۱۹۷۰ء/۵/۲

الجواب: واضحه دې وی چه د دیوبند د ټولو اکابرینو مسلك یو دې. وهو مسلك اهل السنة والجماعة، البته بعض داسې مسائل چه د قدیم نه مختلف فیه دی مثلاً سماع موتٰی او یا بالکل جدید مسائل دی مثلاً مسئله د صلاة بآله مکبرالصوت (لاوډ سپیکر) و ردالسلام عند الاستبراء، نو په داسې مسئلو کښې اختلاف په حقیقت کښې ترجیح او توجیه کښې اختلاف دې، چه دا

بهرحال د اهل سنت والجماعت سره متصادم نه دي.

او چونکه مسلك دحيات جسمانی مسئله د دواړو په نزد ثابته ده.

﴿۱﴾ وهی من الضروريات. لهٰذا ددي په کيفيت کښې اختلاف نشته.

لانها من النظريات و اکثر الاکابر قائلون بالاولی و هو المؤيد بروايات اوردها البيهقی فی رسالته فليراجع . وهو الموفق

﴿۱﴾ علامه محمد قاسم نانوتوی رحمة الله عليه فرمائی: بالفعل گوش نهادن داخبره ده چه دانبياء کرام عليهم السلام خصوصاً د سرورانبياء عليه السلام په خصائصو کښې غور اوسوچ اوکړئ نود متوسط ذهن خاوندانو ته هم د بقاء حيات په نسبت دخصائصو او مذکوره خواصو باعث انشراح خاطر کيږی، ددې خبرې تشريح داده چه لکه څنګه اختلاف اوضاع...... دغسې سلامت اجساد انبياء عليهم السلام علی الدوام او حرمت ابدی نکاح ازواج مطهرات رضوان الله عليهم اجمعين او عدم توريث انبياء عليهم السلام نه ذهن د ارباب حدس اول خودې طرف ته منتقل کيږی چه دا مذکوره احکام او ثمرات دحيات دی، اوددې خبرې د بيان نه پس چه دا امورثلاثه ثمرات دحيات دی. الخ

(آب حيات ص۲۲ للحجة الاسلام آية من آيات الله حضرت قاسم نانوتوی رحمة الله عليه)

کتاب
ما يتعلق
بالقرآن والتفسير

قال الله تعالیٰ:

وَهٰذَا

ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ اَنْزَلْنٰهُ ؕ

اَفَاَنْتُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ۝۵۰ ع

...

كتاب مايتعلق بالقرآن والتفسير

په قرآن مجيد کښې د تکليف بمالايطاق حکم

سوال: څه فرمائی علمائې دين په دې مسئله کښې چه په قرآن مجيد کښې چرته دې طرف ته اشاره ملاويږی چه الله تعالیٰ د بنده ګانو دطاقت نه زيات حکم هم ورکړې وی؟ وضاحت اوکړئ.

المستفتی: حنيف الله ډی آئی خان فاضل بنوری ټاؤن کراچی

الجواب: په جلالين شريف کښې ليکلی دی:

ولا تحمل علينا اصراً كما حملته على الذين من قبلنا من قتل النفس فى التوبة واخراج ربع المال وقرض موضعِ النجاسة انتهىٰ بحذف يسير.

اودا عسيردې ﴿۱﴾ دطاقت نه زيات نه دې. ﴿۲﴾ فافهم

قرآن ته نظم وئيل

سوال: زمونږ په علاقه کښې د بعضې شاعرانو عقيده ده چه قرآن مجيد هم نظم دې، لکه چه يو کتاب کښې ليکلی دی چه ,,نام څګرخون،، دا دايوب صابر تصنيف دې. دقرآن باره کښې ددوی الفاظ دادی:

,,څه ازادنظم دغزل نه زيات ګران شې ګنړم، غزل ماته داسې يو صندوق ښکاری چه په جوړو جاړو تختو کښې ميخونه ټک وهلونه پس تيارولې شی...

﴿۱﴾(جلالين پاره: ۳ سورة البقره رکوع: ۸ آيت: ۲۸۶)

﴿۲﴾ قال الملاعلى قارى ومنها ان تكليف مالا يطاق غير جائز خلافا للاشعرى لقوله تعالىٰ "لا يكلف الله نفسا الا وسعها" اى طاقتها. واختلف اصحابه فى وقوعه. والاصح عدم الوقوع ثم تكليف مالا يطاق هو التكليف بما هو خارج عن مقدور البشر كتكليف الاعمى بالابصار والزمن بالمشى بحيث لواتى به يثاب ولو تركه يعاقب...... واما قوله تعالىٰ "ربنا ولا تحملنا مالا طاقة لنا به" فاستعاذه عن تحميل مالا يطاق لاعن تكليفه اذ عندنا يجوز ان يحمله جبلا لا يطيقه بان يلقى عليه فيموت ولا يجوز ان يكلفه بحمل جبل بحيث لو فعل يثاب ولو امتنع يعاقب الخ.

(شرح الفقه الاكبر لملا على قارى ص ۱۴۱ تكليف مالا يطاق غير جائز)

اوپه دې کښې ماته ازادنظم له ټولونه خه کتاب د الله یعنی قرآن ښکاری.د ازاد نظم د الهام سره براه راست تعلق دې،،

کوم سړې چه د قرآن باره کښې دا عقیده ساتی چه ماته دټولونه ښه آزاد نظم قرآن یعنی کتاب الله په نظر راځی اود آزاد نظم الهام سره براه راست تعلق دې،نوددې سړی باره کښې څۀ حکم دې؟

المستفتی: بادشاه ګل لاچی کوهاټ...... ۱۷|۲|۱۹۸۶ء

الجواب: د السلام علیکم نه پس دې واضحه وی چه شاید ددې مؤلف دنظم نه مراد مقفٰی کلام وی ﴿۱﴾ عربی شعرنه وی،پس داسې محتملاتونه د کفر یا د زندقه فتوٰی ورکول نامناسب دی.وهو الموفق

په ,, ختم الله علی قلوبهم ,, باندې داشکال جواب

سوال: مونږ داوخت په یوغیرآباد ځنګل کښې د فوجی په غرض سره ملازمت کښې مشغول یو،مونږ سره د یو درمیانه درجې امام دې،دلته څوك عالم نشته،مونږ ددې امام نه تفسیر شروع کړې دې،کله چه مونږ دې آیت ,,ختم الله علٰی قلوبهم،، ته اورسیدو،نو زمونږ په ملګروکښې یوکس اووئیل چه هرکله ددې کافرانو په زړونو باندې مهرونه لګیدلی دی نوبیا ددوی څه غلطی ده چه دوی ته عذاب ملاویږی،وضاحت سره مسئله اولیکئ اود شکریه موقعه راکړئ؟

المستفتی: حولدار رشیدخان اینجړ ۲۵بلوچ رجمنټ

سی،اې،پی،او هیډ کوارټر کمپنی .... ۲۴|شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: دا یوه باریکه مسئله ده په دې باندې پوهیدو دپاره تاسوپه دې مثال باندې نظر واچوئ.چه یوسړی چرس اوڅکل نود عادت پخیدونه مخکښې دده نه د توبې اود واپس کیدو امید کیدې شی او کله چه پوخ عادی شی نودې ته په زړه وغیره باندې مهر لګول وائی.﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامه آلوسی ،انا النبی لا کذب انا ابن عبد المطلب ،لانا لانسلم انه شعر فقد عرفوه بانه الکلام المقفی الموزون علی سبیل القصد وهذا مما اتفق له علیه الصلاة والسلام من غیر قصد لوزنه ومثله یقع کثیراً فی الکلام المنثور ولا یسمی شعرا ولاقائله شاعرا. (تفسیر روح المعانی ص ۱۷ جلد ۱۳ سورة یٰس :۶۹)

﴿۲﴾ قال العلامه الوسی ثم ان اسناد الختم الیه عز وجل باعتبار الخلق والذم والتشنیع الذی تشیر الیه الآیة باعتبار کون ذلک مسببا عما کسبه الکفار من المعاصی کما یدل علیه قوله تعالیٰ بل طبع الله علیها بکفرهم ...... اقول ان ماهیات الممکنات معلومة له سبحانه ازلا فهی متمیزة فی انفسها تمیزًا ذا تیا غیر مجعول لتوقف العلم بها علی ذلک التمیز وان لها استعدادات ذاتیه غیر مجعولة ایضا مختلفة الاقتضاء ات . (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د شیعه سنی مشترکه ترجمې مخالفت په هر سنی باندې ضروری دې

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه دحکومت پاکستان د وزارت تعلیم دطرفه مشترکه ترجمه دقرآن مجید (شیعه سنی) د امت داتحاد دپاره کولې شی،چونکه شیعه ګان قرآن محرف ګڼړی،آیا دوی سره د قرآن ترجمه جائزده؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: حفیظ الرحمٰن شارع عثمان،

علی سټریټ چوهړپړیاں راوالپنډی ۹|۱۲|۱۹۸۷ء

الجواب: دقرآن دتحریف عقیده داهل تشیع په نزد دمسلمات اومتواترات څنې ده، ددوی په مشهورکتاب تفسیرصافی کښې لیکلی دی:

المستفاد من مجموع هذه الاخبار وغیره من الروایات من طریق اهل البیت علیهم السلام ان القرآن الذی بین اظهر نالیس بتمامه کما انزل علی محمد ﷺ بل منه ما هو خلاف ما انزل الله ومنه ماهو مغیر ومحرف وانه قدحذف منه اشیاء کثیرة منها اسم علی فی کثیر من المواضع ومنها غیر ذلک .

بلکه تردې پورې لیکی چه په قرآن پاك کښې اویا زره آیاتونه دی.

کما فی اصول الکافی ص ۶۷۱ عن ابی عبد الله قال ان القرآن جاء به جبرئیل الی محمد سبعة عشر الف آیة۔

که چرته شیعه ګانو دقرآن دتحریف نه انکارکړې دې نوهغه هم په تقیه باندې مبنی دې او تقیه ددوی په نزد دومره مؤکد ده چه ددې نه بغیر چاته مسلمان هم نه وائی.لا دین لمن لا تقیة له ولا ایمان لمن لا تقیة له .(اصول کافی ص۴۱۴) پس دا مشترکه ترجمه به د شیعه ګانو دکفریاتو او تحریفاتو دقابل اعتناء کیدو کامیابه ذریعه جوړه شی،په هرسنی باندې ددې مخالفت ضروری دې.﴿۱﴾ وهو الموفق

(بقیه حاشیه د تیر مخ) والعلم الالٰهی متعلق بها کاشف لها علی ما هی علیه فی انفسها من اختلاف استعدادا تها التی هی من مفاتیح الغیب التی لا یعلمها الا هو .واختلاف مقتضیات تلک الاستعدادات فاذا تعلق العلم الالٰهی بها علی ما هی علیه مما یقتضیه استعدادها من اختیار احد الطرفین الخیر والشر تعلقت الارادة الالٰهیة بهذالذی اختاره العبد بمقتضیٰ استعداده الخ .(تفسیر روح المعانی ص ۲۱۷ جلد ۱ آیت:۶:۱۰ سورة البقره)

وقال الملا علی قاری واما التکلیف بما هو ممتنع لغیره کا یمان من علم الله انه لا یؤمن مثل فرعون وابی جهل وابی لهب وسائر الکفار الذین ماتوا علی الکفر فقدا تفق الکل علی جوازه ووقوعه شرعا . (شرح فقه الاکبر ص ۱۴۱ جلد ۱ لملا علی قاری تکلیف مالا یطاق)

﴿۱﴾ عن ابن عباس رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من قال فی القرآن برأیه فلیتبوّأ مقعده من النار وفی روایه من قال فی القرآن بغیر علم فلیتبوّأ مقعده من النار رواه الترمذی . (مشکواة المصابیح ص ۳۵ جلد ۱ کتاب العلم)

آیت ,,ویعلم مافی الارحام،، او مشین په ذریعه د بچی نر او ماده معلومول

سوال: داسې مشین ایجاد شوې دې چه هغه په رحم کښې دننه د نر او ماده پته ورکوي، تقریباً یقیني طور باندې مونږ ته ددې آلې متعلق معلومات شوي دي نو بیا د کلام الهی ,,ویعلم مافی الارحام،، به څۀ مطلب وي؟

المستفتی: ارشد علی پړانګ چارسده......۱۹۹۰ء/۱۰/۲

الجواب: واضحه دې وي چه کوم معلومات د مشینونو په ذریعه حاصلیږي هغې ته په شریعت کښې ظن وائي علم او یقین ورته نه وائي. او چونکه په هر مشین کښې دا احتمال موجود وي چه خراب نه وي. لهٰذا ددې احتمال په وجه دې ته یقین نه وئیلې کیږي. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د شیعه سنی مشترکه د قرآن د ترجمې ګنجائش نشته

سوال: څۀ فرمائي علمائې دین په دې مسئله کښې چه د حکومت پاکستان د وزارت تعلیم د طرفه مشترکه د قرآن مجید ترجمه (شیعه سني) اتحاد د پاره لیکلې کیږي. او غالبًا څۀ حصه ئې پوره شوې هم ده. او س عرض دادې چه شیعه ګان د قرآن د تحریف قائل دي او د موجوده قرآن د منلو اقرار صرف تقیه (دروغ) دی. داسې خلقو سره چه په مشترکه کومه ترجمه کولې شي، نو آیا دې سره به د اهل سنت د طرفه د شیعه ګانو تائید نه وي؟ آیا شیعه ګان هم د قرآن قائل او مفسر او مترجم دي. آیا داسې به د اهل سنت علماؤ (اراکین کمیټي) د طرفه د شیعه ګانو تائید نه کیږي؟ سوال دادې چه آیا ددې کمیټۍ رکن جوړیدل او داسې ترجمه کول جائز دي یا نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: حفیظ الرحمٰن شارع عثمان،

علی سټریټ چوهړ پړیاں راولپنډی ۱۹۸۷ء/۱۱/۲۴

﴿۱﴾ قال العلامه الوسی وانه یجوزان یطلع الله تعالیٰ بعض اصفیائه علی احدی هذه الخمس ویرزقه عزوجل العلم بذلک فی الجمله وعلمها الخاص به جل وعلا ماکان علی وجه الاحاطة والشمول لاحوال کل منها وتفصیله علی الوجه الاتم ......قال علی القاری فی شرح الشفاء الاولیاء وان کان قدینکشف لهم بعض الاشیاء لکن علمهم لا یکون یقیناً والهامهم لا یفید الا امراً ظنیا ومثل هذا عندی بل هو دونه بمراحل علم النجومی ونحوه بواسطة امارات عنده بنزول الغیث وذکورة الحمل او انوثته او نحو ذلک ولا اری کفر من یدعی مثل هذاالعلم فانه ظن عن امرعا دی ......واما ظن الغیب فقد یجوز من المنجم وغیره اذاکان عن امرعادی ولیس ذلک بعلم الخ.(تفسیر روح المعانی ص۱۶۸، ۱۶۹ جلد۱۲ سورة لقمان: ۳۳، ۳۴)

الجواب: داهل اسلام شیعه ګانو سره مشترکه ترجمه او تفسیر کول شرعاً، عرفاً او سیاسةً قبیح او ممنوع دی، شرعاً په دې وجه چه دا اقدام ددوی په کفریاتو باندې پرده اچول ﴿۱﴾ او ددوی د تکفیر نه ژبه بندول دی. حالانکه په پاکستانی او ایرانی شیعه ګانو کښې مسلمان نشته. او عرفاً په دې وجه چه عوامونه به بُغض فی الله ختم شی. ﴿۲﴾ او د شیعه ګانو دا یجنټانو نه به نور هم متاثره شی. او سیاسةً په دې وجه چه اوس کلیدی او لوئې لوئې عُهدې د تناسب نه زیاتې ددوی سره دی. او ددې اقدام سره به اکثر بلکه زیاتو عُهدو باندې ددوی قابض شی. ﴿۳﴾ حکومت چه قادیانیان غیرمسلمه او ګرځول نو څۀ تناسب ئې قائم کړې دې. فافهم وهو الموفق

نمر په چینه کښې ډوبیدل او سائنسی تحقیقات

سوال: د نمر په باره کښې قرآن پاک کښې په شپاړسمه سیپاره کښې چه د ذوالقرنین متعلق کوم بیان دې په هغې کښې د نمر باره کښې صفا وئیلې شوي دي چه نمر ډوبیږي، خو اوس چه په عالم دنیا کښې سائنس ډیره زیاته ترقی کړې ده په دې باره کښې وضاحت سره دا پته لګی چه نمر او سپوږمۍ نه ډوبیږي او په خپل ځائې باندې مقیم او سیږي، ځکه چه په یو ځائې کښې کله شپه شی نو د دنیا په یونه یو حصه کښې نمر ضرور پرقیږي، نو په دې آیت او موجوده مشاهده کښې تطبیق او وضاحت کولو سره زمونږ ذهنی پریشانی لرې کړئ؟

المستفتی: محمد اشرف، ایم، او، ډی، سی، کینټین،

ایچ ډی، ایس، ایس ډی پشاور ۱۹۶۹ء

الجواب: د سورة کهف په تفسیر کښې مفسرینو تصریح کړې ده چه د نمر په چینه او سمندر کښې ډوبیدل بادی (ظاهری) او سرسری نظر کښې دی، ګینې په حقیقت کښې معامله داسې نه ده، او په دې تعبیر کښې حکمت دادې چه عوام په دې حقیقت باندې مشکل سره پوهیږي. ﴿۴﴾ لهٰذا په بې کاره مسئلو کښې

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری وذلک لانه رضی بالکفر والرضی بالکفر کفر سواء کان بکفر نفسه اوبکفرغیره .(شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص۱۵۴ منها استحلال المعصیة الخ)

﴿۲﴾ عن ابی امامه قال قال رسول الله ﷺ من احب لله وابغض لله واعطی لله ومنع لله فقد استکمل الایمان .(مشکواة المصابیح ص۱۴ جلد۱ کتاب الایمان الفصل الثانی)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین حاصله انهم لما کانوا مخالطین اهل الاسلام فلا بدّمن تمیزهم عناکی لا یعامل معاملة المسلم من التوقیر والاجلال وذلک لایجوز.(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۲۹۹ جلد۳ مطلب فی تمیز اهل الذمة فی الملبس فصل فی الجزیة)

﴿۴﴾ قال العلامه الوسی بان المراد وجدها فی نظر العین کذلک اذلم یرهناک الا الماء لا انها کذلک حقیقة، وهذا کما ان راکب البحر یراها کانها تطلع من البحر وتغیب فیه اذالم یرالشط والذی ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

(مذهبی حیثیت سره) د مشغولیدو په ځائې په ظاهر اومسلم باندې اکتفا کړې شوې ده، چه د فتنې نه بغیر مقصود ته رسائی حاصله شی.فقط

د قرآن د مفرد صیغوپه ځائې داقتباس په طور دجمع صیغې استعمالول جائزدی

سوال: څه فرمائی علمائې دین د شرع متین ددې آیت باره کښې ,,فاطر السمٰوٰت والارض انت ولیی فی الدنیا والآخرة توفنی مسلماً والحقنی بالصٰلحین،، که څوك دا آیت ددعا په ځائې کښې دجمع صیغوسره وائی یعنی ,,توفنا مسلماً والحقنا بالصالحین،، نوآیا دې سره څۀ ګناه کیږی بعضې خلق وائی چه دجمع صیغه استعمالول کفریه کلمات جوړیږی نوشرعی حکم لیکلوسره د شکریه اومننې موقعه راکړئ؟

المستفتی: قائم شاه نوتهین ضلع کیمل پوراتك... ۱۹۶۹ء|۱۱|۲۷

الجواب: دا داقتباس یوقسم دې چه اجماعاً جائزدې:

قال فی خزانة الادب ثم اعلم انه یجوز ان یغیر لفظ المقتبس منه بزیادة ونقصان اوتقدیم او تاخیر او ابدال الظاهر من المضمر او غیر ذلک .(هکذا فی هوامش عقود الدرر ص ۴۵۰) فقط

په سورة البقره کښې د بقره نه مراد غوا ده که غوئې

سوال: په قرآن مجید کښې چه سورة بقره ده،نوپه دې کښې د بقره نه مراد غوا (مؤنث) ده یا غوئې (مذکر) دې.ځکه چه اکثرمفسرین هم په دې کښې مختلف دی چا غواسره اوچا غوئی سره تفسیر کړې دې،لهٰذا تعین کولوسره وضاحت اوکړئ.

المستفتی: نامعلوم.......... ۱۹۶۹ء

الجواب: د ابومنصور ماتریدی رحمه الله نه منقول دی چه دا مذکردې.او ,,تا،، دوحدت دپاره ده اود اکثر مفسرینو په نزد تا د تانیث دپاره ده، د دواړو قرینې موجود دی.﴿۱﴾ یولره هم غلط ګنړل نه دی پکار.فقط

(بقیه حاشیه د تیرمخ) فی ارض ملساء واسعة یراها ایضا کانها تطلع من الارض وتغیب فیها ولا یرد علی هذا انه عبر بوجد والوجدان یدل علی الوجود لما ان وجد یکون بمعنی رای کما ذکره الراغب فلیکن هنا بهذا المعنی ثم المراد بالعین الحمئة اما عین فی البحر اوالبحر نفسه وتسمیته عینا مما لاباس به خصوصاً وهو بالنسبة لعظمة الله تعالیٰ کقطرة وان عظم عندنا.(تفسیر روح المعانی ص۳۶ جلد ۹ سورة الکهف :۸۶)

﴿۱﴾ قال العلامه الوسی "و قرا یحی،، وعکرمه . و الباقران الباقر .و هو اسم لجماعة البقر ' والبقر اسم جنس جمعی یفرق بینه و بین واحده بالتاء و مثله یجوز تذکیره ' و تانیثه ' کنخل منقعر و النخل باسقات و جمعه اباقرو یقال فیه بیقور و جمعه بواقر و فی البحر انما سمی هذا الحیوان بذالک لانه یبقر الارض ای یشقها للحرث .(تفسیر روح المعانی ص ۴۵۷ جلد ۱ سورة البقره آیت : ۷۰)

د نیکر اغوستونکو او سرتور سر خلقوته د قرآن تلاوت

سوال: څۀ فرمائی علماء دشرع متین دې مسئلې باره کښې چه (۱) دقرآن د تلاوت اوریدونکی دقاری اومعلم مخې ته نیکر اغوستی ناست وی،چه دې کښې کونډئ اونیمه پنډئ ښکاری، آیا دا دقرآن دتلاوت دآدابو خلاف نه دی، آیا قاری په دې صورت کښې قرآن لوستلې شی؟ (۲) آیا ددوی په وړاندې د قرآن ترجمه اومفهوم بیانولې شی؟ (۳) په دې حالت کښې قاری سره داخلق بسم الله وئیلې شی.یا قاری ئې په دوی وئیلې شی؟ کله چه دا ټول صورتونه قصداً او اهتمام سره وی لکه چه په بعضې ادارو کښې دسحر د پی ټی په حالت کښې ددې صورتونو اهتمام کولې شی.

المستفتی: شاپور محمد خطیب ...۱۹_ ایف،ایف رجمنټ ملیرکینټ کراچی

الجواب: په داسې حالت کښې قرآن وئیل اوپه خلقو وئیل بې ادبی ده،البته د بې دینئ په ماحول کښې د تبلیغ په طور یا داصلاح د توقع په خیال بې ادبی نه ده.﴿۱﴾فقط

د توحید دآیاتونو په موجودګئ کښې په نورو آیاتونوکښې د تکلفاتو ضرورت نشته

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه زمونږ په جمات کښې یوحافظ صاحب د توحید درس ورکوی، کله چه هغه دې آیت ته راورسیده: ,,ان الذین کفروا ینادون لمقت الله اکبر من مقتکم انفسکم اذ تدعون الی الایمان فتکفرون،، الآیة. او دا ترجمه ئې اوکړه چه کوم خلق منکرشو هغوی ته به آوازکولې شی چه لکه څنګه تاسو دخپلو ځانونونه نفرت دې ددې نه ډیر زیات دخدائې نه نفرت وو، کله چه به تاسو ایمان طرف ته یعنی توحید طرف ته رابللی شوئ،نوتاسو به نه منلو،نویو سوال استاذ د عربئ نه ناخبره حافظ صاحب ته اووئیل چه دروغ وائې او غلط ترجمه کولوسره خلقوته دهوکه ورکوې،نوددې سړی د بې هودګئ باره کښې شرعی حکم څه دې؟

المستفتی: حافظ محمد طیب اتحاد بکډپو کهوټه ضلع راوالپنډی ۱۹۶۹ء|۴|۱۷

﴿۱﴾وفی الهندیه الکلام منه ما یوجب اجراً کا لتسبیح والتحمید وقرأة القرآن والاحادیث النبویه وعلم الفقه وقد یأثم به اذا فعله فی مجلس الفسق وهو یعلمه لما فیه من الاستهزاء والمخالفة لموجبه وان سبح فیه للاعتبار والانکار ویشتغلوا عما هم فیه من الفسق فحسن و کذا من سبح فی السوق بنیة ان الناس غافلون مشتغلون بامور الدنیا و هو مشتغل بالتسبیح وهو افضل من تسبیحه وحده فی غیر السوق کذافی الاختیار شرح المختار. (فتاویٰ هندیه ص ۳۱۵ جلد ۵ الباب الرابع کتاب الکراهیة)

الجواب: مقت بُغض ته وائی او نفرت هم دې سره مناسبت ساتی.لیکن دا ترجمه چه ،،ددې نه زیات مو دالله نه نفرت وو ،، که دیو معتمد سړی نه منقول نه وی نود ګرفت قابل دې.﴿۱﴾ دتوحید باره کښې قرآن کښې ډیرآیاتونه دی ددې تکلف هیڅ ضرورت نشته.باقی پاتې شوه د فاسد العقیده سړی داصلاح طریقه نوهغه ته دصحیح عقیدې علماؤته د رجوع کولو اودهغوی د تصنیفاتو دمطالعې ترغیب ورکول کامیابه طریقه ده.فقط

د ،،الله نور السمٰوٰت والارض،، تفسیر

سوال: د قرآن پاك ددې ارشاد متعلق وضاحت اوکړئ.چه ،،الله نور السمٰوٰت والارض،، حالانکه الله تعالی خوپخپله نورنه دې،بلکه د نورخالق دې او نور دالله تعالی مخلوق دې،نوعرض دادې چه آیا الله تعالی نوردې که نه دې؟

المستفتي: محمد جاوید

الجواب: دالله تعالی یو اسم النورهم دې.﴿ ۲ ﴾ (ترمذی) او الله تعالی دنورو اسباب، دنورخالق هم دې.

کما فی قوله تعالیٰ وجعل الظلمات والنور ـ﴿۳﴾الله نور السّمٰوٰت والارض﴿۴﴾ الآیة

﴿۱﴾ قال الالوسی ینادون :وهم فی النار وقد مقتوا انفسهم الامارة بالسوء التی وقعوا فیما وقعوا باتباع هواها حتی اکلوا انا ملهم من المقت کما اخرج ذلک عبد بن حمید عن الحسن وفی بعض الاثار انهم یمقتون انفسهم حین یقول لهم الشیطان فلا تلو مونی ولوموا انفسکم ......لمقت الله اکبر من مقتکم انفسکم ......معمول لقول مقدر بفاء التفسیر ای ینادون فیقال لهم لمقت الخ...... ای لمقت الله ایاکم اوانفسکم اکبر من مقتکم انفسکم واللام للابتداء او للقسم ،والمقت اشدالبغض ......لمقت، الله تعالیٰ انفسکم اکبر من مقتکم ایاها لانکم دعیتم مرة بعد مرة الی الایمان فتکرر منکم الکفر ......والمعنی لمقت الله تعالیٰ انفسکم فی الدنیا اذ تدعون الی الایمان فتکفرون اشد من مقتکم ایاها الیوم الخ.
(تفسیر روح المعانی ص ۷۶ جلد ۱۳ سورة المؤمن : ۱۰)

﴿۲﴾ عن ابی هریره قال قال رسول الله ﷺ ان لله تعالیٰ تسعة وتسعین اسماً......النور الهادی البدیع الباقی الوارث الرشید الصبور رواه الترمذی والبیهقی فی الدعوات الکبیر وقال الترمذی هذا حدیث غریب .(مشکواة المصابیح ص ۱۹۹ جلد۱ کتاب اسماء الله تعالیٰ الفصل الثانی)

﴿۳﴾(پاره : ۷ سورة انعام رکوع : ۷ آیت : ۱)

﴿۴﴾(پاره : ۱۸ سورة النور رکوع : ۱۱ آیت : ۳۵)

د عیسیٰ علیه السلام پیدائش په مثل د پیدائش د آدم علیه السلام تفسیر

سوال: (۱) د علمائې کراموده دایت مطابق سورة آل عمران، مریم، انبیاء، تحریم، څلورواړه سورتونه مې اوکتل چرته هم آدم علیه السلام ته بې پلاره،بغیراب او بغیرباپ،بغیر والد یا والدین نه دی فرمائیلې شوی،نوبیا عیسیٰ علیه السلام دهغوی په مثل کیدوسره څنګه بغیرپلاره اوګرځولې شو،آدم علیه السلام خوځکه بغیر مور او بغیرپلار تسلیم کړې شوې دې چه اول انسان وو،په اولیت کښې مورپلار مانع دی،پس عیسیٰ علیه السلام په ولادت کښې مثل نه شو،ځکه چه آدم علیه السلام مولود نه دې،البته په دې کښې عیسیٰ علیه السلام مثل دې چه ،،خلقه من تراب ثم قال له کن فیکون،، (آل عمران) نوددې مثلیت پوره وضاحت اوکړئ؟(۲) که د یوې ښځې تراوسه پورې واده نه دې شوې،اوهغه حامله اوموندې شی یائې بچې پیداشی نو په دې باره کښې صریح الفاظوکښې داسلامی شریعت څه فیصله ده؟

المستفتي: حافظ مومن صفدرجنګ ګورنمنټ
نارمل سکول شاه پورشهر ۱۳ارجب ۱۳۹۳ھ

الجواب: (۱) دقرآن طرزبیان د دلالت او اقتضاء په طور په دې حقیقت باندې ناطق دې چه حضرت آدم علیه السلام بغیر د مورپلارنه پیداشوې دې اوهم دا معنٰی سلف صالحینو مراد اخستې ده،اول استاذ ړومبو شاګردانوته هم دا ښودلی ده.﴿ ۱ ﴾ اودحضرت عیسیٰ علیه السلام باره کښې دالله تعالی هم داتقریر کافی دې.لم یمسسنی بشر ولم اك بغیا.﴿ ۲ ﴾ په دې کښې دجائز اوناجائز دواړه قسم دجماع د نفی باوجود د ولادت پیشکش موجود دې،(۲) کله چه دخارجی دلائلو نه دیو محتمل او مشتبه امر تعین اوترجیح ثابت شی نوشریعت مقدس ددې نه انکار نه کوی.وهوالموفق

﴿۱﴾ قال الآلوسی المثل هنا لیس هو المثل المستعمل فی التشبیه والکاف زائدة بل بمعنی الحال والصفة العجیبة ای ان صفة عیسیٰ عند الله ای فی تقدیره وحکمه ...... کمثل آدم ای کصفته وحاله العجیبةالتی لا یرتاب فیها مر تاب ......وفی الآیة دلالة علی صحة النظر والاستدلال لانه سبحانه احتج علی النصاریٰ واثبت جواز خلق عیسیٰ علیه السلام من غیر اب بخلق آدم علیه السلام من غیر اب ولاام الخ
.(تفسیر روح المعانی ص۲۹۷، ۲۹۸ جلد ۳ سورة آل عمران: ۵۹)

﴿۲﴾(پاره:۱۶ سورة مریم رکوع : ۵ آیت : ۲۰)

په معمول واحد باندې د عاملینو راتلل اود بعضې جمع صیغوسره دالف نه کیدو اشکال

سوال: محترم مفتی صاحب! لاندې آیاتونه اوګورئ چه په یوفعل باندې دوه حروف عامل داخل دی نوپه هغې کښې رومبی حرف عمل کړې دې اوکه دوئم، مثلاً ان لن نجمع عظامه (قیامه) ان لن نقدر (انبیاء) فان لم تفعلوا ولن تفعلوا (البقره) وغیره.(۲) په قرآن مجید کښې باء و(بقره) ۲، ۶۱ (آل عمران) ۳، ۱۱۲ فان فاء و(بقره) ۲، ۲۲۷ جاؤ (النمل) ۲۷، ۸۴ (نور) ۲۴، ۱۱ (فرقان) ۲۵، ۴ په آخر کښې دجمع الف ولې نه دې لیکلې شوې.جواب راکړئ؟

المستفتی: حافظ مومن صفدر جنګ ګورنمنټ
نارمل سکول شاه پورشهر ۱۳|رجب ۱۳۹۳ھ

الجواب: (۱) په دې کلماتو کښې دوه عامل په یومعمول باندې داخل نه دی بلکه د هریو معمول عامل جداجدا دې.والتقدیر ان الشان لن نجمع،انه لن نقدر وان شرطیه مجموعه لم تفعلوا وغیره باندې داخل دی.﴿۱﴾ (۲) دقرآن مجید رسم الخط خلاف القیاس دې په دې کښې به دامام الصحائف صحیفه عثمان رضی الله عنه اتباع کولې شی،هم دا سلفاً خلفاً متعامل دې.کما صرح به الاتقان ص۱۲۷ جلد۲﴿۲﴾ وهوالموفق

په قرآن مجید کښې د وحی په ذریعه نسخ واقع شوې ده

سوال: زما یودوست دې هغه ماته ددې خبرې منلو اود ایمان دجزو جوړولو تاکید کوی،چه په قرآن مجید کښې څه آیاتونه داسې ووچه هغه نازل شو لیکن روسته د وحی په ذریعه منسوخ التلاوت شول، اوهغه آیاتونه په موجوده قرآن مجید کښې شامل نه دی،دهغه وینا ده چه داخبره د احادیثونه ثابته ده،لیکن دحدیث مکمل حواله نه شی ښودلې.نوآیا الله تعالی نعوذبالله څوك مصنف یا شاعردې چه په خپل کلام کښې تنسیخ یا ترمیم کوی مهربانی اوکړئ جواب راکړئ؟

المستفتی: محمد مسعود صدیقی شاهین کالونی مردان ۱۱۹ محرم ۱۳۹۲ھ

﴿۱﴾ قال العلامه الوسی ان مخففة من الثقیلة واسمها ضمیر الشان مخذوف ای ایحسب ان الشان لن نجمع بعد التفرق عظامه . (روح المعانی ص ۲۳۶ جلد ۱۶ سورة القیامة آیت : ۳)

﴿۲﴾ قال العلامه سیوطی فی الاتقان سئل مالک عن الحروف فی القرآن مثل الواو والالف اتری ان یغیر من المصحف اذا وجدفیه کذلک قال لا قال ابو عمر ویعنی الواو والالف لمزیدتین فی الرسم المعدومتین فی اللفظ نحو اولوا وقال الامام احمد یحرم مخالفة خط مصحف عثمان فی واو او یاء اوالف او غیر ذلک الخ.(الاتقان فی علوم القرآن ص۱۶۷ جلد ۲ نوع فی مرسوم الخط واداب کتابته)

الجواب: واضحه دې وی چه دالله په کتابونو کښې نسخ یقیناً واقع شوې ده اوپه دې کښې هیڅ استبعاد نشته،ځکه چه دالله تعالی احکام د نفس داصلاح دوائی ده،نولکه څنګه چه یوحکیم حاذق د مرض، موسم او مزاج په وجه دوائی بدلوی نودغسې حکیم مطلق جل جلاله د انسانانوپه دوایئ کښې د مزاج او زمانې په وجه تبدیلی کوی.﴿۱﴾ چه دهغې نه کول خلاف مصلحت وی،اود رجم متعلق دې واضحه وی چه داحکم په قرآن کښې موجودوو ددې نه پس منسوخ التلاوت شو.﴿۲﴾ (رواه البخاری ومسلم والترمذی وابن ماجه وابوداؤد ومالك) اوپیغمبر علیه السلام او خلفائې راشدینو باقاعده حد درجم جاری کړې دې.فقط

د هوالذی خلق السموٰت والارض فی ستة ایام وکان عرشه علی الماء آیت تفسیر

سوال: دعالم د پیدائش باره کښې ماسره یوتفسیردې چه دهغې په دولسمه سیپاره کښې دویم آیت هوالذی خلق السموٰت والارض فی ستة ایام وکان عرشه علی الماء،، په حاشیه کښې ئې دې سره لیکلی دی په بخاری شریف کښې دی چه اول اول دالله تعالی د ذات نه سوا اوبه یا عرش هیڅ نه وو،اول الله تعالی اوبه پیدا کړې بیائې عرش،بیا قلم، بیا ئې لوح محفوظ پیداکړو،مهربانی اوکړئ ددې حدیث عربی راته اولیکئ او اوفرمایئ چه آیا واقعی داحدیث ددې آیت تفسیردې؟

المستفتی: مبعوث الوارث اسسټنټ پروفیسر
کالج تهانه ملاکنډ ایجنسی ۶|اګست ۱۹۸۳ء

الجواب: دبخاری شریف حدیث صرف دومره دې: کان الله ولم یکن شئ وکان عرشه علی

﴿۱﴾ قال العلامه الوسی والآیات انما نزلت لمصالح العباد وتکمیل نفوسهم فضلامنه تعالیٰ ورحمة وذلک یختلف باختلاف الاعصار والاشخاص کا لدواء الذی تعالج به الا دواء فان النافع فی عصر قد یضر فی غیره والمزیل علة شخص قد یزیل علة سواه ،فاذن قدیکون عدم الحکم او الاثقل اصلح فی انتظام المعاش وانظم فی اصلاح المعاد والله تعالیٰ لطیف حکیم الخ.(تفسیر روح المعانی ص۵۵۶ جلد۱ سورة البقرة:۱۰۶)

﴿۲﴾ عن عمر قال ان الله بعث محمداً بالحق انزل علیه الکتاب فکان مما انزل الله تعالیٰ ایة الرجم رجم رسول الله صلی الله علیه وسلم ورجمنا بعده والرجم فی کتاب الله حق علی من زنی اذا احصن من الرجال والنساء اذا قامت البینة او کان الحبل او الاعتراف .متفق علیه. (مشکواة المصابیح ص ۳۰۹ جلد۲ کتاب الحدود)

الماء﴿۱﴾ زیاتی مضمون د نوروکتابونو داحادیثونه ثابت دي.﴿۲﴾ وهوالموفق

د قرآن مجید رسم الخط دعام رسم الخط نه جدادي

سوال: قرآن مجید کښي چه چرته دجمع صیغه ده مثلاً جاءو، هلته الف نه وی لیکلي شوي، حالانکه د صرف اونحو د قواعدو په لحاظ سره الف لیکل پکاردی ځکه چه دجمع علامت الف دي، جواب راکړئ؟

المستفتي: ابوسلمان ابوظهبی (U. A. E) ۱۸|۸|۱۹۹۰ء

الجواب: دقرآن مجید رسم الخط د معروف رسم الخط نه جدادي ﴿۳﴾ کله د واؤ جمع نه پس الف نه لیکلي کیږی لکه په جاءو کښي، او کله مفرد سره الف لیکلي کیږی لکه په یدعوا، ادعوا کښي، فلیراجع الی المصحف. وهوالموفق

د ,,قل العفو،، آیت تفسیر

سوال: د الله تعالی ارشاد ,,قل العفـو،، د رسول الله ﷺ ټول ژوند ددې حکم مطابق تیرشو، اود قرآن پاك په احکامو باندې عمل هغه وخت صحیح وی کله چه دحضور ﷺ په ژوند باندې عمل اوشی، او ډیرځل هغه زمکه چه هغې لره مالك پخپله نه شوه کرلې، نوهغه خلقوته ورکړې شوه څوك چه دهغې حقدار وو ددې باوجود د ,,قل العفو،، کلمې حکم صفا وجوبی حکم نه ګرځولو څه وجه ده، اودا په استحبابی احکامو کښي دداخلولو څه دلائل دی؟

المستفتي: محمد ظهیرمحله ګوجر شینکي تحصیل وضلع اټك ۱۰|۷|۱۴۰۱۱هـ

﴿۱﴾عن عمران بن حصین قال انی عند النبی ﷺ اذجاءه قوم من بنی تمیم فقال اقبلوا البشریٰ یابنی تمیم قالوا بشرتنا فاعطنا فدخل ناس من اهل الیمن فقال اقبلوا البشریٰ...... ونسألک عن اول هذا الامر ما کان قال کان الله ولم یکن شئ قبله وکان عرشه علی الماء ثم خلق السمٰوات والارض وکتب فی الذکر کل شئ الخ. (صحیح البخاری ص ۱۱۰۳ جلد۲ باب قوله وکان عرشه علی الماء کتاب الرد علی الجهمیه)

﴿۲﴾عن عبادة بن الصامت قال قال رسول الله ﷺ ان اول ما خلق الله القلم. (مشکواة المصابیح ص ۲۱ جلد۱ باب الایمان بالقدر) اول ماخلق الله العقل، ذکره فی الاحیاء قال العراقی اخرجه الطبرانی والاوسط وابو نعیم باسنادین ضعیفین. (الموضوعات الکبری ص۷۵ رقم: ۲۶۷)

﴿۳﴾قال العلامه سیوطی فی الاتقان قد خالفها فی بعض الحروف خط المصحف الامام وقال اشهب سئل مالک هل یکتب المصحف علی ما احدثه الناس من الهجاء فقال لا الا علی الکتبة الاولیٰ.......... سئل مالک عن الحروف فی القرآن مثل الواو والالف اتری ان یغیر من المصحف اذا وجدفیه کذلک قال لا قال ابو عمرو یعنی الواو والالف المزیدتین فی الرسم المعدومتین فی اللفظ نحو اولوا وقال الامام احمد یحرم مخالفة خط مصحف عثمان فی واو او یاء او الف او غیر ذلک. (الاتقان فی علوم القرآن ص۱۶۶، ۱۶۷ جلد ۲ النوع فی مرسوم الخط واداب کتابته)

الجواب: که د ,,قل العفو،، نه معلوم شوې حکم وجوبی وي نو الله تعالی به زکوة نه فرض کولې، دا یوغیرمعقول کاردې چه په مکلف باندې ځلوېښتمه حصه ورکول هم فرض دی، اوحاجت نه زیات مال ورکول هم فرض دې، اود سلف صالحینو د تعامل نه مخالفت دې. پس بهرحال یا دا امراستحبابی دې یا منسوخ دې، دا دصحابی ﷺ نه روایت دې.﴿۱﴾

نوټ: د امراستحبابی کیدو په تقریر باندې دقرآن حکم انفاق العفو دې، نه چه مصادرة العفو. فافهم. وهوالموفق

په قرآن مجید (کلام لفظی) باندې قسم کول جائزدی

سوال: قرآن مجید مخلوق دې که غیرمخلوق، اوپه دې باندې قسم کول څنګه دی؟ بینوا وتوجروا

المستفتي: فضل رحیم مینګوره سوات.....۲۸| شعبان ۱۴۰۲هـ

الجواب: چونکه دا کلام لفظی په کلام نفسی باندې دلالت کوی چه دا صفت واحده شخصیه اوغیرمخلوق دې، لهٰذا متاخرین مفتیانو په دې کلام لفظی باندې قسم کول جائز ګرځولی دی.﴿۲﴾ وهوالموفق

قرآن آیاتونه د ګس طرفه الټه لیکل جائزنه دی

سوال: من کتب ایة القرآن مقلوباً من الجانب الایسرای هکذا "[illegible]" فما حکمه الجواز اوالمنع - بینواوتوجروا

المستفتی: نامعلوم......۲۹/۵/۱۴۰۱ه

جواب: لاتجوز قرأة القرآن مغایرة عن رسم خط المصحف العثمانی کما فی

﴿۱﴾قال العلامه ابن کثیر ای ذلک الا یجهد مالک ثم تقعد تسأل الناس. ویدل علی ذلک ما رواه ابن جریر...... عن ابی هریرة قال قال رجل یا رسول الله عندی دینار قال انفقه علی نفسک قال عندی آخر قال انفقه علی اهلک قال عندی آخر قال انفقه علی ولدک قال عندی آخر قال فانت ابصر وقد رواه مسلم وایضاً عن جابر ان رسول الله ﷺ قال لرجل ابدأ بنفسک فتصدق علیها فان فضل شئ لاهلک فان فضل شئ عن اهلک فلذی قرابتک فان فضل عن ذی قرابتک شئ فهکذا وهکذا الخ (تفسیر ابن کثیر ص ۳۳۴ جلد ۱ پ : ۲ سورة البقرة آیت : ۲۱۹)

﴿۲﴾قال العلامه ابن عابدین (قال الکمال الخ) مبنی علی ان القرآن بمعنی کلام الله فیکون من صفاته تعالیٰ کما یفیده کلام الهدایة حیث قال ومن حلف بغیر الله تعالیٰ لم یکن حالفاً کالنبی والکعبة لقوله علیه الصلاة والسلام من کان منکم حالفا فلیحلف بالله اولیذر وکذااذا حلف بالقرآن لانه غیر متعارف فقوله وکذا یفید انه لیس من قسم الحلف بغیر الله تعالیٰ بل هو من قسم الصفات ولذا علله بانه غیر متعارف.....وتعلیل عدم کونه یمینا بانه غیره تعالیٰ لانه مخلوق لانه حروف وغیرالمخلوق هو الکلام النفسی منع بان القرآن کلام الله منزل غیرمخلوق ولا یخفیٰ ان المنزل فی الحقیقة لیس الا الحرف المنقضیة المنعدمة وماثبت قدمه استحال علمه غیر انهم او جبوا ذلک لان العوام اذا قیل لهم ان القرآن مخلوق تعدوا الی الکلام مطلقاً الخ. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص۵۶ جلد ۳ مطلب فی القرآن کتاب الایمان)

الاتقان وقال اشهب سئل مالک هل یکتب المصحف علی ما احدثه الناس من الهجاء فقال لا الا علی الکتبة الاولیٰ رواه الدانی فی المقنع ثم قال ولا مخالف له من علماء الامة وقال الامام احمد یحرم مخالفة خط مصحف عثمان فی واو او یا او الف او غیر ذلک ﴿۱﴾ قلت القرآن عربی لفظاً وکتبا وهذ المقلوب لایسمی عربیا. فافهم ـ وهوالموفق

تفسیر ته بې اودسه لاس وړل

سوال: څۀ فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه تفسیر یا نور اسلامی کتابونه چه په هغې کښې قرآنی آیاتونه وی هغې ته بې اودسه لاس وړل څنګه دی؟ وضاحت اوکړئ

المستفتی: حبیب الله فقیرآباد پشاور..... ۱۹| ذی قعده ۱۴۰۲هـ

الجواب: کله چه دآیات نه نور لیکل زیات وی نوبې اودسه لاس وړل ناجائز نه دی. ﴿۲﴾ وهوالموفق

قرآن مجید منکوس (الټه) چهاپ کولوکښې څه مصلحت نشته

سوال: محترم مفتی صاحب! حمید بک ډپو قرآن پاک دمصحف عثمانی نه خلاف چهاپ کړې دې یعنی د سورة الناس نه ئې شروع کړې اوپه سورة نباء باندې ئې ختم کړې دې. په شریعت کښې ددې څه حکم دې؟ بینوا وتوجروا

الجواب: د قرآن مجید منکوس لوستل د بعضې مصلحتونو په وجه جائزدی. کمافی ردالمحتار (ص ۵۴۶ جلد ۱) ﴿۳﴾ قوله وان یقرأ منکوساً وانما جوز للصغار تسهیلاً لضرورة التعلیم.

﴿۱﴾ (الاتقان فی علوم القرآن للعلامه سیوطی ص ۱۶۷ جلد۲ النوع فی مرسوم الخط واداب کتابته)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین ویکره مس المحدث المصحف کما یکره للجنب وکذا کتب الاحادیث والفقه عندهما والاصح انه لا یکره عنده ......فتلخص فی المسئلة ثلاثة اقوال ......بهذاالتفصیل بان یقال ان کان التفسیر اکثر لا یکره وان کان القرآن اکثر یکره والاولیٰ الحاق المساواة بالثانی وهذاالتفصیل ربما یشیر الیه ماذکرناه عن النهروبه یحصل التوفیق بین القولین. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۱۳۰ جلد ۱ قبیل باب المیاه)

﴿۳﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۰۴ جلد ۱ قبیل باب الامامة)

لیکن په منکوس لیکلو کښې هیڅ مصلحت نشته. بلکه په دې کښې فساد دې. وهو ان یعسر علیه القرأة مرتبا فی الصلاة. وهوالموفق

د ملازمت په دوران کښې دتلاوت کولوحکم

سوال: زه سرکاری ملازم یم، ډیوټی کله د شپې وی کله د ورځې. آیا د ډیوټۍ په دوران کښې دقرآن پاك تلاوت جائزدې اوپه دې تلاوت به ثواب ملاویږی؟ زه تلاوت هغه وخت کوم کوم وخت چه هیڅ کارنه وی. اوزه فارغ یم؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: محمد حنیف محکمه موسمیات خیبر روډ پشاور ۱۹۸۴ء| ۶| ۹

الجواب: که د سرکارپه نزد دا تلاوت د اعتراض قابل وی نوپه یادو تلاوت کول پکاردی. ﴿۱﴾ فافهم وهوالموفق

د تعلیم د آسانئ دپاره د آخری سیپارې معکوس چهپائی

سوال: نن صبا په اکثرومدرسو کښې د تجوید القرآن په شعبو کښې د ماشومانو د تدریس دپاره خصوصاً د آخری سیپارې ,,عم یتساءلون،، چهپائی داسې کیږی چه دهغې ابتداء د سورة فاتحې نه کیږی اود ,,ولا الضالین،، نه پس سورة الناس او ددې نه پس سورة الفلق ترآخره پورې خلاف ترتیب د سورة نباء پورې سیپاره مکمل کړې شوې ده. نوآیا په دې مذکوره ترتیب سره دعم سیپارې چهاپ کول د شریعت په رو سره جائزدی؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: قاري فیاض الاسلام مردان..... ۱۹۸۴ء| ۶| ۱۱

الجواب: دا ترك ترتیب ماشومانو دپاره جائزدې. کما فی ردالمحتار ص ۳۶۷ ج۱ قوله ولا یقرا منکوساً وانما جوز للصغار تسهیلاً لضرورة التعلیم انتهٰی. لیکن داسې تالیف ته آخری سیپاره وئیل

﴿۱﴾ قال ابن عابدین ولیس للاجیر الخاص ان یعمل لغیره بل ولا ان یصلی النافلة قال فی التتار خانیه وفی فتاویٰ الفضلی واذا ستاجر رجلاً یوما یعمل کذا فعلیه ان یعمل ذلک العمل الی تمام المدة ولایشتغل بشئ آخر سوی المکتوبة وفی فتاویٰ سمرقند وقدقال بعض مشائخنا له ان یؤدی السنة ایضاً واتفقوا انه لا یؤدی نفلا وعلیه الفتویٰ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۸ جلد۵ باب ضمان الاجیر)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۰۴ جلد ۱ قبیل باب الامامة)

د تالیف عثمانی نه ښکاره مخالف دي.﴿۱﴾ بخلاف القرأة. فافهم. وهوالموفق

د معراج نبوی متعلق د اداره فروغ اردو لاهور ,,رسول نمبر،، زړه ورتیا

سوال: اداره فروغ اردو لاهور یوه رساله اوباسی، تیر کال ددې رسالې ,,رسول نمبر،، شائع کړې شو. حکومت ورته په لکهونو انعام ورکړو. په اخباراتو، ریډیو، ټی وی باندې ددې نمبر ډیره مشهورتیا اوشوه، په رساله ,,رسول نمبر،، جلددوئم شماره نمبر ۱۳۰، دسمبر ۱۹۸۲ء باب اول ص ۶۰ پیراګراف نمبر ۱۲۲ باندې ډاکټر حمیدالله لیکی:

نبی کریم ﷺ شپه خپل مرحوم تره سره تیره کړه، هلته هغوی یومتبرك خوب اولیده، ورپسې ډاکټر صاحب لیکی: پیراګراف نمبر ۱۲۴ ,,خدائې چونکه هرځائې کښې موجوددې لهٰذا دمادی فاصلې طې کولو هیڅ سوال نه پیداکیږی، قرآن پاك دمعراج دپاره لفظ رؤیا استعمال کړې دې پخپله رسول الله ﷺ فرمائی دمعراج په وخت زه دخوب او بیدارئ په مینځ حالت کښې ووم دحضرت خدیجه رضی الله عنها نه روایت دې چه دا یو روحانی سفر اوخوب وو،، ددې مضمون څۀ حکم دې؟

المستفتی: چوهدری سردارمحمد لیه پنجاب... ۱۸|شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: دا مضمون قرآن اوصحیح احادیثو سره متصادم دې.﴿۲﴾ حکومت همیشه د اهل زیغ اواهل الحاد په شاباشئ کښې مبتلا وی. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال السیوطی واما ترتیب السور فهل هو توقیفی ایضا او هو باجتهاد من الصحابة خلاف فجمهور العلماء علی الثانی ....ویوقف جبریل النبی ﷺ علی موضع الآیة و السورة فاتساق السور کاتساق الآیات والحروف کله عن النبی ﷺ فمن قدم سورة او اخرها فقد افسد نظم القرآن الخ. (الاتقان فی علوم القرآن ص ۶۲ جلد ۱ فصل فی ترتیب السور)

﴿۲﴾ قال العلامه الوسی وذهب الجمهور الیٰ انه فی الیقظة ببدنه وروحه ﷺ والرؤیا تکون بمعنی الرؤیة فی الیقظة کما فی قول ....وقال الواحدی انها رؤیة الیقظة لیلا فقط وخبر شریک لا یعول علیه علی ما نقل عن عبدالحق وقال النووی واما ما وقع فی روایة عن شریک وهو نائم وفی اخریٰ عنه بینا انا عند البیت بین النائم والیقظان فقد یحتج به من یجعلها رؤیا نوم ولا حجة فیه اذ قد یکون ذلک اول وصول الملک الیه ولیس فی الحدیث ما یدل علی کونه ﷺ نائما فی القصة کلها واحتج الجمهور لذلک بانه لو کان مناما ماتعجب منه قریش ولا استحالوه لان النائم قد یری نفسه فی السماء ویذهب من المشرق الی المغرب ولایستبعده احد. وایضا العبد ظاهر فی الروح والبدن وذهبت طائفة منهم. الخ (تفسیر روح المعانی ص ۱۱ جلد ۹ سورة الاسراء: ۱)

په قرآنی آیاتونو کښې دخپل طرفه دیوقوم تخصیص تحریف معنوی دې

سوال: یوه ماهنامه رساله (Muslim News) د فروری ۱۹۷۰ء ص ۲۷ باندې یومضمون (Juler Halima and the Quran Inans tnook javruay) چهاپ شوې دې. چه په دې کښې پاره نمبر ۲۷ سورة رحمٰن آیت ۳۳، ۳۵ کښې د لفظ سلطان غلطه ترجمه، دغسې د سورة نحل آیت ۸۱ کښې دلفظ سرابیل غلطه ترجمه کولو سره ئې ددې خودلو زړه ورتیا کړې ده، چه الله تعالی د امریکی خلقو سپوږمئ ته دتلو پیشنګوئی دنن نه څوارلس سوه کاله مخکښې کړې ده، اویوځائې سیپاره نمبر ۳۰ سورة نمبر ۹۱ آیت نمبر ۲ کښې د لفظ طلحه نه دامطلب دې چه هلته به دوه پارټئ یومحفوظ لوبه کوی، اوهغه دواړه پارټئ د روس او امریکې دی. بهرحال په دې مضمون کښې د روس او امریکې د اوچتوالی طرف داری شوې ده. اوپه دې کښې ماده پرست قوم افضل خودلې شوې دې. ما مولانا ابوالاعلی مودودی صاحب، مولانا عبیدالله انورصاحب اومولانا محمد ادریس صاحب سره هم رابطه کړې ده. لیکن هغوی هیڅ جواب رانکړو. البته مولانا مودودی صاحب صرف دومره لیکلی دی چه داسې لیکل ګمراه کونکی وی، لهٰذا عرض دادې چه تاسو ددې مضمون نګار پوره رد لیکلو سره شائع کړئ. اوماته هم مطمئن کولو سره جواب راکړئ؟

المستفتی: تاج محمد اکونټنټ پائیند کارپوریشن
شاهراه قائداعظم لاهور ۱۹۷۰ء|۴|۶

الجواب: مونږ سره دا رساله نشته، لهٰذا مونږ ددې دتفصیلی ردنه معذوره یو، البته دومره به ضرور اووایو چه دغه سړی تحریف معنوی کړې دې په دې شرط که هغه د امریکې وغیره تخصیص کړې وی. وهوالموفق

د عربئ نه د ناخبره هلکانو او لاؤډ سپیکر په ذریعه دقرآن ترجمه کول

سوال: زمونږ په کلی کښې یومولوی صاحب په لاؤډ سپیکر کښې یوڅو هلکانو ته د قرآن کریم ترجمه شروع کړې ده، هغه هلکان د عربئ نه بالکل ناخبره دی هغوی ترجمه څۀ چه د قرآن مجید صحیح تلفظ هم نه شی کولې، په دې وجه خلق دوه ډلې شول، یوه ډله وائی چه دا ترجمه بندول پکاردی. ځکه چه دا

هلکان د عربئ نه هم ناخبره دی خلاصه اومنیه هم نه ورځی، اوبله وجه دا چه داخلق استماع نه کوی چه ددې په وجه ټول خلق ګناهګاریږی، دویمه ډله وائی چه مونږ به په لاؤډ سپیکر باندې ترجمه کوو، ځکه چه دعوت بالجهر راغلې دې، نوآیا دا ترجمه کول غوره دی اوکه نه کول غوره دی؟

المستفتی: احمدشاه زنډو بانډه ....۱۵| دسمبر ۱۹۷۴ء

الجواب: بهتره داده چه داسې هلکان دې دعربئ وغیره نه خبردارکړې شی لیکن د ناخبرئ په صورت کښې به ددوی ترجمه کول ګناه نه وی، اومناسبه داده چه بې ضرورته په لاؤډ سپیکر کښې ترجمه کول نه دی پکار. لیکن دچا غوږ اینبودلو سره بهٔ جهرکونکې ګنهګار نه وی. اود آوازونو د تصادم په صورت کښې به لاؤډ سپیکر نه شی استعمالولې. فقط

د ,,الیوم ننجیک ببدنک،، آیت تشریح

سوال: قرآن کریم کښې په یوولسمه سیپاره سورۃ یونس کښې چه د فرعون باره کښې کوم آیت کریمه راغلې دې چه اې فرعون مونږ ستا لاش محفوظ ساتلې دې اوپه آخری زمانه کښې به ستا لاش ښکاره کوو، مهربانی اوکړئ ددې آیت متعلق مونږ ته تفصیل سره جواب راکړئ؟

المستفتی: اهلیان دره آدم خیل.......۱۹۷۸ء| ۸| ۲۲

الجواب: ,,الیوم ننجیك ببدنك،،(۱) الایه، دنجات مطلوبه په ځائې نن مونږ ستا لاش ته د اوبو لاندې ډوبیدو نه نجات درکوو، چه ته هغه چا دپاره عبرت اوګرځې، کوم چه ستانه روسته موجود دی. چه ستا بدحالی او تباهی کتلوسره د الله تعالی داحکامونه اویریږی. (بیان القرآن ص ۳۰ جلد ۵)(۲) وهوالموفق

(۱) (پ: ۱۱، سورۃ یونس رکوع: ۱۴، آیت: ۹۱)

(۲) دمصر په عجائب ګهرکښې چه کوم لاش پروت دې، چه په هغې باندې خلق د فرعون معهود ګمان کوی اود سورۃ یونس آیت باندې دلیل نیسی لیکن دا دتحقیق خلاف دی، علامه شبیراحمدعثمانی په فوائدعثمانیه تفسیرعثمانی کښې لیکی: دجدید تحقیقاتو نه ثابتیږی چه د فرعون لاش ترنن پورې محفوظ راروان دې. لیکن د قرآنی الفاظوصحت ددې په ثبوت باندې موقوف نه دی. بهرحال په ۱۹۲۶ کښې چه مصریانو ته کوم حنوط شوی لاشونه ملاؤشوی دی، تراوسه پورې داخبره ثبوت ته نه ده رسیدلې، چه واقعی دا دهغه معهود فرعون لاش دې، یا دمصر په فرعونیانو کښې دبل فرعون، اود آیت دامطلب بالکل نه دې چه د فرعون لاش به ترقیامته پورې محفوظ وی. (ازمرتب)

د ختم قرآن نه پس فاتحه اود سورۃ بقره پنځه آیاتونه لوستل مستحب دی

سوال: که یوکس مجموعی طورسره قرآن کریم ختم کړی. یعنی د الحمد نه والناس پورې، نوهغه به دختم په وخت صرف والناس پورې وائی. یا نورهم د شروع نه وئیل پکاردی. یعنی دالحمد لله نه، وضاحت اوکړئ؟

المستفتی: رسول خان لیب ټیکنیشن کمبائنډ ملټری هسپتال ۱۹۶۹ء|۷|۳۱

الجواب: دختم قرآن نه پس مستحب دی چه فاتحه اود سورۃ بقره پنځه آیاتونه اولوستلې شی.

کما فی شرح الاحیاء والاتقان بروایة الدارمی بسند حسن عن ابن عباس عن ابی بن کعب رضی الله عنه تعالیٰ عنهما ان النبی ﷺ اذا قرء قل اعوذ برب الناس افتتح من الحمد ثم قرء البقره الی اولئک هم المفلحون و فی مجمع البحار قراء مکه اذا ختموا القرآن ابتدوا و قرء و الفاتحة و خمس آیات من اول البقرة الی المفلحون . ﴿۱﴾ و هو الموفق

د ختم القرآن په موقع باندې اجتماع اود دعا شرعی حیثیت

دسنن دارمی جلد دوئم په آخر (باب فی ختم القرآن) کښې دابوقلابه نه مرفوعاً روایت دې چه څوك دختم قرآن په مجلس کښې حاضرشی. فکانما شهد الغنائم حین یقسم. دحضرت قتاده نه نقل دی چه یو سړی په مسجدنبوی کښې قرآن لوستلو، او ابن عباس رضی الله عنهما به دهغه دختم په انتظارکښې اوسیدلو، اوکله چه به دختم وخت راغې، نوپاسیدلو به اوهغه ته به ورتلو، دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دې چه کله به ابن عباس رضی الله عنهما ختم کولو نوټول اولاد اواهل بیت به ئې جمع کړل اودهغوی د پاره به ئې دعاکوله، دحکم نه روایت دې چه مجاهدماته دعوت راکړو اووې فرمائیل چه زمونږ دختم کولو اراده ده، په هغې کښې د شرکت دپاره تاسوته دعوت دې، دا روایات په سنن دارمی کښې سند سره رانقل دی، اوپه فتاوٰی هندیه جلد ۵ کښې دمحیط نه ددې دعا اواجتماع کراهت رانقل دې. چه په دې باندې تعامل نه دې واردشوې، داپه خیرالقرون کښې معمول نه وو، لیکن د نوروفقهاؤ نه روایت دې چه په دې عدم جوازبه فتوٰی نه شی ورکولې، اوددې آثاروپه وجه دا آخری قول قوی دې. اود یوحکم د جواز اواستحباب دپاره

(۱) (الاتقان فی علوم القرآن ص۱۱۱ جلد۱ قبیل فی الاقتباس وما جرٰی مجراه)

دصحابی قول کافی وی، اګرچه په هغې باندې تعامل وارد نه وی. (ملفوظات حضرت مفتی اعظم) (ازمرتب)

د خطاطئ په ذریعه د جاندار ځیزونو په صورت کښې قرآنی آیاتونه لیکل

سوال: یعنی خوشنویس او خطاط قرآنی آیاتونه د جاندار ځیزونو په صورت کښې جوړوی، چه هغه په کتلو سره حیوانی شکل په نظر راځی. ددې شرعی حکم څه دې؟


المستفتی: میاں محمد شاه ډائریکټر اداره تعلیم
وتحقیق پشاوریونیورسټی ۱۹۷۰ء/۱۲/۱۶

الجواب: مبارک کلمات د جاندار په شکل کښې لیکل ممنوع دی، په عُرف کښې داسې مکتوب ته تصویر وئیلې کیږی خط ورته نه وئیلې کیږی. د سروزرو جوړشوی انسان ته بُت وئیلې شی سره زر نه، بهرحال کله چه د غیرمبارک نقطو او خطونو نه حیوانی تصویر جوړ کړې شی او هغه دهیچا په نزد جائز نه وی نود مبارکو نقطو او خطونو نه جوړشوې تصویر به په طریقه اولې حرام وی. وهوالموفق

....

....

......



...

قال الله تعالیٰ

وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ﴿٣﴾

إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ﴿٤﴾

...

کتاب مایتعلق بالحدیث والسنة

,,لا فتیٰ الا علی،، حدیث نه دې

سوال: څه فرمائی مفتیان دشرع متین په دې باره کښې چه اکثرحضرات فرمائی چه ,,لا فتیٰ الا علی،، حدیث دې، که واقعی حدیث دې نوددې شرعی حیثیت څه دې اوپه کومه موقع باندې حضور ﷺ ارشاد فرمائیلې وو. وضاحت اوفرمایئ؟

المستفتی: میاں محمدصدیق مغل دهلی کالونی کراچی نمبر۶..۵|شعبان ۱۴۰۸ھ

الجواب: ددې حضراتو دپاره ضروری ده چه ددې حدیث سند ذکرکړی اویا دحدیث دکتابونو نه دمتعلقه کتاب حواله اوښائی.فقط ﴿۱﴾

ددرس حدیث په وخت سوال کښې ذکر شوی کیفیات او واردات شریعت سره متصادم نه دی

سوال: دخط کشیده جملو باره کښې شریعت مطهره څه فیصله ورکوی: ,,دغه شان ددرس حدیث د اول قرن د محدثینو ګمان کیدلو چه دآسمان نه وحی راځی، دغسې به ددرس حدیث په وخت زړونو باندې داسې معلومیدله چه رسول پاک ﷺ صحابو سره په مجلس کښې تشریف فرمادې.اود قال الرسول ﷺ بازارګرم دې.د موجوده دور دیوعالم متعلق داسې وئیل څنګه دی؟

المستفتی: مولانا عزیزالرحمٰن جامعه رحیمیه ډهکی چارسده امیرجمعیت علماء اسلام چارسده ...۲۶|رجب ۱۴۰۸ھ

﴿۱﴾قال الملاعلی قاری حدیث لا فتی الا علی ولا سیف الا ذوالفقار .لا اصل له مما یتعمد علیه نعم یروی فی اثر واه عن الحسن بن عرفة العبدی من حدیث ابی جعفر محمد بن علی الباقر قال :نادی ملک من السماء یوم بدر یقال له رضوان ,,لا سیف الا ذوالفقار لا فتی الاعلی وذکره کذا فی الریاض النضرة .... اقول مما یدل علی بطلانه انه لو نودی بهذا من السماء فی بدر لسمعه الصحابة الکرام ونقل عنهم الائمة الفخام وهذا شبیه ما ینقل من ضرب النقارة حوالی بدر وینسبونه الی الملائکة علی وجه الاستمرار من زمنه علیه السلام الی یومنا هذا وهو باطل عقلاً ونقلاً ....من مفتریات الشیعة الشنیعه الخ (الموضوعات الکبری للقاری ص۲۶۵ رقم حدیث :۱۰۶۰)

الجواب: دداسې وارداتو او کیفیاتو قرآن اوحدیث سره هیڅ تصادم نشته.
و له نظائر منها قال الصحابه رضی الله عنهم عند ما قرء ه الصدیق الاکبر رضی الله عنه عند
وفاة النبی ﷺ. ﴿۱﴾ و هو الموفق

د پیغمبر علیه السلام د عمر مبارک په مختلف روایاتوکښې تطبیق

سوال: ددې آیاتونو باره کښې وضاحت اوکړئ چه ټولو انبیاء علیهم السلام باندې صحیفې هغوی سره نازل شوې وې، اوکوم احادیث چه د حضور ﷺ باره کښې ذکردی. په هغې کښې درې واړه اقوال مختلف دی. دهغې باره کښې وضاحت اوکړئ ځکه چه دا درې واړه احادیث صحیح دی. په دې کښې به دتطبیق څۀ صورت وی؟ آیاتونه دادی:

واتبعوا النور الذی الخ الایة سورة اعراف پ: ۹ آیت ۱۵۷ . فبعث الله النبین . الایة . سورة البقره آیت : ۲۱۳. اواحادیث دادي: (۱) فهاجر عشر سنین و مات و هو ابن ثلاث و ستین سنة متفق علیه (۲) قال اقام رسول الله ﷺ بمکة خمس عشرة سنة ...... وتوفی وهو ابن خمس و ستین سنة متفق علیه (۳) و عن انس رضی الله عنه قال تو فا الله علی رأس ستین سنة متفق علیه.
(مشکواة المصابیح باب المبعث وبدء الوحی الفصل الاول ص ۲۵۷، ۲۵۸ جلد ۲)

نوپه دې احادیثو کښې به څۀ تطبیق وی؟ اوپه آیاتونو کښې وئیلې شوی دی چه ټولو انبیاؤ سره صحیفې نازل شوې دی؟

المستفتی: محمدصدیق آدم جی ایسوسی ایشن راولپنډی ۱۰|شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: آیت واضح المراد دې اود احادیثو تطبیق دادې چه د پیغمبر علیه السلام د ولادت کال اود وفات کال چه دانامکمل دی. که دامکمل شمار کړې شی. نود پنځه شپیته کال روایت به صحیح وی. اوکه کسر (درې کاله) ساقط کړې شی. نود شپیتو کالو روایت به صحیح وی. (لمعات وشرح شمائل)

نوټ: دا اختلاف یا دمکی ژوند په مقدار کښې اختلاف باندې مبنی دې. دا مقدار د بعضو په نزد پنځلس کاله اود بعضو په نزد

﴿۱﴾ قال الحافظ عماالدین ابن کثیر: وقال الزهری حدثنی ابو سلمة عن ابن عباس ان ابابکر خرج وعمر یحدث الناس فقال اجلس یاعمر فابی عمر ان یجلس فاقبل الناس الیه وترکوا عمر، فقال ابوبکر اما بعد من کان یعبد محمداً فان محمداً قد مات ومن کان یعبدالله فان الله حی لایموت قال الله تعالیٰ وما محمد الا رسول قد خلت من قبله الرسل الی قوله وسیجزی الله الشاکرین . قال فوالله لکان الناس لم یعلموا ان الله انزل هذه الایة حتی تلاها علیهم ابوبکر فتلقا هامنه الناس کلهم فما سمعها بشر من الناس الا تلاها واخبرنی سعید بن المسیب ان عمر قال والله ماهو الا ان سمعت ابابکر تلاها فعقرت حتیٰ ما تقلنی رجلای وحتی هویت الی الارض . (تفسیر ابن کثیر ص ۵۳۳ جلد ۱ سورة ال عمران ایت : ۱۴۴)

دیارلس کاله اود بعضو په نزد لس کاله دې. ﴿۱﴾ (لمعات)

په مسلم شریف کښې د بنی اسرائلو دقاتل د معافئ والا حدیث وضاحت

سوال: څه فرمائی علمائې کرام اومفتیان حضرات په دې کښې چه یوسړې صراحت سره انکار کوی. حدیث په مسلم شریف ص ۳۵۹ جلد ۲ دحدیث نبوی لیکلې شوې دې. د بنی اسرائیلو د یوسړی دتوبې باره کښې چه هغه باندې ۹۹ قتلونه کړی وو، او روسته ئې یوبل قتل کولوسره ۱۰۰ پوره کړل. بیا د توبې په غرض سره یو الله والا ته ور روان وو، چه په لاره کښې دهغه انتقال اوشو. د فرشتو د تکرارپه وجه دالله تعالی په حکم سره زمکه پیمائش کړې شوه، او فیصله دهغه په حق کښې اوشوه دغه سړې جنتی شو، ددې مسئلې وضاحت اوکړئ چه کوم سړې ددې حدیث نه انکار اوکړی دهغه باره کښې د شریعت څۀ حکم دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: حافظ محمد افرازعباس مقام باسیان
بیروټ مری ...۱۵|جمادی الثانی ۱۴۰۸ھ

الجواب: داحدیث صحیح دې. ﴿۲﴾ دا اصول دین سره متصادم نه دې. الله تعالی چه کله قاتل معاف کوی. نودهغې نه مخکښې مقتول راضی کوی. وهوالموفق

د امت محمدیه په ۷۲ فرقوکښې تقسیمدل اودصلوٰة وتراحادیث موجوددی

سوال: ډیرځل مې اوریدلی دی چه حضور ﷺ فرمائیلی دی چه زما امت به ۷۲ ډلو کښې تقسیمږی آیا داحدیث صحیح دې. اود صلوٰة وترباره کښې احادیث مروی دی یا نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: افضل قریشی پوسټل کلرك مانرکیمپ اټك...۲۴|شوال ۱۴۰۴ھ

﴿۱﴾ قال الحافظابن حجر عسقلانی قوله لبث بمکة عشر سنین الخ . هذا یخالف المروی عن عائشة عقبه انه عاش ثلاثا و ستین الا ان یحمل علی الغاء الکسر کما قیل مثله فی حدیث انس ...... و اکثر ماقیل فی عمره انه خمس و ستون سنة اخرجه مسلم ...... لان مقتضاه ان یکون عاش ستین الا ان یحمل علی انه مکث بمکة ثلاث عشر و مات ابن ثلاث و ستین وفی روایة هشام ...... لبث بمکة ثلاث عشرة و بعث لاربعین ومات و هو ابن ثلاث و ستین و هذا موافق لقول الجمهور ......والحاصل ان کل من روی عنه من الصحابة مایخالف المشهور و هو ثلاث و ستون جاء عنه المشهور ...... وقد جمع بعضهم بین الروایات المشهورة بان من قال خمس و ستون جبرا لکسر وفیه نظر لانه یخرج منه اربع و ستون فقط ...... الخ
(فتح الباری شرح صحیح البخاری ص ۷۹۹ جلد ۹ کتاب المغازی باب وفات النبی ﷺ)

﴿۲﴾ عن ابی سعید ن الخدری قال قال رسول الله ﷺ کان فی بنی اسرائیل رجل قتل تسعة وتسعین انسانا ثم خرج یسأل فاتی راهبا فسأله فقال اله توبة قال لا فقتله وجعل یسأل فقال له رجل ائت قریة کذا وکذا فادرکه الموت فنآء بصدره نحوها فاختصمت فیه ملائکة الرحمة وملائکة العذاب فاوحی الله الی هذه ان تقربی والی هذه ان تباعدی فقال قیسوا ما بینهما فوجد الی هذه اقرب بشبر فغفرله متفق علیه.
(مشکواة المصابیح ص ۲۰۳ جلد ۱ باب الاستغفار الفصل الاول)

الجواب: تاسو مشکوٰة شریف باب الوتر ص۱۲۰ ﴿۱﴾ اوباب الاعتصام بالکتاب والسنة ص۳۱ اوګورئ.﴿ ۲﴾ دا احادیث په دغه بابونو کښې لیکلی شوی دی.وهوالموفق

د حدیث ,,لولاک لولاک لما خلقت الافلاک،،

الفاظ موضوعی او مضمون ثابت دي

سوال: د,,لولاك لولاك لما خلقت الافلاك،،حدیث د سند څه حکم دي چه داحدیث صحیح دي یا نه؟

المستفتی: محمد مسلم کوهاټ.....۵|شعبان ۱۴۰۵هـ

الجواب: اکثرعلماء فرمائی چه دا الفاظ موضوعی دی لیکن دا مضمون د نورو روایاتونه ثابت دي.﴿ ۳﴾

واما قوله تعالی و ما خلقت الجن والانس الالیعبدون﴿۴﴾ فذکر فیه الغایة دون الباعث . فقط

دحدیث ,,فی الفاتحة اسماء من اسماء الشیطن،،

وضاحت اود ابواللیث سمرقندی مقام

سوال: فصل فی اسماء الشیطن روی عن شیخ امام ابواللیث سمر قندی رحمة الله علیه عن ابی سعید ن الخدری رضی الله عنه عن رسول الله ﷺ ان فی سو رة الفاتحه ثمانية اسماء من اسماء الشیطن الاول دلل والثانی هر ب والثالث کیو م والرابع کنع والخامس

﴿۱﴾عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ الوتر رکعة من اخر الیل رواه مسلم . و کل احادیث الوتر فی هذالباب فلیراجع (مشکواة المصابیح ص ۱۱۱ جلد ۱ باب الوتر)

﴿۲﴾عن عبد الله بن عمر قال قال رسول الله ﷺ لیاتین علی امتے کما اتی علی بنی اسرائیل حذوالنعل بالنعل حتی ان کان منهم من اتی امه علانیة لکان فی امتے من یصنع ذلک و ان بنی اسرائیل تفرقت علی ثنتین وسبعین ملة وتفترق امتے علی ثلث وسبعین ملة کلهم فی النار الا ملة واحدة قالوا من هی یارسول الله قال ماانا علیه واصحابی رواه الترمذی الخ.
(مشکواة المصابیح ص ۳۰ جلد ۱ باب الاعتصام بالکتاب والسنة)

﴿۳﴾قال العلامه قاری حدیث لولاک لما خلقت الافلاک ،قال الصنعانی انه موضوع کذا فی الخلاصة لکن معناه صحیح فقد روی الدیلمی عن ابن عباس رضی الله عنه مرفوعاً اتانی جبریل فقال یا محمد :لولاک ماخلقت الجنة ولولاک ماخلقت النار (کنز العمال)وفی روایة ابن عساکر لولاک ماخلقت الدنیا .
(الموضوعات الکبریٰ ص ۱۹۴ رقم حدیث : ۷۵۴)

﴿۴﴾(پاره : ۲۷ سورة الذّٰریٰت رکوع : ۲ آیت : ۵۶)

کنس والسادس دنا والسا بع تعل والثامن بعل ومن ادخل اسماء الشیطن فی صلاته تفسد صلاته. الحدیث ویعلم بعبارةالنص من هذا الحدیث لو کا ن القاری للسو رة الفاتحه اما ما ولم یتمیز السورة الفاتحة من اسما ء الشیطن افسد صلاة القوم بفساد صلواته وفی هذا الفاق من المجتهدین۔

نوآیا واقعی دي سره مونځ فاسدیږی؟ حالانکه ددې نه ځان ساتل ممکن دی. او ددې راوی ابواللیث سمرقندی دي.په فتاویٰ اوفن حدیث کښې ددوی څه مقام دي اوکه دا حدیث په بل کتاب کښې مذکوروی نوحواله تلاش کولوسره د شکریه موقعه راکړئ؟

المستفتی:امیرالرحمٰن مهتمم مدرسه رحمانیه اسلام پورسوات۱۷| ستمبر ۱۹۷۹ء

الجواب: ابواللیث سمرقندی د اوچتې درجې امام دي.(مقدمه هدایه اولین واخرین) خوددوی فتاویٰ دغیرمتداوله کتابونونه ده. کما لایخفٰی.اوددې حدیث نه مخرج معلوم دې اونه سند، البته قابل دتاویل دي.اودا چه دا سم شیطان وئیلونه مقصود اظهار دقباحت دي.کما ورد فی بیر ذروان ان نخلها کرءوس الشیٰطین.﴿ ۱﴾ دخلاصة الفتاویٰ نه هندیه ص۸۳ جلد ۱ کښې نقل دی.﴿ ۲﴾ چه دا تغیرمفسد دصلوٰة نه دي.وهوالموفق

د مهاجرین اوانصارو په مواخاة کښې

د مدینې د انصارو بې مثاله فراخدلی

سوال: کله چه صحابه کرامو ﷺ دمکې مکرمې نه هجرت اوکړو نوپه مدینه منوره کښې بعضې انصارو دمواخاة په طور دچا چه دوه ښځې وې یوه ښځه ئې مهاجر رورته پیش کړله،ددې څه روایت موجود دې یانه، حواله راته اوښایئ؟

المستفتی: قاری فضل عظیم اکبرپوره پشاور...۲۵|جمادی الثانی ۱۳۹۹هـ

﴿۱﴾عن عائشه رضی الله عنها قالت سحر النبی ﷺ ....فخرج الیها النبی ﷺ ثم رجع فقال لعائشة حین رجع نخلها کانه رؤوس الشیاطین .الی اخر الحدیث
(صحیح البخاری ص ۴۶۲ جلد ۱ باب صفة ابلیس وجنوده کتاب بدء الخلق)

﴿۲﴾فی الهندیه ان وصل حرفا من کلمة بحرف من کلمة اخریٰ نحو ان قرأ ایاک نعبد ووصل الکاف بالنون او غیر المغضوب علیهم وو صل الباء بالعین او سمع الله لمن حمده ووصل الهاء من الله باللام فا للام فالصحیح انه لایفسد ولو تعمد ذلک هکذا فی الخلاصة .
(فتاویٰ هندیه ص۷۹جلد۱ الفصل الخامس فی زلة القاری)

الجواب: بعضې انصارو یعنی سعدبن ربیع ﷺ بعضې مهاجرینو یعنی عبدالرحمن بن عوف ﷺ ته دا پیشکش کړې وو.لیکن مهاجرینو قبول نه کړو.(بخاری شریف ص۲۷۵ جلد ۱)

دقائق الاخبار د رطب ویابس اود بې سنده احادیثو مجموعه ده

سوال: محترم مفتی صاحب! دقائق الاخبار نومې کتاب د احادیثو په کتابونو کښې شماریږی یا نه؟ اودا د کومې طبقې کتاب دې او مذهباً کوم مسلك سره دې؟

المستفتی: محمد ثناء الله کتوزی چارسده پشاور.... ۱۹۷۳ء/۷/۹

الجواب: په دې کتاب کښې رطب ویابس او بې سنده احادیث دی دا چاهم د احادیثو په کتابونو کښې نه دې شمار کړې.فقط

په مرض موت کښې سختی مذموم نه ده

سوال: په بعضې احادیثو کښې دی چه د صالحینو مؤمنانو روح د ېر آسانئ سره اوځی اود کافرانو په سختئ سره، لیکن داسې روایات هم شته چه په هغې کښې د موسیٰ علیه السلام او د محمد ﷺ د مرګ د سختئ ذکرشوې دې.په دې روایاتو کښې تعارض معلومیږی، وضاحت اوفرمایئ؟

المستفتی: ارشدعلی چارسده... ۱۹۹۰ء/۳/۱۵

الجواب: د مرض موت سختی مذموم نه ده البته د روح وتلو (د زنکدن) سختی ممدوح نه ده.دا د احادیثو خلاصه ده.﴿۲﴾ اود بې سنده حکایاتو نه دلیل نیول د اهل علمو دستورنه دې.وهو الموفق

﴿۱﴾عن عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه قال لما قدمنا المدینة اخیٰ رسول الله ﷺ بینی وبین سعد بن الربیع فقال سعد بن الربیع انی اکثر الانصار مالاً فاقسم لک نصف مالی وانظر ای زوجتی هویت نزلت لک عنها فاذا حلت تزوجتها .فقال له عبدالرحمن لاحاجة لی فی ذلک هل من سوق فیه تجارة قال سوق قینقاع قال فغدا الیه عبدالرحمن فاتی باقط وسمن قال ثم تابع الغدو وفما لبث ان جاء عبدالرحمن علیه اثر صفرة فقال رسول الله ﷺ تزوجت قال نعم قال ومن قال امرأة من الانصار قال کم سقت قال زنة نواة من ذهب او نواة ذهب فقال له النبی ﷺ اولم ولو بشاة.(صحیح البخاری ص۲۷۵ جلد۱ کتاب البیوع)

﴿۲﴾قال العلامه الوسی اقسام من الله تعالیٰ بطوائف من ملائکة الموت علیهم السلام باللذین ینزعون الارواح من الاجساد علی الاطلاق کما فی روایة عن ابن عباس ومجاهد،اوارواح الکفرة علی ما اخرجه سعید بن منصور......وینشطونها ای یخرجونها من الاجساد من نشط اللدلو من البئر اذا اخرجها ویسبحون فی اخراجها سبح الذی یخرج من البحر ما یخرج فیسبقون ویسرعون بارواح الکفرة الی النار ......ومال بعضهم الی تخصیص النزع بارواح الکفار والنشط والسبح بارواح المؤمنین لان النزع جذب بشدة ......وقال ابن مسعود تنزع الملائکة روح الکافر من جسده من تحت کل شعرة ومن تحت الاظافر واصول القدمین ثم تغرقها فی جسده ثم تنزعها حتیٰ اذا کادت تخرج یردها فی جسده وهکذا مراراً فهذا عملها فی الکفار والنشط الاخراج برفق وسهولة وهو انسب بالمؤمنین الخ (تفسیر روح المعانی ص ۴۰ جلد ۱۶ سورة النازعات : ۱)

د,,الصاق الکعبین عندالرکوع والسجود.. په احادیثوکښې تطبیق

سوال: په اعلاء السنن ص۸ جلد ۳ باندې ذکردی:

(۱)عن انس مرفوعا اعتدلو فی الرکوع والسجود ولا یبسط احدکم ذراعیه انبساط الکلب . رواه الدارمی فی مسنده (۲) وعن ابن مسعود رضی الله عنه قال قال رسول ﷺ لاصلوٰة لرجل لا یقیم صلبه فی الرکوع والسجود . رواه دارقطنی - بیا ددې عبارت لاندې دا اشاره ده: عبد الله ابن مسعود اصلی خلفکم قالا نعم فقام بینهما وجعل احدهما عن یمینه والاخر عن شماله ثم رکعنا فوضعنا ایدینا الخ

په دې احادیثو کښې به دتطبیق څه صورت وی؟

المستفتی: سلطان محمد حقانی شریك دوره حدیث

دارالعلوم حقانیه...۶ جمادی الثانی ۱۴۰۵ھ

جواب: اعلم ان مؤلف الشرح الکبیر والدرالمختار وغیرهما صرحوا النسبة الصاق القدمین فی الرکوع والسجود لکن الحدیث الصریح وجد فی حق الالصاق عند السجود وهو حدیث ابن حبان من حدیث عائشه .ولم نجد الحدیث فی سنیة هذا الالصاق عند الرکوع والمسطور فی حاشیة اعلاء السنن الفهم والاستخراج من الحدیث دون الحدیث الصریح واللازم من التطبیق الصاق الفخذین دون الصاق الکعبین کما لا یخفیٰ .﴿۱﴾وهو الموفق

﴿۱﴾قال الشیخ محمد فرید دامت برکاتهم (ف) لم یثبت الصاق الکعبین عند الرکوع فی الروایات الحدیثیة والاثار وزبر المتقدمین والمحققین بل قالوابا لفصل بین القدمین نحو اربعة اصابع فما ذکره الزاهدی فی المجتبیٰ وتابعه کثیر من الفقهاء انه من السنن فمن اوهام الزاهدی توهمه من ما ورد ان الصحابة کانو یهتمون بسد الخلل حتی یضمون الکعاب والمناکب ولا یخفی ان المراد منه الصاق الکعب بکعب صاحبه لا بکعبه او مراده من الالصاق المحاذاة نعم ثبت رصوص العقبین عند السجود عن عائشة مرفوعا فی روایة ابن حبان کما ثبت طأطأة الراس عند القیام فی حدیث ابی هریرة عند الحاکم وحدیث ام سلمة عند ابن ماجة. کان الناس فی عهد رسول الله ﷺ اذا قام المصلی یصلی لم یعد بصر احدهم موضع قدمیه یقتضیها ایضاً فلعل مراد من انکر علیها المبالغة فیها .

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۴۴ جلد۲ باب ما جاء انه یجافی یدیه عن جنبیه فی الرکوع)

,,فقیه واحد اشد علی الشیطن من الف عابد،، حدیث دي

سوال: فقیه واحد اشد علی الشیطن من الف عابـد،، دا عبارت حدیث دې یا مقوله ده، که مقوله ده نود کوم څائې نه ثابته ده، بعضې خلق وائی چه دا مقوله ده حدیث شریف نه دي.جواب راکړئ؟

المستفتی: قاضی حبیب السلام پیرسباق نوشهره ۲۹| جمادی الاول ۱۴۰۳ھ

الجواب: داحدیث شریف دي اود مشکوٰة شریف په کتاب العلم فصل ثانی کښې لیکلې شوې دي،وقال رواه الترمذی وابن ماجه ﴿ ۱ ﴾ وهوالموفق

دحدیث اقسام، دشاذ تعریف اود تدوین حدیث باره کښې کتابونه

سوال: دحدیث شاذ تعریف څه دي، اود تدوین حدیث اوفقهې باره کښې دڅه خاص اوښئ کتاب باره کښې اولیکئ،اودحدیث څو اقسام دی؟ والسلام

المستفتی: نامعلوم...... ۱۹۷۸ء|۹| ۱

الجواب: دحدیث شاذ درې معانې دی مشهوره معنیٰ ئې داده چه یوکمزور ضعیف راوی د یوقوی اومعتمد راوی نه مخالف حدیث نقل کړی.﴿ ۲ ﴾اوپه تدوین حدیث اوفقه باندې مستقل کتابونه لیکلی شوی دی.د یوې کتب خانې نه دغه کتابونه واخلئ.اودحدیث ډیراقسام دی.صحیح لذاته، صحیح لغیره، حسن لذاته، حسن لغیره وغیره وغیره ﴿ ۳ ﴾

﴿۱﴾عن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ فقیه واحد اشد علی الشیطان من الف عابد رواه الترمذی وابن ماجه. (مشکواة المصابیح ص ۳۴ جلد ۱ کتاب العلم الفصل الثانی)

﴿۲﴾قال الشیخ المفتی اعظم محمد فرید دامت بر کاتهم اعلم ان الشاذ یطلق علی معان ثلثة الاول ما رواه الثقة مخالفا لما رواه الناس وهو المروی عن جماعة من علماء الحجاز والثانی مالیس له الا اسناد واحد یشذبذلک شیخ ثقة کان او غیر ثقة وهو المروی عن ابن یعلی الخلیلی والثالث ما تفرد به ثقة من الثقات ولیس له اصل متابع لذلک الثقة قال به الحاکم الخ(منهاج السنن شرح جامع السنن ص۷ جلد ۱ مبحث الشاذ)

﴿۳﴾ قال الشیخ المفتی اعظم محمد فرید دامت بر کاتهم فاعلم ان الحدیث الصحیح ما ثبت بنقل عدل تام الضبط غیر معلل ولا شاذ فان کانت هذه الصفات علی وجه الکمال والتمام فهو الصحیح لذاته وان کان فیها نوع قصور ووجد ما یجبر ذلک القصور من کثرة الطرق فهو الصحیح لغیره وان لم یوجد فهو الحسن لذاته وما فقد فیه الشرائط المعتبرة فی الصحیح کلاً او بعضاً فهو الضعیف والضعیف ان تعدد طرقه وانجبر ضعفه یسمی حسنا لغیره الخ(منهاج السنن شرح جامع السنن ص۳۸ جلد ۱ مبحث تعریف الصحیح والحسن)

بیت الله شریف ته ام المساجد وئیل

سوال: بیت الله شریف ته په یوحدیث یاد سلف صالحینو په یوقول کښې اُم المساجد او نوروته لونړه وئیلې شوی دی یا نه، وضاحت اوحوالې سره اوښایئ؟

المستفتی: احسان الحق رائې ونډ لاهور... ۱۳۹۸|۶|۳۰ء

الجواب: د روایاتو په اعتبارسره معلومه نه ده اود کافی تتبع نه پس هم روایت ملاؤنه شو،البته د قواعدو په اعتبارسره ﴿ ۱ ﴾ام المساجد وئیل لکه څنګه چه مکة المکرمة ته ام القریٰ وئیل جائزدی.﴿ ۲ ﴾ وهوالموفق

د مولانا روم شعر حدیث نه دې خواحادیثوسره معارض هم نه دي

سوال: دوه شعرونه د مولانا روم د مثنوی شریف دفتراول نه په خدمت کښې لیکلې شی.

چوں زلقمہ تو حسد بینی دوام .... جہل وغفلت زاید اں راداں حرام

آیا د مولانا روم په دې شعرونو کښې دیوحدیث شریف دمفهوم بیان دې یائې دخپلې تجربې خبرې بیان کړی دی که دیوحدیث مفهوم وی نود صفحې اوکتاب حواله اولیکئ اود شکریه موقعه راکړئ؟

المستفتی: میاں احسان الله ډاك اسماعیل خیل نوشهره ۳۰| جولائی ۱۹۷۳ء

الجواب: دامضمون دتجربې اوایمانی فراست سره ثابت دې اوهیڅ یوحدیث سره معارض نه دي.﴿۳﴾ فقط

,,حب الوطن من شعبة الایمان،، حدیث نه دي

سوال: آیا دا د عربئ جمله ,,حب الوطن من شعبة الایمان،، دحدیث نبوی ﷺ

﴿۱﴾ قال الحافظ عمادالدین یخبر تعالیٰ ان اول بیت وضع للناس ای لعموم الناس لعبادتهم ونسکهم یطوفون به ویصلون الیه ویعتکفون عنده للذی ببکة .... عن ابی ذر رضی الله عنه قال قلت یارسول الله ﷺ ای مسجد وضع فی الارض اول؟قال المسجد الحرام............ عن عبد الله بن عمرو بن العاص مرفوعاً بعث الله جبریل الیٰ ادم وحواء فامرهما ببناء الکعبة فبناه آدم ثم امر بالطواف به وقیل له انت اول الناس وهذا اول بیت وضع للناس الخ(التفسیر الابن الکثیر ص ۵۰۰ جلد ۱ سورة ال عمران:۹۶)

﴿۲﴾قال الله تعالیٰ وکذلک اوحینا الیک قرانا عربیا لتنذر ام القریٰ ومن حولها وتنذر یوم الجمع لاریب فیه.

﴿۳﴾عن ابن سعید ن الخدری قال قال رسول الله ﷺ اتقوا فراسة المؤمن فانه ینظر بنورالله .ثم قرأ ان فی ذلک لایات للمتوسمین .(جامع ترمذی ص ۱۴۰ جلد ۲ ابواب التفسیر سورةالحجر)

تکره ده یا نه ده. که وی نو حدیث په کوم کتاب کښې راغلې ده نوم او صفحه اولیکئ؟

المستفتی: میاں احسان الله ډاك اسماعیل خیل نوشهره
۲۸|جمادی الثانی مطابق ۳۰|جولائی ۱۹۷۳ء

جواب: دا حدیث نه دے ـ قال القاری فی المصنوع فی احادیث الموضوع ص۱۱ حدیث حب الوطن من الایمان لا اصل له عند الحفاظ.﴿۱﴾وهو الموفق

په بعضې اسنادو کښې د درج شوی حدیث باره کښې استفسار

سوال: د جامعه حقانیه د یو سند د نقل د تصدیق په موقع باندې احقرته یو عبارت د سند په شروع کښې پټ شان په نظر راغې،،،خیر کم من تعلیم القرآن وعلمه،، هم دا عبارت د جامعه اسلامیه په یو سند کښې هم په دې شکل سره دې، احقرته یو حدیث شریف یاد دې چه ،،خیر کم من تعلم القرآن وعلمه،، اوس معلومه نه ده چه په اسنادو کښې کوم عبارت درج دې هغه هم دغه حدیث دې یا دهغې څه بل مطلب دې. په اول صورت کښې په حدیث کښې تحریف او د علمی درسګاه د بې پرواهئ احساس کولو سره ثو کرخې درلیږم امید دې چه وضاحت کولو سره به د شکریه موقع راکړئ.

المستفتی: حسین علی شاه سول هسپتال صوابی ۱۹۷۳ء|۱|۸

الجواب: محترم المقام دامت برکاتهم! السلام علیکم نه پس دې واضحه وی چه د حدیث شریف الفاظ دادی: ،،خیر کم من تعلم القرآن وعلمه،،﴿۲﴾ اوزمونږ په سند کښې دا الفاظ نه دی لیکلې شوی شاید تاسو د بل دار العلوم د سند نقل کتلې وی. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری حدیث حب الوطن من الایمان قال الزرکشی لم اقف علیه وقال السید معین الدین الصفوی لیس بثابت وقیل انه من کلام بعض السلف وقال السخاوی لم اقف علیه ومعناہ صحیح قال المنو فی ما ادعاه من صحة معناه عجیب اذلا ملازمة بین حب الوطن وبین الایمان ویرده قوله تعالیٰ ولو انا کتبنا علیهم فانه دل علی حبهم لوطنهم مع عدم تلبسهم بالایمان اذضمیر علیهم للمنافقین الخ (الموضوعات الکبریٰ للقاری ص۱۰۹ رقم حدیث:۴۱۳)

﴿۲﴾ عن عثمان قال قال رسول الله ﷺ خیر کم من تعلم القرآن وعلمه رواه البخاری. (مشکواة المصابیح ص۱۸۳ جلد ۱ کتاب فضائل القران)

قوت حافظې دپاره نبوی نسخه د حدیث نه ثابته ده

سوال: یو ځل حضرت علی کرم الله وجهه نبی کریم ﷺ ته د حافظې د کمزورئ شکایت اوکړو نو حضور ﷺ حضرت علی رضی الله عنه ته پټ یو څو کلمې اوښودلې، څو اسماء حسنٰی ئې ورته اوښودل چه دهغې په ورد سره د حضرت علی رضی الله عنه د حافظې کمزوری ختمه شوه، بیا روسته د یو صحابی په تپوس باندې حضرت علی رضی الله عنه هغه کلمات اوښودل. مهربانی اوکړئ هغه کلمات سره د حوالې را اولیږئ؟

المستفتی: محمد عثمان ایم اې بی ایډ هائی سکول شبقدر پشاور

الجواب: په ترمذی جلد ثانی باب دعاء الحفظ کښې دا حدیث مذکور دې.﴿۱﴾ دهغه ځائې نه ئې یاد کړئ. فقط

د تبلیغ او د ترغیب ترهیب په حدیثونو کښې فرق

سوال: مایقول العلماء العظام فی هذه المسئله: عن عبد الله بن عمر رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ بلغوا عنی ولو آیة وحدثوا عن بنی اسرائیل ولا حرج ومن کذب علَیّ متعمداً فلیتبوأ مقعده من النار رواه البخاری .یعلم من هذ الحدیث جواز التبلیغ لکل شخص ماموراً کان او امیراً او غیرهما وعن عوف بن مالک الاشجعی قال قال رسول الله ﷺ لایقص الا الامیر او مامور او مختال وفی روایة او مراءٍ الحدیث .فیعلم من هذا الحدیث تخصیص التبلیغ بالامیر الخ المطلوب منکم الجواب المشفی للقلب؛ بینوا وتوجروا

المستفتی: مولانا عبد القادر مسجد میر حتم شبقدر پشاور.. ۱۹۶۹ء|۵|۳

﴿۱﴾ عن ابن عباس انه قال بینهما نحن عند رسول الله ﷺ اذاجاء علی ابن ابی طالب فقال بابی انت وامی تفلت هذا القرآن من صدری فما اجدنی اقدر علیه فقال له رسول الله ﷺ یا ابا الحسن افلا اعلمک کلمات ینفعک الله بهن وینفع بهن من علمته ویثبت ما تعلمت فی صدرک قال اجل یارسول الله ﷺ فعلمنی قال اذا کان لیلة الجمعه............ثم قل فی آخر ذلک اللهم ارحمنی بترک المعاصی ابداً ما ابقیتنی وارحمنی ان اتکلف مالایعنینی وارزقنی حسن النظر فی ما یرضیک عنی اللهم بدیع السمٰوات والارض ذاالجلال والاکرام والعزة التی لاترام اسألک یا الله یارحمن بجلالک ونور وجهک ان تلزم قلبی حفظ کتابک کما علمتنی وارزقنی ان اتلوه علی النحو الذی یرضیک عنی اللهم بدیع السموات والارض ذاالجلال والاکرام فالعزة التی لاترام اسألک یاالله یا رحمن بجلالک ونور وجهک ان تنور بکتابک بصری وان تطلق به لسانی وان تفرج به عن قلبی وان تشرح به صدری وان تغسل به بدنی فانه لایعیننی علی الحق غیرک ولایوتیه الا انت ولا حول ولاقوة الابالله العلی العظیم .الیٰ اخر الحدیث (ترمذی شریف ص۱۹۶ جلد۲ ابواب الدعوات باب دعاء الحفظ)

جواب: التبليغ مغائر من القصص لان التبليغ هو الايصال باللفظ او المعنى من غير امرٍ زائد والقصص هوا لترغيب و الترهيب او الخطبة على الاختلاف فالتبليغ اهون و اسهل من القصص بخلاف القصص فانه لا بد فيه من مراعاة مصالح القوم ومصالح الوقت فافهم. فقط《۱》

د صلاة البروج، والنور حديث موضوعی اود بعضي نوروا حاديثو حوالي

سوال: بنده په يو کتاب کښې لوستلی دی: (۱) حديث شريف دي چه کله ماښام شی نو يوه فرشته دخانه کعبې په چهت باندې نازليږی اودا آواز کوی چه اې دالله تعالیٰ بنده ګانو! اود محمد مصطفیٰ ﷺ امتيانو! تاسو باندې يو ژوند راروان دې چه دهغې نوم ګوردې تاسو باندې لازم دی چه دآخرت دپاره ذخيره تياره کړئ. دوه رکعته صلاة البروج اوصلاة نور اداکوئ اودوه رکعته نفل هره شپه کوئ، ددې په کولو سره قبر کښې رڼاوی. (۱) ترکيب دصلاة البروج: اول رکعت کښې دفاتحه نه پس والسماء ذات البروج اوپه دويم رکعت کښې د فاتحه نه پس والسماء والطارق، (۲) ترکيب دصلاة نور: اول رکعت کښې د فاتحه نه پس دوه آياتونه د سورة انعام اوپه دويم رکعت کښې دفاتحه نه پس اولم يرو کم اهلکنا...نه...محضرون، پورې. (۳) ترکيب دنفل مونځ: اول رکعت کښې دفاتحه نه پس پنځه ځل سورة الکافرون اوپه دويم رکعت کښې هم، بيا کله چه ورځ شی هم دغه فرشته بيا دبيت المقدس په چهت راځی اوآواز کوی چه اې دالله تعالیٰ بنده ګانو اودمحمد مصطفیٰ ﷺ امتيانو! الله تعالیٰ تاسو ته دا ورځ درکړې ده ددې نه سوا تاسو ته يوه ورځ بله هم راتلونکې ده چه دهغې نوم دمحشر ورځ ده، په تاسو باندې لازم دی چه دهغې دپاره ذخيره جمع کړئ په دې کښې هم دمختلف مونځونو طريقه خودلې شوې ده مهربانی اوکړئ ددې حديث عربی الفاظ اومعتبر حواله اوليکئ؟

(۲) د ابوسعيد خدری ؓ نه روايت دې: کنت في عصابط من ضعفاء المهاجرين

《۱》 ترجمه: په تبليغ اوقصص کښې فرق دې، ځکه چه تبليغ الفاظ اومعنی رسولوته وائی چه ددې نه علاوه دې باندې امرزائد نه وی. اوقصص ترغيب، ترهيب ته وائی او په بناء داختلاف خطبې ته وائی. نوتبليغ دقصص نه اهون او آسان دې. اوکوم چه قصص دی په هغې کښې دقوم اووخت دمصلحتونو رعايت ساتلې شوې دې. (وهاب)

وان بعضهم ليستتر ببعض من العرى وقارئ يقرأ علينا ونحن نستمع القرأة قال فجاء رسول الله ﷺ حتى قام علينا فلما رآه القارى سكت قال فسلم فقال ماذا كنتم تصنعون قلنا كان قارئ يقرأ علينا ونحن نستمع بقرائه فقال النبي ﷺ الحمد لله الذى جعل من امتى امرت ان اصبر بقراءته نفسى معهم قال ثم جلس وسطنا ليعدل نفسه فينا ثم قال بيده هكذا فتحلف القوم فلم يعرف رسول الله ﷺ منهم احد قال فكانوا ضعفاء المهاجرين بالنور التام يوم القيامة تد خلون الجنة قبل اغنياء كم بنصف يوم كان مقداره خمس مأة عام۔

په دې حديث شريف کښې چونکه لفظ دقاری استعمال شوې دې په دې وجه زما په ذهن کښې خدشه ده ددې حديث شريف حواله دمعتبر کتابونو نه راکړئ؟ (۳) عمرو بن ثريد دخپل پلار نه روايت کوی:

قال ردفت رسول الله ﷺ يوماً فقال هل معک من شعر امية ابن ابى الصلت شيئاً قلت نعم قال هيه فانشدته بيتاً فقال هيه ثم انشدته بيتاً فقال هيه حتى انشدته مأة بيت۔

د معتبر کتابونو نه ددې حديث حواله راکړئ؟

(۴) دحضرت عائشه صديقه ؓ نه روايت دې:

قالت كانت عندى جارية تغنى فاستاذن عمر فلما احسه سمعت حسه فرت فلما دخل عمر رضى الله عنه تبسم رسول الله ﷺ فقال عمر ماضحكک يا رسول الله ﷺ قال كانت عندنا جارية تغنى فلما سمعت حسک فرت فقال عمر لاابرح حتى اسمع ما كان سمع رسول الله ﷺ۔

مهربانی اوکړئ ددې څواحاديثو حوالې دمعتبر کتابونو نه راکړئ ډيره مننه به وی؟

المستفتي: محمد اکرم تهکال بالا پشاور....۱۹٦٨ء|۲|۴

الجواب: په چهت باندې فرشتې والا حديث موضوعی اوبې اصل دې. اود ابوسعيد الخدری حديث ابوداؤد شريف کښې دې.《۱》 اود عمرو بن شريد والا حديث په مسلم شريف کښې دې.《۲》 اودحضرت عائشه صديقه ؓ والا حديث ماسره موجوده کتابونو کښې نشته. اوامام ترمذی په وفى الباب عن عمر و عائشه رضی الله عنهما کښې شايد دې حديث طرف ته اشاره کړې ده.《۳》 فقط

《۱》(ابوداؤد ص ۱٦٠ جلد ۲ باب فى القصص كتاب العلم) 《۲》(مشكواة المصابيح ص ۴٠٩ جلد ۲ باب البيان والشعر)
《۳》عن عبد الله بن بريده قال سمعت بريده يقول خرج رسول الله ﷺ فى بعض مغازيه فلما انصرف جاءت جارية سودا فقالت يا رسول الله ﷺ انى كنت نذرت ان ردک الله صالحة سالماان اضرب بين يديک بالدف والغنى فقال لها رسول الله ﷺ ان كنت نذرت فاضربى والا فلافجعلت تضرب فدخل ابوبكر وهى تضرب ثم دخل على وهى تضرب ثم دخل عثمان وهى تضرب ثم دخل عمر فالقت الدف تحت استها ثم قعدت عليه .الى آخر الحديث هذاحديث حسن صحيح غريب من حديث بريده وفى الباب عن عمرو عائشة.
(ترمذى شريف ص ۲۱٠ جلد ۲ باب مناقب ابى حفص عمر بن الخطاب ابواب المناقب)

د تقبیل اومعانقه په معارض احادیثوکښې تطبیق

سوال: دالسلام علیکم ورحمة الله نه پس عرض دادې چه دمشکوٰة شریف په باب المصافحة والمعانقة کښې دحضرت انس رضی الله عنه روایت نه معلومیږی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دیو مسلمان رور دتعظیم اوتکریم دپاره دسر ښکته کولو اومعانقه اوښکلولو نه منع فرمائیلې ده.اودمصافحې اجازت ئې ورکړې دې لیکن ددې سلسلې په نوروا حادیثو کښې کوم چه حضرت عائشې رضی الله عنها، حضرت زراع رضی الله عنه حضرت عطا خراسانی رضی الله عنه اوحضرت براء بن عازب رضی الله عنه روایت کړی دی په هغې کښې لاسونه اوخپې ښکلول اومصافحه اومعانقې ته جائز فرمائیلې شوی دی.نواوس به په دې احادیثو کښې تطبیق څنګه کولې شی؟وضاحت کولوسره دشکریه موقع راکړئ.

المستفتی: مولانا غلام حسین جلبئ صوابی ۱۹۶۹ء|۳|۲۲

الجواب: تقبیل اومعانقه جائزده ځکه چه د ګڼړو صحیح احادیثونه ثابت دی اود منع والاحدیث محمول دې په خوف دشهوت اوپه حالت دتجردعن القمیص باندې،

قال فی الهدایه الخلاف فی المعانقه فی ازار واحد اماذاکان علیه قمیص اوجبة فلابأس بها وصرح فی حواشی المشکواة وکتب الفقه فی باب الحظر والاباحة علی حرمة التقبیل علی وجه الشهوة ﴿۱﴾.وهو الموفق

د ترمذی شریف د بعضې الفاظو وضاحت

سوال: بنده دردوجائے درترمذی شریف عکمنداست۔بنده به مطلب آن نمیدانم۔ازشمایاں مبارکان التماس میکنم که بنده دریں دوجائے واقف گردانی۔جائے اول این ست ذکر فی الترمذی فی باب ماجاء فی

﴿۱﴾قال ابن عابدین قال فی الهدایه ویکره ان یقبل الرجل فم الرجل او یده اوشیئا منه اویعانقه ......وقال ابویوسف لابأس بالتقبیل والمعانقة لماروی انه علیه السلام عانق جعفراً حین قدم من الحبشة وقبله بین عینیه ولهما ماروی انه علیه السلام نهی عن المکامعة وهی المعانقة وعن المکاعمة وهی التقبیل وما رواه محمول علی ماقبل التحریم قالوا الخلاف فی المعانقة فی ازارواحد اما اذا کان علیه قمیص او جبة لابأس به......ووفق الشیخ ابو منصور بین الا حادیث فقال المکروه من المعانقة ما کان علی وجه الشهوة وعبر عنه المصنف بقوله فی ازارواحدفانه سبب یفضی الیها فاماعلی وجه البر والکرامة اذا کان علیه قمیص واحد فلابأس به.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۶۹ جلد۵ باب الاستبراء وغیره کتاب الحظر والاباحة)

الوضوء ثلاثاً ثلاثاًعن ابی اسحاق عن ابی حیة ذکر فی الحاشیه علی قوله عن ابی حیة بفتح الحاء الی قوله من الثالثه ومن الرابعة والخامسة۔بنده بمراددتشریح لفظ من الثالثه عارف نیستم۔دوم جائے این ست فی الترمذی باب ماجاء ان حذف السلام سنة.حدثنا علی بن حجرنا عبدالله بن المبارک والهقل بن زیاد خف الخ.بنده.بمرادلفظ خف که مرقوم ومکتوب است علی لفظ زیادکه مرقوم ومکتوب است فی السند عارف نیستم۔؟

المستفتی: مولوی محمدصدیق حقانی

قلعه عبدالله ګلستان کوئټه ۲۰|محرم ۱۴۰۳ء

الجواب: واضحه دې وی چه حافظ ابن حجر رحمة الله علیه په تقریب التهذیب کښې د راویانو دولس طبقې ښودلی دی.نوپه دې الفاظو من الثالثة، من الرابعة، من الخامسة وغیرها،کښې دغه طبقاتو طرف ته اشاره ده که تاسره تقریب التهذیب نه وی نومنهاج السنن ص۵۴، ۵۵ جلد ۱ ته رجوع اوکړئ.﴿۱﴾ اود خف نه مراد دادې چه دا لفظ به مشدد نه وئیلې کیږی.وهو الموفق

د عاشورې په ورځ قبرونو باندې د اوبو اچولو حدیث موضوعی دې

سوال: زمونږ په علاقه کښې په لسم محرم دعاشورې په ورځ باندې سحروختی په تیارهٔ کښې خلق ادیرې ته ځی اوپه قبرونوباندې اوبه اچوی.داخلق مونځ نه کوی خو اوبه اچول لازمی کار اوثواب ګڼړی.اوس په دې مسئله باندې ددوه سړو جهګړه ده.یودې ته بدعت وائی دویم ورته صحیح وائی.اوپه دلیل کښې وائی چه کتاب جواهر النفیس ص۱۰۶ اذارش الماء علی قبور الاقرباء فی یوم عاشوراءکفر عن المیت عشرة الاف ذنوبه واعطے الله له عشرة الاف درجة وقال جابر رضی الله عنه ان بلال رضی الله تعالیٰ عنه رش الماء علی قبر علیه الصلاة والسلام مهربانی اوکړئ تحقیقی جواب راولیږئ؟

المستفتی: سورګل ضلع کوهاټ..... ۱۹۷۰ء|۴|۹

﴿۱﴾قال العلامة الفهامه الشیخ مفتی اعظم محمدفرید دامت برکاتهم قوله عن ابی حیة ....قال فی التقریب مقبولة من الثالثة وقد مر مبحث مراتب الراوة وطبقاتهم فی باب ما جاء ان مفتاح الصلواة الطهور فقد قال فیه امابیان المراتب فاولها الصحابة اصرح بذلک لشرفهم والثانیه من اکد مدحه اما بافعل مثل اوثق الناس ....الثالثه من افرد بصفة کثقة او متقن او عدل اوثبت ....واما الطبقات فالاولےٰ الصحابة ....الثانیه طبقة کبار التابعین ....الثالثة الطبقة الوسطی من التابعین ....الرابعه طبقة تلیها وجل روایهم من کبار التابعین کالزهری الخ

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص :۵۴،۵۵،۱۳۵ جلد : ۱)

الجواب: په قبرونو باندې اوبه اچول ددفن په وخت کښې جائزدی.

لمارواه صاحب شرح السنة مرسلاً انه علیه السلام رش علی قبر ابنه ابراهیم والبیهقی عن جابر رضی الله تعالی عنه موقوفاً انه (رش علی قبر النبی صلی الله علیه وسلم. ﴿۱﴾(مشکواة ص ۱۶۳ جلد ۱)

لیکن دعاشورې په ورځ دثواب په ارادې سره قبرونو باندې اوبه اچول بدعت قبیحه دي، نه دقرآن نه ثابت دې اونه دبل حدیث نه ثابت دې اونه دفقهې دمعتبر کتابونو نه ثابته ده. اوکه څوك دحدیث دعوٰی اوکړی نودهغې سند دې ذکر کړی اودداسې کتاب حواله دې ورکړی چه هغه سند سره احادیث روایت کوی. چه مونږ ئې پخپله تحقیق اوکړو، اوداحدیث کوم چه په جواهرالنفیس کښې ذکردې نه ددې سند معلوم دې اونه ئې حواله معلومه ده بلکه په دې باندې د وضع آثار ښکاره دی. بله دا د یواوږد حدیث حصه معلومیږی چه هغه موضوعی دې.

قال فی الفوائد المجموعة ص ۳۵، ۶ ۳ حدیث من صام عاشورا اعطی ثواب عشرالاف ملک الخ ذکره فی اللالی مطولاً عن ابن عباس مرفوعاً وهو ﴿۲﴾ موضوع فقط

وجود موجودات بروئې محمد ﷺ اود نبی علیه السلام د نورکیدلو مطلب

سوال: تمام موجودات بروئے محمد صلی اللہ علیہ وسلم وجود آمدند یا نہ ومحمد صلی اللہ علیہ وسلم نور بود یا نہ؟

المستفتی: عبداللہ مہاجر افغانستان پشاور شہر...... یکم رشعبان ۱۴۰۳ھ

جواب: نزدارباب تحقیق الفاظ حدیث لولاک موضوع ومضمون اوثابت است۔ ﴿۳﴾ وحدیث اول ما خلق الله نوری بمعنی اول ماخلق الله روحی است درحواشی نشرالطیب وغیرہ قابل تسلیم است۔

﴿۱﴾ مشکواة المصابیح ص ۱۴۸، ۱۴۹ جلد ۱ باب دفن المیت)

﴿۲﴾ ومن ذلک حدیث: من صام یوم عاشوراء کتب الله له عبادة ستین سنة فهذا باطل یرویه حبیب بن ابی حبیب عن ابراهیم الصائغ عن میمون بن مهران عن ابن عباس وحبیب هذا غیر حبیب کان یضع الاحادیث. (الموضوعات الکبریٰ ص ۲۹۴ رقم حدیث: ۱۱۴۱)

﴿۳﴾ حدیث لولاک لماخلقت الافلاک، قال الصنعانی انه موضوع کذافی الخلاصة لکن معناه صحیح فقدروی الدیلمی عن ابن عباس رضی الله عنهما مرفوعاً اتانی جبریل فقال یامحمد لولاک ماخلقت الجنه ولولاک ماخلقت النار وفی روایة ابن عساکر لولاک ماخلقت الدنیا. (الموضوعات الکبریٰ ص ۱۹۴ رقم حدیث: ۷۵۴)

حدیث ,,ولد الزنا لایدخل الجنة،، موضوعی دې

سوال: یو حدیث دې: ,, ولد الزناء لایدخل الجنة،، آیا ددې څۀ اصل شته؟

المستفتی: غلام سرور سنګاپور..... ۱۰/۸/۱۹۸۳ء

الجواب: ددې حدیث متعلق په ,,المصنوع فی احادیث الموضوع،، ص ۳۱ کښې لیکلی شوی دی ,,ولد الزنا لایدخل الجنة لا اصل له انتهٰی.﴿۱﴾ اودا حدیث معقول هم نه دې ځکه چه د ولد الزنا هیڅ قصور نه دې شوې. وهوالموفق

د مقرب فرښتو دزمکې نه خاوره اوړل اودزمکې د فریاد واقعه اسرائیلی ده

سوال: په یو کتاب کښې ئې لیکلی دی چه کله الله تعالٰی دآدم علیه السلام د جسم جوړولو دپاره جبرائیل علیه السلام طائف مقام ته دخاورې راوړلو دپاره اولیږلو، نو زمکې ډیر فریاد اوکړو اوجبرئیل علیه السلام ته ئې اووئیل چه زما دحصې نه به داسې مخلوق جوړولې شی چه هغه به نافرمانه وی، قتلونه به کوی، لهٰذا زه تاته منت زاری کوم عاجزی درته کوم چه ته ددې ځائې نه خاوره مه اخله، جبرئیل علیه السلام په هغې باندې رحم اوکړو. واپس لاړه اوالله تعالٰی ته ئې دزمکې په فریاد زارئ خپله رحم دلی اوعذر پیش کړو. بیا الله تعالٰی پرله پسې باقی دوه مقرب فرشتې اولیږلې. خود زمکې په فریاد زارئ دهغوی زړونه هم نرم شول. او هغوی هم خالی لاسونه راغلل د زمکې په ژړا باندې ئې دخپل زړه د نرمئ عذرپیش کړو. بیائې حضرت عزرائیل علیه السلام اولیږلو. اګرچه زمکې ددوی په مخکښې هم ډیر اوژړل خودې دهغې خبره اونه منله، اوخاوره ئې واخستله الله تعالٰی ته ئې پیش کړله. الله تعالٰی ترې تپوس اوکړو چه دې دریو واړو خو خاوره رانۀ وړه، تاڅنګه راوړله، هغوی عرض اوکړو چه یا الله! ماته ستا دحکم په وړاندې دچا د ژړا پرواه نشته، ماله ستاحکم پوره کول دی. په دې وجه حضرت عزرائیل علیه السلام په روحونو قبض کولو باندې مقرر کړې شوې دې. دا قصه صحیح ده اوکه غلطه؟

المستفتی: محمدایوب خان محله شیام ګنج مردان.... ۱۰/صفر ۱۳۹۲ھ

الجواب: د مخبرصادق په اقوالو کښې دا واقعه نشته، بلکه قرآن سره مخالف

﴿۱﴾ قال الملاعلی قاری حدیث ولدالزنا لا یدخل الجنة یدور علی الالسنة ولم یثبت بالسنة بل قال القاضی مجدالدین الشیرازی فی سفرالسعادة هو باطل. (الموضوعات الکبریٰ ص ۲۵۹ رقم حدیث: ۱۰۲۹)

ده. قال الله تعالی: لايعصون الله ما امرهم ويفعلون ما يـؤمرون.،، ﴿۱﴾ البته په اسرائیلیاتو کښې دا قصه لیکلې شوې ده. فقط

د غوا په پیو کښې شفا او په غوښه کښې د بیمارۍ والا حدیث مطلب

سوال: په ،،مسند امام اعظم مترجم اردو فوائد ازمولانا سعد حسن،، کښې د سنن والؤنه یو حدیث نقل شوې دې. دا ثبوت څنګه دې، چه ابن سنی احمد حاکم د ابونعیم نه په دې معنٰی سره روایت کړې دې چه نبی علیه السلام او فرمائیل چه د غوا پئ څکئ ځکه چه دا دوا ده، او ددې غوړی شفا ده، او ځان ساتئ ددې د غوښې نه ځکه چه ددې غوښه بیماری ده؟

المستفتی: خلیل الرحمٰن......۱۳۹۸ھ|۴|۳

الجواب: چونکه د دارالعلوم په کتب خانه کښې د ابن سنی وغیره کتابونه نشته، په دې وجه ددې روایت د سند متعلق تحقیق ملاؤنه شو. البته که دا حدیث ثابت وی نو دا به د الماء المشمش په شان په نهی طبعی باندې حمل کولې شی په نهی شرعی باندې نه. ﴿۲﴾ وهو الموفق

د نبی کریم ﷺ د سوری متعلق حدیث د حکیم ترمذی ثابت نه دې

سوال: حکیم ترمذی لیکلی دی: ان النبی ﷺ لم یکن یرٰی له ظل فی شمس ولا قمر الخ، آیا دا حدیث په اعتبار د سند سره صحیح دې یا نه؟

المستفتی: نامعلوم طالب العلم دارالعلوم حقانیه......۱۹۹۰ء|۹|۱۱

الجواب: دا روایت ثابت نه دې. ﴿۳﴾ وهو الموفق

د حضرت عمر رضی الله عنه صحبت سره د روژې دافطار د اثر وضاحت

سوال: دیو عالم نه مې اوریدلی دی چه حضرت عمر رضی الله عنه به همبسترئ سره روژه ماتوله، آیا دا خبره صحیح ده او حواله د کتاب احیاء العلوم جلد دویم ص ۳۴ ورکوی، ددې وضاحت او کړئ مهربانی به وی؟

المستفتی: نامعلوم......۸| رمضان ۱۴۰۸ھ

﴿۱﴾ (پ: ۲۸ سورة التحريم رکوع: ۱۹ آیت: ۶)

﴿۲﴾ عن عائشة رضی الله عنها اتی النبی ﷺ بلحم بقر فقیل هذا ما تصدق به علی بریرة فقال هو لها صدقه ولنا هدية. (صحیح المسلم ص ۳۴۵ جلد ۱ باب اباحة الهدية للنبی ﷺ......)

﴿۱﴾ عن زکوان ان رسول الله ﷺ لم یکن یري له ظل الخ. دا روایت جلال الدین سیوطي رحمه الله په خصائص الکبري ص ۶۸ جلد ۱ کښې ذکر کړې دې. ددې یو مبې راوی عبدالرحمٰن بن قیس زعفرانی لره د حدیث عالمانو احادیث وضع کونکې او بعضو کذب طرف ته منسوب کړې دې. کما فی تهذیب التهذیب للعلامه ذهبی رحمه الله ص ۲۳۱ جلد ۶ رقم ۴۱۳۰، او دغسې دویم راوی عبدالملک بن عبدالله بن الولید هم مجهول الحال دې دا سماء الرجال په متداول کتابونو کښې ددوی حال مذکور نه دې. (از مرتب)

همبستری کولو سره افطار ممنوع دې دخوراك څکاك په شان. او لکه

الجواب: څنګه چه د بخاری شریف وغیره حدیث په بناء باندې دخوراك څکاك شهوت په حاضرئ باندې دمقدم کولو اجازت دې. نو دغسې دجماع د شهوت دمونځ په طریقه اولٰی جائز وی.

تقدیم به هم په

ولم اجد هذا الاثر فی تلک القصة ولا استبعاد فیه کما اشرت الیه نعم الاخبار من امر جزی لما یوهم الدوام والکلية ظلم عظیم. ﴿۱﴾ وهوالموفق

د پنځمې او شپږمې کلمې د حدیث نبوی ﷺ نه حدیث

سوال: آیا د څلور کلمونه علاوه د پنځمې او شپږمې کلمې د حدیث نبوی ﷺ نه څه ثبوت شته؟ یا خلقو من ګهړت (د ځانه) وضع کړې دی. او آیا دا ضروری ګرځول او د نکاح په وخت وئیل بدعت دی؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: قاری بشیر احمد علوی......۳| رمضان المبارک ۱۳۹۵ھ

الجواب: په احادیثو کښې د شپږونه زیاتې کلمې ثابت دی. ﴿۲﴾ او د نکاح په وخت د یوې وئیل هم ضروری نه دی. (رواه ابوداؤد والترمذی) وهوالموفق

د امامت علی رضی الله عنه تحقیق او حدیث د غدیرخم

سوال: بعضې خلق د غدیرخم په موقعه باندې د حضور ﷺ د فرمان نه د علی رضی الله عنه د امامت ثابتولو کوشش کوی نو دا حدیث او ددې خبرې حقیقت څهٔ دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: مولوی عبدالحنان بخشالی ضلع مردان......۱۹۶۹ء|۵|۱۵

﴿۱﴾ ما په دې قصه کښې دا اثر او نه موندلو. لیکن په دې کښې څه استبعاد هم نشته لکه چه ما دې ته اشاره هم کړې ده. البته د یو جزئی امر دخبر په وجه د دوام او کلیه وهم کول ډیر ظلم دې.

﴿۲﴾ عن بلال بن یسار بن زید مولی النبی ﷺ قال حدثنی ابی عن جدی انه سمع رسول الله ﷺ یقول من قال استغفر الله الذی لا اله الا هو الحی القیوم واتوب الیه غفرله وان کان قد فر من الزحف رواه الترمذی وابوداؤ دلکنه عند ابی داؤد وهلال بن یسار وقال الترمذی هذا حدیث غریب. (مشکواة المصابیح ص ۲۰۵ جلد ۱ باب الاستغفار والتوبة)

قال ابن عابدین قلت ولم ار فی الحدیث ذکر صباحا ومساء بل فیه ذکر ثلاثا کما فی الزواجر عن الحکیم الترمذی الا ادلک علی مایذهب الله به عنک صغار الشرک وکباره تقول کل یوم ثلاث مرات اللهم انی اعوذبک ان اشرک بک شیئا وانا اعلم واستغفرک لما لا اعلم. وعند احمد والطبرانی ایها الناس اتقوا الشرک فانه اخفی من دبیب النمل قالوا وکیف نتقیه یارسول الله قال قولوا اللهم انا نعوذبک ان نشرک بک شیئا نعلمه ونستغفرک لما لانعلمه. (ردالمحتار ص ۲۱۶ جلد ۳ قبیل مطلب توبة الیاس)

جواب: (۱) حدیث غدیر خم. رواه البراء بن عازب و زید بن ارقم ان رسول الله ﷺ لما نزل بغدیر خم اخذ بید علی فقال الستم تعلمون انی اولیٰ با لمؤمنین من انفسهم قالوا بلیٰ قال الستم تعلمون انی اولیٰ بکل مومن من نفسه قالوا بلیٰ فقال اللهم من کنت مولاه فعلي مولاه اللهم وال من والاه و عادمن عاداه فلقیه عمر بعد ذلک فقال له هنیئاً یا ابن ابی طالب اصبحت و امسیت مولیٰ کل مومن و مومنة. رواه احمد (مشکوٰة ص ۵۶۵ جلد ۲)

په دې حدیث شریف کښې پیغمبر علیه السلام د حضرت علی رضی الله عنه دپاره ولایت ثابت کړې دې. او ولایت د ډیرو معانو احتمال لري.

ولایت د نصرت او محبت معنیٰ دپاره هم راځي. فمعنی المولی هو الناصر او المحبوب، لهٰذا د دې حدیث نه د امامت معنیٰ اخستل او په دې کښې محصور کول غلطي ده، او که د دې نه بالفرض د امامت معنیٰ مراد واخستلې شي بیا هم د شیعه ګانو دپاره د احجت نه دې، ځکه چه پیغمبر علیه السلام د حضرت علی رضی الله عنه دپاره بالفعل ولایت ثابتوی د انۀ چه هغوی سره د آئنده دپاره وعده کوی. او دا په هیڅ پته نه ده چه حضرت علی رضی الله عنه د پیغمبر ﷺ په ژوند کښې بالفعل امیر او خلیفه وو، او بالفعل ناصر او محبوب وو. نو دا هم یوه واضحه قرینه ده چه مراد امارت او خلافت نه دې. او بالفرض که دا او منلې شي چه مراد د خلافت او امارت وعده ده، نو دا په اتصال باندې په محمول کولو د ټولو صحابه کرامو بلکه د حضرت علی رضی الله عنه تغلیط موجود دې. پس د دې نه مراد به اتصال نه وی. پس دا به مراد وی چه په استقبال کښې به دوی هم امیر او خلیفه وی. د دې حدیث نه د شیعه ګانو استدلال کم فهمۍ او غلط فهمۍ باندې مبنی دې. د شیعه ګانو د کتابونو نه دا ثابته ده. چه حضرت علی رضی الله عنه د خپل خلافت نه انکار کړې دې. او د نورو خلفاؤ وزیر او قاضی خپل اختیار سره پاتې شوې دې. دا ټول تفصیلات په فتوٰی کښې نه شو لیکلې، د زیات تفصیلاتو دپاره نصیحة الشیعه مصنفه مولانا احتشام الدین او هدیة الشیعه د مولانا قاسم بانی دار العلوم دیوبند او تحفه اثنا عشریه مصنف شاه عبد العزیز صاحب طرف ته مراجعت اوکړئ. او په ضروری بحث باندې مونږ په افتاء کښې اکتفا کوو. وهو الموفق

په شب معراج کښې د رؤیت باری تعالی په روایاتو کښې تطبیق

سوال: آیا حضور ﷺ الله تعالی د معراج په شپه لیدلې دې یا نه؟ ځکه چه په شب معراج باندې د تلو واقعه بعضې خلق په خوب سره تعبیر کوی. او دا روایت پیش کوی چه حضرت عائشه رضی الله عنها په شب معراج کښې د الله تعالی د دیدار قائل نه ده، او بعضې خلق قائل دی. او په دلیل کښې د حضرت عباس رضی الله عنه روایت نقل کوی. نو د مسئلې وضاحت کولو سره ثواب دارین حاصل کړئ؟

المستفتی: محمد جاوید هزاروی...... ۱۹۷۸ء/۷/۲۹

الجواب: واضحه دې وی چه لیلة المعراج سره متعلق په اخبار او آثار کښې جمع او تطبیق مشهوره خبره ده.

ای رئ الله تعالیٰ بقلبه لا بوجهه. او با لحجاب لا بلا حجاب او عند عدم التجلی التام لا عند التجلی التام و هکذا. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د موسیٰ علیه السلام د روح قبض کول قرآنی آیت ,,لایستقدمون ساعة،، الخ سره متناقض نه دي

سوال: څه فرمائی علمائې حق په دې مسئله کښې چه حضرت موسیٰ علیه السلام د روح قبض کولو په وخت عزرائیل علیه السلام په څپیړه اووهلو او یوه سترګه ئې ورله بهر ته راویستله، او د روح قبض کولو په وخت حضرت موسیٰ علیه السلام مهلت اوغوښتلو او مهلت ورته ورکړې شو. آیا دا واقعه د آیت ,,لایستقدمون ساعة ولا یستاخرون،، سره مخالف نه دې؟ شافی جواب راکړئ ډیره مننه به وی.

المستفتی: الهیان جامع مسجد شیرینګل دیر.... ۱۹۷۵ء/۱۱/۹

جواب: هذا الحدیث صحیح سنداً ﴿۲﴾ ولا استحالة فیه متالان الانبیاء علیهم السلام کانوا یخیرون ولم یخیره الملک فلم یعرفه موسیٰ علیه السلام کما فی القسطلانی

﴿۱﴾ قال العلامه محمد عبد العزیز الفرهاری (ثم الصحیح انه علیه الصلوة و السلام انمار ائ ربه بفواده ای بقلبه لابعینه اختلف السلف والخلف فیه علی اقوال احدها انکار الرؤیة وهو قول عائشة و المشهور عن ابن مسعود وابی هریره رضی الله عنهما وعن مسروق قال لعائشة هل رای محمد ربه قالت لقد قف شعری مما قلت من حدثک ان محمد رأی ربه فقد کذب قال فاین قوله تعالیٰ...... ثانیها اثبات الرؤیة بالقلب وهو روایة عن ابن عباس قال القاضی عیاض جاء فی الحدیث لم اره بعینی ولکن رایته بقلبی مرتین وعن ابن عباس قال سئل هل رأیت ربک قال رایته بفوادی رواه ابن جریر ثالثها اثبات الرؤیة بالعین وهی الروایة المشهورة عن ابن عباس وعلیه الشیخ ابوالحسن الاشعری وفی شرح المسلم للاما م النووی هو الراجح عند اکثر العلماء. رابعها التوقف وهورأی سعید بن جبیر واختار الشارح القول الثانی علی الثالث لانه مؤید بالحدیث ولانه لا یدل علی الرویة بالعین نص واما قول ابن عباس فلعله اجتهادی الخ

(النبراس شرح شرح العقائد ص ۲۹۵ باب بیان المعراج) (بقیه حا شیه په راروانه)

فلیراجع . و افقاء البصر کان من الجسم التمثل به لامن الجسم الملکی لعدم الامکان . فافهم والیراجع الی اصل الحدیث حتی یتمیز حدیث الرسول من زیادات الوعاظ .﴿۱﴾ وهو الموفق

د شداد دجنت په قرآن اوحدیث کښې هیڅ ثبوت نشته

سوال: بعضې خلق وائی چه شداد کافر کوم جنت جوړ کړې وو هغه الله تعالی په زمکه کښې محفوظ ساتلې دې اودقیامت په ورځ به دشداد جوړ کړې شوې جنت ښائی په دې بانډې یوسړی اووئیل چه دائې جنت نه بلکه یوښائسته کور جوړ کړې وو. چه هغې ته به شداد جنت وئیلې. الله تعالی تباه اوبرباد کړو. او یوه ورځ به د کهنډراتو په شکل کښې راوځی. بهرحال آیا داجنت واقعی ترننه پورې په زمکه کښې محفوظ دې. آیات او احادیثو سره ثابته کړئ. اودا جنت ئې دکومو خلقو په ذریعه جوړ کړې وو. او شداد کافر ته دجنت نقشه چا خودلې وه. پوره وضاحت اوکړئ؟

المستفتی: فضل دیان چراټ ډاك اسماعیل خیل... ۲۹ ربیع الاول ۱۳۹۰ھ

الجواب: دشداد دجنت جوړولو ثبوت قرآن اوحدیث نه نۀ ملاویږی دا یوه اسرائیلی خبره ده او واضحه دې وی چه جنت په عربئ ژبه کښې باغ ته وائی. لهٰذا دشداد جنت او باغ جوړول دعقل نه لرې خبره نه ده. بې شکه دا خبره صحیح نه ده چه په هغې کښې هغه خاصیات وی کوم چه دمعروف جنت په څیزونو کښې موجود دی. اودا هم صحیح نه ده چه دا به اتم جنت وی. او مسلمانان به هغې ته د جزاء په طور داخلیږی. دا دمعقول او منقول دواړو خلاف ده. فقط

(بقیه حاشیه)﴿۲﴾ مشکواة المصابیح ص ۵۰۷ جلد ۲ باب بدأ الخلق و ذکر الانبیاء علیهم السلام الفصل الاول)

﴿۱﴾ ترجمه: داحدیث سنداً صحیح دې اومتناً دې نه څه محال نه لازمیږی ځکه چه انبیاؤ ته اختیار ورکولې شی. او موسیٰ علیہ السلام ته فرښتې اختیار نه ورنه کړو. نو موسیٰ علیہ السلام هغه اونه پیژندلو. لکه چه په قسطلانی کښې دی. او سترګه ویستل جسم تمثیلی نه وو دجسم ملکی نه دعدم امکان په وجه نه وو. فافهم. او اصل حدیث ته رجوع اوکړئ چه په حدیث بانډې د واعظانو دزیادت نه تمیز راشی.

قال العلامه ابن حجر عسقلانی والجواب ان الله لم یبعث ملک الموت لموسیٰ و هو یرید قبض روحه حینئذ وانما بعثه الیه اختیارًا وانما لطم موسیٰ ملک الموت لانه رأی آدمیا دخل داره بغیر اذنه ولم یعلم انه ملک الموت و قد اباح الشارع فقئ عین الناظر فی دار مسلم بغیر اذن. وقد جاء ت الملائکة الیٰ ابراهیم والیٰ لوط فی صورة آدمیین فلم یعرفاهم ...... انما لطمه لانه جاء لقبض روحه من قبل ان یخیره لما ثبت انه لم یقبض نبی حتی یخیره ......وقال ابن قتیبة انما فقأ موسی العین التی تخیل و تمثیل ولیست عینا حقیقة الخ (فتح الباری شرح صحیح البخاری ص ۲۵۲، ۲۵۳ جلد ۸ باب وفات موسیٰ و ذکره بعد کتاب الانبیاء)

د شوافعو د مستدل غزوة الرقاع والا حدیث ضعف

سوال: د غزوة الرقاع واقعه کومه چه اهل حدیث اوشوافع ددې مسئلې په دلیل کښې پیش کوی چه وینې وتلو سره اودس نه ماتیږی. د دوره حدیث شریف په دوران کښې مې ستاسو حضراتو نه اوریدلی وو چه په دې حدیث کښې یو راوی عقیل بن جابر مجهول دې او محمد بن اسحٰق متکلم فیه دې نو که په کوم کتاب کښې دا مسئله موجود وی نو دهغې نوم او مرجع راته راولیږئ؟

خوید کم: مولانا عبدالهادی صاحب ګندف صوابی ۲۸ ربیع الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: تاسو بذل المجهود صفحه ۹ جلد اول اود معارف السنن اکثر ځایونه اوګورئ. چه ددې جواب مخرج او نور جوابات هم درته معلوم شی. او میزان الاعتدال ص ۸۸ جلد ۳ هم اوګورئ. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د عهدنامې مضمون اود فضیلت روایات

سوال: دلته دحیدرآباد سندھ اوسیدونکو یوه عهدنامه سند ګرځولې ده. چه عهدنامه قرآن شریف دې په دې کښې د عربئ اوقرآن شریف الفاظ دی که یوسړې په ټول عمر کښې یو مونځ هم اونه کړی. خو په ټول عمر کښې یو ځل عهدنامه اووائی نو هغه دجنت حقدار دې او دجهنم اور په هغه بانډې حرام دې. (۱) عهدنامه قرآن ګرځول څنګه دی؟ (۲) عهدنامه د قرآن مخالف ده که موافق؟ (۳) په عهدنامه کښې موجود احادیث صحیح دی یا ضعیف؟ (۴) عهدنامه کښې مذکوره فضائلو بانډې اعتقاد ساتل څنګه دی؟ (۵) که عهدنامه د قرآن او احادیثو خلاف وی نو دخلقو عقیدې صفا کولو د پاره ددې بې حرمتی او سوزول جائز دی یا نه؟

المستفتی: مولانا غلام ربانی تعلقه ډګری ضلع میرپور خاص سندھ ۱۹۶۹ء/۴/۱۲

الجواب: (۱) عهدنامه قرآن ګرځول کفر دې ځکه چه په قرآن کښې زیادت کفر دې. (۲) دعهدنامې مضمون صحیح دې لیکن قرآن نه دې. (۳) قال العلامة الشامی ص ۸۴۷ ج ۱ نقل بعضهم عن نوادرالاصول للترمذی ما یقتضی ان هذالدعاء له اصل﴿۲﴾. (۴) اکثر فضائل بې ثبوته او بې دلیله دی. (۵) چونکه سوزولو سره فتنه نه ختمیږی لهٰذا د اسماء الله په سوزولو بانډې اقدام کول نه دی پکار. بخلاف ماورد فی حق المصحف. وهو الموفق

﴿۱﴾ وفی منهاج السنن والجواب عن دلائلهم ان حدیث جابر معلول سنداً لان فی سنده محمد بن اسحاق وعقیل بن جابر والاول قیل فی حقه کذاب والثانی مجهول لم یرو عنه غیر صدقة بن یسار و کذا لیس فیه قول الرسول ولا فعله الخ (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۱۱ جلد ۱ الوضوء من القئ والرعاف)
﴿۲﴾ (رد المحتار هامش الدرالمختار ص ۶۲۸ ج ۱ قبیل باب الشهید)

د ام ایمن د حضور ﷺ متیازې څکل

سوال: آیا د ام ایمن دحضور ﷺ متیازې څکل دکوم حدیث نه ثابت دی؟
المستفتي: محمدصابرشاه ډیره اسماعیل خان ... ۲ا ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا واقعه حاکم په مستدرك کښې ذکرکړې ده.

د ,,اختلاف امتی رحمة،، روایت

سوال: د حضور ﷺ دا روایت چه ,,اختلاف امتی رحمة،، یعنی زما دامت اختلاف رحمت دې آیا دا روایت صحیح دې؟
المستفتي: سلطان شیرایم آرایف کالونی کامره اټك.. ۲۰ا رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: دا حدیث ثابت دې ددې اختلاف په نتیجه کښې دین ښکاره شو دائمه اربعه اختلاف سره دین واضح شو. اوخلق په صحیح لاره روان شول. (فلیراجع الی موضوعات الکبیر لملا علی قاری ص۱۷) ﴿۱﴾ وهوالموفق

د فیض الباری په یوعبارت باندې د اشکال ازاله

سوال: بخدمت محترم المقام حضرت مولانا مفتی محمدفریدصاحب مدظله العالی!
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته..... جناب والا دفیض الباری جلد۳ ص۳۹۵ ددې عبارت مطلب ستاسونه پوهیدل غواړو، امید دې چه تاسو به ضرور راهنمائی اوکړئ.

﴿۱﴾حدیث اختلاف امتی رحمة زعم کثیر من الائمه انه لااصل له ،لکن ذکره الخطابی فی غریب الحدیث مستطرداً واشعر بان له اصلا عنده وقال السیوطی اخرجه نصر المقدسی فی الحجه والبیهقی فی الرسالة الاشعریه بغیر سند واورده الحلیمی والقاضی حسین وامام الحرمین وغیرهم ولعله خرج فی بعض کتب الحفاظ التی لم تصل الینا والله اعلم وقال الزرکشی اخرجه نصر المقدسی فی کتاب الحجة مرفوعاًو البیهقی فی المدخل عن القاسم بن محمد قوله وعن عمر بن عبد العزیز قال ما سرنی لو ان اصحاب محمد لم یختلفوا لانهم لو لم یختلفوا لم یکن رخصة قال السیوطی و هذا یدل علی ان المراد اختلافهم فی الاحکام وقیل المراد اختلافهم فی الحرف و الصنائع ذکره جماعة فسبحان من اقام العباد فیما اراد .الخ (الموضوعات الکبیر لملاعلی قاری ص ۵۱ رقم حدیث: ۱۶۰)

واعلم ان فی التحریف ثلاثة مذاهب ذهب جماعة ان التحریف فی الکتب السماویة قد وقع بکل نحو فی اللفظ والمعنی جمیعاً و هو الذی مال الیه ابن حزم و ذهب جماعة الیٰ ان التحریف قلیل ولعل الحافظ ابن تیمیة جنح الیه و ذهب جماعة الیٰ انکار التحریف اللفظی رأساً فالتحریف عندهم کله معنوی قلت یلزم علیٰ هذا المذهب ان یکون القرآن ایضاً محرفاً فان التحریف المعنوی غیر قلیل فیه ایضاً والذی تحقق عندی ان التعریف لفظی ایضاً اما انه عن عمد منهم او لمغلطة فالله تعالیٰ اعلم.

مخطط (خط کشیده) عبارت لوستلو سره مې سر اوچورلیده، یوطرف ته د محفوظیت قرآن کریم بنیادی اوقطعی یا ضروری عقیده وانا له لحافظون لاندې قدیماً اوحدیثاً دمفسرینو یویوحرف بلکه زیر اوزبر پورې د حفاظت تصریح... دامام حزم رحمة الله علیه د ,,الملل والنحل جلد ۲ ص ۸۰،، دا ارشاد:

لم مات ابو بکر وولی عمر ...... ان لم یکن عند المسلمین اذامات عمر مائة الف مصحف من مصر الی العراق الی الشام الی الیمن فما بین ذلک فلم یکن اقل ثم ولی عثمان فزادت الفتوح فلو رام احد احصاء مصاحف اهل الاسلام ما قدر ...... واعلموا انه لو رام احد ان یزید فی شعر النابغة او شعر زهر کلمة او ینقص اخری ما قدر لانه کان یفتضح الوقت و تخالفه النسخ المبثوثة فکیف القرآن فی المصاحف و هی من آخر الاندلس و بلاد البرید السودان الیٰ آخر السند و کابل و خراسان والترک والصقالیة و بلاد الهند فما بین ذلک فظهر حمق الرافضة و مجاهداتها با لکذب الخ وقیل ذلک فی ص ۷۸ واما قولهم فی دعوی الروافض تبدیل القرآت فان الروافض لیسوا من المسلمین.

اود علامه خفاجی رحمة الله علیه اوپخپله دقاضی عیاض رحمة الله علیه د ,,شفاء،، اود ,,نسیم الریاض،، ددې فرمان (ج۴ ص۵۵۳ نسیم الریاض)

وکذلک کما کفرنا هذا نکفر من انکر القرآن کله او انکر حرفاً منه او کلمة او غیر شیئا منه بابدال زیادة اونقص فیه کلاماً لیس منه [او ددے نه مخکے] والمرتاب فی ذلک المعلوم من الدین با لضرورة والمنکر بعد البحث و صحبة المسلمین کافر بالاتفاق ولا یعذر بقوله لا ادری الخ

بهرحال دا اوددې په شان شل بلکه ددې نه هم د زیات تصریحاتو باوجود مونږه ټولو طالب علمانوته معلومه ده دحضرت شاه صاحب د پورته مخطط الفاظومقصد څه دې؟... خدائې دې اوکړی چه دا زما دناپوهئ کرشمه وی، او تاسو یوه داسې تسلی بخش توجیه اوفرمایئ چه د زړه داطمینان دولت حاصل شی. پته نه لګی چه زما په عقل اوفهم څه اوشو چه دې سره سخت پریشانه یم. او باربارد ربنا لاتزغ قلوبنا،، دعاکوم. دوه څلور شخصیات چه هغوی سره مې دهغوی د روحانی اثراتو امید تړلې دې اوهغوی ته خپله عرض کوم. چه په هغوی کښې ستاسو نه خصوصی طورسره امیدواریم. داوخت صرف هم تاسوته داخط درلیږم امید دې چه ډیر زربه مې تسلی اوکړئ. ماله پکاروو چه پخپله حاضرشوې ووم، اوځان مې پوهه کړې وې. خو همت مې نشته. که ددې الفاظوهم دا ظاهری معنٰی مرادوی کومه چه زه اخلم چه په قرآن پاك کښې لفظی تحریف موجود دې (العیاذ بالله) ځکه چه نه خو د فیه مرجع آسمانی سابقه کتابونه جوړیدې شی اوکه دا فیها کولوسره دکتاب په سر واچولې شی نو ,,اما انه عن

محمد منهم او لمغلطة،، ددې نه مانع دي ځکه چه ددغه کافرانو تحريف خو يقيناً عن محمد وو. لقوله تعالىٰ تلبسون الحق بالباطل و تكتمون الحق و انتم تعلمون ٥ (سورة البقره آيت) نوبهرحال آيا يو مسلمان دتحريف ارتكاب كړې دې؟ (والعياذبالله) كه داسې ده نوپه قول د ,,شفاء،، ان هذا المنكر اذا جوز على جميع الامة الـوهم والغلط منا نقلوه.. دخل الامة انه فى جميع الشريعة اذهم الناقلون لبا وللقـرآن والنحلت عربى الدين. (نسيم الرياض ص....) اوكه معاذالله خبره هم دغه ده كومه چه دظاهرى الفاظونه معلوميږى نوحاسدين او دشمنان د ديوبنديانو ترنن ورځې پورې ددغه اكابرو خلاف دا الفاظ ولې رامخې ته نه كړل؟

اللهم فلاتكلنا الىٰ انفسنا طرفة عين ولا الىٰ احد من خلقك ولا اقل من ذلك و اصلح لنا شاننا كله بجاه نبيک المصطفىٰ و حبيبک المرتضىٰ عليه و على اله و اصحابه من الصلوٰة اكملها و من التسليمات افضلها.

ناكاره: عبدالكريم غفرله ولوالديه ازنجم المدارس كلاچى
٢٠|جمادى الثانى ١٤١٢هـ ....٢٨|دسمبر ١٩٩١ء

الجواب: محترم المقام جناب قاضى صاحب دامت بركاتكم.... السلام عليكم ورحمة الله وبركاته؛ اما بعد.... پس چه تاسو زما په شان په كم علم اوكم عمر باندې اعتماد كړې دې نوپه دې بناء باندې ددې اشكال د ازالې باره كښې عرض دې چه ما دحضرت شاه صاحب د شاګرد حضرت شيخ الحديث مولانا عبدالرحمٰن صاحب كاملپورى رحمة الله عليه نه اوريدلى دى چه فيض البارى زمونږ د شيخ رحمة الله عليه امالى دې.او باوجود دسعى بليغ نه په دې كښې ډيرې واضح غلطۍ دى. مثلاً دحضرت عيسىٰ عليه السلام آسمان ته د پورته كولونه مخكښې د عمر متعلق اوپه قرض كښې حوالې د عدم صحت متعلق وغيره. نوددې امالى په تفرداتو كښې د غوركولونه كاراخستل ضرورى دى. ددې تحريف والا عبارت متعلق د كال په شروع كښې يو سوال راغلې وو. دهغې جواب دا ليكلې شوې وو چه شاه صاحب دكتب سماويه (سابقه) متعلق دوه مذهبه ذكركړى دى. اول داچه په دې كښې تحريف لفظى اومعنوى دواړه قسم متحقق كيدې شى. دويم داچه په دې كښې تحريف لفظى نه دې واقع شوې. په دې كښې صرف تحريف معنوى متحقق شوې دې. ددې نه پس حضرت شاه صاحب په دې دويم مذهب باندې اعتراض كوى چه دې سره دا لازميږى چه قرآن مجيد هم محرف دې ځكه چه په دې كښې تحريف معنوى واقع شوې دې. حالانكه قرآن مجيد محفوظ دې. اوددې نه پس حضرت شاه صاحب اول مذهب ته ترجيح وركوى. چه په كتب سماويه كښې تحريف لفظى هم واقع شوې دې. صرف مترجم د مؤنث په ځائې د مذكر ضمير راوړلې دې. وحق العبارة: ,,والـذى تحقق عندى ان التحريف فيها لفظى ايضا،، الخ وهوالموفق

كتاب السنة والبدعة

د اذان په وخت لاس ښكلول اوپه زوره زوره كلمه اوئيل

سوال: زمونږ په علاقه كښې اكثروجماتونوكښې كله چه په آذان كښې د محمد صلى الله عليه وسلم نوم واخستلې شى ائمه حضرات لاسونه ښكلوى.اودمونځ نه پس په زوره زوره كلمه وائى دغسې نور رسمونه هم كوى شرعى حكم څه دې؟

المستفتى: يحيىٰ خان راوالپنډى .... ٣٠|رجب ١٣٩٩هـ

الجواب: كوم امام چه غيرالله حاضرناظر ګڼړى يا عالم الغيب ئې ګڼړى هغه كافردې.په هغه پسې اقتداء باطل اوكالعدم ده.دغسې چه كوم امام دسيدالبشر د بشرنه منكروى هغه هم كافردې.﴿ ١ ﴾ كما صرحوا به فى كتب الفقه والكلام.او ذكربالجهر بذات خود جائزدې.ليكن د ايذاء په صورت كښې ناجائزدې.﴿ ٢ ﴾ صرح به الحموى وغيره.پس د اول الذكرنه روستوبه مونځ نه كوى.يا اعاده دې كوى.اوآخرالذكر پسې دې مونځ كوى او اعاده دې نه كوى.وهوالموفق

داذان نه مخكښې يا روسته صلاة سلام وئيل

سوال: زمونږ په علاقه كښې عام طورباندې مؤذنين صلاة اوسلام وائى ددې شرعى حكم څۀ دې؟

المستفتى: مولوى كرم الٰهى عثمانى اسلام پوره سرګودها ٢٩|رمضان ١٤٠٥هـ

الجواب: دا تولې طريقې نه ممنوع دى اونه مطلوب، البته داهل بدع چه كوم

﴿١﴾ قال الله تعالى فى كلامه المجيد قل لا املک لنفسى نفعا ولا ضراالاما شاء الله و لو كنت اعلم الغيب لا ستكثرت من الخير و ما مسنى السوٓء. (الايه الاعراف :١٨٨)
قال العلامه الوسى المراد نفى استمرار علمه عليه الصلاة والسلام الغيب .و مجيئى "كان "للاستمرار شائع و يلاحظ الاستمرار ايضا فى الاستكثار وعدم المس وقيل المراد با لغيب وقت قيام الساعة لان السوال عنه ....وقيل أل فى الغيب للاستغراق و هو صلى الله عليه وسلم يعلم كل غيب فان من الغيب ما تفرد الله تعالى به كمعرفة كنه ذاته تبارک وتعالىٰ و كمعرفة وقت قيام الساعة على ما تدل عليه الاية.
(تفسير روح المعانى ص ١٩٩ جلد ٦ سورة الاعراف : ١٨٨)
﴿٢﴾ قال ابن عابلين عن الامام الشعرانى اجمع العلماء سلفاً خلفاً على استحباب ذكر الجماعة فى المساجد وغيرها الا ان يشوش جهر هم على نائم او مصل او قارى الخ
(رد المحتارهامش الدرالمختار ص ٤٨٨ جلد ١ مطلب فى رفع الصوت بالذكر باب احكام المساجد)

شعاروی دهغې نه اجتناب مطلوب دې.لقوله علیه السلام اتقوا مواضع التهم.《۱》فقط

د مړی په کفن باندې رنګدارې سیاهئ باندې لیکل ناجائزدی

سوال: دمړی په کفن باندې رنګدار څیز مثلاً سیاهئ،پنسل، خاوره یابل څه څیز سره کلمه شهادت یا د قرآن آیتونه لیکل جائزدی یا نه؟ که اولیکلې شی نوڅه حرج دې؟

المستفتي: صوفی سخی محمد چتال جهلم.... ۱۰|۳|۱۹۶۹ء

الجواب: دمړی په کفن باندې سیاهئ سره لیکل ناجائزدی اوکه صرف په ګوتې سره اولیکلې شی نوجائزدی.والتفصیل فی ردالمحتارص۸٤۷ جلد۱، د مړی د سخا کیدو په وجه دقرآن او کلماتو اهانت دکراهیت منشاء ده.

بدعت څه څیزدې؟

سوال: څه فرمائی علمائې کرام د لاندې مسئلې باره کښې چه مونږ خو تراوسه پورې دبدعت تعریف دا اورو،چه هرهغه کار دین ګڼړل کوم چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوصحابه کرامو په زمانه کښې نه وی شوې،لیکن ددې تعریف په حوالې سره خود بنده په ناقص خیال کښې دبدعت نوم اونښان هم پاتې نه شو لهذا صحیح بدعت څه دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتي: محمدظاهر دوړپتی میرانشاه ضلع بنو.... ۱۶|شعبان ۱۳۹۶ھ

الجواب: محترم المقام طالب العلم، السلام علیکم نه پس دې واضحه وی چه

《۱》حدیث اتقوا مواضع التهم رواه البخاری فی الادب المفرد وقال الملا علی قاری حدیث اتقوا مواضع التهم. هو معنی قول عمر : من سلک مسالک التهم اتهم' رواه الخرائطی فی مکارم الاخلاق عن عمر موقوفاً بلفظ "من اقام نفسه مقام التهم فلا تلومن" من اساء الظن به"
(الموضوعات الکبریٰ لملا علی قاری ص ۴۹ رقم حدیث : ۱۵۱)

《۲》وقد افتی ابن الصلاح بانه لایجوز ان یکتب علی الکفن یٰس والکهف ونحوهما خوفاًمن صدید المیت وقال بعد اسطر وقد منا قبیل باب المیاه عن الفتح انه تکره کتابة القرآن واسماء الله تعالی علی الدراهم والمحاریب والجدران ومایفرش وما ذاک الا لاحترامه وخشیة وطئه ونحوه مما فیه اهانة فالمنع هنا بالاولی .نعم نقل بعض المحشین عن فوائد الشرجی ان مما یکتب علی جبهة المیت بغیر مدادبالاصبع المسبحة بسم الله الرحمن الرحیم وعلی الصدر لا اله الاالله محمد الرسول الله وذالک بعدالغسل قبل التکفین انتهی مختصراً.
(رد المحتار ص ۶۶۹ جلد ۱ مطلب فیما یکتب علی کفن المیت قبیل باب الشهید)

بدعت احداث فی الدین ته وائی.《۱》پس کوم امر چه ددین نه نهٔ وی، دقرآن اوحدیث د عبارت، دلالت، اشارت او اقتضاء اعتبارسره ثابت نه وی.نو داسې امر ددین نه شمارل به بدعت وی.پس ددې نه ټول مباحات خارج شو. دغسې رسمونه هم ددې نه خارج شو .ځکه چه دا امورڅوك ددین په حیثیت سره نه کوی.البته دا امور چه کله د التزام په طورکولې شی نو بدعات به وی.

لان التزام ما لا یلزم بدعة فکم من فرق بین البدعة الشرعیة و بین البدعة النجدیة .فافهم.《۲》

د بدعت سیئه اوحسنه تعریف څهٔ دې؟

سوال: د بدعت حسنه اوسیئه تعریف څهٔ دې، که څوك بدعت حسنه کوی نو هغه منع کول وغیره څنګه دی؟ مهربانی اوکړئ پوره وضاحت اولیکئ شکریه به وی؟

المستفتي: حاجی دارمحمد ابوظهبی ا عالم زید مردان... ۳|۵| ۱۴۰۱ھ

الجواب: غیردین لره دین ګڼړل بدعت دې.کوم څیزچه په خیرالقرون کښې نه بنفسه ثابت وی اونه باصله ثابت وی نو هغه بدعت سیئه دې اوکوم څیزچه بنفسه ثابت نه وی لیکن باصله ثابت وی نو هغه بدعت حسنه دې.《۳》

هذا النزاع لفظي بناء علی اختلاف تفسیر البدعة فمن قال انهامالم یوجد فی خیر القرون بنفسه ولا بدلیله فهی عنده سیئه لا محالة ومن قال انها مالم یوجد بنفسه سواء وجد بدلیله او لا فهی عنده قسمان فافهم .

《۱》قال الملا علی قاری قال النووی البدعة کل شی عمل علی غیر مثال سبق وفی الشرع احداث مالم یکن فی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم .(مرقات ص ۲۱۶ جلد ۲)وقال الامام الغزالی اذا لم یرد فیه نهی فلا ینبغی ان یسمی بدعة ومکروها ولکنه ترک الاحب وقال الشافعی ما خالف الکتاب والسنته او الاثر او الاجماع فهو ضلالة و ما احدث من الخیر مما لا یخالف شیئاً من ذلک فلیس بمذموم .(الاحیاء للعلوم الدین ص ۳۳۱ جلد ۲)

《۲》قال ابن عابدین بدعة ای محرمة والا فقد تکون واجبة کنصب الادلة للرد علی اهل الفرق الضالة و تعلم النحو المفهم للکتاب والسنة ومندوبة کاحداث نحو رباط ومدرسة وکل احسان لم یکن فی الصدر الاول ومکروهة کزخرفة المساجد ومباحة کالتوسع بلذیذالماکل والمشارب والثیاب کما فی شرح جامع الصغیر للمناوی عن تهذیب النووی ومثله فی الطریقة المحمدیة للبرکلی .
(ردالمحتار ص ۴۱۴ جلد ۱ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

《۳》قال ابن عابدین بدعة ای محرمة والا فقد تکون واجبة......ومندوبة......وکل احسان لم یکن فی الصدر الاول ومکروهة...... ومباحة الخ (ردالمحتار ص ۴۱۴ جلد ۱ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

بدعت او ددې اقسام

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه دبدعت څومره اقسام دی، آیا بدعت سیئه او حسنه هم وی او کوم اقسام جائز او کوم ناجائز دی؟

المستفتی: نامعلوم...... یکم مئی ۲۰۰۰ء

الجواب: بدعت په لغت کښې هغه څیز ته وائی کوم چه دمثال سابق او نمونه سابق نه بغیر معمول شوې وی او شرعاً دهغه څیز احداث او ایجاد ته وائی کوم چه دپیغمبر علیه السلام په زمانه کښې نه وو. یعنی احداث فی الدین ته وئیلې شی.

کما فی المرقاة قال النووی البدعة کل شئی عمل علی غیر مثال سبق وفی الشرع احداث مالم یکن فی عهد رسول الله ﷺ. ﴿۱﴾

البته کوم امور چه خلفائې راشدینو مقرر کړې وی هغه بدعت نه دی. هغه مصالح مرسله دی. مسنون دی لحدیث ابن ماجه علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین. (۲)

لکه څنګه چه صدیق اکبر رضی الله عنه قرآن کریم په یوه صحیفه کښې جمع کړو. او عمر فاروق رضی الله عنه تراویح په جماعت کبریٰ حقیقی مقرر کړې. او عثمان بن عفان رضی الله عنه دجمعې دویم اذان مقرر کړو. شیخ عزالدین بن عبدالسلام فرمائی امور دین یعنی بدعات شرعیه کله واجب وی او کله محرم وی او کله مندوب وی او کله مکروه وی. ﴿۳﴾ او کوم امور چه د پیغمبر ﷺ په زمانه کښې نه وو. او دهغې متعلق نهی هم وارد شوې نه وی هغې ته به بدعت او مکروه نه وئیلې کیږی.

کمافی الاحیاء ص ۳۳۱ جلد ۲ اذا لم یرد فیه نهی فلاینبغی ان یسمی بدعة و مکروها و لکنه ترک الاحب و قال الشافعی ما خالف الکتاب و السنة او الاثر او الاجماع فهو ضلالة و ماحدث من الخیر مما لا یخالف شیئاً من ذلک فلیس بمذموم

﴿۱﴾(مرقاة المفاتیح شرح مشکواة المصابیح ص ۲۱۶ جلد ۲)

﴿۲﴾(مشکواة المصابیح ص ۳۰ جلد ۱ باب الاعتصام بالکتاب و السنة)

﴿۳﴾قال العز بن عبد السلام الشافعی البدعة فعل مالم یعهد فی عصر رسول الله ﷺ و هی منقسمة الیٰ بدعة واجبة وبدعة محرمة وبدعة مندوبة وبدعة مکروهة وبدعة مباحة و الطریق فی معرفة ذلک ان تعرض البدعة علی قواعد الشریعة فان دخلت فی قواعد الایجاب فهی واجبة وان دخلت فی قواعد التحریم فهی محرمة وان دخلت فی قواعد المندوب فهی مندوبة (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

اوبعضې مشائخ فرمائی چه هربدعت مذموم او سیئه دې، اوجمع بین القولین داده چه که بدعت نوم دې دهغه امورو کوم چه خیرالقرون کښې موجود نه وی، نه بنفسه او نه باصله نو مذموم او سیئه دی، او که نوم دې دهغه امورو کوم چه خیرالقرون کښې بنفسه موجود نه وی نو که باصله موجود وی نو بدعت حسنه دې. او که باصله هم نه وی نو بدعت سیئه دې.

وهوالمختار عنداهل التحقیق.

د کویژدن او ختنې (سنت) په پروګرام کښې امام او نائی ته رقم ورکول رسم دې

سوال: زمونږ په علاقه کښې دا رواج دې چه کله څه ختنه (سنت) کویژدن یا نکاح وغیره وی نو خپلوان او دوستان دجمات امام او نائی راغواړی، د پروګرام په آخر کښې امام او نائی ته څه رقم ورکوی، نو دا رقم اخستل شرعاً څنګه دې؟

المستفتی: حافظ عبدالمالک نریاب کوهاټ ۱۷/ جولائی ۱۹۷۹ء

الجواب: دا یو عوامی رسم دې په دې کښې حصه اخستل نه دی پکار، باقی که د ثواب په نیت سره دا لین دین نه وی ﴿۱﴾ نو دې ته بدعت وئیل بدعت دی. وهوالموفق

قضاء عمری، دجمعې په شپه یا ورځ سلام په حالت دقیام او مزاراتو باندې ډیوې او جهنډې لګول

سوال: (۱) د قضاء عمری مونځ په شریعت کښې څنګه دې؟ (۲) دجمعې په شپه یا په ورځ دقیام په حالت کښې سلام وئیل څنګه دی؟ (۳) د اولیاء الله په مزاراتو باندې ډیوې بلول او جهنډې ښخول څنګه دی؟

المستفتی: حاجی سراج الدین هری پور..... ۲۱/ جولائی ۱۹۷۹ء

(بقیه حاشیه گزشته صفحه) وان دخلت فی قواعد المباح فهی مباحة وللبدع الواجبة امثلة احدها الاشتغال بعلم النحو ...... المثال الثانی حفظ غریب الکتاب و السنة من اللغة المثال الثالث تدوین اصول الفقه المثال الرابع الکلام فی الجرح و التعدیل ...... وللبدع المندوبة امثلة منها احداث الربط والمدارس ...... وللمکروهة امثلة کزخرفة المساجد ...... وللبدع المباحة امثلة ...... کا التوسع فی اللذیذ من الماکل و المشارب و الملابس الخ. (قواعد الاحکام ص ۱۷۲، ۱۷۳ جلد ۲ بحواله البدعة الحسنة اصل من اصول الشرع ص ۲۹)

﴿۱﴾قال الشیخ العلامه مفتی محمد فرید اعلم ان البدعة هی اعتقاد ما لیس من الدین دیناً و هی قسمان مکفرة و مفسقة. (فتح المنعم شرح مقدمة صحیح مسلم ص ۲۹)

الجواب: (۱) دامونږ کوم ته چه قضاء عمری وائی نه دحدیثو د روایتو نه ثابت دي اونه د فقهي نه، بلکه قواعد حنفیه سره متصادم دي. پس دا مونږ بدعت سیئه دي ددې نه اجتناب ضروری دي. (۲) دخپل طرفه تقیدات او تخصیصات کول بدعت دي. (۱) (۳) دا ټول په ټوله بدعات دی. (۲)

نوټ: که د تفصیل ضرورت وی نو صرف یو سوال رالیږه.

د نکاح په وخت د وادهٔ د خلمی په سر سهره تړل

سوال: د نکاح په وخت د وادهٔ دخلمی په سر باندې سهره تړل وغیره چه داخالص د هندوانو رسم دي که لګولي ئې وی اونکاح اولوستلې شی نو نکاح به درست وی یا نه، اود سهرې تړلو څه حکم دي؟ بدعت دي یا نه؟

المستفتی: سراج الدین خطیب دومیل ضلع جهلم ۱۹۸۶ء|۸|۱۰

الجواب: چونکه دا سهره دثواب اوعبادت نیت سره نه لګوی بلکه د رسم ارادې سره تړلې شی. پس د "من تشبه بقوم فهو منهم"، (۳) الحدیث په وجه باندې ممنوع دي. (۴) لیکن بدعت نه دي. اوبهرحال د نکاح لوستلو نه مانع نه دي. کسائر المعاصی من حلق اللحیة وغیرها. وهوالموفق

د اختر په ورځ دوباره د تعزیت دپاره تلل قبیح رسم او بدعت سیئه دي

سوال: څه فرمائی علمائي دین د شرع متین دې مسئلې باره کښې چه د اختر په ورځ دمړی کوروالؤ کره دوباره د تعزیت دپاره تلل څنګه دی. حالانکه د مړی پنځه شپږ میاشتې شوې وی؟

المستفتی: نامعلوم ...... ۱۹۸۴ء|۸|۲۵

---

(۱) قال ابن نجیم ولان ذکر الله اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئی دون شئی لم یکن مشروعا حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع (البحرالرائق ص ۱۵۹ جلد ۲ باب العیدین)

(۲) قال فی الهندیه ویکره...... ایقاد النار علی القبورفمن رسوم الجاهلیه والباطل والغرور. (هندیه ص ۱۶۷ جلد ۱ ومما یتصل بذلک مسائل التعزیة) و قال ابن عابدین الشامی لان النص اقوی من العرف لان العرف جاز ان یکون علی باطل کتعارف اهل زماننا فی اخراج الشموع و السرج الی المقابر لیالی العید. (رد المحتار ص ۲۰۲ جلد ۴ مطلب فی ان النص اقوی من العرف باب الربا)

(۳) (مشکواة المصابیح ص ۳۷۵ جلد ۲ کتاب اللباس الفصل الثانی)

(۴) قال العلامه طیبی قوله من تشبه بقوم هذا عام فی الخلق والخلق و الشعار و اذا کان الشعار اظهر فی التشبیه ذکر فی هذا الباب. (شرح الطیبی ص ۲۱۹ جلد ۸ کتاب اللباس الفصل الثانی)

الجواب: دا تعزیت یو قبیح رسم او بدعتِ سیئه دي. اعاذنا الله منها (۱) وهوالموفق

د پیران پیر د یولسمې ورکولو حکم

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د پیراني پیر په نوم یوولسمه ورکولو جائز دي که نه؟

المستفتي: بنیاد حسین سیالکوټ....۲۵ جولائي ۱۹۷۹ء

الجواب: که دا یوولسمه د غیر الله نذر وي نو حرام او شرک دې او که د ایصال ثواب دپاره وي نو بیا د پیران پیر د خوشحالئ او نزدیکت د نیت په وجه باندې حرام او زیاده. او که د پیرانِ نه د امداد غوختلو په نیت سره وي نو مکروه او ناجائز دي. (۲) ځکه چه د خپل طرفنه دوخت وغیره تخصیص کول مکروه او ناجائز دي (۳) (ماخوذ از ردالمحتار والبحر). وهوالموفق

قرآن مجید د جنازې نه مخکښې وړل وغیره

سوال: د جنازې په وخت کښې قرآن پاک د جنازې نه مخکښې مخکښې وړل او د مړي سرته کیښودل او د جنازې نه روستو په هغې باندې مروجه ګردان وئیلې کیږي دا شرعاً جائزدي یا نه؟ په دې کښې خو به د قران تو هین نه وي؟

المستفتي: ولي الرحمان خطیب ضلع مانسهره....۱۲۸ جمادي الثاني ۱۳۹ھ

---

(۱) وفی الهندیه اذا عزی اهل المیت مرة فلا ینبغی ان یعزیه مرة اخری کذا فی المضمرات ووقتها من حین یموت الی ثلاثة ایام ویکره بعدها الا ان یکون المعزی اوالمعزی الیه غائباً فلا بأس بها.

(فتاوی هندیه ص ۱۶۷ جلد ۱ ومما یتصل بذلک مسائل التعزیة باب الجنائز)

(۲) قال العلامه الحصکفی واعلم ان النذر الذی یقع للاموات من اکثر العوام وما یؤخذ من الدراهم والشمع والزیت ونحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقربا الیهم فهو بالاجماع باطل و حرام ما لم یقصدوا صرفها لفقراء الانام الخ وقال ابن عابدین باطل وحرام لوجوه منها انه نذر للمخلوق والنذر للمخلوق لا یجوز لانه عبادة والعبادة لاتکون لمخلوق ومنها ان المنذور له میت والمیت لا یملک ومنها انه ان ظن ان المیت یتصرف فی الامور دون الله تعالی و اعتقاده ذلک کفر الخ (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۱۳۹ جلد ۲ قبیل باب الاعتکاف) (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الجواب: دا کار پخپله نه توهین دې نه تعظیم دې نه مطلوب دې او نه ممنوع دې. او دا د ثواب کار ګڼړل بدعت دې.《۱》 لهذا عوام په غلط فهمۍ کښې د مبتلا کولو دوجې د داسې کارونو بندول ضروري دي. وهوالموفق

په قبرونو باندې د عرس او لفظ. حق باهو، پير باهو، سلطان باهو حکم

سوال: د شرعي متين مفتيانِ غظام لاندې مسائلوباره کښې څه فرمائي (۱) چه نن صبا په قبرونو باندې کوم عرسونه کيږي ددې څه حکم دې؟ (۲) د لفظ، حق باهو، پير باهو او سلطان باهو د ذکر څه حکم دې؟

المستفتي:مولوی محمددين مسعودجنوبی وزيرستان ډی آئی خان. ۱۲۱رجب۱۴۰۵

الجواب: په قبرونو باندې عرس کول يو واجب الاجتناب کار دې.《۲》 ځکه چه دا په اخره کښې دقبر پرستۍ شکل اختيار وی (۲) دا الفاظ د اعتراض قابل نه دي ددې معنی د شريعت سره متصادم نه ده البته اوليائې کرام رحمهم الله په کارونو کښې اختيار مند ګڼړل نا جائز دي.《۳》

د چا په سفر باندې تللو وخت کښې اذان ورکول

سوال: ځمونږ د بلوچستان په علاقه کښې دا عادت دې چه کله يو مسافر د کراچۍ، لاهوريا حج بيت الله شريف يا هر ځائې چه وي د سفر اراده اوکړي نو

(بقيه حاشيه گزشته صفحه) 《۳》 قال العلامه ابن نجيم ولان ذکر الله تعالی اذا قصد به التخصيص بوقت دون وقت او بشئی دون شئی لم يکن مشروعاَ حيث لم يرد الشرع به لانه خلاف المشروع (البحرالرائق ص ۱۵۹ جلد ۲ باب العيدين)

《۱》 قال الشيخ العلامه محمد فريد اعلم ان البدعة هی اعتقاد ما ليس من الدين دينا وهی قسمان مکفرة و مفسقة. (فتح المنعم شرح مقدمه صحيح مسلم ص ۲۹)

《۲》 قال فی الهنديه و يکره عند القبر ما لم يعهد من السنة و المعهود منها ليس ا لاّ زيارته والدعاء عنده قائماَ کذا فی البحر الرائق .(هنديه ص ۱۶۶ جلد ۱ الفصل السادس فی القبر والدفن والنقل الخ)

《۳》 و منها ان ظن ان ا لميت يتصرف فی الامور دون الله تعالی واعتقاده ذلک کفر. (البحر الرائق ص ۲۹۸ جلد ۲ قبيل باب الاعتکاف)

طالب علم يا د جمات امام صاحب ورته د الوداعي تقريب نه پس اذان اووائي اوپه دليل کښې داپيش کوي چه پخوانو علماؤنه داسې کول نوآيا داقسم اذان کول چرته د شريعت مطهره دجزئيې نه ثابت دې؟ او که د آثارو او سنتو اوفقهي جزئياتونه ثابت نه وي نو اوليکئ چه ددې جاهلانو خلقو مخ نيوې اوکړي شی؟

المستفتي:محمد اسلم حقانی مدرسه فيض الاسلام
کربلا يشين کوئټه. ۱۳۱۳۱۱۹۶۹

الجواب: حافظ ابن حجر رحمه الله په تحفه، کښې د بعضې آثارو په بناء باندې دا آذانْ او اقامت سنت وئيلې دې او ځمونږ فقهاؤ هم ددې تقريرکړې دې. قال العلامه الشامی فی باب الاذان ص۲۸۳ جلد۱ و زاد ابن حجر فی التحفة الاذان والاقامة خلف المسافر. وهوالموفق

په بيابان کښې دلارې غلط شوی د پاره اذان

سوال: ما د ځو علماؤ نه اوريدلې دي چه په صحرا او بيا بان کښې د يو سړي نه لاره غلطه شي او هغه ته صحيح لاره نه وي معلومه او قبلې ته مخ کړي اذان اوکړي نو الله تعالی به دده غيبي مدد اوکړي او صحيح لاره به ورته اوښائی. ليکن د باجوړ يو عالِم دين دې مسئلې ته شرک وئيلې دې. لهذا د صحيح مسئلې نه مو خبر کړئ؟

المستفتي:حافظ بشير احمد پارهوتي مردان......۱۳شعبان ۱۳۹۲هـ

الجواب: په بيابان کښې لارې غلطيدو واله دپاره اذان کول مندوب دي. کما في ردا لمحتار ص ۲۸۳ باب الاذان و زاد فی شرعة الاسلام لمن ضل الطريق في ارض قفرٍ ای خالية من الناس. وهوالصواب. وهوالموفق

د لډوانو ختم. د جاهلانو خود ساخته ختم دې

سوال: نن صبا ځمونږ په علاقه کښې يو قسم ختم شروع شوې دې چه هغې ته د لډوانو ختم وائي د قرآن کريم په ځائې باندې دې ختم ته فوقيت ورکوي او اوس ډير عام کيږي ددې متعلق وضاحت اوکړئ؟

المستفتي:مهر محمد متعلم دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک ۱۹۸۲\۱۳\۶

الجواب: دا د جاهلانو خود ساخته ختم په منکراتو باندي مشتمل دي ددي نه ځان ساتل ضروري دي. (قال علیه السلام من احدث في امرنا هذا مالیس منه فهو رد.﴿۱﴾ وهوالموفق

په لسم محرم قبرونو باندې اوبه اچول بدعت دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه ځمونږ په کلي اوعلاقه کښې د محرم په لسم تاریخ عام خلق په قبرونو باندې اوبه اچوي. آیا دا جائز دي یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتي:حاجی اسلم ګل صالح خانه.....نوشهره ۱۲۲محرم ۱۴۰۱ هجري.

الجواب: په قبرونو باندې محرم کښې اوبه اچول رواج او بدعت دي﴿۲﴾قران او حدیث او فقه کښې ددې څه تذکره نشته. فقط.

د موجوده زماني مرثیه خواني او په قبرونو عرس کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه (۱) چه د موجوده زماني د مرثیه خوانۍ څه حکم دي چه شاعران او نعت خوانان حضرات ئې عام طورسره جوړوي اوبیائي اوروي؟ (۲) په قبرونوباندې عرس کول شرعاًځنګه دي؟

المستفتي:سید بسم الله شاه متعلم دارالعلوم حقانیه۱۳صفر المظفر ۱۴۰۱ھ

الجواب: (۱) د موجوده زماني مرثیه خواني د غلط او دروغ وینا نه خالي نه وي ددې نه بچ کیدلو کښې زیات احتیاط دي﴿۳﴾ (۲) عرس که د تبلیغي اجتماع نوم وي. نو څه خبره نشته. او که په قبر وغیره باندې دېوې مقدسې میلې لګولو نوم وي نو دا بدعتِ سیئه دي. ﴿۴﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾(مشکواة المصابیح ص۲۷ جلد ۱ باب الاعتصام با لکتاب و السنة الفصل الاول)

﴿۲﴾ عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسو ل الله صلی الله علیه وسلم من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهورد .متفق علیه .(مشکواة المصابیح ص ۲۷ جلد ۱ باب الا عتصام با لکتاب و السنة)

﴿۳﴾قال ابن عابدین العشرون ای من آفات اللسان الشعر سئل عنه صلی الله علیه وسلم فقال کلام حسنه حسن وقبیحه قبیح و معناه ان الشعر کا لنثر یحمد حین یحمد و یذم حین یذم ولاباس باستماع نشید الاعراب وهو انشاد الشعرمن غیر لحن ویحرم هجو مسلم ولوبمافیه

.... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

بیلچه وغیره د قبر د پاسه بل طرفته ورکول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه کله مړې دفن شي بیلچه وغیره د یو طرفنه بل طرفته د قبر دپاسه ورکوي او دا کار دثواب په نیت باندې کولې شي شرعاً ددې څه حکم دي؟

المستفتي:نامعلوم.......۱۴۰۱۱۴۱۲۷

الجواب: دا یو عوامي رسم دي اسلامي رسم نه دي پخپله باندې نه مطلوب دي او نه ممنوع دي. البته د ثواب په نیت باندې کول ممنوع دي.﴿۱﴾

د بارانونو بندیدلو د پاره سورة یاسین یا اذانونه وئیل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه بعضې علاقو کښې کله بارانونه ډیر شي او بندیږي نه نو د جمات په ګوټونو کښې څه کسان اودریږي او د جمات امام به سورة یسین شروع کړي نو چه کله قاری صاحب د سورة یسین مبین، ، ته اورسي نوپه ګوټونو کښې ولاړ خلق اذانونه شروع کړي. دغه شان د جمات په څلورو واړو ګوټونو کښې داکار کیږي. آیا دا طریقه ثابته ده یانه ؟ بینو اتوجروا

المستفتي: عطاءالله رحماني شریک دوره حدیث دارالعلوم حقانیه۲۱۱۷۱۱۹۸۷

(بقیه حاشیه ګزشته صفحه) قال صلی الله علیه وسلم لان یمتلی جوف احدکم فیما خیر له من ان یمتلی شعرًا فما کان منه فی الوعظ والحکم و ذکر نعم الله تعالی و صفة المتقین فهو حسن الخ

(ردالمحتار ص ۴۸۸ جلد ۱ مطلب فی انشاد الشعر قبیل باب الوتر والنوافل)

﴿۴﴾قال ابن عابدین و یکره النوم عند القبر وقضاء الحاجة بل اولی و کل ما لم یعهد من السنة والمعهود منها لیس ا لاّ زیارتها و الدعاء عندها قائماً.

(ردالمحتار ص ۶۶۷ جلد ۱ مطلب فی وضع الجرید ونحو الآس علی القبر قبیل باب الشهید)

﴿۱﴾ قال ابن نجیم ولان ذکر الله تعالی اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئی دون شئی لم یکن مشروعا حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع(البحر الرائق ص ۱۵۹ جلد ۲ باب العیدین)

الجواب: که دا طریقه د باران د بندولو دپاره د ثواب په نیت او د سنت عمل کیدلو په اراده باندې کوي نو بیا خو دا طریقه اختیارول قبیح بدعت دي(۱) او که د عملیاتو او ټوټکې په ارادې سره وي نو صرف مباح دې.(۲) لیکن خلق په دې ارادې سره کوي چه دا دین دې نو اجتناب ترې نه ضروري دې. والله اعلم.

د باران بندولو د پاره اذانونه کول د عملیاتو په طورمباح دی کنی نو بدعت دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه کله باران ډیر وریږي نو بعضې جماتو نو کښې امام په محراب کښې په ولاړه سورة یاسین وائي او عوام د جمات په ګوټونو ولاړوي او په هر مبین. باندې دامام سره اذانونه شروع کړي. دې دپاره چه باران اودریږي نو آیا دا جائز دي؟

المستفتي: احمد شاه پارهوتی مردان...۱۸جمادي الاولي ۱۴۰۱ھ

الجواب: دا عمل د سنت اودین(۳) په عقیدې سره کول بدعت سیئه دې او د عملیاتو په ارادې سره د دمونو او علاجونو په طور نه مطلوب دې او نه ممنوع دې لعدم کونه مصادماً با لدین. وهو الموفق.

(۱) قال الشیخ مفتی اعظم محمد فرید ان البدعة هی اعتقاد ما لیس من الدین دینا و هی قسمان مکفرة ومفسقة. (فتح المنعم شرح مقدمه مسلم ص ۲۹ جلد ۱ الفائدة التاسعة)

(۲) عن عوف بن مالک الاشجعی قال کنا نرقی فی الجاهلیة فقلنا یا رسول الله ﷺ کیف تری فی ذلک فقال اعرضوا علیّ رقاکم لا بأس با لرقی ما لم یکن فیه شرک" رواه مسلم.
(مشکوٰة المصابیح ص ۳۸۸ جلد ۲ کتاب الطب والرقی)

(۳) عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهو رد" متفق علیه. (مشکواة المصابیح ص ۲۷ جلد ۱ باب الاعتصام با لکتاب والسنة)

(۴) عن عوف بن مالک الاشجعی قال کنا نرقی فی الجاهلیة فقلنا یا رسول الله کیف تری فی ذلک فقال اعرضوا علی رقاکم لا بأس بالرقی مالم یکن فیه شرک .رواه مسلم
(مشکواة المصابیح ص ۳۸۸ جلد ۲ کتاب الطب والرقی)

د جمعې په شپه تبارک الذی ونیل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د جمعې په شپه د تبارک الذي وئیلو څه حکم دې؟ دا یو رسم جوړ شوې دې. امام صاحب د جمعې په شپه تبارک الذي وائي اوعوام ئې اوري.

المستفتي: عبد المناف میډیکل ستور نوشهره...۱۱/۷/۱۴۰۱

الجواب: د قران تلاوت ډیر لوئې عبادت دې. او د جمعې شپه ډیر شان والا شپه ده لیکن په دین کښې د خپل طرف نه د مکان یا وخت او ذکر تخصیص کول او د هغې متعلق د ثواب عقیده ساتل مکروه او بدعت دې. (ماخوذا از بحرالرائق ص ۱۵۹ جلد ۲)(۱) وهوالموفق

څلوېښتمه او د ختم قران تخصیص نه کول

سوال: زما والده صاحبه وفات شوې ده دهغې دپاره مو ختم او خیرات اوکړو او د څلوېښتمې نه دوه ورځې مخکښې مو خیرات اوکړو چه د څلوېښتمې هغه رسم پاتې نه شي او صرف سالن مو پوخ کړو دلته څو علمائې کرامو په دې قران خوانئ باندې د بدعت فتوی اولګوله. او خوړل ئې ناجائز اووئیل مهربانې به وي وضاحت اوکړئ؟

المستفتي: اخترمحمد جنرل سیکرټري جمیعت طلباء اسلام لورالائي بلوچستان ۱۹/۷/۱۴۰۱

الجواب: چه تاځان د تخصیص نه بچ کړو نو په بدعت او کراهت کښې د پریوتو نه بچ شوې کما یفهم من قولهم(۲) بان تخصیص الذکر بوقت لم یرد به الشرع غیرمشروع (شامی ص ۱۷۰ جلد۲) البته په قران خوانئ باندې صله ورکول مشروع دی لکه چه قاریانو له د اعزاز په طریقې

(۱) قال العلامه ابن نجیم ولان ذکرالله تعالی اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئی دون شئی لم یکن مشروعا حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع.
(البحر الرائق ص ۱۵۹ جلد ۲ باب العیدین)

(۲) قال العلامه ابن نجیم ولان ذکرالله تعالی اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئی دون شئی لم یکن مشروعا حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع.
(البحر الرائق ص ۱۵۹ جلد ۲ باب العیدین)

سره ورکول جائز دي.﴿۱﴾ او د اجرت په طریقې باندې مختلف فیه دې. د عالمګیري او صاحب البحر د کلام نه جواز معلومیږي. فلیراجع الی وقف البحر﴿۲﴾ او شامي وغیره ﴿۳﴾ نه عدم جواز معلومیږي والیه میلان الاکابر. وهو الموفق.

د صفر په آخری چهارشنبه چوري کول بدعت او قبیح رسم دې

سوال: ځمونږ صوبه سرحد علاقه کښې د صفر په میاشت د خیرات کولو یوه خاص طریقه روانه ده. چه هغه ته چري وائي. د عوامو عقیده ده چه دا حضرت عائشه ؓ د رسول الله ﷺ د جوړیدلو په خوشحالۍ کښې کړې وه (ماهنامه النصیحهٔ چارسده کښې مولانا ګوهرشاه او مولانا رشید احمد صدیقي مفتي دارالعلوم حقانیه په خپلو خپلو مضمونونو کښې ددې تردید کړې دې. چه چرې او خیرات یهودیانو د پیغمبر علیه السلام د بیمارۍ په خوشحالۍ کښې کړې وه. او مسلمانانو ته دا رسم منتقل شو ددې وضاحت اوکړئ؟

المستفتي: میاں کریم الله سرپرست آل ټیچر ایسوسی ایشن
صوبه سرحد ۳۰\۱۱\۱۹۸۶

الجواب: دا چري نه قرآن او حدیث نه ثابت ده او نه د آثارو او د فقهاؤ د کتابونو نه. لهذا د ثواب په نیت سره کول بدعتِ سیئه دې﴿۴﴾ او د رواج په نیت سره کول رسمِ قبیحه دې او لازمول د یو داسې شیز دې چه هغه لازم نه دې. دارنګې د حاکم په روایت کښې لیکلې چه د پیغمبر علیه السلام په بیمارۍ کښې آخری چهارشنبه باندې زیاتوالې راغلې وو. او عوام وائی چه په بیمارۍ کښې کموالې راغلې وو. او عوام ئې حضور ﷺ ته نسبت کوی. چه هغوی

﴿۱﴾ عن انس رضی الله عنه ان رجلا من کلاب سأل النبي ﷺ عن عسب الفحل فنهاه فقال یا رسول الله ﷺ انا نطرق الفحل فنکرم فرخص له فی الکرامة. رواه الترمذی

﴿۲﴾ قال ابن نجیم فان المفتی به جواز الاخذ علی القراء ة (البحر الرائق ص۲۲۸ جلد ۵ کتاب الوقف) وفی الهندیة واختلفوا فی الاستئجار علی قراءة القرآن علی القبر مدة معلومة قال بعضهم لا یجوز وقال بعضهم یجوز وهو المختار کذا فی السراج الوهاج. (هندیه ص ۴۴۹ جلد ۵ مطلب الاستئجار علی الطاعات)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین قال تاج الشریعة فی شرح الهدایة ان القرآن بالاجرة لا یستحق الثواب لا للمیت ولا للقاری وقال العینی فی شرح الهدایة ویمنع القاری للدنیا والآخذ والمعطی آثمان فالحاصل ان ما شاع فی زماننا من قراءة الاجزاء بالاجرة لا یجوز ...... فاذا لم یکن للقاری ثواب لعدم النیة الصحیحة فاین یصل الثواب الی المستأجر الخ (رد المحتار ص ۳۹ جلد ۵ مطلب تحریر مهم فی عدم جواز الاستئجار علی التلاوة الخ کتاب الاجارة)

﴿۴﴾ عن عائشة رضی الله تعالی عنها قالت قال رسول الله ﷺ من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهو رد. متفق علیه. (مشکواة المصابیح ص ۲۷ جلد ۱ باب الاعتصام بالکتاب والسنته)

چري غوښتې وه او دا نسبت موضوعي دې او حرام دې﴿۱﴾ لعدم ثبوت هذا الحدیث في کتب الاحادیث ولا بالاسناد الثابت. وهو الموفق

د چرئ په باره کښې ټول دلیلونه غلط او د ځان نه جوړکړي شوې دی

سوال: علمائي دین او مفتیان د شرع متین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د صفر په آخره چهارشنبه باندې چه کومه چري کیږي ددې د جواز په باره کښې دوه دلیلونه پیش کوي.(۱) چه نبي کریم ﷺ ددې صفر په میاشت کښې بیمار شوې وو بیا چه هم په دې میاشت کښې روغ شو نو حضرت عائشه ؓ په شکر په کښې صدقه او خیرات کړې دې.(۲) حضور ﷺ چه په دې میاشت کښې بیمار شو یهودیانو د هغه په بیمارۍ باندې د خوشحالۍ ښکاره کولو دپاره پدې میاشت کښې خیرات اوکړو او خوشحالي ئې اوکړه. لهذا مونږ چه دا خیرات کوو یا خو ددې دپاره چه حضرت عائشه ؓ خیرات کړې وو یا د یهودو په مقابله کښې چه هغوي خوشحالي کړې وه. مونږ په قصد باندې د هغوي په مقابله کښې د نعمت د شکر دپاره کوؤ. لهذا علمائي دین ددې مسئلې په باره کښې څه فرمائي چه دا دلیلونه صحیح دي یا غلط؟

المستفتي: نامعلوم متعلم دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک ۲۰\۱صفر ۱۴۰۵ھ

الجواب: د ثواب په نیت سره چري کول بدعتِ سئیه دې ځکه چه غیر سنت، سنت ګرځول لکه غیر دین، دین ګرځول دي.﴿۲﴾ او دا بدعت دې. ددې جائز کونکو دپاره ضروري دي. چه ددې حدیثونه سند ذکر کړي او یا دداسې کتاب حواله ورکړي چه هغه سره د سندنه حدیثونو ذکر کوي او یا کم از کم د فقهې د متداول کتابونو حواله ذکر کړی. ولن یاتوا بها ولو کان بعضهم لبعض ظهیراً.﴿۳﴾

﴿۱﴾ عن سمرة بن جندب والمغیرة بن شعبة قالا قال رسول الله ﷺ من حدث عنّی بحدیث یری انه کذب فهو احد الکاذبین رواه مسلم ومن کذب علي متعمدا فلیتبوأ مقعده من النار رواه البخاری. (مشکواة المصابیح ص ۳۲ جلد ۱ کتاب العلم)

﴿۲﴾ عن عائشة رضی الله تعالی عنها قالت قال رسول الله ﷺ من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهو ردٌ متفق علیه. (مشکواة المصابیح ص ۲۷ جلد ۱ باب الاعتصام بالکتاب والسنته)

﴿۳﴾ عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ یکون فی آخر الزمان دجّالون کذابون یأتونکم من الاحادیث بما لم تسمعوا انتم ولا آباءکم فایاکم وایاهم لا یضلونکم ولا یفتنونکم رواه مسلم (مشکواة المصابیح ص۲۸ جلد ۱ باب الاعتصام بالکتاب والسنة)

او ددې نه علاوه حاکم روایت کړې دي چه پیغمبر ﷺ په آخرئ چارشنبه کښې ناجوړه شوې وو، یعني بیماري ئې سخته شوې وه او په تاریخ کښې دا لیکلې شوې دي چه د خیبر یهودیانو په دې ورځ باندې خوشحالي کړې وه او د عوتونه ئې تیار کړي وو او دا ثابت نه دې چه مسلمانانو هم دهغوې په مقابله کښې څه کاروائي کړې وي. وهوالموفق

د چرئ د خوړلو حکم

سوال: د چُري شرعاً څه حکم دې ؟او ددې خوراک خوړل څه حکم لری؟ بینواتوجروا

المستفتي: سید روح الله کانگړه پشاور....۱۵ربیع الاول۱۴۰۱ه

الجواب: چُري د ثواب په ارادې سره مکروه ده.لان فیه تخصیص الزمان والنوع بلا مخصص یدل علیه ما فی البحر ص ۱۵۹ جلد۲(۱)البته د عوامو دپاره خوړل مکروه نه دي.لما في الهندیة ص ۳۸۰ جلد ۵ ولا یباح اتخاذ الضیافة ثلاثة ایام في ایام المصیبة واذا اتخذ لا باس بالاکل منه کذا في خزانة المفتین(۲) فافهم.

د ۱۹ مسائلو مختصر جوابونه

سوالونه: (۱) زیارت کول جائز دي یا نه؟ مسئله د اسقاط څه شي دې؟ (۳) مسئله د دوران قران؟ (۴) د حیله اسقاط دپاره دائره جوړول؟ (۵) د تلاوت قران دپاره د چا په قبر کیناستل ؟ (۶) د مړي دپاره قدموته اخستل؟ (۷) دَ جنازې دَمونځ نه روستو په جمع باندې دعا کول ؟ (۸) ذکر بالجهر دامام ابوحنیفه دَمذهب مطابق؟ (۹) د سورت روم تعیین کول د رمضان په درویشتمه شپه کښې؟ (۱۰) د رمضان شریف په اوویشتمه شپه کښې خیرات کول؟ (۱۱) د مړي د کور نه په دریمه، نهمه، څلویښتمه وغیره خیرات کول؟ (۱۲) یوولسمه؟ (۱۳) په ختم قرآن باندې خوراک کول او بغیر د شرط نه پیسې اخستل؟ (۱۴) د غیر الله په نوم نذر کولو سره نکاح باقي پاتې کیږي یا نه؟ (۱۵) په تعویذ شکرانه جائز ده؟ (۱۶) د غیر الله په نوم نذر حرام اوشرک دَې اوخوراک ئې حرام دې؟ (۱۷) د جمعې مونځ په کلي کښې نه

(۱) قال العلامه ابن نجیم و لان ذکر الله تعالی اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئ دون شئ لم یکن مشروعًا حیث لم یرد الشرع به الخ (البحر الرائق ص ۱۵۹ جلد ۲ باب العیدین)

(۲) (فتاوی هندیه ص ۳۴۴ جلد ۵ الباب الثانی عشر فی الهدایا و الضیافات)

کیږي نو اخترونه هم داسې دي.؟ (۱۸) د سنتو نه روستو دعا کول؟ (۱۹) د حضرت حسن اوحسین رضی الله عنهما تعین کول او خیرات کول په یوه خاص ورځ.

المستفتی: عزیزالله خان بنوں

الجواب: (۱) زیارة القبور جائز دې لیکن عبادة القبور شرک دې. (۲) مروجه حیله د شرائطو خیال نه ساتلو په وجه بې کاره ده مثلاً حقیقتاً د مالک کولو اراده وغیره وغیره. (۳) قرآن مالِ متمول دې اخستل خرڅول پکښې جاري کیږي لهذا په دې سره دوران هم جائز دې. (۴) صف او دائره دواړه طریقې جائز دي لیکن فقراء او مسکینانو ته هبه کول یا خیرات کول د ذمې د فارغیدلو دپاره شرط دې. (۵) ابن الهمام وغیره په جواز باندې تصریح کړیده (۶) څلویښت قدمونه اخستل د فقهاؤ مستحبات دي. (۷) د صفونو ماتولو نه پس جائز ده. (۸) او مونځ گذار ته د تکلیف نه ورکولو په شرط سره جائز دې. (۹) د حدیثیه او فقهیه روایاتو نه ثابت نه دې (۱۰) تخصیص بغیر د مخصص نه دې (۱۱) خیرات هر وخت جائز دې او رسم هر وخت ناجائز دې او میلمستیا تر درې ورځو پورې ناجائز ده. (۱۲) بدعت دې. (۱۳) دې کښې اختلاف دې خو جواز غوره دې (۱۴) تجدید نکاح ضروري دې (۱۵) په هره طریقه باندې اجرت اخستل جائز دې (۱۶) حرام او د شرک سخته خطره پرې موجود ده (۱۸) دعا په هئیتِ اجتماعي سره د فرضو او سنتو نه روستو د پیغمبر ﷺ د فعل مخالف ده د قول مخالف نه ده. (۱۹) دعا شوره په ورځ په خوراک کښې فراخی کول مسنون او مستحب دي.

نوټ: که د تفصیل ضرورت وي نو یو یا دوه سوالونه رالیږه.

په مزارونو باندې د یولسمې پئ او د مالگې حکم

سوال: د پنجاب په اکثر مزارونو کښې د یوولسمې شریف په رسم کښې پئ تقسیمولې شی ددې څه حکم دې؟ دغسې په مزارونو باندې چه کومه مالگه پرته وی د هغې خوړل څه حکم لری؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: لقمان دین بی، اے، یو۔ لاهور.....۲۱شوال...۱۴۰۲

الجواب: دا ,,ما اهل بهِ لغیرالله،، دې اوحرام دې(۱) اومالگه وغیره که د عوامو

(۱) قال العلامه حصکفی و اعلم ان النذر الذی یقع للاموات من اکثر العوام و(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

خودساخته تبرکاتو ته وي نو ددینه په انکار کښې څه حرج نشته. ﴿۱﴾

د قبر سره ختم او د وفات په اولنۍ ورځ ډیګونه پخول

سوال: (۱) علمائې کرام څه فرمائي چه بعضي حضرات د مړي په وفات باندې د ددریمې ختم شریف کوی نو دا جائز دي که نه؟ (۲) دا ختم شریف بعضي حضرات په قبرستان کښې د مړي د قبر نه ګیر چاپیره کیني او لولي ئې نو قبرستان کښې داسې کول جائز دی؟ (۳) بعضې خلق دې ختم شریف ته نمبر ورکوی چه ختم د ادیرې، ختم دجمات، او ختم دکور، شرعاً دا نمبرې ورکول جائزدی؟ بعضې حضرات د مړی په مرګ باندې د رومبئ ورځې نه دیګونه پخوی په دغه ورځ دا دیګونه پخول څنګه دی؟

المستفتي: مولوي فضل حکیم پیر پیائي......۱۹۷۲/۱۲/۱۰ھ

الجواب: (۱) واضحه دې وي چه د مړو دپاره ایصال ثواب جائز دې برابره خبره ده که د بدني عبادت ثواب وي او که مالی وی لیکن ایصال ثواب دپاره دوخت او ځائې تخصیص کول ناجائز دي. که په وحي سره نه وي. کما یدل علیه ما فی البحر ولان ذکر الله تعالی اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئي دون شئي لم یکن مشروعا حیث لم یرد الشرع به (ص۱۵۹ ج۱ باب العیدین) لهذا د سوم دپاره تخصیص کول بدعت دي. (۲، ۳) فتوي د صاحبینو په قول باندې ده چه مقبره کښې قرآن مجید لوستل صحیح دي. ﴿۲﴾ لیکن د وخت او ځائې تخصیص او اهتمام کول بدعت سئیه دي. ﴿۴﴾ په فقیرانو باندې صدقه کول هر وخت جائز دي او رسم رواج هر وخت بې فائدې دې او میلمستیا دري ورځو پورې ناجائز ده.

فی البزازیه ویکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول و الثالث و بعد الاسبوع و نقل الطعام الی القبر فی المواسم واتخاذ الدعوة لقراءة القرآن و جمع الصلحاء و القرآء للختم (الیٰ ان قال)

(بقیه حاشیه گزشته صفحه) و ما یؤخذ من الدراهم و الشمع و الزیت ونحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقربًا الیهم فهو با لاجماع باطل وحرام. (الدر المختار ص ۱۳۹ جلد ۲ قبیل باب الاعتکاف)

﴿۱﴾ قال العلامه ابن نجیم و لان ذکر الله تعالی اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئی دون شئی لم یکن مشروعًا حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع (البحر الرائق ص ۱۵۹ جلد ۲ باب العیدین)

﴿۲﴾ قال العلامه طحطاوی و اخذ من ذلک جواز القراءة علی القبر و المسئلة ذات خلاف قال الامام تکره لان اهلها جیفة ولم یصح فیها شئی عنده عنه ﷺ و قال محمد تستحب لورود الآثار و هو المذهب المختار کما صرحوا به فی کتاب الاستحسان (حاشیة الطحطاوی ص ۳۴۱ جلد ۱ فصل فی زیارة القبور)

وان اتخذ طعاما للفقراء کان حسنا. رد المحتار ص۸۴۳ ج۱. وفیه ایضا و یکره اتخاذ الضیافة من الطعام من اهل المیت لانه شرع فی السرور و لا فی الشرور و هی بدعة مستقبحة روی الامام احمد و ابن ماجه باسناد صحیح عن جریر بن عبدالله قال کنا نعد الاجتماع الی اهل المیت وصنعهم الطعام من النیاحة (۸۴۱، ۸۴۲ ج۱) ﴿۱﴾

او عوام دا د ریا او فخر او د شرم د وجې نه کوي چه دا ټول فاسد غرضونه دي نو ددې نه بچ کیدل ضروري دي او نقد پیسې ورکول ډیر ښه څیز دي ځکه چه په هغې کښې دا نقصانات نه وي یا دا چه ددې نه بچ کیدل زیات آسان وي. فقط.

د یو بزرګ د ځائې مکې معظمې سره تشبیه ورکول، عرس، قوالي، میلاد، درود او دویمه دعا

سوال: علمائې دین لاندینو مسئلو باره کښې څه فرمائي. (۱) د یو بزرګ د ځائې تشبیه مکې معظمې سره ورکول څنګه دي؟ (۲) د پیرانو او اولیاؤ په دربارونو باندې میلاد عرس او نن صبا والا قوالي کول څنګه ده؟ (۳) دا مروجه، درود وسلام، د میلاد او عرس په موقع باندې په ولاړه جائز دې یا نه؟ او حال دا چه د حاضر وناظر عقیدې ئې هم وي، (۴) آیا دویمه دُعا ضروري ده؟

المستفتي: محمد موسیٰ قادري مدرسه تعلیم الفرقان توحیدنګر چاکیواړه کراچی نمبر ۱.... ۱۹۷۲/۸/۱۲

الجواب: (۱) تشبیه کښې څه مسئله نشته ځکه چه تقابل ئې ورسره شته خو د زیاتي نه ځان ساتل ضروري دي. (۲. ۳) دا ټول په ټوله بدعات دي بچ کیدل ترې نه ضروري دي. ﴿۲﴾ (۴) دویمه دعا جائز ده لیکن التزام ئې بدعت دي لکه چه د فرضونه پس التزام بدعت دي. ﴿۳﴾ فقط

﴿۱﴾ ردالمحتار ص ۶۶۴ جلد ۱ مطلب فی کراهة الضیافة من اهل المیت قبیل باب الشهید)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین و یکره ...... کل ما لم یعهد من السنة و المعهود منها لیس الا زیارتها و الدعاء عندها قائمًا. (ردالمحتار ص ۶۶۷ جلد ۱ مطلب فی وضع الجرید و نحو الآس علی القبور قبیل باب الشهید)

﴿۳﴾ قال العلامه ابن نجیم و لان ذکر الله تعالی اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئی دون شئی لم یکن مشروعًا حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع. (البحر الرائق ص ۱۵۹ جلد ۲ باب العیدین)

چه مړي په لحد کښې کېښودې شي نو اذان کول ورته بدعت دي

سوال: څمونږ په علاقه کښې د دوو فرقو خپل مينځ کښې اختلاف راغلې يوه ډله وائي چه مړي ته په لحد کښې د اذان کولو ثبوت قران، سنت او قرون ثلاثه کښې نشته، او دويمه ډله ددې په دلالت کښې (ايذال الاجر) پيش کوي، مهرباني اوکړئ مدلل جواب رااوليږئ.

المستفتي: ناصر شاه جلبئ صوابي صوبه سرحد........ ۱۵/۱۱/۱۹۷۲

الجواب: په قبر کښې اذان وئيل بدعت دې ځکه چه دا نه په روايات حديثية کښې راغلې دې او نه په ظاهر الرواية او نادر الرواية کښې شته.من ادعٰی فعليه البيـان.او بې شکه ددې بدعت او غيرمندوب کېدل په فتاوؤ کښې ليکلې شته.

قال العلامه ابن عابدين الشامى فى الاقتصار على ما ذكر من الوارد اشارة الىٰ انه لا يسن الاذان عند ادخال الميت فى قبره كما هو المعتاد الآن . و قد صرح ابن حجر فى فتاويه بانه بدعة و قال و من ظن انه سنة قياسا على ندبهما للمولود الحاقا لخاتمة الامر بابتداءه لم يصب ﴿۱﴾ فافهم وتدبر.

د اخترونو نه پس غاړې ملاوول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د اختر د مانځه نه خلق څنګه فارغ شي نو غاړې ملاوهي، په شريعت کښې ددې څه حکم دې؟

المستفتي:غلام رحيم بالاکوټ مانسهره.....يکم ۱ذيقعده۱۴۰۲ هجري

الجواب: غاړې ملاوولو ته په عربي کښې، معانقه، وائي چه دا پخپله مسنون ده البته ددې د اختر د مونځ نه پس يا داسې يو وخت پورې تخصيص کولو کښې اختلاف دې. چا وئيلي دي چه مسنون دي. او چا وئيلي دي مباح دي او چا وئيلي دي مکروه دي نو احتياط دادې چه ددې نه دې اجتناب اوکړيشي

﴿۱﴾ رد المحتار على الدر المختار ص ۶۲۰ جلد ۱ مطلب فى دفن الميت باب صلاة الجنازة)

البته په کولو والا باندې دې سخت انکار اونه کړې شي. ﴿۱﴾ وهوالموفق

په اخترونوکښې مصافحه اومعانقه اووالدينوته ټيټېدل اوښپې ښکلول

سوال: عرض دادې چه مولانا رشيد احمد ګنګوهی رحمه الله په خپل کتاب فتاوٰی رشيديه کښې لکلي دي چه د اخترونو په ورځ مصافحه او معانقه دواړه بدعت دي دارنګې د خپلو بزرګانو او والدينو په ښپو باندې تعظيماً ټيټېدل او ښکلول هم بدعت دي. دکتابونو په حوالې سره مدلل جواب راکړئ؟ الله دې اجر درکړي.

المستفتي:مولوي غلام حسين جلبئ صوابي مردان...۲۳/۳/۱۹۶۹ء

الجواب: بعضې علماء په عيدين وغيره کښې مصافحې ته مباح بلکه سنت وائي او بعضې علماء ورته بدعت وائي (فليراجع الي رد المحتار ص ۳۳۵ ج۵) ﴿۲﴾ اکثر علماء محققين عدم جواز ته ترجيح ورکوي لانه اقوي من حيث الدليل لان التخصيص لا بدله من دليل خاص صرح به الشامي في باب.

﴿۱﴾ قال العلامه سيد احمد الطحطاوى . والتهنئة بقوله تقبل الله منا و منكم لا تنكر بل مستحبة لورود الاثر بها كما رواه الحافظ ابن حجر عن تحفة عيد الاضحى لا بى القاسم المستملى بسند حسن كان اصحاب رسول الله ﷺ اذا التقوا يوم العيد يقول بعضهم لبعض تقبل الله منا ومنكم قال و اخرجه الطبرانى ايضًا فى الدعاء بسند قوى قال والمتعامل به فى البلاد الشامية والمصرية قول الرجل لصاحبه عيد مبارك عليك و نحوه و يمكن ان يلحق هذا اللفظ فى الجواز الحسن و استحبابه لما بينهما من التلازم و كذا تطلب المصافحة فهى سنة عقب الصلاة كلها و عند كل لقى . (طحطاوى على مراقى الفلاح ص ۲۸۹ جلد ۱ باب احكام العيدين)

﴿۲﴾ قال ابن عابدين الشامى حيث قال اعلم ان المصافحة مستحبة عند كل لقاء واما ما اعتاده الناس من المصافحة بعد صلاة الصبح والعصر فلا اصل له فى الشرع على هذا الوجه ولكن لا بأس به فان اصل المصافحة سنة و كونهم حافظوا عليها فى بعض الاحوال وفرطوافى كثير من الاحوال او اكثرها لا يخرج ذلك البعض عن كونه من المصافحة التى ورد الشرع باصلها ...... لكن قديقال ان المواظبة عليها بعد الصلوات خاصة قديؤدى الجهلة الى اعتقاد سنتيها فى خصوص هذه المواضع الخ.

(ردالمحتار ص ۲۷۰ جلد ۵ باب الاستبراء وغيره كتاب الحظروالاباحة)

العیدین ﴿۱﴾ ولان عند التعارض المحرم یقدم علي المبیح او خاص طور سره د والدینو په ښپو باندې لاسونه کیښودل چرته ثابت نه دي اګر چه په ډیر تکلف سره دا توجیه ممکنه ده چه په حجر اسود باندې لاس کیښودل د ښکلولو قائم مقام کیدې شی. او د والدینو ښپې ښکلول ثابت او مبرهن دي. لهذا لاسونه کیښودل به هم جائز وي. ﴿۲﴾ وهو الموفق

سالانه. عید میلادالنبي مجلسونه او د هغې متعلقات

سوال: په ربیع الاول کښې چه کوم خلق د سیرت مبارک د بیانو لو دپاره کوم پُر تکلفه مخفلونه جوړوي، او د ضرورت نه زیاتي رنړا ګانې کول، او رنګارنګ قمقمې او بلپونه په اونو باندې اچوي او دا کارونه د ثواب ګڼړي دا ټول درسول الله ﷺ د محبت او دهغوي د شان داحترام په جذبې سره دا زرګونه روپۍ لګوي. نو سوال دادې (۱) چه آیا هر کال دا قسم د ذکر رسول محفلونو کښې واقعي ثواب او اجر شته؟ (۲) او آیا دبناؤ سنګار والا محفلونه به شرعاً په بدعتِ حسنه کښې شمار کیږي. یا په بدعت دګمراهۍ کښې او حال دادې چه عوام دا دمحبتِ رسول ﷺ او شانِ رسول ﷺ صحیح او بهتر معیار ګڼړی؟ (۵) او آیا په دې قسم محفلونو کښې مالي او بدني تعاون کول تعاؤن علي البر

﴿۱﴾ قال ابن عابدین و بان تخصیص الذکر بوقت لم یرد به الشرع غیر مشروع اه (ردالمحتار ص ۶۱۳ جلد ۱ باب العیدین)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین لما اخرجه الحاکم ان رجلًا اتی النبي ﷺ فقال یا رسول الله ﷺ ارنی شیًا ازداد به یقینا فقال اذهب الی تلک الشجرة فادعها فذهب الیها فقال ان رسول الله ﷺ یدعوک فجاءت حتی سلمت علی النبي ﷺ فقال لها ارجعی فرجعت قال ثم اذن له فقبل رأسه و رجلیه وقال لو کنت امرًا احدًا ان یسجد لاحد لامرت المرأة ان تسجد لزوجها وقال صحیح الاسناد.

(رد المحتار ص ۲۷۱ جلد ۵ قبیل فصل فی البیع کتاب الحظر والاباحة)

دې یا اعانت علي البدعة والمعصیة دې؟ بینوا واجرکم علي الله:

المستفتي: حضرت العلامه مولانا (قاضي عبدالسلام خطیب جامع مسجدنوشهره) ۱۹۶۹ء

الجواب: (۱) دَرسول الله ﷺ دَذکر کول د ثواب کار دې خو دې طریقو او قیدونو سره ئې کول بدعت دې. (لعدم ثبوته في خیرالقرون بوجه ولا شتماله علي التزام مالا یلزم وعلي الرعایة فوق الرعایة الشریعة. ﴿۱﴾ (۲) دا اسراف او فضول خرچي د رسول الله ﷺ د سیرت خلاف مظاهره ده. چه کله پیغمبر علیه السلام په کور کښې او دیوالونو باندې کپړې قدرې نه دې پریخودلی نو ددې دومره ډول سنګار برداشت به څنګه اوکړي. (۳) ددې اهتمام او التزام ثبوت په خیرالقرون کښې ترننه پورې ثابت نه دې. (۴) دا مجموعي طور سره په بدعتِ سیئه کښې شمار کیږي. (۵) دا اعانت نه دې بلکه اضاعت دې.

د مسجد نبوي ﷺ د متولی شیخ احمد خوب او مشهوره وصیت نامه

سوال: عرض دادې چه د ډیرې مودې نه وخت په وخت د وصیت نامه، په نوم یو پوستر چاپ کیږي چه دهغې په هره زمانه کښې مطلب خو یو دې لیکن الفاظ ئې مختلف وي چه شیخ احمد نومې د مسجد نبوي ﷺ خادم وائي چه ما په روضه پاک ﷺ باندې تلاوت کولو چه خوب را باندې غلبه اوکړه په خوب کښې حضور ﷺ راغې او ماته ئې اطلاع راکړه چه څما امت ته دا خبره اورسوه. او په هغې کښې ئې مختلفې خبرې لیکلې دي چه هغه د اوردوالي د وجې پریږدم او په آخره کښې لیکي. د چه ددې شل پرچې اولیکئ او تقسیم ئې کړئ. په بعضو کښې لس لیکلي او چاچه انکار اوکړو نو هغه د ځان دومره دومره نقصان اوکړو. ما ددې متعلق اوریدلي چه ۲۸ مفتیانو ددې متعلق فتوې ورکړې. براه کرم تاسو مدلل جواب راکړې چه دا وصیت نامه صحیح ده که غلطه؟ بینوا توجروا

ددې متعلق ډیرزیات تعداد کښې استفتاء شوی دی په دې وجه صرف یو جواب باندې اکتفاء کوو.

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری من اصر علی امر مندوب و جعله عزما ولم یعمل بالرخصة فقد اصاب منه الشیطان من الاضلال. (مرقاة المفاتیح ص ۵۳ جلد ۲) قال ابن عابدین و بان تخصیص الذکر بوقت لم یرد به الشرع غیر مشروع. (ردالمحتار ص ۶۱۳ جلد ۱ باب العیدین)

الجواب: دا دروغ نامه د پنځوس کالو نه د زياتې مودې راسې هم دغه شان چاپ کېږي د اکابرينو فرمان دي چه ددې وصيت نامې خورول زنادقهٔ قائم کړي. په دې کښې وخت په وخت کمې زياتې هم کيږي او ډير کرته پدې کښې د شريعت نه خلاف مضمون هم خورېږي. او شيخ احمد متولي يو فرضي سړې دې. په دې نوم متولي هيڅوک نه پيژني. دارنګې د امت د بدو اعمالو په رسول اکرم ﷺ باندې هيڅ اثر نه غور زيږي. او په هغې کښې ئې ليکلې وي چه څه شرمنده يم وغيره وغيره. او د پيغمبر عليه السلام هغه فرمانونه چه په ژوند کښې ئې بيدار صحابه کرامو ته بيان کړي او مونږ ته باقاعده رارسيدلي دي هغه څمونږ دپاره کافي دي. هيڅ قسمه دروغو ته ضرورت نشته دين مکمل شوې دې، ددې دروغ نامې، بندول د ثواب او برکت کار دې، وهم پرست خلق ددې دروغ نامې نه ډير متاثر کيږي، او افسوس دې چه ساده مسلمانان د قرآن او حديث د ښکاره وعيد اتو نه نه ويريږي او په نامعلوم خوب سره دومره بې آرامه کيږي. فالی الله المشتکیٰ ﴿۱﴾

نه شبم نه شب پرستم که حديث خواب گويم
چون غلام آفتابم همه ز آفتاب گويم

د مزارونو نذر او منختې دچا حق دې؟

سوال: د پيربابا خد متګاران او اولاد وغيره د خپل حق او نمبر شکرانه اخلي چرته نيک کار مثلاً دجمات تعمير اوغريبانانو دپاره ئې وقف کړي يا خيرات کړي آيا دا جائز دي که نه؟

المستفتي: بخت شيرحسين کلپاني ډگر بونير سوات..... ۱۴۰۱/۷/۲۶ هـ

الجواب: د تحفو شرعي مالک هغه سړې دې څوک چه دا تحفه ورکونکې مالک کړي او مالک خپل مال په هر څه کښې استعمالولي شي.

﴿۱﴾ عن العرباض بن ساريه قال صلے بنا رسول الله ﷺ ذات يوم ثم اقبل علينا بو جهه فوعظنا موعظة بليغة...... فقال اوصيکم بتقوى الله والسمع والطاعة وان كان عبدًا حبشيا فانه من يعش منكم بعدى فسيرى اختلافًا كثيرًا فعليكم بسنتى و سنة الخلفاء الراشدين المهديين تمسكوابها وعضواعليها بالنواجذ واياكم ومحدثات الامور فان كل محدثة بدعة وكل بدعة ضلالة رواه احمد و ابو داؤد والترمذى وابن ماجه الا انهما لم يذكر الصلوة (مشكواة المصابيح ص ۳۰ جلد ۱ باب الاعتصام بالكتاب والسنة)

نوټ: کومې تحفې چه ما اهل به لغيرالله وي د هغې ورکولو والا مشرک دې او اخستلو والا شرعي مالک دې ﴿۱﴾

په مزار باندې شرکياتو او منکراتو کونکې او کولو والا منجور قتلول وغيره

سوال: علمائې دين شرع متين څه فرمائي چه په يو مزار باندې يو بوډا سړې ناست دې چه شرکيات کوي. او خلقو ته ترغيب ورکوي چه داسې کوئ، طواف کوئ. قبر پورې ځان مږئ، او جارو د ځان پورې مږئ وغيره، اوس دلته نزدې يو جمات او څو کمرې دي چه په هغې کښې دا منجور اوسيږي او خوراک څښاک کوي دهغوي سره چرسيان او بنګيان هم اوسيږي. نو سوال دادې چه داسې کس د الله د رضا دپاره قتل کول څنګه دي؟ او د جمات سره متصل کمرو سوزول څنګه دي؟ چه جمات د سوزولو نه محفوظ اوساتلې شي چه د شرکياتو دا اډه ختمه شي؟

المستفتي: حافظ نجم الاسلام هائي سکول کاهي هنګو کوهاټ ۲۸ جمادي الثاني ۱۴۰۹هـ

الجواب: قتل کول او سوزول ډير سخت جرمونه دي. د شرعي اجازت نه بغير ددينه ځان ساتل ضروري دي داسې کس دې علماء حضرات پوهه کړي او د اصرار په صورت کښې دې زباني او عملي مخالفت شروع کړي. ﴿۲﴾ فقط

د مولود شريف حکم

سوال: نن صبا چه خلق مولود شريف کوي او دا دثواب کار ګڼړي او فائده هم پکښې شته دې چه ديني تقريرونه وغيره پکښې کيږي. او د پيغمبر عليه السلام په ژوندمبارک باندې پکښې رڼړا اچولې کيږي نو د مولود شريف څه حکم دې؟

المستفتي: نامعلوم... ۵محرم ۱۳۰۴هـ

﴿۱﴾ قال الحصكفى و شرائط صحتها فى الواهب العقل والبلوغ والملک...... وشرائط صحتها فى الموهوب ان يكون مقبوضا غير مشاع مميزاً غير مشغول كما سيتضح و ركنها هو الايجاب والقبول كما سيجئ و حكمها ثبوت الملک للموهوب له غير لازم. (الدرالمختار ص ۵۶۷ جلد ۴ كتاب الهبه)

﴿۲﴾ عن ابراهيم بن ميسرة قال قال رسول الله ﷺ من وقرّ صاحب بدعة فقد اعان على هدم الاسلام رواه البيهقى فى شعب الايمان مرسلاً (مشكواة المصابيح ص ۳۱ جلد ۱ باب الاعتصام بالكتاب و السنة)

الجواب: که مولو د شريف د تبليغي اجتماع نوم وي نو جائز دي، او که دي ولادت وغيره ذکر کولو نوم وي نو دا بذات خود يو لوي عبادت دي ليکن د خارجي عوارضو اسراف، دبي ډيرې هلکانو نعت خواني د حاضر او ناظر د عقيدې د خطرې وغيره وجوهاتو نه دا موجوده مروجه د ميلاد مجلسونه منقعد کول ممنوع دي. ﴿۱﴾

د سنتي کولو د بعضې رسوماتو وضاحت

سوال: څمونږ په علاقه کښې چه د ماشومانو سنتي کيږي نو د سنتئ په وخت خيرات لازمي ګڼړي او اوړدې مودې نه دي، ددې دپاره قرض بندوبست کوي د لرې لرې رشته داران او خپل خپلوان رابلي او بالکل دسنتي په وخت کښې د خلقو نه پنځه پنځه، لس لس روپې آخلي او رشته داران د سنت والا کور ته ځان سره غوړي. اوړه او چيني وغيره سامانونه د خوراک دپاره راوړي او په سنت کښې روپې ورکول يو ضروري کار ګڼړي کيږي؟ او نه ورکونکو ته په سپکه کتلي شي. نو آيادا رسمونه جائز دي که بدعت دي؟ شرعي حيثيت ئي بيان کړئ؟

المستفتي: محمد رشاد مډل سکول چمله بونير

الجواب: چونکه دا رسمونه ددين په حيثيت سره نه شي کولي يعني د ثواب په نيت باندې نه کيږي نو په دې باندې د بدعت اطلاق غلط دي اشار اليه الشارع عليه السلام من احدث فى امرنا هذا ماليس منه. ﴿۲﴾ نو که دا رسمونه د رياء او فخر دپاره وي نو بيا د فخر او ريا په وجه باندې حرام دي. او که د عزت د بقاء دپاره وي نو جائز دي ګڼي نو بې فائدې کارونه دي. چه دهغې نه اجتناب کول د حسنِ

﴿۱﴾ قال ابن عابدين لو دعى الى دعوة فالواجب الاجابة ان لم يكن هنا ک معصية ولا بدعة والامتناع اسلم فى زماننا الاّ اذاعلم يقينا ان لا بدعة ولا معصية والظاهر حمله على غير الوليمه لما مر. وفى التقريرات الرافعى ص۳۰۶ لا يظهر هذا لحمل بل الظاهر حمله على عمومه. (ردالمحتار ص ۲۴۵ جلد ۵ کتاب الحظر والاباحة)

﴿۲﴾ (مشکواة المصابيح ص ۲۷ جلد ۱ باب الاعتصام بالکتاب والسنة)

اسلام شرط دي ليکن عدم اجتناب فسق نه دي. ﴿۱﴾

د سنتئ په موقعه باندې د ضيافت او دعوت حکم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د سنتئ په موقعه باندې ميلمستيا او دعوت او روټئ پخول سنت دي يا نه؟ د جائز کيدو او نه ناجائز کيدلوئې څه حکم دي؟

المستفتي: ډاکټر ظهور محمد واړي ضلع دير.....۲۲ ذي القعده ۱۴۰۳ھ

الجواب: په رواياتو کښې دعوت معمول نه جوړيدل هم ثابت دي او ذبح کول هم ثابت دي بهر حال د دعوت اهتمام کول د سلف صالحينو د تعامل نه مخالف دي. لحديث ورد بذالک ﴿۳﴾ واما ما رواه البخاري في الادب المفرد فلا يدل على الدعوة. فقط.

د وعظونو نه مخکښې نعت خواني کول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چي نن صبا د وعظونو نه مخکښې يا جلسو کښې نعت خواني کيږي آيا په اسلام کښې ددې ګنجائش شته؟ ددې څه حکم دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: ننګ اسلاف اصلاح الدين ډيروي
ډي، آئي، خان يکم ۱ ربيع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: چه بنه شعرونه وي په مکروهات او شنيعاتو باندې مشتمل نه وي نو وئيل ئې جائز دي.

﴿۱﴾ قال ابن عابدين المراد بقوله فى التعريف ما ثبت ثبوت طلبه لا ثبوت شرعيته والمباح غير مطلوب الفعل وانما هو مخير فيه و ايضاً قال فيه الاباحة اصلاً والحرمة بعارض النهى. (ردالمحتار ص ۷۸ جلد ۱ مطلب المختار ان الاصل فى الاشياء الا باحة کتاب الطهارة) وهاب

﴿۲﴾ قال سالم ختننى ابن عمر وو نصيحا فذبح علينا کبشًا فلقد رأتينا وانا لنجذل به على الصبيان ان ذبح عنا کبشًا. (الادب المفرد للامام البخارى رقم حديث: ۱۲۴۶)

﴿۳﴾ عن عثمان بن ابى العاص انه دعى الى ختان فابى ان يجيب، فقيل له فقال انا کنا لا نأتى الختان على عهد رسول الله ﷺ ولا ندعىٰ اليه. رواه الامام احمد. (مسند امام احمد محول منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۵۱ جلد۵)

لان الشعر حسنه حسن وقبیحه قبیح ﴿۱﴾ فجاز رفع الصوت بهذه الأمور عند عدم الایذاء الی المصلی والنائم یدل علیه ما فی ردالمحتار ص ۶۱۸ جلد ۱ ﴿۲﴾ .فقط

د سنتو سره متصادم رسمونه بدعاتِ شرعیه دی

سوال: دریمه، اوومه، یوولسمه، قوالیانې، حاضر ناظراو علم غیب وغیره آیا داسې رسومات بدعات دي او ددې تردید واجب دي که نه؟

المستفتي:قائم دین ډهوک زمان میاں والي......۲۳۱۷۱ء۱۹۷۸

الجواب: کوم رسمونه چه د سنتو سره متصادم وي ﴿۳﴾ یا ددین نه د کیدلو په عقیدې سره کولې کیږي ﴿۴﴾ دابدعاتِ سیئه حرام دي ددې تردید او دینه بچ کیدل لازمی دی. ﴿۵﴾ فقط

صفر میاشت ته د تکلیفونو میاشت وئیل

سوال: د صفرمیاشت ته خلق د تکلیفونو نازلیدلو میاشت وائي دا رنګې په یو کتاب کښې هم دا دمصیبتونو او آفتونومیاشت لیکلې شوې ده دا خبره

﴿۱﴾ قال ابن عابدین قال فی الضیاء المعنوی العشرون ای من افات اللسان الشعر سئل عنه ﷺ فقال کلام حسنه حسن و قبیحه قبیح و معناه ان الشعر کا لنثر یحمد حین یحمد و یذم حین یذم الخ (ردالمحتار ص ۴۸۸ جلد ۱ مطلب فی انشاد الشعر احکام المسجد)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین عن الامام الشعرانی اجمع العلماء سلفاً وخلفاً علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم او مصل او قاری الخ (رد المحتار هامش الدر المختار ص ۴۸۸ جلد ۱ مطلب فی رفع الصوت بالذکر)

﴿۳﴾ عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهو ردٌ متفق علیه .(مشکواة المصابیح ص ۲۷ جلد ۱ باب الاعتصام با لکتاب والسنة)

﴿۴﴾ قال الشیخ مفتی اعظم محمد فرید ان البدعة هی اعتقاد ما لیس من الدین دینا وهی قسمان مکفرة ومفسقة .(فتح المنعم شرح مقدمه مسلم ص ۲۹ الفائدة التاسعه)

﴿۵﴾ عن العرباض بن ساریة قال قال رسول الله ﷺ ....ایاکم ومحد ثات الامور فان کل محدثة بدعة و کل بدعة ضلالة ،وعن ابراهیم بن میسرة قال قال رسول الله ﷺ من وقر صاحب بدعة فقد اعان علی هدم الا سلام .رواه البیهقی .(مشکواة المصابیح ص ۳۰،۳۱ جلد ۱ باب الاعتصام بالکتاب والسنة)

تر کوم حده پورې صحیح ده؟

المستفتي :محمد ایوب خان شیام ګنج مردان.....۱۰ صفر۱۳۹۲

الجواب: ددې میاشتې متعلق دا ټولې خبرې وهم پرستی ده او د عوامو خبرې دی. چه د ماشوموالي نه ئې په ذهنونو کښې پخې شوې دی، ددې هیڅ اصل نشته﴿۱﴾ فقط

داستاد وغیره لاس خپې ښکلول بدعت نه دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د استاد، پلار، مور، یو بزرګ او د نیکانو لاس خپې د تعظیم دپاره ښکلول جائز دي یا ناجائز بعضې خلق دیته بد عت وائي، ددې شرعي حکم څه دې؟

المستفتي:نامعلوم......۱۲جولائي ۱۹۷۳ه.

الجواب: داستاد وغیره لاس خپې ښکلول جائز دي. ﴿۲﴾ لان الصحابه یقبلون ید رسول الله ﷺ ورجله وکذا بعضهم یقبل ایدي بعضهم من شاء الاطلاع علي الروایات فلیراجع الي الادب المفرد المولفة للامام البخاري. وهوالموفق

د آذان نه مخکښې یاروستو په زور باندې درود شریف وئیل

سوال: ځمونږ د جمات امام صاحب د سحرد اذان نه مخکښې او کله کله روسته په زور زور باندې. الصلواة والسلام علیک یا رسول الله دوه ځلې وائي بیا اذان وائی.اوکوم خلق چه دا کار نه کوی هغوی بدګنړی ددې څه حکم دې آیا دا

﴿۱﴾ عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال لا عدوی و لا طیرة ولا هامة ولا صفر و فر من المجذوم کما تفر من الاسد .(صحیح البخاری ص ۸۵۰ جلد ۲ کتاب الطب باب الجذام)

﴿۲﴾ قال العلامه حصکفی ولا بأس بتقبیل ید الرجل العالم والمتورع علی سبیل التبرک درر ...... وقیل سنة مجتبی و تقبیل راسه ای العالم اجود . قال ابن عابدین ای تقبیل ید العالم و السلطان العادل قال الشرنبلالی وعلمتُ ان مفاد الاحادیث سنیته او ندبه کما اشار الیه العینی .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۲۷۱ جلد ۵ قبیل فصل فی البیع کتاب الحظر والاباحة)

درود شریف اذان سره وئیل لازمي دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: حکیم اختر حسین صدر کیملپور.....ماه محرم ۱۳۹۲ھ

الجواب: دآذان نه مخکښي یا روستو درودشریف وئیلو کښې څه حرج نشته لیکن دا د اذان حصه منل او یا ضروري ګڼړل چه نن صبا د بدعتیانو خاص نښه ده دا بدعت دي. ځکه چه په خیرالقرون کښې ددې څه ثبوت نشته. فقط

سورة عنکبوت په رمضان کښې یا بله میاشت کښې د عملیاتو او زیارت ثواب د پاره وئیل

سوال: سورة عنکبوت چه اووه ۷ ځلې اووئیلې شي نو د غمونو نه به بچ شي. او د نبي علیه السلام ارشاد دي چه د رمضان په درویشتمه شپه سورة عنکبوت اووئیلې شي نو د اووه کالو ګناه معاف کیږي او په دیکښې شک نشته او که چا شک او کړو نو کافرشو (نقل از تفسیر مشارق و کشاف وازکتاب شاطبی) (۱) آیا دا حدیث ثابت دي که نه؟ (۲) که دا حدیث صحیح نه وي نو دي شپه کښې دي سورت په باره کښې څه دلیل شته یا نشته؟ (۳) او که څه دلیل نه وي نو ددې سورت په متعین کولو کښې څه نقصان شته یا نه؟

المستفتي: شیخ محمد تاج الدین لدهیانوي فیصل کالوني
کراچي نمبر ۲۵...۱۲ رمضان ۱۴۰۳ھ

الجواب: (۱) ددې حدیث نه سند معلوم دې او نه مخرج او دا حدیث ثابت نه دې. (۲) نه د حدیث نه داتخصیص ثابت دې او نه د فقهائې کرامو د جزئیې نه ثابت دی. (۳) او دزیات ثواب په طریقې سره وئیل بدعت سئیه دې. وهوالموفق

د جزوی مصلحت په وجې سره بدعت د بدعاتو د باب نه نه اوځي

سوال: ځمونږ په کلي کښې چه کله مړې قبرستان طرفته وړي نو څه خلق په

(۱) قال العلامه ابن نجیم ولان ذکر الله تعالی اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئ دون شئ لم یکن مشروعا حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع. (البحر الرائق ص ۱۵۹ جلد ۲ باب العیدین)

اوچت آواز سره ذکر کوي لیکن بعضي خلق ئې منع کوي چه په اوچت آواز سره دا ذکر بدعت دې. ددې باره کښې شرعي حکم څه دې؟ او بعضي خلق وائي چه دا نه وائي نو بیا خلق خبرې کوی؟ بینوا توجروا

المستفتي: قیصر خان، وي، اې، یو مارکیټ مري راولپنډی. ۸ مئ ۱۹۸۴

الجواب: د جنازې نه وروستو په اوچت آواز ذکر مکروه دې (کما في ردالمحتار ص ۸۳۷ ج ۱ (۱)) واضحه دې وي چه د هر بدعت بنیاد په مصلحت او استحسان وي نو د جزوي مصلحت په وجه باندې یوبدعت د بدعت کیدلو د باب نه خارج کیږي نه. وهوالموفق

د مړي په کفن باندې د کلمې لیکلو تحقیق

سوال: دریں جا اختلاف واقع است. بعض گویند که کلمه برمیت نوشته مستحب است. اگر بر کلوخ است یا سنگ بسنگ است به برابر روی نهد بل کار حسن است۔ ترک کند اوراہنود۔ چرا کار نیک ترک کنی۔ اعتقاد عوام برایں است که نوشتن کلمه از مفروض زیاده شمارد۔ اگر امام نوشته کلمه و بسم الله نه کند۔ برآں پیش امام نامها کیدانی ودیگ پیری نهد بر تحقیر انکار مهربانان مسئله را واضح کن۔؟

المستفتي: ملاداد محمد یا ملا محمد عمر تحصیل گلستان ضلع پشین بلوچستان.....۲ ر رمضان المبارک ۱۴۰۲ھ

الجواب: د امام صغار په نزد داکتابت جائز دې او د ابن صلاح په نزد باندې ناجائز دې. او امام شامي کراهت طرفته مائل شوې دې ځکه چه کله په دراهمو او محرابونو باندې واجب الاحترام کلمات لیکل مکروه دي. کما صرح به في ردالمختار قبیل باب المیاه. نو په کفن او تندي وغیره باندې خو به خامخا مکروه وي. او یا به د جواز دا روایت بغیر د سیاهي نه په لیکلو

(۱) قال الحصکفی کره کما کره فیها رفع صوت بذکر او قراءة. قال ابن عابدین و ینبغی لمن تبع الجنازه ان یطیل الصمت وفیه عن الظهیریة فان اراد ان یذکر الله تعالی یذکره فی نفسه لقوله تعالی انه لا یحب المعتدین ای الجاهرین بالدعاء وعن ابراهیم انه کان یکره ان یقول الرجل وهو یمشی معها استغفروا له غفر الله لکم. (الدر المختار مع ردالمحتار ص ۶۵۸ جلد ۱ مطلب فی دفن المیت)

باندې محمول کړې شی. کما مال الیه الشرجي.﴿۱﴾ وهوالموفق

د هفتې په هیڅ یوه ورځ کښې هم جامې وینځل منع نه دي

سوال: بعضې خلق د هفتې په بعضې ورځو کښې کپړې او جامې وینځل جائز نه ګڼړي نو آیا د خالی، اتوار، ګل، نهې، شورو، زیارت او جمعې په ورځو کښې یوه ورځ کښې کپړې وینځل منع دي. یانه ؟

المستفتي: شاه میډیکل کیملپور.... ۱۷۱۹۱،۱۹۷۲

الجواب: په دې ورځو کښې یو وخت کښې هم جامې وینځل منع نه دي.﴿۲﴾ دا ممنوعیت یو جاهلانه رسم دې.فقط وهوالموفق

د عید میلاد النبي جلسه او د اولیائې کرامو په مزارونو باندې ډیوې بلول او جهنډې لګول

سوال: (۱) د عید میلاد النبي د جلوس څه حکم دې؟ (۲) د اولیاي کرامو په مزارونو باندې ډیوې بلول او جهنډې لګول څنګه دي؟ وضاحت اوکړئ.

المستفتي: حاجي سراج الدین هري پور... ۲۱جولائي ۱۹۷۹ه

﴿۱﴾قال العلامه ابن عابدین و فی البزازیه قبیل کتاب الجنایات و ذکر الامام الصغار لو کتب علی جبهة المیت او علی عمامته او کفنه عهدنامه یرجی ان یغفر الله تعالی للمیت ...... و قد افتی ابن الصلاح بانه لا یجوز ان یکتب علی الکفن یٰس والکهف ونحو هما خوفامن صدید المیت ...... و قدمنا قبیل باب المیاه عن الفتح انه تکره کتابة القرآن و اسماء الله تعالی علی الدراهم والمحاریب والجدران وما یفرش و ما ذاک الا لاحترامه و خشیة وطئه و نحوه مما فیه اها نة فالمنع هنابا لاولی مالم یثبت عن المجتهد او ینقل فیه حدیث ثابت فتأمل نعم نقل بعض المحشین عن فوائد الشرجی ان مما یکتب علی جبهة المیت بغیر مداد با لاصبع المسبحة بسم الله الرحمن الرحیم و علی الصدر لا اله الا الله محمدالرسول الله و ذلک بعد الغسل قبل التکفین والله اعلم .(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۶۶۸،۶۶۹ جلد ۱ قبیل باب الشهید)

﴿۲﴾ عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ من احدث فی امرنا هذا مالیس منه فهو رد متفق علیه. (مشکواة المصابیح ص ۲۷ جلد ۱ باب الاعتصام با لکتاب و السنة)

الجواب: (۱) جائزدي چه دمنکراتونه خالي وي﴿۱﴾ (۲) داټول په ټوله بدعات دی.﴿۲﴾

سیدانو او میاں ګانو ته شکرانه ورکول

سوال: میاں ګان او سیدان صاحبان چه د خلقو نه یو، یو، دوه،دوه کلو غله غواړي، دې باره کښې د خلقو دا عقیده ده چه که څه د فلانکې ولي دا شکرانه ورنکړم نو اولاد او څناورو ته به مې نقصان اورسیږي او دارنګې دا شکرانه اخستلو والا غني او مالدار هم وي. دا جائز دي یا ناجائز؟ بینوا توجرا

المستفتي: محمد رشاد ډهیرئ چمله بونیر

الجواب: میاګانو ته په دې ارادې سره څه ورکول چه دوي پلار نیکه به څمونږ د مالونو حفاظت کوي یا د نه ورکولو په صورت کښې به څمونږ مالونه هلاک کړي داقسم خبرې د امورِ شرکیه ؤنه دي. او په دې وجه چه د نیک خلقو اولاد دي دَامداد په ارادې سره ورکول جائز دي.﴿۳﴾ فقط

﴿۱﴾فی الهندیه ان کان الاصل الا باحة ینظر الی العارض فان غلب علی الظن وجود المحرم فا لکراهة للتحریم و الا الخ (عالمگیری ص ۳۰۸ جلد۵ کتاب الکراهیة) وان لم یخلو عن المنکرات کاالتخصیص بوقت دون وقت و اشتمال التزام ما لا یلزم والرعایة فوق الرعایة الشرعیة و الا سراف و الاصرار علیه وغیرها فبدعة و غیر جا ئز .(وهاب)

﴿۲﴾قال ابن عابدین الشامی لان النص اقوی من العرف لا ن العرف جاز ان یکون علی باطل کتعارف اهل زماننا فی اخراج الشموع و السرج الی المقابر لیالی العید .

(ردالمحتار ص ۲۰۲ جلد ۴ مطلب فی ان النص اقوی من العرف باب الرباء)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین النذر للمخلوق لا یجوز لانه عبادة و العبادة لا تکون للمخلوق و منها ان المنذور له میت والمیت لا یملک و منها ان ظن ان المیت یتصرف فی الامور دون الله تعالی واعتقاده ذلک کفر اللهم الا ان قال یا الله انی نذرت لک ان شفیت مریضی او رددت غائبی او قضیت حاجتی ان اطعم الفقراء الذین بباب السیده نفیسة او الامام الشافعی او الامام اللیث او اشتری حصر المساجد هم او زیتا لوقودها او دراهم لمن یقوم بشعا ئر ها الی غیر ذلک مما یکون فیه نفع للفقراء و النذر لله عزوجل الخ .

(رد المحتار هامش الدرالمختار ص ۱۳۹ جلد ۲ مطلب فی النذر للاموات قبیل باب الاعتکاف)

د خانه کعبې او روضه اقدس نقشه په کورونو کښې اويزان کول بدعت نه دي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه اکثر ځايونو کښې د خانه کعبه او روضه اقدس نقشه زوړنده وي او اکثرئې خلق په کورونو کښې زوړندوي آيا دا بدعت دې، وضاحت اوکړئ ؟

المستفتي: حبيب الله فقير آباد پيښور.....۱۹ذيقعده۱۴۰۲ھ

الجواب: بيت الله شريف او روضه اقدس ﷺ واجب الاحترام دي او تصويرونه ئې نه مطلوب دي او نه ممنوع ﴿۱﴾

په جمات کښې شيريني وغيره تقسيمول او خوړل بدعت نه دي

سوال: په رمضان يا ختم القرآن يا څه بله خوشحالۍ کښې په جمات کښې شيريني تقسيمېږي. او د تقسيم په وخت کښې خوړلې کيږي آيا په دې کښې د بدعت څه ويره شته؟ بينوا توجروا

المستفتي:: فدا محمد چهريان مانسهره هزاره....۱۹۷۵ء۱۸۱\۲۰

الجواب: په جمات کښې شيريني وغيره تقسيمول او خوړل ممنوع نه دی. **نظيره تعليق قنو التمر فی المسجد فی زمن النبی ﷺ ﴿۲﴾ وفی الهنديه صفحه ۳۸۲ جلد ۵ لا بأس بنشر السکر والدارهم فی الضيافة وعقد النکاح کذا فی السراجيه قلت وصرحوا باستحباب عقد النکاح فی المسجد فافهم.**

د مړي يو کال پورې مسلسل په کور باندې چکر لګول، بې اصل خبره ده

سوال: حضرت مفتي صاحب آيا دا صحيح ده چه انسان کله مړ شي نو ديو کال پورې مسلسل دده روح د کور، محلې او جمات چکر وهی، که د جمعې

﴿۱﴾ قال ابن عابدين و المباح غير مطلوب الفعل و انما هو مخير فيه.
(ردالمحتار ص ۷۸ جلد ۱ مطلب المختار ان الاصل فی الاشياء الاباحة)

﴿۲﴾ و ايضا يدل عليه هذا الحديث عن عبد الله بن حارث بن جزء قال اتی رسول ﷺ بخبز و لحم و هو فی المسجد فاكل و اكلنا معه ثم قام فصلی و صلينا معه و لم نزد علی ان مسحنا ايدينا بالحصباء. رواه ابن ماجه (مشکواة المصابيح ص ۳۶۶ جلد ۲ کتاب الاطعمة الفصل الثانی)

شپه وي او که نه وي. که دا خبره صحيح وي نو د (عليين) غوندې مقدس ځائې نه دلته د راتلو څه ضرورت دې او د سجين نه د نجات موندلو څه مطلب دې؟ وضاحت اوکړئ.

المستفتي: محمد ثناء الله آف کتوزئ شبقدر فورټ چارسده....۹۱۷۱۱۹۷۳

الجواب: اګر چه د الله په حکم باندې د روحونو راتلل ممکن دي. ﴿۱﴾ ليکن دا خبره چه د يو کال پورې وغيره وغيره دا نه د روايت نه ثابت ده او نه عقل. ددې تائيد کوي ځکه چه د منعمينو جيل يا کورته رغبت او د معذبينو د ملائکو نه خلاصې نا معقوله خبره ده. ﴿۲﴾ فقط

په جماتونو کښې يا الله. يا محمد خير ليکل

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه يا الله يا محمد خير. په جمات کښې ليکلې شوې دې. ددې حکم څه دې ؟ او که صرف يا محمد، ئې ليکلې وي نو دهغې څه حکم دې؟

المستفتي: محمد بخت سفير، محمد ايوب....۱۱۴جمادي الثاني۱۴۰۳ھ

الجواب: يا محمد د اهل بدعت خاص نښه ده نو دداسې کتبو او پوسترو نه جماتونه محفوظ ساتل ضروري دي. ﴿۳﴾

د پيغمبر عليه السلام زيارت ته تلل. کهجورې مالګه دمول او زيارتونو ته تلل بدعت نه دي

سوال: (۱) آيا د رسول الله زيارت کول بدعت دې؟ (۲) دم کړې شوې کهجورې يا مالګه وغيره خوړل بدعت دې يا جائز دې؟ (۳) آيا زيارتونو له تلل بدعت او

﴿۱﴾ عن ابن عباس رضی الله عنه قال بلغنی ان ارواح الاحياء والاموات تلتقی فی المنام فيتسائلون بينهم، فيمسک الله ارواح الموتی ويرسل ارواح الاحياء الیٰ اجسادها، ذکره الطبری فی تفسيره.
(کتاب الروح ص ۳۱ المسألة الثالثة)

﴿۲﴾ قال ابن القيم الجوزية واما قول من قال ان ارواح المؤمن فی عليين فی السماء السابعه وارواح الکفار فی سجين فی الارض السابعه فهذا قول قد قاله جماعة من السلف والخلف ويدل عليه قول النبی ﷺ اللهم الرفيق الاعلیٰ الخ (کتاب الروح ص ۱۴۱ فصل فی بيان قول من قال مستقر الارواح الخ)

﴿۳﴾ اتقوا عن مواضع التهم. رواه البخاری فی المفردات (الموضوعات الکبریٰ لملا علی قاری ص ۴۹ رقم حديث: ۱۵۱)

ناجائز دي؟ مختصر جوابونه راولیږئ مهرباني به وي،

المستفتي: محمد قاسم شاه دامان کیمبلپور اټک. ۵۱۹۱۱۹۷۲

الجواب: (۱) د نبي علیه السلام د قبر زیارت کول سنت دي بلکه واجبو ته نږدې دي (فتح القدیر) (۲) د صالحینو په آثارو باندې برکت حاصلول ثابت او جائز دي لیکن د عوامو د خود ساخته تبرکاتو رد کول واجب دي. (۳) که توسل عملي، دحالي په ارادي سره وی نو څه خبره نه ده او سد اللباب د منع کولو مونږ مخالف نه یو. فقط.

د ختم القرآن په فضیلت کښې یوه بې سنده قصه

سوال: څمونږ په ځائي کښې په منبر باندې په لاوډ سپیکر یو مولوي صاحب په محفل میلاد کښې دا مسئله بیان کړه. چه یو قبر کښې مړي سخت عذاب کښې مبتلا وو نو حضرت علي رضي الله عنه پرې تیر شو هغه د قبر والا نه د عذاب لرې کیدو دپاره په سوونو او زرګونو رکعتونه نفل او کړل لیکن عذاب لرې نه شو بیا یو ځائي کښې ختم القرآن اوشو په هغې کښې غوښه هم اوخورلې شوه، د ختم والا غوښې یو هډوکې چرته یو کارغه اوچت کړو نو هغه هډوکې اتفاقاً د کارغه د مخوکې نه په هغه عذاب والا قبر باندې پریوتو چه د هغې په برکت باندې د مړي عذاب ختم شو، نو آیا دا واقعه صحیح ده؟ او داسې مروجه ختم قران په هغه زمانه کښې هم وو؟

المستفتي: جمله اساتذه هائي سکول جعفر خان کلې
باړه خیبر ایجنسی ۴ رجب ۱۴۰۴ھ

الجواب: باقاعده ختمونه کول جائز دی لیکن دا قصه نه په مروجه کتابونو کښې شته او نه څه سند لري، بلکه د مضمون د بعضو خبرو په وجه باندې د قبلیدو والا نه ده ځکه چه په هډوکې کښې د قرآن برکت حاصلیدل د عین قرآن نه زیاتیدل کوم چه په مونځ کښې وئیلي شوې دي. دا یو منکر خبره ده. وهو الموفق

په مجلس میلاد کښې د پیغمبر علیه السلام د پاره کرسئ خالي پریخودل

سوال: څه د حضرت صاحب یو کمزوري غلام یم په دې میاشت د ربیع الاول کښې عموماً د میلاد جلسې کیږي چه په هغې کښې بریلیان په آخره کښې اودریږي او

صلاة وسلام وائی. څمونږ ځائي کښې دیو مجلس د انعقاد په وخت کښې یو کس نه د صدارت دپاره اووئیلې شو نو هغه جواب ورکړو. د نیک بختنه مجلس چه د چا دپاره مقرر کیږي څه په هغه کرسئ څنګه کینم دا صدارت خوبه د هغه چا وی د چا د ذکر دپاره چه دا مجلس مقرر کیږي. کله چه ئې تقریر اوکړو نو وې وئیل پاسئ په حضور علیه السلام باندې سلام اووائی هغه مجلس کښې حاضر دي. په ناستو کسانو کښې یو مستند دیوبندي عالم دین هم اودریدلو صرف یو کس پانه سیدلو هغه جواب کښې اووئیل چه ماپه اکابرین علمائې دیوبند کښې یو کس هم په داسې مجلسونو کښې په اودریدلو نه دي لیدلي نو څه ددې بدعت داکار څنګه اوکړم. نه هغه اودریدونکي کس د حاجي امداد الله مهاجر مکي صاحب یو واقعه اوښودله چه هغه به اودریدلو نوما وې چه دا سلسله بیا په دیوبندیانو کښې ولې جاري نه شوه چه دهغې جواب مولانا رشید احمد ګنګوهي صاحب ورکړې وو. نو سوال دادې چه آیا کرسئ خالي پریخودل وغیره کارونه صحیح دي یا غلط؟ بینوا توجروا

المستفتي: ګلزار محمد خان کوه نور ټکسټائل ملز، راولپنډی ۲۲۱۲۱۱۹۶۹

الجواب: د کرسئ خالي پریخودل په دې ارادې سره چه پیغمبر علیه السلام به په دې باندې تشریف فرما وي. او دا اودریدل وغیره ټول په ټوله بدعات دي. د قرآن اوحدیث نه دا کارونه ثابت نه دي لهذا په داسې مجلسونو کښې صحیح عقیدې والاؤ لره شرکت نه کول ضروري دي. فقط

د پیغمبر علیه السلام نوم اوریدلو سره ګټې ګوتې ښکلول

سوال: د حضور صلی الله علیه وسلم نوم اوریدلو سره نډګوتې ښکلول او سترګو باندې لګول څنګه دي؟

المستفتي: ملک فضل الرحمان مقام اړه ضلع جهلم...... ۱۷۱۷۱۱۹۷۲

الجواب: دعلاج په طریقې سره مباح دي او د ثواب په نیت بدعت دي. فقط

د مړي اوریدل او د هغوي په نوم نذراو منختي کول

سوال: دوه فریقه په یوه اعتقادي مسئله کښې اختلاف لري. اولني فرقه وائي چه مړي نه اوري او نه وینی او دهغوي په نوم نذر او منختي منل بالکل حرام

دي دويمه فرقه وائي چه مړي اوري هم اويني هم، او د هغوی په نوم نذر او منختي منل د نزديکت سبب دي. مختصر فيصله اوکړئ او د صحيح عقيدې اظهار اوفرمايئ؟

المستفتي: سلطان روم جلبئ صوابي ضلع مردان... ۱۹۷۲/۴/۳

الجواب: د اکثر احنافو، ابن تيميه او ابن القيم په نزد باندې مړي د نزدې نه اوري او د بعضې احنافو په نزد مړي نه اوري ليکن د لائلو په رڼا کښې اولني قول صحيح دي. د غير الله د پاره نذر کول حرام دي بلکه شرک ته رسيږونکي دي. دا د ټولو اکابرينو رائې ده او که د تفصيل ضرورت وي نو بيا د ضرورت په وخت کښې يو سوال د تفصيل د پاره راوليږه.

د فيروزه غمې باره کښې توهم پرستي

سوال: د ګوتمې باره کښې بعضې خلق وائي چه په دې کښې کوم د فيروزه غمې دې ددې تاثير دادې چه د نورو په مرضونو کښې اضافه کوي او په دې سره مرض ډير يږي. آيا دا صحيح ده؟

المستفتي: نامعلوم متعلم دار العلوم حقانيه..... ۷ جنوري ۱۹۸۴

الجواب: دا توهم پرستي ده او حرام دي. ددې نه ځان بچ کول لازمي دي. وهو الموفق

د عوامو توسل او مړی فرياد رس ګرځول

سوال: علمائې دين دې مسئلو باره کښې څه فرمائي! (۱) که يو سړې عقيدتاً يو بيمار يو خاص قسم مزار ته بوځي او توسل کوي نو آيا دا صحيح ده؟

(۲) که د چاځوئې نه وي نو چرته خاص مزار ته تلل او بچي غوختل جائز دي؟

(۳) څوک ولي يا نيک سړې د وفات نه پس د چا په حال باندې خبردار وي. او فرياد اوري يا نه؟ المستفتي: نامعلوم متعلم دار العلوم حقانيه ۱۹۸۵/۴/۱ء

الجواب: (۱)، (۲) توسل (وسيله) بالصاليحين جائز دي ليکن عوام د شرعي وسيله او شرکي وسيله په مينځ کښې فرق نشي کولې نو د عوامو د پاره داسې منع دي. (۳) سماع الموتی حقه ده ليکن مړي فريادرس ګرځول ناحق دي. وهو الموفق

په مملوک قرآن مجيد باندې حيله اسقاط کول

سوال: علمائې دين څه فرمائي چه د مړي د جنازې نه پس کومه حيله اسقاط کيږي په هغې کښې قرآن شريف په دائره کښې ګرځول جائز دي يا نا جائز؟

المستفتي: تاج محمد هري پور

الجواب: که دا مصحف مملوک وي موقوف نه وي نو ددې تملک او تمليک جائز دي نو په دې سره في نفسه حيله اسقاط جائز ده لکونه مالاً. هو الموفق

د غل خلاف ختم قرآن او خيرې کول

سوال: څمونږ ځائې کښې د چا نه غلا شوې وه نو هغه سړې په خلقو باندې د قرآن ختم اوکړو او بيا د غل په باره کښې ټولو خلقو په اړولي لاسونو خيرې اوکړې نو آيا په شريعت کښې داسې ختم کول او بيا د خيرو څه جواز شته که نه؟ او که جائز وي نو دا قرآن خو د هدايت د پاره راغلې دې د چا د کور ورانولو د پاره خونه دې راغلې. نو وضاحت اوکړئ او تسلي راکړئ؟

المستفتي: مشتاق احمد پرائمري سکول حاجي زئ.... ۱۹۷۲هـ

الجواب: د کوم سړي نه چه غلا شوې هغه مظلوم دې او د مظلوم خيرې کول ظالم ته دا جائز دي. قال الله تعالی لا يحب الله الجهر بالسوء من القول الا من ظلم (۱) وقال رسول الله ﷺ اياک ودعوة المظلوم. (۲) او د عبادت نه روستو دعا قبليږي نو د ختم قران نه روستو خيرې کول جائز دي ځکه چه قرآن د مظلوم د مدد د پاره وسيله جوړول د هدايت سره تضاد نه ساتي. وهو الموفق

د توسل بالصالحين مسئلې تفصيل

سوال: د توسل بالصالحين څه حکم دې؟

المستفتي: حاجي همشير خان دوبئ... ۱۴۰۱/۱۲/۱۵هـ

(۱) (پاره: ۶ سورة النساء رکوع: ۱ آيت: ۱۴۸)

(۲) (مشکواة المصابيح ص ۴۳۵ جلد ۲ باب الظلم الفصل الثالث)

الجواب: في الحال د توسل با لصالحين. متعلق يو ثو كرښې درليږم. د ناوزګارتيا په وجه باندې په مختصر كولو پريشانه كيږه مه. په ١٤٨٩٨١ نمبر باندې تاته څو سوالونه درليږم په هغې باندې اكتفا اوكړه. دا خبره دې واضحه وي چه توسل په دوه قسمه دې(١) شركي (٢) غير شركي. د شركي نه مراد دادې چه ددې صالحينو عبادت يعني نذر او منحتې په دې نيت سره اوكړيشي چه دا صالحين به څمونږ حاجتونه الله تعالى ته پيش كړي دا حرام دې او شرک دې. قال تعالى حاكيا عنهم ما نعبدهم الا ليقربونا الى الله زلفي(سورة زمر). ﴿١﴾ او غير شركي په څلور قسم دې.

اول توسل بالدعاء: دا په بې شميره حديثونو كښې راغلې ددې په جواز كښې هيڅ اختلاف نشته دې.

دويم توسل بالاعمال: دا هم جائز او حق دې.

لقوله تعالى وما كان الله معذبهم وهم يستغفرون﴿٢﴾ ولقوله تعالى وكان ابو هما صالحا﴿٣﴾ ولقوله تعالى الحقنا بهم ذريتهم وما التناهم من عملهم من شئى﴿٤﴾. ولقوله عليه السلام الابدال يكون بالشام يسقى بهم الغيث وينتصربهم الاعداء ويصرف عن اهل الشام بهم العذاب (مشكواة باب الذكر اليمن والشام)﴿٥﴾. ولتقرير اشارة قول زينب بنت جحش انهلک وفينا الصالحون (رواه البخارى ص٥٠٨ جلد ١) ولحديث من قرء اية الكرسى حين مضجعه آمنه الله على داره ودار اجاره و اهل دويرات حوله رواه البيهقى .(مشكواة باب الذكر بعد الصلاة)واسنادة ضعيف لا كن الحكم من قبيل الفضائل ولحديث من قراء القرآن وعمل بمافيه البس والداه تاجاًيوم القيامة.رواه ابوداؤد.

دريم توسل بالجاه: او دا هم حق دې. لحديث هل تنصرون وترزقون الا بضعفاء كم رواه الترمذي وابو داؤد. اسئالک بمحمد نبيک نبي الرحمة، (رواه الترمذي)

څلورم توسل با لشركة: او دا توسل صرف په ژوندو سره جائز دې.

والدليل على مشروعية هذا التوسل قوله تعالى ما كان الله ليعذبهم وانت فيهم ﴿٦﴾. وقوله عمر رضى الله تعالى عنه اللهم انا كنا نتوسل اليک فتسقينا وانا نتوسل اليک بعم نبينا فاسقنا

﴿١﴾(پاره: ٢٣ سورة زمر آيت:٣)
﴿٢﴾(پاره: ٩ سورة انفال ركوع: ١٨ آيت:٣٣)
﴿٣﴾(پاره: ١٦ سورة كهف آيت:٨٢)
﴿٤﴾(پاره: ٢٧ سورة الطور ركوع: ٣ آيت: ٢١)
﴿٥﴾(مشكوة المصابيح ص ٥٨٢ جلد ٢ باب الذكر اليمن والشام)
﴿٦﴾(پاره: ٩ سورة الانفال ركوع: ١٨ آيت: ٣٣)

(رواه البخارى) وقوله عليه السلام يأتى زمان يغزو فيه فئام من الناس فيقال فيكم من صحب النبى صلى الله عليه وسلم فيقال نعم فيفتح لهم . رواه البخارى .

واضحه دې وي چه كوم خلق يعني سلفيه ډله توسل بالصالحين نه منې نو هغوي كله كله په هغه ايتونو سره دليل نيسي په كومو كښې چه د توسل شركي انكار موجود وي. ليكن د شركي توسل په حراموالي سره د غير شركي توسل حراموالې نه لازميږي. او كله په حديث حيث لا يستغاث بي (رواه الطبراني) سره دليل نيسي ليكن ددې حديث په سند كښې ابن لهيعه متكلم فيه دې،دارنګې دا حديث ،،استغاثو بآدم ثم بموسٰى ثم بمحمد صلى الله عليه وسلم،، (رواه البخارى) ص ١٩٩ جلد اول سره معارض دې. او په دواړو روايتونو كښې تطبيق هم كيدې شي. يحمل النهى على العزيمة. او كله د حضرت عمر بن الخطاب رضى الله عنه په حديث. اللهم انا كنا نتوسل (رواه البخاري) سره استدلال كوي ليكن ددې حديث نه د توسل نمبر ۴ نفي لازميږي نه دا چه د مطلق توسل. او په حقيقت كښې دې حديث كښې هم توسل بالا موات دې. ځكه چه نتوسل بعم نبينا، لفظ راغلې دې نه دا چه نتوسل بالعباس بن عبد المطلب فافهم

او دا ډله كله د فقهاؤ په دې عبارتونو سره دليل نيسي.

”ويكره بحق النبى لانه لا حق للمخلوق على الخالق“. والجواب عنه ان حق المخلوق على الخالق ثابت لقوله تعالى وكان حقاً علينا نصر المؤمنين﴿١﴾.ولحديث يا معاذ هل تدرى ما حق الله على العباد وما حق العباد على الله ....وحق العباد على الله ان لا يعذب من لا يشرک با لله شيئاً(متفق عليه)ولحديث الطبرانى الصغير ص٢٠٧ اسألک بحق محمد الاّغفرت فيحمل كلام الفقهاء على نفى الحق الذى يوجب الاضطرارو يحمل الحديث على معنى الحرمة او الحق الذى التزمه الله تعالى بفضله هكذاقرره مولانارشيد احمد الجنجوهى فى الفتاوى. ويجاب عنه ان المنفى ههنا ان لا يتوسل بهذا للفظ للاتقاء عن تهمة الاعتزال ولا يلزم منه نفى التوسل مطلقا.فافهم.و هو الموفق

﴿١﴾(پاره: ٢١ سورة الروم ركوع: ٨ آيت: ٤٧)

د یوولسمې حکم

سوال: یوولسمه څه شیز دي؟ په دې کښې حصه اخستل څنګه دي؟

المستفتي: اختر حسین راولپنډي.....۱۴دسمبر ۱۹۷۴

الجواب: یوولسمه که د پیرانِ پیر رحمه الله په نوم باندې د نذر او منختې نوم وي نو حرام ده او که د ایصال ثواب او نفع نوم وي نو فی نفسه خو جائز ده لیکن د تخصیص د وجې نه بدعت دې ⟨۱⟩

د تراویح نه پس پابندئ سره سورة ملک لوستل

سوال: د رمضان په میاشت کښې د تراویح نه پس امام قوم ته مخامخ سورة ملک لولي. او په باقي میاشتو کښې ئې نه وائي بعضې خلق دیته بدعت وائي او بعضې خلق ئې د ثواب کار ګڼري. د وضاحت اوکړئ؟

المستفتي: امیر جان افغانستان.....۲۸نومبر ۱۹۷۴

الجواب: د رمضان پورې تخصیص کول بدعت دي لعدم المخصص کما لا یخفیٰ قال صاحب البحر ولان ذکر الله تعالیٰ اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئی دون شئی لم یکن مشروعاً حیث لم یرد الشرع به. (ص ۱۵۹ جلد۲) وهوالموفق

بغیر التزام نه هره شپه سورة ملک لوستل بدعت نه دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه که یو سړې بغیر د التزام نه هره شپه سورة ملک وائي یعنې د ځان د پاره ئې وظیفه جوړه کړې وي نو آیا دا بدعت دې؟ اګر چه د بعضې عذرونو په وجه باندې پریخودې کیږي هم؟ بینوا توجروا..

المستفتي: ډاکټر امیر خان ډینټل کلینک بنون.

⟨۱⟩ قال ابن نجیم ولان ذکر الله تعالیٰ اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت اور بشئ دون شئ لم یکن مشروعاً حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع. (البحر الرائق ص ۱۵۹ جلد۲ باب العیدین)

الجواب: د سورة ملک هره شپه لوستل بدعت نه دي لکه چه په رائې وند کښې هره شپه د سورة یاسین ختم کول بدعت نه دي. البته التزام بدعت دي. وکم من فرق بین الدوام والالتزام. وهوالموفق

بچی له په نیک سړي باندې جونه ورکول او دعا پرې غوښتل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه بچي ته د ګهټې ورکولو څه حکم دې؟ چه ماشوم پیدا شي په چاورله ګهټې ورکوي؟

المستفتي: منصور احمد خان شیر شاه کالوني کراچي. ۲۵جولائي ۱۹۸۹ء

الجواب: په حدیث شریف کښې ګهټې ذکر موجود دې چه حضور ﷺ یو بچي له ورکړې یعني حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه وهو اول مولود ولد بالمدینة المنورة في المهاجرین ⟨۱⟩ لهذا چرته نیک سړې باندې ګهټې ورکول او دعا پرې هم غوښتل پکار دي. ⟨۲⟩ وهوالموفق

د محرم په لسم تاریخ باندې په قبرونو اوبه اچول

سوال: د محرم په لسم تاریخ باندې په مقبره کښې قبرونو باندې اوبه اچول یا دال او مسور وغیره اچول د ثواب کار دې که د ګناه، که د ثواب کاروي نو حواله اوښایئ مشکور مو اوګرځوئ؟

المستفتي: شیر محمد اکوړه خټک.....۸ فروري ۱۹۷۵ھ

الجواب: دا عمل یعني په قبرونو باندې او به اچول نه د قرآن او حدیث نه ثابت دي او نه په خیر القرون کښې شویدي او نه د ائمه دین نه چرته روایت شویدي او نه د فقهائې کرامو تجویز شوې څیز دې. لهذا دا عمل د ثواب په ارادې سره کول بدعت او د عذاب باعث دې. فقط

⟨۱⟩ وهو اول مولود ولد فی الاسلام للمهاجرین با لمدینة اول سنة من الهجرة و اذن ابوبکر فی اذنه ولدته امه اسماء بقبا واتت به الی النبی ﷺ فوضعته فی حجره فدعا بتمرة فمضغها ثم تفل فی فیه و حنکه لکان اول شئی دخل فی جوفه ریق رسول الله ﷺ ثم دعا له و برک علیه الخ (مشکواة، اکمال فی اسماء الرجال لصاحب المشکواة ص ۶۰۴ جلد ۲)

⟨۲⟩ عن اسماء بنت ابی بکر انها حملت بعبد الله بن الزبیر بمکة قالت فولدت بقباء ثم اتیت به رسول الله ﷺ فوضعة فی حجره ثم دعا بتمرة فمضغها ثم تفل فی فیه ثم حنکه ثم دعا له وبرک علیه و کان اول مولود ولد فی الاسلام. متفق علیه. (مشکواة المصابیح ص ۳۶۲ جلد۲ باب العقیقة)

مروجه درود او سلام وئیل بدعت او مکروه دي

سوال: نن صبا جماعتونو کښې مروجه درود او سلام چه دهغې په وجه باندې په امت کښې تفریق او نفرت راوچتیږي دحنبلي، شافعي، مالکي مذهبونو نه علاوه د حنفي مذهب یوه ډله ددې خلاف ده او دیته بدعت وائي، او فریق مقابل وائي چه داطریقه په اوچت آواز لوستل جائز اودثواب باعث دي صحابه کرام او مجتهدینو امامانو هم دا عمل کړیدې او دویمه ډله دیته بدعت او ناجائز وائي نو آیا (۱) مروجه درود اوسلام په جماتونو کښې په ولاړه اجتماعي طریقې سره په اوچت آواز وئیل چه باقي مسلمانان په تلاوت، تسبیحاتو او مونځ وغیره کښې مشغول وي نو دا جائز دي که نه؟ (۲) مروجه درود او سلام څه فرض، واجب یا سنت او مستحب دي؟ (۳) که دیو مکتب فکر والا په جمات کښې دا کارونه کیږي نو دویم مکتب فکر والا چه ددوي مخالف دي په زوره باندې د جمات قبضه کولو کوشش کول جائز دي یا نه؟

المستفتي: عبد القیوم ملک سنده ټنډو آدم.... یکم ۱فروري ۱۹۷۵ء

الجواب: مروجه صلاة وسلام بدعت اومکروه دي ځکه چه دیکښې د مونځ گذارو ضرر رساني او التزام د هغه څیز دي چه هغه پخپله لازم نه دي.

کما فی ردالمحتار ص ۶۱۸ جلد ۱ اجمع العلماء سلفاً وخلفاً علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم علی قائم او مصل او قارئ الخ وانکر الله تعالیٰ علی من التزم الاتیان من ظهور البیوت وکذا انکر عبدالله بن مسعود علی من التزم الانصراف عن الیمین (بخاری)

او خاص طور سره چه کله پکښې د فساد خطره هم وي نو بیا به په طریقه اولی سره ممنوع وي. ونظیره ترک النبي ﷺ بناء البیت علی بناء ابراهیم علیه السلام لاجل قریش کانوا اسلموا حدیث فافهم رواه مسلم. وهوالموفق

نن صبا عرسونه د بې دینۍ او منکراتو سبب جوړیږي

سوال: آیا د ایصال ثواب دپاره د وعظ محفل، قرآن خواني او ذکر وغیره کښې واقعي خلق په شرکت سره گمراه اوبې دینه کیږي؟ چه یو راسخ العقیده او د حنفي مسلک صحیح مسلمان سړې چه په عرسونو کښې ترینه خلاف شریعت کار ښکاره نه شي دهغه دپاره عرس کښې تلل څنگه دي؟

المستفتي: غلام حسین سرهیری.... ۲ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: ددیوبند اوسهارنپور علماء د عرس کولو نه متنفر دي اگرکه پکښې امربالمعروف او نهی عن المنکر کیږي. ځکه چه د کوم عرس اختیار د بې علمه خلقو سره وي نو یوه ورځ به خامخا په هغې کښې ټنگ ټکور، د حاضر ناظر عقیده، د پیغمبر ﷺ د بشریت انکار. خلاف شریعت اشعار وئیل او شیطاني جذبات وغیره نور منکرات شروع شي. وهوالموفق

د جمات محراب پورې بدن مږل

سوال: بعضې خلق د جمات د محراب پورې ځان مږي چه موجوده جسماني نقصانونه لرې شي. او په دې حرکت باندې بنده بعضې د جماتونو امامان هم لیدلي دي ددې شرعي حیثیت څه دي؟

المستفتي: عبد الحمید ایس وي درازنده ډیره اسماعیل خان ۱۴۱۲۱۱۹۷۳

الجواب: که د علاج دپاره وي نو توهم پرستي ده.او که د تبرک دپاره وي نو بې اصله او بې بنیاده خبره ده.فقط

د ثواب په نیت باندې سورة مُلک د جمعې په شپه وئیل

سوال: سورة مُلک د جمعې په شپه د ثواب په نیت سره وئیل څه حکم لري؟ چه سړې ئې وائي او نور خلق ئې اوري؟ بینواتوجروا

المستفتي: نامعلوم... ۱۲۲شوال ۱۳۸۹ھ

الجواب: دا تخصیص بلا مخصص دي لهذا ددینه بچ کیدل پکار دي. یدل علیه مافي البحر ص ۱۵۹ جلد۲ ولان ذکر الله اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئ دون شئ لم یکن مشروعاً حیث لم یرد الشرع به. وهوالموفق

یا رسول الله اغثني وئیل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه بنده د دربار موهره شریف کوه مرې کښې بیعت دې هغه خلق ختم خواجگان او وائي په آخره کښې یا اَغثني یا رسول الله وائي. آیا دا جائز دی؟

المستفتي: محمد رازق مانیرئ ضلع صوابي.... ۱۹۱۳۱۱۹۷۴

الجواب: که دا الفاظ په دې عقیدې سره وئیلې کیږي چه پیغمبر ﷺ تسلط غیبي (من حیث العلم والقدرة) لري نو کفر او شرک دي.اوکه صرف د عشق او محبت په وجې سره وئیلې کیږي نو کفر خو نه دې لیکن عوامو دپاره ددینه پرهیز ضروري دي. وهو الموفق

الَّذِیۡنَ یَذۡکُرُوۡنَ اللّٰهَ
قِیٰمًا وَّقُعُوۡدًا وَّعَلٰی جُنُوۡبِهِمۡ
وَیَتَفَکَّرُوۡنَ فِیۡ خَلۡقِ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ۚ
رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ هٰذَا بَاطِلًا ۚ
سُبۡحٰنَکَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۹۱﴾

کتاب
الذکر والدعا والصلوۃ
علی النبی صلی اللہ علیہ وسلم

كتاب الذكر والدعا والصلوة على النبى ﷺ

د ډوډئ خوړلو نه پس په جمعي سره دُعا جائز ده

سوال: که د چا په کور کښې د ډوډئ خوړلو نه پس په جمع سره دُعا او کړیشي نو آیا دا جائز ده بعضې خلق دیته بدعت وائي. که جائز وي نو قرآن او حدیث کښې ددې څه ثبوت دې؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

الجواب: دچا ډوډئ خوړلو نه پس دعا کول جائز دي.

یدل علیه ما فی اطعمة ابوداؤد ﴿۱﴾ و ان کان صائما فلیدع و فی باب الدعاء لرب الطعام عن جابر بن عبدالله قال صنع ابوالهیثم بن التیهان للنبی ﷺ طعاما فدعا النبی ﷺ و اصحابه فلما فرغوا قال اثیبوا اخاکم قالوا یا رسول الله ﷺ وما اثابته قال ان الرجل اذا دخل بیته فاکل طعامه و شرب شرابه فدعوا له فذالک اثابته﴿۲﴾

کوموعلماؤ چه ددې نه منع کړیده نو کیدیشي د هغوي مراد التزام وی. فافهم

د سنتونه پس درې ځله دعا کول او قبرونوباندې ګلونه شیندل اوتبرکات تقسیمول

سوال: (۱) یو خطیب صاحب د سنتو نه روستو درې ځلې په جمع سره دعا کوي او د هغې نه پس په زروه باندې ان الله و ملائکته الایــة وائي او روستو ورپسې خلق درود شریف وائي دا عمل د شریعت په رڼړا کښې څنګه دې؟

المستفتي: محمد نذیر خټک لانډي کراچي....۵۱۸۱۱۹۷۹

﴿۱﴾ عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ بمعناه زادفان کان مفطرا فلیطعم وان کان صائما فلیدع.

(ابو داؤد ص ۱۶۹ جلد ۲ باب ما جاء فی الاجابة الدعوة کتاب الاطعمة)

﴿۲﴾ (سنن ابی داؤد ص ۱۸۲ ج ۲ باب فی الدعاء لرب الطعام کتاب الاطعمه)

الجواب: (۱) د سنتو یا فرضونه پس دعا کول جائزدی ﴿۱﴾ اګرکه درې ځلې وي ﴿۲﴾ البته التزام ئې ممنوع دې﴿ ۳﴾ کومو حضراتو چه درې ځلې دعا ممنوع ګڼړلې ده، هغه هم دالتزام د وجې نه دې. (۲) دیوبندیت صحیح حنفیت دې او په قواعد حنفیه باندې فاتحه خواني کول جائزدی او ګلونه کیښودل جائز دی.﴿ ۴﴾ او ګلپاشي ددنیا والو رسم دې او ممنوع دې او د تبرک تقسیم نه مطلوب دې نه ممنوع دې. او مجموعي حیثیت سره دا کارونه دیوبندیت دپاره شرم دې. فقط

د پنجپیریانو اومخالف فریق په مینځ کښې په اختلافی مسئلوکښې فیصله .

سوال: مونږ پنجپیریان وایو چه د مړي په کور کښې درې ورځو پورې خیرات خوړل په شریعت کښې نشته او مکروه دي او فریق مخالف ورته جائز وائي. (۲) په درود تاج کښې د دافع البلاء والوباء والقحط والمرض والالم وئیل ځمونږ په نزد ناجائز او د فریقِ مخالف په نزد جا ئز دي. (۳) د سنتو نه پس په هیئتِ اجتماعي سره دعا کول د رسول الله ﷺ صحابه کرام او مجتهدینو نه ثابت نه ده مونږ دا په دین کښې نوې کار ګڼړو. او فریق مخالف ورته مستحب وائي. (۴) د جنازې دَمونځ نه پس سمدستي جنازه او چتول ځمونږ په نیزد جائز دي او د دعا دپاره ایساریدل نشته دا ځمونږ په نیزد بدعت او ناروا دي او فریقِ

﴿۱﴾ قیل یا رسول الله ﷺ ای الدعاء اسمع قال جوف اللیل الاخر و دبر الصلوٰت المکتوبات.

(مشکواة المصابیح ص ۸۹ جلد ۱ باب الذکر بعد الموت)

﴿۲﴾ جاء النبی ﷺ البقیع فقام فا طال القیام ثم رفع یدیه ثلاث مرات ثم انحرف.

(مسلم شریف ص ۳۱۲ جلد ۱)

﴿۳﴾ قال الملا علی قاری من اصرّ علی امر مندوب و جعله عز ما ولم یعمل با لرخصة فقد اصاب منه الشیطان من الاضلال.

(مرقاة المفاتیح علی مشکواة المصابیح ص ۵۳ جلد ۲)

﴿۴﴾ قال فی الهندیه وضع الورد والریاحین علی القبور حسن وان تصدق بقیمة الورد کان احسن کذا فی الغرائب.

(الفتاویٰ العالمگیریه ص ۳۵۱ جلد ۵ الباب السادس عشر فی زیارة القبور وقرأة القرآن فیه)

مخالف ئې د صفونو ماتولو نه پس جائز وائي. (۵) وسيله په ذوات فاضله سره څمونږ په نيزد ناجائز ده او د فريقِ مخالف په نيزد باندې جائزَ ده. (۶) څمونږ په نيزد مړي د ژوندو خلقو خبرې اورې د فريق مخالف په نيزد اود پنجپيريانو په نزد باندې نه اورى.

څمونږ د پنجپيريانو د سخطې

امير عبد المجيد ملک دين خيل، مولوي نقيب محسن کناړي، مولوي محمد زکريا کناړي. مولوي سيد حضرت عبدالمالک اکاخيل، سمرګل قمبر خيل

د فريق مخالف د سخطې

مولوي باغي ګل صاحب ملک دين. خيل، مولوي غلام علي صاحب ملک دين خيل مولوي علي خان اکاخيل، مولوي محمد خان صاحب قمبر خيل.

د سوالونو په ترتيب جوابونه

(۱) د مړي والؤ د طرفنه په مسکينانو باندې خيرات کول هر وخت جائز دي او درسم ورواج پابندي هر وخت ناجائز ده. او دعوت او ضيافت تر درې ورځو پورې ناجائز دي. (ما خوذاز ردالمحتار ص ۸۴۱ جلد ۱) هنديه ص ۳۸۰ جلد پنځم

﴿۱﴾ (۲) په پيغمبر عليه السلام باندې دَ دافع البلاء والوباء والقحط والمرض (اطلاق کول په دې معني سره چه الله تعالى دده په دعا او توسل سره تکليفونه لرې کوي جائز دي. ﴿۲﴾ او که په دې معنى سره وي چه دې الله تعالى مسلط کړى.

﴿۱﴾ قال ابن عابدين ويكره اتخاذ الطعام فى اليوم الاول (والثانى) والثالث وبعدالاسبوع وفيهامن كتاب الاستحسان وان اتخذ طعاما للفقراء كان حسنا. (مخلصا) (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۶۶۴ جلد ۱ مطلب فى كراهة الضيافة من اهل الميت) وفى الهنديه ولايباح اتخاذ الضيافة ثلاثة ايّام فى ايام المصيبة واذا اتخذلا بأس بالا كل منه كذافى خزانة المفتين وان اتخذ طعاما للفقراء كان حسنا اذا كانت الورثة بالغين. (هنديه ص ۳۴۴ جلد ۵ الباب الثانى عشرفى الهدايا والضيافات كتاب الكراهية)

﴿۲﴾ قال الشيخ المفتى الاعظم محمد فريد صاحب دامت بر كاتهم: اعلم ان التوسل قسمان شركى وشرعى الاول ما ذكره الله تعالىٰ فى قوله: ما نعبدهم الا ليقربونا الى الله زلفىٰ (الزمر) اى العبادة لغير الله تعالىٰ ليقربه وحاجاته الى الله والثانى ما لايكون كذلک وله اقسام متعددة الاول التوسل بالايمان الى الغفران كما فى قوله تعالىٰ ربنااننا آمنّا فاغفرلنا ذنوبنا (آل عمران) انا آمنا بربنا ليغفرلنا خطايانا وما اكرهتنا عليه من السحر (طٰه) ولا شک فى جوازه والثانى التوسل باعمال نفسه لقضاء حاجاته الدنيوية كما روى البخارى فى حديث الغار ان اهل الغار توسلوا با عمالهم الصالحة من العصمة من الزنا الخ ...... والثالث التوسل باعمال غيره لقضاء الحاجات كما فى قوله تعالىٰ وكان ابوهماصالحا (الكهف) حيث حفظ الله خزانة اليتيمين لاجل صلاح ابيهما ...... والرابع التوسل با الدعاء الخ (رسالة التوسل ص ۲ فى آخر منهاج السنن ص ۳۲۲ جلد ۴)

او مقرر کړې دې نو ناجائز او شرک دې. خو دا خبردې واضحه وى چه دا درود غير ماثور دې او خواص ددې نه مستثنى دي او عوامو دپاره د شک ځيز دې نو احتياط په نه وئيلو کښې دې. البته صحيح عقيدې والا سړي دپاره ددې، وئيل شرک، حرام يا مکروه نه دي. (۳) پيغمبر عليه السلام په هيئت اجتماعي سره دعا نه ده کړې نه دَ فرضو نه پس او نه د سنتو نه پس. نه د اللهم انت السلام وئيلو په وخت کښې او نه په نورو ذکرونو او دعاګانو وئيلو وخت کښې البته د استسقاء په وخت کښې ئې کړې ده. (رواه البخاري)

يعني د رسول الله صلى الله عليه وسلم فعل په ديکښې نشته البته د حديث څولې نه دواړو جواز ثابت دې. متصل فرائض وهو مختار البقالي ومال اليه اكثر الاكابر او د سنتو نه پس وهو مختار جمهور الاحناف كما في شرح شرعة الاسلام واليه ميلان صاحب البحر والخلاصة و مراقي الفلاح وغيرهم. نو په دې کښې د واړو طرفونوته ګنجائش شته دې. خو التزام کول بدعت دې که د فرضونو نه پس وي او که د سنتو نه پس وِي ليکن د التزام او دوام په مينځ کښې فرق ضروري دې. ﴿۱﴾

(۴) د جنازې د مونځ نه پس دعا کول جائز دي بدعت نه دې چه کله د صفونو ماتيدونه پس وى. ځکه چه کومو فقهاؤ اومفسرينو دا ممنوع ګرځولې ده نو اکثرو دليل ترک کړې اوبعضو دليل کړې دې چه په دې دعا کښې زيادت على الجنازه او تکرار د جنازې سره تشبيه ده. او د صفونو ماتيدونه پس بغير شک شبهې نه دا تشبيه نشته. نو کراهيت به هم نه وى. اودا خبره دې پته نه وى چه هيڅ يو فقيه ددې دکراهيت دليل نه دې ذکرکړې. چه په خيرالقرون کښې دا معمول نه وو. دا سلفى دليل دې حنفى دليل نه دې.

﴿۱﴾ قال الشيخ المفتى الاعظم محمد فريد: اعلم ان النبى صلى الله عليه وسلم لم يدع على وجه الهيْة الا جتماعية بعد الصلوٰة ولا بعد المكتوبات ولا بعد السنن الرواتب ومن ادعى فعليه حوالة الحديث .... نعم دعا على هذاالوجه فى الخطبة رواه البخارى من حديث انس .... واختلف مشائخنا فى تعين الافضل كما فى شرح شرعة الاسلام ويغتنم الدعا بعد المكتوبه قبل السنة علىٰ ما روى البقالى المعتزلى فى الاصول الحنفى فى الفروع كصاحب الكشاف .... وبعد السنن والاوراد على ما روى عن غيره وهو المشهور المعمول فى زماننا ...... ورجح اكثر الفقهاء خلافه قال صاحب البحر ...... صاحب خلاصة الفتاوىٰ ...... والاشباه والنظائر ...... وابن الهمام فى فتح القدير ...... والعلامة الشامى فى ردالمحتار .... وصاحب مراقى الفلاح وتمامه.

(فى منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۷۵. ۱۷۶. ۱۷۷ جلد ۲ باب ماجاء فى الانصراف عن يمينه وعن يساره) وايضاالتفصيل فى المقالات للشيخ محمد فريد دامت بركاتهم.

(۵) توسل بالصالحين جائز او مشروع دي البته په توسل بالصالحين کښې توسل بالذات من حيث الذات (حيوان ناطق) مرادنه دي، ذات د نيک او بد ټولو يوشان دي توسل بالمحبة، بالشركة، بالدعا، بالعمل او بالوصف مراد وي. ﴿۱﴾

(۶) د نزدې نه په سماع موتی کښې سلفاً او خلفاً اختلاف را روان دي احناف هم په دې کښې مختلف دي. كما في فتح القدير، البته د دلائلو په رنړا کښې سماع حق ده قرآن ددې نه چپ دې او احاديث په دې ناطق دي وهو المختار عند ابن تيميه وابن القيم وابن الكثير، نو په دې معامله کښې سختي کول مناسب نه دی. ﴿۲﴾ وهو الموفق

په ګټکو سره ذکر کول او التزام د مالا يلزم

سوال: څمونږ ځائې کښې يو امام د سحر مونځ نه پس په اجتماعي ګټکو باندې ذکر کوي او دا لازمي او ضروري ګڼړي او مقتديانو باندې ئې هم وائی او دويم امام په دې ګټکو باندې ذکر نه کوي او نه ئې لازمي ګڼړي نو په دې دواړو کښې کوم يو په حقه دې او کوم يو پسې مونځ کول بهتر دي. دارنګې په ګټکو باندې وئيل د نبي كريم ﷺ ياصحابه كرام رضي الله عنهم نه ثابت دي يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: غلام حيدر شينه باغ کيملپور اټک............ ۱۴ صفر ۱۳۹۲ء

الجواب: په ګټکو باندې ذکر کول جائز دي، لماروا ه ابو داؤد عن سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه

﴿۱﴾ (والتفصيل فی رسالة التوسل الملحق بمنهاج السنن شرح جامع السنن ص ۳۲۲ جلد ۴)

﴿۲﴾ شيخ الحديث مفتي اعظم محمد فريد مدظله العالي فرمائيلي دي! د سماع الموتی متعلق په اهل علمو کښې سلفاً او خلفاً اختلاف راروان دي. ابو طلحه، حضرت ابن عمر رضي الله عنه پيغمبر عليه السلام نه روايت د سماع موتی کړيدي كما في مغازی صحيح البخاري. او دغه شان عبدالله بن مسعود او عبدالله بن سيدان رضی الله عنهما د نبي كريم ﷺ نه روايت د سماع الموتا کړې دي. كما في فتح الباري ص ۳۰۳ جلد ۷ عن الطبراني. او حضرت عائشه رضي الله عنها د سماع الموتا نه انکار کړيدي او د موتا دپاره ئې د علم او ادراک اثبات کړيدي. كمافي مغازي صحيح البخاري. او بعضې علماؤ فرمائي چه حضرت عائشه رضي الله عنها د خپل قول نه رجوع کړيده په دليل د حديث د امام احمد او محمد بن اسحاق د عائشه رضي الله عنها نه چه په دې حديث کښې د سماع اثبات موجود دې پشان د ابو طلحه رضي الله عنه، كمافی الفتح ص ۳۰۴ جلد ۷) الیٰ آخره بالتفصيل فی المقالات. (المقالات ص ۸۲ بحث سماع الموتیٰ)

مرفوعا وعن ابي هريره رضي الله عنه موقوفا ﴿۱﴾ البته دا ضروري او لازم ګڼړل او په نه کونکو باندې بدرد وئيل نا جائز دي. ﴿۲﴾

لان اهتمام الشئی فوق المقدار المشروع بدعة يدل عليه قوله تعالیٰ ادخلوا فی السلم كافة ﴿۳﴾ و انكار الله تعالیٰ على من التزم دخول البيوت من ظهورها ﴿۴﴾ وحديث عبدالله بن مسعود رضی الله عنه. ﴿۵﴾ فقط

نوټ: مبتدع او فاسق پسې اقتداء كول مكروه تحريمي ده. ﴿۶﴾ وهو الموفق

د تپوس کونکي په دويم ځل د تپوس کولو جواب

الجواب: په ګټکو باندې د ذکر کولو تشريع دا حاديثونه ثابت ده.

روی ابو داؤد والترمذی والنسائی و ابن حبان والحاكم و قال صحيح الاسناد انه دخل مع رسول الله ﷺ على امرئة و بين يديها نویً او حصی تسبح به الحديث ﴿۷﴾ و كذا رواه ابو داؤد موقوفا و فی الدر المختار لا بأس باتخاذ المسبحة ﴿۸﴾

لهذا په دې سره به فی نفسه ذکر کول جائز دي خو بې شکه ددې التزام به په کولو يانه کولو کښې قبيح وي ﴿۹﴾ او هم په دې اصل باندې به د امامت کراهت او عدمِ کراهت بنا کيږي. فقط

﴿۱﴾ عن سعد بن ابی وقاص انه دخل مع النبی ﷺ علیٰ امرأة وبين يديهانوی او خصی تسبّح به فقال الااخبرک بما هو ايسر عليک من هٰذا ا فضل سبحان الله عدد ما خلق فی السماء وسبحان الله عدد ما خلق فی الارض وسبحان الله عدد ما بين ذالک وسبحان الله عدد ما هو خالق والله اكبر مثل ذالک والحمد لله مثل ذالک ولااله الا الله مثل ذالک ولا حول ولاقوة الا بالله مثل ذالک رواه الترمذی وابو داؤد قال الترمذی هذا حديث غريب. (مشكواة المصابيح ص ۲۰۱ جلد ۱ باب ثواب التسبيح)

﴿۲﴾ قال ابن نجيم ولان ذكر الله تعالیٰ اذا قصدبه التخصيص بوقت دون وقت او بشئٍ دون شئ لم يكن مشروعا حيث لم يرد الشرع به لانه خلاف المشروع. (البحر الرائق ص ۱۵۹ جلد ۲ باب العيدين)

﴿۳﴾ (پاره: ۲ سورة: البقره ركوع: ۸ آيت: ۲۰۷)

﴿۴﴾ (پاره: ۲ سورة: البقره ركوع: ۷ آيت: ۱۸۸)

﴿۵﴾ (رواه الدارمی ص ۶۱ جلد ۱)

﴿۶﴾ قال الحصكفی ويكره امامته ...... فاسق...... ومبتدع ای صاحب بدعة. (الدرالمختار ص ۴۱۴ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۷﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۸۱ جلد ۱ مطلب الكلام على اتخاذ المسبحة باب ما يفسد الصلواة......)

﴿۸﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۴۸۱ جلد ۱ مطلب الكلام على اتخاذ المسبحه باب ما يفسد الصلواة......)

﴿۹﴾ قال ابن عابدين ان المباح يطلق علیٰ متعلق الاباحة الاصلية كما يطلق على متعلق الاباحة الشرعية ......والمباح غير مطلوب الفعل و انما هو مخير فيه.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۷۸ جلد ۱ مطلب ان الاصل فی الاشياء الاباحة كتاب الطهارة.)

په قبر باندې د خاورو اړلو نه پس او تعزیت د پاره راتلونکو ته لاس اوچتول او دعا کول

سوال: په قبر باندې خاوره اچولو نه پس دعا کول څنګه دي؟ او تعزیت د پاره د راتلونکو لاس اوچتول او دُعا کول څنګه دي؟

المستفتي: مدرسه عربیه مدینة العلوم جنړانواله میاں والي ۳۰\۵\۱۴۰۱ھ

الجواب: د مړي ښخولو نه پس دعا غوښتل مشروع دي. لحدیث ابي داؤد وغیره كان النبي ﷺ اذا فرغ من دفن المیت وقف علیه فقال استغفروا لاخیكم واسئلوا له بالتثبت فانه الآن یسئل ﴿۱﴾ البته د مونځ نه بهر هغه دعا ځاني چه په هغې کښې لاسونه اوچتول روایت شوي نه وي. په هغې کښې لاس اوچتول نه ممنوع دي او نه مطلوب دا جائز ګرځول زیات قوي دي د ناجائز ګرځولو په نسبت لكون رفع الایدي من آداب الدعاء. ﴿۲﴾ او دغه شان د تعزیت په وخت کښې د لاسونو اوچتولو حکم هم دې. وهو الموفق

چاته د مغفرت دعا کولو سره د حق ختمیدو او یو بل ته بخښش کولو سره د ذمې د براءت تحقیق

سوال: (۱) د زید بکر سره لین دین وو، په دیکښې زید د بکر نه څه پیسې یا زمکه هم قبضه کړې ده. اوس زید مړ شوې دې او بکر د زید د دُعا د پاره راغلې او په تعزیت کښې ئې وئیل چه دُعا اوکړئ چه الله تعالی زید ته مغفرت نصیب کړي لیکن زړه ئې نه غوختل چه مغفرت ئې اوشي نو آیا په دې زباني وئیلو سره د بکر هغه حق چه په زید باندې وو ساقط شی؟ (۲) خالد او عامر دواړه

﴿۱﴾ ابو داؤد ص ۴۰۳ جلد ۲ باب الاستغفار عند القبر للمیت فی وقت الانصراف.

﴿۲﴾ شیخ مفتی اعظم محمد فرید دامت برکاتهم فرمائی چه د دعا کولو ډیر آداب دی چه دهغې دخیلې درجې موافق رعایت کول ډیر اهم دی دواړه لاسونه اوچتول کمافی البیهقی یرفع یدیه فی الدعاء، لیکن په مانځه کښې به عام طور سره لاسونه نه اوچتوی، کمافی ابن ابی شیبة ان رسول الله ﷺ لم یكن یرفع یدیه حتی یفرغ من صلاته (مقالات ص ۲۶ المقالة الثالثة فی الدعا) او ددې تائید د ابوداؤد د کتاب الجهاد د حدیث نه هم کیږی:

عن سهل ابن سعد قال قال رسول الله ﷺ ثنتان لا تردان او قل ما تردان الدعاء عند النداء وعند البأس حین یلحم بعضه بعضا قال موسیٰ.........قال وقت المطر. (ابوداؤد ص ۳۵۱ جلد ۱ باب الدعاء عند اللقاء کتاب الجهاد) وایضاً عن مالک بن یسار قال قال رسول الله ﷺ اذا سألتم الله فاسئلوه ببطون اكفكم ولا تسئلوه بظهورها وفی روایة ابن عباس قال سلوا الله ببطون اكفكم و لا تسألوه بظهورها فاذا فرغتم فامسحوا بها وجوهكم رواه ابوداؤد. (مشكواة المصابیح ص ۱۹۵ جلد ۱ کتاب الدعوات)

کمره کښې او سیږي خالد د عامر نه غلا کړیده کله تیل، کله چائې وغیره یو کال پس خالد عامر ته اووئیل چه اوس جدائي او فراق دې یو بل ته به بخنه کوؤ. عامر اوئیل ما تاته بخښنه کړیده لیکن عامر ته دده هغه مخصوص څیز نه وو معلوم نو آیا په دې صورت کښې به مغفرت اوشی؟

المستفتي: نا معلوم متعلم دار العلوم حقانیه............۲۵ رجب\۱۴۰۵ھ

الجواب: (۱) په بخښنه کولو او دعا د پاره د بخښنې په دې کښې د زمکې او اسمان هومره فرق دې. (۲) دې مسئله کښې اختلاف دې البته د مفتي به قول په بناء باندې بخشش کیږي.

كما فی شرح الفقه الاكبر ص ۱۲۷ لملا علی قاری و فی الخلاصه قال لآخر حللنی من كل حق هو لک ففعل فابرءه ان كان صاحب الحق عالما به برئ حكما و دیانة و ان لم یكن عالما به برئ حكما بالاجماع و اما دیانة فعند محمد لا یبرء و عند ابی یوسف یبرء و علیه الفتویٰ انتهی و فیه انه خلاف اختاره ابو اللیث و لعل قوله مبنی علی التقویٰ. و هو الموفق

اجتماعي طور سره په زوره ذکر، درود شریف وغیره لوستل

سوال: (۱) خوب، ریا، نه علاوه ذکر بالجهر جائز دې که نه.؟ (۲) بعضې خلق ذکر بالجهر ته بدعت وائي او منع کوي ئې قول فیصل څه دې؟ (۳) د اجتماع په طور ذکر بالجهر چه د یو بل زړونو ته انوارات منتقل شي. او خپل مینځ کښې شوق او رغبت پیدا شي ددې څه حکم دې؟ (۴) د جمع مونځ کښې سلام نه پس په زوره باند یو څو ځلې کلمه طیبه، استغفار یا ذکر اذکار منقوله څنګه دي بدعت خو به نه وي؟ (۵) درود شریف، صل علي نبینا صل علي رسولنا صل علی محمد. او د زړه د شوق نه وائي چه زړه ته ئې مزه راشی او شوق ئې پیدا شي دا جائز دي که ناجائز؟ (۶) د فتاوي رشیدیه حواله ده چه څمونږ مشرب د صاحبینو قول دې دیته ذکر بالجهر وائي که نه؟

المستفتي: مولوي رفیع محمد هنګو کوهاټ

الجواب: (۱) ذکر بالجهر جائز دي چه ریا او بل ته تکلیف رسولو نه خالی وی بیا خیر دي که په هیئت اجتماعي سره هم وي.

کما فی رد المحتار فی باب احکام المساجد عن الامام الشعرانی ﴿۱﴾ واما الهیئة الاجتماعیه فیدل علیها ماروا ه الترمذی عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اذا مررتم بریاض الجنة فارتعوا قالوا و ما ریاض الجنة قال حلق الذکر ﴿۲﴾ و ما رواه مسلم قال خرج معاویه علی حلقة فی المسجد و فی آخره ان الله یباهی بکم الملائکة. ﴿۳﴾

(۳) دا تحریک دعلاج دپاره صحیح دي اوپخپله مسنون نه دي. (۴) د جاهلانو خلقو په نیزد باندي سنت د رسول الله ﷺ د فعل پوري خاص دي او حال دادي چه سنت د فعل، قول او تقریر دریوارو نوم دي. دهغوي په نزد خو به پرتوک اغوستل او پښتو اردو کښې د قران ترجمه کول هم بدعت وي. (۵) که دا درود او سلام د ریا ایذاء نه خالي وي او د اهل بدعت شعار هم نه وي نو په دي باندي انکار کول هم یو منکر کار دي. ﴿۵﴾ (۶) په ټولو فروعو کښې دفقه حنفي اتباع ضروري ده. وهو الموفق

د سحر دَ مونځ نه پس بغیر د التزام نه په ګډکو باندي کلمه شریفه او درود شریف وئیل جائز دي

سوال: سحر مونځ چه اوشي نو دعا نه پس چه څوک تلل غواړي هغوي ځي څه کسان فارغه وی، کینی په ګول ګول ګټو باندي درود شریف او کلمه شریفه وائی،

﴿۱﴾ قال ابن عابدین وفی حاشیة الحموی عن الامام الشعرانی اجمع العلماء سلفا وخلفا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم اومصل او قارئ الخ
ردالمحتار هامش الدر المختار ص۴۸۸ جلد ۱ مطلب فی رفع الصوت بالذکر باب احکام المساجد)

﴿۲﴾ (مشکواة المصابیح ص۱۹۸ جلد ۱ باب ذکر الله عزوجل والتقرب الیه)

﴿۳﴾ مشکواة المصابیح ص ۱۹۸ جلد ۱ باب ذکر الله عز وجل والتقرب الیه)

﴿۴﴾ قال ابن عابدین ان الجهر افضل لانه اکثر عملا ولتعدی فائدته الی السامعین ویوقظ قلب الذکر فیجمع همه الی الفکر و یصرف سمعه الیه ویطرد النوم ویزید النشاط.
(ردالمحتار هامش الدر المختار ص۴۸۸ جلد ۱ مطلب فی رفع الصوت بالذکر باب احکام المساجد)

﴿۵﴾ قال ابن عابدین بان ذالک یختلف باختلاف الاشخاص والاحوال کما جمع بذالک بین احادیث الجهر والاخفاء بالقراءة ولا یعارض ذالک حدیث خیر الذکر الخفی لانه حیث خیف الریاء او تأذی المصلین او النیام فان خلاهما ذکر فقال بعض اهل العلم ان الجهر افضل. الخ
(ردالمحتار هامش الدر المختار ص۴۸۸ جلد ۱. مطلب فی رفع الصوت بالذکر باب احکام المساجد)

آیا داسي ښه دي که بد؟ ددې متعلق منع یا جواز چرته د یو کتاب په حوالې سره اولیکئ؟

المستفتی: غلام حسین بازار کیملپور اټک

الجواب: بغیر التزام نه جائز او دثواب کاردې خوپه دې شرط چه داعمل د تخصیص او تقیید په عقیده سره نه وي بلکه صرف د ذکر په حیثیت باندې ئې کوي.

یدل علیه مافی البحر لانّ ذکر الله اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئ دون شئ لم یکن مشروعا انتهٰی. ثم قال بعد و لکن لو کبر لانه ذکر الله یجوز و یستحب و فیه ایضا امام یعتاء فی کل غداة مع جماعته قراءة آیة الکرسی و آخر البقرة و شهدالله و نحوله جهرا لا بأس به. ﴿۱﴾ فقط

په لاؤډ سپیکر باندې تلاوت او تراویح کول

سوال: بعضې حافظان په تراویح کښې قرآن مجید په لاؤډ سپیکر باندې وائي. حال دادي چه بغیر لاؤډ سپیکر نه هم مقتدیان اوریدیشي د محلې والا او په کورونو کښې د مونځ کونکو په مونځ کښې کافي خلل راځي ددې شرعي حکم څه دې؟

المستفتي: حافظ عطاءالله مدرسه عربیه قلات بلوچستان ۲۸شوال۱۴۰۲

الجواب: په لاؤډ سپیکر باندې قرآن لوستل او ختم کول بذات خود نه مطلوب دي او نه ممنوع. البته د تکلیف رسولو په صورت کښې ممنوع دي.
کما في الحموي عن الامام الشعراني وفي الشامية ص ۲۱۸ ج۱ مصرح (۲)
دارنګې چه یو سړې ته د ګانو بجانو او ریکاډنګ وغیره نه تکلیف نه وي او په لاؤډ سپیکر باندې قرآن وئیل ورته تکلیف ورکوي نو دا د تعجب قابله خبره ده. وهو الموفق

﴿۱﴾ (البحر الرائق ص ۱۵۹ جلد۲ .باب العیدین)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین اجمع العلماء سلفا وخلفا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم اومصل اوقارئ الخ
(ردالمحتار هامش الدر المختار ص۴۸۸ جلد ۱ .مطلب فی رفع الصوت بالذکر باب احکام المساجد)

د جمعې د مونځ نه فوراً پس ذکر بالجهرَ کول

سوال: دلته څمونږ ځائې کښې یو مسئله باندې اختلاف دې چه د جمعې د مونځ دوه رکعته کولو نه پس سمد ستې په زوره سره کلمه طیبه او درود شریف وئیل څنګه دې؟ او د ذکربالجهر کولو والاسړې څه حکم دې؟ او بله دا چه ذکربالجهر کول واجب دې که سنت یامستحب دې عقلی اونقلی دلائلو سره جواب ښائسته کړئ؟

المستفتی:محمد سفارش علی هائي سکول ګلهړه ګلي مری ١٥ صفر ١٩٨٩ھ

الجواب: په ذکر بالجهر کښې دعلماؤ اختلاف دې د بعضو په نزد جائز دې او د بعضو په نیزد ناجائز دې او راجح قول د جواز دې خو په دې شرط چه چرته مونځ کونکې او خوب والا کس ته ترې نه تکلیف نه دې.

وفی الحموی عن الامام الشعرانی اجمع العلماء سلفا و خلفا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهر هم علی نائم او مصل او قارئ الخ ﴿١﴾ (رد المحتار ص٦١٨ ج١)

او په قرآن مجید کښې د ذکر بالجهر نه منع نه ده راغلې او په کومو حدیثی روایتونو کښې چه راغلې ده هغه منع تحریمي نه ده بلکه ترحمي او ارشادی ده.(٢)

د ایذاء او ریا نه خالي ذکر بالجهر جائز دې

سوال: د ذکربالجهر څه حکم دې؟ مهرباني اوکړئ جواب راکړئ.

المستفتي:نذیر محمد قریشي نجرا پنډي ګهیپ اټک..١٧رجب١٤٠٢ھ

الجواب: ذکر بالجهر چه د ایذاء او ریا نه خالي وي نو جائز دې.

کما فی رد المحتار ص ٦١٨ ج ١ و فی حاشیة الحموی عن الامام الشعرانی اجمع العلماء سلفا و خلفا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم او مصل او قارئ الخ ﴿٣﴾ انتهیٰ قلت و یؤ یده مارواه البخاری عن ابن عباس رضی الله عنهما انهم کانوا لا یعرفون انقضاء الصلاة الا بالجهر بالذکر اوکما قال .﴿٤﴾ و هو الموفق

﴿١﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص٤٨٨جلد ١ .مطلب فی رفع الصوت بالذکر باب احکام المساجد)

﴿٢﴾قال ابن عابدین بان ذالک یختلف با ختلاف الاشخاص والاحوال کماجمع بذالک بین احادیث الجهر والاخفاء با لقراءة ولایعارض ذالک حدیث خیر الذکر الخفی لانه حیث خیف الریاء اوتأذی المصلین او النیام فان خلاهما ذکر فقال بعض اهل العلم ان الجهر افضل الخ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص٤٨٨ جلد ١ .مطلب فی رفع الصوت بالذکر باب احکام المساجد)

﴿٣﴾(ردالمحتارهامش الدرالمختارص٤٨٨جلد ١ .مطلب فی رفع الصوت بالذکرباب احکام المساجد)

﴿٤﴾عن ابی معبد مولی ابن عباس اخبره ان ابن عباس خبره ان رفع الصوت بالذکر حین ینصرف الناس من المکتوبة کان علی عهد النبی ﷺ وقال ابن عباس کنت اعلم اذاانصرفوابذالک اذاسمعته.(صحیح البخاری ص١١٦ جلد ١ .باب الذکر بعد الصلوٰة)

د مرشد ذکر بالجهر د پاره حلقه جوړول

سوال: یو مرشد د سحرد َمونځ نه پس د ځان نه ګیر چاپیره حلقه جوړه کړي او ذکر بالجهر کوی او حلقې والؤ ته هم دذکر بالجهر حکم کوي. او دغه وخت کښې تلاوت، درود شریف او مونځ کونکو ته د بهر وتلوهم وائي او وائي چه دا د مونځ او تلاوت وخت نه دې دا د ذکر وخت دې لیکن دا ذکر دومره په زوره سره کوي. چه هلته کښې مونځ کول ناممکن وي او که ورته وائي چه ذکر لږ په قلاره کوئ نو وائي چه د ذکهر بالجهرمنع کونکې کافردې او دلیل داپیش کوي چه درې مونځونه په جهر ولې دي. او دویم دلیل دا وائي چه واذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتو لعلکم ترحمون،، نو آیاپه دې طریقې سره ذکر جائز دې؟

المستفتي:قاري فضل عظیم اکبر پوره نوشهره پیښور.... ٢٢\٣\١٩٧٣

الجواب: ذکربالجهر اګرچه في نفسه جائزدې لیکن دایذاء په وجې سره ناجائز وي: یدل علیه مافی رد المحتار ص ٦١٨ ج ١ و فی حاشیة الحموی عن الامام الشعرانی اجمع العلماء سلفا خلفا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد و غیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم او مصل او قارئ الخ ﴿١﴾ فقط

په لاوډ سپیکرباندې جهري ذکرته بکواس وئیل او په دې د تنبیه کولو والا حکم

سوال: یو سړې په لاؤډسپیکر باندې په زوره زوره کلمه ونیله نو یو سړې اووئیل چه دا ئې څه بکواس شروع کړې دې.نوآیاپه دې خبرې سره هغه سړې کافرشو که نه؟ اوکوم اوریدونکې چه پرې اعتراض نه کوي. دهغوي څه حکم دې؟ او څوک چه پرې تنبیه اوکړي د هغه څه حکم دې. ؟ داسې وخت کښې مسلمان له څه کول پکار دي؟

المستفتي: سید محمد

الجواب: چونکه تکلیف والا جهر ته د بکواس وئیلو احتمال موجود دې نو په داسې سړي باندې د کفر فتوې لګول بې محله ده.﴿٢﴾ اوریدونکې د قدرت باوجودهم چُپ وي نو ګناه ګاردي.تنبیه کولو والاسړې د ګناه نه بچ شو اوهغه شرعي حکم ادا کړو. فقط

﴿١﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختارص٤٨٨جلد ١ .مطلب فی رفع الصوت بالذکرباب احکام المساجد)

﴿٢﴾قال الحصکفی اذاکان فی المسئلة وجوه توجب الکفر وواحد یمنعه فعلی المفتی المیل لما یمنعه.(الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص٣١٦ جلد٣ .باب المرتد)

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په ګټو باندې د ذکر نه منع کول په تخصیص علي وجه التشریع باندې محمول ده

سوال: د راه سنت کتاب په صفحه نمبر ۱۱۸ باندې حضرت مولانا سرفراز خان صفدر صاحب داحدیث نقل کړیدې چه دهغې نه په ګټو باندې ذکر کولو نه ممانعت معلومیږي حدیث دادې ! د حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه یوه ورځ په یو جمات باندې تیریدل او شو نو جمات کښې ذاکرینو په ډله کښې یو کس وائي سل ځلي الله اکبر اووائي، نو په حلقه کښې ناست خلق په ګټو باندې سل ځلي او وائي. بیا وائي سل ځل لا الهٰ الا الله او وایئ نوهغوي سل ځلي اووائي بیا وائي سل ځله سبحان الله او وایئ نوهغوي به سل ځلي تسبیح وئیلي. حضرت ابن مسعود رضي الله عنه اوفرمائیل تاسو په ګټو او کاڼو باندې څه وئیلي ،هغوی اووئیل مونږ تکبیر اوتهلیل او تسبیح وئیلي.هغوی اوفرمائیل تاسوپه دي کاڼو باندې خپل ګناهونه شمارئ څه ددي ضامن یم چه ستاسو دنیکو نه به هیڅ نه ضائع کیږي په تاسو تعجب دې اې د محمد صلی الله علیه وسلم امته! څومره زر په هلاکت کښې پریوځئ.تراوسه خو په تاسو کښې ډیر صحابه کرام موجود دي او تر اوسه خو دحضور صلی الله علیه وسلم جامې نه دي زړې شوې او تر اوسه پورې د هغه لوښي نه دي مات شوې نو هم په دې حالاتو کښې تاسو د بدعت دروازې کهلاؤهئ. ددې حدیث په بنا باندې د تسبیح وغیره څه حکم وی؟ بینواتوجروا

المستفتي:غلام حسین کیمل پور

الجواب: دا روایت د راه سنت مصنف د دارمي وغیره نه نقل کړې دې لیکن واضحه دې وی چه په مذکوره صورت کښې امرمنکر په ګټکو باندې تسبیح کول نه دی.لانه ثابت موقوفا ومرفوعاً بروایات صحیحة، ،او په حلقه اوجمع سره ذکر هم نه دې لثبوته في الاحادیث المرفوعة الصحاح،،او

﴿۱﴾قال ابن عابدین (هل یکره رفع الصوت بالذکر والدعاء)اقول اضطرب کلام البزازیة فنقل اولا عن فتاویٰ القاضی انه حرام لما صح عن ابن مسعود انه اخرج جماعة من المسجد یهللون ویصلون علی النبی صلی الله علیه وسلم جهراًوقال لهم ما اراکم الامبتدعین ثم قال البزازی وما روی فی الصحیح انه علیه السلام قال لرافعی اصواتهم با لتکبیر اربعوا علی انفسکم انکم لن تدعوا اصم ولا غائباً انکم تدعون سمیعاً بصیراً قریباًانه معکم الحدیث یحتمل ان لم یکن للرفع مصلحة فقد روی انه کان فیه غزاة ولعل رفع الصوت یجر بلاء (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

منکر صرف تعین هم نه دې.لانه ثبت منه تخصیص الخمیس للتذکیر، بلکه دا انکار به په تخصیص علي وجه التشریع یا سدباب باندې محمول کولی شي.او په ظاهره ددې مراد دا معلومیږي چه منکر په ګټو باندې شمارل دي لیکن دا د نورو روایتونو سره معارض دې نو په ټولو روایتونو باندې د نظر اچولو نه پس حکم کول پکار وي نه داچه یو روایت باندې نظر کولو نه پس دې فیصله اوکړې شي.فقط ﴿۱﴾

په ګټکو باندې کلمه یا درود شریف وئیل

سوال: روازانه د سحر مونځ عموماً او یا چرته بل مقرر وخت باندې دګټکو په ذریعې سره کلمه شریفه یا درود شریف وئیل څنګه دي؟

المستفتي:ماسټر غلام محمد ماړي کنجور

کیمل پوراټک ۱۲۵ذي قعده ۱۳۸۸ھ

الجواب: د بعضې صحابه کرامو رضي الله عنهم نه انکار مروي دې لیکن داحادیث نبویه او بعضِ آثارو نه جواز معلومیږي لهذا دا جائز دي لکه څنګه چه د لرګي په تسبیح سره جائز دي.﴿۱﴾ فقط

(بقیه حاشیه ګزشته صفحه)والحرب خدعة ولهذا نهی عن الجرس فی المغازی واما رفع الصوت بالذکر فجائز کما فی الاذان والخطبة والجمعة والحج وقد حرر المسئلة فی الخیریه وحمل ما فی فتاویٰ القاضی علی الجهر المضر وقال ان هناک احادیث اقتضت طلب الجهر واحادیث طلب الاسرار والجمع بینهما بان ذالک یختلف با ختلاف الاشخاص والاحوال فالاسرار افضل حیث خیف الریاء او تاذی المصلین اوالنیام والجهر الفکر ویصرف سمعه الیه ویطرد النوم ویزید النشاط.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۸۲جلد ۵ کتاب الحظر والاباحة)

وایضاًفی ردالمحتار .لا بأس با تخاذ المسبحة.........ودلیل الجواز ما رواه ابو داؤدو الترمذی والنسائی وابن حبان والحاکم وقال صحیح الاسناد عن سعد بن ابی وقاص انه دخل مع رسول الله صلی الله علیه وسلم علی امرأة وبین یدیها نوی او حصاً تسبح به فقال اخبرک الخ

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۸۱جلد ۱ مطلب الکلام علی اتخاذ المسبحه)

وایضاً ما رواه الترمذی عن انس قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا مررتم بریاض الجنة فارتعوا قالوا وما ریاض الجنة قال حلق الذکر.مشکواة المصابیح ص۱۹۸ جلد ۱ باب ذکر الله عز وجل والتقرب الیه)

﴿۱﴾قال ابن عابدین والمشهور شرعاً اطلاق السبحة بالضم علی النافلة قال فی المغرب لانه یسبح فیها ودلیل الجواز مارواه ابوداؤد والترمذی والنسائی وابن حبان والحاکم وقال صحیح الاسناد عن سعد بن ابی وقاص انه دخل مع رسول الله صلی الله علیه وسلم علی امرأة وبین یدیها نوی او حصا تسبح به ....الخ مثل ذالک فلم ینهها عن ذالک وانما ارشدها الی ماهو ایسر وافضل ولو کان مکروهالبین لهاذالک ولا یزید السبحة علی مضمون هذا الحدیث الاّ بضم النوی فی خیط ومثل ذالک لایظهر تاثیره فی المنع فلا جرم ان نقل اتخاذها والعمل بها عن جماعة من الصوفیة الاخیار وغیرهم الخ

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۸۱جلد ۱ .مطلب الکلام علی اتخاذ المسبحة)

د اخترد َ مونځ نه پس دعا غوښتل مباح دی

سوال: د اختر دَمونځ نه پس دعا غوښتل څنګه دي وضاحت او کړئ؟

المستفتي: سراج الدين حقاني ډوميل جهلم......۳ذي الحجه۱۴۰۲ھ

الجواب: داختر دَمونځ نه پس دعا غوښتل نه مطلوب شرعي دي او نه ممنوع شرعي دي. يو مباح کار دي او هر مباح د خارجي عوارِضو په وجې سره کله حرام کيږي او کله واجب کيږي. ﴿۱﴾ فقط

دعدم ايذاء په وخت کښې په جمات کښې ذکر بالجهر جائز دي

سوال: آيا په جماعت کښې ذکر بالجهر مکروه تحريمي دي چه په هغه وخت کښې نه څوک مونځ کوي او نه څه بل نقصان وي اګرچه بهتر خو په پټه باندې دي ليکن جهراً ولې حرام دي؟ په دليل سره مطلع کړې ممنون او فرمايئ.

المستفتي: حکيم عبد الرزاق هري پور هزاره...۱۹۱۳۱۱۹۲۹:

الجواب: په جهر في المسجد کښې اختلاف دي راجح دادې چه کله اوده يا مونځ ګذار ته تکليف نه وي نو جائز دي.

في حاشية الحموی عن الامام الشعرانی اجمع العلماء سلفا خلفا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغيرها الا ان يشوش جهرهم علی نائم او مصلی او قارئ ﴿۲﴾ فقط

﴿۱﴾قال ابن عابدين والمباح غير مطلوب الفعل وانما هو مخير فيه .(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۸۷جلد ۱.مطلب المختار ان الاصل فی الاشياء الاباحة)

وايضاً فی تقريرات الرافعی (امامانص علی اباحته او فعله عليه السلام فلاينفع)فيه ان ما نص الشارع علی اباحته اوفعله تثبت الاباحة فيه بان الاصل فی الاشياء الاباحة ونص الشارع او فعله انما افاد حقيقة تقرير الثابت بالاصل .(تقريرات رافعی ص ۱۶ جلد ۱کتاب الطهارة)

وعن ام عطية قالت امرنا ان نخرج الحيض يوم العيدين وذوات الخدور فيشهدن جماعة المسلمين ودعوتهم تعتزل الحيض الخ(مشکواة المصابيح ص ۱۲۵ جلد ۱ باب صلواة العيدين)

﴿۲﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۴۸۸ جلد ۱ مطلب فی رفع الصوت بالذکر فی المساجد باب احکام المساجد)

په تراويح کښې الصلوة بر محمد په زوره وئيل

سوال: دَځلور رکعته تراويح مونځ نه پس د اودريدو په وخت کښې الصلوة برمحمد ﷺ په زوره وئيل صحيح دي که نه؟ بينواتوجروا

المستفتي: صوفي محمد سخي محمد چتال سهګل آباد جهلم۱۰۱۳۱۱۹۲۹

الجواب: د التزام مالايلزم د وجې نه بدعت دي. ﴿۱﴾ فقط

د ذکر او درود نه د منکر امامت اودَ دعانه د منکرمسئله

سوال: داسې کسان چه د فاتحې دعا او درود شريف مخالف وي داسې کس امام جوړول جائز دي؟ دارنګې په ګټکو باندې درود وئيل او په ښکاره باندې وئيل په دې کښې څه نقصان دي؟

المستفتي: شاه ميډيکل هال کيمل پور.........۵شوال۱۳۹۵ھ

الجواب: کوم کسان چه د ماثور درود نه منکر وي هغوی امام مه جوړوئ. او که د درود په وجه تکليف رسولو ته بد وائي يادخلاف شرع درودوئيلو نه منکروی نودَهغه په امام جوړولو کښې څه مسئله نشته. دارنګې ددعا نه منکر او په دعا باندې د التزام نه منکر دي دواړو کښې فرق دي اولنې د امامت قابل نه دي او دويم د امامت قابل دي. اوګټکو باند ذکر وغيره جائز او مسنون دي﴿۱﴾ البته دحد نه زيات په زوره وئيل او جهر کول داقسم کارونه ناجائز دي. فقط.

﴿۱﴾قال ابن عابدين لا يمنع من ذکر الله تعالیٰ فی وقت من الاوقات بل من ايقاعه علی وجه البدعة..........وبان تخصيص الذکربوقت لم يرد به الشرع غير مشروع.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۶۱۳ جلد ۱ باب العيدين)

﴿۲﴾قال ابن عابدين لا بأس باتخاذ المسبحة ،والمشهورشرعاًاطلاق السبحة بالضم علی النافلة قال فی المغرب لانه يسبح فيها ودليل الجواز ما رواه ابوداؤدو الترمذی والنسائی وابن حبان والحاکم وقال صحيح الاسناد عن سعد بن ابی وقاص الخ..........فلم ينهها عن ذالک وانما ارشدها الی ما هو ايسر وافضل ولو کان مکروها لبين لها ذالک ولايزيد السبحة علی مضمون هذا الحديث الا بضم النوی فی خيط ومثل ذالک لايظهر تاثيره فی المنع الخ(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۸۱جلد ۱ مطلب الکلام علی اتخاذ المسبحة)

وايضاً فی ردالمحتار اجمع العلماء سلفاً وخلفا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغيرها الا ان يشوش جهرهم علی نائم او مصل او قارئ الخ(ردالمحتار ص۴۸۸ جلد ۱ مطلب فی رفع الصوت بالذکر)

په درود ماثور او غیر ماثور کښې او ذکر خفي او جهري کښې کوم یو غوره دي

سوال: ذکر بالجهر غوره دي یا ذکر خفی؟ دارنګې کوم درود شریف چه په احادیثو کښې راغلي هغه غوره دي او که د خپل طرفنه درود شریف وئیل؟ بینوا توجروا. المستفتي: نامعلوم ....

الجواب: کوم ځائي کښې چه شرعاً جهر مطلوب نه وي هلته اخفا غوره ده البته جهر جائز دي په دې شرط چه تکلیف رسول پکښې نه وي﴿١﴾ (ردالمحتار وغیره) او چه ماثور درودونه ډیر موجود وي نو غیر ماثور ته څه ضرورت دې لیکن ددې سره که مضمون ئي صحیح وي نو لوستل ئي جائز دی. فقط

د(الحمد لله رب السموات والارض رب العالمین الخ) دعا سند

سوال: د یو څیز د سند تپوس کول غواړم د هغې متعلق روایت دي چه ددې ویونکې به د مور پلار حقوق ادا کونکو نه وي تسبیح دا دې. بسم الله الرحمن الرحیم الحمد لله رب السموات والارض رب العالمین وله النور في السموات والارض وهو العزیز الحکیم. ددې متعلق لږ تحقیق اوکړئ او جواب راکړئ چه آیا دا حدیث مبارک دې یا څه بل څه دي؟

المستفتي: محمد غفار فقیر آباد پښاور...١٩ رجب ١٣٨٩ھ.

الجواب: د مناسب تلاش باجود هم دا دعا په حدیث نبوي کښې ملاؤ نه شوه کیدیشي چرته د یو بزرګ ارشاد وي.

د اذان نه پس لاس اوچتول او دعا کول

سوال: د اذان نه پس دعا کښې لاس اوچتول غوره دي یا لاس اوچتولو نه بغیر په زړه کښې دعاغوښتل غوره دي. په دې کښې د علماؤ څه اختلاف دې؟

المستفتي: مثل زاده تر لاندي صوابي....١٢١٥١١٩٦٩

﴿١﴾قال ابن عابدین اجمع العلماء سلفاً وخلفاً علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم اومصل او قارئ الخ
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص٤٨٨ جلد ١ مطلب فی رفع الصوت بالذکرباب احکام المساجد)

الجواب: په دې دُعا کښې لاس اوچتول یا ددې نه منع یو هم ثابت نه دي خو بهتر داده چه لاس دې اوچت نه شي او په لاس اوچتونکي باندې دې انکار هم اونه کړې شی. وهوالموفق

اسم اعظم د الله تعالی نوم دي

سوال: اسم اعظم څه څیز دي؟

المستفتي: محمد عارف اسماعیله مردان ١٩١٨١١٩٧٧:

الجواب: اسم اعظم د الله یو نوم دي چه د هغې په وجې سره دعا قبلیږي. وهوالموفق

درود تاج لوستل

سوال: په درود تاج کښې چه کوم الفاظ دي دافع البلاء والوباء نه واخلي والاحد پورې مذکور دي بعضې صاحبان وائي چه دا صفت صرف د الله دي نو ددې وجې نه ئي لوستل صحیح نه دي ددینه شرک پیدا کیږي. آیا دا صحیح ده؟

المستفتي: سید فداءالرحمان پرائمري سکول شبقدر فورټ چارسده ١٢١١٠١١٩٧٢

الجواب: درود تاج په دې عقیدې سره وئیل چه پیغمبر علیه السلام الله تعالی د مصیبتونو ختمولو دپاره مقرر کړې دې دا شرک دې او حرام دي. او د یو صحیح العقیده سړي دپاره چه دهغه عقیده وي چه الله تعالی دده په دُعا او توسل سره مصیبتونه وغیره ختموي نو دا جائز دي لیکن درود ماثور پریخودل او غیر ماثور وئیل د انصاف نه لرې خبره ده. وهوالموفق

توسل په ذوات الانبیاء والاولیاء او د دیوبند مسلک

سوال: علمائې دین ومفتیان شرع متین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه توسل په ذوات الانبیاء کښې د جمهوراهل سنت والجماعت مسلک څه دې؟ دَ دیوبندیانو حضراتو په دې کښې څه مسلک دې او ددې منکر دیوبندي دې یا نه؟

المستفتي: اهالیان ایبټ آباد ضلع هزاره....٢٢١٦١١٩٦٩

الجواب: د دیوبند ټول اکابرین د توسل بالصالحین قائل دی مثلاً حضرت ګنګوهي، مولانا تهانوي رحمهما الله وغیره (اوګورئ المهند) توسل بالصالحین نجدیه سلفیه ډله نه مني لیکن د قرآن او حدیث نه ئې جواز ثابت دي.(۱) که ضرورت وي نو بیا دلائل هم غوښتلي شي. فقط

صلاة وسلام لوستل

سوال: صلاة وسلام لوستل څنګه دي، بعضې خلق دیکښې مختلفې خبرې کوي؟
المستفتي: محمد آمین تله ګنګ کیمل پور

الجواب: په نبي کریم ﷺ باندې صلوة او سلام وئیل عبادت دي که اذان نه پس وي او که د اذان نه مخکښې وي په دیکښې یو هم منع نه دې البته په التزام سره لوستل (۲) او په جهر باندې مونځ ګزار وغیره ته تکلیف رسول (۳) او په حضور ﷺ باندې حاضر ناظر عقیدې سره لوستل ممنوع دي. وهو الموفق

---

(۱) التوسل بمحبة الصالحين قال الله تعالىٰ و كانوا من قبل يستفتحون على الذين كفروا. (بقره) ذكر السدى انهم كانوا اذا اشتد الحرب بينهم و بين المشركين اخرجوا التوراة و وضعوا ايديهم على موضع ذكر النبى ﷺ و قالوا اللهم انا نسئلک بحق نبيک الذى وعدتنا ان تبعثه فى آخر الزمان ان تنصرنا اليوم على عدونا. فينصرون (روح المعانى ص ۳۲۰ جلد ۱)
(۲) التوسل بشركة الصالحين: قال الله تعالىٰ و ما كان الله ليعذبهم و انت فيهم. (الانفال) (۳) التوسل باعمال الصالحه والجاه للصالحين: قال الله تعالىٰ و كان ابو هما صالحاً (الكهف) (۴) التوسل بالاعمال و القرابة للصالحين: قال الله تعالىٰ و الذين آمنوا و اتبعتهم ذريتهم بايمان الحقنا بهم ذريتهم. (سورة الطور) (۵) التوسل باعمال نفسه و طاعتها: قال الله تعالىٰ و ابتغوا اليه الوسيلة ۰ (المائدة)

(۲) قال ابن نجيم و لان ذكر الله تعالى اذا قصد به التخصيص بوقت دون وقت او بشئى دون شئى لم يكن مشروعاً حيث لم يرد الشرع به لانه خلاف المشروع. (البحر الرائق ص ۱۵۹ جلد ۲ باب العيدين)

(۳) قال ابن عابدين و فى حاشية الحموى عن الامام الشعرانى اجمع العلماء سلفاً و خلفاً على استحباب ذكر الجماعة فى المساجد و غيرها الا ان يشوش جهرهم على نائم او مصل او قارئ الخ (رد المحتار هامش الدرالمختار ص ۴۸۸ جلد ۱ مطلب فى رفع الصوت با ب الذكر باب احكام المساجد)

د ځان نه جوړ شوې درود شریف لوستل

سوال: څمونږ په جمات کښې عموماً د جمعې په ورځ باندې امام صاحب د خطبې د اذان نه مخکښې د حمد او ثنا نه پس د مسلمانانو د شوق د پاره د سیرت پاک فضیلت بیانوي درود شریف په زور باندې وائي او خلق هم وائي، درود دادې (صل علي سیدنا صل علي محمد، صل علي شفیعنا صل علي محمد، صل علي رحیمنا، صل علي محمد، صل علي نور نا صل علي محمد، بعضې خلق دیته بکواس وائي. مونږ د صحیح صورتحال نه خبر کړئ؟
المستفتي: نامعلوم..........۱۳محرم ۱۳۹۷ھ

الجواب: خبر شئ چه د درود خو د ساخته دې وئیل ئې جائز دي خو غوره نه دي. او کله کله یو جائز او مباح څیز هم د خارجي عوارضو د وجې نه ممنوع ګرځي، او درود ماثور انفرادي طریقې سره لوستل د هر څۀ نه غوره کار دي البته چرته یو جائز درود ته بکواس وئیل بکواس دي. وهو الموفق

د درود تاج د موهم الفاظو مناسب تاویل

سوال: (۱) د درود تاج دالفاظ د پیغمبر علیه السلام په شان کښې وئیل څنګه دی؟ دافع البلاء والوباء والمرض والقحط والالم (۲) او په دې درود شریف کښې دا الفاظ هم دي، نور، من نورالله، یعني د الله تعالی دنور نه یو نور دې که د دې الفاظ مناسب تاویل وي نو اولیکئ او ثواب دارین حاصل کړئ؟
المستفتي: شمس الحق سرکي اټک....۵محرم۱۴۰۳ھ

جواب: (۱) تاويله ان الله تعالىٰ يدفع بدعائه و بركته القحط وغيره
(۲) و تاويل نور من نور الله ان نور الله مبدءه لا انه مادته
ملاحظه: هذه الصلاة ليست ماثورة و مع ذالک هى موهمة للعوام و مستغنى عنها الخواص و يدل عليه اختلاف طبائع الناس. و هو الموفق

درود تاج د موهم کیدو په وجه لوستل د شک باعث دي

سوال: دَ درود تاج، دا الفاظ د پیغمبر علیه السلام په شان کښې عقیدتاً یا بغیر عقیدې نه وئیل څنګه دی؟ چه دا فع البلاء والوباء والمرض والقحط والالم، او دا الفاظ چه نور من نور الله.

المستفتي: شمس الحق سرکي تحصیل وضلع اټک ۲۲ ذي الحجه ۱۴۰۲ھ

الجواب: درود لوستل لوئي عبادت دې البته دا کوشش مناسب دې چه ماثور درود اووئیلې شي غیر ماثور نه. او درود تاج د پیغمبر علیه السلام او سلف صالحینو نه غیر ماثور دې لهذا د خواصو دپاره دا وئیل او ماثور پریخودل د شک باعث دي. او د صحیح العقائد عوامو دپاره هم د موهم کیدو په وجه د شک باعث دي. (چه هغوي د پیغمبر علیه السلام د تسلط قائل نه وي دارنګې د ذات خدا وندي د ماده مخلوق کیدو معتقد نه وي او په دې الفاظو کښې دا تاویل کوي چه الله تعالی د پیغمبر په دعا او توسل سره بلا ګانې دفع کوي. (۱) او الله تعالی مبداء دَمخلوق دې نه ماده)، وهو الموفق

د اهل بدعتو د ذکر وصلاة نه اجتناب ضروري دي

سوال: (۱) ځمونږ د علاقې خوا او شا کښې مبتدعین خلق ذکر او درود شریف په زوره زوره د قوالئ او ګانې په شکل کښې کوي آیا دا طریقه صحیح ده؟ (۲) د آذان نه مخکښې او روستو د صلاة وسلام وضاحت هم او کړئ؟

المستفتي: مولانا ولي الرحمان مدرسه تعلیم القرآن بالاکوټ مانسهره ۱۷۱۱۹۸۵

الجواب: (۱) ذکر بالجهر جائز دې اګر که په هیئت اجتماعي سره وي. په دې شرط چه د اوده او مونځ ګزاره د تکلیف نه خالي وي. کما في ردا لمحتار ۶۱۸ ج۱ عن الامام الشعراني (۲)

﴿۱﴾ قال ابن عابدين عن السبكى يحسن التوسل با لنبى الى ربه و لم ينكره احد من السلف ولا الخلف الا ابن تيمية فا بتدع مالم يقله عالم قبله. (ردالمحتار ص ۲۸۱ جلد ۵ فصل فى البيع كتاب الحظر و الاباحة)

﴿۲﴾ قال ابن عابدين عن الامام الشعرانى اجمع العلماء سلفاً و خلفاً على استحباب ذكر الجماعة فى المساجد و غيرها الا ان يشوش جهرهم على نائم او مصل او قارى الخ (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۴۸۸ جلد ۱ مطلب فى رفع الصوت با لذكر باب احكام المساجد)

البته چه کوم ذکر د اهل بدعت شعار وي د هغې نه دَ صحیح العقیده سړي اجتناب ضروري دي. (۲) صلوة او سلام غوره عبادت دې مګر د مروجو مبتدعینو شعار قطعاً بدعت دې د هغې نه احتراز په دې طریقې سره لازم دې. قال علیه السلام من احدث في امرنا هذا ماليس منه فهو رد. (۱)

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته فرښتې درود شریف رسوي

سوال: کوم درود شریف چه مونږه وایو دا د الله تعالی محبوب حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم پخپله اوري یا فرښتې ئې ورته رسوي؟

المستفتي: محمد سلیم اعوان فیروز سنز لیبارټریز نوشهره ۱۰ ربیع الثاني ۱۳۹۲ھ

الجواب: په صحیح حدیثو نو سره دا امر ثابت دې چه د لرې نه لوستلي شوي صلوة او سلام فرښتې هغوي ته رسوي (۲) او دا خیال چه د لرې نه ئې هم پیغمبر علیه السلام پخپله اوري د حدیث نه مخالف دې او امام زرقاني لیکلي دي چه دا خبره په خطیبانو کښې مشهوره ده لیکن د دې څه اصل نشته، وهو الموفق.

په درود شریف کښې د مفرد دَضمیر مرجع

سوال: یو مولوي صاحب فرمائي چه اللهم صل علي سیدنا ومولانا محمد وعلی ال سیدنا ومولانا محمد وبارک وسلم علیه که چا دا درود اولوستلو نو دا درود غلط دې ځکه چه دلته. علیه. ضمیر مفرد دې او د ضمیر نه مخکښې دوه ځیزونه ذکر دي محمد صلی الله علیه وسلم او ال. نو د تثنیې ضمیر پکار دې نو د دې خبرې څه جواب دې چه واقعي دا درود شریف غلط دې؟

المستفتي: حافظ محمد شفیع.... ۱۰۱۱۰۱۱۹۷۲

الجواب: دا ضروري نه ده چه ضمیر دې ټولو مذکوراتو ته راجع کړې شي او بله دا چه د کل واحد تاویل په دې کښې جاري کیدیشي. وهو الموفق

﴿۱﴾ متفق عليه (مشكواة المصابيح ص ۲۷ جلد ۱ باب الاعتصام با لكتاب و السنة)

﴿۲﴾ عن ابن مسعود قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان لله ملائكة سياحين فى الارض يبلغونى من امتى السلام. رواه النسائى و الدارمى. (مشكواة المصابيح ص ۸۶ جلد ۱ باب الصلوة على النبى صلی الله علیه وسلم وفضلها)

چا ته تکلیف رسولو نه خالي جهري ذکر جائز دي

سوال: که یو سړي نشیان او چرسیان د اسلام نه لرې خلق د حجرو نه اوباسي او د کلي نه بهر په صحراء کښې چاته تکلیف نه وي او څه د نیاوی غرض ئې هم نه وي او بغیر د ریا نه خالص د الله د رضا دپاره ئې د جهري ذکر دپاره راولي او هغه خلق جهري ذکر کوي نو دیکښې څه ګناه شته که نه ؟

المستفتي: محمد جمیل باغبانان ګجرات ضلع مردان..... ۱۹۷۲.۱۱.۱۰.۴

الجواب: په دې جهري ذکر کښې چاته ایذا ء او تکلیف نشته نو دا جائز دي.
فی حاشیة الحموی عن الامام الشعرانی اجمع العلماء سلفا خلفا علیٰ استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم او مصل او قارئ (رد المحتار ص ۴۴۴ ج ۱) قلت الذکر بالجماعة مشروع لحدیث مرفوع رواه الترمذی وغیره واما الموقوف فلا یعارض المرفوع فلا بد من التاویل فی الموقوف. ﴿۱﴾ وهوالموفق

د الله تعالی نه براه راست یاوسیلې سره دعا غوښتل جائز دي

سوال: د بعضې خلقو خیال دي چه د خپلو حاجتونو او مرادونو دپاره د اولیاء الله قبرونو ته تلل او دعا کول ضروري دي چه اې فلانکیه اخماد پاره د الله تعالی نه دا سوال اوکړه. ددې خلقو دا خیال دي چه مونږ براهِ راست د الله تعالی نه سوال نه شو کولې ځکه چه مونږ ګناه ګار یو لیکن د یوې ډلې خیال دي چه داسې کول صحیح نه دي. بلکه الله تعالی نه هر څوک هر وخت او هر حالت کښې براهِ

﴿۱﴾ قال ابن عابدین جاء فی الحدیث ما اقتضی طلب الجهر به نحو وان ذکر نی فی ملأ ذکرته فی ملأ خیر منهم رواه الشیخان و هنا ک احادیث اقتضت طلب الاسرار و الجمع بینهما بان ذلک یختلف باختلاف الاشخاص و الاحوال کما جمع بذلک بین احادیث الجهر و الاخفاء با لقراء ة و لا یعارض ذلک حدیث خیر الذکر الخفی لانه حیث خیف الریاء او تأذی المصلین او النیام فان خلا مما ذکر فقال بعض اهل العلم ان الجهر افضل لانه اکثر عملاً و لتعدی فائدته الی السامعین و یوقظ قلب الذاکر فیجمع همه الی الفکر و یصرف سمعه الیه و یطر د النوم و یزید النشاط. (ردالمحتار علی الدر المختار ص ۴۸۸ جلد ۲ مطلب فی رفع الصوت با لذکر)

راست سوال کولې شي. په دې دواړو کښې د چا قول صحیح دي. په اسلامي نقطه نظر سره وضاحت اوکړئ؟

المستفتي: حضرت جمال ګورنر اکاؤنټنټ برانچ
ګورنر هاوس پېښور ۲۲ رمضان ۱۴۰۵

الجواب: د قرآن او حدیث په رڼا کښې الله تعالی نه براهِ راست سوال کول بې شکه جائز دي چه هغه قریب او مجیب دي. او دَ نورو په وسیله سره هم کول جائز دي، ﴿۱﴾ البته د چا په نیزد چه سماعِ موتی ثابت نه وي د هغوي په نیزد د وفات شوو اولیاؤ په وسیلې سره دُعا کول یو عبث اقدام دي. او دا نور ټول په ټوله باندې منکرات او بدعات دي. وهوالموفق

په کټ کښې په ملاسته یا ناسته باندې درود شریف وئیل

سوال: د درود شریف متعلق خبرراکړئ چه آیا کټ کښې ناسته یا ملاسته باندې ددې د وئیلو جواز شته یا نه ؟

المستفتي: جلال الدین ایډوکیټ ظهیر آباد مرج منډي پېښور ۱۹۸۵.۱۲.۱۰.۲۱

الجواب: درود شریف په یو حالت کښې هم ممنوع نه دې ﴿۲﴾ په ملاسته او ناسته وئیل په حدث اصغر او حدث اکبر کښې وئیل ټول جائز دي په قران او حدیث کښې دَ درود شریف وئیلو بلا تقید اجازت شوې دې. البته د قرآن شریف د تلاوت منع د جنابت په حالت کښې راغلي ده. او د ملاستې په حالت هم کله چه سر په څادر وغیره کښې پټ وي دا هم فقهاؤ منع کړې دي. ﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال ابن الهمام و یسئل الله حا جته متوسلاً الی الله بحضرة نبیه ثم قال یسأل النبی ﷺ الشفاعة فیقول یا رسول الله اسأ لک الشفاعة یا رسول الله اتوسل بک الی الله. (فتح القدیر ص ۳۳۷ جلد ۲)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین و مستحبة فی کل اوقات الامکان ای حیث لا مانع و نص العلماء علی استحبابها فی مواضع یوم الجمعة ولیلتها الخ
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۸۳ جلد ۱ مطلب نص العلماء علی استحباب الصلاة علی النبی)

﴿۳﴾ وفی الهندیه لا بأس با لقراء ة مضطجعاً اذا اخرج راسه من اللحاف لا نه یکون کا للبس و الا فلا کذا فی القنیه. (فتاوی العالمگیریه ص ۳۱۶ کتاب الکراهیة)

الصلوة والسلام علیک یا رسول الله ویل

سوال: علمائي دين دي مسئلي باره کښي څه فرمائي چه زمونږ په علاقه کښي په رمضان شريف بعضي ځايونو کښي الصلاة والسلام عليک يارسول الله په زوره وئيلي کيږي چه خلق پيښمني له راپاسي نوآيا دا درود شريف وئيل جائزدي؟

المستفتي: مولوي الله داد ګلستان پشين بلوچستان....۱۹۸۹ء۱۹۱۳۱

الجواب: دا کلمات د حاضر ناظر په عقيدې سره وئيل شرک دي او د ملائکو رسولو په عقيدې سره خوجائز دي ليکن دا د اهل بدعت خلقو خاص شعاردي نو په دې حيثيت سره منع دي. ﴿۱﴾ وهوالموفق

د جماع نه مخکښي دُعا لوستل

سوال: د جماع نه مخکښي څه وئيل پکار دي او فائده به ئي څه وي؟

المستفتي: محمد حنيف پيښور.....۱۸ذي القعده ۱۴۰۲ھ

الجواب: ته د جماع نه مخکښي (اللهم جنبنا الشيطن وجنب الشيطن ما رزقتنا،، ﴿۲﴾ وايه چه دَ شيطانانو د شرکت نه محفوظ ئي.

د دُعا په باره کښي جاهلانه خبرې او په مستحباتو باندې دوام

سوال: (۱) که يو سړې دا اووائي چه د دعا ګانو څه قدر نشته د پيغمبرانو هم ډير دعا ګاني نه دي قبولي شوې نو ددې خبرې څه حکم دې؟ (۲) د دوام على المستحبات څه حکم دې؟

المستفتي: مولانا فضل ربي...۱۲۱رجب ۱۴۰۳ھ

﴿۱﴾ قال العلامه طيبى (قوله من تشبه بقوم) هذا عام فى الخلق و الحلق والشعار و اذا كان الشعار اظهر فى التشبيه ذكر فى هذا الباب. (شرح الطيبى ص ۲۱۹ جلد ۸ كتاب اللباس الفصل الثانى)

﴿۲﴾ عن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ لو ان احدكم اذا اراد ان ياتى اهله قال بسم الله اللهم جنبنا الشيطان و جنب الشيطان ما رزقتنا فانه ان يقدر بينهما ولد فى ذلک لم يضره شيطان ابداً. متفق عليه (مشكواة المصابيح ص ۲۱۲ جلد ۱ باب الدعوات فى الاوقات)

الجواب: (۱) دا جاهلانه خبرې دي﴿۱﴾ داسې خبرونه ځان بچ کول لازم دي.
(۲) مندوب او مستحب دي کما في حديث البخاري﴿۲﴾.

په خير باندې د خاتمې د پاره مفيد وظيفې

سوال: په خير باندې د خاتمې دپاره څه وظيفه او ذکر کول پکار دي چه هميشه لوستل ئي مناسب وي او څه تکليف پکښې هم نه وي؟ بينواتوجروا

المستفتي: ابن شير محمد تر لاندی مردان......۱۹۲۹/۱۱/۱۵/۱۲

الجواب: آية الكرسي، تسبيحاتِ فاطمي او تشهد وغيره. فقط

تلاوت کول افضل او وظيفه کول انفع دی

سوال: ما د يو صاحب شريعت پير نه بيعت کړيدې او ماته ئي د يوې وظيفې کم ازکم روزانه پنځه سو ځلې د وئيلو حکم کړيدې اوما اوريدلي دي چه دټولو نه افضل ذکر قرآن پاک دې. داصحت د خرابي په وجه ځه دواړه وظيفې او تلاوت نه شم کولي اوس د شريعت په رڼا کښې وظيفه اختيار کړم که تلاوت؟

المستفتي: نا معلوم....۱۵ جنوري ۱۹۷۵

الجواب: تلاوت کول افضل دي او وظيفه کول انفع دی. فقط

﴿۱﴾ عن ابن سعيد ن الخدرى ان النبى ﷺ قال ما من مسلم يدعو بدعوة ليس فيها اثم و لا قطيعة رحم الا اعطاه الله بها احدى ثلث اما ان يعجل له دعوته و اما ان يدخرها له فى الاخرة واما ان يصرف عنه من السوء مثلها قالوا اذانكثر قال الله اكثر رواه احمد. (مشكواة المصابيح ص ۱۹۶ جلد ۱ كتاب الدعوات)

﴿۲﴾ عن عائشة ان النبى ﷺ دخل عليها و عندها امرأة قال من هذه قالت فلانة تذكر من صلاتها قال مه عليكم بما تطيقون فوالله لا يمل الله حتى تملوا و كان احب الدين اليه ما داوم عليه صاحبه. (قلت اعلم ان الدوام على الاعمال مندوب لكن التزام ما لا يلزم مذموم)

(صحيح البخارى ص ۱۱ جلد ۱ باب احب الدين الله كتاب الايمان)

قال الله تعالی

يٰۤاَيُّهَا النَّبِیُّ
اِذَا جَآءَكَ الْمُؤْمِنٰتُ
يُبَايِعْنَكَ عَلٰۤى اَنْ لَّا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْـًٔا
وَّلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِيْنَ وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ
وَلَا يَاْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ يَّفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ
وَلَا يَعْصِيْنَكَ فِیْ مَعْرُوْفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ ؕ
اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾

...

كتاب
التصوف والسلوك

...

کتاب التصوف والسلوک

د یو مرشد د رحلت نه پس بل مرشد سره بیعت

سوال: که یو مرشد وفات شي نو دویم مرشد سره بیعت کول جائز دي که نه؟ که جائز وي نو اولني مرشد کوم د دنیا نه لاړو آیا هغه په حقیقت کښې ژوندي نه دي. او هغه څمونږ مدد نشي کولې؟ برائې مهرباني د قرآن او حدیث په حوالو سره جواب راکړئ مشکور به یو.

المستفتي: عبد الغني کمپني اي پلاټون: ۲۴۱
ټرېننګ بټالین رسالپور ۲۱۱۴۱۱۹۷۰

الجواب: د یو مرشد د وفات کیدو نه پس دویم مرشد سره بیعت کول جائز دي. د ټولو مشائخو هم دا معمول پاتې شویدې شاه ولي الله رحمه الله په القول الجمیل کښې لیکي!

ان تکرار البیعة من رسول الله ﷺ ما ثور و کذلک عن الصوفیة اما من الشخصین فان کان بظهور خلل فی من بایعه فلا بأس و کذلک بعد موته او غیبته المنقطعة و اما بلا عذر فانه یشبه المتلاعب و یذهب با لبرکة و یصرف قلوب الشیوخ عن تعهده انتهی. ﴿۱﴾ (مجموعة الفتاوی مولانا لکنهوی ص ۲۱۸ جلد ۲)

لهذا دویم ځائې کښې بیعت کول بې شک شبهې نه جائز دې او د مړي نه اګر چه فیض رارسي ﴿۲﴾ لیکن په بیعت کښې فیض مقصود نه وي بلکه اصلاح او تزکیه مقصود وي چه د هغه د مړي نه نه کیږي. او د اولیاء الله د پاره چه کوم ژوند دې هغه د نیوي نه دې ګڼې نو میراث به ئې نه تقسیمدلو او د دوې د بیبیانو سره به نکاح نه جائز کیدله. او کوم مرشد چه مرید ته اووائي چه څما د وفات نه پس بل ځائې کښې بیعت مه کوه. څما نه به فیض رسیږي

﴿۱﴾ **ترجمه:** د بیعت تکرار د رسول الله ﷺ نه منقول دې او دغه شان د صوفیائې کرام نه هم، او که د دوه پیرانو نه وي نو که د څه خلل د ظاهریدو په سبب باندې وي چا سره چه ئې بیعت کړې وي نو بیا خو څه خبره نه ده. او یا د هغه د مرګ نه پس او یا داسې غائب والي نه چه پته ئې نه لګي او د ملاقات توقع ورسره نه وي او که بغیر د څه سبب او عذر نه بل ځائې هم بیعت کوی نو دا خو د لوبو سره مشابهت دې او هر ځائې کښې بیعت کول برکت ختموي. او د مرشدانو زړونه دده د تعلیم او تهذیب نه اړوي.
(شفاء العلیل ترجمه القول الجمیل للامام ولی الله الدهلوی ص ۲۹)

﴿۲﴾ **قال الامام ولي الله الدهلوی و اما الاطلاع علی نسبة اهل الله فطریقة ان یجلس بین یدیه ان کان حیا او عند قبره ان کان میتاً و یفرغ نفسه عن کل نسبة و یفضی بروحه الی روح هذا الشخص زماناً حتی یتصل بها و یختلط ثم یرجع الیٰ نفسه الخ (القول الجمیل للامام ولی الله ص ۹۷ اشغال مشائخ نقشبندیه)**

دا چرته څوک خود غرضه دنیا والا دې چه د اخلاص او تصوف نه بالکل عاري او خالي دې. فقط

د زیارت رسول او کشف قبور طریقه او د مختلفو ذکرونو ثبوت

سوال: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتة بعد آداب وتعظیم و تکریم نه معروض خدمت یم چه بنده په یو کتاب کلیات امداد په، ضیاء القلوب تصنیف د حاجي امداد الله مهاجر مکي کښې لیدلي چه د حضور ﷺ د روح مبارک د شرف ذکر د حضور ﷺ د صورت مثالیه تصور کولو سره درود شریف اووائی. او ښې طرف ته یا احمد او ګس طرف ته یا محمد او ښي طرفته یا رسول الله یو زرځل اووائي نو انشاء الله په بیدارۍ یا خواب کښې به ورته زیارت اوشي (کلیات امدادیه ص ۳۵، ۳۶) او د کشف قبور په باره کښې ئې هم په ص ۴۴۰ باندې لیکلي دي نو د مړو او ژوندو اهل الله په نسبت دریافت کولو دا طریقه کیدشي یانه؟ ضیاء القلوب ص ۵۰، ۵۱ کښې د انحضرت ﷺ د زیارت طریقه ده په هغې کښې د آنحضرت ﷺ مثالي تصور به د ښائسته سپینو جامو او شین پټکي او نوراني مخ سره کوې. (الصلوة والسلام علیک یا نبي الله، الصلوة والسلام علیک یا حبیب الله وغیره مطلب دادې چه د رسول الله تصویر مثالي او په صرف ندا سره آواز کول صحیح دي که نه؟ خو چه رسول اله ﷺ حاضر ناظر نه ګڼړي صرف په تصور مثالي او حرف نداء سره ئې رابلې او ذکر جاروب، ذکر حدا دي، سلطان الاذکار، ذکراره او د ذکر ضربونه لګول صحیح دي که نه؟

المستفتي: میاں عالمګیر ډاک اسماعیل خیل پیښور.... ۲۳ رجب ۱۳۸۹ھ

الجواب: داسې عددونو ته عملیات وائي په هغې کښې دا ضروري ده چه د شریعت نه مخالف نه وي. او په دې کښې دا ضروري نه وي چه بعینها منقول او روایت شوې وي.

والدلیل علیه ما ثبت فی غیر حدیث واحد من تغیر الرقیٰ و تقریر ها فی بعض فافهم ﴿۱﴾ ولا تکن من النجدیین.

او د یو صحیح العقیده سړي د پاره په نداء کښې هیڅ حرج نشته دې.

لانه لایعتقد النبی ﷺ حاضراً وناظراً وعالماً بالغیب و اما تصوره فلا ضیر فیه بدلیل جواز ذکر شمائله وهو لایمکن بدون التصور فتدبر. ولا تکن من المتوحدین.

او کشف قبور وغیره هم په عملیاتو کښې یو عمل دې او د اهل فن په نزد باندې مجرب او مشاهد دي ﴿۲﴾ لیکن دا امر ظني دې قطعي نه دې. نو دا به

﴿۱﴾ **عن عوف بن مالک الاشجعی قال کنا نرقی فی الجاهلیة فقلنا یا رسول الله کیف تریٰ فی ذلک فقال اعرضوا علی رقاکم لا بأس بالرقیٰ مالم یکن فیه شرک. رواه مسلم. (مشکواة المصابیح ص ۳۸۸ جلد ۲ کتاب الطب و الرقی الفصل الاول)**

﴿۲﴾ **قال العلامه ملا علی قاری وهذا الحدیث مثل قوله علیه الصلوٰة والسلام لو علمتم ما اعلم لضحکتم قلیلا و لبکیتم کثیرا. و فیه ان الکشف بحسب الطاقة و من کوشف بما لا یسعه یطیح و یهلک. (مرقاة المفاتیح شرح مشکواة ص ۳۴۶ جلد ۱ کتاب الایمان)**

لازمي نه ګڼړې کیږي. واضحه دې وي چه د تصوف د ټولو طریقو مقصود د احسان دمرتبې حصول دې. وهوان تعبدالله کانک تراه فان لم تکن تـراه فانـه یراک(۱) اود۱۹۸ ذکرونه او مراقبې چه مشائخو تلقین کړی دي دَ دې مرتبې د حصول ذریعې او اسباب دي په نورو الفاظو کښې دا معالجات دي. او علماؤ تصریح کړیده چه معالجاتو وغیره ته بدعات نشئ وئیلي کیدلې. (۲) بلکه دا په حقیقت کښې د وخت په مصلحتو نو کښې داخل دی. فقط

د پیر مخصوص الفاظ او د بزرګانو تصویرونه آویزان کول

سوال: څمونږ په علاقه کښې بعضې خلق ځانته اهل طریقت وائي او دجمعې په شپه یو ختم کوي په هغې کښې دا الفاظ وائي، امدا د کن ازا هر غمې آزادکن در دین ودنیا شاد کن یا شیخ عبدالقادر جیلاني و یا شیخ عبدالقادر شیئًا لله. او ورسره ورسره دا خلق د بزرګانو تصویرونه مخامخ په دیوالونو زوړندوي او تعظیم ئې کوي او وائې چه څمونږه طریقه د نورو طریقو نه په جُدا طرز ده. نو جناب تاسو په مسئلو کښې د ټول پاکستان ماوی وملجاء یئ نو ددې مسئلو حل سره د حوالو نه اولیکئ؟

المستفتي: قاضي فیض الرحمان سیاه بدرکني علاقه ډوګدره دیر بالا ۲۹ ربیع الاول ۱۳۹۰ھ

الجواب: که دا الفاظ د حاضر ناظر عقیدې یا د تسلط غیبی په عقیدې سره وائي نو مشرکان او کافران دي.

لما فی البزازیه من قال ارو اح المشائخ حاضرة یکفر ﴿۳﴾ انتهیٰ. و صرح ابن القیم فی مدارج السالکین ان العبادة هی عبارة عن التسلط الغیبی علماً و قدرة وصرحا الفقهاء والمتکلمو ن باختصاص علم الغیب بالله تعالیٰ (فلیراجع الی الخانیه باب النکاح و المسامره) ﴿۴﴾

او پیغمبر علیه السلام په تصویر سازئ باندې لعنت وئیلې دې او فرمائیلې دي چه کوم

﴿۱﴾ (صحیح البخاری ص ۱۲ جلد ۱ باب سوال جبرئیل النبی ﷺ عن الایمان والا سلام والاحسان)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین (البدعة) قد تکون واجبة کنصب الادلة للرد علی اهل الفرق الضالة وتعلم النحو المفهم للکتاب والسنة ومندوبة کاحداث نحو رباط ومدرسة و کل احسان لم یکن فی الصدر الاول الخ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۱۴ جلد ۱ مطلب البدعة خمسة اقسام)

﴿۳﴾ (فتاوی بزازیه علی هامش الهندیه ص ۳۲۶ جلد ۶ کتاب الفاظ تکون اسلاما او کفر او خطاء) وایضا قال ابن نجیم من قال ارواح المشائخ حاضرة تعلم یکفر. (بحر الرائق ص ۱۲۴ جلد ۵ باب احکام المرتدین) (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

ځائې کښې د جاندار تصویرونه وي هلته د رحمت فرښتې نه ځي

قال رسول الله ﷺ لا تدخل الملئکة بیتاً فیه کلب ولا تصاویر. (متفق علیه) وقال اشد الناس عذاباً عندالله المصوررون (متفق علیه) ﴿۱﴾

او په دې صورت کښې خو خاص طور سره دبت پرستئ سخته خطره موجوده ده. نو دداسې پیرانو نه هر مسلمان دپاره ځان ته ساتل ضروري دي. فقط

مستوراتو د پاره زیارة القبور اوقرآن اوعلم باندې پیرته فضیلت ورکول

سوال: (۱) د فتنو په دې زمانه کښې د زنانو دپاره قبرستان ته او داولیائې کرامو مزارونو ته تلل څنګه دي؟ او حال دادې چه قدم په قدم باندې نوې نوې فتنې د ایمان د لوټ کولو په تلاش کښې دي. (۲) که څوک داسې اووائې چه څما د پاره د قرآن نه څما پیر صاحب غوره دې، نو ددې څه حکم دې؟

المستفتي: جمعه ګل محله کرشن پوره پشاور شهر...... ۱۸\۵\۱۹۷۰

الجواب: په اصل مذهب کښې زیارة القبور د سړو او زنانو دپاره یو شان جائز دي. لعموم الحدیث الآن زوروها﴿ ۲ ﴾ لیکن مفتي به قول دادې چه د فتنو د وجې نه د زنانو له اجازت ورنکړې شي لکه چه د جمعې د مونځ دپاره ورته جمات ته د تلو اجازت نشي ورکولې. ﴿۳﴾ (۲،۳) دا سړې د جهالت د وجې نه په غُلو کښې مبتلا دې. ده دپاره توبه ضروري ده. ﴿۴﴾ فقط

بقیه حاشیه ﴿۴﴾ رجل تزوج امراة بشهادة الله ورسوله کان باطلاً لقوله ﷺ لا نکاح الا بشهود و کل نکاح یکون بشهادة الله وبعضهم جعلوا ذلک کفراً لانه یعتقدان الرسول ﷺ یعلم الغیب وهو کفر. (فتاویٰ قاضیخان علی هامش الهندیه ص ۳۳۴ جلد ۱ فصل فی شرائط النکاح)

﴿۱﴾ (مشکواة المصابیح ص ۳۸۵ جلد ۲ باب التصاویر)

﴿۲﴾ (مشکواة المصابیح ص ۱۵۴ جلد ۱ باب زیارة القبور)

﴿۳﴾ قال العلامه ابن عابدین (قوله ولو للنساء) وقیل تحرم علیهن والاصح ان الرخصة ثابتة لهن بحر وجزم فی شرح المنیة بالکراهة لمامر فی اتباعهن الجنازة وقال الخیر الرملی ان کان ذلک لتجدید الحزن والبکاء والندب علی ماجرت به عادتهن فلا تجوز وعلیه حمل حدیث لعن الله زائرات القبور وان کان للاعتبار والترحم من غیر بکاء والتبرک بزیارة قبور الصالحین فلا بأس اذا کن شواب کحضور الجماعة فی المساجد وهوتو فیق حسن. (ردالمحتار هامش الدرا لمختار ص ۶۶۵ جلد ۱ مطلب فی زیارة القبور)

﴿۴﴾ قال الله تعالیٰ ولا تزر وازرة وزر اخریٰ. (پاره: ۲۳ سورة الزمر آیت: ۸)

په کافرانو کښې اولیاء الله نشی کیدې

سوال: یو سړې وائي چه په کافرانو کښې هم اولیاء الله وي او د مولانا روم د مثنوي حواله ورکوي. آیا دا عقیده ساتل صحیح دي؟ بینوا توجروا.

المستفتي: میاں احسان الله ډاک اسماعیل خیل نوشهره پشاور ۳۰ جولائي ۱۹۷۳

الجواب: په کافرانو کښې اولیاء الله نشي کیدلې. لان الولي هو المؤمن المتقي ﴿۱﴾ قال الله تعالی الا ان اولیاء الله لا خوف علیهم ولا یحزنون ﴿۲﴾ الذین امنو او کانوا یتقون. ﴿۳﴾ په کافرانو کښې صاحبِ توجه، صاحبِ تصرف او صاحب نسبت کیدیشي لیکن د ایمان نه کیدو په وجه باندې دهغوي ټول عملونه عبث او باطل دي. ﴿۴﴾ وهو الموفق

د کامل مُرشد نه بیعت کول په قرآن اوحدیث او د اُمت د نیکانو په تعامل سره ثابت دي

سوال: د کامل مرشد نه بیعت کول جائز دي که نه؟

المستفتي: اراکین دار العلوم بحرین سوات............ ۲۱ رجب ۱۴۰۲ھ

الجواب: د ارشاد او سلوک بیعت کول جائز دي په قرآن او حدیث کښې ذکر دي او د امت صالحانو خلقو په دې عمل کړې دي. ﴿۵﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال الملا علی قاری الولی هو العارف بالله وصفاته بقدر ما یمکن له المواظب علی الطاعات المجتنب عن السیأت المعرض عن الانهماک فی اللذات والشهوات والغفلات واللهوات.
(شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۷۹ خوارق العادات والکرامات للاولیاء حق)

﴿۲﴾ (پاره: ۱۱ سورة یونس آیت: ۶۲) ﴿۳﴾ (پاره: ۱۱ سورة یونس آیت: ۶۳)

﴿۴﴾ قال الملا علی قاری واما التی تکون ای الخوارق للعادة التی توجد لاعدائه.....مثل ابلیس......وفرعون...... والدجال ای حیث وردانه یقتل شخصا ویحییه مما روی فی الاخبار ......فلا نسمیها ای تلک الخوارق ایات ای معجزات لانها مختصة بالانبیاء علیهم السلام ولا کرامات ای لاختصاصها بالاصفیاء ولکن نسمیها قضاء حاجات لهم ......لان الله تعالیٰ یقضی حاجات اعدائه استدراجاً ای مکراً بهم فی الدنیا وعقوبة لهم فی العقبیٰ......ویزدادون عصیانا ای ان کانو افجارا او کفرا ای ان کانوا کفاراً...... وذلک کله جائز ای وقوعه من الله او ثابت نقلاً وممکن ای عقلاً کما فی قضیة ابلیس ودعوته بقوله انظرنی الی یوم یبعثون واجابته بقوله سبحانه فانک من المنظرین الی یوم وقت المعلوم الخ. (شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۸۱ مایظهر من الخوارق علی ایدی بعض الکفرة والفساق)

﴿۵﴾ قال الامام ولی الله الدهلوی .قال الله تعالیٰ ان الذین یبایعونک انما یبایعون الله .ید الله فوق ایدیهم فمن نکث فانما ینکث علی نفسه ومن اوفیٰ بما عهد علیه الله فسیؤتیه اجراً عظیماً. واستفاض عن رسول الله ﷺ ان الناس کانوا یبایعونه تارة علی الهجرة والجهاد وتارة علی اقامة ارکان الاسلام وعلی الثبات والقرار فی معرکة الکفار وتارة علی التمسک بالسنة والاجتناب (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د رسمی پیر رسمی طریقې او دې پیر نه بیعت کول

سوال: محترم المقام جناب مفتي محمد فرید صاحب مفتي اعظم دار العلوم حقانیه اکوړه خټک. عرض دادې چه دلته یو پیر صاحب دې خلقو ته وظیفې ورکوی او وائي چه د ذکر په مینځ کښې په نفي او اثبات کښې د خپل پیر تصور کوئ یعنی د لا اله. نه مخکښې او الا الله. نه مخکښې. آیا دا تصور جائز دې. په تراویح کښې د اولنۍ تسبیح نه پس دا! پیر صاحب نبي طرفته متوجې شي او مرحبا مرحبا یا شهر رمضان یا شهر غفران، وغیره الفاظ وائی آیا دا طریقه د فقهې په کتابونو کښې شته؟ دا پیر تهجد ،اشراق، او د ظهر، عصر او عشاء نه مخکښې څلور سنت وغیره او نفل مونځ نه کوي. ددې پیر د لاسونو وینځلو لوخې جدا دې نو رخلق پکښې ورسره نه شي شریکیدلې. او مریدان د مصافحې په وخت کښې لاسونه ښکلول کوي او تیټیدل هم کوي او پیر صاحب خلق نه منع کوي بلکه پیر صاحب ورته جائز وائي دارنګې پیر صاحب دواړه وختونو کښې د غوښې خوراک عادت دې نو آیا دې پیرنه بیعت کول جائز دي یا نه؟

المستفتي: مولوي محمد تمر الدین لاچي کرم ایجنسي... ۳۰ شوال ۱۳۸۹ھ

الجواب: وعلیکم السلام نه پس دې واضحه وي چه دا رسمي پیر دې او جاهل هم دې دده نه بیعت نه کول ضروري دي او د بیعت شو وکسانو دپاره اجازت دې چه د بل متبع سنت پیر نه بیعت اوکړي. ﴿۱﴾ فقط

(بقیه حاشیه) عن البدعة والحرص علی الطاعات کما صح انه ﷺ بایع نسوةً من الانصار علی ان لاینحن. وروی ابن ماجة انه بایع ناساً من فقراء المهاجرین علی ان لا یسئل الناس شیئًا فکان احدهم یسقط سوطه لینزل عن فرسه فیاخذه ولا یسئل احداً ومما لا شک فیه ولا شبهة انه اذا ثبت عن رسول الله ﷺ فعل علی سبیل العبادة والاهتمام بشانه فانه لا ینزل عن کونه سنةً فی الدین.
(القول الجمیل فی بیان سواء السبیل ص ۱۳ الفصل الاول)

﴿۱﴾ قال العلامه علی قاری رحمة الله علیه الولی هو العارف بالله وصفاته بقدر ما یمکن له المواظب علی الطاعات المجتنب عن السیئات المعرض عن الانهماک فی اللذات والشهوات والغفلات واللهوات.
(شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۷۹ الکرامات للاولیاء حق)
وقالی ابن القیم الجوزیة فاولیاء الرحمن هم المخلصون لربهم المحکمون لرسوله فی الحرم والحل الذین یخالفون غیره لسنته لا یخالفون سنته لغیرها فلا یبتدعون ولا یدعون الی بدعة ولا یتحیزون الی فئة غیر الله ورسوله واصحابه ولا یتخذون دینهم لهوا ولعبا ولا یستحبون سماع الشیطان علی سماع القرآن الخ. (کتاب الروح ص ۳۲۷ الفرق بین اولیاء الرحمن واولیاء الشیطان)

د طريقت، مراقبې او ذکر واذکار ثبوت او توسل بالصالحين

سوال: (۱) د طريقت د سلسلو بزرګان چه کومې مراقبې او ذکر کوي اوښائي د صحيح حديثونو او صحابه کرامو او تابعينو نه ددې وجود ثابت نه دې نو بيا دا څنګه جائز کيدې شي حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله په يو مکتوب کښې ليکلي دي چه څمونږ په نز د باندې نه يو بدعت سئيه دې او نه حسنه دې او د تاريخ نه دامعلوميږي بلکه پخپله د حضرت د تضانيفونه معلوميږي چه هغه ددې موجد دې. نو آيا دا بدعات نه دي. ؟ د قرآن او حديث په رڼړا کښې جواب راکړئ. (۲) د اذکار او مراقبو دپاره چه کوم لطائف سبعه متعين کړې شوې دي ددې وجود د کوم ځائې نه ثابت دې؟ خواجه باقي بالله، حضرت مجدد صاحب، شاه ولي الله، او د هغوي ټول خاندان (رحمهم الله) او ددې مرتبې نور حضرات هم ددې قائل دي او حال دادې چه وجود ئې ثابت نه دې. (۳) دغه شان دُعا کول، اې الله د فلانکې بزرګ په طفيل او توسل سره څما فلانکي کار اوکړې. که ددې ثبوت د صحابه کرامو نه نقل شوو دعاګانو نه وي نو راکړئ او دغه شان د قرآن او حديث نه هم جواب راکړئ.

المستفتي: نامعلوم.........

الجواب: (۱) (الف). احسان په هرمسلمان باندې ضروري ده چه د هغې تفسير پيغمبر عليه السلام په (الاحسان ان تعبدالله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه يراک﴿۱﴾ ارشاد فرمائيلي دي. اودا مرتبه ذکر وفکرسره حاصليږي نو ددين بزرګانو چه کوم اذکار اومراقبات منتخب کړې دي. د تجربې په بنا باندې يا د کشف په بنا باندې يا د ايمان د فراست په بنا باندې﴿۲﴾ نو په حقيقت کښې دا د مشق او رياضت په طور سره منتخب شوې دي او دا په مبادي او معالجاتو کښې داخل دي چه هغې ته بدعت نه وئيلې کيږي. لکه چه د صيغو او ترکيبونو مشق کول وغيره دي. (صرح به الشاطبي)

﴿۱﴾(صحيح البخاری ص۱۲ جلد ۱ باب سوال جبريل النبی ﷺ عن الايمان والاسلام والاحسان الخ)
﴿۲﴾قال الملا علی قاری ان کشف العلم با لا مور الشرعية خير من کشف العلم بالامور الکونيه...... ثم اعلم انه قال رسول الله ﷺ اتقوا فراسة المؤمن فانه ينظر بنور الله ثم قرء قوله تعالیٰ ان فی ذلک لآيات للمتوسمين ای المتفرسين رواه الترمذی من رواية ابی سعيد الخدری رضی الله عنه ومما ينبغی التنبيه عليه هنا ان الفراسة ثلاثة انواع فراسة ايمانية وسببها نور يقذفه الله تعالیٰ فی قلب عبده وحقيقتها انها خاطر يهجم علی القلب ويثب عليه کوثوب الاسد علی الفريسة ومنها اشتقاقها وهذه الفراسة علی حسب قوة الايمان فمن کان اقویٰ ايماناً فهواحدّ فراسته قال ابو سليمان الدارانی الفراسة مکاشفة النفس و معاينة الغيب وهی من مقامات الايمان انتهی الخ.(شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۸۰ مايظهر من الخوارق علی ايدی بعض الکفرة)

بې شکه دا په معالجت يا دوخت په مصلحت سره تعبير کول صحيح دي.

(ب) واضحه دې وي چه په مقتضاء د حديث ,,انا عند ظن عبدی بی،، باندې صوفيائي کرام رياضت او ذکر وفکر (مراقبې) سره د الله تعالیٰ نه دخپل حسن ظن په بناء باندې واقعات معلوموي، چه دا په چا باندې حجت خو نه شي کيدې، ليکن په دې کښې فوائد موجود دي د اطمينان په مثل، ﴿۲﴾ (۲) په رياضت، فراست او کشف سره خو ددې په عدم جواز باندې هيڅ دليل نشته او په جواز ئې ډير روايتونه موجود دي. د ديوبند ټول اکابرين ددې په جواز باندې قائل دي. ومن دلائل جوازه کان ابوهما صالحا﴿۴﴾ الآية. وقوله تعالیٰ الحقنا بهم ذريتهم. ﴿۵﴾ وحديث اسالک بمحمد نبيک وحديث بحق السائلين عليک وحديث السؤال بصعاليك المهاجرين. ﴿۶﴾ فقط

د صوفياء کرامو د چلې ويستلو په جواز کښې هيڅ شک شبه نشته

سوال: علمائې دين او مفتيانِ دشرع متين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه بعضې مشائخ څلويښت وَرځې چله اوباسي نو آيا دا چله ويستل جائز دي او ددې څه ثبوت شته دې؟

المستفتي: رحمت کريم قادريه غفوريه جنيديه چشتيه نظاميه نوشهره ۱۹٦۹/۲/۱۹

﴿۱﴾عن ابی هريرة قال قال رسول الله ﷺ يقول الله تعالیٰ انا عند ظن عبدی بی وانا معه اذا ذکرنی فان ذکرنی فی نفسه ذکرته فی نفسی الخ متفق عليه .(مشکواة المصابيح ص ۱۹٦ جلد ۱ باب ذکر الله عزوجل والتقرب اليه)
﴿۲﴾قال الامام ولی الله الدهلوی و اما کشف الوقائع المستقلة فطريقه ان يفرغ نفسه عن کل شئ الا انتظار معرفة هذه الواقعة فاذا انقطع عنه کل حديث وکان الانتظار کطلب الماء للعطشان جعل يربوا بنفسه زماناً بعد زمان الی الملأ الاعلیٰ او السافل بقدر استعداده و يتجرد اليهم فانه عن قريب ينکشف عليه الامر بهتف هاتف او روية واقعة فی اليقظة او رؤيا فی المنام . (القول الجميل للشاه ولی الله ص ۹۸ طريق کشف الوقائع المستقبلة)
﴿۳﴾قال الملا علی قاری ان کشف العلم با لا مور الشرعية خير من کشف العلم بالامور الکونيه...... ثم اعلم انه قال رسول الله ﷺ اتقوا فراسة المؤمن فانه ينظر بنور الله ثم قرء قوله تعالیٰ ان فی ذلک لآيات للمتوسمين ای المتفرسين رواه الترمذی من رواية ابی سعيد الخدری رضی الله عنه ومما ينبغی التنبيه عليه هنا ان الفراسة ثلاثة انواع فراسة ايمانية وسببها نور يقذفه الله تعالیٰ فی قلب عبده وحقيقتها انها خاطر يهجم علی القلب ويثب عليه کوثوب الاسد علی الفريسة ومنها اشتقاقها وهذه الفراسة علی حسب قوة الايمان فمن کان اقویٰ ايماناً فهواحدّ فراسته قال ابو سليمان الدارانی الفراسة مکاشفة النفس و معاينة الغيب وهی من مقامات الايمان انتهی الخ.(شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۸۰ مايظهر من الخوارق علی ايدی بعض الکفرة)
﴿۴﴾(پاره : ۱٦ سورة کهف آيت : ۸۲) ﴿۵﴾ (پاره : ۲۷ سورة الطور آيت : ۲۱)
﴿٦﴾ اللهم انی اسئلک واتوجه اليک بنبينا محمد ﷺ الخ الحديث رواه الطبرانی صغير و کبير والبيهقی وحديث ان النبی ﷺ کان يستفتح بصعاليک المهاجرين رواه صاحب شرح السنة فی شرح السنة وقال الملا علی قاری فی شرح فقه الاکبر قلت قدورد ايضاً اللهم انی اسئلک بحق السائلين عليک وبحق ممشای اليک الخ. (شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۱۳۲ دعاء الکافر غير مستجاب)

الجواب: که د چلې ويستلو نه مقصد په خلوت کښې عبادت وي﴿۱﴾ اودا مقصد وي چه څلويښت ورځې پر له پسې کوم عبادت او کړې شي نو هغه زړه کښې ښه کيني او دا چله د طيباتو د تحريم عملي نه هم خالي وي نو ددې په جواز کښې هيڅ شک شبه نشته.

قال اللّٰه تعالىٰ لا تحرموا طيبات ما احل الله لكم ﴿۲﴾.ونظيره الخلاء فى غار حراء ﴿۳﴾واعتكاف موسىٰ عليه السلام اربعين ليلة المروى بلا نكير ﴿۴﴾وقال عليه الصلاة والسلام من صلے لله اربعين يوما فى جماعة يدرک التكبيره الاولىٰ كتب له برآءتان براءة من النار وبراءة من النفاق. ﴿۵﴾فقط

د اسم ذات د ذکر په وخت کښې د شيخ تصور

سوال: که يو سړې خپل شيخ حاضر اوناظر خو نه ګڼړی ليکن د اسم ذات د ذکر کولو په وخت کښې ئې خپل ځان سره ناست تصور کوي نو آيا په دې کښې څه شرعي موانع شته؟ او د لږ وخت د پاره د شيخ تصور کولو سره د اسم ذات ذکر کول جائز دي؟

المستفتي: محمد يعقوب خان اندرون فتح پوري دروازه مظفر ګړه

الجواب: د شيخ تصور جائز دې خوچه د علاج په طور سره وی﴿۶﴾ او د ثواب په طريقې سره نه وی.

﴿۱﴾ قال الملا على قارى وفراسة رياضية وهى التى تحصل بالجوع والسهر والتخلى فان النفس اذا تجردت عن العوائق والعلائق بالخلائق صار لها من الفراسة والكشف بحسب تجردها.
(شرح فقه الاكبر لملا على قارى ص ۸۰ ما يظهر من الخوارق على ايدى بعض الكفرة)
﴿۲﴾(پ: ۷ سورة المائدة ركوع: ۲ آيت: ۸۷)
﴿۳﴾ عن عائشة ام المؤمنين رضى الله عنها انها قالت اول مابدئ به رسول الله ﷺ من الوحى الرؤيا الصالحة فى النوم فكان لايرىٰ رؤيا الا جاءت مثل فلق الصبح ثم حبب اليه الخلاء وكان يخلو بغار حرآء الخ.(صحيح البخارى ص ۲ جلد ۱ باب كيف كان بدؤ الوحى الى رسول الله ﷺ)
﴿۴﴾قال الله تعالىٰ واذ وٰعدنا موسىٰ اربعين ليلة ثم اتخذ تم العجل من بعده وانتم ظٰلمون (پاره: ۱ سورة البقره آيت: ۵۱)
﴿۵﴾(ترمذى ص ۳۳ جلد ۱ باب فى فضل التكبيرة الاولىٰ ابواب الصلواة)
﴿۶﴾ قال الشيخ محمد بن عبد الله الخانى النقشبندى الحنفى ،الرابطة وهى طريقة مستقلة للوصول وعبارة عن ربط القلب بالشيخ الواصل الى مقام المشاهدة المتحقق بالصفات الذاتية وحفظ صورته فى الخيال ولو بغيبته فرؤيته بمقتضى الذين اذا رؤا ذكر الله تحصل بها الفائده كما تحصل من الذكر بموجب هم جلساء الله تعالىٰ ولا يخفىٰ ماورد من الاحاديث فى الحث على الجليس الصالح والشيخ كالميزاب ينزل الفيض من بحره المحيط الى قلب المريد المرابط وان وجد الفتور فى الرابطة يحفظ صورة شيخه فى خياله بموجب المرء مع من احب فيحفظ الصورة يتحقق ويتصف المريد باوصاف الشيخ واحواله التى له الخ.(كتاب البهجة السنية فى اداب الطريقة النقشبنديه ص ۴۲ فصل فى طرق الوصول)

د پيرئ مريدئ اثبات او د وظيفو مقدار

سوال: پيرئ مريدئ د کوم آيت يا حديث نبوي نه ثابت دي؟ او د وظيفو د مقدار څه ثبوت دې؟

المستفتي: دارالعلوم هاشميه جم روډ قمبر آباد باړه پشاور ۱۹ ذي قعده ۱۴۰۳ھ

جواب: قد ثبت هذه البيعة بقوله تعالىٰ يا ايها النبى اذا جاءک المؤمنات يبايعنک الآية﴿۱﴾.وبقوله عليه السلام بايعونى على ان لا تشركوا الخ ﴿۲﴾ واصل التصوف حديث ان تعبد الله كانک تراه﴿۳﴾.وتعين العدد لتطيب خاطر المريد ولتعرف تاثيره بالتجربة وليس هو امراً لازماً ونظيره مقدار الدواء واجزاءه. ﴿۴﴾ فافهم

د نامحرم پير نه ښځې د پاره پرده کول ضروري دی

سوال: آيا د يوې زنانه د پاره د خپل پيرصاحب نه پرده کول ضروري دي؟

المستفتي: سيف الدين ايم اې سرائې نورنګ بنون............ ۱۹۹۷ء

الجواب: پيرچه نامحرم وی نو د هغه نه پرده کول ضروري دي.﴿۵﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾(پاره: ۲۸ سورة الممتحنة آيت: ۱۲)
﴿۲﴾عن عبادة بن الصامت رضى الله عنه ان رسول الله ﷺ قال وحوله عصابة من اصحابه بايعونى على ان لا تشركوا بالله شيئا ولا تسرقوا ولا تزنوا ......فبايعناه على ذلک.(صحيح البخارى ص ۷ جلد ۱ باب علامة الايمان حب الانصار)
﴿۳﴾(صحيح البخارى ص ۱۲ جلد ۱ باب سوال جبريل النبى ﷺ عن الايمان والاسلام والاحسان الخ)
﴿۴﴾يدل عليه ما قال العلامه الوسى فى الكلام على النسخ وحقيقته فقال وذلک يختلف باختلاف الاعصار والاشخاص كالدواء الذى تعالج به الادواء فان النافع فى عصر قد يضر فى غيره.
(تفسير روح المعانى ص ۵۵۶ جلد ۱ سورة البقره آيت: ۱۰۶)
﴿۵﴾ قال الله تعالىٰ وقل للمؤمنات يغضضن من ابصارهن ويحفظن فروجهن ولا يبدين زينتهن الا ماظهر منها وليضربن بخمرهن على جيوبهن ولا يبدين زينتهن الا لبعولتهن او ءابآءهن او ءابآء بعولتهن او ابنآئهن او ابنآء بعولتهن او اخوانهن او بنى اخوانهن او بنى اخوٰتهن او نسائهن او ما ملكت ايمانهن او التابعين غير اولى الاربة من الرجال اوالطفل الذين لم يظهروا على عورٰت النساء الخ(سورة النور پاره: ۱۸ آيت: ۳۱)
قال المجدد الف ثانى المحبوب الصمدانى رحمة الله عليه مجيبا لمن سأله عن طريق التعليم للنساء ان كانت المرأة محرما فاى مانع والا فتجلس وراء الحجاب وتأخذ الطريقه.(البهجة السنية فى اداب الطريقة النقشبنديه ص ۴۰ فصل فى بيان ما يتعلق بالاخذ والشروع)

د بل چا مرید کولو د پاره خلافت او اجازت شرط نه دي البته د برکت باعث دي

سوال: آیا د یو سړي د خپل پیر د اجازت او خلافت نه بغیر د خلقو مرید کول جائز دي یا نه؟

المستفتي: محمد اشرف عاطف تلمبه ملتان.........۲۳ذي قعده ۱۳۹٦ھ

الجواب: د چا د مرید کولو د صحیح والي د پاره اجازت او خلافت شرط نه دي البته د برکت حاصلولو د پاره خلافت او اجازت شرط دي او د اهمیت د پاره خپل ظن کافي نه دي بلکه د اهل فن اعتماد حاصلول ضروري دي. وهو الموفق

په یوه سلسله کښې د بل مرشد نه بیعت کول برابره خبره ده چه د مرګ نه مخکښې وي او که پس وی

سوال: (۱) یو سړې د مثال په طور سلسله قادریه کښې د بل مُرشد سره بیعت کولې شي که نه؟ مُرشد په ژوند کښې هم د دې سلسله قادریه د بل مُرشد سره بیعت کولې شي که نه؟ (۲) آیا د اولني مُرشد دوفات نه پس دویم مرشد سره بیعت کولې شي؟ او که په دویمې سلسلې کښې وي نو بیا به څه حکم وي؟ (۳) د بعضې حضراتو خیال دې چه د طریقت نه بغیر ولایت نه حاصلیږي. آیا واقعي د ولایت د پاره بیعت شرط دې؟

المستفتي: حافظ نور الهادي محب بانډه مردان....۲ذي الحجه ۱۴۰۵

الجواب: (۱) جائز دي﴿۲﴾ كما فى تنقيح الفتاوى الحامدية (۲) د صالحینو تعامل په دویم ځائې کښې بیعت کولو باندې شته دي برابره خبره ده که دې سلسلې کښې وي یا بله کښې وي. البته په یو وخت باندې د مختلفو سلسلو د اورادو مشق کول د بدن او د ماغو د صحت د پاره مُضر دي. (۳) بیعت مستحب امر

﴿۱﴾ قال الشيخ محمد بن عبدالله الخانى النقشبندى عن الرازى رحمة الله عليه ولا يخفى ان من تصدر للمشيخة من غير اذن فما يفسده اكثر مما يصلحه وعليه اثم قاطع الطريق فانه بمعزل عن رتبة المريدين الصادقين فضلاً عن المشائخ العارفين الخ. (كتاب البهجة السنية فى اداب الطريقة النقشبنديه ص ۳۵ باب فى بيان المشيخة)

﴿۲﴾ قال الشيخ محمدبن عبد الله الخالدى النقشبندى الحنفى وجوزوا التعددبل فى حياة الشيخ الاول اذرأى الطالب رشده فى موضع آخر يجوز له من غير انكار لشيخه الاول ان يذهب اليه ويأخذعليه ويتخذه شيخا ثانيا. (البهجة السنية فى اداب الطريقة النقشبنديه ص ۳۰ باب فى بيان المشيخة)
وقال الامام ولى الله الدهلوى فاعلم ان تكرار البيعة من رسول الله ﷺ ماثور و كذالک عن الصوفية اما من الشخصين فان كان بظهور خلل فى من بايعه فلا بأس و كذالک بعد موته او غيبته المنقطعة و اما بلا عذر فانه يشبه المتلاعب و يذهب بالبركة ويصرف قلوب الشيوخ عن تعهده. (القول الجميل ص ۲۹ حكمت تكرار بيعت)

﴿۱﴾ البته د ولایت د حصول د پاره چه څومره ذریعې دي په هغې کښې دي﴿۱﴾ شاهراه او کامیاب ذریعه هم دا ده.﴿۲﴾ وهو الموفق

په بیعت کښې د پیغمبر ﷺ سره ملاؤول اود شیخ طریقت د پیژندګلو معیار

سوال: یو صاحب د تصوف او سلوک په موضوع باندې کتاب لیکلي دي او د شیخ طریقت متعلق د پیژند ګلو په ذکر کښې ئې فرمائیلي دي چه د تصوف او سلوک منزلونو سرکولو د پاره، د (فنافي الرسول) مراقبه د بنیاد حیثیت لري او کوم شیخ چه دومره نشي کولې هغه یقیناً د شیخ طریقت کیدلو په اعتبار سره ناقص دي، (دلائل السلوک ص ۲۷، ۲۲) د خپل بیعت د طریقې متعلق فرمائي چه د دې ناچیز طریقه هم داده چه چرته م هم اول په خپل لاس باندې بیعت نه دي اخستلې صرف تعلیم ورکوم او اولني منزلونه سر کړم په دربارِ نبوي ﷺ کښې رسیدو سره دحضور ﷺ په لاس مبارك باندې بیعت کوي. او که څوك دعوی کونکې دربارِ نبوت ته رسیدل نه شي کولې بیا بیعت کوی. نو هغه دهو که باز دي، تپوس به ترې کیږي بس نبه پوهه شئ چه د کامل او ناقص دغه پیژند ګلو ده. (دلائل السلوک ۲۷،۲۲) اوس سوال دادي چه آیا واقعي شیخ طریقت د پاره د مرید بیعت کول او د پیغمبر ﷺ په لاس مبارک باندې کول دا دهغه د کامل کیدو نښه ده. ګنړي نو (العیاذ بالله) داسې پیر دهو که باز دي نیولي کیږي به، او ناقص دي. آیا دا تصوف په کتاب او سنت باندې مبنی دي او په دي عقائدو او نظریاتو کښې دکتاب مصنف خپل ځان سلسله عالیه دیوبندیه سره منسلك کوی، نو آیا دعقیدې په دې انتساب کښې هغه صحیح دي؟

المستفتی: محمد الطاف ربانی دیوبندي خطیب جامع مسجد راوی روډ لاهور ۱۰ جمادي الثاني ۱۴۰۲ھ

الجواب: دې مؤلف چه د ارشاد او دعوت د پاره کوم شرط مقرر کړې دي هغه د ځان نه جوړ کړې شوې دي او بدعت دي دا اشتراط نه د قرآن او حدیث نه معلوم دي او نه د اجتماع او قیاس نه او نه صوفیائې عظامو دا شرط لګولي دي او دا

﴿۱﴾ قال الامام ولى الله الدهلوى فاعلم ان البيعة سنة و ليست بواجبة لان الناس بايعوا النبى ﷺ و تقربوابها الى الله تعالىٰ ولم يدل دليل على تاثيم تاركها ولم ينكر احدمن الائمة على انها ليست بواجبة. (القول الجميل ص ۱۹ الفصل الثانى)

﴿۲﴾ قال الشيخ محمد بن عبد الله الخانى عن الشيخ عبد الوهاب الشعرانى قدس الله سره قال ولا شك ان علاج امراض الباطن من حب الدنيا والكبر والعجب والرياء والحقد والحسد والغل والنفاق كله واجب كما تشهد له الاحاديث الواردة فى تحريم هذه الامور والتوعد بالعقاب عليها فعلم ان كل من لم يتخذله شيخا يرشده الى الخروج عن هذه الصفات فهو عاص لله تعالىٰ ورسوله ﷺ لانه لا يهتدى لطريق العلاج بغير شيخ ولو حفظ الف كتاب فى العلم الخ. (كتاب البهجة السنية فى اداب الطريقة العلية النقشبنديه ص ۴ مقدمه)

مدعي په خپل کلام کښې متناقض هم دې. ده په کتاب کښې د کشف ډېر مذمت بیان کړې او د هغې نه پس ئې دا خاص قسم کشف د کمال او ارشاد مدار ګرځولې دې. حقیقت دادې چه دا مدعي خدائې والا نه دې. ګینې نو په فناء او ترکِ دعوي سره به ښائسته وی. وهوالموفق

د طریقت د مقاصدونه چه بې خبره پیروي د هغه نه لرې کېدل پکار دی

سوال: یو سړې خپل ځان ته اهل الله وائي. ذکر کولو وخت کښې وائي چه ما ته بیت الله په نظر راځي مسجد نبوي په نظر راځي حضور ﷺ په نظر راځي دا سړې خلق هم بیعت کوي او وائي چه تاسو ټول د حضور ﷺ مریدان شولې او داهم وائي چه څه دخپل مرید شپږو میاشتو کښې دننه د پیغمبر عليه السلام سره ملاقات کوم او نه منونکو ته بدې ردې وائي. نو دداسې سړي څه حکم دې؟

المستفتي: خادم مسجد شاه فیصل ډیره اسماعیل خان...۲۴\صفر ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا سړې اهل الله نه دې. دا سړې د بیعت او طریقت د مقاصدو«۱» نه ډیر لرې دې. د حق طلب کونکو د پاره دده نه ځان ساتل ضروري دي. وهوالموفق

د مرشد دوفات کېدلو د وجې نه د بل مرشد نه بیعت کول اود تعویذاتو او عملیاتو کولو حکم

سوال: (۱) که یو سړې د چا سره بیعت کړې وي بیا هغه مُرشد وفات شي نو آیا هغه دبل مرشد نه بیعت کولې شي چه دده تکمیل اوش؟ (۲) حزب البحر لوستل او د تعویذاتو او عملیاتو څه حکم دې؟

المستفتي: نامعلوم.... ۲ربیع الاول ۱۴۰۲

الجواب: (۱) د صالحینو په نزد دامعروف دي چه هغوي د شیخ د وفات نه پس د

«۱» قال غوث الاسلام والمسلمین شاه غلام علی عبد الله المجد دی پوشیده نیست که طریقه (علیه نقشبندیه) عبارت است از دوام توجه قلب وکمبد أفیاض واعتدال درنوافل عبادات وتوسط درترک مألوفات وتعمیر اوقات باوراد واذکار که بحدیث صحیح ثابت شده اند ودرین طریقه مقامات سلوک ازتوبه تامقام رضا باجمال معمول است وحاصل آن دوام حضور بذات الٰهی وانجذاب جبی روحی وذوق وشوق وجمعیت قلبی است واستغراق در مشهود خود موافق حدیث شریف (الاحسان ان تعبد الله کانک تراه) وصف حال این طریقه است۔ (مقامات مظهریه ص ۵ فصل اول درذکر طریقه نقشبندیه مجددیه)

بل شیخ نه تکمیل کوي. «۱» (۲) د حزب البحر لوستل او تعویذونه او عملیات کول صحیح دي چه د ناجائز او شرکي کلماتو نه خالي وي. لحدیث مسلم اعرضوا علي رقاکم لا باس بالرقي مالم یکن فیه شرک «۲» ولحدیث عبدالله بن عمرو بن العاص رواه ابوداؤد. «۳» وهوالموفق

د جذبې راتلو وجوهات او د توجه د اثر د لرې کولو علاج

سوال: څمونږ کلي کښې یو سړي د یو پیر صاحب نه بیعت کړې دې او اوس نور خلق هم بیعت کوي د جمعې په شپه په هیئت اجتماعي سره ذکر کوي او د ذکر په وخت کښې په هغوي باندې جذبه راځي په جمات کښې دانګې ټوپونه وهي. ددې څه حکم دې؟ اوددې اثر به څنګه ختم شي؟

المستفتي: ابو عاصم تجمل شاه متهه مغل خیل پشاور ۲ربیع الثاني ۱۴۰۲ھ

الجواب: جذبه راتلل حق دي«۴» لیکن د هغې د راتللو مختلف وجوهات دي«۱» د اُلوهیت د عظمت تجلي راتلل (۲) د توجه په وجه باندې د سینې تنګوالي راتلل«۳» په باطن کښې د شیطان د خول. نو دا جذباتي کیفت خامخا کمال ګڼړل د تصوف نه دعاري کیدو دلیل دې

«۱» قال الشیخ محمد بن عبد الله الخالدی النقشبندی وجوزوا التعدد بل فی حیاة الشیخ الاول اذا رأي الطالب رشده فی موضع آخر یجوز له من غیر انکار لشیخه الاول ان یذهب الیه ویاخذ علیه ویتخذه شیخاً ثانیاً. (البهجة السنیة فی اداب الطریقه الخالدیه النقشبندیه ص ۳۰ باب المشیخة وادابها) وقال الامام الدهلوی ان تکرار البیعة ......اما من الشخصین فان کان بظهور خلل فی من بایعه فلا بأس و کذلک بعد موته او غیبته المنقطعة. (القول الجمیل ص ۲۹ تکرار البیعت)

«۲» (مشکواة المصابیح ص ۳۸۸ جلد ۲ کتاب الطب والرقیٰ)

«۳» (ابوداود ص ۱۸۷ جلد ۲ کیف الرقی کتاب الطب)

«۴» جذبه بذات خود حق ده خو دا مغلوبیت دې کمال نه دې البته کله کله د سهو او هیرې پشان په کاملو خلقوهم راځي چه د بشریت شان ئې ظاهرشي لکه حضرت موسٰی عليه السلام چه د تجلئ د عظمت په مشاهده کښې بې هوشه شوې وو. الله تعالی فرمائي. فلما تجلي ربه للجبل جعله دکا وخرموسی صعقا (الاعراف ع۱۷) او دغه شان صحابه کرامو ته عذابِ قبر مستخصر شو نو آوازئې اوکړو. کما في صحیح البخاري ص ۱۸٤ جلد ۱ قام رسول الله ﷺ خطیبا فذکرفتنة القبر اللتي یفتتن فیها المرء فلما ذکر ذلک ضج المسلمون ضجة. او دارنګه زراره بن اوفي چه په مونځ کښې فاذا نقرفي الناقور، تلاوت اوکړو، نو وفات شو (کما في الترمذي في باب من وصف صلاة النبي عليه السلام با للیل قبل باب نزول الرب تبارک وتعالی الی السماء الدنیا کل لیلة. او فقهاء هم جذبې ته جائز وائي خو چه کله بې اختیاره وي. کمافی الطحطاوی ص ۲۵۹ قبیل باب ما یفسد الصلاة. وفی مجمع الانهر عن التسهیل الوجد مراتب وبعضه یسلب الاختیار فلا وجه لمطلق الانکار وفي التتار خانیه مایدل علی جوازه للمغلوب اللذی حرکاته کحرکات المرتعش انتهیٰ دکوزن والا اندامونه بې اختیاره حرکت کوي لیکن ددې حرکاتو ورته علم وي بعضې سلفو او خلفو په دې جذب او وجد انکار کړې لکه علامه آلوسی د وتقشعر منه جلود الذین یخشون ربهم ثم تلین جلودهم وقلوبهم الي ذکر الله په تفسیر کښې د حضرت اسماء، ابن عمر، قتاده، ابن جبیر او ابن سیرین رضي الله عنهم نه انکار روایت کړې. روی عن عبدالله بن عروة بن الزبیر قال قلت لجدتی اسماء [بقیه حاشیه په راروانه صفحه]

او د پوهه خلقو د بیعت نه د متنفره کولو ذریعه ده.

نوټ: په مجمعي کښې ناست کس چه کله، حسبنا الله ونعم الوكيل ولا حول ولا قوة الا بالله. او وائي نو دې سره د توجه اثر ختمیږي لکه د سوره کهف اول ایتونه لوستلو سره چه د دجال اثر ختم کیږي. وهو الموفق

د بیعت شرعي حیثیت او د ډاکټر اسرار بیعت د سمع اوطاعت

سوال: (۱) د بیعت شرعي حیثیت څه دې؟ ددې څو قسمونه دی؟ (۲) د صحیح مسلم په حدیث کښې چه وئیلې شوي دي چه کوم سړې د امیر د بیعت نه بغیر مړشو هغه د جاهلیت په مرګ مړشو، نو په مو حوده وخت کښې ددې وعید نه بچ کیدلو دپاره څه لاره ده؟ (۳) ډاکټر اسرار احمد صاحب (تنظیم اسلامي والا) چه کوم د سمع او طاعت بیعت اخلي آیا د قرآن او حدیث په رنړا کښې ددې څه ګنجائش شته؟

المستفتي: عبدالقدوس هاشمي لاله رخ واه کینټ... ۲۲ شوال ۱۴۰۵ھ

الجواب: (۱) د قرآن او حدیث نه پنځه قسمه بیعت ثابت دي، بیعت علي الایمان، بیعت علي الجهاد، بیعت علي الخلافة، بیعت علي الهجرة او بیعت د ارشاد

[بقیه حاشیه] کیف کان یصنع اصحاب رسول الله ﷺ اذا قرء وا القرآن. قالت کانوا کما نعهم الله تدمع اعینهم وتقشعر جلودهم. قلت فان ناسا ههنا اذا سمعوا ذالك تاخذهم غشیة قالت اعوذ بالله تعالیٰ من الشیطان (ص۲۵۹ جلد۲۳) سورة الزمر مکتبه رشیدیه) او په صفحه ۲۲۰ جلد ۲۳ کښې فرمائي چه اسماء رضی الله عنها عبدالله بن زبیر ته اووئیل لا تقعد معهم او هم په دغه صفحه د عبدالله بن عمر نه روایت کوي چه دده په خیټه کښې شیطان داخل شي. قال ابن عمر وقد رءی ساقطاء من سماع القرآن فقال انا نخشی الله تعالیٰ ومانسقط هٰؤلاء یدخل الشیطان فی جوفهم. او د قتاده نه روایت کوي. انما هذا ذهاب العقول والغشیان في اهل البدع وانما هو من الشیطان.. او د ابن سیرین نه روایت کوي چه بیننا وبین هٰؤلاء اللذین یصرعون عند قراءة القرآن ان یجعل احدهم علی حائط باسطا رجلیه ثم یقرء علیهم القرآن کله فان رمی بنفسه فهو صادق.

نو تحقیق دادې چه هغه وجدٌ منکر دې چه په تکلف سره وي په قصد او اختیار سره وي او چل ول او دهوکه وي، د انبیاء علیهم السلام عقلونه قوي او حوصلې لوئې وي او دغه شان د صحبت په برکت سره د صحابه کرامو رضی الله عنهم حوصلې هم لویې او عقلونه مضبوط وؤ نو د تجلیاتو او برکاتو برداشت به ئې کولې شو او د صوفیا ئې کرامو حوصلې او عقلونه دومره لویې نه وي نو د تجلیاتو او برکاتو برداشت او هضم نشي کولې نو ځکه پرې وجد او جذب راځي نو ددې وجې نه علامې آلوسي په روح المعاني صفحه ۲۲۰ جلد ۲۳ کښې فرمائي. ویقول مشائخهم ان ذلک لضعف القلوب عن تحمل الوارد ولیس فاعلو ذلک في الکمال کالصحابة اهل الصدر الاول في قوة التحمل فما هو الا دلیل النقص. او قاضي ثناء الله پاني پتي به تفسیر مظهری جلد۸ سورة الزمر کښې فرمائي

قلت وجه طریان هذه الحالة کثرة نزول البرکات و التجلیات مع ضیق حوصلة الصوفی وضعف استعداده انتهی. (والتفصیل فی السلسله المبارکه للشیخ محمد فرید دامت برکاتهم) (از مرتب)

وهي في قوله تعالى يٰایها النبي اذا جاءک المؤمنات الایة (۱). وفي حدیث عبادة بن الصامت، رواه البخاري وغیره. (۲) او دا مروجه بیعت وطریقت پنځم قسم دي. (۲) په دې حدیث کښې دریم قسم مراد ددې د حق خلیفه مقررکول په واجبات عامه (۳) کښې دي. (۳) کوم کس چه د دیندار وعلماء په نزد د اعتماد قابل نه وي او د صالحینو د صحبت او تربیت نه محروم وي نو د هغه سره بیعت کول د اهل فن د مزاج مخالفت بلکه د دین تباهي ده. (۴)

په طریقت کښې قوالي، ډول سرنا او موسیقی اوریدل نشته

سوال: بعضې خودنما پیران خپل ځانونه د چشتیه طریقې سره منسلک ګڼړي او ددې دعوې باوجود قوالي او ډول سرناوالا مجلس مستحسن او د اجر او ثواب کار ګڼړي او کوم علماء کرام چه ددې خراب کار نه منکرین دي، په هغوي باندې سخت رد اعتراضونه کوي. نو آیا په یوه طریقه او شریعت کښې ددې قسم قوالئ او ډول سُرنا اوریدلو د جواز څه شرعي دلیل شته؟

المستفتي: محمد ثناءالله خان شبقدر چارسده.... ۱۹۷۸ء

الجواب: د احادیثو او فقهي عبارتونو نه د ډول سرُنا حُرمت د رنړا ورځ پشان معلوم دې. البته امام غزالي رحمه الله وغیره په څو شرطونو سره د جواز طرفته میلان کړیدې، او هغه شرطونه، په دې قوالیانو کښې معدوم او مفقود دي، لهٰذا دې له جائز ګڼړونکو باندې د کفر سخته خطره موجود ده. دا خلق د خپلو بد معاشو او عیاشو په وجې سره ددې بزرګانو په کلام سره پناه حاصلول غواړي،

(۱) (پاره: ۲۸ سورة الممتحنة آیت: ۱۲)
(۲) (صحیح البخاری ص۷ جلد ۱ باب علامة الایمان حب الانصار)
(۳) قال الملا علی قاری مسئله نصب الامام فقد اجمعوا علی وجوب نصب الامام وانما الخلاف فی انه یجب علی الله او علی الخلق بدلیل سمعی او عقلی فمذهب اهل السنة وعامة المعتزلة انه یجب علی الخلق سمعا لقوله علیه الصلاة والسلام علی مااخرجه مسلم من حدیث ابن عمر رضی الله عنهما بلفظ من مات بغیر امام مات میتة الجاهلیة ولان الصحابة رضی الله عنهم جعلوا اهم المهمات نصب الامام حتی قدموه علی دفنه علیه الصلاة والسلام ولان المسلمین لا بد لهم من امام یقوم بتنفیذ احکامهم الخ. (شرح فقه الاکبر للقاری ص ۱۴۶ ومنها مسئلة نصب الامام)
(۴) قال العلامه حصکفی وعند اهل الحقیقة الجمع بین العلم والعمل لقول الحسن البصری انما الفقیه المعرض عن الدنیا الزاهد فی الاخرة البصیر بعیوب نفسه. قال ابن عابدین الزاهد فی الاخرة...... اقول ومثله فی الاحیاء للامام الغزالی بزیادة حیث قال سأل فرقد السنجی الحسن عن شی فاجابه فقال ان الفقهاء یخالفونک فقال الحسن ثکلتک امک وهل رأیت فقیهاً بعینک انما الفقیه الزاهد فی الدنیا الراغب فی الاخرة البصیر بدینه المداوم علی عبادة ربه الورع الکاف عن اعراض المسلمین العفیف عن اموالهم الناصح لجماعتهم. (الدر المختار مع رد المحتار ص۲۸ جلد۱ مقدمه) وفی البهجة السنیة قال الرازی رحمه الله تعالیٰ ویجب علی الطالب الصادق فی بدایته ان لا یصحب اکثر مدعی المشیخة فی هذا العصر البتة الا بظهورا مارات الصدق بالهام من الله تعالیٰ للطالب او بشهادة الصادقین من اهل الطریق لذلک الشیخ. (کتاب البهجة السنیه ص ۳۴ باب فی بیان المشیخة)

لیکن فقه حنفي ددې مستحل الرقص والغناء ته کافر وئیلي دې،﴿۱﴾

د بل پیر نه بیعت کول ممنوع نه دی

سوال: بنده د یو پیرنه بیعت کړیدې لیکن اوس په هغه کښې د سنتو نه مخالف څه کارونه ښکاري نو آیا ځه دهغه سره بیعت ختم کړم او بل ځائې کښې بیعت کولې شم که نه؟

المستفتي:مولوی اختر زمان بنوں.....۱۹۷۸ء۱۰۱۱۸۱

الجواب: د فقها او صوفیاء په نزد باندې بل ځائې کښې بیعت کول ممنوع نه دي.﴿۲﴾ او خاصکر چه د شرعي عُذر په وجې سره وي. کمافی تنقیح الفتاوي ص۳٦۹جلد۲. وهو الموفق

د یو شاعِر په اشعارو کښې خپل پیر د پاره شرکي اوصاف بیانول

سوال: که یو شاعر د خپل پیر دپاره شرکیه اوصاف ثابت کړي او غلط شرکي اشعار وائي نو څه حکم دې؟

المستفتي:نامعلوم.....۱۹۷۸ء۱۰۱۱۸۱

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط سره په شرکیه اشعارو سره شاعر کافر کیږي او نکاح ئې ماتیږي.دده داصلاح کولو دپاره توبه کول ضروري دي او د همیشوالي په صورت کښې ورسره موالات پریخودل ضروريدي. فقط

﴿۱﴾قال ابن عابدين (قوله ومن يستحل الرقص قالوا بكفره)المراد به التمائل والخفض والرفع بحركات موزونة كما يفعله بعض من ينتسب الى التصوف وقد نقل فى البزازيه عن القرطبى اجماع الائمة على حرمة هذا الغناء وضرب القضيب والرقص قال ورأيت فتوىٰ شيخ الاسلام جلال الملة والدين الكرمانى ان مستحل هذا الرقص كافر وتمامه فى شرح الوهبانية ونقل فى نور العين عن التمهيد انه فاسق لا كافر ثم قال التحقيق القاطع للنزاع فى امر الرقص والسماع يستدعى تفصيلا ذكره فى عوارف المعارف واحياء العلوم وخلاصته ما اجاب به العلامة النحرير ابن كمال باشا الخ.(ردالمحتار هامش الدر المختار ص۳۳۷ جلد ۳ قبيل باب البغاة مطلب فى مستحل الرقص)

﴿۲﴾قال الشيخ محمد بن عبد الله النقشبندى وجوزوا التعدد بل فى حياة الشيخ الاول اذا رأى الطالب رشده فى موضع آخر يجوز له من غير انكار لشيخه الاول ان يذهب اليه وياخذ عليه ويتخذه شيخاً ثانياً ......فيجوز استفادة التعليم والصحبة مع مشايخ متعددة وينبغى ان يعلم ان الشيخ هو الذى يدل المريد على الحق تعالىٰ واكثر ما يلاحظ هذا المعنى واوضح فى تعليم الطريقة وشيخ التعليم استاد الشريعة ودليل الطريقة الخ.(كتاب البهجة السنية فى اداب الطريقة النقشبنديه ص ۳۰ باب فى بيان المشيخة وادابها)

﴿۳﴾فى الهنديه يكفر اذا وصف الله تعالىٰ بما لايليق به او سخر باسم من اسمائه او بامر من اوامره اوانكر وعده ووعيده اوجعل له شريكاً اوولداً او زوجة او نسبه الى الجهل او العجز او النقص. (فتاوىٰ هنديه ص۲۵۸ جلد۲ باب موجبات الكفر منهامايتعلق بذات الله وصفاته)

د مریدانو احوال معلومیدل او کشفیاتو سره متعلق متفرق کارونه او عملونه

سوال: بنده مولانا عبدالغفور مدني عباسي نه بیعت شوې دې او په خوب کښې درود وئیلو سره حبیب مصطفی ﷺ صدیق اکبر، عمر فاروق او علي مرتضیٰ رضی الله عنهم د دیدار نه مشرف شویدې. دې ورځو کښې د حضرت مولانا عبدالسلام صاحب نه په سلسله قادریه کښې د خلافت نعمت حاصل شو، نو یوڅو مسئلې دي چه دهغې حل کول دي.(۱) ندائي محمد ﷺ په درود کښې جائزدې یا ناجائز.لکه څنګه چه دحاجی امداد الله صاحب وغیره په نعتیه کلام کښې دې.دغسې یامحمد، یارسول الله اود استمداد جواز څنګه دې؟ (۲) یا علي مشکل کُشا، ګنج بخش فیض عالم او یا سید غوث الاعظم وئیل جائز دي که نه؟ (۳) د مخلوق نه طمع او طلب د مدد کول، د خواهشاتو تابعداري کول یا د غیر الله نه طلب کول شرک دې که نه دې؟ (۴) دمشائخو توجه کول څنګه دی؟ (۵) دشیخ دتصور څه حکم دې؟ (۶) ذکرسره دتصورنه جائزدې یا نه؟ (۷) دبعضې مشائخو دخپلو مریدانو داحوالونه خبریدل څنګه دی؟ (۸) علم غیب عطائی نه ذاتی، کشف قلبی کشف القبور بعطائې الٰهی شرك دي یا نه؟ (۹) دسنت مطابق کشفیاتو باندې عمل کول څنګه دی؟

المستفتي:شیخ محمد اسلم کریانه مرچنټ اکوړه خټک.....۲رجب ۱۴۰۳ھ

الجواب: په صلاة وسلام کښې د ندا والا کلماتو استعمال جائز دې چه دا نداء، په دې عقیده باندې بناء وي چه فرشتې دا درود شریف پیغمبر ته رسوي، او داکلمات د نداء د حاضر ناظر په عقیدې سره استعمالول یا د علم غیب په عقیدې سره (چه دا غیرالله غیب دان دې) ښکاره شرک دې او ښکاره کفر دې.لکه څنګه چه د صحیح العقیده سړي دپاره د عشق او محبت په طور جائز او مباح دي. (۲) د صحیح العقیده سړي په کلام کښې تاویل کول ضروري دي او نور خلق خود کفر د تاویل نه بچ کولې نه شي.(۳) د تسلط غیبي په عقیدې سره مبني مدد طلب کول ښکاره شرک دې. (۴) ممکن او جائزدي﴿۱﴾ (۵) جائز دي او ډیر کرته مُضر کیږي هم. (٦) جائز دې﴿۲﴾ (۷) جزوي طور باندې کیږي کُلي طور نه کیږي. (۸) علم کُلي عطائي ښکاره شرک دې او کشف ممکن او جائز دې. (۹) چه دشریعت سره متصادم نه وي نو جائز دي. ﴿۳﴾

نوټ: دامسئلې تفصیل غواړي،نو که دتفصیل ضرورت وي نوصرف یو سوال راولیږه وهوالموفق

﴿۱﴾قال الامام ولى الله الدهلوى فالتا ثير فى الطالب ان يتوجه الشيخ الى نفسه الناطقة و يصاد مها با لهمة التامة القوية ثم يستغرق فى نسبة با لجمعية و هذا بعد ان تكون نفس الشيخ حاملة لنسبة من نسب القوم و كانت ملكة راسخة فيها فتنتقل نسبته الى الطالب على حسب استعداده و منهم من يشوب بهذا التوجه الذكر و الضرب على قلب الطالب واذا غاب الطالب فانهم يتخيلون صورته و يتوجهون اليها . (القول الجميل ص۹۴ توجه دادن)

﴿۲﴾قال العلامه شكارپورى و اذا غاب الشيخ عنه يخيل صورته فى خياله بوصف المحبة و التعظيم فانه يفيد فائدة صحبة . (قطب الارشاد ص ۵۵۸ الشغل العاشر)

﴿۳﴾قال ملاعلى قارى و لذا لم يعتبر احد من الفقهاء جواز العمل فى الفروع الفقهية بما يظهر للصوفية من الامور الكشفية او من حالات المنامية . (مرقاة المفاتيح شرح مشكواة ص ۳۵۸ جلد ۹ كتاب الفتن)

د غوث، قطب او ابدال وضاحت او د تصرف مطلب

سوال: بعضي خلق وائي چه فلانکي سړې د فلانکئ علاقي متصرف دې، ځوک وائي چه فلانکي سړې د غرونو متصرف دې. ددي څه مطلب دې؟ دغسي غوث، قطب، ابدال په مخکښي امتونو کښي هم وو يا دا شرف صرف ذي امت ته حاصل دي و ضاحت اوکړئ؟

المستفتي: محمد اصغر صده کوهاټ.... يکم رمضان۱۴۰۳ه

الجواب: د پيغمبرانو عليهم السلام نه پس د حضرت صديق اکبر رضي الله عنه مرتبه ده که هغه غوث او قطب نه وی نو په دنيا کښي به بل ځوک غوث او قطب څنګه شي او هغه نه د دنيا متصرف وو او نه د علاقي، دا غوث او قطب اصطلاحي الفاظ دي(۱) او د اولياء الله، د مختلفو درجو عنوانات دي او دا خلق تصرف اصطلاحي (په قوت ارادي سره انقلاب راوړل) کوي(۲) ليکن وما تشاؤن الا ان يشاء الله او انک لا تهدي من احببت ولکن الخ، الاية. باندې نظر ساتل هم ضروري دي. وهوالموفق

د مراقبې په حالت کښي د حضور صلى الله عليه وسلم سره ملاقات کول او په حکم باندې د عمل کولو شرعي حيثيت

سوال: مفتيان حضرات دې باره کښي څه فرمائي چه يوه زنانه ده تهجد ګزاره ورځ شپه د الله تعالى په عبادت مشغوله وی، خو عالمه نه ده، هغه فرمائي چه کله څه څه توجه اوکړم نو په مراقبه کښي د پيغمبر عليه السلام د ديدار نه مشرف شم، او باقاعده د پيغمبر عليه السلام سره د سوال او جواب سلسله جاري وي. دا زنانه صاحب نصاب نه ده بلکه ډير د غربت ژوند تيروي، تير شوي غټ اختر کښي ئې وئيل چه ماته پيغمبر عليه السلام د مراقبې په حالت کښي اوفرمائيل چه د اختر په موقع کښي دوه څاروی ذبحه کړه او د زيد، عمر، بکر، په نوم سره قرباني ورکړه، اوس سوال دادې چه ددې غربت په حالت کښي دې دپاره قرباني کول صحيح

(۱) قال الشيخ محمد زاهد بن الشيخ حسن الدوزجوى قال السيد الغوث هو القطب حين ما يلتجا اليه ولا يسمىٰ فى غير ذلک الوقت غوثا آه والقطب عبارة عن الواحد الذى هو موضع نظر الله فى کل زمان اعطاه الطلسم الاعظم من لدنه بيده قسطاس الفيض الاعم وزنه يتبع علمه وعلمه يتبع الحق وعلم الحق يتبع الماهيات الغير المجعولة فهو يفيض روح الحيات على الکون الاعلىٰ والاسفل. (ارغام المريد فى شرح النظم العتيد ص ۵۶) وقال الملا على قارى قلت مهم الاقطاب فى الاقطار ياخذون الفيض من قطب الاقطاب المسمىٰ بالغوث الاعظم فهم بمنزلة الوزراتحت حکم الوزير الاعظم. (مرقاة المفاتيح شرح مشکواة ص ۳۵۵ جلد ۹ کتاب الفتن)

(۲) پوهه شه چه توجه، تصرف او تاثير يو داسي څيز دي چه صرف نفساني کمال دې نه کرامت دې او نه په تصوف کښي داخل دي دا کافر او فاسق هم کولې شي د توجه حکم پشان د وسلي دي چه د جائز مقصد دپاره جائز او ناجائز دپاره ناجائز د توجه، حقيقت په قوت ارادي سره يو کار کول دي پيغمبر عليه السلام فرمائي. ان من عبادالله من لواقسم على الله لابره. رواه البخارى. يعنې بعضي د الله بندګان قوت ارادي او همت والا دي چه الله تعالى ئې په خپله اراده کښي نه نامراده کوي. او په حديث قدسي کښي فرمائي: انا عندظن عبدى بى رواه الشيخان الخ (سلسله مبارکه ص ۱۷۴ للشيخ محمد فريد دامت برکاتهم)

دي يا نه؟ واجب به وي که نفل؟ ددينه علاوه آيا هر وخت دا زنانه په مراقبه کښي د پيغمبر عليه السلام ديدار کولې شي او که نه؟ او د ملاقات په وخت کښي رسول الله صلى الله عليه وسلم نه وظيفي اخستلې شي او بيا زيد، عمر، بکر ته رسول صحيح دي که نه؟ وضاحت اوکړئ.

المستفتي: الحاج محمد قاسم صاحب صدر منتظمه کميټي
مدني جامع مسجد نوشهره صدر. ۲۳صفر ۱۴۰۸

الجواب: د مراقبې په حالت کښي په توجه سره د رسول الله ملاقات د اولياء الله او اعداء الله دواړو دپاره ممکن نه بلکه واقع دي. ليکن دې حالت کښي چه د رسول صلى الله عليه وسلم کوم کلام واوريدلې شي دهغې قانون دادې که دا کلام د قرآن او حديث سره تضاد ساتي نو په هغې به عمل نه کيږی دا په الهام او کشف کښي داخل دي دهغې پشان معامله به ورسره کيږي او که ددې کلام د قرآن او حديث سره تضاد نه وي نو په هغې عمل کول نه مطلوب شرعي دي. اونه ممنوع شرعي دي. (۱) لهذا ددې ضابط په بنياد باندې دا زنا نه اختياري قرباني کولې شي واجب پرې نه ده. وهوالموفق

په مونځ کښي جذبه راتلل اود قوتِ حافظې د پاره وظيفه

سوال: بعضي خلق د مراقبې په دوران کښي په جذبه کښي راشي او ډيرې اوکله کله د جذبې په حالت کښي داسي ژبه وائي چه هيڅوک پرې نه پوهيږي نه پير او نه مريد. او بعضي کسان د مونځ په حالت ټوپونه وهی. ددې باره کښي شرعي حکم څه دې؟ دارنګې د قوتِ حافظې دپاره او د مطالعې جاري کيدلو دپاره څه وظيفه اوښايئ؟

المستفتي: شيرزمان دارالعلوم نظاميه عيدک ميرعلي وزيرستان ۴ربيع الاول۱۴۰۸ه

الجواب: په جذبِ صادق او جذبِ کاذب کښي هر صاحب قلب فرق کولې شي دداسي جذباتو نه امان غوښتل پکار دي چه په مونځ او عبادت کښي رکاوټ پيدا کړي. او د علم د حاصلولو او مطالعې جاری کولو دپاره د ماسخوتن د مونځ نه پس ۲۱ ځلې سورة کوثر لوله. وهوالموفق.

الصلوة والسلام عليک يارسول الله د حضرت خواجه عبدالمالک صاحب رحمة الله عليه ښودلې شوې وظيفه نه ده

سوال: بنده ته پير عبد المالک صاحب دا وظيفه ښودلې وه، الصلوة والسلام

(۱) قال العلامه شيخ احمد الفاروقي المجدد الف ثاني، الهام مثبت حل و حرمت نه بود و کشف ارباب باطن اثبات فرض و سنت نه نمايد ... ولايت خاصه يا عامه در تقليد مجتهدان برابر اند کشوف والهامات ايشان را مزيت نمى بخشند. (مکتوبات امام ربانى ص ۱۵۵ جلد ۲ مکتو...

(۲) قال العلامه سيد احمد الطحطاوى الوجد مراتب وبعضه يسلب الاختيار فلا وجه لمطلق الانکار وفى التتارخانيه ... جوازه للمغلوب الذى حرکاته کحرکات المرتعش. (طحطاوى على مراقى الفلاح ص ۱۷۴ جلد ۱ قبيل باب ما يفسد...

علیک یارسول الله چه په ورځ شپه کښې ۳۱۳ ځلې لوله د اتلسو کالو نه د بنده دا وظیفه ده اوس یو مولوی صاحب وائی چه دا خو مشرکانه وظیفه ده یعني صحیح نه ده. او دا تاته د شرک تعلیم درکوي نو آیا دمولوي صاحب خبره صحیح ده او که د پیر صاحب مرحوم والا خبره صحیح ده؟

المستفتي: عبدالرحیم نقشبندي شاهي آباد کالوني اورنګي ټاؤن کراچي نمبر ۱۴ـ ۱۰ ربیع الاول ۱۴۰۸ھ

الجواب: دا وظیفه د حضرت صاحب ښودلې شوې وظیفه نه ده او که درود په دې نیت او عقیدې سره اووئیلې شي چه فرشتې ئې ورته رسوي﴿۱﴾ نو شرک نه دي او که د علم غیب او حاضر ناظر په عقیدې سره وي نو شرک دي. وهو الموفق

د بریلوي پیرنه بیعت او د یا مصطفي مشکل کشا الغیاث..الخ وظیفه

سوال: که یو کس د یو پیر صاحب نه وظیفه واخلي بیا ورته معلومه شی چه دا پیر د بریلیانو عقیدې والا دې نو د بل پیر نه وظیفه اخستل صحیح دي یا نه؟ (۲) یا مصطفي مشکل کشا، الغیاث یا رسول الله اغثنا یا حبیب الله. دا وظیفه کول څنګه دي؟

المستفتی: عبدالله مهاجر مدرسه منبع العلوم
لا لحاج جلال الدین حقانی میران شاه ۱۲ صفر ۱۴۰۹ھ

الجواب: (۱) داسي مرید باندې ضروری ده چه بغیر د اجازت نه لاړشي او د بل صحیح العقیده پیرنه بیعت اوکړی، چه په علم او عمل کښې ترقي نصیب شي. ﴿۲﴾ (۲) خواص ئې په تاویل باندې خبروي د هغوي دپاره دا وظیفه جائز ده او دعوامو دپاره زهر قاتل دي. وهو الموفق

په کوه طور باندې د موسی علیه السلام د بې هوشئ نه د جذبې استدلال او په جمات کښې د جذبې حکم

سوال: بعضې خلق په جمات کښې د ذکر کولو په وخت کښې امام صاحب خلقو

﴿۱﴾ عن ابن مسعود قال قال رسول الله ﷺ ان لله ملائكة سياحين فی الارض يبلغوني من امتی السلام. (رواه النسائی والدارمی.(مشكواة المصابيح ص ۸۶ جلد ۱ باب الصلوة على النبی ﷺ)

﴿۲﴾ قال الامام ولی الله الدهلوی ان الغرض من البيعة امره با لمعروف و نهيه عن المنكر وارشاده الى تحصيل السكينة لباطنة و ازالة الرذائل واكتساب الحمائد ثم امتثال المسترشد به فی كل ذلک فمن لم يكن عالما كيف يتصور منه هذا. (القول الجميل ص ۲۲ شرائط البيعت)

نه متوجه شي او په مخاطبینو باندې جذبه راولي او د جذبې په وخت کښې جمات کښې ټوپونه وهي او ډډې پکښې بدلوي او دلیل د حضرت موسی علیه السلام حالت پیش کوي چه وخر موسی صعقا الایة، آیا په جمات کښې د شور غوبل او چغو وهلو څه جواز شته؟

المستفتي: اهالیان بانډه اربابان اسماعیل خیل نوشهره ۱۱\۷\۱۱ ۱۴۰ھ

الجواب: په جمات کښې ټوپونه وهل او چغې وهل ناجائز کارونه دي او دا د جمات توهین دې. او د طریقت نه متنفره کول دي. موسی علیه السلام په صحرا کښې د الله تعالی د عظمت په وجه سره بې هوشه شوي وو، او دا خلق او ددوي پیران ددې عظمت لائق نه دی، دوی بې هوشه کیږی نه،﴿۱﴾ او که بې هوشه وي نو دبې هوشئ په حالت کښې نه اودس باقي پاتي کیږي او نه مونځ صحیح کیږي.﴿۲﴾ او دا عجیبه خلق دي چه په صحرا کښې پرې جذبه نه راځي او د خلقو مخې ته پرې راځي. وهو الموفق

جاهلانو اود اتباع سنت نه محرومه خلقو باندې جذبې راتلل د طریقت نه نفرت پیداکول دي

سوال: څمونږ ځائې کښې یو فرقه پیدا شوې ده چه ډېر په زوره سره ذکر کوی او رقص کوی، سانتئ اړوی عوام ورته جذبه وائي ددې شرعاً څه حکم دې؟

المستفتي: عظیم الدین تنګي چارسده.....۱۷\۲\۱۱ ۱۴۰ھ

الجواب: جذبه راتلل حق دي لیکن دا کمال ګڼل ناحق دي کومو خلقوسره چه علم دین نه وي د قرآن په لوستلو باندې په جذبه کښې نه راځي د اتباع سنت نه محروم وي﴿ ۳﴾ نو دهغوي جذبه راتلل د طریقت نه نفرت پیدا کولو والا ده. اعاذنا الله تعالی عنه،وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامه آلوسی ،عن ابن عمر وقد رأی ساقطا من سماع القرآن فقال انا لنخشی الله تعالیٰ وما نسقط .هؤلاء يدخل الشيطان فی جوف احدهم ......هذا نعت اولياء الله تعالیٰ قال تقشعر جلودهم وتبكی اعينهم وتطمئن قلوبهم الی ذكر الله تعالیٰ ولم ينعتهم الله سبحانه بذهاب عقولهم والغشيان عليهم انما هذا فی اهل البدع وانما هو من الشيطان .واخرج بن ابی شيبه عن ابن جبير قال الصعقة من الشيطان وقال ابن سيرين بيننا وبين هؤلاء الذين يصرعون عند قراءة القرآن ان يجعل احدهم علی حائط باسطا رجليه ثم يقرأ عليهم القرآن كله فان رمیٰ بنفسه فهو صادق. (روح المعانی ص ۳۸۴ جلد ۱۳ سورة الزمر آيت:۲۳)

﴿۲﴾ قال الحصكفی وينقضه اغماء ومنه الغشی. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۰۶ جلد ۱ باب نواقض الوضوء)

﴿۳﴾ قال الامام رازی رحمه الله وقد اجمعوا علی ان كل حقيقة ردتها الشريعة فهی زندقة وان الشريعة حق العبودية والحقيقة هی حقيقة العبودية و كل من صار من اهل الحقيقة وجب عليه التقيد بحق العبودية وحقيقتها وصار مطالبا باداب زائدة ليست علی غيره و كل من خلع من عنقه ربقة التكليف خامر باطنه الزيغ و التحريف وقد كان الجنيد رضی الله عنه يقول لا تلتفتوا قط لشخص ولو تربع فی الهواء الا ان رأيتموه تقيد بالشريعة امراً ونهيا.(البهجة السنيه فی اداب طريقة النقشبنديه ص ۳۵ قبيل كتاب الاذكار)

د مودودیانو په جماعت کښې داخلیدو والا مُرید سره مصلحتاً تعلق ختمولې شي

سوال: که یو مرید د بیعت کولو نه پس په مودودي جماعت کښې شمولیت اختیار کړي او خپلې ټولې همدردئ د جماعت دپاره وقف کړي نو داسې کس باره کښې ستاسو څه ارشاد دې. آیا دغه دا طریقه کار خو به دبیعت نه خلاف نه وي ځکه چه ټول اکابر آمت او رباني علماء خاص طور سره شیخ الاسلام سیدحسین احمد مدني او حضرت مولانا محمد زکریا صاحب دد دې جماعت سخت مخالف وو او چه په هغې باندې د هغوي رسالې او مکتوبات ګواه دي. جواب راکړئ؟

المستفتي: محمد صادق کهلابټ ټاؤن شپ هري پور..... ۲۱ محرم ۱۴۰۵ھ

الجواب: په مودودي جماعت کښې داخلیدلو سره بیعت نه ماتیږي البته چه پیر او مرشد کله دداسې کس د اصلاح نه مایوسه شي نو د مصلحت دپاره ورسره بیعت ختمول پکار دي. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د نقباء، ابدال، عمد، غوث وغیره تشریح او ثبوت

سوال: علمائي دین د دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه مولانا محمد ایوب پشاوري د خپل کتاب (حلیة الاولیاء) په صفحه ۱۵ باندې لیکي:

وعن الكنانى النقباء ثلثمائة والنجباء سبعون والبدلاء اربعون والاخيار سبعة والعمد اربعة والغوث واحد مسكن النقباء المغرب ومسكن النجباء مصر ومسكن ابدال الشام والاخيار سياحون فى الارض والعمد فى زوايا الارض ومسكن الغوث مكه.

دې مسئلې باره کښې ستاسو حضراتو څه رائې ده؟

المستفتي: مولوي عبد الحق اکبر پوره نوشهره... ۱۲ نومبر ۱۹۸۴ء

الجواب: په احادیثو کښې د اولیاؤ او ابدالو الفاظ راغلې دي نور الفاظ علماؤ

﴿۱﴾ قال الشيخ محمد بن عبد الله الخانى النقشبندى انه يجب على الشيخ اذا علم ان حرمته سقطت من قلب مريد ان يطرده من منزله سياسة فانه من اكبر الاعداء و كذلک يجب على الشيخ ان يشغل المريد بظواهر الشريعة وطريق العبادة...... وينبغى للشيخ ان لا يغفل عن ارشاد المريد الىٰ ما فيه صلاحه فيأمره ان يغلق الباب بينه وبين بقية من عنده من اولاده فانه ما على المريد اضر من صحبة الضد. (البهجة السنية فى آداب الطريقة النقشبنديه ص ۳۴ باب فى بيان المشيخة)

جوړ کړې دي او په دیکښې چه کوم یو لقب یا ډیوټي د نصوصو سره متصادم نه وي نو دهغې په تسلیمولو کښې څه حرج نشته ﴿۱﴾ لاکن هذا الكلام المسطور فى الاستفتاء لايخلو من نظر لان مولانا عبدالقادر الجيلانى قدس سره كان يسكن فى بغداد الى آخر حياته وكان عنداهل الفن غوثا وقطبا. فافهم

بیعت او سلوک او طلب فیض د اولیاؤ نه او وسیله او دعا وغیره

سوال: (۱) چند مسائل تحت بحث علمائے افغانستان بودند لهٰذا حل مطلب نمائیم، الاول حکم طریقت یا بیعت چیست که برائے مردم توسط شیخ تلقین میگردد۔ ویا به اصطلاح مرید میشوند مشروع است یا نه؟ (۲) طلب نمودن فیض از ادله واولیاء الله را وسیله ساختن به خداوند چه حکم دارد۔ (۳) دعا نمودن به حرمت انبیاء واولیاء جواز دارد یا نه۔

المستفتی: عبدالله صاحب افغان مهاجر پشاور شهر...... یکم رشعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: (۱) مریدی عبارت است از بیعت شدن ومشروعیت آں ثابت است از ایت یا ایها النبی اذا جاءک المؤمنات یبایعنک الآیة ﴿۲﴾ (سورة الممتحنه) واز حدیث عبادة بن صامت رواه البخاری فی کتاب الایمان ﴿۳﴾ وکفی بالتعامل اصلاً ودلیلاً ۔ (۲) استفاضه اہل از اہل جائز بلکه واقع است لاکن به نحیکه اہل فن متعین کرده اند۔ ﴿۴﴾ (۳) جائز است بلا شک وشبهه ۔ ﴿۵﴾

﴿۱﴾ قال الملا على قارى: حديث الا بدال من الاولياء له طرق عن انس مرفوعاً با لفاظ مختلفة كلها ضعيفة ذكره ابن الديبع وعن ابن الصلاح اقوى ما روينا فى الابدال قول على انه بالشام يكون الابدال واما الادباء والنجباء والنقباء فقد ذكرها بعض مشائخ الطريقة ولا يثبت ذلک قلت قال الزركشى فى مسند احمد من حديث عبادة ابن الصامت مرفوعا الابدال فى هذه الامة ثلاثون مثل ابراهيم خليل الرحمن كلمامات رجل ابدل الله مكانه رجلاً وهو حسن وله شاهد من حديث ابن مسعود فى الحلية. (الموضوعات الكبرىٰ للقارى ص ۴۸ رقم حديث ۔ ۱۴۵)

﴿۲﴾ (پاره: ۲۸ سورة الممتحنه آیت: ۱۲)

﴿۳﴾ عن عبادة بن الصامت رضى الله عنه ان رسول الله ﷺ قال وحوله عصابة من اصحابه بايعونى على ان لا تشركوا بالله شيئا ولا تسرقوا ولا تزنوا ولا تقتلوا اولادكم ولا تأتوا ببهتان تفترونه بين ايديكم وارجلكم ولا تعصوا فى معروف فمن وفى منكم فاجره على الله ..... فبايعناه على ذلک.
(صحيح البخارى ص۷ جلد ۱ باب علامة الايمان حب الانصار كتاب الايمان)

﴿۴﴾ قال العارف عبد الغنى النابلسى قدس سره فى شرح ابن الفارض قدس سره ما يتحيله السالک من معانى تجليات الحضرة الالهية وقت حضوره معها بها لا بنفسه انما يكون من المرشد الكامل بطريق التوجه الربانى والامداد الرحمانى فتارة ياتى بالالقاء الالهامى من القلب الى القلب مع صدق الحال وتارة ياتى بتقرير العبارات وتبيين الاشارات وتارة بالباس خرقة الصوفية المشهورة وشرطها..... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

غوث، قطب، او ابدال د بندګئ او عبدیت درجې دی د الوهیت نه دی

سوال: په تصوف کښې چه کوم د غوث، قطب او ابدال اصطلاحات دي، دا د کوم ځائې نه ثابت دي او د کومې زمانې نه شروع شوې دي. د دې مرتبو تفصیل اوکړئ.

المستفتي: محمد شعیب دار العلوم عربیه ګجرات مردان ۲۰ شوال ۱۴۰۳ھ

الجواب: د اولیاؤ وجود د قرآن او احادیثو نه ثابت دې ﴿۱﴾ او د ابدال وجود صرف د احادیثو نه ثابت دې. اخرجها احمد وابن عساکر. البته نور الفاظ قطب، غوث وغیره د علماء راسخینو د کلام نه معلوم شوې دي. ﴿۲﴾ خو بهر حال دا د بندګئ او عبدیت درجې دي نه دا چه د الوهیت، او ربوبیت او قیومیت منصبونه دي. وهو الموفق

د مولوي الله یار خان چکړالوي اختراعي او من ګهړت طریقت!

سوال: محترم العلامه مولانا شیخ الحدیث مفتي اعظم محمد فرید صاحب دامت برکاتکم!

(بقیه حاشیه) کمال الصدق من الطرفین فیسری الحال الصادق با مر الله تعالیٰ فی المرید الصادق وتارة ینظر الشیخ الصادق من قوله ﷺ حکایة عن ربه کنت بصره الذی یبصر به فی الحدیث المشروط بالتقرب بالنوافل الخ. (البهجة السنیة فی اداب الطریقه النقشبندیه ص ۴۲ فصل کتاب الاذکار)

﴿۵﴾ قال ابن عابدین یراد بالحق الحرمة والعظمة فیکون من باب الوسیله وقد قال الله تعالیٰ وابتغوا الیه الوسیلة وقد عد من اداب الدعاء التوسل علی ما فی الحصن وجاء فی روایة اللهم انی اسألک بحق السائلین علیک وبحق ممشای الیک فانی لم اخرج اشرا ولا بطرا الحدیث. (رد المحتار هامش الدر المختار ص ۲۸۱ جلد ۵ فصل فی البیع کتاب الحظر والاباحة)

﴿۱﴾ قال الله تعالیٰ الآن اولیاء الله لا خوف علیهم ولاهم یحزنون. الذین آمنوا و کانوا یتقون. (سورة یونس آیت: ۶۲، ۶۳ پاره: ۱۱) وقال الله تعالیٰ وما کانوا اولیاءه. ان اولیاءه الا المتقون ولکن اکثرهم لایعلمون. (پاره: ۹ سورة الانفال ع: ۱۸ آیت: ۳۴)

﴿۲﴾ قال الملا علی قاری الابدال من الاولیاء (الحدیث) له طرق عن انس مرفوعا بالفاظ مختلفة کلها ضعیفة ذکره ابن الدبیع. وعن ابن الصلاح: اقویٰ ماروینا فی الابدال قول علی انه بالشام یکون الابدال واما الادباء والنجباء والنقباء فقد ذکرها بعض مشائخ الطریقة ولایثبت ذلک. قلت وقال الزرکشی فی مسند احمد من حدیث عبادة بن الصامت مرفوعا الابدال فی هذه الامة ثلاثون مثل ابراهیم خلیل الرحمن کلما مات رجل ابدل الله مکانه رجلاً. (کشف الخفاء ص ۲۴ جلد ۱ مسند احمد ص ۳۲۲ جلد ۵) وهو حسن وله شاهد من حدیث ابن مسعود فی الحلیة. قال السیوطی وله شواهد کثیره بنیتها فی التعقبات علی الموضوعات، ثم افردتها بتالیف مستقل. (الموضوعات الکبریٰ للقاری ص ۴۸ رقم حدیث: ۱۴۵)

مولوي الله یار خان چکړالوي یو مولوي صاحب دې چه د تصوف په یوه خاصه طریقه باندې چلیږي. او د هغه څه اتباع کونکي ځمونږ په وطن کښې موجود دي، دده د بیعت طریقه دا ده چه عام طور سره دده په بیعت کښې زنانه او ماشومان ټول داخلیدلې شي، او چه کله داخل شي نو په هغه ورځ یا په دویمه ورځ دا دعوي کوي چه ماته دومره کشف ملاؤ شوې چه ماته د هر سړي حالات معلومیږئ او خلقو ته وائي چه فلانکې سړې په دوزخ کښې دې او فلانکې په جنت کښې دې. او بعضو ته وائي چه څوک هم ځمونږ په طریقې کښې راشي مونږ ئې بالذات د رسول الله ﷺ سره ملاوهو، او هر سړې هم چه په دې کښې داخل شو په هغه ورځ خلیفه مجاز جوړیږي. او ټولې هغه خبرې کوي کومې چه اصل خلیفه کوي. مولوي الله یار خان په خپل تصنیف کښې وائي چه کوم پیر څوک رسول الله ﷺ ته نشي رسولې هغه پیر ډاکو دې. (دلائل السلوك ص ۴۸۱۴۷) په هغوي کښې بعضې متبعین وائي چه مونږ ته په مراقبه کښې ټول انسانان د خنزیرانو، سپو، او لومبړو وغیره په شکل کښې معلومیږي. او بعضې خلق په هغوي کښې داسې وائي چه د روح اصل شکل هغه دې چه کوم د مرګ نه روستو ورکولې کیږي. او هغه شکل مونږه اوس وینو او په نظره راځي. او دا هم وائي! چه فلانکې مړي ته ما تعلیم ورکړو او د هغه لطائف مې منور کړل نو د هغه د باره په عذاب کښې تخفیف یعني آساني او شوه، او دا وائي چه مونږ کله هم او غواړو، د مړو، فرښتو، روحونو او ژوندو سره هم سره د لرې والې نه خبرې کولې شو. او په دوي کښې دا هم دي. چه کوم سړې زمونږ په حلقه کښې نوې داخل شي نو دا خلق د ژوب (بلوچستان) نه آواز کوي، الله یارخان! او الله یارخان د چکړاله نه جواب ورکوي، چه دا سړې ما رسول پاک ﷺ ته پیش کړو، بس دې داخل کړئ، او چه کله یو سړې ته دعوت ورکوي نو مقبرې ته ئې بوځي او د برزخ عذاب وغیره ورته اوښائي نو هغه چه دا کارونه اووینې نو مجبور شي او داخل شي. او په هغوي کښې چه کوم کسان د تلاوت قابل دي هغوي وائي چه مونږ په لوح محفوظ کښې تلاوت کوو. ځکه چه دې قرآن کښې کله کله غلطې هم کیږي نو مونږ ته بیا وئیلو کښې تکلیف وي. او بعضې پکښې دا وائي چه زمونږ شق صدر څو ځلې شوې ده. لکه د رسول الله ﷺ چه شق صدر شوې وؤ، او که هغوي ته دا اووئیلې شي چه کیدې شي دا مکاشفات د شیطان په تلبیس سره وي؟ نو جواب کښې وائي چه ځمونږ د

کشف منزلونه د عرش نه بره دي او هلته د شیطان تسلط نشته دی. او دا مکاشفات ټولو ته کیږي لیکن الاجهل فالاجهل ته زیات کیږي. خاص طورسره ماشومانو او زنانو ته ډیر کیږي. او نور خلق هم دا تصدیق کوي چه دوي ځمونږ نه غټې مرتبې والا دي او په دې سلسله کښې شیعه ګان هم شامل دي هغوي ډیر کشف والا دي. او کوم خلق چه د دین په زده کړه او خودنه کښې مشغول وي هغوي ته وائي چه دا د نجات لاره نه ده، بلکه د نجات لاره داده چه په عوامو او جاهلانو خلقو کښې ګرځې او دعوت ورته ورکوی او ورته وائي چه د هر حاجت علاج په دې طریقه کښې دي مثلاً مریض ته وائي چه د دوایئ په خائي باندې باندې د شفا سبب دادې، او طالب علم ته وائي چه د ذهن کولاؤ والي دا سبب دې او دمالدارئ سبب دي وغیره وغیره

(۱) الله یار خان په اسرار الحرمین صفحه ۷۱ کښې وائي ! ځما مخکښې دا عقیده وه چه شیعه ګان کافران دي بیاما رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړونو هغوی دا عقیده صحیح اوګرځوله.

(۲) اسرار الحرمین صفحه ۲۲: ما نوح علیه السلام اولیدلو هغه وئیل ځما قبر مسجد خیف ته نزدې دي تفسیرونو غلط ښودلي دې، په صفحه ۲۷ باندې لیکي چه فلانکي حدیث کښې دا جمله شته ځکه چه ماته فاطمه رضی الله عنها وئیلي دي. ددې پیر په باره کښې وضاحت اوکړئ؟

المستفتي: علماء ژوب بلوچستان..... ۴ ربیع الثاني ۱۳۹۲ھ

الجواب: ددې لیکلو شوو خبرو په بنیاد باندې په دې اختراعي (ځان نه جوړشوې) طریقو کښې داخلیدل خلاف طریقت دي بلک د شریعت نه خلاف دي ځکه چه د طریقت غرض او غایت د احسان او اخلاص حاصلول دي. ان تعبدالله کانک تراه فان لم تراه فانه یراک، الحدیث. کشف او تصرف نه دي. مثلاً مریدان نیغ په نیغه د پیغمبر علیه السلام دربارته ته رسول وغیره، دا کارونه د تصوف والا په نزد نه مقاصد دي او نه ئې په دې باندې دارو مدار دي.(۱) نو چه دې ډلي دا زیاتي خیزونه مقاصد جوړ کړل او دا ئې د کمال دار ومدار

(۱) قال الشیخ احمد الفاروقی المجدد الف ثانی فی رعایة الشریعة اعلم ان رعایة ادب من الاداب والاجتناب عن کراهة ولو تنزیهیة افضل من الذکر والفکر والمراقبة والتوجه بمراتب نعم اذا جمع هذه الامور مع تلک الرعایة فقد فاز فوزاً عظیماً ولایحصل ذلک بدون دوام العبودیة اذالمقصود من خلق الانسان انما هواداء وظائف العبودیة واما العشق والمحبة فی الابتداء فتعلقه بهما لا جل قطعه عما سوی جناب الحق تعالیٰ ولیسامن المقاصد بل لاجل تحصیل مقام العبودیة ...... فلهذا کانت العبودیة نهایة مراتب الولایة ولیس فی درجات الولایة مقام فوق العبودیة دوامها لایتصور بدون اداء العبادة الخ. (البهجة السنیة فی اداب الطریقة النقشبندیه ص ۳ مقدمه)

جوړ کړل او دائې د خپلې ډلې زیاتولو دپاره یو چل ول جوړ کړو. نو دداسې خلقو نه اهل اسلام له بچ کیدل ډیر زیات ضروري دي.

نوټ: د کشف او خُوب په وجه باندې په مړي یا ژوندي باندې بدظنه کیدل حرام دي. دارنګې دوي سره داهل حق تحقیقات ردکول یولوئې زړور توب بلکه حماقت دې. وهو الموفق.

دمولوی الله یارخان چکړالوي په باره کښې د ژوب علماؤ په دویم ځل تپوس

سوال: محترم مفتي صاحب تاسو دینه مخکښې د مولوی الله یارخان په باره کښې مونږ ته فتوی راکړې وه په هغې کښې تاسو لیکلي وؤ، چه ما مکمل کتابونه مطالعه کړي نه دي. اوس مونږ په دویم ځل باندې د فتوی کولو خواهش لرو ځکه چه کیدیشي اوس تاسو دهغوي د کتابونو مطالعه کړې وي په دې ځل باندې مونږ دکتابونو عبارتو نه نه دي درلیږلي او دینه مخکښې استفتاء کښې مونږ عبارت درلیږلي وؤ. او دویمه خبره دا چه مونږ دا نه غواړو چه آیا دا کافر دې که مسلمان، بلکه مونږ دا غواړو چه آیا دده سره بیعت جائز دې که نه؟

منجانب: علماء ژوب بلوچستان

الجواب: محترم! اصولي طور سره مونږ دمخکښې جواب نه د زیات جواب ورکولو مجاز نه یو، دداسې سړي نه ځان ساتل ضروري دي چه هغه د دې هر نوی تعمیردپاره د باقي د ورانولو پالیسي لري.

د مولوي الله یار خان چکړالوي باره کښې په دریم ځل تپوس

سوال: محترم جناب مفتي صاحب دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! د مولوي الله یار خان متعلق ستاسو جوابونه ملاؤ شویدي، مهرباني اوکړئ یو واضحه او صفا جواب اولیکئ چه یوه لاره متعینه شي، ستاسو حضراتو فتوي د دواړو طرفونو د تائید کولو احتمال لري ډیره مهرباني به وی؟

از مولوي الله داد خطیب جامع مسجد فورټ سنډیمن

(۱) قال الرازی رحمه الله ومن المدعین للطریق جماعة وسموا انفسهم بالمشایخ الصادقین کما یقال الملامیة والقلندریة والحیدریه والحریریه وکذلک من ینسب نفسه الی الاحمدیه والدسوقیه والرفاعیه والمسلمیه والبسطامیه واشباههم فان الغالب علی هؤلاء مخالفتهم لطریق من انتسبوا الیه فان المنقول عن اشیاخ هؤلاء التقید باداب الکتاب والسنة قال والضابط فی تمییز الصادقین منهم من غیرهم اقامتهم الاعمال الشرعیة علی قانون المتابعة والتأدب باداب اهل الطریق علی وفق سیر المشائخ قال وکل من ادعی انه خلص مع الله ضمیره ونال رتبته فی الحقیقة الخ. (البهجة السنیة فی اداب الطریقة النقشبندیه ص ۳۵ باب فی بیان المشیخة)

الجواب: محترم المقام جناب الله داد صاحب. السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! د حضرت الاستاد مفتی اعظم دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک جناب مفتي صاحب مدظله په نوم باندې ستاسو د طرفنه څو ځلې تپوسونه اوشول، حضرت د امت برکاتهم تاسو ته اصولي جوابونه درکړل او مدلل جوابونه ئې درکړل، دارالافتاء ددینه علاوه شخصي فیصله نشي کولی البته څه دوه خبرې کووم. (۱) داسې سړې چه دهغه د تصوف رنګ د سلفو صالحینو او اکابرو مرحومینو نه خلاف وي او دهغه دعوت د جمهور اهل اسلام مطابق نه وي. (۲) د هغه مریدان د شرعي پابندئ نه بغیر د الوتلو د عوٰی کوي او په عوامو کښې دفتني خورولو کلکه اراده هم لري نو دداسې کس نه صرف دا نه چه بیعت نه دي کول پکار بلکه دهغه سره ناستې پاستې او تعلق ساتلو نه هم بچ کیدل ضروري دي. هذا ما عندی ولعل عند غیری احسن من هذا.

لیکونکې: عبدالحکیم خادم دارالافتاء دارالعلوم حقانیه په مُهر دحضرت صدر مفتي صاحب مدظله دارالعلوم حقانیه مفتي محمد فرید صاحب دامت وبرکاتهم.

د مولوي الله یار خان تصوف او طریقت شنه او بغیر نتیجې دي

سوال: مولوي الله یار خان د خپل کتاب دلائل السلوک په صفحه ۴۴ باندې لیکي چه سړې په شپږ میاشتو کښې د انحضرت ﷺ سره روحاني تعلق قائمولې شي. په دویم کتاب کښې ئې لیکلي دي چه زمونږ په جماعت کښې څو کسان داسې شته چه په یوه هفته کښې د انحضرت ﷺ په لاس مبارک باندې بیعت ورکولې شي په صفحه ۴۷ باندې لیکي! که یو مدعي دربارِ نبوي ته رسیدل نشي کولې او بیا هم بیعتو نه اخلي نو هغه به ماخوذ وي او دهوکه باز دې د ناقص او کامل دغه پیژند ګلو ده. د کتاب دلائل السلوک په صفحه ۵۸ باندې ئې د غوث، قیوم، قطب وغیره اعلي اوصاف ذکر کړي.دي نو د غوث په اوصافو کښې ئې دا هم لیکلې دي چه هغه خپلو شاګردانو ته غیبي فیض ورکوي او بیا لیکي! په څو مزارونو ځما تیریدل اوشو خلق د عقیدت اظهار کوي او صاحب قبر ته عذاب ورکولې کیږي وغیر وغیره. دده څو شاګردان او مریدان ښکاره په ښکاره دعوي کوي چه ځمونږ حضرت هم ټول منصبونه تقسیموي یعني د ظاهري شیخ نه ئې نه بیعت کړې او نه ئې تربیت حاصل

کړې، دې باره کښې وضاحت او کړئ؟

المستفتي: حق نواز فاضل وفاق المدارس ناظم دفتر جامعه اشرفیه سکهر ۸ رمضان ۱۴۰۳ھ

الجواب: دې پیرِ صاحب چه د بیعت کوم شرطونه مقرر کړې دي نو په دیکښې ئې ټولو متقدمینو او متاخرینو ارباب طریقت نه مخالفت کړې دې.او د تعجب قابل ئې دا متضاد خبرې هم دي چه کله کشف غیر معتد به ګرځوي او کله ورته د کمال او ولایت شرط وائي،بهر حال داسې دعوي کونکې پیر د ځنګلیانو او فوجیانو خلقو سره مناسبت لري د طالبانِ خدا دپاره داسې تصوف شنه او بغیر نتیجې دې.وهو الموفق.

د پیر د الفاظو. مقبولک مقبولی ومردودک مردودی.. حکم

سوال: که یو پیر اووائي چه مقبولك مقبولی ومر دودك مردودی،، بیا دا سړې په هر مجلس کښې دا خبره کوي.ددې څه حکم دې؟

المستفتي: عطاءالرحمان پیر سباق نوشهره... ۲۳ صفر المظفر ۱۴۰۱ھ

الجواب: دا الفاظ په مَکر او دهوکې سره وئیلې شوې دی په دې سره عوام او وهمي خلق ځان ته په رغبت کښې راولي،داسې الفاظو وئیلو والا پخپله د مردود کیدلو په خطرو کښې ګرفتار دې د قبولیت او ردکیدلو دارومدار د شریعت په موافقت او مخالفت باندې دي(۱) دچا په عزم او اراده باندې نه دي:فقط

دبیعت فسخ کول. په مجلس ذکرکښې د ارواحوحاضري اودعلمائې حق میانه روی

سوال: (۱) دکوم شیخ نه چه مرید ته فائده نه کیږي نو آیا د بل پیرنه بیعت کول صحیح دی؟ او حال دا چه د مخکښې شیخ سره هم اعتقاد لري. (۲) کوم مرید چه د مخکښې پیر نه ورته فائده هم وي دا بیعت فسخ کړي او بل پیر سره بیعت او کړي نو په دې کښې څه ګناه شته؟ (۳) آیا د اولیائې کرامو،علمائې عظامو یا ټولو انسانانو روحونه دنیا ته واپس راتللې شي؟ (۴) یو صوفي صاحب وائي چه په مجلسِ ذکر کښې ادب سره ذکر کوئ ځکه چه د سلسله طریقت د اصحابو روحونه حاضریږي چه په مجلسِ ذکر کښې کیني. آیادا عقیده صحیح ده؟ (۵) یو

(۱) وقد قال الجنیدرضی الله عنه یقول لاتلتفتوا قط لشخص ولو تربع فی الهواء الا ان رأیتموه تقید بالشریعة امراً ونهیاً .(البهجة السنیة فی الطریقة النقشبندیه ص ۳۵ باب فی بیان المشیخة)

کس نه مي اوریدلي دي چه د اهل سنت والجماعت عقیده ده او د علمائي دیوبندهم دا مسلک دي تر دي چه د حضرت شیخ التفسیر مولانا احمد علي لاهوري رحمه الله نه هم دا خبره په (انوار ولایت) کښي نقل شوي ده. کومه خبره چه په سوال نمبر ۴ کښي لیکلي ده آیا د هغه داسي وئیل صحیح دي؟

المستفتي: میاں گل زاده ډاګ اسماعیل خیل نوشهره پشاور ۱۹۷۰/۱۱/۱۹

الجواب: (۱) د معمولاتو د پابندئ باوجود هم مرید ته فائده نه ورکوي. مثلاً د سنتو د اتباع او رغبت ورته نه حاصلیږي نو هغه دپاره تجدید جائز دي. (مجموعة الفتاویٰ صفحه ۲۱۷ نمبر ۲). ﴿۱﴾ (۲) داسي کس په هر ځائي کښي د برکت او فائدي نه محرومه وي (القول الجمیل)، یعني دا کار موهم (ګناه والا) نه دي خو مُضر دي. ﴿۲﴾ (۳) مولانا رشید احمد ګنګوهي، قاضي ثناء الله پاني پتي، امام شاه ولي الله او امام سیوطي رحمه الله په خپلو کتابونو کښي جواز لیکلي یعني د الله تعالی په اجازت سره راتللي شي. او که د حوالو ضرورت وي نو بیا رجوع او کړئ. ﴿۳﴾ (۴) اګر چه دا ممکن ده او ډیر کرته د کشف په ذریعې سره هم ثابت دي. لیکن دا عقیده د عوامو دپاره د مشکوکو شبهاتو باعث جوړیږي. (۵) په علمائي حق کښي میانه روي موجود ده نه د نجدیانو سلفیانو پشان سختي کوي او نه د مبتدعینو پشان صرف آرزو ګانو نه عقیدي جوړوي. د مولانا احمد علي لاهوري صاحب کشف کیدل منلي شوي خبره ده او دهغه د شرک او بدعت رد کول هم څه پټه خبره نه ده فقط

﴿۱﴾ وایضاً قال الشیخ محمد بن عبد الله الخانی النقشبندی وجوزوا التعدد بل فی حیاة الشیخ الاول اذا رأی الطالب رشده فی موضع آخر یجوز له من غیر انکار لشیخه الاول ان یذهب الیه ویاخذ علیه ویتخذه شیخا ثانیا. (البهجة السنیة فی اداب الطریقة النقشبندیه ص ۳۰ باب فی بیان المشیخة)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن حجر المکی فی خاتمة الفتاویٰ من المسائل المنثورة والاخذ عن مشائخ متعددین یختلف الحال فیه من بین من یرید التبرک ومن یرید التربیة والسلوک فالاول یاخذ ممن شاء لاحجر علیه واما الثانی فیتعین علیه علی مصطلح القوم السالمین......ان لا یتدئ الا بمن جذبه الیه حاله قهراً علیه بحیث اضمحلت نفسه بقاهر حال ذلک الشیخ المحق وتحلت له عن شهواتها و اراداتها فحینئذٍ یتعین علیه الاستمساک بهدیه والدخول تحت جمیع اوامره ورسومه ......فان لم یجدحال شیخ کذلک فلیتحر اورع المشائخ واعرفهم بقوانین الشریعة والحقیقة. ویدخل تحت اشاراته ورسومه کذلک ومن ظفر بشیخ بالوصف الاول والثانی فحرام علیه عند هم ان یترکه ......اذخاصیته سوء الادب زوال البرکة وتبدل النور بالظلمة والحجاب والبعد المعنوی والضرر تغیر طبع الشیخ اولم یتغیرالخ. (البهجة السنیة فی اداب الطریقة النقشبندیه ص ۲۴ باب فیما یلزم المرید من الشرائط)

﴿۳﴾ (والتفصیل فی کتاب الروح لابن القیم الجوزیه المسالة الثالثه هل تتلاقی ارواح الاحیاوارواح الاموات)

د حقیقت محمدي او روح محمدي نه د بریلیانو د استدلالاتو نه جواب

سوال: بریلیان حضرات پیغمبر علیه السلام حاضر ناظر او عالم الغیب او په کائناتو کښي متصرف ګڼړي او علمائي د یوبند دي عقیدو ته شرکیه وائي. بریلیان وائي چه مونږ دا عقیدې د پیغمبر علیه السلام دپاره د بشریت په لحاظ نه ثابتو و. بلکه د حقیقت محمدیه په جهت سره ئي ثابتوؤ. چه حقیقت محمدیه د کائناتو مصدر او مبدء او اصل دي. لکه څنګه چه مصدر په خپلو ټولو مشتقاتو کښي موجود وي نو دغه شان حقیقت محمدیه هم د کائناتو په ذره ذره کښي جاري او ساري دي هغي ته مونږ حاضر او ناظر وایو او دهغي په وسیلي سره کائنات جوړ شوي او قائم دي او هغي ته متصرف في الکائنات وایو دا عقیدي مونږ په لحاظ د وجود سره نه منو. دارنګي د علمائي دیوبند عقیده ده چه حقیقت محمدیه د کائناتو اصل او مبدأ الاثار دي علمائي دیوبند ددي حقیقت محمدیه په وجي سره د نبوت بالذات او حیات بالذات عقیدي لري بلکه د آدم علیه السلام د پیدائش نه مخکښي د پیغمبر علیه السلام د نبوت بالفعل قائل دي حال دا دي چه د حقیقت محمدیه اصطلاح د وحدة الوجود نظریې والا اصطلاح ده لکه چه ابن عربي دا په اوومه صدئ کښي د ځان نه جوړه کړي. حقیقت محمدیه د ذات مطلق (الله تعالی) اولني تعین او اولني تنزل هم ګڼړي او د اتسلیموي چه دا نظر په د کشف نه ثابت ده او د موضوعي او ضعیفو حدیثونو سهارائي اخستي ده. مثلاً حدیث دلولاک الخ اول ما خلق الله العقل، حدیث او حدیث د جابر رضی الله عنه وغیره. په اولنئ پیړئ داسي څه ځیزنه دي ثابت، او دیوبندي حضرات دا نظریه د تکمیل ایمان ذریعه ګڼړي او ددي کشفي او اختراعي نظریې مختلف تعبیرونه ئي د عقائدو په کتاب کښي لیکلي نو آیا دیوبندي او بریلوي اختلاف په صحیح بنیاد ونو باندي دي؟ بینوا توجروا.

المستفتي: صوفي انور حویلي بهادر شاه شورکوټ جهنګ ۲۴ رمضان ۱۴۰۵ه

الجواب: اول ما خلق الله روحي، او، اول خلق الله نوري، ضعیف روایتونه دي لیکن ددین د ضروریاتو سره متصادم نه دي او حقیقت محمدي یو کشفي امر دي. ﴿۱﴾ دا نه ده د روحِ محمدي نه تعبیردي او نه د نورِمحمدي نه تعبیردي. کما لایخفي علی من راجح الی کتب اهل التصوف ﴿۲﴾ په داسي کشفي کارسره

﴿۱﴾ شیخ العلامه مفتي اعظم مفتي محمد فرید د امت برکاتهم فرمائي چه په حقیقت محمدي او حقیقت احمدي کښي فرق دادي چه حقیقت محمدي هغه حقیقت دي چه محبوبیت سره لږ مقدار د محبیت هم ګډو شوي وي او حقیقت احمدی هغه حقیقت دي چه خالص محبوبیت پکښي دي. (سلسله مبارکه ص ۲۷ ا مراقبات ولایت کبریٰ)

﴿۲﴾ قال الشیخ احمد فاروقی مجدد الف ثانی در جواب گویم که حقیقت محمدی نهایت مقامات نزول محمد علیه السلام است ازواج تنزیه والتقدیس وحقیقت کعبه نهایت مقامات عروج است. (مکتوبات امام ربانی ص ۳۳۴ جلد ۱ مکتوب ۲۰۹)

ضروریاتِ دین مجروح کول نه ده نص تقاضا ده او نه د عقل. او د عالم د روحِ محمدی نه فیض کیدل نه مردود دي او نه ممنوع، ,,لسکوت الاحادیث عنه،، البته ټول عالم د روح محمدي ماده او مصدر کیدل مردود دی.

لاستلزامه وجود روح محمد فی المسلم والکافر وفی النجاسات والطیبات ولا ستلزامه کون روحه جزء من کل مخلوق مثل المصدر من المشتقات وغیر ذلک من الاشکالات ـ وهو الموفق

د یو ژوندي پیر نه بیعت کول او تعویذونه پرې کول او درود وئیل

سوال: (۱) د ژوندي پیرنه بیعت کول څنګه دي؟ (۲) په یو پیر باندې تعویذونه کول چه څما فلانکي کار اوشي دا څنګه دي؟ (۳) د مونځ کولونه پس یا هر وخت چه وي درود شریف وئیل څنګه دي؟ بینوا توجرو.

المستفتي: سیف الدین اټک

الجواب: (۱) د ژوندي او باشریعت صحیح العقیده پیر نه بیعت کول مستحب او اهم کار دي ﴿۱﴾ (۲) نه ممنوع دي او نه مطلوب بلکه مباح دي خو چه مضمون غلط او د شرک نه وي. ﴿۲﴾ (۳) درود شریف وئیل بذاتِ خود یو عظیم عبادت دي خو التزام د مالایلزم عظیم بدعت دي. ﴿۳﴾ فقط

د مشرک مبتدع، جاهل او متجاهل پیر نه بیعت کول

سوال: (۱) یو پیرعرس کوی، کټې ګوتې ښکلوي، د آذان مخکښې خامخا صلاة و

﴿۱﴾ قال الامام العارف الشیخ عبدالوهاب الشعرانی قد اجمع اهل الطریق علی وجوب (لزوم) اتخاذ الانسان له شیخا یرشده الی زوال تلک الصفات التی تمنعه من دخول حضرت الله تعالیٰ بقلبه لتصح صلاته من باب مالایتم الواجب الا به فهو واجب (لازم) ولا شک ان علاج امراض الباطن من حب الدنیا والکبر والعجب والریاء والحقد والحسد والغل والنفاق کله واجب الخ. (البهجة السنیة فی اداب الطریقة النقشبندیه ص ۲ مقدمه)

﴿۲﴾ لحدیث ورد فیه لابأس بالرقیٰ مالم یکن فیه شرک رواه مسلم وابوداؤد. (مشکواة المصابیح ص ۳۸۸ جلد ۲ کتاب الطب والرقی) وایضاً عن عبد الله بن عمر ومن لم یعقل کتبه فاعلقه. (ابوداؤد ص ۱۸۷ جلد ۲ باب کیف الرقیٰ کتاب الطب)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین وبان تخصیص الذکر بوقت لم یرد به الشرع غیر مشروع. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۶۱۳ جلد ۱ باب العیدین)

سلام وائی. دداسې پیرنه بیعت کول او دهغه مرید کیدل څنګه دی؟ (۲) که یو پیر علمائې دیوبند د اسلام نه خارج ګڼړي او احمدرضا خان حق او مقتدا مني دداسې پیرنه بیعت کیدل څنګه دي؟

المستفتي: قائم الدین ډهوک زمان میان والی....۱۹۷۸ء۱۷\۲۳

الجواب: (۱) د اهل اسلام دپاره د مشرک او مبتدع پیرنه بیعت کول حرام او ډیر لویه ګناه ده. ﴿۱﴾ (۱) دداسې جاهل یا متجاهل پیر مرید کیدل په جهل کښې دباقي پاتې کیدلو کامیابه ذریعه ده.

د صفات جمالیه، جلالیه او مراقبو وضاحت

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه جمالي صفت او دهغې مصداق او نښه څه ده؟ او دغه شان صفت د جلال څه څیز دي او آیا دې د مراقبو اثرات ددې مطابق وي؟

المستفتي: خلیل الرحمان انور خطیب مونټن آرټلري رجمنټ جهلم ۳ شعبان ۱۳۸۹ هـ

الجواب: په کومو صفاتو کښې چه د غلبې معنٰی وي لکه عزیز، ملک، قهار، منتقم، وغیره دیته جلالي صفات وائي. او په کومو صفاتو کښې چه د شفقت او ترحم معنٰی وي لکه رحمان، رحیم، غفور، نو دیته صفات جمالیه وائي. ﴿۲﴾ (وفی الحقیقة الصفات هي المبادی والاسماء هی المشتقات) او ددې صفاتو او اسماؤ مراقبې جمالي او جلالي وي، علي وفق الصفات والاسماء. فقط

د کامل پیرطریقت د پیژند ګلو طریقه

سوال: ستاسو حضراتو په نزد باندې په پاکستان کښې کامل پیر طریقت څوک دي او د بیعت قابل پیر والا نښه څه ده؟

المستفتي: محمد عبد الغفور نرول دروازه ډیره اسماعیل خان. ۱۹۷۲\۱\۱۷

﴿۱﴾ قال الامام رازی والضابط فی تمیز الصادقین منهم من غیرهم اقامتهم الاعمال الشرعیه علی قانون المتابعة والتأدب باداب اهل الطریق علی وفق سیر المشائخ قال وکل من ادعی انه خلص مع الله ضمیره ونال رتبة فی الحقیقة وانه تنزه عن التقید بظاهر الشریعة وسقط عنه التکلیف والارتسام بمراسم الشریعة وجعل التقید بالشریعة للعوام المنحصرین فی مضیق الاقتداء فاعلموا انه مفتون فی دینه وهو من اهل الالحاد والزندقة والفلسفة والاباحة فایاکم ان تصحبوا مثل هذا وتعتقدوه فان ظلمة انفاسه سم قاتل لقلوب المریدین اولا یعلم هذاالجاهل المغرور ان الشریعة هی قشرلب الحقیقة الخ. (البهجة السنیة فی اداب الطریقة النقشبندیه ص ۳۵ باب اداب المشیخة)

﴿۲﴾ قال العلامه الوسی والصفات اما جمالیة او جلالیة، وللاولیٰ السبق کما یشیر الیه حدیث سبقت رحمتی غضبی. وباء الجر اشارة الیها لانها الواسطة فی الاضافة والافاضة. الخ (روح المعانی ص ۸۹ ابحاث جلیلة فی البسملة)

الجواب: د علماؤ او صلحاؤ په زړونو کښې چه کوم پیر مقبولیت موجود وي(۱) د هغه نه بیعت کول پکاردی مثلاً مولانا محمد عبدالمالک صاحب صدیقی، مولانا محمد عبدالله درخواستی صاحب، وغیره وغیره فقط

د الله ﷻ د موجوداتو سره د معیت وضاحت

سوال: د موجوداتو سره د الله جل شانه معیت په کومه طریقه منل صحیح وي ځکه چه محققین علماء کرام د معیتِ علمي قائل دي او د وجودی صوفیاء د معیت ذاتي قائل دي. دا مسئله د معرفت خداوندي سره متعلق ده نو په دې وجه باندې صحیح نوعیت څه دې؟

المستفتي:صوفي انوار خالد شور کوټ ضلع جهنګ...۲۴ رمضان۱۴۰۵ھ

الجواب: په معیت علمی او معیت ذاتی کښې کما یلیق بشانه، هیڅ تضاد نشته. وهوالموفق

د فیوض الحرمین کتاب په مؤلف باندې تنقیدی نظر

سوال: یونظرپه کتاب، فیوض الحرمین. چه ماسټرفاروق مردان والا لیکلې دې.

المستفتي:نامعلوم معرفت محمود الحق حقاني صاحب...یکم ۱نومبر ۱۹۸۳

الجواب: که دا مؤلف (صاحب کشف) مجذوب وي نو دده مؤاخذه او ردنه کول د طریقې نه خلاف کار دې او که مجذوب نه وي نو دا د کاملانو د طبقې نه نه معلومیږي. د کاملانو رویه فناء او ترکِ دعوي وي. لیکن ددې کشفونو د شریعت سره غیر متصادم کیدلو په وجه باندې ده ته د ګمراهۍ نسبت کول قابلِ اعتراض خبره ده.

نوټ: دداسې مدعیانو نیول په هره زمانه کښې د اهل علمو معمول پاتې شوې دې. وهوالموفق

---

(۱) وعن الامام الرازی رحمه الله تعالیٰ ویجب علی الطالب الصادق فی بدایته ان لایصحب اکثرملعی المشیخة فی هذاالعصر البتة الا بظهور امارات الصدق بالهام من الله تعالیٰ للطالب اوبشهادة الصادقین من اهل الطریق لذلک الشیخ. (کتاب البهجة السنیة فی اداب الطریقة النقشبندیه ص ۴۳)

د اُردو یو شعر وضاحت

سوال: علمائې کرام دې باره کښې څه فرمائي چه څو ورځې یو نعت خوان په عُرس کښې دا شعر اووئیلو چه د دې وئیل څنګه دي؟ شعر دادې:

پھریں تھے کعبہ میں بھی پوچھتے اجمیر کا رستہ
جو رکھے اپنے سینوں میں تھے ذوق وشوق عرفانی

ترجمه: ګرځیدلو په کعبه کښې او د اجمیر شریف دلارې تپوس ئې کولو څوک چه په سینو کښې عرفان د ذوق او شوق لری هغه داسې وي.
آیا داسې وئیل صحیح دی؟ بینوا و توجروا

المستفتي:خلیل احمد صاحب.............۴۱۳۱۱۹۷۴

الجواب: په دې شعر کښې خلاف شرع خبره نشته ځکه چه د الله په کور کښې هم د کامل شیخ د تربیت نه بغیر اَلله ته رسیدل مشکل دي. وهوالموفق.

د نبي ﷺ سره براه راست د بیعت او خبرو کولو دعوی کول

سوال: زید دعوٰی کوي چه څه د نبي کریم ﷺ سره براه راست بیعت کووم او کوم پیر چه دربارِ نبوي ته براهِ راست رسول نشي کولې هغه پیرنه دې. دویمه دعوٰی داده چه څه د هر مړي سره خبرې کولې شم او ښودلې شم چه جنتي دې که دوزخي دې. اود مقتول نه د قاتل په باره کښې تپوس هم کولې شم. دریمه دعوٰی داده چه کله څه حج له لاړم نو دربار نبوی کښې مې د پیغمبر علیه السلام په وړاندې یو څو مسئلې پیش کړې هغه ئې حل کړې او بیا نبي علیه السلام اوفرمائیل چه دا څما او خپلې خبرې اولیکه چه دین هم مضبوط وي. او خلق ترینه فائده واخلي. اوڅه خبرې نورې هم دي دهغې باره کښې نبي کریم ﷺ اوفرمائیل (اکتم في صدرک، (یعني ځان سره ئې اوساته) هلته کښې ناست ووم د روضه اطهر. نه دمؤذن آواز راغې چه، آشهد، لفظ واوریدلې شو نو پیغمبر علیه السلام وفرمائیل چه دا حضرت بلال دې او چه، حي علي الفلاح ته اورسیدلو نو د مسجد نبوي نه مؤذن اذان شروع کړو. څلورمه دعوٰی داده چه کله څه حج له لاړم نو ټولو انبیاؤ سره مې ملاقات اوخبرې اوکړې او دهغوي د دفن ځایونه مې معلوم کړل. دهغې قبرونو نښې وي د اوکه نه وي او دهغې پیغمبرانو نومونه په قران کښې وو او که نه ؤو. او د صحابه کرامو سره مې هم ملاقات او خبرې اوکړې. نو د شریعت په رڼړا کښې ددې سړې څه حکم دې؟

المستفتي: نامعلوم............۱۵جنوري ۱۹۷۵

الجواب: دا ټول کارونه ممکن دي بلکه واقع شوې هم دي ليکن غالباً ددې دعوي کونکې دهوکه باز او دروغژن وي. وهو الموفق

په طريقه چشتيه کښې قوالي او موسيقي نشته

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه طريقه چشتيه والا د قوالۍ سره موسيقي هم کوي په دې کښې څه حَرَج شته که نه؟

المستفتي: سيد عنايت الرحمان چارسده..... ۱۹۱۲۱۱۹۹۱

الجواب: موسيقى کول حرام دي د قرآن، احاديثو اود فقهې نه ددې حُرمت ثابت دې. ومن فعله فقد فعله علاجاً لا التذاذاً كشرب الخمر للتداوى. وقيل فعله جذباً لاهل الهنود. ﴿۱﴾ فافهم

د پير او استاذ يو شان حق دې

سوال: په سړي باندې د پير حق زيات وي که د اساذ؟ او که دواړه برابر دي؟

المستفي: حافظ اخترعلي دارالعلوم گجرات مردان.... ۵ربيع الاول ۱۴۰۵

الجواب: د پير او استاذ حق يوشان دې. شيخ عبد الحق محدث دهلوي په اشعة اللمعات کښې ليکلي دي چه طريقه او سلوک په عِلم ظاهر کښې داخل دي. فليراجع الى كتاب العلم.

د اولياؤ کرامت او په قبر سره فيض حاصلول

سوال: د ولی د وفات نه پس دهغه کرامت برقراروی که ختميږي؟ دارنګې د ,,شاه عبدالعزيز اور ان کی تعليمات،نومې کتاب په صفحه ۵۱ باندې ليکلي دي چه په اهلِ قبور کښې بعضې بزرګان په کمال کښې مستثنٰی دی او د هغوي کمال په متواتر طريقې سره ثابت نه دي، دهغې بزرګانو نه د مدد غوختلو طريقه داده چه دهغه بزګ د قبر په سر طرف باندې به ګوته کيږدي

﴿۱﴾ قال ابن عابدين وما يفعله متصوفة زماننا حرام لا يجوز القصد والجلوس اليه ومن قبلهم لم يفعل كذلک.....قلت وفى التاتر خانيه عن العيون ان كان السماع سماع القرآن والموعظة يجوز وان كان سماع غناء لهو حرام باجماع العلماء ومن اباحه من الصوفيه فلمن تخلى عن اللهو وتحلى بالتقوىٰ واحتاج الى ذلک احتياج المريض الى الدواء وله شرائط ......والحاصل انه لا رخصة فى السماع فى زماننا. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۲۴۶ جلد۵ كتاب الخطر والاباحة)

او د الٓم، نه تر مفلحون پورې به اووائي بيا به د قبر ښپو طرفته لاړ شي او. آمن الرسول نه تر آخر د سورة بقره پورې به اووائي او په ژبې سره به اووائي چه اې څما حضرته د فلانکي کار دپاره. د الله په دربار کښې څه دُعا اوزاري کووم تاسو هم دعا اوکړئ. بيا به قبلې ته مخ کړي او د خپل حاجت دپاره به د الله تعالى نه دعا اوغواړي. نو آيا دا طريقه چرته د حديث نه ثابت ده او که خود ساخته ده؟ او په دې کښې د بزرګ نه سفارش کول ثابتيږي نو آيا دالله تعالى په دربار کښې دقيامت نه مخکښې د چا سفارش کيديشي اوددې نه دا هم ثابتيږي چه مړي آوری او دعا هم کولې شي نو آيا دا صحيح ده؟ او دا کتاب محوله مولوی ظهير الدين او حمد او تبصره د حضرت شاه رفيع الدين محدث دهلوي او تصحيح د مولانا سبحان محمود صاحب استاد کراچي.

اَلمستفتى: خليل الله زروبوی از تهائی لينډ.......... ۲۵جنوري ۱۹۷۵

الجواب: محترم المقام السلام عليكم نه پس داخبره واضحه وی چه د احاديثو نه دا ثابت دي چه په مرګ سره هغه عمل منقطع کيږي چه په هغې باندې ثواب او عذاب مرتب کيږي الاباذنه فى حق البعض، دارنګې داهم ثابت دي چه په قبر کښې مړي ته يوقسم حيات ورکولې کيږي چه په هغې سره د ثواب اوعذاب، ادراک او احساس کولې شي خبرې هم کولې شي اوريدل هم کولې شي البته په قرآن پاک کښې ډيرو داسې مسئلو ته توجه نه ده ورکړې شوې، دارنګې د احاديثو نه کرامت دمرګ نه پس او توسل هم ثابت دې. چه د ټولو علمائې ديوبند متفقه عقيده ده. خلافاً للسلفيه والنجدية. او دُعا هم کولې شي اګرچه مونږته دهغې علم نه کيږي. دهغوي نه فيض هم رسيږي او د استفاضې چه کومې طريقې مشائخونه منقول وی نوهغې کښې دا ضروري دي چه د قرآن اوحديث سره متصادم نه وی بلکه ټولو عملياتو کښې دا قانون دې (لان النبي عليه السلام قرر الرقي التي لا تشتمل علي الكلمات الشركيه ﴿۱﴾فافهم.

د خلافِ شريعت پير سره اقاله او متبع سنت پيرنه بيعت ضروري دي

سوال: د کوم پيرنه چه خلافِ شريعت کارونه ثابت وي دهغه اتباع ضروري ده اويوطرفته کيدل ترې نه ضَروري دي؟

المستفتي: الحاج نيازولي شاه حسن خيل شمالي وزيرستان ۲رمضان۱۴۰۵ھ

﴿۱﴾ عن عوف بن مالک الاشجعی ......فقال لا باس بالرقىٰ مالم يكن فيه شرک. رواه مسلم. (مشكواة المصابيح ص۳۸۸ جلد ۲ كتاب الطب والرقى)

الجواب: د خلافِ شریعت پیر نه بیعت کول یو هلاکونکي کار دي.﴿۱﴾ دهغه نه واپس کیدل او بل پابند شریعت او متبع سنت پیرنه بیعت کول ضروري دي. که دا پیر خوشحاله وي او که خفه وي. فقط

د بدعتي او جاهل پیرنه بیعت کول د بې برکتئ او هلاکت باعث دي

سوال: یو بریلوي پیر دي چه ډیر مبتدع او مشرکانه عقائد ساتي د نبي علیه السلام د بشریت نه هم منکر دي اوجاهل هم دي نوآیا داسې پیرنه بیعت کول جائزدي؟

المستفتي: گل محمد خان کوټ ادو مظفرگړه......۱۹۸۵ء ۱۴۱؍۲۳

الجواب: داسې پیر چه نه پخپله عالم وي او نه علماؤ سره کیني دهغه نه بیعت کول حرام دي چه کوم پخپله کالاعمي دي نوروته به د الله تعالی لاره څه اوښائي.﴿۲﴾ نو چه کوم پیر غیرالله غیب دان مني او یا د سید البشر صلی الله علیه وسلم د بشریت نه منکر وي اوغیرالله په تسلطِ غیبي باندې ایمان ساتي یاسرود او موسیقي کوي نو دداسې پیر نه بیعت کول د بې برکتئ او هلاکت باعث دي.

وهوالموفق

وجد غیر اختیاري امر دي

سوال: آیا ذکر په وخت کښې وجد راتلل د ثواب کار دي؟ دداسې وجد په باره کښې د احنافو علماؤ څه رائي ده؟

المستفتي: سبحان الله آلو مردان....یکم ربیع الثاني ۱۳۹۲ھ

﴿۱﴾ قال الشیخ محمد بن عبد الله الخانی الخالدی وایاک ان تصحب احداً من المدعین للطریق بلبس الزی اوتدعهم یاخذون علیک العهد فانهم اذی من الثعبان وذلک لانک تشهد الاذی من الثعبان فتاخذمنه حذرک ولا هکذا من ظهر مظهر الصلاح وهو فی الباطن شیطان فی زی انسان ...... والضابط فی تمییز الصادقین منهم من غیرهم اقامتهم الاعمال الشرعیه علی قانون المتابعة والتأدب باداب اهل الطریق علی وفق سیر المشائخ الخ.(البهجة السنیة ص ۳۵ باب فی بیان المشیخة وادابها)

﴿۲﴾ قال الامام ولی الله الدهلوی وانما شرطنا العلم لان الغرض من البیعة امره بالمعروف ونهیه عن المنکر وارشاده الی تحصیل السکینة الباطنة وازالة الرذائل واکتساب الحمائد ثم امتثال المسترشد نه فی کل ذلک فمن لم یکن عالما کیف یتصور منه هذا .(القول الجمیل مع شفاء العلیل ص ۲۲ حکمت بیعت)

الجواب: وجد یو غیراختیاری امردې په سلف صالحین باندې هم راغلې دي لهذا په دې باندې انکار کول منکردي.﴿۱﴾

د وجد بعضې مسئلې

سوال: د وجد په حالت کښې چه په قی وغیره باندې جمات خراب شي نو په دې سره جمات پلیت کیږئ او که نه؟ او آیا دا طریقه واقعي د ثواب او نجات باعث ده؟ او که د قران او حدیث نه خلاف ده؟

المستفتي: سبحان الله آلو مردان.یکم ربیع الثاني ۱۳۹۲ھ

الجواب: قئ کول په ډکه خولې سره پلیت او نجس دي﴿۲﴾ د کوم سړي په باره کښې چه د قې کولو یقین وي یا غالب گمان وی هغه جمات نه منع کول جائز دي که ذاکر وي. اوکه نه وی او که دا کار (وجداو قې) علاجاً ورفعاً للخطرات کوي نو د ثواب باعث دي اوکه بالخصوص هم دا ثابت گڼړی، یائې د التزام ما لایلزم درجې ته رسوی، نو بیا بدعت دي.﴿۳﴾ فقط

خلاف شریعت سړې ولی الله نشي کیدلې

سوال: که یو سړې د راتلونکو حالاتو پیشنگوئي کوي چه په هغې کښې بعضې خبرې صحیح هم خیژي لیکن دهغه ظاهر هم د شریعت موافق نه دي او قول وفعل ئې هم د اسلام نه مخالف دي نو داسې سړې ولي الله کیدیشي؟

المستفتي: حضرت جمال کلرک افس گورنر هاؤس پشاور ۲۲ رمضان المبارک ۱۴۰۵ھ

الجواب: داسې سړې ولي الله منل دجاهل یامتجاهل کاردي.﴿۴﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامه طحطاوی الوجد مراتب وبعضه یسلب الاختیار فلاوجه لمطلق الانکار وفی التتار خانیة مایدل علی جوازه للمغلوب الذی حرکاته کحرکات المرتعش .(طحطاوی علی المراقی ص ۱۷۳ قبیل باب مایفسد الصلاة)

﴿۲﴾ قال العلامه سید احمد طحطاوی انه لا فرق بین انواع القئ سواء قاء من ساعته ام لا ......والصحیح انه حدث ونجس فی الکل کما فی الجلی .(طحطاوی علی المراقی ص ۴۹ فصل فی ماینقض الوضوء)

﴿۳﴾ قال العلامه ابن نجیم ولان ذکر الله اذاقصدبه تخصیص بوقت دون وقت او بشئ دون شئ لم یکن مشروعا حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف مشروع .(البحر الرائق ص ۱۵۹ جلد۲ باب العیدین)

﴿۴﴾ قال العلامه محمد عبد العزیز الفرهاری الولی هو العارف بالله تعالیٰ وصفاته بحسب مایمکن ای بقدر الامکان المواظب ای الملازم علی الطاعات حتی قیل ان الولی الکامل لایترک المندوب ،المجتنب عن المعاصی حتی انه یخرج بالکبیرة واصرار الصغیر عن الولایة ،المعرض عن الانهماک ای الاستغراق فی اللذات والشهوات .الخ (النبراس شرح شرح العقائد ص ۲۹۵ کرامات الاولیاء حق)

قال رسول الله ﷺ ما انزل الله داء الا انزل له شفاء. (الحديث)

کتاب الطب والرقية والتعويذ

كتاب الطب والرقية والتعويذ

د ظالم د پاره د ختم قران په وسیلې سره خیرې کول

سوال: عمرظالم او شرارتي سړی دی چه د زید د تنګولو اوبې عزته کولو او خلقو په مخکښې د شرمولو ډیر کوشش کوي د هغه نه ځان خلاصول ګران دي آیا په شریعت کښې داسې سړي د پاره د خیرو په طور سره ختم القرآن جائز دي که نه؟

المستفتي: سید واچ میکر بس اډه مردان... ۶محرم ۱۴۰۳ھ

الجواب: د ظالم په حق کښې خیرې کول جائز دي. قال الله تبارک وتعالی لا یحب الله الجهر بالسوء من القول الا من ظلم(۱) که د ختم القرآن په وسیلې سره وي او که نه وي. فقط.

د مار د زهرو کوزولو منتر او د هغې حکم

سوال: بنده د مار د زهرو کوزولو یو عمل کوي چه د ډیرې مودې نه د یو بزرګ نه داسې راروان دې او دا عمل خالص په انساني همدردئ باندې دی د هر قسم مالی فائدو نه خالی دې تر اوسه مې هیڅ نه دي حاصل کړې. او تر ننه پورې دا عمل ناکامه شوې نه دې د عمل الفاظ دادي. بسم الله الرحمان الرحیم. ګالا کهیرا کالابس جس کوکاتې کالا کرچړ بس. حضرت شیخ شرف الدین یحی منیري کی دهائی سې اتر بس اتر بس اتر بس، آیا دا الفاظ خو شرکیه نه دي. ؟ددې څه حکم دې؟ او دا منتر جائز دې که ناجائز؟

المستفتي: محمد سرور اسماعیل پور بهکر پنجاب.... ۱۰ذیقعده ۱۴۰۴ھ

الجواب: که دهائي ګفته وائي نو دا همت او عزیمت دې چه د مُباح عملیاتو نه دي. (۲) او که دهائي د بل څه نوم وي نو بیا مونږ خبر کړه. وهو الموفق.

﴿۱﴾ (پ:۶ سورةالنساء رکوع:۱ آیت:۱۴۸)

﴿۲﴾ عن عوف بن مالک قال کنا نرقی فی الجاهلیة فقلنا یا رسول الله ﷺ (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د تیغ بندئ د تعویذ شرعي حیثیت

سوال: که یو کس د خپل ځان د حفاظت د پاره د تیغ بندئ تعویذ کوي نو شرعاً ددې تعویذ څه حکم دې؟

المستفتي: نامعلوم.... ۱۲محرم ۱۴۱۱ھ

الجواب: دا بچاؤ په معجزه، کرامت، توجه او جادو سره کیدې شی (۱)(۲)

د مارلړم یا لیوني سپي دم او ډوریږو غیره مخصوص عمل جائز دي

سوال: (۱) که چاله مار لړم تک ورکړي یا ئې لیوني سپي او چیچي په هغه باندې دم کول جائز دي که نه؟ (۲) که جائز وي نو هر سړې دم اچولې شي او که نه کوم سړي ته چه اجازت وي؟ (۳) ځمونږ په علاقه کښې چه لیوني سپي څوک او چیچي نو د صاحبزادګانو یوه کورنئ ده، هلته کښې ځې هغوي بیا لس تولې وریږي غواړي چه په اُلته میچنه باندې میده شوې وي نو دهغې نه ګولئ جوړوې کړي هغه سړي له ئې په لاس کښې ورکوي چه دا وراني کړه او ګوره ورته او دې دم هم وائي. نو په هغه وریږو کښې هغه وینښته راوخیژي د کوم قسم رنګ والا سپي چه دې چیچلې وي. نو آیا ددې وریږو وغیره دا عمل د شریعت په رڼا کښې جائز دې که نه؟

المستفتي: حاجي موسٰی خان بازار مردان..... ۱۲ستمبر ۱۹۷۹ء

(بقیه حاشیه) کیف تری فی ذلک فقال اعرضوا علي رقاکم لا بأس بالرقاما لم تکن شرکا.
(ابو داؤد ص ۱۸۲ جلد ۲ باب ما جاء فی الرقی کتاب الطب)

﴿۱﴾ په کوم تعویذ کښې چه جائز الفاظ وي هغه به جائز وي او په کوم تعویذ کښې چه شرکیه او ناجائز الفاظ وي هغه به نا جائز وي.

لحدیث عوف بن مالک اعرضوا علی رقاکم لا بأس بالرقی ما لم تکن شرکاً.
(ابو داؤد ص ۱۸۶ جلد۲ باب ما جاء فی الرقی کتاب الطب) (از مرتب)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین (السحر) تعلمه و تعلیمه حرام اقول مقتضی الاطلاق و لو تعلم لدفع الضرر عن المسلمین و فی شرح الزعفرانی السحر حق عندنا وجوده و تصوره و اثره و فی ذخیرة الناظر تعلمه فرض لرد ساحر اهل الحرب و حرام لیفرق به بین المرأة و زوجها و جائز لیوفق بینهما الخ
(ردالمختار هامش الدرالمختار ص ۳۳ جلد ۱ مقدمة الشامی)

الجواب: (۱) جائز دي لحديث عوف بن مالک رواه ابوداؤد﴿۱﴾ (۲) بغیر اجازت نه حلت حاصلیږي لیکن همت نه حاصلیږي. ﴿۲﴾ (۳) جائز دي.﴿۳﴾

مار ګړم چیچلي په پاړو د مول

سوال: که مار خوک او چیچل نو دهغه دمول په مور پلار یا کلي علاقې نور مسلمانان په قرآن او حدیث سره افضل دي او که په پاړو باندې او دا جائز دي که نه؟

المستفتي: فضل کلام بازار تور ډهیر مردان

الجواب: چه کوم دم او منتر د شرکیه کلماتونه خالي وي په هغې کښې هیڅ ګناه نشته لحدیث عوف بن مالک قال رسول الله ﷺ اعرضو علي رقاکم لا باس بالرقی مالم تکن شرکا(رواه ابو داؤد) ﴿۴﴾ باقي د نیک او بد او قرآن او غیر قران د امتیاز او فرق کولو نه دچانکار نشته. وهوالموفق

د شیخ بابر د ځنګل لښتې په درد والا ځائې باندې مږل

سوال: دیو سړي سره د شیخ بابر رحمه الله د ځنګل یوه لښته ده. او د زخمونو او دردونو دپاره ئې په دې طریقه استعمالوي چه بس خلق راځي او هغه لښته په درد والا ځائې باندې ګرځوي نو آیا دا شرک نه دې یو مولوي صاحب به هم دَخپلو جوړونو دَرد دپاره دا استعمالوله نو ماورته د شرک اووئیل هغه دا حدیث اووې انما الاعمال بالنیات، نو آیا ددې حدیث په رڼا کښې دا عمل صحیح

﴿۱﴾ عن عوف بن مالک قال کنا نرقی فی الجاهلیة فقلنا یا رسول الله ﷺ کیف تری فی ذلک فقال اعرضوا علي رقاکم لا بأس بالرقا ما لم تکن شرکا(ابوداؤد ص ۱۸۶ جلد ۲ باب ما جاء بالرقی)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن القیم الجوزیة ان الاذکار و الایات او الادعیة التی یتشفی بها ویرقی بها هی فی نفسها نافعة شافعةولکن تستدعی قبول المحل وقوة و همة الفاعل ...... و کان للراقی نفس فعالة و همة مؤثرة فی ازالة الداء. (الجواب الکافی لابن القیم ص ۱۰ دواء العی السوال)

﴿۳﴾ یدل علیه ما فی الهندیة قال شهاب الدین الاذامی لا بأس با حراق الغثاء الملتقط من الطریق وادارته حول من اصابته العین و نظیره صب الشمع فوق الصبی الخائف قال الشیخ اللباری انما یباح اذا لم یرا لشفاء منه کذا فی القنیه(فتاوی هندیه ص ۳۵۶ جلد ۵ الباب الثامن عشر فی التداوی و المعالجات کتاب الکراهیة)

﴿۴﴾ (ابوداؤد ص ۱۸۶ جلد ۲ باب ما جاء فی الرقی کتاب الطب)

کیدلي شي چه هغه وائي دا څه تبرکاً استعمالوم شرکاً نه ددې شرعي حیثیت څه دې؟

المستفتي: عبدالوهاب سکنه زړه میانه نوشهره........۳ ربیع الاول ۱۳۸۹ھ

الجواب: دا عمل شرک نه دې بلکه تبرک دې. والتبرک لیس بشرک لثبوته باشعار النبي علیه السلام ولباسه ووضوءه و دمه وفضلاته وغیر ذالک. لیکن په تبرکات ثابته کښې ددې تبرک هیڅ اصل نشته نو لهذا نه په دې لښته کښې تبریک شته کما عند الفرقة القبریة او نه په کښې تشریک شته کما عند الفرقة النجدیة ولنعم ماقیل الجاهل اما مفرط واما مفرط او ددې حدیث نقل کول دلته کښې بې محله دي البته انا عند ظن عبدي بي﴿۲﴾ حدیث څه ناڅه مناسبت لري. فقط

د مریض د شفا د پاره د قرآن شریف سره اوبه تلل

سوال: بخدمت اقدس جناب مفتي صاحب دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک. ما پر له پسې دوه نسخې د قرآن مجید په خپلو لاسونو باندې اولیکلې اوس په نشته چه خلقو ته څنګه معلومات اوشو چه دا قلمي نسخې دي اوس خلق راځي دا د تلې په یو طرف کښې کیږدي او بل طرفته ورسره اوبه وزن کوی او وائي چه کله دا اوبه مریض باندې او څکولې شي یا په نورو اوبو کښې ملاؤ شي او مریض له پرې غسل ورکړیشي نو هر څنګه مرض چه وي شفا ورته کیږي. نو آیا په دې تول کولو او وزن کولو به خو د قرآن مجید احترام ختمیږي نه او ایا دا عمل جائز دې؟ مهرباني اوکړئ شرعي حکم واضح کړئ چه څه ئې خلقو ته اووایم. بینو اتوجروا

المستفتي: نائب صوبیدار شیر محمد قریشي دوبیرن کلان راولپنډي ۱۹۲۹ء۱۹۵۱۵۱

الجواب: د قران مجید تول کول سپکوالي نه دې نه شرعاً او نه عرفاً نو په دې

﴿۱﴾ عن عثمان بن عبدالله بن موهب قال ارسلنی اهلی الی ام سلمه بقدح من ماء و کان اذا اصاب الانسان عین اوشیٔ بعث الیها مخضبه فاخرجت من شعر رسول الله ﷺ و کانت تمسکه فی جلجل من فضة فخضخضته له فشرب منه قال فاطلعت فی الجلجل فرأیت شعرات حمراء. رواه البخاری.
(مشکواة المصابیح ص ۳۹۱ جلد ۲ باب الطب والرقی)

﴿۲﴾ عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ یقول الله تعالی انا عند ظن عبدی بی و انا معه اذاذکرنی فان ذکرنی فی نفسه ذکرته فی نفسی وان ذکرنی فی ملأ ذکرته فی ملأ خیر منهم. متفق علیه
(مشکواة المصابیح ص ۱۹۶ جلد ۱ باب ذکرالله و التقرب الیه)

عمل هیڅ مسئله نشته دي خو په دي شرط چه د عبادت او ثواب په نیت سره نه وي بلکه د عمل او علاج په ارادې سره وي. ﴿۱﴾ والدليل علي جواز العمليات تقرير النبي علیه السلام الرقي اللتي صح مضمونها ﴿۲﴾ فقط

د فکر، وسوسې او پریشانئ د پاره وظیفه

سوال: څه غوارم چا ماسره د یو څیز غم نه وي لیکن طبیعت مې داسې جوړ شوې دې چه د معمولي خبرې سره سخت فکر او پریشاني وي چه څما د برداشت نه بهر وي مثلاً جامې لرې خیرنې وي یا بل څه معمولي خبره چه بالکل د فکر قابله نه وي او ماته سخت فکر جوړیږي. او حال دا دې چه څه د زړه نه بالکل فکر نه غوارم او دا وسوسې راته راځي او سخته پریشاني راته جوړیږي. لهذا تاسو حضرات ددې غیر اختیاري، نفساني او شیطاني پریشانئ په باره کښې څه حل راولیږئ؟ او دَ دعا ګانو خصوصي درخواست کوم.

المستفتي: عبدالرشید فورت ایئر میډیکل هاستل نمبر ۲ پشاور یونیورستي ۱۹۷۹ء/۲۲/۱۴۱

الجواب: ته لا حول ولاقوة الا بالله. په کثرت سره وایه او الم نشرح سورة کم نه کم یولس ځلې وایه او څه مودې پورې یو ناني علاج هم اوکړه. فقط

په مونځ کښې د وسوسو لرې کولو د پاره وظیفه

سوال: ماته په مونځ کښې وسوسه راځي او خیال راځي چه بس مونځ پریږدم ډیر زیات فکر مند یم چه دا وسوسې به څنګه ختمې شي؟ څه حل راته راولیګئ ډیره مهرباني به وي.

المستفتي: عبدالرشید کامران جنرل ستهور.... ۵ربیع الثاني ۱۳۹۶

﴿۱﴾ قال ابن عابدين اختلف في الاستشفاء با لقرآن بان يقرأ علي المريض او الملدوغ الفاتحة او يكتب في ورق و يعلق عليه او في طست و يغسل و يسقى و عن النبي صلی الله علیه وسلم انه كان يعوذ نفسه قال رضى الله عنه وعلى الجواز عمل الناس اليوم و به وردت الاثار.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۵۷ جلد ۵ قبيل فصل في النظر كتاب الحظر والاباحة)

﴿۲﴾ عن جابر قال نهى رسول الله صلی الله علیه وسلم عن الرقى فجاء ال عمر و بن حزم فقالوا يا رسول الله صلی الله علیه وسلم انه كانت عندنا رقية نرقى بها من العقرب وانت نهيت عن الرقى فعرضوها عليه فقال ما ارى بهابأساً من استطاع منكم ان ينفع اخاه فلينفعه رواه مسلم وايضاً عن عوف بن مالك الاشجعى قال كنا نرقى في الجاهلية فقلنا يارسول الله كيف ترى في ذلك فقال اعرضوا على رقاكم لا بأ س بالرقى ما لم يكن فيه شرك رواه مسلم (مشكواة المصابيح ص ۳۸۸ جلد ۲ كتاب الطب والرقى)

الجواب: ستا دا وسوسې بدمنل او ددې د نه راتللو آرزو کول دا عین ایمان دې. كما في حديث مسلم نعم ذاک صريح الايمان ﴿۱﴾ (مشکوٰة ص ۱۹)

دا نه کفر دې او نه ګناه ده ته اعوذ بالله من الشطن الرجيم لا حول ولاقوة الا بالله العلي العظيم. هره ورځ اویا ځلې وایه او حلال خوراک کوشش کوه.

وهو الموفق

دمونه او تعویذونه د احادیثو نه ثابت دی

سوال: دم درود، تعویذونه وغیره چه هرقسمه وي د محبت، دشمنئ، اولاد پیدا کیدلو، بیمارئ او روزګار پیدا کیدلو دپاره چه وي د قرآن او حدیث په حوالې سره صحیح دي که نه؟ او رسول صلی الله علیه وسلم څوک دم کړې دي؟ یائې چا ته د تعویذ حکم کړې دې؟ د قرآن او حدیث په حوالې سره خبر راکړئ.

المستفتي: عبدالشکور.... ۹۱۵۱۱۹۷۳

الجواب: واضحه دې وی چه پیغمبر علیه السلام بیماران دم کړي دي او صحابه کرام رضی الله عنهم ته ئې د دم وئیلو اجازت ورکړې دې او صحابه کرامو رضی الله عنهم بیماران دم کړي دي او دا ټولې خبرې په بخاري شریف وغیره کښې صراحةً موجود دې. ﴿۲﴾ دارنګې هغه عملیات چه په خلافِ شریعت کلماتو باندې مشتمل نه وي هغه ئې هم جائز ګرځولي دي. لحديث مسلم اعرضوا علي رقاكم لا باس

﴿۱﴾ عن ابى هريرة رضى الله عنه قال جاء ناس من اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم الى النبى صلی الله علیه وسلم فسالوه انا نجد فى انفسنا ما يتعاظم احدنا ان يتكلم به قال او قدوجدتموه قالوا نعم قال ذاک صريح الايمان. رواه مسلم. (مشكواة المصابيح ص ۱۸ جلد ۱ باب فى الوسوسة)

﴿۲﴾ (۱) عن عائشة ان النبي صلی الله علیه وسلم كان ينفث على نفسه فى المرض الذى مات فيه با لمعوذات فلما ثقل كنت انفث عليه بهن وامسح بيد نفسه لبركتها فسا لت الزهرى كيف ينفث قال كان ينفث على يديه ثم يمسح بهما وجهه (۲) وعن ابى سعيد الخدرى ان ناساً من اصحاب النبي صلی الله علیه وسلم اتوا على حي من احياء العرب ...... اذا لدغ سيد اولئک ...... فجعل يقرأ بام القرآن و يجمع بزاقه و يتفل فبرأ الخ (۳) عن عا ئشه قالت امرنى النبى صلی الله علیه وسلم او امر ان يسترقى من العين (۴) عن ام سلمة ان النبى صلی الله علیه وسلم راى فى بيتها جارية فى وجهها سفعه فقال استر قوا لها فان بها النظرة الخ (۵) عن عائشة قالت كان النبى صلی الله علیه وسلم يعوذ بعضهم يمسحه بيمينه اذهب البا س رب الناس واشف انت الشاف لا شفاء الا شفاء ک شفاء لا يغادر سقماً. وهكذا احاديث اخر فى هذا الكتاب (صحيح البخارى ص ۸۵۴، ۸۵۵، ۸۵۶ جلد ۲ كتاب المرضى)

بالرقي مالم یکن فیـه شـرک‹۱› دارنګې تعویذ لیکل او مرئ وغیره ته زوړندول د صحابه کرامو نه ثابت دي. لحدیث عبدالله بن عمرو بن العاص (رواه ابـوداؤد) ‹۲› لهذا په دې سره انکار کول غلط فهمي یابد فهمي ده. وهو الموفق

د وسوسې لرې کولو د پاره د مطالعې کتاب

سوال: (موت کے وقت) دا تصنیف د مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله دې دا کتاب به کومې ځائي کښې ملاؤ شي یا د وسوسو لرې کولو دپاره بل کتاب اوښایئ؟

الجواب: دا کتاب د دارالعلوم کراچي نه راوغواړئ او د وسوسو دلرې کولو دپاره د احیاء العلوم کتاب عاشر، مطالعه اوکړې.

د خوفِ خداوندی پیدا کیدلو طریقه

سوال: د خوفِ خداوندي پیدا کولو ذریعه اوښایئ؟ مهرباني به وی.

السائل: پانده خان لکي مروت...۲۵ ذي الحجه۱۴۹۲ھ

الجواب: د الله تعالی په وعیدونو باندې په مشاهداتو کښې یقین او عقیده ساتل او په دې خیال باندې څه وخته پورې (۲۰، ۲۵ منټه) کلک پاتې کیدل د خوف باعث دې. ‹۳› وهو الموفق

خیالاتِ فاسده او د هغې د پاره وظیفه

سوال: ماته ډیر ناجائز او بد خیالونه راځي آیا په دې سره نکاح ماتیږي؟ څه وظیفه راته هم اوښایئ.

السائل: شیر جان شهبازخیل بنوں....۱۳۹۲ھ

‹۱› (مشکواة المصابیح ص۳۸۸ جلد ۲ کتاب الطب و الرقی)

‹۲› عن عمروبن شعیب عن ابیه عن جده ...... وکان عبد الله بن عمر ویعلمهن من عقل من بنیه ومن لم یعقل کتبه فاعلقه علیه. (ابوداؤد ص ۱۸۷ جلد ۲ باب کیف الرقی کتاب الطب)

‹۳› عن ابی بن کعب قال کان النبی صلی الله علیه وسلم اذا ذهب ثلثا اللیل قام فقال یا ایها لناس اذکروا الله اذکروا الله جاءت الراجفة تتبعها الرادفة جآء الموت بما فیه جاء الموت بما فیه رواه الترمذی. (مشکواة المصابیح ص ۴۵۷ جلد ۲ باب البکاء والخوف)

الجواب: که دا خیالاتِ فاسده غیر اختیاري وي نو د حدیث په بنیاد سره ته ګناه ګار نه یې ‹۱› او علاج ددې دادې چه اعوذ بالله من الشیطن الرجیم ومن شرنفسی ومن شر فرجي ولاحول ولاقوة الا بالله العلي العظیم روزانه کم نه کم اویا ځلې وایه. فقط

د عثماني ډلې دَ جائزتعویذونو او دمونو لره ناجائز ګرځول (الحاد) دي

سوال: تعویذ جائز دې که نه؟ ځکه چه عثماني ډلې والا دې باره کښې رسالې لیکلې دي چه دا شرک او ناجائز دي نو تاسو پوره وضاحت اوکړئ.

المستفتي: محمد یوسف ملک آباد جدون صوابي یکم ۱ذي الحجه۱۴۰۲ھ

الجواب: دا کومې مسئلې چه د حزب الله پارټۍ مشر پروفیسر عثماني یا ډاکټر او کیپټن عثماني شائع کوي تړلې د شریعت نه خلاف دي. دا خلق د قرآن او حدیث خود ساخته (د علماء امت نه خلاف) تشریح کوي. کوم تعویذونه چه خلافِ شریعت نه وي هغه جائز دي. ‹۲› او جائز د مونه ناجائز ګرځول الحاد او بې دیني ده. ‹۳› فقط

‹۱› عن ابن عباس ان النبی صلی الله علیه وسلم جاءه رجل فقال انی احدث نفسے با لشی لان اکون حممة احب الی من ان اتکلم به قال الحمد الله الذی ردا مره الی الوسوسة رواه ابوداؤد. (مشکواةالمصابیح ص ۱۹ جلد ۱ باب فی الوسوسة)

‹۲› عن عوف بن مالک قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اعرضوا علی رقاکم لا بأ س بالرقی ما لم تکن شرکاً. (ابو داؤد ص ۱۸۶ جلد ۲ باب ما جاء فی الرقی کتاب الطب) و عن عمر و بن شعیب عن ابیه عن جده ......وکان عبدالله بن عمرویعلمهن من عقل من بنیه و من لم یعقل کتبه فاعلقه علیه. (ابوداؤد ص ۱۸۷ جلد۲باب کیف الرقی کتاب الطب)

‹۳› عن عائشة قالت امرنی النبی صلی الله علیه وسلم او امر ان یسترقی من العین. (بخاری) و عن عائشة قالت کان النبی صلی الله علیه وسلم یعوذ بعضهم بمسحه بیمینه اذهب البأس رب الناس واشف انت الشاف لا شفاء الا شفائک شفاءً لا یغادر سقما (واحادیث اخر فی هذا الباب). (صحیح البخاری ص ۸۵۵،۸۵۶ جلد۲ کتاب المرضیٰ). قال ابن عابدین و لا بأس بالمعاذات اذا کتب فیها القرآن او اسماء الله تعالیٰ و یقال رقاه الراقی رقیاورقیة اذا عوذه و نفث فی عوذه قالوا و انما تکره العوذه اذا کانت بغیر لسان العرب و لا یدری ما هو و لعله یدخله سحر او کفر او غیر ذلک و اما ما کان من القرآن او شی من الدعوات فلا بأس به. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۲۵۷ جلد ۵ قبیل فصل فی النظر کتاب الحظر ولاباحة)

په ابجد سره قرآن ليکل او د څناورو په غاړه کښې تعويذ آويزان کول

سوال: قرآن د لفظ او معنی دواړو نه عبارت دي نو آيا د قرآن ليکل د ابجد په حساب سره جائز دي که نه؟(۲) چه يو آيت اوليکلې شي او په کپړه کښې اوګنډلې شي اوتعويذ جوړ شي نو آيا داسې تعويذ د څناور په غاړه کښې جائز دي که نه لکه غوا وغيره؟ بينوا توجروا.

المستفتي: متعلم دار العلوم حقانيه.....يکم ۱ربيع الثاني ۱۴۰۲ھ

الجواب: (۱) داسې ليکل د قرآن په الفاظو باندې د لالت کوي او په رسمي او موروثي قرآن باندې دلالت نه کوي نو په هغې باندې د مصحف اطلاق نشي کيدلې لکه څنګه چه په (۷۸۶) باندې د بسم الله اطلاق نه کيږي. (۲) ممنوع او ناجائز خو د کلماتو مبارکه توهين دي حيواناتو او ماشومانو ته آويزان کولې نه. څکه چه عبد الله بن عمرو بن العاص خپلو ماشومانو ته داسې تعويذ آويذان کړې وو چه په مبارکو الفاظو باندې مشتمل وؤ.(رواه ابوداؤد) ﴿۱﴾ وهو الموفق

تعويذونه ليکل او په هغې باندې اجرت اخستل

سوال: تعويذونه ليکل په شريعت کښې څنګه دي؟ او پيسې پرې اخستل څنګه دي؟ وضاحت اوکړئ.

المستفتي: شاه محمد لانډهي کراچي نمبر ۲۲حسين ټيکسټائل مل۵۱۴۱۱۹۷۳

الجواب: دکومو تعويذونو مضمون چه شرعي وي د هغې ليکل جائزدي للتعامل ولحديث عبدالله بن عمرو بن العاص (رواه ابوداؤد) ﴿۲﴾ او اجرت اخستل پرې هم جائزدي. لان الکتابة صنعة من الصناعات فافهم،﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ کان عبد الله بن عمر ويعلمهن من عقل من بنيه و من لم يعقل کتبه فا علقه عليه.
(ابوداؤد ص ۱۸۷ جلد ۲ باب کيف الرقی کتاب الطب)
قال ابن عابدين و علی الجواز عمل الناس اليوم و به وردت الاثار و لا بأس بان يشد الجنب و الحائض التعاويذ علی العضد اذا کانت ملفوفة.
(ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۲۵۷ جلد ۵ قبيل فصل فی النظر کتاب الحظر و الاباحة)
﴿۲﴾ و کان عبد الله بن عمر و يعلمهن من عقل من بنيه و من لم يعقل کتبه فا علقه عليه.
(ابوداؤد ص ۱۸۷ جلد ۲ باب کيف الرقی کتاب الطب)
﴿۳﴾ عن ابن عباس ان نفراً من اصحاب رسول الله ﷺ مروا بماء فيهم لديغ (بقيه حاشيه اګلې صفحه پر)

د ناجائزه کلماتو او باطلو عقيدو نه خالي ختم خواجګان جائز دي

سوال: څمونږ په جمات کښې امام صاحب ختم خواجګان کوي، مهرباني اوکړئ د قرآن او حديث په رڼرا کښې مدلل جواب راکړئ چه دا جائز دي که نا جائزدي؟

المستفتي:محمد سراج پشاوري متعلم دارالعلوم حقانيه...۱۰۱۴۱۱۹۷۳

الجواب: که دا ختم په ناجائزه کلماتو باندې مشتمل نه وي لکه يا عبد القادر جيلاني شيئاً لله او د روحونو د حاضريدلو د عقيدې نه خالي وي نو جائز دي.﴿۱﴾ فقط

د وسوسو لرې کيدلو د تدريس او مطالعې د شوق د پاره وظيفه

سوال: بنده د علم شوق لرې ليکن وسوسه ډيره راځي تر دې چه ډير کرته مطالعه هم هيره شي په تدريس کښې هم خبره هيره شي په تقرير کښې هم تکليف وي او په تدريس او تقرير کښې ويره ډيره لرې، نو کومه وظيفه چه مناسب وي هغه اوليکئ. مهرباني به وی؟

المستفتي:لعل مرجان مدرسه حماديه ډرګ کالوني ۲ کراچي نمبر۲۵,۲۵شوال۱\۱۴۰۴ھ

(بقيه حاشيه)او سليم فعرض لهم رجل من اهل الماء فقال هل فيکم من راق ان فی الماء رجلا لديغا او سليما فا نطلق رجل منهم فقرأ بفاتحة الکتاب علی شاء فبرأ فجاء بالشاء الی اصحابه فکر هواذلک و قالوا اخذت علی کتاب الله اجراً حتی قدموا المدينه فقالوا يا رسول الله اخذ علی کتاب الله اجراً فقال رسول الله ﷺ ان احق ما اخذتم عليه اجراً کتاب الله. وهکذا فی باب هل يو اجر الرجل نفسه من مشرک فی دار الحرب.باب الاجارات.
(صحيح البخاری ص ۸۵۴ جلد ۲ ، ص ۳۰۴ جلد ۱ باب الرقی بالقرآن و المعوذات)
قال ابن عابدين لان المتقدمين المانعين الا ستجار مطلقا جوزوا لرقية بالاجرة و لو با لقرآن کما ذکره الطحاوی لا نها ليست عبادة محضة بل من التداوی .
(ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۳۹ جلد ۵ مطلب الاستيجار علی الطاعات کتاب الاجارة)
وفی الدر المختار و فيها استأ جره ليکتب له تعويذًا لاجل السحر جاز ان بين قدر الکاغذ والخط و کذا المکتوب . (الدر المختار ص ۶۳ جلد ۵ مطلب فی اجرة صک القاضی و المفتی)
﴿۱﴾ قال العلامه ابن نجيم و فی البزازيه قال علماؤنا من قال ارواح المشائخ حاضرة تعلم يکفر .
(بحر الرائق ص ۱۲۴ جلد ۵ احکام المرتدين)

الجواب: دا کلمه اعوذبالله من الشیطن الرجیم ولاحول ولاقوة الا بالله العلی العظیم. روزانه سحر وخت کښې سل ځلې وایه اودَ ماسخوتن دَمونځ نه پس یوولس ځلې سورة کوثر لوله. امید دې چه الله کریم خپل کرم اوکړي. وهوالموفق

د الکوحل په سیاهۍ سره تعویزونه او ساختونه لیکل

سوال: علمائې دین دې مسئله کښې څه فرمائي چه خط وکتابت د تعویذونو او ساختونو په داسې سیاهۍ سره کول چه سپرټ پکښې ګډ شوې وي څه حکم لري؟

المستفتي: مولوي محمدصدیق قلعه عبدالله تحصیل ګلستان ضلع پشین ۲۳شوال ۱۴۰۴ھ

الجواب: ترڅو پورې چه دا معلومه شوې نه وي چه دا الکوحل چه د سیاهۍ، دوایئ او عطرو سره ګډ شوي دَ انګوري دي که کهجوري نو هغه وخت پورې د استعمال د حرمت فتوی نه شي ورکولې کیدې. والوجه فیه ان الکوحل من اقسام الخمر فیکون حکمه حکم الخمر فافهم، وهوالموفق

د عشق مجازي نه د نجات د پاره وظیفه

سوال: څما یو دوست دې چه دیوبې ډیرې هلک په عشق کښې مبتلا دې د شپې وخت کښې هغه سبق وائي او تقریباً د شپې لس نیمو بجو (۱۰:۳۰) پورې یو ځائې وي. د څهتئ په وجه باندې عاشق نه سخت تکلیف وي او هغه د راشتنې عشق دعوي کوي اود غلطوخیالاتونه د براءت اظهارکوي. ډیر پوهولوسره هم منلو ته تیار نه دې نو درخواست دې که څه وظیفه اوښائي نو ډیر ښه به وی؟

المستفتي: خالد الرحمان کوهاټ....۱۲ربیع الاول ۱۴۰۱۰ھ

الجواب: ددې عاشق دپاره مناسب دې چه آیت زین للناس... تا... حسن المآب(۱) دَماسخوتن مونځ نه پس یوولس ځلې اووائي او پر سینه باندې دم کړې چه الله تعالی ورته ددې خراب انجام نه نجات ورکړي. وهوالموفق

﴿۱﴾ (پ:۳ سورة ال عمران رکوع: ۱۰ آیت: ۱۴)

د ویرې او قوتِ حافظې وظیفه

سوال: په بنده باندې بعضې وختونو کښې ویره راځي. او قوتِ حافظه هم کمزورې ده ددې باره کښې څه وظیفه اوښایئ مهرباني به وي.

المستفتي: نامعلوم........۱۳جمادي الثاني ۱۴۱۰ھ

الجواب: د ویرې ختمیدو دپاره "یا وهاب" څوارلس ځل وایه، اوپه یواځې والی کښې "یاجبار" ۲۱ ځلې وایه او د حافظې د قوي کیدلو دپاره د ماسخوتن دَمونځ نه مخکښې یا روستو یوولس ځلې سورة کوثر وایه. وهوالموفق

په آئینه کښې د غل معلومولو حکم

سوال: بعضې عاملان په آئینه کښې غَل معلوموي نو آیا په دې یقین کول جائز دي. اګرچه هغه غل بیا د غلا اقرار هم اوکړي. ددې شرعي حکم څه دې؟

المستفتي: عبدالحنان بارګل خیل وانا ډیره اسماعیل خان ۲۲رمضان ۱۴۱۰ھ

الجواب: دا عامل او په ده باندې اعتماد کولو والا دواړه مردودالشهادة دي دا عمل د کهانت یوه شعبه ده (۱) په دیکښې بعضې وخت کښې د واقعې سره برابر او موافق مشاهده کیږي او کله مخالف بلکه ډیر کرته عامِل او غل د مشهورتیا دپاره یوه معاهده کوی. وهوالموفق

جائزو کلماتو والا تعویذونه اویزان کول جائز دي

سوال: څمونږ ځائې کښې یو مولانا صاحب دې هغه وائي چه تعویذونه آویزان کول که قرانې ایاتو نه او د الله تعالی نومونه هم وي څو شرک دې او ناجائزدې. شرعاً ددې حکم اوښایئ؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبدالرزاق دوحه قطر دوحان المانع کیپ...۱۴۰۱۱/۲/۱۹ھ

﴿۱﴾ (قوله والکهانة) وهی تعاطی الخبر عن الکائنات فی المستقبل و ادعاء معرفة الاسرار قال فی نهایة الحدیث وقد کان فی العرب کهنة کشق و سطیح فمنهم من کان یزعم ان له تابعاً یلقی الیه الاخبار عن الکائنات و منهم انه یعرف الامور بمقدمات یستدل بها علی موافقها من کلام من یسأله او حاله او فعله و هذا یخصونه باسم العراف کالمدعی معرفة المسروق و نحوه و حدیث من اتی کاهنا یشمل العراف و المنجم والعرب تسمی کل من یتعاطی علماً دقیقاً کاهنا و منهم من یسمی المنجم و الطبیب کاهنا. (ردالمحتار صـ ۳۴ جلد ۱ مطلب فی الکهانة مقدمه)

الجواب: ناجائز تعویز حرام دي او جائز تعویذ چه په هغې کښې د قرآن الفاظ وي یا نور څه جائز الفاظ لیکلي شوي وي نو هغه جائز دي.

لما رواه ابوداؤد ص ۵۴۳ ج ۲ کتاب الطب و کان عبدالله بن عمرو یعلمهن من عقل من بنیه و من لم یعقل کتبه فاعلقه علیه ﴿۱﴾ قلت و اما التمائم فهی الخزرات کما صرحوا به و ما اشتملت علی الکلمات الشرکیه فلیراجع الی شروح الاحادیث ﴿۲﴾ و هو الموفق

د نوک په ذریعې سره غل یا نور کارونه معلومول

سوال: ځمونږ په علاقه کښې یوه زنانه ده هغه په نوک باندې رنګ اولګوي او وائي چه زه دَم وایم ته دې ته ګوره چاچه په تا باندې تعویذ کړې وي یائې درنه غلا کړې وي هغه به پکښې راځي ته به ئې اووینې. او ګوره هغه فلانکې قبر کښې تعویذ ورمنډې. دا فلانکې ستا دشمن دې. په دې طریقې سره د خلقو نه پیسې ګټي او خلقو کښې دشمني خوروي، ددې شرعي حیثیت څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتي:صوفي شاکر الله پریمئر شوګر ملز مردان...۲۴ذي قعده ۱۴۰۸ھ

﴿۱﴾ (ابوداؤد ص ۱۸۷ جلد ۲ کتاب الطب باب کیف الرقی)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدین (قوله التمیمة المکروهة) اقول الذی رأیته فی المجتبیالتمیمة المکروهة ما کان بغیر القرآن و قیل هی الخزرة التی تعلقها الجاهلیة. فلتراجع نسخة اخری. وفی المغرب و بعضهم یتوهم ان المعاذات هی التمائم و لیس کذلک انما التمیمة الخزرة و لا بأس با لمعاذات اذا کتب فیها القرآن او اسماء الله تعالی و یقال رقاه الراقی رقیا ورقیة اذا عوذه و نفث فی عوذته و انما تکره ا لعوذه اذا کانت بغیر لسان العرب و لا یدری ما هو و لعله یدخله سحراو کفر او غیر ذلک و اما ما کان من القرآن او شیٔ من الدعوات فلا بأس به ...... و فی الشلبی عن ابن الاثیر التمائم جمع تمیمة و هی خزرات کانت العرب تعلقها علی اولادهم یتقو ن بها العین فی زعمهم فا بطلها الاسلام الخ
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۵۷، ۲۵۸ جلد ۵ قبیل فصل فی النظر کتاب الحظر و الاباحة).
قال العلامه آلوسی و عند ابن المسیب یجوز تعلیق العوذة و رخص الباقر فی العوذة تعلق علی الصبیان. روح المعانی و فی فردوس دیلمی ص ۶۰ لابأس بتعلیق التعویذ من القرآن رواه ابو نعیم عن عائشة رضی الله عنها. و هکذا فی سنن الدارمی ص ۲۱۱ و مصنف عبد الرزاق ص ۳۴۵. (مرتب)

الجواب: دا عمل ناجائز دي. ﴿۱﴾ ځکه چه دیکښې دا خطره ده چه پاک سړې باندې تهمت اولګوي او بدنام شي. فقط. وهوالموفق

د عاملانو نه علاج او د تعویذونو حکم

سوال: (۱) دلته د بعضې عاملانو دا طریقه ده چه بیماران ورته راشي نو هغه کتاب اوګوري او د کتاب کتلو نه پس معلومه نه ده چه د جناتو په مدد سره یا څه نور حساب کتاب سره بیمارته وائي چه په تا باندې د پیریانو غلبه ده یا نور څه دَ جادو آثر دي او بعضې خو تر دې پورې بنائي چه د فلانکې مُلک نه پیرې راغلې دې یا فلانکې په تا باندې جادو کړې دې ددې څه حکم دې؟ (۲) که عاملان دا کارونه د پیریانو په مدد سره کوي او دا مریض پرې عمل او کړي او په دیکښې دبل چا نقصان هم نه وي نو بیا دا عمل شرعاً ځنګه دې؟ (۳) که په تعویز کښې ګمنامه نقشې وي چه وئیلې نه شی نه نو دهغې څه حکم دې؟ (۴) په عاملانو باندې علاج کول ځنګه دي؟

المستفتي:عبد الحمید دي آئي خان......۱۲شوال۱۴۰۴۱ھ

الجواب: غالباً دا الفاظ عوامو ته دهوکې ورکولو دپاره استعمالیږي سیوا د افتاء او دوائی علاج کولو او د خوب د تعبیر نه. (۲) دا هم دهوکه ورکول دي شرک نه دي پیریان په معالجاتو او الهاماتو کښې د انسانانو درجوته رسیدل نشي کولې. (۳) داسې تعویز ممنوع نه دي. ﴿۲﴾ لعدم تیقن اشتماله علی الکلمات الشرکیه لیکن دوکه ورکول دي. (۴) ځان ساتل تري نه ضروري دي. وهوالموفق

د ایمان په باره کښې د وسوسو او وهمونو وظیفه او علاج

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه مثلاً دهغه په زړه کښې د توهین رسالت. او توهینِ صحابه کرام رضی الله عنهم وهمونه او وسوسې

﴿۱﴾ قال ابن عابدین و منهم انه یعرف الامور بمقدمات یستدل بها علی موافقها من کلام من یسأله او حاله او فعله و هذا یخصو نه با سم العراف کا لمدعی معرفة المسروق و نحوه الخ
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۴ جلد ۱ مطلب فی الکهانة مقدمه)

﴿۲﴾ عن عوف بن ما لک قال قال رسول الله ﷺ اعرضوا علی رقاکم لا باس بالرقی ما لم تکن شرکاً.
(ابوداؤد ص ۱۸۶ جلد ۲ باب ما جاء فی الرقی کتاب الطب)

ځی راځي. مثلاً چه کله دده خوا کښې د پیغمبر علیه السلام او صحابه کرام رضی الله عنهم دا بنائسته او صاف بیان شي لکه ان رسول الله ﷺ کان اکحل العینین و ان عائشة رضی الله عنها کانت بکرة نو دده په زړه کښې ددې خبرو متعلق مختلفي وسوسې راځي او دغه دقرآن، حدیث او محراب المسجد او نور شعائروه په باره کښې هم. او داسې وائي کافر شوم ما ددې باطلو وهمونو دتیرونه اوباسئ او سخته پریشاني ده، ددې دپاره څه وظیفه او حل تلاش کړئ؟ ډیره مهرباني به وي.

المستفتي: حافظ سید قاسم مدرسه انجمن تعلیم القرآن پراچکان کوهاټ ۲۴/۵/۱۹۰۴

الجواب: دا سړې مسلمان دې(۱) سحر او مابنام دې سل سل ځله اعوذبالله من الشیطن الرجیم لاحول ولاقوة الا بالله العلي العظیم وائي. او داسې خیالات دې دزړه نه اوباسي او نورو خیالاتو کښې دې مشغول شي نو ان شاءالله دا بیماري به زر تر زره ختمه شي. وهو الموفق.

د ظالم د هلاکت د پاره ختم قرآن کول

سوال: د غل یا ظالم وغیره د هلاکت دپاره ختم قرآن پخپله کول یا په بل چا باندې کول جائز دي. که نه؟ او که هغه غل یا ظالم ددې عمل په وجه باندې هلاک شي نو دهغې څه حکم دې؟

المستفتي: مولوي ګل نور شاه کلکوټ دیر بالا.... ۲ ستمبر ۱۹۷۵ھ

الجواب: د عملیاتو په ذریعې سره څوک هلاکول حرام دي لکه څنګه چه په ظاهري اسبابو سره حرام دي. البته که داسې کس پرې هلاک کړې چه شرعاً دهغه مرګ جائز وي. نو بیا جائز دي. (۲) فقط

(۱) عن ابن مسعود قال قال رسول الله ﷺ ان للشیطان لمة بابن ادم و للملک لمة فاما لمة الشیطان فایعاد بالشر و تکذیب با لحق و اما لمة الملک فا یعاد با لخیر و تصدیق با لحق فمن و جد ذلک فلیعلم انه من الله فلیحمد الله ومن وجد الاخری فلیتعوذ بالله من الشیطان الرجیم . ثم قرأ الشیطان یعد کم الفقر و یامر کم با لفحشاء رواه الترمذی . (مشکواة المصابیح ص ۱۹ جلد ۱ باب فی الوسوسة)

(۲) عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وقال قال رسو ل الله ﷺ لا یحل دم امرئ مسلم یشهد ان لااله الا الله وانی رسول الله الا با حدی ثلث النفس با لنفس و الثیب الزانی و المارق لدینه التارک للجماعة متفق علیه .(مشکواة المصابیح ص ۲۹۹ جلد ۲ کتا ب القصاص الفصل الاول)

تعویذ کښې د ابلیس، فرعون، او شداد وغیره نومونه لیکل

سوال: بعضې خلق د فرعون، ابلیس او شداد نومونه اولیکي او په غاړه کښې ئې اچوي داسې تعویذ لیکل او غاړه کښې اچول جائز دي که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: شهباز خان حقاني بلهٔ بیر پشاور... ۲۲ جون ۱۹۸۷ء

الجواب: دا تعویذ ناجائز دې په دې نومونو کښې هیڅ تبرک نشته البته د قرآن پاک په الفاظو کښې د راتلو په وخت کښې ئې د نورو الفاظو پشان حکم دې. (۱) وهو الموفق

په تعویذ او تمیمه کښې فرق

سوال: څمونږ په سکول کښې یو ماسټر صاحب، خُفیه طور سر د ډاکټر عثماني پیرو کار دې هغه وائي چه ,,من علق التمیمة فقد اشرک،، چا چه هم تعویذ آویزان کړو هغه شرک او کړو. دقرآن او سنت په رڼرا کښې ددې څیزونو څه حکم دې؟

المستفتي: علي زمان عربي ټیچر نوشهره کلان..... ۱۷/۵/۱۹۹۱

الجواب: تعویذ لیکل او آویزان کول جائز دي.

کما فی ابی داؤد ص ۵۴۳ جلد ۲ عن عمر و بن شعیب عن ابیه عن جده ان رسول الله ﷺ کان یعلمهم من الفزع کلمات . اعوذ بکلمات الله التامات الی اخرها . وکان عبدالله بن عمرو یعلمهن من عقل من بنیه ومن لم یعقل کتبه فاعلقه علیه .

او تمیمه آویزان کول ناجائز دي. لحدیث عبدالله بن عمرو بن العاص ما ابالي ان انا شربت تریاقا او اتعلقت تمیمة. ابوداؤد ص ۵۴۰ ج۲، لیکن تمیمه خزرات (کنجکو)، د څناورو نوکونو او هډوکو ته وائي مبارکو کلماتو لیکلې شوې ته تمیمه وئیل غباوت یا غوایت دې. (۲)

(۱) قال ابن عابدین وانما تکره العوذة اذا کانت بغیر لسان العرب ولا یدر ی ما هو و لعله یدخله سحر او کفر او غیر ذلک واما ما کان من القرآن او شئی من الدعوات فلا بأس به .

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۵۷ جلد ۵ قبیل فصل فی النظر کتاب الحظر و الاباحة) (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

پیغمبر علیه السلام فرمائي :ان الرقي والتمائم والتوله شرک. ص۵۴۲ جلد۲. نو خنگه چه هر دم ناجائز نه دي بلکه شرکي کلماتو والا دم ناجائز دي دغه شان هر تعویذ هم ناجائز نه دي بلکه شرکی کلماتو والا تعویذ ناجائز دي.

وهو الموفق

(بقیه حاشیه گزشته صفحه) (۲) قال العلامه ابن عابدين التميمة المكروهة ما كان بغير القرآن و قيل هى الخزرة التى تعلقها الجاهلية ...... و بعضهم يتوهم ان المعاذات هى التمائم و ليس كذلك انما التميمة الخزرة ولا بأس بالمعاذات اذا كتب فيها القرآن او اسماء الله تعالىٰ ...... وانماتكره العوذة اذا كانت بغير لسان العرب ولا يدرى ماهو ولعله يدخله سحر او كفر اوغير ذلك...... و فى الشلى عن ابن الاثير التمائم جمع تميمة و هى خزرات كانت العرب تعلقها على اولادهم يتقون بها العين فى زعمهم فابطلها الاسلام الخ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۵۷ جلد ۵ قبيل فصل فى النظر)

...

كتاب الرؤيا وتعبيرها

...

قال الله تعالی

وَكَذٰلِكَ يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ

(الاٰية)

...

كتاب الرؤيا وتعبيرها

په خوب کښې د سجدې په ځائې باندې ګندګي ليدل

سوال: الاستاذ المحترم حفظه الله المنان من الهموم فی الدنيا والآخرة !

السلام عليكم ورحمة الله و بركاته! امابعد انی سا ئل فی امر قد وقع منه فی قلبی من الاضطراب والخوف فان بينت لی بيانا شافيا فهو كفانی انی خشيت ان اكون تحت قوله تعالیٰ ان تحبط اعمالكم و انتم لا تشعرون . لانی منذ جئت الی المدرسة ما رئيت رسول الله ﷺ فی النوم وايضا ما رئيت الرؤيا اظن انه جزء من اربعين اجزاء النبوة الا نادرا و نسيانا والحال انی اقرء كتب الاحاديث اذا كان هذا حالی الآن فكيف بعد الفراغ من العلم ولا اعلم من خطيئة فلذا اقول لعل انا لا اشعر بخطيئتی فامرنی بالشئ حتیٰ يحصل به ما هو المقصود الاعظم و يزيل به مرض قلبی حتی اریٰ فی القلب نورا بفضل الله تبارک و تعالیٰ و ايضا فامرنی بالدعاء يحصل به روية النبی ﷺ والله انی رئيت نومة فی ظهيرة الامس . والله لا طاقة لی ان ابين لكم مشافهة فلذا انا أرسل بالصديق و لو كان فيه قلةالحياء فعافنی.

قد رئيت فی النوم و كنت مصليا فاذاقمت من الركعة و نظرت فكنت مستقبل المشرق فتحولت الی القبلة فاذا نظرت الیٰ موضع السجود فاذا رئيت قريب السجدة قذرات كثيرات فاردت السجدة فوقع الحصير علی القذر فسجدت عليها حتی وصل اثر القذر الی جبهتی فرفعت راسی وايضا كنت متحيرا هذا القذر وقع منی ام من الغير فمن الشفقة ان ترسل و تكتب الی تأويل رويای علی قدر ما تعلم به و تعطی بيدالمرسل والحاصل ای تاويل كان فاكتب لی وارسلنی حتی تدفع منی الوساوس؟

المستفتي: نامعلوم طالب علم دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک.

جواب: من اراد ازالة الامور الغير الاختيارية او تحصيلها فلن ينجو من الغم والحزن و منها الرؤيا الصالحة و اما تعبير الرؤيا المسطورة ففيها اشارة الى النزول و هو التوجه الى الخلق لارشادهم و كذا الىٰ حصول الدنيا- و هو الموفق

د پيغمبر ﷺ په خوب د كښې ليدلو تعبير

سوال: ماته په خوب كښې د سركاردوعالم ﷺ زيارت نصيب شو. په داسې حالت كښې چه د حضور عليه السلام په لاس مبارك كښې يو تالؤو صحيح راته ياد نه دى چه څه رنګ ئې وؤ ليكن لږ يا د دي چه سور رنګ ئې وؤ. په هغې كښې د چينئ پشان څه وؤ، چه پيغمبر عليه السلام به ترې نه لاس ډكولو او تقسيمولو به ئې ليكن مخې ته ئې هيڅوک نه وو صرف تقسيم كولو په حالت كښې مې اوليدو، هغه وخت كښې مادرود شريف وئيل شروع كړل او ځما په زړه باندې يو خاص كيفيت جاري شوې وو او پيغمبر عليه السلام ته مې كتل؟ بينوا توجروا

السائل: اعجاز علي واه كينټ.....۱۵شوال۱۳۹۵

الجواب: محترم المقام دامت بركاتكم د السلام عليكم نه پس خبره داده چه تا د پيغمبر عليه السلام د صفت قابليت د بعضې آثارو مشاهده كړې ده بې شكه د حاضرينو او غائبينو دواړو تقسيم كونكې دې﴿۱﴾ الله تعالى دې تا له د نيک اولاد نعمت دركړي. آمين

په خوب كښې د نبي عليه السلام دخلافِ شريعت حكم وركولو مسئله

سوال: كه په خوب كښې څوک نبي عليه السلام او ويني او هغه څه حكم اوكړي خو هغه حكم د شريعت نه خلاف وي نو آيا په هغې عمل كولې شى كه نه؟.

السائل: اكبر حسن لنډي كوتل پشاور.... ۱۳۹۲هجري

الجواب: دخوب په خبرو كښې داشرط دې چه دژوند دخبروسره متصادم نه وي﴿۲﴾

﴿۱﴾ عن معاوية قال قال رسول الله ﷺ من يرد الله به خيراً يفقهه فى الدين وانما انا قاسم والله يعطى متفق عليه .(مشكواة المصابيح ص ۳۲ جلد ۱ كتا ب العلم الفصل الاول)

﴿۲﴾ قال القارى و لذا لم يعتبر احد من الفقهاء جواز العمل فى الفروع الفقهية بما يظهر للصوفية من الامور الكشفية او من حالات المنامية (مرقاة المفاتيح شرح مشكواة ص ۳۵۸ جلد ۹ كتاب الفتن)

دتصادم او تكراؤ په صورت كښې به دا خبرې د شيطان په خبرو باندې حمل كولې شى. كما وجهه به حديث تلک الغرانيق العلىٰ الخ.﴿۱﴾

په خوب يا مراقبه كښې د ذاتِ پاک ليدلو دعوىٰ

سوال: د يو پير صاحب دعوي ده چه د ذكر په وخت كښې ما ذاتِ پاک سره معانقه اوكړه آيا دعوىٰ صحيح ده؟

المستفتي: ظفرعلي تهانوي مهاجر كيمپ كراچي نمبر ۲۰

الجواب: كيديشي مراد ئې خوب يا مراقبه كښې ليدل وي چه هغه نه ممنوع دي او نه مخصوص ﴿۲﴾ فقط

د پيغمبر عليه السلام په خوب كښې خلقو لره متبع جوړول او د چا نه د مال اخستلو حكم شرعي حيثيت

سوال: (۱) علمائې دين دې باره كښې څه فرمائي يو سړې وائى چه ځه پيغمبر عليه السلام د خوب په ذريعې سره خپل جانشين جوړ كړې يم لهذا خلق دې ځما تابعداري كوي نو آيا د شريعت په رڼا كښې په مسلمانانو باندې ددې سړي تابعداري ضروري ده؟ ددې شرعي حيثيت څه دې؟

﴿۱﴾ په فوائدعثمانيه كښې دي چه علامه يا قوت په معجم البلان كښې ليكل دي چه د قريشو به دكعبې طواف كولو او دا الفاظ به ئې وئيل واللات والعزي ومناة الثالثة الاخري هولاء الغرانيق العلي وان شفا عتهن لترتجي.د تفسير كتابونو په دې ځائې يوه قيصه نقل كړې چه د جمهور محدثينو په اصولو باندې د صحت درجې ته نه ده رسيدلې.او كه في الواقع ئې څه اصل وي نو كيديشي چه نبي عليه السلام د مسلمانانو او كافرانو په مخلوط مجمع كښې دا سورت وئيلې وي او د كافرانو عادت وو چه خلق قرآن وانوري او په مينځ كښې ګړبړ شروع كړي.كما قال الله تعالى وقاله الذي وقال الذين كفروا لا تسمعوا لهذا القران والغوا فيه لعلكم تغلبون. (حم السجده ركوع:۴)كله چه ئې دا ايت اولوستلو نو شيطان به دده په آواز كښې آواز ملاؤ كړې وي او دده په لب ولهجه باندې به ئې د الفاظ وئيلې وي كوم چه ددوي په ژبو باندې وؤ. تلک الغرانيق العلي.....الخ. روستوبيا تعبير او ادا كښې تصرفات اوشول نو څه څه ئې ترنه جوړ كړل ګني ظاهره ده چه د نبي په ژبه باندې د شيطان دومره تسلط چرته كيدلې شي او د كوم خيز چه امكان كيدلې شي دهغې په مدح باندې دهغوي څه معني.(تفسيرعثماني سورة الحج آيت: ۵۳) (والتفصيل فى الروح المعانى سورة الحج الاية: ۵۳ جلد ۱۰ ص ۲۰۰)

﴿۲﴾ قال العلامه ملا على قارى ان صح عن احد دعوى نحوه (رؤية الله تعالىٰ فى الدنيا) فيمكن تأ ويله بان غلبة الاحوال تجعل الغائب كا لشاهد حتى اذا كثر اشتغال السر بشئ و استحضاره له يصير كا نه حضر بين يديه انتهى و يؤ يده حديث الاحسان ان تعبد الله كا نک تراه و كذا حديث عبد الله بن عمر حال الطواف كنا نتراءى الله .الخ (شرح فقه الاكبر لملا على قارى ص ۱۲۳ جواز رؤية البارى جل شانه فى الدنيا)

(۲) یو سړي بل غټ مالدار ته اووئیل چه ما پیغمبر علیه السلام په خوب کښې اولیدلو او ماته ئې اووئیل چه فلانکې مالدار سړي ته لاړ شه کار به دې اوشي آیا دا خوب صحیح دې؟ او ددې په وجه باندې په مالدار باندې تابعداري لازمه ده؟ جواب راکړئ.

المستفتي: منصور الرحمان جامعه احسن العلوم ټرسټ ګلشن اقبال کراچی ۱۴۱۰ھ

الجواب: (۱) که دې ئې واقعی جانشین مقرر کړې وي نو خلق به پخپله باندې دده په دائره کښې داخل شي. نه په ده باندې دعوت ورکول ضروری دي او نه په خلقو باندې ددې دعوت تابعداري ضروري ده. (۲) که دا سړې خپل خوب په دلائلو سره ثابت کړي نو صحیح ده ګني دده په صرف دعوي کولو باندې اعتماد کول بې قاعدې اعتماد دې. وهو الموفق

د بنګلې نه مسلسل اوبه بهیدل

سوال: ما په ۱۹۷۴ء کښې په اسلام آباد کښې یوه بنګله جوړه کړې وه ځه وطن نه بهر ووم ځما دوه رونړه پرله پسې نګراني کوله خو هغوي مړه شول ځه اوس هر ه میاشت خو ب وینم چه کور تراوسه پورې مکمل نه دې او مسلسل ترې نه اوبه بهیږې د څو کالو نه داسې خوب وینم مهرباني اوکړئ تعبیر راکړئ.

السائل: عبد الجلیل ایم اې ارباب کالوني تهکال پشاور.... ۲ رجب ۱۴۰۲ھ

الجواب: (۱) تعبیر یو مشکل خیز دې ته الله والا خلقو ته نقد صدقه ورکوه چه دا خطرې پټې شی. ﴿۱﴾ والسلام.

پیغمبر علیه السلام د ګورو نانک په شکل لیدل د خوب لیدلو والا په انحراف باندې تنبیه ده

سوال: یو سړې مزرا عبد الرشید ربوه خپل خوب بیانوي داسې لیکي چه ځما سترګې ورغلې اومې کتل چه جمات ته ورغلم هر طرفته سپوږمۍ دي څومره په زوره چه ذکر کووم خوند ډیریږي. او سپوږمۍ ښه ښکاره کیږي په محراب کښې د حضرت ګورو نانک بابا پشان بزرګ شکل کښې پیغمبر علیه السلام تشریف

﴿۱﴾ عن انس قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الصدقة لتطفئ غضب الرب و تدفع میتة السوء رواه الترمذی (مشکواة المصابیح ص ۱۶۸ جلد ۱ باب فضل الصدقة الفصل الثانی)

فرمادي. د پیغمبر علیه السلام ګیر چاپیره علاقه دمره تیزه رڼړا ده چه سترګې ورته پړقیږي.....الخ دا خوب مرزا عبد الرشید د اشاعت دپاره روزنامه الفضل ربوه. ته الیګلو هغوي په ۶ نومبر ۱۹۸۲ په کالم نمبر ۳ کښې چاپ کړو او دلته خپل مُلک کښې او بهر ملکونو کښې تقسیم شو د جواب کولو خبره داده چه آیا په مذکوره عبارت سره (نعوذ بالله) د پیغمبر علیه السلام د توهین طرف نه واضح کیږي؟ او آیا مرزا عبد الرشید او د الفضل ایډیټر مسعود احمد دهلوي او پرنټر سید عبد الحئ (ددې په لیګلو، چاپ کولو او نشر واشاعت په وجه) دا خلق د توهین مرتکب نه شول.؟ جواب راکړئ.؟

المستفتي: مولا نا محمد شریف جالندهري ناظم اعلی مجلس تحفظ ختم نبوت پاکستان ملتان.....۲۵ جمادي الثاني ۱۴۰۳

الجواب: پیغمبر علیه السلام په شمائل کښې د متعین شوې صورت نه علاوه په بل بدقسم صورت کښې لیدل ددې خوب لیدلو والا په انحراف باندې تنبیه ده. ګورو نانک د مسلمانانو نه د هندوانو جوړولو دپاره د دروغو یو جال جوړ کړې وو. او مرزا غلام احمد قادیاني د مسلمانانو نه انګریزان یا د انګریزانو غلامان جوړولو دپاره دا جال خور کړې وؤ. او دا خوب لیدلو هم په دې مالیخولیا کښې مبتلا دې. وهو الموفق

په خوب کښې د نیک کارونو حکم کولو والا لیدل اودَ هغې تعبیر

سوال: په ادب سره ګذارش دې چه بنده د بدهـ، جمعرات او جمعې په دریو اړو شپو کښې داسې خوب لیدلې چه په خوب کښې یو سړې وائی (۱) حج اوکړه. (۲) سنت ادا کوه، ما ورته اووئیل چه ما واده کړې هغه اووئیل دویم واده اوکړه. (۳) د حدیثو دوره اوکړه ما ورته وئیل چه ما دوره کړې هغه وئیل په دویم ځل دوره اوکړه. (۴) په احسان آباد کښې د قرآن درسګاه اباده کړه ماوې احسان آباد کوم ځائې کښې دې نو ځمونږ په کلي کښې یوه غیر آباد زمکه ده وائي چه دا احسان آباد دې. (۵) د ظواهرو نه پټ شه. (۶) د قرآن کریم حفظ

﴿۱﴾ عن ابی قتاده قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من رانی فقد رای الحق متفق علیه. و علی ها مشه ای معناه من رانی علی صورتی التی انا علیها فقد رانی حقیقةً لان الشیطان لا یتمثل بهذه الصورة المخصوصة .الخ (مشکواة المصابیح ص ۳۹۴ جلد ۲ کتاب الرؤیا الفصل الاول)

اوکړه، ما ورته اووئیل چه ځه غریب او ناچاره یم او ستا ټولي خبرې ډیر طاقت والا کس کولې شي نو جواب ئې اوکړو چه ته غریب ئې خو حاجي الحرمین میزخان نواب زاده مردان والا ته اووایه او ځما دعا وسلام ورته وایه هغه به دا کار اوکړي. ما ترې نه تپوس اوکړو چه ته څوک ئې هغه جواب اوکړو چه ځه محمد د مدینې اوسیدونکې یم، ددې خوب تعبیر اوښایئ مشکور اوګرځوی؟

السائل: محمد نذیر فتح پورسوات.......... ۱۳۹۰ھ

الجواب: ته د قران او حدیث د اشاعت او ددین د خدمت اراده اوکړه امید دې چه ته به کامیاب شې او دَاهل خیر زړونه به الله تعالی ستاسره د امداد کولو دپاره مائل کړي. والله اعلم

په خوب کښې فتاوي رشید یه وغیره لیدل

سوال: (۱) خوب وینم په ځمامخې ته پیش کولې شی چه فتاوي رشیدیه کښې اوګوره دچا عقیده چه خرابه وي دهغه ځائې اور دې او باقاعده ځما مخې ته ئې لیکلې وي. وبئس المهاد دا چه اووینم د خوب نه راویخ شم. (۲) په خوب کښې د بس په استیر نګ باندې ناست یم ډرائیور نه یم او بس بغیر د سټارټ کولو نه چلوم په چړائ باندې ورخیژم چه چړهائي نه کوز شم نو یوښکلې ښار راته په نظر راشي. چه دهغې هغه ښکلې نقشه اوس هم ځما په سترګو کښې ګرځي نو ځه په هغې ښائسته ښار کښې بس اودردوم د هغې نه مخکښې د تللو همت مې نشته ځکه چه ویره ده چه د ډرائیو نګ د هنر نه راتللو په وجه باندې رانه چرته بس التهه نشي. نو په دې کښې راویخ شوم. (۳) په خوب کښې خپلې علاقې ته ځم هلته یوه قلعه ده چه یو انګریز جوړه کړې ده او هغې ته نزدې په مغربي طرف باندې څه دوکانونه دي. ځه خپل کور طرفته د بس په ذریعې باندې په یو نوې سړک (چه په وادي کښې تیر شوې دې) باندې دغې قلعې او دوکانونو طرفته راروان یم. په لاره کښې ډیره یخه او مزیدار هوا چلیږي چه د قلعه نه تیر شم. او دوکانونو ته اورسیږم نو ددغې دوکانونو یوه نوې نقشه (چه ما مخکښې نه وه لیدلې) وینم هغه دا چه

پوره بازار په دیوالونو کښې بند دې او دپاسه پرې د ښختو او سیمټونه جوړشوې عجیبه ښکلې نقش ونګار والا چت دې ځه په بس کښې هغې کښې دننه لاړ شم ځائې د ښکلې والي نه متاثره زړه مې ډیر خوشحاله شي او د خوب نه رابیدار شم. (۴) په خوب کښې یو پردې ځائې ته لاړ شم هلته راته اووئیلی شي چه تاته به دلته د اوسیدلو دپاره بنګله ملاویږي. ځه هغه وخت کښې په جمات کښې یم غالباً چه د ماسپښین وخت دې باجمات مونځ کووم په واپسې باندې راته پوره خوب یادنه وي. او بنګله مې هم نه ده لیدلې او راویخ شم. ددې خوبونو تعبیر راکړئ؟ ډیر شکر ګزاره به یم.

السائل: عبدالحمید کهوئی بهاره ایف آر- ډي آئي خان..... ۲۹صفر ۱۳۹۰ھ

الجواب: (۱) د بدعاتو او شرکیاتو په رد کښې مداهنت باندې تنبیه معلومیږی. (۲) اشارةً معلومیږي ستاقیادت طرفته او دهغې سرته د رسیدلو طرفته لیکن ډیر په احتیاط سره اوښه طریقې سره. (۳) انګریزي سکولو نه انګریزي قلعې دي دا دنیا بازار دې چه په ورځ په ورځ د خلقو په زړونو او سترګو کښې عظمت حاصلوي ستا په دې باندې تیریدل دي. لیکن امید دې چه دا ځان له د مقام جوړلو نه به محفوظ اووسږې.

....

....

...

كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۚ ﴿٢٦﴾
وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ
ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ۚ ﴿٢٧﴾

(الاية)

...

باب
ما يتعلق
بالروح والبرزخ
والموت

...

باب ما يتعلق بالروح والبرزخ والموت

د مرګ معنی او مفهوم

سوال: په تسکين الصدور کښې حضرت مولانا محمد سرفراز خان د مرګ دوه مفهومه بيان کړي دي. اولنې مفهوم: علماؤ د مرګ دا معنى کړيده چه د روح تعلق د جسم نه بالکل کټ شي د قرآن او حديث نه معلوميږي چه د مرګ په وخت کښې روح اوباسلې کيږي او آسمانونو طرفته وړلې کيږي. بيا په خپل ځائې باندې کيښودلې کيږي. دويم مفهوم: مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله فرمائي چه پيغمبرانو نه د حيات انقطاع نه کيږي. فرق پکښې واضح کړئ؟

المستفتي: حاجي محمد عبدالله چکړاله ضلع مياں والى. ۳ رمضان ۱۴۰۲ھ

الجواب: په دې معنو کښې اولنې معنى مشهوره او بغير تکلفه ده دارنګې حديث وفي الجنة ماواه وحديث الرفيق الاعلي سره مناسب ده، نعم اعيدت الي الجسد المبارک بدليل ما رواه البيهقی وغيره او دويمه معنى صحيح ده يعني روح د بدن نه منقطع شوې نه دې بلکه په قلب کښې جمع شويدې. ويصاحبه بعض الانقطاع عن بعض الاعضاء او تصير کالشمس اذا غربت فافهم، وهو الموفق

د عذاب قبر او حيات النبي ﷺ په باره کښې داهل سنت والجماعت مسلک

سوال: (۱) آياد قبر عذاب او ثواب په دې مخصوصې کندې کښې ورکولې کيږي يا عليين او سجين دواړه مراد دى؟ دارنګې د عالم برزخ اطلاق په دې ليدونکې کندې باندې کيږي يا په علين او سجين باندې يا په دواړو باندې؟ (۲) حيات الانبياء کوم چه د احاديثو نه ثابت دې ددغې حيات نه دنيوې حيات مراد دې که برزخي؟ دا فتوي تبليغي جماعت حلقه بنوں د خپلو عقائدو دپاره غوختلې ده اميد دې چه جواب به ئې راکړئ؟

المستفتي: مولانا محمد بصير صاحب غور يواله ضلع وتحصيل بنوں ۱۲/۹/۱۹۸۷ء

الجواب: حامداً ومصلياً! (۱) د عذاب قبر په باره کښې ډير احاديث راغلي دي د حضرت عبدالله بن عباس رضى الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ ددوه قبرونو په خوا کښې تير شو نو حضور ﷺ او فرمائيل چه دې دواړو ته

عذاب ورکولې کيږي يو ته د متيازو د دارو نه د نه بچ کيدلو په وجه باندې عذاب ورکولې کيږئ. او دويم ته د چغلئ په وجه باندې. بيا د کهجورې ځانګه دوه حصې کړه او دواړو قبرونو باندې ئې کيښوده او وې فرمائيل چه ترڅو پورې دا ځانګې اوچې شوې نه وي نو شايد چه عذاب ترې نه سپک کړې شي. د قبر لفظ په حقيقت کښې دې کندې ته وئيلې کيږي په کوم کښې چه د مړي جسد عنصري پروت دي دا تير شوې حديث ددې واضح ثبوت دې. ځکه چه انحضرت ﷺ په کومو دوه قبرونو باندې ځانګې اېښودې وې هغه حسي قبرونه او کندې وې او دعليين او سجين هغه برزخي مقام ترنه مراد نه دې کوم چه دروحونو د قرار ځائې دې. ځکه چه د ځانګې هغه دوه حصې ئې هلته نه وې ښخې کړې، بعضې وخت داسې کيږي چه د مړي جسم په اور کښې او سوزي يا ئې درياب يوسى او مهيان او کبان ئې اوخوري يعني په قبر کښې ددفن کولو نمبر ئې دسره نه راځي نو دې باره کښې حافظ ابن القيم رحمه الله په کتاب الروح. صفحه ۷۲ کښې لکلي دي! ترجمه: ئې داده. دا پيژندل مناسب دي چه عذاب قبر هم عذاب برزخ ته وئيلې شي نو هر داسې کس چه د عذاب مستحق وي چه کله مړ کيږي نو هغه ته عذاب حصه وررسيږي. په قبر کښې دفن کړې شوې وي يا نه نو که ځناورو خوړلې وي يا سوزولې شوې وي تر دې که ايره ئې په هوا کښې الوزولې شوې وي يا په پانسئ ختلې وي يا د درياب وړې وي. په هر حالت کښې دهغه روح او بدن ته هغه عذاب ملاويږي کوم چه په قبر کښې دفن شوي ته ملاويږي. بهر حال ټول اهل السنت والجماعت په دې عقيدې باندې متفق دي چه په قبر و برزخ کښې ايمان والاؤ او تابعدار وخلقو ته لذت او خوند نصيب کيږي. او کفارو او منافقانو او ګناه ګارانو ته عذاب او تکليف ملاويږي. په دې کښې د هيڅ شک او شبهې ګنجائش نشته د قرآن او سنت او اجماع د صريحو دليلونو په وړاندې دا عقيده مضبوطه ده او کوم خلق چه د قبر دعذاب او راحت نه يعني د برزخي ژوند نه منکرين دي نو دا مذهب دملحدينو خوارجو او بعضې معتزله، او بعضې مرجئه ؤ دي.

(۲) د اهل سنت والجماعت په نيز دباندې اتفاقاً انبياء عليهم السلام په قبرونو کښې ژوندي دي. دهغوي ژوند د شهيدانو د ژوند نه هم اعلى او ارفع دې. دې باره کښې ډير دليلونه دې حديث مبارک دې. الانبياء احياء في قبورهم يصلون. علامه سبکي رحمه الله دې روايت ته صحيح وئيلې دي او د ټولو

علمائي دیوبند هم دا عقیده ده. لکه چه په المهند علي المفند دي روایت ته صحیح وئیلي دي او د ټولو علمائي دیوبند هم دا عقیده ده. لکه چه په المهند علي المفند کښې خلیل احمد سهارنپوري رحمه الله تصریح کړیده. او علمائي حرمین شریفین او د هند علماؤ ئي تصدیق کړې دې.

کتبه: رشید احمد صدیقي حقاني. نائب مفتي دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

الجواب: دا جوابونه صحیح دي (۱) د قرآن او حدیث او علم کلام او فقهې نه د عذاب قبر حق کیدل ثابت دي ﴿۱﴾ او قبر دهغه ځائې نوم دې کوم ځائې کښې چه دا انساني اجزاء قرار اونیسي او کوم خلق چه د عذابِ قبر نه منکر وي لکه بعضې معتزله او عثماني پارټي. نو هغوي پسې اقتداءَ کول صحیح نه دي کما في شرح کبیر ﴿۲﴾

(۲) او انبیاء علیهم السلام په قبرونو کښې د یو ځل وفات کیدلو نه پس په دنیوي ژوند سره ژوندي دي یعني دهغي روحونه په بدنونو کښې واپس داخل شوي دي. البته کوم مشائخ چه د حیات برزخی قائل دي هغوي په اهل سنت والجماعت کښې داخل دي. او دا مسله د نظریاتو نه ده د ضروریاتو نه نه ده. وهو الموفق.

حضرت مفتي اعظم (محمد فرید عفی عنه) شیخ الحدیث بدارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

د حیات الانبیاء په هیئت کښې اختلاف دې

سوال: زید وائي چه انبیاء علیهم السلام بالکل د وفات په وخت دوباره ژوندي وی یعني د روح انقطاع ترې نه نه کیږي. او خالد وائي چه د دفن کولو نه مخکښې د روح تعلق د جسم سره نه وي ځکه چه مرګ د ژوند ضد دې دیو واقع کیدلو سره انتفاءَ دَ دویم راځي، نو جواب راکړئ؟

المستفتي: عطاءالله شاه مدرس جامعه رشیدیه بهکر میان والی ۳ شعبان ۱۴۰۲ھ

﴿۱﴾ قال العلامة تفتازانی وعذاب القبر للکافرین ولبعض عصاة المئومنین...... ثابت بالدلائل السمعیة لانها امور ممکنة اخبر بها الصادق علی ما نطقت به النصوص قال الله تعالیٰ النار یعرضون علیها غدوًا وعشیاً ویوم تقوم الساعة ادخلو آل فرعون اشدالعذاب وقال الله تعالیٰ اغرقوا فادخلوا نارا اقال النبی صلی الله علیه وسلم استنزهوا عن البول فان عامة عذاب القبر منه وقال علیه السلام قوله تعالیٰ یثبّت الله الذین آمنوا بالقول الثابت نزلت فی عذاب القبر الخ (شرح العقائد للسنفی ص ۷۷ عذاب القبر الحق)

﴿۲﴾ قال الحلبی ومن ینکر الشفاعة اوا لرویة او عذاب القبر او الکرام الکاتبین واما من یفضل علیا فحسب فهو من المبتدعة الذین یجوز الاقتداء بهم مع الکراهة (غنیة المستملی ص ۴۷۶ باب الامامة)

الجواب: انبیاء علیهم السلام په قبرونو کښې باجسادهم وبارواحهم ژوندي دي ﴿۱﴾ دا متفق علیه خبره ده البته په دې کښې اختلاف دې چه په اجسامو کښې حیات د روحونو پشان د اول نه دې او که نه دا تعلق د روح په وجې سره دې والظاهر من الاثار الثاني. وهو الموفق

حیاتِ دنیوي نه د حیاتُ الانبیاء امتیاز

سوال: یو کتاب کښې لیکلي دي چه انبیاؤ له الله تعالی یو مخصوص او ممتاز ژوند ورکړې چه د شهیدانو د ژوند نه ممتاز دې او د شهیدانو حیات د اولیاؤ نه ممتاز دې لیکن دا حیات د دنیوي حیات نه جدا دې. نو آیا دا وئیل صحیح دي امتیاز پکښې شته؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد عبدالله سکنه چکړاله غازي خیل
ضلع میان والي ۸ رمضان المبارک ۱۴۰۲ هجري

الجواب: دا خبره صحیح ده ځکه چه کوم علماء چه د حیاتِ نبوي قائل دي هغوي

﴿۱﴾ الاحادیث الصحیحة دالة علی حیاة الانبیاء علیهم الصلاة والسلام والشهداء والصدیقین والصالحین کما فی الحدیث فنبی الله حی یرزق وکذافی الحدیث من صل علی نائیا ابلغته ومن صلی علی عند قبری سمعته (مشکواة ص ۷۹ جلد ۱) وکذافی عقائد علماء الدیوبند (المهند علی المفند) بان للانبیاء علیهم السلام حیاة برزخیة جسدانیه ویدل علیه قوله علیه السلام مررت بقبر موسیٰ فاذاهو یصلی فی قبره والصلاة تقتضی جسداً حیا. وکذایدل علیه ماروواه الترمذی فی تلاوة سورة الملک من موضع لا یعرف فیه القبر (مشکواة باب فضائل القرآن)

وایضاً روی ابو هریره رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم مامن احد یسلم علی الا ردالله تعالیٰ علی روحی حتی ارد علیه السلام رواه ابو داؤد وکذا روی الدارمی والنسائی ان لله تعالیٰ ملائکة سیاحین فی الارض یبلغونی من امتی السلام (مشکواة ص ۷۸)

وایضاً قوله صلی الله علیه وسلم الانبیاء احیاء فی قبور هم یصلون رواه ابو یعلی والبیهقی. وللعلامة السیوطی رسالة فی حیاة الانبیاء علیهم الصلاة والسلام. وایضاً للقاسم نانوتوی آب حیات،، ذکر فیهما دلائل شافیه کافیة دالة علیٰ حیات الانبیاء من اراد فلیطا لعها. (از مرتب)

ئې هم په دې لوازمو سره متصف نه مني ﴿١﴾ ومثلهم اهل الجنة. وهو الموفق.

د مړي په حق کښې د نیک کیدلو د شهادت حیثیت

سوال: که یو سړې مړ شي او بیا جنازې والا او فاتحه ویونکو نه دا مطالبه اوشي چه د مړي په حق کښې دا موجوده کسان په خپلو ژبو سره اووایئ چه دا مړې یو نیک مسلمان سړې وو یعني دده په حق کښې د نیکئ ګواهي ورکړئ. برابر خبره ده که دا مړې نیک وي او که بد وي نو آیا واقعي په دې الفاظو سره مړی ته فائده رسیږي؟ په شریعتِ محمدي ﷺ کښې ددې ګواهي تر کوم حده پورې اجازت شته؟

المستفتي: حاجي احمد جان صاحب چنګلئ سوات........ ٢٠١١٢١١٩٧١

الجواب: د مسئلې حقیقت صرف دومره دې چه بعضې نیکان خلق د یو مړي متعلق (د لیدلو یا حسنِ ظن په بنیاد باندې) نیک شهادت ورکړي نو الله تعالی دا شهادت سره (د دُعا و شفاعت پشان) د نجات ذریعه جوړوي. یشیر اله مافي المرقاة ص ٥٣ جلد٤) اودا مراد نه دې چه قصداً عمداً یو شرارتي سړې ته په نیک وئیلو وباندې لکه چه خوشامدو والائې کوی. فائده حاصلیږی.

قال رسول الله ﷺ ایما مسلم شهد له اربعة بخیر ادخله الله الجنة رواه البخاری محولة من المشکوٰة. ﴿٢﴾ والشهادة المشاهدة حقیقة کانت او حکماً والاخبار خلاف الواقع عمداً وقصداً کذب لیس بشهادة فا فهم. ﴿٣﴾ وهو الموفق

﴿١﴾ الحیٰوة البرزخیة القویة حیاة الانبیاء حتیٰ لا یجوز نکاح ازواجه المطهرات باحاد الامة وهذا اثر الحیاة القویة وکونها امهات المئومنین وجه اخرلحر مة نکاحهن ولاتنافی بین الوجهین فان الحکم الواحد یثبت بدلائل شتٰی وورد فی حدیث الاسراء مررت بموسیٰ فاذا هو یصلی فی قبره. والصلواة انما تکون بالجسد کما ذکره ایضاً خلیل احمد سها رنپوری فی عقائد علماء دیوبند. والتفصیل فی کتاب الروح لابن القیم والبصائر للداجوی وغیرهما. (از مرتب)

﴿٢﴾ (مشکواة المصابیح ص ١٤٥ جلد ١ باب المشی بالجنازة الفصل الاول)

﴿٣﴾ قال العلامه ابن نجیم قوله هی اخبار عن مشاهدة وعیان لا عن تخمین وحسبان ای الشهادة وصرح الشارح بان هذا معنا ها اللغوی وهو خلاف الظاهر وانما هو معنا ها الشرعی ایضاً الخ (البحر الرائق ص ٥٥ جلد ٧ کتاب الشهادات)

د قبر عذاب روح او بدن دواړو دَ پاره ثابت دې

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه یو سړې دې هغه د قبر عذاب په روح او بدن باندې نه مني او وائي چه عذاب به صرف د روح دپاره وي نو آیا دا خبره صحیح ده؟

المستفتي: قاري یوسف مهتمم جامعه مدنیه ډهیال سنګهه شیخو پوره ١٨ ربیع الثاني ١٤٠٥ﻫ

الجواب: دا سړې په غلطه دې دده ضرب با لمطارق والا حدیث ﴿١﴾ په ژور نظر نه دې مطالعه کړې. ﴿٢﴾ وهو الموفق

د حیاتِ انبیاء باره کښې احادیثِ مبارکه

سوال: محترم مفتي صاحب! هغه حدیثونه اولیکئ چه په هغې کښې د پیغمبرانو د مرګ نه پس والا دَ ژوند ذکر او د نبوي حیات الفاظ په کښې وي. ډیره مهرباني به وي؟

المستفتي: حاجي محمد عبدالله چکړا له میان والي..... ٢٢ ذیقعده ٩٦ هجري

الجواب: ته دَامام بیهقي رحمه الله او امام سیوطي رحمه الله هغه رسائل چه د حیاتِ انبیاء

﴿١﴾ عن انس قال قال رسول الله ﷺ ان العبد اذا وضع فی قبره وتولی عنه اصحابه انه یسمع قرع نعالهم ......ویضرب بمطارق من حدید ضربة فیصیح صیحة یسمعها من یلیه غیر الثقلین متفق علیه ولفظه للبخاری. (مشکواة المصابیح ص ٢٥ جلد ١ باب اثبات عذاب القبر)

﴿٢﴾ قال الملا علی قاری واعلم ان اهل الحق اتفقوا علی ان الله تعالیٰ یخلق فی المیت نوع حیاة فی القبر قدر ما یتالم او یتلذذ ولکن اختلفوا فی انه هل یعاد الروح الیه والمنقول عن ابی حنیفة رحمه الله التوقف الا ان کلامه هنا یدل علی اعادة الروح اذجواب الملکین فعل اختیاری فلا یتصور بدون الروح وقیل قد یتصور الاتری ان النائم یخرج روحه ویکون روحه متصلاً بجسده حتی یتالم فی المنام ویتنعم ؟ وقد روی عنه علیه الصلاة والسلام انه سئل کیف یوجع اللحم فی القبور ولم یکن فیه الروح فقال النبی ﷺ کما یوجع سنک ولیس فیه الروح. (شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ١٠١ اعادة الروح الی المیت فی قبره حق)

متعلق تالیف شوي دي هغه مطالعه کړه (۱) په هغې کښې هغه روایات هم
لیکلي شوي دي په کومو کښې چه د ارواحِ مبارکه ؤ په بدنو نو کښې د
واپس راتللو تذکره ده (۲)

په جنت کښې د واده شوو او ناواده شوو زنانو دَ خاوندانو مسئله

سوال: (۱) د مسلمانانو چه کومې منکوحه بیبیانې دي آیا په جنت کښې به دا
خپلو خپلو خاوندانو ته ملاویږي؟ که څه بل څه صورت به وي؟ تفصیلاً ئې
ذکر کړئ. (۲) که خپلو خاوندانو ته ملاویږي نو دَ حورو او دهغوي په مینځ
کښې به د مرتبې او حسن او جمال څه فرق وي که نه؟ (۳) خدائې دې نکړي که
خاوند د پاکولو پاره دوزخ ته داخل شي او منکوحه جنت ته لاړه نو دا
منکوحه به په جنت کښې بې خانده اوسیږي که څه بل څه صورت به وي؟
بینوا بالتفصیل. (۴) که خاوند ددنیا نه کافر لاړ شي او منکوحه مسلمانه نو
دې صورت کښې خو به دهغه خلاصې نا ممکن وي نو په دې صورت کښې
به دې ښځې ته د جنتي مخلوق نه خاوند ملاویږي او که ددې دنیا د سړو نه؟
(۵) په جنت کښې به د مسلماني بالغې جینئ چه ناواده وي څه کیږي په جنت
کښې به واده کوي یا نه؟ اوضحوا الشقوق کلها لایبقي خدشةً.

المستفتي: سیف الله بنوں..... ۱۳۷۹ هجري

﴿۱﴾ روی ابن ماجه عن ابی درداء انه ﷺ قال اکثروا من الصلاة علی یوم الجمعة فانه مشهود تشهده الملائکة وان احداً لن یصلی علی الا عرضت علی صلاته حتی یفرغ منها قال قلت وبعد الموت؟ قال ان الله حرم علی الارض ان تأکل اجساد الانبیاء. ووافق ابن ماجه و احمد وابو داؤد ابن حبان والحاکم فی روایة قوله ﷺ ان الله حرم علی الارض ان تأکل اجساد الانبیاء. وایضاً عن النبی ﷺ الانبیاء احیاء فی قبورهم یصلون رواه ابویعلی والبیهقی. وکذا ورد فی الحدیث من صلی علی نائیا ابلغته ومن صلی علی عند قبری سمعته (مشکواة ص ۸۷) وکذا روی الدارمی عن سعید بن عبد العزیز قال لما کان ایام الحرة ولم یؤذن فی مسجد رسول الله ﷺ ثلاثا ولم یقم ولم یبرح سعید بن المسیب المسجد وکان لایعرف وقت الصلاة الابهمهمة یسمعها من قبر النبی ﷺ رواه الدارمی (مشکواة ص ۵۳۷) هذه نبذة من احادیث الحیاة للانبیاء والتفصیل فی (الشهاب الثاقب) لشیخ الاسلام سید حسین احمد المدنی ورسالة للسیوطی وللامام بیهقی وکذا تصریح بها فی عقائد علماء دیوبند. ففیها دلائل شافیة کافیة دالة علی حیاة الانبیاء من اراد فلیطالعها فان فیها شفاء العلیل ودواء الغلیل. (از مرتب)

﴿۲﴾ قال ابن عبدالبر ثبت عن النبی ﷺ انه قال ما من مسلم یمر علی قبر اخیه کان یعرفه فی الدنیا فیسلم علیه الا رد الله علیه روحه حتیٰ یرد علیه السلام. (الحاوی للفتاویٰ ص ۳۰۲ جلد ۲ للعلامه سیوطی)

الجواب: (۱) منکوحه مسلمانه زنانه به خپل خاوند ته ورکولې کیږي. رواه الطبراني عن ابن عباس رضی الله عنهما مرفوعاً کذا في هامش جلالین. (۱)

(۲) په نفسِ حسن او تطهیر کښې اشتراک ثابت دې یدل علیه ازواج مطهرة و رضوان من الله الاية (۲) او باقي تفاوت غیرمضر دې یعني د حورې په جنت کښې پیدا کیدل او ددوي په دنیا کښې.

(۳) ددې متعلق تصریح نشته دومره اجمالاً معلوم دي چه په جنت کښې حزن او خوف منقول نه دې.

(۴)، (۵) په ظاهره باندې ددې دواړو حکم یو دې چه اختیار به ورته ورکړې شي چه په دې جنتیانو کښې د چا بی بی شي ګینې نو د جنتي مخلوق نه به ورله خاوند پیدا کړې شي. (منقول از فتاوي مولانا عبدالحئ ص ۱۲ جلد ۳) وهو الموفق

د روح په اخستلو کښې عزرائیل علیه السلام مؤکل دې او نورې فرشتې ورسره معاونین دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه آیا صرف عزرائیل علیه السلام بذاتِ خود انسان ته ځي او روح ترینه اخلي یا دا کار په نورو فرشتو سره کوي.

المستفتي: سید امیرالله نیو بس اډه مردان
۲۲ شعبان ۱۴۰۳ ھ

الجواب: په قران مجید کښې د روح قبض کولو نسبت الله تعالی ته د خالق او فاعِل نسبت دې او ملک الموت عزرائیل علیه السلام ته نسبتِ مؤکل ته نسبت دې او

﴿۱﴾ عن ابن عباس مرفوعاً اذا دخل الرجل الجنة سال عن ابویه وولده و زوجته فیقال انهم لم یبلغوا درجتک وعملک فیقول یارب قد علمت لی وهم فیؤمر بالحاقهم به. (هامش جلالین سورة طور ص ۴۳۵ جلد ۲)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن کثیر وازواج مطهرة ای من الدنس والخبث والاذی والحیض والنفاس وغیر ذلک مما یعتری نساء الدنیا. (تفسیر ابن کثیر ص ۴۶۱ جلد ۱ سورة ال عمران آیت: ۱۵)

ملائیکو ته نسبت معاونین او عملې ته نسبت دې. ﴿۱﴾ وهکذا في سائر التصرفات. وهوالموفق.

د سماع موتي او حيات الانبياء مسئلې په ضرورياتِ دين کښې نه دي

سوال: د حيات الانبياء په باره کښې دوه کسانو اختلاف دې يو سړې د حيات برزخي او سماعت برزخي قائل دې او دويم وائي چه څه د حيات د نيويِ او سماعت د نيوي قائل يم په دې دواړو کښې چاپسې مونځ کيږي او چاپسې ناجائز دې. وضاحت اوکړئ.؟

المستفتي:حاجي عبدالرحمان مين بازار ډوميل جهلم۱۲شوال ۱۴۰۳هجري.

الجواب: سماع او حيات د نيوي نظری مسائل دي په ضرورياتِ دين کښې داخل نه دي، نو دا دواړه کسان د اقتداء لائق دي البته د دلائلو په رڼا سره د حضور ﷺ په قبر او برزخ کښې د مرګ موعود نه پس په حياتِ دنيوی سره ژوندي کيدل او برزخ او دنيا نه سماعت کول راجح اقوال دی. ﴿۲﴾ وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال العلامه الوسی فی قوله تعالیٰ ولو تری اذالظالمون فی غمرات الموت والملٰئکةُ ای الذين يقبضون ارواحهم وهم اعوان ملک الموت باسطو ايديهم ای بالعذاب (تفسير روح المعانی ص۳۲۴ جلد ۵ سورة الانعام آيت:۹۳) وايضاً يدل عليه عن ابی هريرة قال قال رسول الله ﷺ الميت تحضره الملائكة فاذاكان الرجل صالحاً قالوا اخرجی ايتها النفس الطيبه الخ (مشكواة المصابيح ص ۱۴۱ جلد ۱ باب ما يقال عندمن حضره الموت)

﴿۲﴾ قال ابن عابدين واما مانسب الامام الاشعری امام اهل السنة والجماعة من انكار ثبوتها بعد الموت فهوافتراء وبهتان والمصرح به فی كتبه وكتب اصحابه خلاف ما نسب اليه بعض اعدائه لان الانبياء عليهم الصلاة والسلام احياء فی قبورهم وقدا قام النكير على افتراء ذالک الامام العارف ابو القاسم القشيری فی كتابه شكاية السنة وكذا غيره كما بسط ذالک الامام ابن السبكی فی طباقة الكبریٰ فی ترجمة الامام الاشعری. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۵۹ جلد ۳ مطلب فی ان رسالته ﷺ باقية بعدموته) وايضاً يدل عليه وسماع الموتیٰ احاديث كثيرة فليراجع الیٰ كتاب الروح ص ۱۱، والیٰ اقتضاء الصراط المستقيم ص۳۲۶ والنونية ص ۱۴۵ الشمس الدين ابن قيم وابن تيميه والیٰ روح المعانی ص ۵۵ جلد ۲۱ للألوسی، وغيرها)

په بيت المقدس کښې د پيغمبرانو روحونه يا بدنونه سره د روحونو نه حاضرئ کښې اختلاف

سوال: يو سړې وائي چه په براهين قاطعه کتاب صفحه نمبر ۲۰۰ باندې مولانا رشيد احمد ګنګوهي صاحب ليکلې دي په ددې فقهي او حديثي روايتونو نه معلوم شوه چه د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام روحونه دخپل خپل ځائې نه راغلل او بيت المقدس ته حاضر شول او دلته ئې مونځ اوکړو نو دا خبره صحيح ده که نه ؟ تفصيلي جواب راکړئ؟

المستفتي: عبدالله چکړاله غازي خيل ضلع مياں والی ۱۸شعبان ۱۴۰۲هجري

جواب: شهودهم البيت فيه احتمالات الاول ما ذكر القطب الجنجوهی . والثانی تمثل ارواحهم باجسادهم والثالث شهودا جسامهم بعينها .فليراجع الی فتح الملهم شرح صحيح المسلم. وهوالموفق

د ځناورو روحونه چرته ځي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه دَجناتو او انسانانو نه علاوه د نورو ځناورو روحونه څرته ځي يعني تر قيامته پورې په کوم ځائې کښې وی؟ بينوا توجروا

المستفتي:عبدالعظيم هنډ مردان

الجواب: د مناسب تلاش باجود دا مسئله ملاؤ نه شوه لهذا ددې متعلق مونږ د مستقر تعين نه شو کولې اګر چه د قياس تقاضاداده چه د مرګ سره ددوي روحونه هم فنا شي ځکه چه برزخ خو د ثواب يا عذاب د بقاء د پاره وي. او دا غير مکلف دي. والله اعلم بحال مخلوقاتهِ.فقط.

د قبر حيات برزخي دې که د نيوي

سوال: په قبرکښې د مړو ژوند برزخي دي يا جسماني؛ دانبياؤ ژوند کوم يو دې؟

المستفتي:حاجي محمد عبدالله چکړاله مياں والي.

الجواب: د ټولو انبياؤ نه علاوه د ټولو مړو ژوند برزخي دې اجماعاً ﴿۱﴾ البته انبياء كرام په برزخ كښې سره د بدنونو او روحون ژوندي دي ﴿۲﴾ او زمونږ نه د دوي ژوند پټ دې. وهو الموفق.

د سماع موتىٰ په باره كښې د اكابرو اختلاف او د احنافو مذهب

سوال: د سماع الموتىٰ په مسئله كښې ځمونږ د يوبندي علماؤ هم اختلاف دې او مولانا مفتي عزيز الرحمان صاحب رحمه الله او مفتي كفايت الله صاحب هم د عدم سماع په قول باندې فتوىٰ وركړې ده. براه كرم په تحقيق سره مونږ دخپلو خيالاتو نه خبر كړئ؟

المستفتي: جانباز ملک علوي مدير الجامعه الحسينيه

وزير آباد........ ۲۸جمادي الاولي ۱۴۰۵هـ

الجواب: واضحه دې وي چه اكابر د سماع الموتى متعلق خپل مينځ كښې اختلاف ساتي ليكن راجح قول د سماع الموتى دې ځكه چه قران دموتى د اوريدو لو نه ساكت (اوچپ) دې (البته عدم سماع نافع اوپه عدم انتفاع على المسموع باندې ناطق دې (لصحة الاستعارة والتشبيه علي التقدير الاخير دون الاولى او احاديث په سماع باندې ناطق دي:

اماعند اول الوضع مثل حديث قرع النعال واما فى سائر الاوقات مثل حديث اجابة السلام الذى فى تفسير ابن كثير وشرح الصدور و فتاوىٰ ابن تيميه وغيره۔

نو د مثبت سماع په حديثونو كښې تاويل كول د قاعدې نه خلاف دي. او داخبره دې هم واضحه وي چه د سماع الموتى متعلق د امام ابو حنيفه رحمه الله نه په ظاهر الرواية او غير ظاهر الرواية كښې د نفي او اثبات متعلق هيڅ حكم نقل نه دي.

﴿۱﴾قال الملاعلى قارى واعادة الروح اى ردها او تعلقها الى العبد اى جسده بجميع اجزائه او ببعضها مجتمعة او متفرقة فى قبره حق........وفى المسئلة خلاف المعتزلة وبعض الرافضه وقد وردت الاحاديث المتظاهرة فى المبنى المتواترة فى المعنىٰ فى تحقيق احوال البرزخ والعقبىٰ قد استوفاها شيخ مشائخنا الجلال السيوطى فى كتابه المسمى بشرح الصدور فى احوال القبور و فى كتابه الاخر المسمى البدور السافرة فى احوال الاخرة فعليک بهما ان كنت تريد اطلاع وارتفاع النزاع عن الطباع الخ (شرح فقه الاكبر لملاعلى قارى ص ۱۰۱ اعادة الروح الى الميت فى قبره حق)

﴿۲﴾ قال ابن عابدين ان الانبياء عليهم السلام احياء في قبورهم .
(ردالمحتار ص ۲۵۹ جلد ۳ مطلب فى ان رسالته ﷺ باقية بعد موته)

او چا چه امام اصاحب ته د نفي نسبت كړيدې هغه د كتاب الايمان د جزئي نه استخراج دې. او چا چه اثبات ته نسبت كړې دې هغه په اذا صح الحديث فهو مذهبي. باندې مبني دي ﴿۱﴾ وهو الموفق

دقيامت په ورځ دكافرانوسجده نه كول اوداقامت دجواب په باره كښې وعيد

سوال: آيا د ا صحيح ده چه د قيامت په ورځ به ټول خلق د الله تعالى په حكم سره سجده كوي ليكن كافران تري نه مستثنى دي او دغه شان چه كوم كس د اقامت جواب په زړه كښې نه وركوي د قيامت په ورځ به هغه هم سجده نه كوي. آيا دا صحيح ده؟

المستفتي: مولوي محمد نظير بانډه شيخ اسماعيل

ضلع پشاور ۲۸جمادي الثاني ۱۳۹۹هـ

الجواب: د بخاري شريف په حديث كښې راغلي چه كافر به سجده نشي كولې ﴿۲﴾ او د اقامت د جواب متعلق چه كوم وعيد دې ددې حواله نا معلومه ده. وهو الموفق.

د پيغمبرانو او شهيدانو په حيات كښې فرق

سوال: (۱) د انبيائي كرام د قبر ژوند څنګه دې؟ او د شهيدانو او ددوي په ژوند كښې څه فرق دې؟ (۲) د قبر په خوا كښې د پيغمبرانو د اوريدلو څه مطلب دي او د انک لا تسمع الموتى څه مطلب دې؟ (۳) عند القبر اوريدل هُم فوق الاسباب دې بيا د لرې نه ولې نه اوري؟ (۴) د شهدائي كرامو د قبر په خوا كښې اوريدل ثابت دي كه نه؟

المستفتي: عنايت الله شاه كاكاخيل اسلام آباد... ۱۹۷۵ء ۲۵\۱۲\۱

الجواب: واضحه دې وي چه روحاني او جسماني حيات د مرتبو داختلاف په لحاظ سره د هر مړي د پاره ثابت دي. كه مسلمان وي او كه كافران وي. بدليل احاديث ثواب القبر وعذابه. البته د انبياء عليهم السلام روحونه د مرګ نه پس

﴿۱﴾والتفصيل فى كتاب الروح لابن القيم الجوزيه ،وفى البصائر لمنكرى التوسل باهل المقابر لحمد الله الداجوى ،وفى غوث العبادبيان الرشاد للمصطفىٰ ابويوسف الحمامى الازهرى .

﴿۲﴾عن ابى سعيدن الخدرى قال سمعت رسول الله ﷺ يقول يكشف ربنا عن ساقه فيسجد له كل مؤمن ومؤمنة ويبقىٰ من كان يسجد فى الدنيا رياءً وسمعةً فيذهب يسجد فيعود ظهره طبقاً واحداً. متفق عليه .(مشكواة المصابيح ص ۴۸۳ جلد ۲ باب الحشر الفصل الاول)

اجسادو مباركو ته واپس كړې شوي دي. ويقال لها الحيوة الدنيوية وهو قول اكثر الاكابر ويؤيده حديث البيهقي في رسالته. په خلاف د شهداؤ باندې چه د هغوي روحونه په جنت كښې دي ليكن دهغوي د بدنونو سره يو خاص قسم تعلق دې. ويقال لها الحيوة البرزخية ولاريب في كمال الاولي مع ان جسد النبي خيرمن الجنة وغيرها. نو بس ددې ژوند د مرګ سره هيڅ تصادم نشته دې. لانها طارية بعد الموت ولان موت الانبياء ليس كموت غيرهم كما ان نومهم ليس كنوم غيرهم. او د سماع دارو مدار په نفس حيات باندې دې. په حيات د ينوي باندې نه دې. والسماع امر غيرمعقول فيقصر علي ما ورد به الخبر وهوالسماع من القريب وفناء القبر. فقط

د جنتونو شمير

سوال: د جنت متعلق بعضې كسان وائي چه اته دي او بعضې وائي چه څلور دي. صحيح قول كوم يو دې؟

المستفتي: حافظ عبدالمالک نرياب كوهاټ....٧جولائي ١٩٧٩ء

الجواب: د دلائلو په لحاظ سره څلور جنتونه كيدل راجح دي. ﴿١﴾ وهو الموفق

د نابالغه جينكو واده نه مخكښې مړې كيدل اوپه جنت كښې دخاوندمسئله

سوال: كه نابالغه جينكۍ دواده نه مخكښې مړې شي نو آيا په جنت كښې به دهغوي ودونه كيږي؟

المستفتي: مولانا فضل غني فاضل دارالعلوم ديوبند ميان خان مردان

الجواب: كه په جنتيانو كښې ئې څوک خوښ وو د هغوي سره به نكاح اوكړې شي او كه څوک ئې خوښ نه ؤو نو جنتي مخلوق به ورله پيدا كړې شي او واده به ورسره اوكړې شي.

في الغرائب. ولو ماتت قبل ان تتزوج فخير ايضاً ان رضيت بآدمي زوجت منه و ان لم ترض فالله تعالىٰ يخلق ذكر من الحور العين فيزوجها منه انتهىٰ.

﴿١﴾ قيل الجنان ثمانية وقيل اربعة وهو الراجح صرح به ابوالليث السمرقندي وابن العربي شارح الترمذي وهو الظاهر من قوله تعالىٰ ولمن خاف مقام ربه جنتان مع قوله تعالىٰ ومن دونهما جنتان و كذا هو الظاهر من قوله ﷺ ان في الجنة جنتين من فضة انيتهما وما فيها وجنتين من ذهب آنيتهما وما فيها رواه الترمذي ص ٣٦٢ عن عبدالله بن قيس مرفوعاً.

(...اج السنن شرح جامع السنن ص١٢٥ جلد ١ باب ما يقال بعد الوضوء)

(مجموعة الفتاوىٰ ص ١٦ جلد ٣). ﴿١﴾ وهو الموفق

په جنت كښې د ږيرې مسئله

سوال: په جنت كښې به د سړو ږيره وي او كه نه به وي؟

المستفتي: محمد عارف اسماعيليه مردان.... ١٩١٨١١٩٧٧

الجواب: په حديث مرفوع كښې ﴿١﴾ د جرد مرد لفظ راغلې او استثناء پكښې نشته البته بعضې علماء ترنه بعضې پيغمبران مستثنى كړي دي لكه آدم عليه السلام. وهو الموفق.

د كافرانو د نابالغو بچو جنت ته تلل

سوال: د كافرانو د نابالغه بچو انجام به څه وي؟ جنت ته به ځي او كه جهنم ته؟

المستفتي: محمد عارف اسماعيليه مردان.... ١٩١٨١١٩٧٧

الجواب: راجح دا دي چه جنت ته به ځي. ﴿٣﴾ فقط

﴿١﴾ قال العلامه ابن الحجر العسقلاني (و لكل واحد منهم زوجتان) اى من نساء الدنيا. فقد روى احمد من وجه آخر عن ابى هريره مرفوعاً فى صفته ادنى اهل الجنة منزلة وان له من الحور العين لاثنتين و سبعين زوجة سوى ازواجه من الدنيا، وفى سنده شهر بن حوشب وفيه مقال، ولابى يعلى فى حديث الصور الطويل من وجه آخر عن ابى هريرة فى حديث مرفوع. فيدخل الرجل على اثنتين و سبعين زوجة مما ينشئ الله و زوجتين من ولد آدم. واخرجه الترمذى من حديث ابى سعيد رفعه ان ادنى اهل الجنة الذى له ثمانون الف خادم و ثنتان و سبعون زوجة وقال غريب، ومن حديث المقدام بن معديكرب عنده "للشهيد ست خصال" الحديث وفيه و يتزوج ثنتين و سبعين زوجة من الحور العين. وفى حديث ابى امامه عند ابن ماجه والدارمى رفعه "مااحد يدخل الجنة الا زوجه الله ثنتين و سبعين من حور العين و سبعين و ثنتين من اهل الدنيا و سنده ضعيف جداً ......الخ

(فتح البارى شرح صحيح البخارى ص ٦٧ جلد ٨ باب فى صفة الجنة و انها مخلوقة كتاب بدء الخلق)

﴿٢﴾ عن ابى هريرة قال قال رسول الله ﷺ اهل الجنة جرد مرد كحلى لا يفنىٰ شبابهم. الخ وعلى هامش المشكوٰة الجرد جمع اجرد و هو الذى لا شعر على جسده و ضده الاشعر قوله و مرد جمع امرد وهو غلام لا شعر على ذقنه و قد يراد به الحسين بناء على الغالب. (مشكوٰة المصابيح ص ٤٩٨ جلد ٢ باب صفة الجنة و اهلها)

﴿٣﴾ قال ابن عابدين و قد حكى فيهم الامام النووى ثلاثة مذاهب الاكثر انهم فى النار الثانى الوقف الثالث الذى صححه انهم فى الجنة لحديث كل مولود يولد على الفطرة و يميل اليه ما مر عن محمد بن الحسن و فيهم اقوال اخر ضعيفة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ٦٢٩ جلد ١ مطلب فى اطفال المشركين باب الجنائز)

قال الله تعالیٰ

وَخَلَقَ الْجَآنَّ
مِنْ مَّارِجٍ
مِّنْ نَّارٍ ۚ ﴿١٥﴾

(الاية)

باب
ما يتعلق
بالجنات و الشيطين

باب ما یتعلق بالجنات والشیطین

جنات عالم غیب نه دي

سوال: څمونږ په کلي کښې يو هلک باندې د پيريانو اثر دې دا هلک تير شوې راتلو نکو حالات بيانوي. ورک شوې څيزونه هم ښائي هر چا ته د هر سوال جواب هم ورکوي نو دده څه حکم دې؟ چه واقعي پيريان دغيبو په خبرو باندې پوهيږي يا دا څه معامله ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد سليم زکريا (صوابي)......۲۱ نومبر ۱۹۸۴ء

الجواب: پيريان عالم الغيب نه دي. ﴿۱﴾ البته د تيزرفتارئ په وجه باندې زر اطلاع ورکوي او په دوي کښې دروغژن ډير وي لهذا ددوي په خبرو باندې تصديق کول او په هغې يقين کول د شريعت او عقل دواړو نه مخالف دي او حرام دي. لحديث ورد بذالک. ﴿۲﴾

﴿۱﴾ قال ابن عابدين و الذی يدعی ان له صاحباً من الجن يخبره عما سيکون والکل مذموم شرعاً محکوم عليهم و علی مصدقهم با لکفر ...... و فی التتار خانيه يکفر بقوله انا اعلم المسروقات او انا اخبر عن اخبار الجن ايای . انتهی .

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۲۵ جلد ۳ مطلب فی دعوی علم الغيب)

وفی التتارخانيه فان قال هذا لقائل انا اخبر با خبار الجن ايای بذلک قال هو و من صدقه يکون کافراً با لله لقوله عليه السلام من اتی کا هنا فصدقه فيما قال فقد کفر بما انزل الله علی محمد لا يعلم الغيب الا الله لا الجن و الانس يقول الله فی الاخبار عن الجن فلما خر تبينت الجن ان لو کانوا يعلمون الغيب ما لبثوا فی العذاب المهين .

(فتاوی خانيه موضوع علی هامش الهنديه ص ۵۷۶ جلد ۳ باب ما يکون کفرا من المسلم وما لايکون)

﴿۲﴾ عن عائشة رضی الله عنها قالت سمعت رسول الله ﷺ يقول ان الملائکة تنزل فی العنان وهو السحاب فتذ کر الامر قضی فی السماء فتسترق الشياطين السمع فتسمعه فتوحيه الی الکهان فيکذبون معها مائة کذبة من عندانفسهم رواه البخاری .

(مشکواةشريف ص ۳۹۳ جلد ۲ باب الکهانه الفصل الاول)

تعويذونه. کوډې او د پيريانو په انسانانو باندې کيناستل حقيقت دي

سوال: په شريعت کښې د تعويذونو، کوډو وغيره څه حقيقت شته که نه؟ دارنګې د پيريانو په انسان باندې کيناستل يا تکليف ورله ورکول ترکومه حده پورې صحيح دي؟ وضاحت اوکړئ.

المستفتي: خانه ګل دره آدم خيل کوهاټ....۷۱۸۱۱۹۷۲

الجواب: (۱) دا امور حقيقت دي ددې تاثير ثابت دې ﴿۱﴾ او د دفع کولو دپاره معوذتين ﴿۲﴾ او د سورة بقره آخرني دوه ايتونه لوستل ډير مفيد دي. (۲) د قران، حديث او مشاهدې نه ثابت دي چه پيرې په انسان باندې کيناستلې شي. او تکليف ورله ورکولې شي. ﴿۳﴾ فقط.

اوبښ نه فرښته ده او نه شيطان دې

سوال: زيد وائي چه اوبښ فرښته ده په دې سره انسان د ډيرو افتونو نه محفوظ وي ځکه چه اوبښ د اوچې او لوندې کشتئ ده. او عمرو وائي چه اوبښ فرښته نه ده بلکه شيطان دې ده سره نزدې مونځ کول نه دي پکار، په دې دواړو کښې کوم په حقه دې؟

المستفتي: مهربان شاه زکي خيل کوهاټ.....۵ ستمبر ۱۹۷۹ء

الجواب: او بښ نه فرښته ده او نه شيطان دې البته د شرارت د وجې نه ئې په

﴿۱﴾ يدل عليه سورة الفلق، و «من شر النفثت فی العقد . الاية (سورة الفلق)

﴿۲﴾ و عن عقبة بن عامر قال بينا انا اسير مع رسول الله ﷺ بين الجحفة و الابواء اذا غشيتنا ريح و ظلمة شديدة فجعل رسول الله ﷺ يتعوذ با عوذبرب الفلق و اعوذ برب الناس و يقول يا عقبة تعوذ بهما فما تعوذ متعوذ بمثلها رواه ابو داؤد . وعن عبد الله بن خبيب قال خرجنا فی ليلة مطر وظلمة شديدة نطلب رسول الله ﷺ فا درکنا ه فقال قل قلت ما اقول قال قل هو الله احد و المعوذتين حين تصبح و حين تمسی ثلث مرات تکفيک من کل شئی . رواه الترمذی و ابوداؤد و النسائی .

(مشکواة المصابيح ص ۱۸۸ جلد ۱ کتاب فضائل القرآن)

﴿۳﴾ عن ابن مسعود قال قال رسول الله ﷺ ما منکم من احد الا و قد وکل به قرينه من الجن و قرينه من الملائکة الخ . و عن انس قال قال رسول الله ﷺ ان الشيطان يجری من الانسان مجری الدم متفق عليه .

(مشکواة المصابيح ص ۱۸ جلد ۱ باب فی الوسوسة)

حدیثونو کښې د شیطان سره مشابهت ورکړې شوې دې. او د اوښ په خو کښې مونځ کول جائز دي البته د اوښانو د اوسیدلو په ځائې کښې مونځ کولو سره ډیر خطرات دي. اګر چه ګناه نه ده ﴿۱﴾

د شیطاني او لاد او ښځه بچي ثابت دي

سوال: آیا د شیطان اولاد او ښځه هم شته ؟.

المستفتي: فضل رازق متعلم حقانیه اکوړه خټک..... ۱۲ اګست ۱۹۸۴

الجواب: د شیطینو او جناتو د پاره اولاد په نصو صو سره ثابت دي. ﴿۲﴾ او بچي د ښځي نه بغیر متصور او ممکن نه دي. وهو الموفق.

پیرې او شیطان یوه نوع ده او په دوي کښې توالد او تناسل کیږي

سوال: لکه په قرآن کښې دي وما خلقت الجن والانس الا لیعبدون. الآیة. لیکن انسان د خاورې نه او پیریان د هور نه او شیطان هم د هور نه پیدا شوې نو آیا شیطان او پیرې دي یو قسم هور نه پیدا شوي یا جدا جدا قسم نه. دویم دا چه آیا شیطان او پیرې یو بل لیدلې شي؟ او آیا په پیریانو کښې هم مختلف مذهبونه دي؟ او آیا شیطان د شیطان نه پیدا کیږي یا پخپله د هور نه؟ تفصیلي جواب رکړئ..؟

المستفتي: حاجي عبدالودود یارحسین (صوابي)

﴿۱﴾ قوله ولا تصلو افی اعطان الابل .ارید منها المبارک یدل علیه حدیث ابی داؤد قال سئل رسول الله ﷺ عن الصلاة فی مبارک الابل فانها من الشیاطین و الفروق بین الغنم والابل ثلاثة الاول نظافة المرابض وو ساحة المبارک هکذا جرت عادة الناس والثانی استواء المرابض وتسطیحها دون المعاطن والثالث کون الغنم سکینة و الابل نفاراً ......والنهی (عن الصلاة) للارشاد والشفقة عند الجمهور لان الابل خلقت من الشیاطین وهی شرار فلا یأمن المصلی عن ضررها و کذا لا یأمن عن اصابة بولها لان ذکرانها تبول الی الخلف واناثها ترش کثیرا لارتفاعها بخلاف الغنم ......والدلیل علی مشروعیة الصلاة فی مبارکها ان النبی ﷺ اتخذ الابل سترة فی الصلوٰة فافهم .
(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۳۳ جلد ۲ باب ماجاء فی الصلاة فی مرابض الغنم واعطان الابل)

﴿۲﴾ قال القاضی بدرالدین قال الله تعالی افتتخذونه و ذریته اولیاء من دونی وهم لکم عدو وهذا یدل علی انهم یتناکحون لاجل الذریة قال القاضی عبد الجبار الذریة هم الولد والاهل ورقتهم لا تمنع من توالدهم اذا کان ما یلدونه رقیقا کما لا تمنع لطافة اللطیف من الولادة اذا کان مایلده لطیفا الخ
(اکام المرجان ص ۳۳ باب فی بیان ان الجن یتناکحون و یتوالدون)

الجواب: تحقیق دادې چه پیریان یوه نوعه ده او شیطانان صرف دهغوي سرکشه کسانو ته وائي ﴿۱﴾ جنات یو بل ویني خوراک څکاک کوي. او توالد پکښې هم کیږي. ﴿۲﴾ د قران او حدیث نه دا امور ثابت دي.

شیطان د فرښتو استاد جوړول بې اصله خبره ده

سوال: د شیطان د ملعون کیدلو نه مخکښې ژوند باره کښې قسم قسم روایتونه اوریدلې شوې تردې چه بعضې خلق دا هم وائي چه شیطان د فرښتو استاد وو وغیروغیره. نو دشیطان صحیح حالت څه دې؟ چه هغه د لعنت مخکښې څه وُو؟

المستفتي: نامعلوم....... ۱۴۰۱/۱۱/۷/۱۷ هجري.

الجواب: ابلیس د لعنت نه مخکښې ډیر زیات عابد وُ ﴿۳﴾ ده ته د طاؤس الملائکة لقب ملاؤ شوې وُ دې معلم ګرځول بې اصله خبره ده نه د روایات حدیثیه نه ثابت دي او نه د روایات اسرائلیه نه. دا صرف په واعظانو کښې مشهور ده. ﴿۴﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامه قاضی بدرالدین الشیاطین العصاة من الجن و هم ولد ابلیس و المردة اعتاهم و اغواهم و هم اعوان ابلیس ینفذون بین یدیه فی الاغواء کا عوان الشیاطین قال الجوهری کل عات متمرد من الجن و الانس و الدواب شیطان ...... و قال ابو البقاد الشیطان فیعال من شطن یشطن اذا بعد و یقال فیه شاطن و تشیطن و سمی بذالک کل متمرد لبعد غوره فی الشر .
(اکام المرجان فی احکام الجان ص ۷،۸ فصل فی معنی الجن والشیطان لغةً

﴿۲﴾ عن وهب بن منبه یقول و سئل عن الجن ما هم وهل یاکلون و یشربون ویتناکحون فقال هم اجناس فاما خالص الجن فهم ریح لا یاکلون و لا یشربون و لا یتوالدون و منهم اجناس یاکلون و یشربون و یتوالدون و یتناکحون الخ
(اکام المرجان فی احکام الجان ص ۲۹ باب فی بیان ان الجن یاکلون و یشربون)

﴿۳﴾ قال العلامه عماد الدین ابن کثیر کان من اشد هم ای اشد الملائکة اجتهادًا واکثر هم علماً کان من اشراف الملائکة من ذوالاجنحة الاربعة کان من اشرف الملائکة و اکرمهم قبیلة و کان خاز نا علی الجنان کان له سلطان السماء الدنیا و کان له سلطان الارض و کان یسوس ما بین السماء و الارض فعصی فمسخه الله شیطانا رجیما . کان ابلیس رئیس ملائکة سماء الدنیا .
(تفسیر ابن کثیر ص ۷۵ جلد ۱ سجود الملائکة لآدم)

﴿۴﴾ کما قال عبدالحکیم السیالکوٹی فی حاشیة بیضاوی ان هو معلم الملائکة.

د جناتو په بدن کښې دا ځليدل

سوال: د بعضي خلقو خيال دې چه جنات د سړي په بدن کښې دننه داخليدلې شي او د بعضي خلقو خيال دې چه جنات صرف په انسان باندې سُورې کوي نو آيا دا صحيح ده؟

المستفتي: محمد کريم تخت بهائي مردان..... ۲۰ جولائي ۱۹۷۵ھ

الجواب: د ابن حزم په نزد باندې پيرې د انسان په بدن کښې نشي داخليدلې ليکن د جمهور علماؤ په نزد باندې داخليدې شي او هم دا راجح قول دې. ﴿۱﴾ لحديث ان الشيطان يجرى من الانسان مجرى الدم ﴿۲﴾ اى فى عروقه او كجريان الدم .وفى الحديث ان الشيطان جاثم على قلب ابن ادم فاذا ذكر العبد ربه خنس واذاغفل توسوس ﴿۳﴾ كما فى كما لين . وهو الموفق

د جناتو تبليغ کول

سوال: په زيد باندې جنات کيني اودا دعوي کوي چه مونږ مسلمانان يو او ددين تبليغ کوي. نو د جناتو د تبليغ څه حکم دې؟

المستفتي: مولوی حاجي ايوب کلاپور گلگت.....۸ربيع الاول ۱۴۰۵ھ

الجواب: په چا باندې پيريان کيناستل او دهغه په ژبه باندې خبرې اترې کول

﴿۱﴾ قال المحدث قاضى بدرالدين انكر طائفة من المعتزلة كالجبائى و ابى بكر الرازى محمد بن ذكريا الطبيب وغيرهما دخول الجن فى بدن المصروع و احالوا وجودروحين فى جسد مع اقرارهم بوجود الجن اذا لم يكن ظهور هذا فى المنقول عن النبى صلى الله عليه وسلم كظهورهذا و هذاالذى قالوه خطأ وذكر ابو الحسن الاشعرى فى مقالات اهل السنت والجماعة انهم يقولون ان الجن تدخل فى بدن المصروع كما قال الله تعالى الذين يأ كلون الربوٰا لايقومون الا كما يقوم الذى يتخبطه الشيطان من المس ......وعن ابن عباس ان امرأة جاءت بابن لها الى النبى صلى الله عليه وسلم فقالت يا رسول الله ان ابنى به جنون وانه يأخذه عند غدائنا وعشائنا فمسح رسول الله صلى الله عليه وسلم صدره ودعا له فتفتفه فخرج من جوفه مثل الجرو الاسود فسعى الخ (اكام المرجان فى احكام الجان ص ۱۰۷ باب فى بيان دخول الجن فى بدن المصروع)

﴿۲﴾ (مشكواة المصابيح ص ۱۸ جلد ۱ باب فى الوسوسة)

﴿۳﴾ (مشكواة المصابيح ص ۱۹۹ جلد ۱ باب ذكر الله عزوجل)

ممکنات بلکه واقعات دي. خو د دوي نه استفاده کول د خطراتونه خالي نه ده. په انسانانو کښې چه د اشاعتِ دين او تعليم وتعلم څومره سلسله جاري ده په جناتو کښې ددې سلمه حصه هم متوقع نه ده. ﴿۱﴾ وهوالموفق

په ځان د ښاپيرئ کيناستو دعوی کول

سوال: يو سړي دا دعوی اوکړه چه په مابانديې ښاپيرئ ده او دا ماته د غيبو خبرې ښائي. نو په دې غيبو خبرو باندې يقين کول څنګه دي؟

المستفتي: الحاج نيازولي خان شمالي وزيرستان حسن خيل ۲ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: دا کهانت دي په دې يقين کول کفر دي. ﴿۲﴾ وهوالموفق

ياجوج ماجوج کوم مخلوق دي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه ياجوج ماجوج جِني مخلوق دي يا برزخي. ددې وضاحت اوکړئ؟

المستفتي: محمد ابراهيم راولپنډي.....۱۲ ستمبر ۱۹۷۹ء

الجواب: دا قوم نه جني دي او نه برزخي دي بلکه انسي دي د يافث اولاد دي او د فساد دَ وخت د راتلو نه مخکښې ئې تعين کول چه دا يآجوج مآجوج دي بې محله قياس دي. وهوالموفق

په بدن کښې د پيريانو ننوتل او په دمونو سره ئې علاج کول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه جنات په خلقو کينا ستلې شي يا نه؟ او بعضې عاملان حضرات د تعويذونو او د مونو په ذريعې سره ددې علاج هم کوي. آيا دا صحيح ده؟

المستفتي: سيد عنايت الرحمان قندهارو کلي چارسده.... ۱۹۱۲۱ء۱۹۹۱

﴿۱﴾ (والتفصيل فى اكام المرجان فى احكام الجان فى باب بيان وعظ الجن للانس وفى باب بيان تحمل الجن العلم عند الانس وافتوا هم للانس ،ص ۸۱)

﴿۲﴾ قال ابن نجيم وباتيان الكاهن وتصديقيه وبقوله انا اعلم المسروقات وبقوله انا اخبر عن اخبار الجن اياى .(يكفر) (البحر الرائق ص ۱۲۰ جلد۵ احكام المرتدين)

الجواب: د ابو داؤد شریف د حدیث (رواه عن عبدالله بن عمرو) ﴿۱﴾ او د صالحینو د تعامل په بناء باندې تعویذ لیکل جائز دي چه شرکي کلمات پکښې نه وي ﴿۲﴾ البته تمائم، د تعویذونو نه یو جدا څیز دي کما فی شرح ابی داؤد. او د جناتو داخلیدل په قرآن او حدیث سره ثابت دي. ﴿۳﴾ او د هغې د ختمولو دپاره د مونه اچول هم ثابت او مباح دي. فقط.

شیطان ته د باران ورولو اختیار نشته

سوال: دلته څمونږ ځائي کښې یو سړې وائي چه الله تبارک وتعالی شیطان ته د باران ورولو اختیار ورکړې آیا دا صحیح ده؟ او آیا شیطان وریځې ته ختلي او باران ورولې شي؟

المستفتي: نامعلوم...

الجواب: د باران ورولو اختیار صرف الله تعالی سره دې د جال ته به استدراجاً څه اختیار ورکولې شی ﴿۴﴾ اودَ وعظونو په کتابونو کښې لیکلی دی چه شیطانانو د فرعون په زمانه کښې د متیازو باران کړې وؤ. فقط.

﴿۱﴾ (ابو داؤد شریف ص ۱۸۷ جلد ۲ کتاب الطب)

﴿۲﴾ عن عوف بن مالک الاشجعی ......فقال اعرضوا علی رقاکم لابأس بالرقیٰ مالم یکن فیه شرک. رواه مسلم (مشکواة المصابیح ص ۳۸۸ جلد ۲ کتاب الطب والرقیٰ)

﴿۳﴾ قال القاضی بدرالدین الشبلی ان الجن تدخل فی بدن المصروع کما قال الله تعالیٰ الذین یاکلون الربالایقومون الا کما یقوم الذی یتخبطه الشیطان من المس .قال عبد الله احمدبن حنبل قلت لابی......عن ابن عباس ان امرأة جاء ت بابن لها الی النبی ﷺ فقالت یا رسول الله ﷺ ان ابنی به جنون وانه یأخذه عند غدائنا و عشائنا فمسح رسول الله ﷺ صدره ودعاله فتفتفه فخرج من جوفه مثل الجرو الاسود فسعیٰ الخ.
(اکام المرجان ص ۱۰۷ باب دخول الجن فی بدن المصروع)

﴿۴﴾ عن النواس بن سمعان رضی الله عنه .... فیاتی علی القوم فید عوهم فیؤ منون به فیا مر السماء فتمطر والارض فتنبت الخ (مشکواة المصابیح ص ۴۷۳ جلد ۲ باب ذکر الدجال)

کتاب
السیر والمناقب

....

باب ما یتعلق بالنبی صلی الله علیه وسلم

...

قال الله تعالی

وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَالرَّسُوْلَ
فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ
اَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِمْ
مِّنَ النَّبِيّٖنَ
وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ
وَالصّٰلِحِيْنَ ج
وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ط ﴿٦٩﴾

......

كتاب السير والمناقب

باب ما يتعلق بالنبی صلی الله علیه وسلم

د پیغمبر علیه السلام د والدینو په کفر او ایمان کښې توقف غوره دې

سوال: د حضور صلی الله علیه وسلم والدین په څه عقیده بانديې وو. مسلمانان وو یا کافران او د فقه اکبر د عبارت ووالدیه صلی الله علیه وسلم ما تا علي الكفر، به څه جواب کوو. وضاحت اوکړئ؟

المستفتي: حمید الرحمان جامعه محمدیه جرما کوهاټ....۲۵محرم۱۴۰۵ھ

الجواب: په دیکښې روایات مختلف دي بعضو کښې دي چه په کفر بانديې مړه دي او بعضو کښې دي چه د ژوندي کیدلو نه پس ئې اسلام قبول کړو او بیا وفات شول خو غوره پکښې توقف دې ځکه چه دا د دین د ضروریاتو نه نه دي او نه به دَدې په باره کښې په قبر کښې تپوس کیږي او نه په محشر کښې..﴿ ۱ ﴾ وهوالموفق.

د (الصلاة والسلام علیک یا رسول الله) وئیلو څه حکم دې

• **سوال:** په پیغمبر علیه السلام بانديې په دې طریقې سره درود شریف او سلام لوستل (الصلوة والسلام علیک یا رسول الله، جائز دي که نا جائز؟

المستفتي: اصغر علي متعلم دار العلوم حقانیه اکوړ ختک،۱۸اکتوبر ۱۹۸۴ء

﴿۱﴾قال ابن عابدين واحياء الابوين بعد موتهما لا ينافی كون النكاح كان فی زمن الكفر ولا ينافی ايضا ماقاله الامام فی الفقه الاكبر من ان والديه صلی الله علیه وسلم ماتا على الكفر ولا مافی صحيح مسلم استأذنت ربی ان استغفر لامی فلم يأذن لی وما فيه ايضا ان رجلا قال يا رسول الله اين ابی قال فی النار فلما قفا دعاه فقال ان ابی واباک فی النار لا مكان ان يكون الاحياء بعد ذلك لانه كان فی حجة الوداع وكون الايمان عند المعاينة غير نافع فكيف بعد الموت فذاک فی غير الخصوصية التی اكرم الله بها نبيه صلی الله علیه وسلم واما الاستدلال على نجاتهما بانهما ماتا فی زمن الفترة فهو مبنی على اصول الاشاعرة ان من مات ولم تبلغه الدعوىٰ يموت ناجيا اما الماتريدية فان مات قبل مضی مدة يمكنه فيها التامل ولم يعتقد ايمانا ولا كفراً فلا عقاب عليه بخلاف ما اذا اعتقد كفراً اومات بعد المدة غير معتقد شيئا نعم البخاريون ......وبالجمله كما قال بعض المحققين انه لا ينبغی ذكر هذه المسئلة الامع مزيد الادب وليست من المسائل التی يضر جهلها اويسئل عنها فی القبر اوفی الموقف فحفظ اللسان عن التكلم فيها الا بخير اولیٰ واسلم .(ردالمحتار هامش الدر المختار ص۴۱۹ جلد۲ باب نكاح الكافر)

الجواب: درود شریف وئیل بذات خود یو لوئي عبادت دي لیکن دا درود شریف د بریلیانو او بدعیتیانو شعار دي لهذا د صحیح العقیده سړو د پاره تړي نه د بد ګمانئ او تهمت په وخت کښې اجتناب ضروري دي﴿۱﴾ وهوالموفق.

د محمد ﷺ د اولین او آخرین کیدلو مطلب

سوال: علمائي دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائي چه بعضې خلق وائي چه حضور ﷺ اولین او آخرین دي. او بعضې وائي چه اولین نه دي صرف آخرین دي. نو تاسو د صحیح مطلب وضاحت او کړئ مهرباني به وی؟

المستفتي: محمد مسلم هنګو ضلع کوهاټ.

الجواب: د پیغمبر عليه السلام روح مبارک د ټولو روحونو نه اول پیدا شوي دي او بدن مبارک ئې د ټولو انبیاؤ نه وروستو او په آخر کښې پیدا کړې شوي دي نو دا معنی د اولین او آخرین ده﴿۲﴾ دا نه چه لیس قبله شي ولیس بعده شئ. چه د الله تعالی صفت دي. وهوالموفق.

د رسول الله ﷺ د پلار نیکه په ایمان او کفر کښې توقف کول پکار دي

سوال: څمونږ د خاندان څه شیعه ګان خلق وائي چه د پیغمبر عليه السلام نیکه کښې څوک هم کافر نه وو او هغوي د ابراهیم عليه السلام د پلار د کافر کیدلو نه هم انکار کوي او وائي چه آذر ئې تره وو، د مسئلې وضاحت او کړئ؟

المستفتي: محمد اکبر ډیره غازي خان... ۲۷ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: د قرآن نه صفا معلوه د چه آذر د ابراهیم عليه السلام پلار وو او کافر

﴿۱﴾ عن النبی ﷺ اتقوا مواضع التهم. رواه البخاری فی الادب المفرد ،وایضاً وعن عمر من سلک مسالک التهم اتهم رواه الخرائطی فی مکارم الاخلاق ،عن عمر موقوفا بلفظ من اقام نفسه مقام التهم فلا تلومن من اساء الظن به. (الموضوعات الکبریٰ ص۴۹ رقم حدیث ۱۵۱)

﴿۲﴾ عن ابی هریرة قال قالوا یا رسول الله متی وجبت لک النبوة قال وادم بین الروح والجسد رواه الترمذی ،وعن العرباض بن ساریة عن رسول الله ﷺ انه قال انی عند الله مکتوب خاتم النبیین وان آدم لمنجدل فی طینته الخ. (مشکواة المصابیح ص۵۱۳ جلد۲ باب فضائل سید المرسلین)

تیر شوې دي او بعضې مفسرینو لیکلي چه آذر ئې تره دي لیکن په بلا سنده تاریخي روایاتو سره د قرآن تصریح پریخودل نه د علم تقاضا ده او نه د عقل تقاضا ده. او د پیغمبر عليه السلام د والدینو متعلق د کفر او اسلام دواړه قسمه روایتونه نقل دي. القسم الاول ظاهر مروي والاسلام بعد الاحیاء مروي في الطبراني. ﴿۱﴾ لهذا احتیاط دادې چه دهغوي متعلق دې توقف او کړیشي کما صرح به علامه شامي﴿۲﴾ وهوالموفق.

حضور ﷺ بذات خود بشر دي او په اعتبارد هدایت سره نور او راهنما دي

سوال: څمونږ ځائې کښې دوه قسم خلق دي، د یو قسم خلقو دا نظریه ده چه حضور ﷺ بشر دي او د دویم قسم خلقو دا نظریه ده چه حضور ﷺ نور هم دي او بشر هم دي. دا اختلاف ختمولو دپاره وضاحت او کړئ؟

المستفتي: امداد خان سعودي عرب.... ۲۵ نومبر ۱۹۸۴ء

الجواب: الله تعالی په قرآن مجید کښې پیغمبر ته بشر هم وئیلې دي حیث قال قل انما انا بشر مثلکم (کهف) سبحان ربي هل کنت الابشرا رسولا. ﴿۳﴾ او نور ئې هم وئیلې دي حیث قال قد جاء کم من الله نور وکتاب مبین (مائده) ﴿۴﴾ حقیقت دادې چه پیغمبر عليه السلام بذات خود بشر او انسان دي او په اعتبار د هدایت او نبوت سره نور او راهنما دي. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال ابن عابدین الاتریٰ ان نبینا ﷺ قد اکرمه الله تعالیٰ بحیاة ابویه له حتی امنابه کمافی حدیث صححه القرطبی وابن ناصرالدین حافظ الشام وغیرهما فانتفعا بالایمان بعد الموت علی خلاف القاعدة اکراماً لنبیه ﷺ کما احیا قتیل بنی اسرائیل لیخبر بقاتله ......وما قیل ان قوله تعالیٰ ولا تسئل عن اصحاب الجحیم نزل فیهما لم یصح وخبر مسلم ابی وابوک فی النار کان قبل علمه.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۳۱۷ جلد۳ مطلب فی احیاء ابوی النبی ﷺ باب المرتد)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین وبالجمله کما قال بعض المحققین انه لاینبغی ذکرهذه المسئلة الامع مزید الادب ولیست من المسائل التی یضر جهلها اویسئل عنها فی القبر اوفی الموقف فحفظ اللسان عن التکلم فیها الابخیر اولیٰ واسلم. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۴۱۹ جلد۲ باب نکاح الکافر)

﴿۳﴾ قال العلامه آلوسی ،وقرأ ابن کثیر وابن عامر قال سبحان ربی ای قال النبی ﷺ هل کنت الا بشراً رسولاً. کسائر الرسل علیهم السلام وکانوا لا یأتون قومهم الابما یظهره الله تعالیٰ علی ایدیهم حسبما تقتضیه الحکمة من غیر تفویض الیهم فیه ولا تحکم منهم علیه سبحانه و"بشراً" خبر کان و"رسولاً" صفته وهو معتمدالکلام وکونه بشراً توطئة للملک ردا لما انکروه من جواز کون الرسول بشراً ودلالة علی ان الرسل علیهم السلام من قبل کانوا کذلک ولهذا قال الزمخشری هل کنت الا رسولاً کسائر الرسل بشراً مثلهم. (روح المعانی ص۲۴۴ جلد۹ سورة الاسراء ص۹۴)

﴿۴﴾ قال العلامه آلوسی ،قد جاء کم من الله نور ،عظیم وهو نور الانوار والنبی المختار والیٰ هذا ذهب قتاده واختاره الزجاج وقال ابو علی الجبائی عنی بالنور القرآن لکشفه واظهاره طرق الهدی والیقین واقتصر علی ذلک الزمخشری ....وقد جاء کم نور ویهدیهم یرجع الیٰ قوله عز شانه وکتاب مبین کقوله هدی للمتقین انتهیٰ. (تفسیر روح المعانی ص۱۴۳ جلد۴ سورة المائدة آیت :۱۵)

د پيغمبر ﷺ بشريت د قرآن نه ثابت دي

سوال: رسول الله صل الله عليه وسلم نور دي يا بشر ؟ په قرآني ايتونو او حديثونو سره حوالي اوليکئ؟

المستفتي: سراج احمد پير پيائي نوشهره.....۱۹۷۳.۱.۲۱

الجواب: پيغمبر ﷺ نور هم دي او بشر هم دي. په قران کريم کښې په دې باندې تصريح شويده. ﴿۱﴾ البته که يو سړې د پيغمبر ﷺ د بشريت نه انکار کوي نو علامه آلوسي رحمه الله په روح المعاني کښې دهغه د کفر فتوي نقل کړيده. فليراجع الي تفسير قوله تعالى لقد من الله علي المؤمنين. ﴿۲﴾ نوټ: چونکه دا عوامي مسئلې نه دي نو دومره تفصيل باندې اکتفاء اوکړئ. فقط

د پيغمبر ﷺ تاريخ ولادت او تاريخ وفات

سوال: د حضور ﷺ په تاريخ ولادت او تاريخ وفات کښې مختلفې رائې دي عام طورسره د دواړو تعين دولسم ربيع الاول ګڼړلې کيږي. اوحکومت پاکستان هم په دولسم د ربيع الاول باندې يوم ولادت کوي. لهذا صحيح تاريخ ولادت او وفات باندې رڼړا واچوئ؟

المستفتي: مولوي عبدالرحيم جلبئ ضلع صوابي مردان۱۴۰۱.۵.۲۳هجري.

الجواب: د تحقيق نه پس معلوميږي چه تاريخ ولادت باسعادت په اتم ربيع الاول او وفات په ۲ ربيع الاول دي. ﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾قال الله تعالىٰ قد جاء كم من الله نور و كتاب مبين ،(سورة المائده آيت:۱۵ پاره:۵) قال الله تعالىٰ وما منع الناس ان يؤمنوا اذ جآء هم الهدىٰ الا ان قالوا ابعث الله بشرا رسولا. (سورة الاسراء آيت :۹۴ پاره: ۱۵)

﴿۲﴾قال العلامه آلوسى فلو قال شخص اومن برسالة محمد ﷺ الى جميع الخلق لكن لاادرى هل هو من البشر اومن الملائكة اومن الجن اولا ادرى هل هو من العرب او العجم فلا شك فى كفره لتكذيبه القرآن وجحده ماتلقته قرون الاسلام خلفا عن سلف وصار معلوما بالضرورة عند الخاص والعام ولا اعلم فى ذلك خلافا.....فان جحده بعد ذلك حكمناه بكفره انتهىٰ .(تفسير روح المعانى ص ۱۷۸ جلد۳ سورة آل عمران آيت:۱۶۴)

﴿۳﴾ شيخ محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله فرمائي چه سردار دوعالم حضرت محمد مصطفي ﷺ د ربيع الاول په اتم تاريخ د ګل په ورځ مطابق اپريل ۵۷۰ء په مکه مکرمه کښې د صبح صادق په وخت د ابو طالب په کور کښې پيدا شو ، د جمهور محدثينو او مورخينو په نيز غوره او مختاره قول هم دادې (سيرت مصطفي ص ۵۱ جلد اول) تاريخ وفات د مشهور قول په بناء باندې ۱۲ ربيع الاول دې. موسىٰ بن عقبه او ليث بن سعد او خوارزمي اول د ربيع الاول د وفات تاريخ ښودلې دې او کلبي او ابو مخنف دويم د ربيع الاول ښودلې دي علامه سهيلي په روض الانف کښې او علامه ابن حجر عسقلاني په شرح بخاري کښې دا قول غوره ګرځولې دې (سيرت مصطفي محمد ادريس کاندهلوى ص ۱۷۶ ج ۳)

د حضور ﷺ د څادر مقدار او رنګ. وينته مبارک او د لستوڼو او قميص مقدار

سوال: (۱) د حضور ﷺ عام لباس يعني د څادر مقدار او رنګ څه ؤو؟ (۲) د وينتو مقدار ئې څومره وو؟ (۳) د لستوڼو او قميص مقدار هم اوليکئ. ډيره مهرباني به وي؟

المستفتي: شيرعلي خان لکي مروت.....۱۲جون۱۹۷۰

الجواب: (۱) د څادر اوږدوالې څلور شرعي ګزونه وو او پلنوالې دوه نيم شرعي ګزونه وو. يا دوه ګزه او يو لويشت او رنګ ئې شين وؤ. ﴿۱﴾ (زرقاني ص ۲۹ جلد ۵) (۲) د حج نه علاوه به ئې وينته ساتل (الي انصاف اذنيه، الي شحمتي الاذنين، الي المنكبين، الي مافوق المنكبين فى اوقات مختلفة. فليراجع الي الشمائل و غيرها. ﴿ ۲ ﴾ (۳) لستوڼي ئې ډير اوږده او ډير کهلاؤ نه وو، ترمړوندونو پورې اوږده وو. ﴿ ۳ ﴾ او قميص ئې ګيټوتر بره پورې وو او غالب داده چه د پنډو د نيمې پورې وو. ﴿۴﴾ (زرقاني ص۵ جلد۵) وهو الموفق

دَ جمعې مونځ او خطبه. د اذان ابتداء او د پيغمبر ﷺ د والدينو د وفات تاريخ او ځائې

سوال: (۱) رسول الله صله الله عليه وسلم د جمعې اولنئ خطبه په کوم تاريخ او کوم ځائې (جمات) کښې وئيلې وه؟ (۲) د ټولو نه مخکښې د جمعې مونځ کله په کوم جمات کښې شوې وو؟ (۳) د مونځ نه مخکښې د اذان کولو رواج د کوم وخت نه شوې او د ټولو نه مخکښې داذان چا او په کوم جمات کښې کړې وو؟ (۴)

﴿۱﴾عن رمثة قال رأيت النبى ﷺ وعليه بردان اخضران .(شمائل ترمذى ص۶ جلد۲ باب ماجاء فى لباس رسول الله ﷺ)

﴿۲﴾عن انس بن مالك قال كان شعر رسول الله ﷺ الى نصف اذنيه.
عن قتاده قال قلت لانس كيف كان شعر رسول الله ﷺ قال لم يكن بالجعد ولا بالسبط كان يبلغ شعره شحمة اذنيه.
عن عائشة كان له شعر فوق الجمة ودون الوفرة .(شمائل ترمذى ص۴۰۳ جلد۲ باب ما جاء شعر رسول الله ﷺ)

﴿۳﴾عن اسماء بنت يزيد قالت كان كم قميص رسول الله ﷺ الى الرسغ.(شمائل ترمذى ص۵ جلد۲ باب ما جاء فى لباس رسول الله ﷺ)

﴿۴﴾عن ابنى سعيد الخدرى قال سمعت رسول الله ﷺ يقول ازرة المؤمن الى انصاف ساقيه لا جناح عليه فيما بينه وبين الكعبين وما اسفل من ذلك ففى النار الخ،رواه ابوداؤد وابن ماجه. (مشكواة المصابيح ص ۳۷۴ جلد۲ كتاب اللباس)

دپیغمبر علیه السلام د مور مبارک په کوم ځائې کښې دې او وفات ئې په کوم کال شوې؟ (۵) د پیغمبر علیه السلام دپلار مزار په کوم ځائې کښې دې او وفات ئې په کوم کال شوې ؟

المستفتي: مرزا زاهد بیګ سمن آباد لاهور...۱۲مئ ۱۹۷۰ء

الجواب: (۱)،(۲) پیغمبر علیه السلام د جمعې په ورځ باندې د قبا نه مدینې منورې ته تشریف راوړلو، او په دغه ورځ ئې په بنو سالم بن عمر بن عوف کښې د جمعې مونځ او خطبه اولوستله چه ددې نه مخکښې پیغمبر علیه السلام خطبه او جمعه نه وه لوستلې. (البدایه والنهایة ص۲۱۳، ۲۱۲ جلد۳) (۳) په بذل المجهود، او فتح الباري کښې ئې لیکلې دي چه صحیح دادې چه اذان په مدینه منوره کښې په اول کال د هجرت باندې مقرر شو کله چه جمات جوړ شو او لنې اذان حضرت بلال رضي الله عنه د جمات د حدودو نه بهر وئیلې وو. (هکذا في الروایات الحدیثیة) «۱» (۴) د والده صاحبې مزار د مکې او مدینې په مینځ کښې ابواء مقام کښې دې او دهغې وفات د هجرت نه ۴۷ کاله مخکښې شوې وو، (البدایة والنهایة ص ۲۷۹ جلد۲) (۵) د شام نه په واپسئ باندې مدینه منوره کښې وفات شو او په دار النابغه، کښې دفن شولو وفات ئې د هجرت نه ۵۳ کاله مخکښې شوې وو. (البدایة والنهایة ص۲۶۳ جلد۲) وهو الموفق.

د پیغمبر علیه السلام د نیکونو سره (رحمة الله علیه) وئیلو والا امام حکم

سوال: محترم المقام جناب مفتي : صاحب دار العلوم حقانیه اکوړه ختک! عرض دادې چه تیره جمعه باندې به ځمونږ پیش امام صاحب په وعظ کښې د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د نیکه عبد المطلب د نوم سره (رحمة الله علیه) وئیل، اودائې هم وئیل چه د هاشم د پشت نه د تلبیې آواز راتللو، ما امام صاحب د عبد المطلب د نوم سره د (رحمة الله علیه) د وئیلو نه منع کړو او دویمې خبرې باره کښې مې هم متوجه کړو چه دا دواړه خبرې صحیح نه دی،

«۱»عن ابن عمر قال كان المسلمون حين قدموا المدينة يجتمعون فيتحينون للصلوة وليس ينادي بها احد فتكلموا يوما في ذلك فقال بعضهم اتخذوا مثل ناقوس النصارىٰ وقال بعضهم قرنا مثل قرن اليهود فقال عمر اولا تبعثون رجلا ينادي بالصلوة فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم يا بلال قم فناد بالصلوة. متفق عليه (مشكواة المصابيح ص ۶۴ جلد ۱ باب الاذان الفصل الثالث)

لیکن ددوی وینا ده چه دا خبرې د تاریخ په کتابونو کښې لیکلې شوې دي او صحیح دي. نودې سلسله کښې ما حضرت مولانا محمد یوسف بنوري صاحب، مفتي محمد شفیع صاحب کورنګي او مولانا احتشام الحق صاحب تهانوي ته رجوع اوکړه، په هغوي کښې د مولانا محمد یوسف بنوري نیوټاون جواب ملاؤشو هغوی دواړو ته غلط وئیلي دي، ما هغه فتوي امام صاحب ته اوښودله لیکن امام صاحب اونه منله نو په دې صورت کښې که واقعي دواړه خبرې غلطې وي نو دې امام پسې اقتداء کول څنګه دي؟ او ددې خبرو بڼه څه کیږي؟

المستفتي: غلام حسین ګل احمد ټیکسټائل ملز

لانډهي کراچي نمبر۲۲ _ ۵ ذي الحجه ۱۳۷۹ھ

الجواب: د صحیح مسلم وغیره په روایتونو کښې په صراحت سره راغلې چه پیغمبر علیه السلام ابو طالب اسلام ته راوبللو نو هغه اووئیل، هو علي ملة عبد المطلب، او پیغمبر علیه السلام دهغه تردید اونه کړه، نو ددې نه معلومه شوه چه عبد المطلب په اسلام باندې نه دې تیر شوې، لیکن په بعضې ضعیف اقوالو کښې راغلې چه دَپیغمبر علیه السلام ټول پلار نیکونو په توحید باندې تیر شوې دي. او دیته ابو حیان مردود وئیلې دي. (فلیراجع الي فتح الملهم ص ۳۷۳ جلد۱) لهذا د عبد المطلب حکم به د نورو مړو پشان وي کوم چه د فترت په زمانه کښې مړه شوې دي. یعنې دهغوي جهنمي کیدل یا په میدان محشر کښې ترنه امتحان اخستل، نو دهغه سره رحمة الله علیه وئیل نه دي پکار، او که څوک ئې وائي هم نو د ضعیف قول په وجه باندې سخت انکار نه دي کول پکار، او که نور عقائد ئې صحیح وي نو اقتداء ورپسې کول صحیح دی. وهو الموفق

د پیغمبر علیه السلام نیکونو سره (رحمة الله علیه) وئیل

سوال: بعضې خلق د پیغمبر علیه اسلام بعضې نیکونو سره مثلاً عبد المطلب او الیاس سره رحمة الله علیه وائي. او د سیره الجلیه مدارج النبوة للشیخ عبد الحق) او هامش سیرة الجلیة حواله ورکوي چه سید احمد الزیني کړې. او وائي چه مونږ له په دې زمانه کښې په داسې حوالو باندې عمل کول پکار دي. نو آیا د حضور صلی الله علیه وسلم د نیکونو سره (رحمة الله علیه) وئیل جائز دي؟ بینوا توجروا.

المستفتي: ګوهر حسین سپروائزر ګل احمد ټیکسټائل ملز لانډهي کراچي نمبر ۲۲ یکم ذي الحجه ۱۹۷۹

الجواب: بعضې مفسرینو لیکلي دي چه د پیغمبر علیه السلام ټول پلار نیکونه په اسلام تیر شوي دي.

قال فی فتح الملهم ص ۳۷۳ جلد ۱ قیل ان آباءه صلی الله علیه وسلم کلهم موحدون لقوله تعالیٰ وتقلبک فی الساجدین لاکن رده ابوحیان فی تفسیره بانه قول الرافضة ومعنی الاٰیة وترددک فی تصفح احوال المجتهدین فافهم.

لیکن تحقیق دادې چه د پیغمبر علیه السلام د والدینو متعلق متعارض نصوص راغلي دي لهذا دهغوي په حق کښې توقف بهتر دې او د عبدالمطلب متعلق خو په حدیث کښې دومره راغلي دي چه کله پیغمبر علیه السلام ابوطالب باندې اسلام پیش کړو نو هغه اووئیل، هو علي ملة عبدالمطلب، او پیغمبر علیه السلام ئې تر دید او نکړو. نو ددې نه عدم اسلام معلومیږي. او د باقي نیکونو حکم هغه دې کوم چه د فترت په زمانه کښې د نورو مړو دې یعني د یو قول په بناء باندې جهنمیان دي او دویم قول دادې چه د محشر په میدان کښې به ترینه امتحان واخستلې شي. (فلیراجع الي فتح الملهم (۳۷۲، ۳۷۳ ج۱) نو که څوک ورسره رحمه الله اووائي نو سخت انکار پرې نه دې پکار ځکه چه د مرجوح قول په بناء باندې دا مؤحدین دي. او په امتحان کښې د کامیاب کیدلو د احتمال په وجه باندې او د جهنمي کیدلو والا قول د نه صحیح کیدلو په وجه باندې هم گنجائش شته دې. فقط.

د عیسیٰ علیه السلام نزول د محمد صلی الله علیه وسلم د ختم نبوت سره منافي نه دې

سوال: د لته څمونږ ځائې کښې ډیر علمائې کرام شته لیکن په یوه اهمه مسئله کښې مې خیال ستاسو انتخاب اوکړو! ستاسو خدمت کښې مسئله پیش کووم. مسئله داده چه خبیث او شیطان څه په تذبذب کښې اچولې یم او دماغ ئې راله خراب کړي دي اگر چه زه ئې قائله نه یم لیکن صرف پریشان نه کړې ئې یمه مسئله دا ده چه عیسیٰ علیه السلام خو ژوندې دې الله پاک آسمان ته خیژولې دې نو د قران کریم په حوالې سره اوښایئ چه واپس راشي نو بحیثیت د پیغمبر به راځي یعني وحي به ورته کیږي یا نه؟ که وحي ورته کیږي نو بیا خو پیغمبر شو نو نعوذبالله محمد صلی الله علیه وسلم به څنگه خاتم النبین شي. او که د امتي په حیثیت سره راځي نو آیا الله تعالی به ترینه پیغمبري اخلي؟ نو آیا داسې چرته بل نبي سره هم شوې دي چه پیغمبرې ئې ترنه واپس اخستې وي، ددې مسائلو حل د قرآن او حدیث په حوالې سره راولیږئ؟

المستفتي: عبدالعزیز مروت ډسترکټ انسپکټر مدارس بنوں ۱۹۷۹ء۱۱۱۱۱۲۹

الجواب: (الف) په قرآن مجید کښې د حضرت عیسیٰ علیه السلام نزول طرفته په ایت، وان من اهل الکتاب الا لیؤمنن به قبل موته.(۱) او یکلم الناس في المهد وکهلا(۲) الاٰیة کښې اشاره کړې شوې ده او په احادیث متواتره کښې ددهٔ نزول په صراحت سره ذکر شوې دې دمثال په طور سره یو روایت لیکلې کیږي.

عن ابي هريرة رضی الله عنه والذی نفسی بیده لیوشکن ان ینزل فیکم ابن مریم حکماً وعدلا. الحدیث رواه الشیخان وابوداؤد وابن ماجه واحمد فی مسنده وفی روایة البیهقی من السماء وفی روایة احمد ینزل الروحاء فیحج منها او یعتمر اویجمعهما وبمعناه اخرجه الحاکم وزاد یقول ابوهریره ای بنی اخی ان رأیتموه فقولوا ابوهریرة یقرءک السلام. وفی روایة نعیم بن حماد یتزوج. ﴿۳﴾

نوټ: که ټول روایتونه بالا ستیعاب معلوممول غواړې نو د حضرت شاه انور شاه کشمیری رحمه الله کتاب. (التصریح بما تواتر في نزول المسیح) مطالعه اوکړئ.

(ب) د صحیح حدیثنو نه ثابت دي چه هغه ته به وحي کولې شي(۴) نبوت یو وهبي نعمت دې چه د الله تعالی په انتخاب سره ورکولې کیږي لهذا د نبي نه نبوت چرته هم نه اخستلې کیږي او د حضرت عیسی علیه السلام نبوت د حضور اکرم علیه السلام د ختم نبوت سره منافي نه دې، ځکه چه د خاتم النبیین مطلب دادې چه د هغه نه پس به چاته د نبوت منصب نه ورکولې کیږي او حضرت عیسی علیه السلام ته خو نبوت د پیغمبر علیه السلام نه مخکښې ورکړې شوې دې. په عالم اجساد کښې د ختم نبوت دا مطلب نه دې چه دده نه پس به نبي نه نازلیږي. بیشکه د حدیثونو نه ثابت دي چه د عیسیٰ علیه السلام به په آخره زمانه کښې نزول کیږي. لهذا د الله تعالی د آخري شریعت پابند به وي(۵) دهغې تجدید او احیاء به کوي،

﴿۱﴾ (پ: ٦ سورة النساء رکوع: ۲ آیت: ۱۵۹)
﴿۲﴾ (پ: ۳ سورة ال عمران رکوع: ۱۳ آیت: ۴۶)
﴿۳﴾ (مشکواة المصابیح ص ۴۷۹ جلد ۲ باب نزول عیسیٰ علیه السلام)
﴿۴﴾ عن النواس بن سمعان قال ذکر رسول الله صلی الله علیه وسلم الدجال .... اذا اوحی الله الی عیسیٰ انی قد اخرجت عبادالی لایدان لاحد بقتالهم فحرز عبادی الی الصور الخ
(مشکواة المصابیح ص ۴۷۳ جلد ۲ باب العلامات بین یدی الساعة)
﴿۵﴾ عن جابر ان عمر بن الخطاب رضی الله عنه .... فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم والذی نفس محمد بیده لو بدالکم موسیٰ فاتبعتموه وترکتمونی لضللتم عن سواء السبیل ولوکان حیا وادرک نبوتی لا تبعنی رواه الدارمی. (مشکواة المصابیح ص ۳۲ جلد ۱ باب الاعتصام بالکتاب والسنة)

ددې مثال داسې دې لکه چه د يوې ضلع ډپټئ کمشنر بلې ضلعې ته په سر کاري کار باندې لاړ شي نو اګر چه دا ډپټي کمشنر د خپلې عهدې نه معزول شوې نه دې ليکن د سرکاري کار نه علاوه بهٔ د دويم ډپټي کمشنر د نافذ شوې احکاماتو پابند وي. فقط.

د رسول الله ﷺ په نبوت باندې عقلي دليلونه

سوال: محترم صاحب قدر حضرت مفتي صاحب! عرض دادې چه ځما نه يو انګريز دامريکې نه د پيغمبر علیه السلام په نبوت باندې عقلي دليلونه طلب کړي دي. نو که تاسو ماته يو خوږ عقلي دليلونه راوليږئ نو ډيره مهرباني به وي؟

المستفتي: محمد زيب خان پائمال بټګرام هزاره.....۱۹۶۹ء/۸۱۵۱

الجواب: (۱) پيغمبر علیه السلام د نبوت دعوی کړيوه او ددعوې د اثبات دپاره ئې معجزات ظاهر کړي وو، نو ددې دليل او برهان قائمولو نه پس به د څه شبهې ګنجائش نه وي ځکه د دروغژن مدعي نبوت په لاس باندې معجزات او خوارق نه شي ظاهريدلې. (۲) د پيغمبر علیه السلام د نبوت پيشنګويانې په مخکينو کتابونو کښې کړې شوې وي. (۳) پيغمبر علیه السلام چه د بعضې تير شوو او راتلونکو کارونو باره کښې خبر ورکړې دې هغه بالکل صحيح ظاهر شوې دي. (۴) پيغمبر عليه السلام چه د عقائدو، معاملاتو او اخلاقو متعلق کوم تعليم ورکړې هغه هر وخت مفيد او کامياب ثابت شوې دې. (۵) د نبوت ددعوې نه مخکښې دده په صدق او امانت کښې د هيچا شک نه وو او نه ئې د مخکښې نه دحکومت والو سره تعلقات قائم کړي وو. او نه ئې د عوامو سره څه رابطه قائمه کړې وه بلکه ناڅاپه ئې د ټول قوم او ماحول د جذباتو نه مخالف کارونو طرفته دعوت ورکړو چه په هغې کښې نه ده مال اُميد وو او نه د عزت بلکه د مرګ او تکليفونو سخت ترينه خطره وه نو عام عادت کښې د دروغژن او اهل دنيا نه داسې کارونه کيدل ممتنع دي بلکه دا د رښتوني او اهل الله علامت دې. (۶) د امريکې اهل کتاب چه په کوم دليل سره د حضرت موسٰی علیه السلام او حضرت عيسی علیه السلام نبوت ثابتوي مونږ بعينها دهغې دليلونو نه د خاتم النبيين (علیه السلام) نبوت ثابتوؤ. (۷) د هغه سره د صحبت والا خلقو کمالِ اخلاق او اخلاص او للهيت دده د کمال دليل دې. چه دا خبره په مخلوق کښې مَنلې شوې ده. او هغه

د چا شاګرد نه وو. نو معلومه شوه چه دې د الله تعالی لوئې پيغمبر دې. اودده استاذ الله تعالی دې. (۸) دده په تعليم سره يو ځنګلې قوم مهذب، اخلاقو والا او راهنما جوړ شو. (۹) د دروغژن کس داسې کاميابه نتيجه وتل عام عادت کښې ممکن نه دي. (۱۰) دومره کامل اخلاص، للهيت او شفقت چه بغير د ذاتي اغراضونه وي دا د پيغمبر علیه السلام خاصه نښه ده. وهو الموفق.

د نبي علیه السلام فضلات پاک دي

سوال: محترم جناب حضرت مفتي محمد فريد صاحب بارک الله في عمرک! دارالعلوم کراچي نه مولوي محمد عاشق الهي صاحب رحمه الله خط راليږلې چه نبي علیه السلام د فضلاتو په باره کښې ځمونږ په پوهه کښې تحقيق دادې چه د نبي علیه السلام بول وبراز او هر قسم فضلات د احنافو او شافعيانو په نزد پاک دي. چه کله پاک کيدل او منلې شو نو په څکلو سره ئې هيڅ باک نشته او په صحابه کرامو کښې چه چا د فرطِ محبت نه د فضلاتو نه څه هم څکلې وي په هغې کښې څه قابلِ مواخذه خبره نشته. (بحواله خصائص کبرٰی ص۲۸ء ۷۱ جلد۱ شامي ۲۱۲) ليکن ځما تسلي نه کيږي، ځکه چه د يو څيز طهارت اصل دې او که نجاست اصل دې؟ او احناف او شافعيه په طهارت باندې متفق دي، بيا ليکي چه د فرطِ محبت نه ئې او څکل، نو ددې نه خو اصل نجاست ثابت شو چه په بول وبراز کښې اصل نجاست دې، ټولو مومنانو ته حکم دې چه بول وبراز پليت دي او ددې په وتلو سره اودس هم ماتيږي. او حضور ﷺ به د بول و براز نه پس اودس کولو، د حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت چه ما د پيغمبر علیه السلام د جامونه منی وينځله (بخاري) نو معلومه شوه چه د نجاست په وتلو سره اودس ماتيږي نو که بول او براز پليت نه وي نو اودس څنګه مات شو. ځکه چه ما يکون حدثاً يکون نجساً ومايکون نجساً يکون حدثاً. اصل غرض دادې چه ما کوم عبارت د شيم الحبيب، نه د روي انه اذا تغوط، نه شروع کړې تر آخره پورې مې ليکلې دې چه د علم په رڼا کښې اصل مسئله واضحه شي. چه په هغې کښې د چا ذاتي فعل يا فرط محبت يا د بې اختيارئ خبرې نه وي. مثلاً د پيغمبر علیه السلام د سورې (سايه) په باره کښې روايات موجود دي

چه د پیغمبر علیه السلام سایه نه وه. لیکن مفتي محمد شفیع صاحب یوه رساله لیکلې په هغې کښې ئې ټول روایات غلط ثابت کړي دي او فرمائیلي ئې دي چه چرته په معتبر روایت کښې دا نشته چه د پیغمبر علیه السلام سایه نه وه. نو که په صحیح او معتبر روایتو نو سره دا لیکلي شوې مضمونونه ثابت شي اګر چه د پیغمبر علیه السلام خصوصیت وي نو هم مونږ به ئې اومنو، چه د عیسایانو پشان افراط او یهودیانو پشان تفریط لازم نه شي. فقط والسلام.

المستفتي: محمد جلال الحق اباذئ

الجواب: محترم المقام دامت برکاتکم. د السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته؛ نه پس دي دا خبرا واضحه وي چه ستاسو ټول مسائل علمي او د تفصیل طلب دي، او دې ورځو کښې د تدریس نه فراغت ملاویدل مشکل دي. نو په مختصر طریقې سره د اولنۍ مسئلې متعلق څه لیکم. هغه دا چه فقهائې کرامو د پیغمبر علیه السالم فضلات پاک منلي دي.

بما ورد فی الحدیث الصحیح انه علیه السلام کان طیباً (خوشبو وپاک) وظاهره یعم الفضلات ولان النبی ﷺ لم ینکر علی من شرب بوله ودمه والتقریر دلیل المشروعیة ولا بعد فیه علی من تامل فی المسک والحریر والعنبر فانها من الفضلات نعم یرد علیه انه علیه السلام کیف احتاج الی غسل المنی والاستنجاء اللهم الا ان یقال انه علیه الصلاة والسلام کان یجری علیها احکام النجاسة تعلیما للامة ای یجری علی فضلاته احکام فضلات الامة تعلیما لهم لا لاحکامها. او یقال ان ابقاء ها بحیث یراه الراوی مما یخل بالمروة ولذا یغسل المنی عند من قال بطهارته من الامة وهذا مما استفدت من بعض المشائخ قدس سره. وهو الموفق

د رسول الله ﷺ روضه افضل ده او که خانه کعبه؟ او د حضرت جبرائل علیه السلام متشکل کیدل

سوال: علمائې کرام ومفتیانِ عظام په دې مسئله کښې څه فرمائي چه آیا د حضور ﷺ د روضه انور ځائې د بیت الله شریف نه زیات غوره

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین الشامی صحح بعض ائمة الشافعیة طهارة بوله ﷺ و سائر فضلاته و به قال ابو حنیفة کما نقله فی المواهب اللدنیه عن شرح البخاری للعینی و صرح به البیری فی شرح الاشباه و قال الحافظ ابن حجر تظافرت الادلة علی ذلک و عد الائمة ذلک من خصائصه ﷺ و نقل بعضهم عن شرح المشکاة لملا علی قاری انه قال اختاره کثیر من اصحابنا و اطال فی تحقیقه فی شرحه علی الشمائل فی باب ما جاء فی تعطره علیه الصلاة والسلام. (رد المحتار ص ۲۳۳ جلد ۱ مطلب فی طهارة بوله ﷺ باب الانجاس)

دي؟ او آیا حضرت جبرائیل علیه السلام پیغمبر علیه السلام ته د وحي راوړلو په وخت کښې چرته د عائشه رضی الله عنها په شکل کښې هم راغلي دي که نه؟

المستفتي: ګل شیر خان حقاني جمرود خیبر ایجنسي.... ۲۳۱۳۱۱۹۸۸

الجواب: (۱) ابن تیمیه وغیره علمائې کرام فرمائي چه اول الذکر غوره دي والمسجود هوالله دون الکعبه والتوجه الیها لا یقتضي الافضلیة فافهم. ﴿۱﴾ ﴿۲﴾ معاذ الله. وهو الموفق

حضور ﷺ د قضائې حاجت په وخت کښې لیدلې کیدل

سوال: ځمونږ ځائې کښې یو مولوي صاحب دي هغه وائي چه حضور ﷺ د قضائې حاجت په وخت کښې چا نه دې لیدلې، دا خبره ترکومه حده پورې صحیح ده؟

المستفتي: اهالیان جامع مسجد شیرینګل دیر.... ۱۹۷۵ء۹۱۱۱۱

الجواب: دا خبره د حضرت عبدالله بن عمر (هما) د حدیث نه مخالف ده چه هغه یوه ورځ په کوټه باندې اوختلو نو پیغمبر علیه السلام ئې اولیدلو چه قضائې حاجت ته تشریف فرما وو ﴿۲﴾ والحدیث مشهور. وهو الموفق

د حضور ﷺ غسل او جنازه او په تفسیربیضاوي کښې د غایه مطلب

سوال: (۱) رسول کریم علیه السلام ته د وفات نه پس چا غسل ورکړې وو؟ (۲) د جنازې مونځ پرې چا کړې وو؟ (۳) د تفسیر بیضاوي په عبارت کښې ئې (غایةً) لیکلې ددې څه مقدار دي؟

المستفتي: محمود الظفر مردان..... ۱۴ذي القعد۱۳۹۷

الجواب: حافظ ابن کثیر په البدایه والنهایة صفحه ۲۶۰ جلد پنځم کښې د امام

﴿۱﴾ یدل علیه حدیث ابن عمر انه نظر یوما الی الکعبة فقال ما اعظمک وما اعظم حرمتک والمومن اعظم حرمة عند الله تعالیٰ منک اخرجه الترملی وحسنه صفحه ۲۴ ج ۲ ورواه ابن ماجه مرفوعا عن ابن عمر ولفظه قال رایت رسول الله صلی الله وسلم یطوف بالکعبة ویقول ما اطیبک واطیب ریحک واعظم حرمتک والذی نفس محمد بیده لحرمة المومن اعظم عند الله حرمة منک الخ صفحه ۲۹۰ (بوادر النوادر ص ۵۴)

﴿۲﴾ عن ابن عمر قال رقیت یوما علی بیت حفصة فرایت النبی ﷺ علی حاجته مستقبل الشام مستدبر الکعبة هذا حدیث حسن صحیح. (ترمذی ص ۳ جلد ۱ ابواب الطهارة باب ماجاء من الرخصة فی ذلک)

احمد بن حنبل رحمه الله نه روایت کړې دا چه غسل حضرت علي رضي الله عنه ورکولو. اړولو به حضرت عباس رضي الله عنه او اسامه صالح رضي الله عنه به اوبه اچولې. ﴿۱﴾ (۲) ابن کثیر ص ۲۲۵ جلد پنځم لیکلي دي چه د پیغمبر عليه السلام جنازه ځان ځان له کړې شوې وه. ﴿۲﴾ (۳) د غایةً معیار د تسلط غیبي عقیده ساتل دي. وهو الموفق

روضهٔ د رسول عليه السلام د شریعت نه خلاف نه ده

سوال: یو کس وائي چه دَرسول الله ﷺ روضه مبارکه غلطه او د شریعت نه خلاف جوړه شویده ځکه چه په قبرونو باندې آبادی کول منع دې نو دداسې کس د وینا په باره کښې څه حکم دې؟

المستفتي: حاجي میر جمال نقشبندي ختکي شریف. ۷ذي قعده ۱۳۹۵هجري

جواب: لایخفی ان النبی ﷺ نهیٰ عن البناء علی القبور کما رواه مسلم ﴿۳﴾ وغیره وقال ابوبکر الصدیق رضی الله عنه سمعت رسول الله ﷺ قال ما قبض الله نبیا الا فی الموضع الذی یحب ان یدفن فیه ادفنوه فی موضع فراشه رواه الترمذی. ﴿۴﴾ ولا ریب فی ان النبی ﷺ توفی فی البیت والبناء فلا بد ان یکون قبره مخصوصامن سائر القبور ویکون البناء علی قبره المبارک جائزاً ﴿۵﴾ ومن تمسک بالحدیث المحرم ولم ینظر الی الحدیث العارض فهو مسلم نجدی ولا حول ولا قوة الا بالله العلی العظیم .وهو الموفق

﴿۱﴾ عن ابن عباس .... فاسنده علی الی صدره وعلیه قمیصه وکان العباس وفضل وقثم یقلبونه مع علی وکان اسامه بن زید وصالح مولاه هما یصبان الماء وجعل علی یغسله ولم یرمن رسول الله ﷺ شیئا مما یری من المیت الخ. (البدایة والنهایة ص ۳۰۰ جلد۵ صفة غسله علیه السلام)

﴿۲﴾ قال الحافظ عماد الدین ابن کثیر ،وهذا الصنیع وهو صلاتهم علیه فرادیٰ لم یؤمهم احد علیه امر مجمع علیه لا خلاف فیه .(البدایة والنهایة ص ۳۰۵ جلد۵ کیفیة الصلاة علیه ﷺ)

﴿۳﴾ عن جابر قال نهی رسول الله ﷺ ان یجصص القبروان یبنیٰ علیه وان یقعد علیه رواه مسلم. (مشکواة المصابیح ص ۱۴۸ جلد۱ باب دفن المیت)

﴿۴﴾ (شمائل ترمذی ص ۲۸ جلد ۲ باب ماجاء فی وفات رسول الله ﷺ)

﴿۵﴾ زمونږ دپاره دټولونه لوئې دلیل داهم دې چه ددفن نه روستو په خلفائې راشدینو کښې چاهم ددې بناء په بقا باندې نکیرنه دې کړې بلکه په یوموقع باندې داستسقاء دسخت ضرورت په وجه چت کښې صرف یو روشندان کهلاوکړې شوچه ددې نه ددې بناء د بقاء مشروع کیدل هم معلوم شو ،اودا دصحابهٔ په وخت کښې شوی وو ،اوهیڅ یوصحابی انکارنه دې کړې نوددوې په اجازت اجماع اوشوه چه دا داستثناء دپاره حجت کافیه دې.(ازمرتب)

حضور ﷺ نور، بشر او رسول دې

سوال: حضور عليه السلام نور دې یا بشر دې؟ تفصیلي جواب راکړئ.

المستفتي: شوکت علي صاحب مدرسه تعلیم القران مردان ۱۵ ربیع الثاني ۱۴۰هـ

الجواب: رسول الله عليه السلام نورهم دې او بشر هم دې.

لقوله تعالیٰ سبحان ربی هل کنت الا بشراً رسولا، الآیه ﴿۱﴾ (الاسراء) قل انما انا بشر مثلکم یوحی الی ﴿۲﴾ (کهف) .قد جاء کم من الله نور وکتاب مبین. (مائدة) ﴿۳﴾

نو په دې کښې د یو نه انکار کول د ضروریاتِ دین نه انکار کول دي او کفر دي البته ټول بشر یو شان نه دي لکه چه عام کانړی او جواهرات یو شان نه دي. ﴿۴﴾ او رسول الله ﷺ نه خدائې دې او نه فرشته ده بلکه د ټول عالم دپاره یوه رڼړا ده او ټول بدن ئې هم مُنور دې. بهر حال په هر مسلمان باندې ضروري ده چه پیغمبر ﷺ بشر او رسول اومني. د عربو مشرکانو بشر منلو خو رسول ئې نه منلو او د موجوده زمانې ملحدین ئې رسول منی خو بشر ئې نه منی. وهو الموفق

د محمد ﷺ د نوم سره د [ص] یا [ع] نښې لیکلو حکم

سوال: د محمد (صل الله علیه وسلم) د نوم مبارک سره د (ص) یا (ع) نښه لګول څه حکم لري او چه د چا نوم دوست محمد وي نو په هغه محمد باندې ﷺ لیکل ضروري دي که نه؟

المستفتي: فریدون صدیقي خادګزئ دیر...۱۹ ربیع الاول ۱۴۰۲ هجري.

الجواب: د پیغمبر عليه السلام نوم سره علیه الصلوة والسلام او (صل الله علیه وسلم) لیکل پکار دي. صرف په [ص] یا [ع] اکتفاء کول یو جاهلانه رسم دې.او دارنګې دوست محمد د رسولِ خدا نوم نه دې دې سره دا جمله لیکل بې ځایه اقدام دې. وهو الموفق

﴿۱﴾ (پ : ۱۵ سورة بنی اسرائیل رکوع: ۱۰ آیت: ۹۳)

﴿۲﴾ (پ : ۱۶ سورة کهف رکوع: ۳ آیت: ۱۱۰)

﴿۳﴾ (پاره :۶ سورة مائدة رکوع: ۷ آیت: ۱۵)

﴿۴﴾ [محمد بشر لکن لیس کالبشر...... محمد یاقوتة والناس کالحجر]
وقال البوصیری: فمبلغ العلم فیه انه بشر ......وانه خیر خلق الله کلهم

د رسول الله ﷺ ولادت دعام عادت نه خلاف نه وؤ

سوال: علمائي اهلسنت والجماعت څه فرمائي چه د انبياء عليهم الصلوة والسلام او د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم ولادت دعامو انسانانو پشان شوي دي يا د پيغمبر عليه السلام او نور انبيائي كرامو عليهم السلام ولادت د ګسي پوختئ نه لكه د حضرت حواء بي بي شوې دي؟

المستفتي: ضياء الرحمان شيدو نوشهره.... ١٩٧٢ء/٥/٢١

الجواب: واضحه دې وي چه قاعده داده چه د هر يو لفظ نه به معنى متبادره مراد كيږي ترڅو چه د هغې نه مانع موجود نه وي يحتمل النصوص علي ظواهرها مالم يمنع مانع نو كوم كس چه دا دعوي كوي چه د ولادت نه غير متبادر معنى مراده نو هغه لره پكاردي چه د قران، او حديث يا آثارو نه دليل پيش كړي صرف دعوىٰ ناكافي ده. دارنګي كفر د ضروورياتو نه انكارته وئيلې كيږي او دا خبره چه پوښتئ د ضروورياتو نه خو څه كوي د نظرياتو نه هم نه ده. د البدايه والنهايه او سيرت ابن هشام نه داسې واضحه كيږي چه ولادت ئې خلاف عادت نه وو. او ممكنه ده چه داسې وئيل په ادب او احتياط باندې مبنى وى. وما خذه قوله تعالى خلق من ماء دافق يخرج من بين الصلب والترائب. فافهم وتدبر ولاتكن ينبع ممن العجائب والغرائب. فقط

حضور ﷺ خاتم الانبياء دي

سوال: حضور صلى الله عليه وسلم به د كله نه خاتم النبيين تسليم كولې شي آيا د ولادت نه مخكښې هم خاتم الانبياء وو؟ وضاحت او كړئ مهرباني به وي.

المستفتي: مولانا عبدالستار تاؤن شپ... يكم ١/ ذي قعده ١٤٠٢ھ

الجواب: د ختم متعلق ډير اياتونه او حديثونه راغلى دى. (١) او په هغې كښې دتولونه اولني تعين كول مشكل دي لهٰذا مونږ عقيده لرو چه پيغمبر عليه السلام د الله تعالى په علمِ ازل كښې خاتم الانبياء دي او ددې متعلق د اولنئ وحي تاريخ نامعلوم دي. وهو الموفق

(١) قال الله تبارك و تعالى: وما كان محمد ابا احد من رجالكم و لكن رسول الله و خاتم النبين (سورة الاحزاب آيت: ٤٠)
و عن ابى هريرة قال قال رسول الله ﷺ مثلى و مثل الانبياء كمثل قصر احسن بنيانه ترك منه موضع لبنة فطاف به النظار يتعجبون من حسن بنيانه الاموضع تلك اللبنة فكنت انا سددت موضع اللبنة ختم بى البنيان و ختم بى الرسل و فى رواية فانا اللبنة و انا خاتم النبيين . متفق عليه .
(مشكواة المصابيح ص ٥١١ جلد ٢ باب فضائل سيد المرسلين ﷺ)

حضور ﷺ د اولې ورځې نه خاتم النبيين دي

سوال: ختم نبوت به د كوم وخت نه منلې كيږي؟ خاتم النبيين به د پيغمبر عليه السلام دولادت مبارک نه پس منلې كيږي يا د ختم نبوت والا آيت نازليدلو نه پس او يا د پيغمبر عليه السلام دوفات نه پس به منلې كيږي. مطلب دا چه دوحي د دروازې بنديدل به د څه وخت نه منلې كيږي؟

المستفتي: رانا عبدالستار تاؤن شپ لاهور.... ٣رمضان ١٤٠٢ هجري.

الجواب: نبي عليه السلام د اولې ورځې نه خاتم النبيين دي(١) البته د ختم النبوت ظهور هله اوشو چه دهغې متعلق جلي يا خفى وحى نازله شوه. او بهر حال خاتم نبوت كيدل د عيسىٰ عليه السلام د نزول اوهغه ته د وحي كيدلو سره څه ټكراؤ نشته. وهو الموفق

د حضور ﷺ په ختنه كښې اختلاف دي

سوال: دلته يو دوه كسان اختلاف كوي يو كس وائي چه پيغمبر عليه السلام ئې سنت كړي وؤ او بل كس وائي چه قدرتي سنت شوې وو. براه كرم تسلئ والا جواب راوليږئ؟

المستفتي: نورمحمد تالاب مسجد پشاور... ١٢/٧ربيع الثاني ١٤٠٢هجري.

الجواب: دې مسئله كښې اختلاف دې خو غوره قول دادې چه قدرتي سنت كړې شوې نه وؤ پيدا شوې.

كما فى رد المحتار ص٦٥٧ جلد ٥ وقد اختلف الرواة والحفاظ فى ولادة نبينا ﷺ مختونا ولم يصح فيه شئ واطال الذهبى فى رد قول الحاكم انه تواترت به الرواية وقد ثبت عندهم ضعف الحديث به وقال بعض المحققين من الحفاظ الاشبه بالصواب انه لم يولد مختونا. (٢) وهو الموفق

(١) عن العرباض بن سارية عن رسول الله ﷺ انه قال انى عند الله مكتوب خاتم النبيين و ان آدم لمنجدل فى طينة الخ (مشكواة المصابيح ص ٥١٣ باب فضائل سيد المرسلين)
(٢) (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ٥٣٠ جلد٥ مسائل شتى كتاب الخنثىٰ)

په اسم ذات او اسم محمد ﷺ کښې د شونډو د بنديدلو او نه بنديدلو لطيفه

سوال: ځمونږ د جمات امام صاحب يو ځل په تقرير کښې اووئيل، چه د الله د نوم اخستلو وخت کښې شونډې نه بنديږي او د محمد ﷺ په نوم سره شونډې بنديږي. په دې نوم کښې څومره خوږوالي دي. دا جمله وئيل څنګه دي؟

المستفتي: حکيم سيد اختر حسين صدر کيملپور

الجواب: ددې نه مقصد د اسم محمد ﷺ تعظيم دې د الله د نوم تحقير نه دې. لهذا په دې کښې حرج نشته دې.

د حضور ﷺ په زمانه کښې د نفاق موجوديدل

سوال: آيا د حضور ﷺ په زمانه کښې هم نفاق وو؟ د صحابه کرام رضي الله عنهم اجمعين په پاکو هستو باندې به څه اثر خو نه پريوتلو. براه کرم وضاحت او کړئ؟

المستفتي: ظاهر شاه تخت بهائي مردان.... ۲ رجب ۱۴۰۲ هجري.

الجواب: نفاق به ترقيامت پورې وي. البته د منافقانو د درغو په جال کښې د اخلاص والاؤ راګير يدل څه لرې خبره نه ده. کما في حادثة الافک. (۱) وهو الموفق

د (تحذير الناس) او (البراهين القاطعه) په بعضې عبارت باندې د اعتراض جواب

سوال: په تحذير الناس نومې کتاب کښې ئې ليکلي دي. که بالفرض د نبي کريم ﷺ په زمانه چرته بل نبي وې نو هم به دده خاتم، کيدل باقي وو، بل عبارت دا دې که بالفرض د نبوي زماني نه پس بل نبي پيدا شي نو بيا به هم په خاتميت محمدي کښې څه فرق رانشي. کتاب (تحذير الناس) خو د مولانا محمد قاسم رحمة الله عليه ددې الفاظو نه څه مطلب دې؟ هم دارنګې په (براهين قاطمه) کتاب کښې ليکلي شوي دي. چه د ابليس يعني شيطان علم د پيغمبر عليه السلام نه زيات دې. ددې وضاحت او کړئ ځکه چه اکثر بريليان په دې جملو باندې اعتراضونه کوي.

المستفتي: سرور صديقي ۱۹ مقبول آباد کراچي نمبر ۵... ۱۱۵ جولائي ۱۹۸۹ء

(۱) قال الحافظ ابن الكثير (ان الذين جاء وا بالافک عصبة منكم) اى جماعة منكم يعنى ماهو واحد ولا اثنان بل جماعة فكان المقدم فى هذه اللعنة عبد الله بن ابى ابن سلول رأس المنافقين فانه كان يجمعه ويستوشيه حتى دخل ذلک فى اذهان بعض المسلمين فتكلموا به وجوزه اخرون منهم ....حتى نزل القرآن .(تفسير ابن كثير ص ۳۵۶ جلد ۳ سورة نور پاره: ۱۸)

الجواب: (۱) د اهل اسلام دا عقيده ده چه حضور ﷺ ته نبوت ورکولو نه پس به چاته د نبوت منصب نه ورکولي کيږي. نو که په مخ د زمکي باندې په هغه زمانه کښې څوک پيغمبر وو لکه خضر عليه السلام يا د هغې زمانې نه پس څوک پيغمبر راشي لکه حضرت عيسیٰ عليه السلام نو دا به د ختم نبوت سره معارض نه وي، (۲) پيغمبر عليه السلام د ضروري او بې نفع علم نه پناه غوښتې ده (۱) او داسې علم شيطان ته حاصل دې. وهو الموفق

د چا په نوم کښې محمد راتلو سره عليه السلام ليکل

سوال: که د چا نوم محمد امير، محمد نذير يا محمد شريف وي نو د ليکلو په وخت کښې محمد باندې [ص] يا [ع] ليکل پکار دي که نه؟ دا رنګې صرف د (ص) يا (ع) ليکلو په شريعت کښې څه حکم دې؟

المستفتي: مولوي عبد القيوم پشاور کينټ.........۱۹۸۴ء۱۱۱۲۱

الجواب: د محمد سره [ص] يا [ع] ليکل په هر حال کښې مکروه دي. صرح به في مقدمة ابن الصلاح وغيرها. بلکه عليه السلام وغيره ليکل مندوب دي. او کوم ځائې کښې چه د امتي نوم محمد راشي يا په نوم کښې يو جز راشي نو هلته په شرعي حيثيت سره عليه السلام ليکل هم مذموم دي. (۲)

د حضور ﷺ سايه (سورې)

سوال: د حضور ﷺ په سايه (سورې) نه کيدلو کښې صحيح حديث شته که نه؟

المستفتي: محمد ظاهر ميران شاه.....۱۹۷۹ء

الجواب: د سايه سورى متعلق څه صحيح روايت نشته. (۳) او که ثابت شي نو څه نکارت پکښې نشته. وهو الموفق

(۱) عن ابى هريرة قال كان رسول الله ﷺ يقول اللهم انى اعوذبک من الاربع من علم لا ينفع و من قلب لا يخشع الخ رواه احمد و ابو داؤد و ابن ماجه و الترمذى و النسائى . (مشكوٰة المصابيح ص ۲۱۷ جلد ۱ باب الاسعاذة الفصل الثانى)

(۲) قال ابن عابدين (ولا يصلى على غير الانبياء الخ) لان فى الصلاة من التعظيم ماليس فى غيرها من الدعوات الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۳۱ جلد ۵ مسائل شتى كتاب الخنثىٰ)

(۳) په صحاح سته کښې د حضور ﷺ د سورې متعلق هيڅ حديث نه دې.......

[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.....]

....

(بقیه حاشیه د تیر مخ) ..... راغلي. چه د حضور ﷺ سورې به په زمکه باندې نه پریوتلو، البته علامه جلال الدین سیوطي رحمة الله علیه په خصائص کبرٰی کښې یو مرسلاً روایت ذکر کړې دې.

عن ذکوان ان رسول الله ﷺ لم یکن یری له ظل فی شمس و لا قمر و لا اثر قضاء حاجة قال سیوطی قال ابن سبع من خصائصه ان ظله لا یقع علی الارض و انه کان نوراً فکان اذمر فی شمس او قمر لا ینظر له (خصائص الکبرٰی ص ۶۸ جلد ۱)

لیکن دا روایت په څو وجو سره ضعیف دې اول دا چه د احادیثو په ټوله ذخیره کښې ددې هیڅ ثبوت نه ملاویږي، او که د معجزې په طور سره وو نو د صحابهٔ نه به چا روایت کړې دې، لیکن دې باره کښې یو مرسل حدیث دې هغه هم سنداً ضعیف دې. دویمه وجه داده چه د محدثینو یو لوئې جماعت حدیثِ مرسل حجت نه مني، دریمه وجه داده چه ددې حدیث اولنې راوي عبد الرحمان ابن قیس زعفراني ضعیف. مجروح او ناقابل اعتبار دې. بعضې خلقو د وضع حدیث، او بعضې د کذب حدیث طرف ته منسوب کړې (کمافي تهذیب التهذیب ص ۲۳۱ جلد ۲: رقم ۴۱۳۰) او ددې حدیث دویم راوي عبد الملک بن عبد الله بن الولید مجهول الحال دې په عام کتابونو کښې ددې حدیث حال ذکر نه دې. البته د رسول الله ﷺ د سایه متعلق څه داسې حدیثونه شته.

عن انس بن مالک .... ثم رأیت النار فیما بینی و بینکم حتی لقد رأیت ظلی و ظلکم الخ (حاوی الافراح الی بلاد الارواح لابن القیم الجوزی ص ۴۲، ۴۳ جلد ۱) وعن عائشة رضی الله عنها .... قالت فبینما انا یوما بنصف النهار اذا انا بظل رسول الله ﷺ الخ

(مسند احمد ص ۲۳۱، ۲۳۲ فی مسند عائشة) (از مرتب)

...

باب
ما یتعلق
بالانبیاء علیهم السلام

...

قال الله تعالیٰ

وَمَآ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوۡحِىۡۤ اِلَيۡهِمۡ فَسۡـَٔلُوۡۤا اَهۡلَ الذِّكۡرِ اِنۡ كُنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ۙ‏ ﴿٤٣﴾

(الآیة)

...

باب ما یتعلق بالانبیاء علیهم السلام

عصمتِ انبیاء اود(ذوالکفل) په باره کښې د صاحب بحر د عبارت تشریح

سوال: (١) علمائې دین څه فرمائي په دې مسئله کښې چه علامه ابن نجیم په بحر الرائق باب احکام المرتدین صفحه ١٢٠ جلد پنځم کښې دا عبارت راوړې دې.(وبقوله لم تعص الانبیاء علیهم السلام حال النبوة و قبلها لرده النصوص) او دویم عبارت دې.(ولا بانکاره نبوة الخضر وذي الکفل علیهما السلام لعدم الاجماع علي نبوتهما) دا جملې په چا عطف دي او ددې مفهوم څه دې ؟آیا دا عقیده صحیح نه ده چه انبیاء علیهم السلام په دورانِ نبوت او مخکښې د نبوت نه د معصیت نه معصوم دي؟ (٢) د علامه ابن نجیم په حنفي فقهاؤ کښې څه درجه او مقام دې؟ (٣) آیا ذوالکفل علیه السلام نبي نه وو په قران کښې چه په کوم انداز دهغې تذکره شوې ده دغې نه خو صفا معلومیږي چه نبي وو.نو ددې عبارتونو څه مطلب دې؟

المستفتي:شمس الرحمان.. K ٧٨- اټک شهر... ٧ رمضان المبارك ١٤٠٣ھ

الجواب: (١) وبقوله لم تعص الانبیاء علیهم السلام الخ معطوف دې. ونسبة الي لفواحش چه نزدې دې او یا دا معطوف دې په معطوف علیه معنوي باندې په دې کلام کښې ویکفر ان اعتقد ان الله تعالیٰ یرضي بالکفر اي ویکفر باعتقاده ان الله یرضي بالکفر چه بعید دې.او د صاحب بحر دا کلام واضح المراد دې ځکه چه په نصوصو کښې ددوي نه د عصیان صادریدل په نظم القرآن کښې مذکور دي. او په عربي لغت کښې عصیان کلي مُشکک دې. خطاء في الاجتهاد او د ترک اولی ته هم وئیلې کیږي. البته ددینه به ګناه صغیره یا کبیره نه مراد کیږي.(١) لکه چه داهل السنت والجماعت غوره قول دې.(٢) دا امام ابو حنیفه ثانی دې.

---

(١) قال العلامه محی الدین محمدبن بهاء الدین قوله والانبیاء صلوات الله علیهم اجمعین کلهم منزهون عن الصغائر والکبائر والکفر والفواحش وقد کانت منهم زلات وخطیئا ،ای صغائر صدرت عنهم سهوا وغفلة فان الکبائر لا تصدر عنهم ولو سهواً عند البعض واما عدم صدورها عمداً بعد البعثة فممتنع عندنا شرعا وعندالمعتزلة عقلاً.الخ (القول الفصل شرح فقه الاکبر ص ٢٧٣ الانبیاء ننزهون عن الصغائر)

(٣) د سورت ص ايت دده په نبي كيدلو كښې ظاهر دې صريح نه دې په قران كښې ده ته نه رسول وئيلې شوې او نه نبي اونه ئې په ارسلنا وغيره الفاظو سره تذكره شوې ده.

د حضرت خضر عليه السلام د نبوت او ژوندي كيدلو تحقيق

سوال: آيا حضرت حضر عليه السلام ژوندې دې يا وفات شوې دې او آيا دې پيغمبر وو يا نه؟ جواب راكړئ.

المستفتي: مولوي مغل خان پرائمري سُكول على بيګ
نوشهره تاروجبه_ ١١رمضان المبارك ١٤٠٣هـ

الجواب: حضرت خضر عليه السلام د جمهور علماؤ په نزد ژوندي دې او د محققينو په نزد پيغمبر دې زيات تفصيل په هداية القاري، كتاب العلم كښې اوګورئ. ﴿٢﴾

د موسىٰ عليه السلام په قبر كښې مونځ كول. د مړو ژوندو ته ليدل او د قبرنه د سورة ملك آواز راتلل وغيره

سوال: (١) د معراج په شپه چه كله حضور ﷺ تشريف يوړلو نو موسىٰ عليه السلام ئې په قبر كښې اوليدلو مونځ ئې كولو آيا دا صحيح ده؟ (٢) چه څوك زيارت القبور اوكړي نو قبرونو والائې ويني. آيا دا صحيح ده؟ (٣) د حضور ﷺ په زمانه كښې بعضې صحابه كرامو په ناپوهئ كښې په قبر باندې خيمه اُودروله نو دهغې قبر نه د سورة ملك آواز راتللو بيا پيغمبر عليه السلام ته حضرت عبدالله بن عباس دا واقعه بيان كره، آيا دا صحيح ده؟ (٤) آيا په قبر كښې ايماندار سړي ژوندي وي او تلاوت كوي؟

المستفتي: لقمان صاحب مصري بانډه

﴿١﴾ قال العلامه الوسى وذا الكفل اى واذكرهم و ظاهر نظم ذى الكفل فى سلك الانبياء عليهم السلام انه منهم و هو الذى ذهب اليه الاكثر ......وقال ابو موسىٰ الاشعرى و مجاهد لم يكن نبياً و كان عبداً صالحاً استخلفه الخ (تفسير روح المعانى ص ١٢١ جلد ١٠ پاره: ١٧ سورة الانبياء آيت: ٨٥)

﴿٢﴾ واختلف فى نبوته قال الثعلبى وابن الجوزى انه نبى وهو الراجح المتبادر من قوله تعالىٰ اٰتيناه رحمة من عندنا وعلمناه من لدنا علما من قوله تعالىٰ وما فعلته من امرى ومن اقدامه على قتل نفس ذكية وقيل انه ولى ويرد عليهم ان القتل محرم قطعى لا يجوز الاقدام عليه لامر ظنى وهو الهام الولى اللهم الا ان يقال ان نبيا من الانبياء قال له ان الهامك يكون حقا من الله تعالىٰ واختلف فى حياته قال بعض المحققين بوفاته لحديث ارء يتكم ليلتكم هذه فان رأس مأة سنة لا يبقىٰ من هو اليوم على الارض احد وقال الجمهور بحياته وهو الراجح لما ورد انه الرجل الذى يقتله الدجال ثم يحييه وهو المروى عن معمر وعن ابراهيم بن سفيان راوى كتاب مسلم ولاثر عمر بن عبد العزيز انه خرج من المسجد و مشى مع رجل يتكلم معه فلم يعرفه الناس فسئلوه عنه فقال انه كان خضراً عليه السلام رواه فى الاصابة باسناد جيد (هداية القارى على صحيح البخارى ص ١٧٧ جلد ١ كتاب العلم باب ما ذكر فى ذهاب موسىٰ فى البحر)

الجواب: (١) دا حديث صحيح دې. رواه مسلم وغيره ﴿١﴾ (٢) دا حديث ثابت دې﴿٢﴾ ذكره ابن كثير وابن تيميه والسيوطي في فتاواه. (٣) دا حديث ثابت دې(مشكوة ﴿٣﴾ (٤) هامش كوكب دري كښې ددې متعلق تفصيل اوګورئ. وهو الموفق.

موسىٰ عليه السلام د عزرائيل عليه السلام جسم مثالى ته پړق وركړې وُو

سوال: حضرت موسىٰ عليه السلام چه كله حضرت عزرائيل له پړق وركړې وو نو دا څنګه كيديشي ځكه چه فرشته خو (جسم نورانى يتشكل باشكال مختلفة) يعني د هوا پشان لطيف جسم دې. وضاحت اوكړئ؟

المستفتي: محمد يوسف خزانه آباد.... ٥ جولائي ١٩٧٩ء

الجواب: دا پړق جسم مثالي له وركړې شوې وو جسم اصلي له نه وو، او نقصان هم د جسم مثالي په سترګه كښې راغلې وو په جسم اصلي كښې نه وو راغلې. ﴿٤﴾ فرشتې په دويم ځل باندې دحضرت موسىٰ عليه السلام په اجازت سره روح واخستلو. ﴿٥﴾

﴿١﴾ عن ابى هريرة قال قال رسول الله ﷺ لقد رايتنى فى الحجر و قريش تسألنى عن مسراى فسالتنى .... وقد رايتنى فى جماعة من الانبياء فاذا موسىٰ قائم يصلى الخ رواه مسلم (مشكواة المصابيح ص ٥٢٩ جلد ٢ باب فى المعراج)

﴿٢﴾ قال ابن عبد البر ثبت عن النبى ﷺ قال مامن مسلم يمر على قبر اخيه كان يعرفه فى الدنيا فيسلم عليه الا رد الله عليه روحه حتى يرد عليه السلام (فهذا نص فى انه يعرفه بعينه ويرد عليه السلام) ذكره السيوطى فى الحاوى للفتاوىٰ (ص ٣٠٢ جلد ٢) وذكره الزبيدى فى اتحاف السادة المتقين. (ص ٣٦٥ جلد ١٠) وذكره ابن عساكر فى تهذيب تاريخ دمشق (ص ٢٩٢ جلد ٧) وذكره الهندى فى كنز العمال (الحديث ٤٢٦٠٢ / ٤٢٦٠١) (كتاب الروح ص ١١ لابن القيم)

﴿٣﴾ عن ابن عباس رضى الله عنه قال ضرب بعض اصحاب النبى ﷺ خباءه على قبر وهو لا يحسب انه قبر فاذا فيه انسان يقرأ سورة تبارك الذى بيده الملك حتىٰ ختمها فاتى النبى ﷺ فاخبره فقال النبى ﷺ هى المانعة هى المنجية تنجية من عذاب الله. رواه الترمذى وقال هذا حديث غريب. (مشكواة المصابيح ص ١٨٧ جلد ١ كتاب فضائل القرآن)

﴿٤﴾ وفى هامش المشكواة قوله ففقأ ها قد انكر بعض الملاحده هذا الحديث قالوا كيف يجوز على موسىٰ فقأ عين ملك الموت واجابوا بانه متشابه فيفوض علمه الى الله وان موسىٰ لم يعرف انه ملك الموت فظن انه رجل قصد نفسه و كان الملك يتمثل بصورة البشر فدفعه عنها فادت مدافعته الىٰ فقأ عينه. لمعات ومرقات. (هامش مشكواة المصابيح ص ٥٠٧ جلد ٢ باب بدأ الخلق و ذكر الانبياء عليهم السلام)

﴿٥﴾ (والتفصيل فى فتح البارى شرح صحيح البخارى ص ٢٥٢ جلد ٨ باب وفات موسىٰ و ذكره بعد كتاب الانبياء)

ذبیحه ابراهیمي د جنت نه راتلل منصوصی نه دي

سوال: حضرت ابراهیم علیه السلام چه کوم ګډ ذبحه (حلال) کړې وو هغه د جنت نه راغلي ګډ وو، نو آیا حضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت اسماعیل علیه السلام د هغې غوښه د ذبحه کولو نه پس خوړلي وه او که نه؟ که خوړلي ئې وي نو د جنت نعمت په دنیا کښې څنګه ملاؤ شو حال دادي چه دا به د مرګ نه پس ملاویږي. او که نه ئې وي خوړلي نو د طیب او طاهرنعمت نه خوړل هم ښه کار نه دي؟

المستفتي:شفیق الرحمان حقاني ادینه صوابي....۱۹۷۵ء۱۱۱۱۵

الجواب: د دغي ګډ د جنت نه راتلل منصوصی نه دي بلکه د اسرائیلیاتو نه ثابت دي دارنګې په ظاهره خو د هغې خوړل معلومیږي ځکه چه د مال ضائع کول هم حرام دي. او معلومیږي چه په تاباندې هم د بني اسرائیلو رنګ ختلي دي کوم کارونه چه بې فائدې وي د هغې متعلق د سوالونو نه اجتناب اوکړه. وهوالموفق

ذبیحه ابراهیمي او مخکنو امتونو کښې د قربانۍ د مقبولیت نشانی

سوال: ابراهیم علیه السلام چه دخپل ځوی اسماعیل علیه السلام په ځائې باندې کوم ګډ ذبح کړې وو، نو د هغې ګډ غوښه چا خوړلي وه..؟

المستفتي:مجاهد شاه کوهاټ......۱۸رمضان ۱۴۰۳ هجري.

الجواب: په مخکنو امتونو کښې د قربانۍ د مقبولیت نښه دا وه چه د آسمان نه به سپین اور راغې او هغه به ئې اوسوزوله.وهوالموفق

د ذبیحه ابراهیمی غوښه. سایه رسول. په سر د ټوپۍ کیښودلو ثبوت او انبیاؤ سره د شیطان کیدل

سوال: (۱) د ابراهیم علیه السلام د قربانۍ غوښه چا خوړلي وه؟ (۲) د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سورې وو که نه؟ (۳) آیا په سر باندې ټوپۍ کیښودل د حدیث نه ثابت دي که نه؟ (۴) ایا د پیغمبرانو (علیهم السلام) سره شیطان وي که نه وي؟ بینواتوجروا

المستفتي:روح الامین معرفت محمد شریف خادم دفتر دارالعلوم حقانیه۲۳ستمبر۱۹۸۴ء

الجواب: (۱) په مخکنو امتونو کښې د قربانۍ د قبولیت علامت داؤ چه هغه

به اور خوړله نو دغه به هم اور خوړلې وي《۱》(۲) د پیغمبر علیه السلام بشریت او انسانیت یو اجتماعي امر دې او د سورې نه کیدل اختلافي دي.وعدم الظل لا یستلزم عدم الجسمیه کما في الشمس والقمر《۲》(۳) د ترمذی د روایت نه ثابت دي.《۳》(۴) وی ورسره لیکن هغوي ترینه په امن کښې وی.《۴》وهوالموفق.

په قرآن اوحدیث کښې د یوسف علیه السلام زلیخا سره د واده هیڅ ذکر نشته

سوال: ځومره پورې چه په قرآن مجید کښې دي نو د یوسف علیه السلام او زلیخا دواده هیڅ ذکر نشته دې بلکه قرآن د زلیخا سیرت د یوې مشرکې او مشکوکې کردار والا ښځې بیان کړې دي. دارنګې د قران مجید ته د زلیخا د مسلمانیدل هم ثابت نه دي. یو خطیب فرمائي چه ددوي په مینځ کښې واده شوې وو او دوه بچې ئې هم پیدا شوې وو، او په ثبوت کښې د حجة الاسلام او احوالِ انبیاء حواله ورکوي. نو دې باره کښې تاسو حضرات څه فرمایئ؟

المستفتي:علي اصغر محمدهارون ptc، دوراهاضلع مانسهره۱۹۸۶ء۱۰۱۱۲۷

《۱》 د ذبیحه ابراهیمی دغوښې خوړلوباره کښې مختلف اسرائیلی روایات ذکردی بعضې روایاتوکښې دی چه هغه مارغانواوځناورو اوخوړله، کما صرح به علامه صاوی فی حاشیة الصاوی علی الجلالین ص۳۲ جلد۴ وسلیمان بن عمرو العجیلی فی الجمل (ص۵۴۹ جلد۳) لیکن بعضې روایات دعدم اکل هم ذکردی. کماصرح به صاحب تفسیر بحرالمحیط ص۳۷۱ جلد۷،لانه لم یکن عن نسل بل عن التکوین.اویو روایت دعدم ذبح هم دې.چه تریوکال پورې ژوندې پاتې وو. کماصرح به صاحب المدارك ص۳۰ جلد۴.ورُوی انه هرب عن ابراهیم علیه السلام عندالجمرة فرماه بسبع حصاة حتٰی اخذه فبقیت سنةً.پس دا ټول روایات یوبل سره متضاددی.چونکه قرآن اوحدیث ددې نه خاموش دې اوپه دې کښې هیڅ یوروایت منصوصی نه دې، البته داخبره زیاته وزنی معلومیږی چه په تیرو امتونو کښې دقربانۍ دمقبولیت نخښه داوه چه دآسمان نه به سپین اور راغې اودغه غوښه به ئې اوسوزوله.چونکه د ذبیحه ابراهیمی متعلق بالخصوص دا روایت منصوصی نه دې لیکن قرین قیاس او وزنی ضروردې.(ازمرتب)

《۲》 قال العلامه آلوسی وقرأ ابن کثیرو ابن عامرقال سبحان ربی ای قال النبی صلی الله علیه وسلم هل کنت الا بشرا رسولا. کسائر الرسل علیهم السلام و کانوا لا یأتون قومهم الابما یظهره الله تعالیٰ علی ایدیهم حسبما تقتضیه الحکمة من غیر تفویض الیهم ولا تحکم منهم علیه سبحانه الخ.
(روح المعانی ص ۲۲۴ جلد ۹ سورة الإسراء ص ۹۴)

《۳》 عن ابی رکانة ان رکانة صارع النبی صلی الله علیه وسلم فصرعه النبی صلی الله علیه وسلم قال رکانة سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول ان فرق ما بیننا و بین المشرکین العمائم علی القلانس. (سنن الترمذی ص ۲۱۰ جلد۱ قبیل ابواب الاطعمة)

《۴》 عن ابن مسعود قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم مامنکم من احد الا وقد وکل به قرینه من الجن و قرینه من الملائکة قالوا و ایاک یا رسول الله قال و ایای ولکن الله اعاننی علیه فاسلم فلا یأمرنی الا بخیر رواه مسلم. (مشکوٰة المصابیح ص ۱۸ جلد ۱ باب فی الوسوسة)

الجواب: په قران کښې نه د زليخا څه ذکر شته او نه د حضرت يوسف عليه السلام د واده. البته د اسرائيليانو په کتابونو کښې دا قصې شته دي.(۱) چه حجت نه دي. وهوالموفق.

د حضرت مريم عليها السلام نکاح د چا سره نه وه شوې

سوال: زيد وائي چه د مريم عليها السلام عقدِ نکاح د يوسف نجار سره شوې وه ليکن هغه ورسره يو ځائي شوې نه وو. او حضرت عيسىٰ عليه السلام صرف د رب په حکم باندې پيدا شوې دې. او په حواله کښې دا کتاب پيش کوي ,,نو رافرا متوسطه قران شريف در حالات حضرت عيسىٰ عليه السلام صفحه ۱۵،، کله چه ددې عمر دولس کاله شو نوحضرت ذکريا عليه السلام ددې کوېژدن يوسف نجار سره اوکړه او هغه دخپل جوړېدونکي خاوند سره ناصره ته لاړله، د کوژدن په وخت دا شرط لګولي شوې وو، چه ترڅو پورې په عقد کښې دعبادت ګاه د عبادت کونکو نه اجازت ملاؤ نه شي ترهغې به يو ځائي کيږئ نه، او بيا ئې د جبرائيل امين عليه السلام د پوکي وخلو واقعه بيان کړېده. او ددې بر عکس عمرو وائي! دا يوه تاريخي واقعه ده په دې باندې اعتماد کول نه دي پکار بلکه ددې عبارتونو نه ئې هم انکار اوکړو اووې وئيل چه دداسې بيهوده او فضول خبرو نه ځان ساتل پکار دي، نو اوس سوال دا دې چه د عمرو خبره صحيح ده او که د زيد؟ او د ذکرشوي کتاب څه مؤيد او کتاب شته يا نه؟ د صحيح صورتحال نه مونږ خبر کړئ.

المستفتي: محمد ناصر علي خان چترال بازار ملاکنډ

الجواب: په قرآن مجيد کښې څو ځايونو کښې موجود دي چه حضرت مريم عليها السلام سره چا هم جائز يا ناجائزه جماع نه ده کړې الله تعالى د حکايت په طور سره فرمائي. لم يمسسني بشر ولم اک بغيا قال کذالک، الآية(۲) او د يوسف نجار سره د نکاح ثبوت نه په قرآن کښې شته نه په احاديثو او آثارو کښې، او په اسرائيلياتو سره څمونږه اجماعي عقيده نشي مجروح کولې.(اود يوسف نجار سره د نکاح ثبوت هم دغه حکم لرى) او

(۱) قال العلامه الوسى و فى رواية انها تعرضت له فى الطريق فقالت ما قالت فعرفها فتزوجها فوجدها بكرا و كان زوجها عنينا .و شاع عند القصاص انها عادت شابة بكراً اكراما له عليه السلام بعد ما كانت ثيبا غير شابة وهذا مما لا اصل له و خبر تزوجها ايضا لا يعول عليه عند المحدثين .
(تفسير روح المعانى ص ۷ جلد ۸ سورة يوسف آيت ۵۳)
(۲) (پاره : ۱۶ سورة مريم ركوع : ۵ آيت: ۲۰)

حضرت عيسىٰ عليه السلام ته د يوسف نجار ځوئې وئيل لکه چه د قاديانانو عقيده ده.صرح به محمدعلی لاهوری فی تفسيره بيان القرآن ص۳۱۳،نودا بالکل صريح کفردي.ځکه چه د قرآن دقطعی الثبوت اوقطعی الدلالة آياتونو نه انکاردي.او دا د نصاراؤ عقيده هم ده.

كما هو مسطور فى اول بعض الاناجيل المرسومة المدونة بعد رفع عيسىٰ عليه السلام. فقط

د داؤد عليه السلام د محبت قيصه اسرائيلي واقعه ده

سوال: علمائې دين او مفسرين قران دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه سپاره ۲۳ سورت ص کښې د حضرت داؤد عليه السلام متعلق په جلالين کښې (بمحبته تلک المراة) الفاظ ذکر دی او ابن کثير چپ کيدل غوره ګرځولی دی، دا رنګې اسرائيلی روايتونو طرف ته ئې ترجيح ورکړې او د (روح البيان) د حوالې مطابق حضرت علی رضي الله عنه ددې واقعې ذکر کونکی دپاره حد مقرر کړې وو، په دې واقعه کښې تر کومې پورې صداقت موجود دې او د نبی کريم صلى الله عليه وسلم نه دې باره کښې څه روايت نقل شته که نه؟ جواب راکړئ مهربانی به وی

المستفتي: محمد يوسف جان متهه مغل خيل پشاور.... ۱۹۶۹ء/۲/۱۳

الجواب: په جلالين شريف کښې موجود قيصه چه د داؤد عليه السلام د محبت متعلق روايت شوې ده د هغې متعلق حافظ ابن کثير ليکی قد ذکر المفسرون ههنا قصة اکثرها ماخوذة من الاسرائيليات ولم يثبت فيها عن المعصوم حديث يجب اتباعه،،(۱) لهذا دا واقعه د اعتماد قابله نه ده او حافظ ابو محمد بن حزم هم ددې واقعې ترديد کړې دې ترديد د هغه په کتاب الفصل کښې مذکور دې ليکن ددې سره سره ددې ناقل د تعزير او حد لائق نه دې او حضرت علی رضي الله عنه ته چه کوم منسوب دی چه څه به ددې نقل کونکی ته ۱۶۰ درې ورکړم يعني اوبه وهم، نو دا روايت د حضرت علی رضي الله عنه نه ثابت نه دې، اوکه ثابت شی نو دابه د هغه په اجتهاد باندې محمول وی، چه د هغې اتباع ضروری نه ده،(۱)

(فى مثل هذا المقام) قال العلامه الآلوسى فى تفسيره ص ۱۸۵ جلد ۲۳ قال على رضى الله عنه على مافى بعض الكتب من حدث بحديث داؤد عليه السلام على مايرويه القصاص جلدته مأة و ستين و ذلك حد الفرية على الانبياء عليهم السلام وهذا اجتهاد منه كرم الله وجهه الاان الزين العراقى ذكر ان الخبر نفسه لم يصح عن الامير

(۱) (پ: ۲۳ تفسير ابن كثير جلد ۴ سورة ص ص: ۴۱ آيت: ۲۱، ۲۲)

كرم الله تعالىٰ وجهه ﴿۱﴾ نو ددې ايت صحيح تفسير هغه دې كوم چه د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د اثر نه معلوم دې اخرج هذا الاثر الحاكم فى المستدرک وقال صحيح الاسناد واقره الذهبى فى التلخيص. چه د هغې خلاصه داده چه په بعضې امورو مثلاً حسن انتظام او هروخت په عبادت كښې د مشغوليدلو په وجه باندې يو قسم له د اعجاب نه د عتاب په طور باندې دا واقعه راغله. او ګورئ فوائد عثمانيه على تفسير عثمانى ﴿روح المعانى ص ۱۸۵ جلد ۲۳﴾ ﴿۲﴾ فقط

پيغمبران د نبوت نه مخكښې او وروستو معصوم دى

سوال كه د يو كس عقيده داوى چه انبياء عليهم السلام د نبوت نه مخكښې قصداً د غټو ګناهونو ارتكاب كړې، حضرت ادم عليه السلام د نبوت نه مخكښې په قصد باندې جنت كښې د ګناه ارتكاب كړې وو. او په استدلال كښې ربنا ظلمنا الخ پيش كوى نو ياخو به الله تعالى ته ظالم وئيلي كيږى او يا ادم عليه السلام ته نو څه ادم عليه السلام ته ظالم وايم، ماورته اووئيل چه دلته ظلم د كمى په معنى سره دې يعني مونږ خپله مرتبه كمه كړه، كمافى الكهف ولم تظلم منه شيئا، ليكن هغه نه منى نو ايا دا سړې مسلمان پاتې كيدې شى او ايا ده پسې اقتداكول صحيح دى؟ بينواتوجروا

المستفتى: زمزم كلاتهـ هاوس مين بازار منګوره سوات ۲۶ شعبان ۱۳۹۵هـ

الجواب: په علم الكلام او د حديثو په شروحاتو كښې دى د اهل سنت والجماعت مسلک دادې چه د انبيائې كرامو نه ګناه نه كيږى نه واړه ګناهونه نه غټ نه د نبوت نه مخكښې او نه د نبوت نه پس ﴿۳﴾ او د دلائلو په رڼا كښې هم دا مسلک مضبوط دې،

وهذا الحكم عقلى كا التحقق للبارى تعالىٰ ووجود المحدث. واما الاستدلال من لفظ الظلم ففيه صحيح. لان الظلم وضع الشئ فى غير محله و هو عام للكفر

﴿۱﴾ (تفسير روح المعانى ص ۲۷۲ جلد ۱۳ سورة ص آيت: ۲۷، ۲۸)

﴿۲﴾ (التفصيل فى روح المعانى ص ۲۶۳ جلد ۱۳ تا ۲۷۲ جلد ۱۳ سورة ص آيت: ۲۱ تا ۲۸)

﴿۳﴾ قال الملا على قارى. والانبياء عليهم الصلاة والسلام ...... منزهون ...... عن الصغائر والكبائر اى من جميع المعاصى والكفر ...... والقبائح و فى نسخة والفواحش ...... وقد كانت منهم اى من بعض الانبياء قبل ظهور مراتب النبوة او بعد مناقب الرسالة زلات اى تقصيرات و خطيئات ...... كما وقع لآدم عليه السلام فى اكله من الشجرة على وجه النسيان او ترک العزيمة و اختيار الرخصة ظنا منه ان المراد بالشجرة المنهية المشار اليها بقوله تعالىٰ ولا تقربا هذه الشجرة هى الشخصية لا الجنسيه فاكل من الجنس لا من الشخص بناء على الحكمة الالهية ليظهر ضعف قدرة البشرية و قوة القضاء مغفرة الربوبية.

(شرح فقه الاكبر للقارى ص ۵۶، ۵۷ الانبياء منزهون عن الصغائر والكبائر)

والكبيرة والصغيرة و ترک الاولىٰ والزلة فيحمل على الاخرين لئلا يقادم العقل

لهذا داسې سړې به ظالم وى كافر به نه وى لوجود الاختلاف البته د اقتداء لائق نه دې وهو الموفق ـ

د اصحاب كهف او حضرت خضر عليه السلام متعلق مختلف سوالونه

سوال: (۱) اصحاب كهف ژوندى دى يا نه؟ (۲) خضر عليه السلام ژوندې دې يا نه؟ پيغمبر دې كه نه؟ (۳) خضر عليه السلام چه كوم هلک مړ كړې وو الله تعالى د هلک يا جينئ په صورت كښې د هغه نعم البدل وركړې وو كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتى: حكيم محمد كمال شيوه صوابى..... ۲۶/۸/۱۹۷۵ء

الجواب: (۱) د حديث نه د اصحاب كهف وفات معلوميږى ﴿۱﴾ (۲) حضرت خضر عليه السلام د جمهور علماء په نزد ژوندې دې او تحقيق دادې چه هغه پيغمبر وو. ﴿۲﴾ فليراجع الى القرطبى و يوثره حديث الدجال لان الرجل الذى يقتله الدجال ثم يحييه هو الخضر كما روى عن السلف فليراجع الى هامش الكوكب الدرى.

(۳) مفسرينو ليكلى دى چه الله تعالى هغه ته نعم البدل وركړې وو ليكن دا څه منصوصى حكم نه دې ﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الحافظ عماد الدين ابن كثير: وعادوا الى مضاجعهم و توفاهم الله عزوجل. فالله اعلم. قال قتاده غزا ابن عباس مع حبيب بن مسلمه فمروا بكهف فى بلاد الروم فرأو افيه عظاماً فقال قائل: هذه عظام اهل الكهف فقال ابن عباس لقد بليت عظامهم من اكثر من ثلثمائة سنة ورواه ابن جرير.

(تفسير ابن كثير ص ۱۰۶ جلد ۳ سورة الكهف آيت: ۲۱)

﴿۲﴾ قال المفتى الاعظم مفتى محمدفريد واختلف فى نبوته قال الثعلبى وابن الجوزى انه نبى وهو الراجح المتبادر من قوله تعالىٰ آتيناه رحمة من عندنا وعلمناه من لدنا علما ومن قوله تعالىٰ وما فعلته من امرى ومن اقدامه على قتل نفس زكية. وقيل انه ولى ويرد عليهم ان القتل محرم قطعى لا يجوز الاقدام عليه لامر ظنى وهو الهام الولى اللهم الا ان يقال ان نبياً من الانبياء قال له ان الهامک يكون حقا من الله تعالىٰ واختلف فى حياته قال بعض المحققين بوفاته لحديث اريتكم ليلتكم هذه فان رأس مائة سنة لايبقىٰ من هو اليوم على الارض احد وقال الجمهور بحياته وهو الراجح لما ورد ان الرجل الذى يقتله الدجال ثم يحييه وهو المروى عن معمر وعن ابراهيم بن سفيان راوى كتاب مسلم ولاثر عمر بن عبد العزيز الخ.

(هداية القارى شرح صحيح البخارى ص ۱۷۷ جلد ۱ باب ما ذكر فى ذهاب موسىٰ فى البحر)

﴿۳﴾ قال العلامه آلوسى اى بان يرزقها بدله ولداً خيراً منه.

(روح المعانى ص ۱۶ جلد ۱۶ سورة الكهف آيت: ۸۱)

حضرت خضر علیه السلام نبی دي یا ولی

سوال: علمائي دین څه فرمائی دي مسئلي باره کښې چه حضرت خضر علیه السلام پیغمبر دي یا ولی دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمن متعلم دار العلوم حقانیه اکوړه ختک.... ۱۹۸۳ء۱۱۱۸

الجواب: دا مختلف فیه او غیر منصوصی مسئله ده غوره داده چه پیغمبر دي ﴿۱﴾ لقوله تعالیٰ وعلمناه من لدنا علماً. ﴿۱﴾ ولقوله تعالیٰ وما فعلت عن امری. ﴿۲﴾ ولان الاقدام بالقتل المحرم لایسوغ با لالهام الظنی. والله اعلم

حضرت ادم علیه السلام او حوا علیها السلام نکاح اود رسول الله صلی الله علیه وسلم ویښته مبارک

سوال: (۱) د حضرت ادم علیه السلام نکاح چا تړلې وه، او د حضرت حوا علیها السلام مهر څومره وو؟ (۲) نبی علیه السلام ویښته خرئیلی دی که ساتلی ئې دی او د ویښتو ساتلو څومره طریقې دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: قاری بشیراحمد علوی... ۱۹۷۵ء۱۹۱۹

الجواب: (۱) مفسرینو ددې خبرو متعلق څۀ لیکل کړی دی چه د هغې بنیاد په اسرائیلیاتو او عجائباتو باندې دې او په معتمد فتاوٰو کښې ددې متعلق څه تذکره نشته. (۲) پیغمبر علیه السلام درې قسمه ویښته پریخی دی، وفره، جمه، لمه_ او د شمائل وغیره په روایت کښې الی نصف الاذنین) ثابت دی، ممکن داده چه د هغې نه (وفره)مراد وی، یعنې د ګمنځ کولو نه مخکښې په نظرسره د غوږونو د نیمو پورې ښکاری او د ګمنځې د استعمال نه پس (وفره) یعنې د غوږونو د نرمو پورې وی ﴿۳﴾

﴿۱﴾ (پاره: ۱۵ سورة الکهف رکوع: ۲۱ آیت: ۶۵)
﴿۲﴾ (پاره: ۱۶ سورة الکهف رکوع: ۱ آیت: ۸۲)
﴿۳﴾ عن انس بن مالک قال کان شعر رسول الله صلی الله علیه وسلم الی نصف اذنیه، وعن عائشة رضی الله عنها کان له شعر فوق الجمه و دون الوفره، وعن البراء بن عاذب و کانت جمته تضرب شحمة اذنیه، وعن انس ان شعر رسول الله صلی الله علیه وسلم کان الی انصاف اذنیه، وعن ام هانئ بنت ابی طالب قالت قدم رسول الله صلی الله علیه وسلم عینا مکه قدمة وله اربع غدائر و ایضاً عنهاذ اضفائر اربع.
(شمائل ترمذی ص ۳،۴ جلد ۲ باب ما جاء فی شعر رسول الله صلی الله علیه وسلم)

او پیغمبر علیه السلام د حج په موقع باندې سر خرئیلې دې. ﴿۱﴾ لهذا احرام نه د وتلو په وخت کښې خرئیل بهتر دی او په باقی وختونو کښې ئې ساتل بهتر دی. وهو مااختار القاری الحافظ. وهو الموفق

د موسی علیه السلام دعا رد کېدل او ولی الله دعا قبلیدل د اسرائیلیاتو قصه ده

سوال: یوه قصه مشهوره ده چه موسی علیه السلام د یوې ښځې په حق کښې د اولاد کیدلو دعا کړه وه لیکن هغه ردشوه، بیا یو عام ولی الله دعا اوکړه هغه قبوله شوه ددې قیصې حقیقت څه دې ایا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: تاج محمد نشاط ملز چارسده پشاور

الجواب: داسې قیصو ته اسرائیلیات وائی که څوک ئې منی اوکه نه منی هیڅ حرج په کښې نشته البته هغه اسرائیلیات چه د وحی او عقل سره متضاد وی هغه به نه منلې کیږی او په دې قیصه کښې دا خبره چه د پیغمبر دعا قبوله نه شوه او د یو عام ولی الله امتی دعا قبوله شوه څه د حیرانتیا خبره نه ده البته الله تعالی او پیغمبر ته بغیر دلیل نه دیو کلام نسبت کول ډیر خطرناک کار دې. وهو الموفق

په احادیثو کښې دامام مهدی ثبوت اود عیسی علیه السلام اسمان ته خیژول

سوال: (۱) د امام مهدی وجود صحیح خبره ده که نه؟ دلیل ئې څه دې؟ (۲) عیسی علیه السلام اسمان ته خیژولې شوې دې که نه؟ ژوندې دې یا مړ؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد ولی ترکستانی افغانستان... ۱۹۸۵ء۱۰۱۱۳۱

الجواب: دا مسئلې د تفصیل دی آو اوس مې نه تفصیل ته همت شته اونه راسره وخت شته صرف دومره وئیلې کیږی چه داحادیثو د ذخیرې نه د امام مهدی ثبوت کیږی. ﴿۲﴾ او حضرت عیسیٰ علیه السلام په اسمان کښې ژوندې دې ﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ عن انس بن مالک قال لما رمیٰ رسول الله صلی الله علیه وسلم الجمرة نحر نسکه ثم ناول الحالق شقه الایمن فحلقه فاعطاه ابا طلحة ثم ناوله شقه الایسر فحلقه فقال اقسمه بین الناس.
(ترمذی ص ۱۱۱ جلد ۱ باب ماجاء بای جانب الراس یبدأ فی الحلق)
﴿۲﴾ عن ام سلمة قالت سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول المهدی من عترتی من اولاد فاطمة رواه ابو داؤد، وعن ابی سعید الخدری قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم المهدی منی اجلی الجبهة اقنی الانف یملأ الارض قسطاً وعدلاً...... رواه ابو داؤد. (مشکواة المصابیح ص ۴۷۰ جلد ۲ باب اشراط الساعة)
﴿۳﴾ والتفصیل فی رسالة التصریح بما تواتر فی نزول المسیح للعلامه انور شاه الکشمیری)

د حضرت عیسیٰ علیه السلام بغیر پلار نه پیدا کیدل

سوال: د لاندینی سوالونو جوابونه په مستند حوالو سره راکړئ، د طبری، ابن کثیر، غزالی او وارث شاه وغیره قول به نه اخستلي کیږی ځکه چه الاسناد من الدین: (۱) ایا چرته مریم صدیقه بیان کړي دي چه ولدت عیسی ولم اتزوج.
(۲) ایا چرته عیسی علیه السلام فرمائیلی دی چه ولدتنی امی مریم الصدیقه ولم تتزوج. (۳) ایاقران مجید فرمائیلی دی چه ولدت عیسی ولم تتزوج.
(۴) ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم چرته فرمائیلی دی چه دمریم صدیقه نه حضرت عیسی علیه السلام بغیر د نکاح نه پیدا شوي وو. (۵) یا داسي ئي وئیلي دی چه د عیسی علیه السلام په پیدائش کښې ړ پلار دخل نشته دهغه پیدائش بغیر د پلار نه شوي دي. (۶) ایا صحابه کرام رضی الله عنهم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخامخ داسي لفظ د عیسی علیه السلام په باره کښې استعمال کړي او هغه خوښ کړي دي یا خاموشی ئي فرمائیلي ده. (۷) که ددي صورتونو جواب منفی وی او یقیناً چه منفی دي نو بیا دا اووایئ چه دا لفظ په مسلمانانو کښې د کله نه رائج شوي دي. (۸) که چرته د یو سلفی تفسیر نه ثبوت پیش کړي نو ښه به وی.
(۹) دبي نکاح ښځې حمل په اسلامی نظر سره اسلامی حمل وی که غیر اسلامی. (۱۰) که بغیر پلار والی والا خیال بنیادی او اعتقادی وی او په ایمانیاتو کښې داخل وی نو بیا ددي ثبوت د اهل فن په نزد په متواترات صریحه سره لازم دي مګر په احادو سره به هم قبلولي شی، خو په دي شرط چه د سندونو په لحاظ سره صحیح وی، او د مطلب په اعتبار سره صریح او منصوصی وی ځکه چه الهی نظام په دي معامله کښې بل شان دي او مشاهده هم ده او په قران پاک کښې هم اصل دي الله تعالی فرمائی:

یا ایها الناس انا خلقناکم من ذکر و انثیٰ. (حجرات) و بث منهما رجالاً کثیراً و نساء (نساء) لا تضار والدة بولدها ولا مولود له بولده (البقرة)

د ښځې او خاوند دواړو نه بچې کیږی د یو کس نه نه کیږی او په ابن کثیر کښې چه موجود دی و کانت النفحة التی نفختها فی جیب درعها فنزلت حتی

ولجت فرجها بمنزلة نکاح الاب الام. ابن کثیر، لیکن څه دا قول نه منم ځکه چه دا د خاوند کلام دي د فرښتې نه دي، فرشته چه یو بل جنس دي بغیر نکاح نه پلار جوړول خو ډیره ښکلې خبره ده پس په صحیح سند سره څه دلیل ذکر کړي چه ځما اشکالات ختم شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ مومن صدر جنګ سرګورها... ۱۴|۷|۱۹۷۳ء

الجواب: د حضرت عیسی علیه السلام د پلار نفی (۱) کیدلو دپاره دا ایت کافی دي: (ولم یمسسنی بشر ولم اك بغیا.. الایه)، په دي کښې د حلال او حرام دواړو قسمو جماع نفی شوي ده، دا رنګې ددي ایت د سیاق او سباق نه هم د عادت نه خلاف او نا اشنا طریقې سره پیدا کیدل ظاهر دی. فافهم وتدبر، وهو الموفق

د حضرت خضر علیه السلام حیات او نبوت راجح دي او ملاقات ئي ممکن او واقع دي

سوال: علمائي دین دي مسئلو باره کښې څه فرمائی (۱) چه حضرت خضر علیه السلام پیغمبر دي یا ولی؟ (۲) ژوندي دي که مړشوي دي؟ (۳) د هغه سره ملاقات کیدلي شی او که نه؟ (۴) او که کیدلي شي نو مونږ سره به څنګه ملاؤشی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا فضل معبود فاضل حقانیه مهمند ایجنسی... ۱۷ رجب ۱۴۰۴ھ

الجواب: (۱) دا حکم مختلف فیه دي غوره په کښې نبوت معلومیږی. (۲) دي کښې هم اختلاف دي غوره په کښې ژوند معلومیږی، (۳) د ژوندی سړی سره ملاقات کیدلي شی. (۴) ماالمسئول عنه باعلم من السائل... وهو الموفق

د خضر علیه السلام نبوت او ژوند کښې اختلاف دي

سوال حضرت خضر علیه السلام نبی وو او که نه ؤو؟ او عام طور سره خلق هغه ژوندي ګڼړی لیکن بعضې خلق ئي د وفات قائل دی، جواب راکړئ۔

المستفتی: حاجی محمد شاه بندر ضلع ټهټه سنده... ۱۰|۱۱|۱۹۸۸ء

---

(۱) قال الله تعالیٰ ان مثل عیسیٰ عندالله کمثل آدم ط خلقه من تراب ثم قال له کن فیکون. الایة (پاره: ۳ سورة ال عمران رکوع: ۱۴ آیت: ۵۹)

الجواب: د حضرت خضر علیه السلام په نبوت کښې اختلاف دې امام ثعلبی او ابن الجوزی د هغه د نبوت قائل دی او د قران مجید (وعلمناه من لدنا علما، وما فعلته عن امری) نه هم داسې معلومیږی، او دده په حیات کښې هم اختلاف دې لیکن د دجال د مقتول متعلق حضرت معمر فرمائی چه هغه به خضر علیه السلام وی. وهو الموفق

مکه معظمه د زمکې په مینځ کښې کیدل او د ادم علیه السلام د بدن خاوره د ټولې زمکې نه اخستلې شوې ده

سوال (۱) دا د کوم ځائ نه ثابت دی چه مکه معظمه د زمکې په مینځ کښې ده؟ (۲) او ایا د ادم علیه السلام د پیدائش خاوره د ټولې زمکې نه اخستلې شوې وه تفصیلی جواب راکړئ؟

المستفتی: سعد الرشید زیارت کاکا صاحب نوشهره

الجواب: (۱) واضحه دې وی چه مکه معظمه د زمکې په مینځ کښې کیدل څه منصوصی امر نه دې بلکه دا یو جغرافیائی حقیقت دې دا رنګې چه زمکه (مع الماء) یو کروی جسم دې نو په هغې کښې په هره نقطه باندې د وسط، کیدل صادق راځی خصوصاً هغه ځائ چه د ټولې زمکې دپاره د تخم په منزله باندې دې، او په څلور واړو طرفونو کښې زمکه ددینه خوره شوې وه، فهی کعجب الذنب او کالسرة، (۲) د حضرت ادم علیه السلام بدن د ټولې زمکې نه حاصلې شوې خاورې نه جوړ کړې شوې دی، یعنې د خاورې او اوبو د مختلفو قسمونو نه دده بدن مبارک تیار کړې شوې دې.

(الحدیث اخرجه احمد و ابو داؤد والترمذی و صححه. وابن جریر وابن المنذر وابن مردویه والحاکم و صححه. والبیهقی عن ابی موسیٰ الاشعری. قلت والحکمة تقضی ذلک لان ولده لیسکنون فی کل البلاد و یسیحون فی کل موضع فلا بد من الموافقة بکل البلاد. وهو الموفق

حضرت عیسی علیه السلام د امتی په حیثیت راتلل او هغه ته وحی کیدل

سوال: حضرت عیسی علیه السلام چه کله د اسمان نه راکوزشی نود شریعت محمدی ﷺ پیروی او تابعداری به کوی، تپوس دادې چه د حضرت عیسیٰ علیه السلام خپله ژبه خو سریانی یا عبرانی وه او قران مجید عربی ده نو دا به لوستلې شی او که نه؟ که لوستلې ئې شی نو د فرشتې په ذریعې سره یا بغیر د فرشتې نه؟ او که د فرشتې په ذریعې سره وی نو دا خو به د وحې شکل نه وی کوم چه د محمد ﷺ نه پس بند ده.

المستفتی: شفیق الرحمن حقانی ادینه صوابی... ۱۹۷۵ء/۱۱/۱۰

الجواب: نبوت د چانه واپس نه اخستلې کیږی، نو حضرت عیسی علیه السلام به یقیناً نبی وی البته د محمد ﷺ د شریعت تابع به وی، کما صرح به ویشیر الیه حدیث لو کان موسی حیا وادرک نبوتی لاتبعنی. (۱) لعدم ارادة تخصیص موسیٰ علیه السلام او په عربی ژبه نه پوهیدلو باندې څه دلیل نشته او دارنګې بند خو هغه وحی ده چه د شریعت سره متعلق وی.

بدلیل حدیث الترمذی فیما هو کذلک اذا اوحی الله الی عیسیٰ علیه السلام انی قد اخرجت عباد الی لا یدان لا حد بقتا لهم فحرز عبادی الی الطور و یبعث الله یأجوج و مأجوج. (۲) وهو الموفق

---

(۱) (مشکواة المصابیح ص ۳۲ جلد ۱ باب الاعتصام بالکتاب والسنة الفصل الثالث)

(۲) (مشکواة المصابیح ص ۴۷۳ جلد ۲ باب العلامات بین یدی الساعة و ذکر الدجال الفصل الاول)

....

....

قال اللہ تعالیٰ

مُحَمَّدٌ

رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

وَالَّذِيْنَ مَعَهٗۤ

اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ

رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ

(الآية)

*****

باب

ما يتعلق

بالصحابة

رضى الله عنهم

***

باب ما یتعلق بالصحابة رضی الله عنهم

د یزید په باره کښې څه رائې ساتل پکار دی؟

سوال: د یزید په باره کښې څه عقیده ساتل پکار دی؟ ایا هغه فاسق وو یا حق خلیفه؟ بعضې حضرات دهغه متعلق صفایانې پیش کوی ددې شرعی حیثیت څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی :عباس احمد راولپنډی..... ۱۹۸۲ء/۴/۱۳

الجواب: د یزید متعلق د نور بدنامو خلقو پشان نه وحی شته او نه ځمونږ مشاهده شته البته د عام شهرت او تاریخی روایتونو په رڼا سره هغه بدنام دې ﴿۱﴾ په البدایة والنهایة وغیره کښې دهغه څه احوال شته دې وهوالموفق

د شیعه ګانو سره نکاح او د هغوی د ذبیحې تحقیق او امهات المؤمنین په اهل بیت کښې داخل دی

سوال علمائې دین لاندینو مسئلو باره کښې څه فرمائی. د شیعه ګانو ذبیحه حرامه ده که حلاله؟ (۲) د شیعه ګانو سره نکاح جائز ده که نه؟ (۳) د پیغمبر ﷺ بیبیانې په اهل بیت کښې داخلې دی او که نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی :قاری عبد الحمید... مورخه ۱۹۷۷ء/۹/۲۱

الجواب: کوم شیعه ګان چه د حضرت علی رضی الله عنه د خدائې توب او رسول کیدو عقیده ساتی او حضرت ابوبکر او عمر رضي الله عنهما نه کنځل کوی او حضرت عائشه (رضی الله عنها) باندې بدنامې لګوی نو هغه کافران دی نه ورسره نکاح جائز ده او نه د هغوی ذبیحه حلاله ده او کوم شیعه ګان چه صرف حضرت علی رضی الله عنه ته فضیلت ورکوی نو دهغوی ذبیحه حلاله ده او په نکاح کښې به د کفاءت حکم جاری کولې شی.

﴿۱﴾ قال العلامة ملا علی قاری وبعضهم اطلق اللعن علیه ای علی یزید لما انه کفر حین امر بقتل الحسین رضی الله عنه انتهی ولا یخفیٰ ما فی نقله حیث ابهم فی قائله ثم تعلیله یحتاج الیٰ اثبات امره بقتل الحسین رضی الله عنه اولاً ثم ترتب کفره علیه ثانیا و کلاهما ممنوع .فقد قال حجة الاسلام فی الاحیاء فان قیل هل یجوز لعن یزید لکونه قاتل الحسین او امر به ؟قلنا هذا مما لم یثبت اصلا فلا یجوز ان یقال انه قتله او امر به فضلا عن لعنه.(شرح فقه الاکبر للقاری ص ۷۲ الکبیرة لا تخرج المؤمن عن الایمان)

فی الخلاصة ص ۵۵۲ جلد۲ الرافضی ان کان یسب الشیخین و یلعنهما فهو کافر وان کان یفضل علیا علی ابی بکر و عمر رضی الله عنهما لا یکون کافراً . و فی ردالمحتار (ص۳۳۹ جلد ۳) بخلاف من ادعی ان علیا اله وان جبریل غلط لان ذلک لیس عن شبهة قال و کذا یکفر قاذف عائشة الخ ـاو ازواج مطهرات په اهل بیت کی یقینی طورسره داخل دی ـ لانه مقتضی اللغة و العرف و کذا نزل قوله تعالیٰ لیذهب عنکم الرجس اهل البیت الایة فی حقهن .﴿۱﴾ وهو الموفق

په مشاجرات صحابه (عنهم) کښې د اهل سنت والجماعت د توقف تفصیل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې : زید وائی، چه د جمهور متقدمینو نقطه نظر صحیح دی چه په مشاجرات صحابه رضی الله عنهم کښې توقف کول پکار دی چه دواړه په حقه دی. بکر وائی: چه نه د جمهور متاخرینو نظریه صحیح ده چه حضرت علی رضی الله عنه په حقه باندې وو. او د حضرت معاویه رضی الله عنه نه اجتهادی غلطی شوې وه او عمرو وائی: چه د جمهور متاخرینو نظریه صرف صحیح نه بلکه چه څوک دا نظریه نه منی او حضرت معاویه او دهغوی ملګری په اجتهادی غلطی باندې نه تسلیموی هغه د اهل سنت والجماعت د حلقې نه وتلې دې زیدوائی : چه د عمرو داسې خبره کول زیاتی دې ځکه چه د جمهور متقدمینو د نقطه نظر چه څوک تائید کونکې وی هغه څنګه د اهل سنت والجماعت نه بهر کیدې شی. بلکه ډیر احتیاط والا مسلک هم هغه دې، کوم چه مولانا ظفراحمد الانصاری رحمه الله لیکلې دې.هو والله الورع والاحتیاط،، بیا یو څو کرښې پس لیکی،

"فان کان لارجائه امر الصحابة الذین تقاتلوا فیما بینهم الی الله و توقفه عن تصویب احدی الطائفتین فهو من اهل السنة ومن حزب الورعین حتماً.(مقدمه اعلاء السنن ص ۱۴۲)

او علامه ابن حزم رحمة الله علیه لیکی:

وذهب سعد بن ابی وقاص و عبدالله بن عمر و جمهور الصحابة الی الوقوف فی علی واهل الجمل و اهل الصفین و به یقول جمهور اهل سنة. (الملل و النحل ص ۱۵۳ جلد ۴)

﴿۱﴾ قال العلامه الوسی وال فی البیت للعهد وقیل عوض عن المضاف الیه ای بیت النبی ﷺ والظاهران المراد به بیت الطین و الخشب لا بیت القرابة والنسب ...... وحینئذٍ فالمراد باهله نساءه ﷺ المطهرات للقرائن الدالة علی ذلک من الآیات السابقة واللاحقة مع انه علیه الصلاة والسلام لیس له بیت یسکنه سویٰ سکنا هن وروی ذلک غیر واحد ،اخرج ابن ابی حاتم وابن عساکر من طریق عکرمة عن ابن عباس رضی الله عنهما نزلت انما یرید الله الخ فی نساء النبی ﷺ خاصة ....وقال عکرمة من شاء باهلته انها نزلت فی ازواج النبی ﷺ الخ. (تفسیر روح المعانی ص ۱۹ جلد ۲۲ سورة الاحزاب رکوع: ۱ آیت: ۳۳)

... نو اوس په زید، عمرو او بکر کښې د چا قول صحیح دې؟ جواب راکړئ
المستفتي: وقار احمد صدیقي جامعه مدینة العلوم ناظم اباد کراچي نمبر ۱۸. ۱۹۸۵ء ۲۱۱۳۱

الجواب: حضرت امیر معاویه رضي الله عنه مجتهد وو، او هر مجتهد کله حق ته رسیږي او کله غلط کیږي البته د مجتهدینو غلطي نیول د هر سړي کار نه دې دا په وحی سره معلومیږي او یا به په قیامت کښې معلومیږي، د زید او بکر د خبرو انجام یو دې ﴿۱﴾ او عمرو په غلطئ باندې دې وهو الموفق

نوټ: لو کانت الفئة الباغیة فئة معاویة لا الفئة الثالثة لکان لکلام عمرو وجه. فافهم

حضرت علی رضي الله عنه ته شیر خدا، وئیل

حضرت علی رضي الله عنه ته شیر خدا وئیل څنګه دی؟ مونږ د حضرت حمزه رضي الله عنه متعلق اوریدلی دی چه هغه د غزوه بدر په موقعې باندې ډیره بهادري ښکاره کړه نو رسول الله ﷺ ورته د (اسد الله) او (اسد الرسول) القابات ورکړل ددې متعلق شرعی حکم واضح کړئ؟ بینوا وتوجروا

المستفتي: میاں صدیق مغل دهلی کالونی کراچی نمبر ۲... ۱۹۸۲ء ۱۲۱۴۱

الجواب: د القاباتو مشروعیت په شرعی ثبوت باندې موقوف نه دی دهغې د مشروعیت دپاره د شریعت سره عدم تصادم هم کافی دې، وهو الموفق

حضرت معاویه رضي الله عنه ته غلط نسبت او په یزید باندې د لعنت حکم

سوال السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! مونږ ته ددې سوال جواب راکړئ مهربانی به وی. (۱) حضرت معاویه رضي الله عنه څوک وو، او هغه ته د غلط نسبت کولو څه حکم دې؟ (۲) په یزید باندې لعنت کول جائز دی که نه؟ که ناجائز وی نو بیا څه حکم دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتي: فروش الدین لنډیکوتل... ۱۹۷۰ء ۲۶۱۴۱

﴿۱﴾ قال ابن البزاز الکردری ولا یجوز اللعن علی معاویه لانه خال المومنین وکاتب الوحی وذو السابقة والفتوح الکثیرة وعامل الفاروق وذی النورین لکنه اخطأ فی اجتهاده فیتجاوز الله عنه ببرکة صحبة سیدنا علیه الصلوة والسلام ویکف اللسان عنه تعظیما لمتبوعة وصاحبه علیه السلام.
(فتاویٰ بزازیه علی هامش الهندیه ص ۳۴۴ ج ۶ الباب الثانی فیما یکون کفرا من المسلم ومالایکون)

الجواب: وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته! حضرت معاویه رضي الله عنه جلیل القدر صحابی دې او د پیغمبر علیه السلام د بی بی رور دې هغه ته بدوئیل او کنځل کول فسق او فجور دې ﴿۱﴾. (۲) د اکثرو محتاط علماء دا فیصله ده چه په یزید به لعنت نه وئیلې کیږی ﴿۲﴾

په یزید باندې لعن طعن کول په ضروری کارونو کښې نه دې

سوال څمونږ ځائ کښې یو مولوی صاحب په تقریر کښې اووئیل چه تاسو په یزید باندې لعن طعن کښې وخت مه ضائع کوئ کیدې شی چه الله تعالی هغه اوبخښی تاسو د حضرت حسین رضي الله عنه لاره خپله لاره جوړه کړئ نو ایا مولوی صاحب دا خبرې صحیح کړی دی که غلطې؟ خپله رائې راته واضحه کړئ؟ بینوا وتوجروا

المستفتي: محمود الحسن غله منډئ ګجرخان... ۱۹۷۰ء

الجواب: په یزدې باندې لعن طعن کول په دین کښې څه ضروری کار نه دې ﴿۳﴾ نو په دې وجه باندې دې کښې مشغولیدلو کښې څه خاص فائده نشته او د نااهله خلقو سره مقابله پریخودلو کښې ډیرې فائدې دی لهذا د مولوی صاحب بیان غلط نه دې قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من حسن اسلام المرء ترکه مالایعنیه ﴿۴﴾ (رواه مالک والترمذی)

﴿۱﴾ قال ابن البزاز الکردری ولا یجوز اللعن علی معاویة لانه خال المومنین وکاتب الوحی وذو السابقة والفتوح الکثیرة وعامل الفاروق وذی النورین لکنه اخطأ فی اجتهاده فیتجاوز الله عنه ببرکة صحبة سیدنا علیه الصلاة والسلام ویکف اللسان عنه تعظیما لمتبوعه وصاحبه علیه السلام.
(فتاویٰ بزازیه علی هامش الهندیه ص ۳۴۴ ج ۶ فصل الحادی عشر فیما یکون خطأ)

﴿۲﴾ قال الملا علی قاری وانما اختلفوا فی یزید بن معاویة حتیٰ ذکر فی الخلاصة وغیره انه لا ینبغی اللعن علیه ای ولا علی الحجاج. لان النبی ﷺ نهی عن لعن المصلین ومن کان من اهل القبلة الخ
(شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۷۲ الکبیرة لا تخرج المومن عن الایمان)

﴿۳﴾ قال الملا علی قاری وانما اختلفو فی یزید بن معاویه حتیٰ ذکر فی الخلاصة وغیره انه لا ینبغی اللعن علیه ای ولا علی الحجاج لان النبی ﷺ نهی عن لعن المصلین ومن کان من اهل القبلة......قال حجة الاسلام فی الاحیاء فان قیل هل یجوز لعن یزید لکونه قاتل الحسین او امر به؟

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

یزید د جمهور علماؤ په نزد کافر نه دي

سوال: ځمونږ ځائ کښې یوه نوې فتنه راوچته شوې ده یو سړی کتاب لیکلې دې چه یزید رحمة الله علیه، او د ټولو علمائ د یوبند غلط دستخطې ئې کړې دی، او حضرت حسین رضی الله عنه ئې باغی ګرځولې دې، اوس دا اهل بدعت په هر ستیج باندې علمائې دیوبند بدناموی چه اوګورئ د دیوبندیانو دستخطې هم موجود دی، اوس بنده د علمائې دیوبند د نظرئې پیش کولو کلکه اراده کړې ده، چه کتاب اولیکم او د علمائې دیوبند رائې زاجمع کړم او بیا ئې په ټول ملک کښې مفت تقسیم کړم، مهربانی اوکړئ تاسو هم د خپلې رائې نه مونږ خبر کړئ او عندالله ثواب دارین حاصل کړئ؟ ځما مقصود څه فتنه نه ده بلکه اصلاح مې مقصود ده، شکریه.

المستفتی: محمد حسین خطیب جامع مسجد کبیروالاملتان....۱۹۷۰ء

الجواب: یزید د جمهور علماؤ په نزد باندې کافر نه دې لیکن د هغه نااهلی او ظلم بې شکه د انکار قابل نه دې او د فقهې او کلام په ټولو کتابونو کښې دا حکم موجود دې.《۱》وهو الموفق

په ګس لاس باندې نکریزې سره. محمد فاروق،، نوم لیکلو سره په استنجاء کښې بې حرمتی ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو طالب علم د خپل

(بقیه حاشیه د تیرمخ) قلنا هذا مما لم یثبت اصلا .فلا یجوز ان یقال انه قتله او امربه فضلا عن لعنه ولانه لا یجوز نسبة مسلم الی کبیرة من غیر تحقیق الخ(شرح فقه الاکبر لملاعلی قاری ص ۷۲ الکبیرة لا تخرج المومن عن الایمان)

《۲》ترمذی ص ۵۵ ج ۲ باب ماجاء من تکلم با لکلمة لیضحک الناس ابواب الزهد)

《۱》قال الملا علی قاری وبعضهم اطلق اللعن علیه ای علی یزید لما انه کفر حین امر بقتل الحسین رضی الله عنه انتهی .ولا یخفیٰ ما فی نقله حیث ابهم فی قائله ثم تعلیله یحتاج الیٰ اثبات...... امره بقتل الحسین رضی الله عنه اولا ثم ترتب کفره علیه ثانیا وکلا هما ممنوع .فقد قال حجة الاسلام فی الاحیاء فان قیل هل یجوز لعن یزید لکونه قاتل الحسین رضی الله عنه او امربه قلنا هذا مما لم یثبت اصلاً فلا یجوز ان یقال انه قتله او امر به فضلا عن لعنه ولانه لا یجوز نسبة مسلم الیٰ کبیرة من غیر تحقیق ......ولان الامر بقتل الحسین رضی الله عنه لا یوجب الکفر فان قتل غیر الانبیاء علیهم السلام کبیرة عند اهل السنة والجماعة الاان یکون مستحلا وهو غیر مختص با لحسین ونحوه.....واماما تفوه به بعض الجهلة من ان الحسین کان باغیا فباطل عند اهل السنة والجماعة ولعل هذا من هذیانات الخوارج عن الجادة .(شرح فقه الاکبر ص ۷۲ الکبیرة لا تخرج المؤمن عن الایمان)

لاس په ورغوی باندې خپل نوم، محمد فاروق، لیکلې دې، استاذ ورله لړه شان سزا ورکړه او نصیحت ئې ورته اوکړو چه په دې سره د نوم بې عزتی کیږی ځکه چه په ګس لاس باندې په لوټه یا اوبو سره استنجاء کیږی نو په دې باندې د هلک پلار غصه شو چه دا څه شرعی جرم نه دې دا سزا ناجائز ده او استاذ ظلم کړې دې، نو واضح اوفرمایئ چه په دې صورت کښې د حضرت محمد ﷺ او د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د نومونو توهین کول جرم دې که نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: منظور الحق قریشی کوهاله مری...۱۹۶۹ء۱۱۱۱۹۱

الجواب: په ګس لاس باندې، محمد فاروق، لیکل اګر چه جائز دی لحدیث ابی داؤد کان النبی صلی الله علیه وسلم یتختم فی یساره《۱》انتهی وثبت فی حـــدیث متفق علیه نقش فیه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم《۲》لیکن دا هم ثابت دی چه پیغمبر علیه السلام به د قضائې حاجت په وخت کښې دا لرې کوله، رواه ابوداؤد عن انس رضی الله عنه مرفوعاً《۳》لهذا ترڅو پورې چه دا مبارک نوم، محمد، په لاس باندې وی نو په هغې سره په اوبو وغیره باندې استنجاء کول جائز نه دی او ده باندې ضروری دی چه دا نوم په څه طریقې سره لرې کړی او وران ئې کړی پس استاذ په حقه باندې دې په دې شرط چه معامله صرف دومره وی، فقط

د حضرت حسین رضی الله عنه متعلق بعضې سوالونه او د یزید حالات

سوال:(۱) ایا د سیدنا امام حسین رضی الله عنه فضائل په قران او حدیث کښې شته ک... نه؟ (۲) ایا امام حسین رضی الله عنه د یزید په بیعت نه کولو باندې بغاوت کړې و... او نورو مسلمانانو بیعت کړې وو نو د هغوی درجه څه ده؟ (۳) امام حسی... رضی الله عنه په میدان کربلا کښې شهید شوې دې او که د بغاوت په جرم کښې وژل... شوې دې؟ (۴) د یزید متعلق څه خاص پیشنګوئی یا تعریف په قران ا... حدیث کښې شته که نه؟ (۵) په شریعت اسلامیه کښې د یزید څه حیثی... دې؟ هغه خلیفه راشد دې یا صرف دنیاوی حکمران دې؟ (۶) د شهادت پس چه د ساداتو خاندان ته د یزید د دربارنه کومه کال په کال وظی... ملاویدله دا صحیح ده؟ (۷) د کربلا د واقعې اصلی حقیقت څه دې؟

《۱》عن ابن عمر عن النبی ﷺ .(ابو داؤد ص ۲۲۹ جلد ۲ باب ما جاء فی التختم فی الیمین او الیسار)
《۲》(مشکواة المصابیح ص ۳۷۷ جلد ۲ باب الخاتم الفصل الاول)
《۳》(ابو داؤد ص ۴ جلد ۱ باب الخاتم یکون فیه ذکر الله تعالی یدخل به الخلاء)

یزید د جمهور علماؤ په نزد کافر نه دي

سوال: ځمونږ ځائ کښې یوه نوې فتنه راوچته شوې ده یو سړی کتاب لیکلې دې چه یزید رحمة الله علیه، او د ټولو علمائ د یوبند غلط دستخطې کړې دی، او حضرت حسین رضي الله عنه ئې باغی ګرځولې دې، اوس دا اهل بدعت په هر سټیج باندې علمائې دیوبند بدناموی چه اوګورئ د دیوبندیانو دستخطې هم موجود دی، اوس بنده د علمائې دیوبند د نظرئې پیش کولو کلکه اراده کړې ده، چه کتاب اولیکم او د علمائې دیوبند رائې راجمع کړم او بیائې په ټول ملک کښې مفت تقسیم کړم، مهربانی اوکړئ تاسو هم د خپلې رائې نه مونږ خبر کړئ او عندالله ثواب دارین حاصل کړئ؟ ځما مقصود څه فتنه نه ده بلکه اصلاح مې مقصود ده. شکریه.

المستفتی: محمد حسین خطیب جامع مسجد کبیروالاملتان... ۱۹۷۰ء

الجواب: یزید د جمهور علماؤ په نزد باندې کافر نه دې لیکن د هغه نااهلی اوظلم بې شکه د انکار قابل نه دې او د فقهې او کلام په ټولو کتابونو کښې دا حکم موجود دې.《۱》وهو الموفق

په ګس لاس باندې نکریزې سره. محمد فاروق.، نوم لیکلو سره په استنجاء کښې بې حرمتی ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو طالب علم د خپل

(بقیه حاشیه د تیر مخ) قلنا هذا مما لم يثبت اصلا .فلا يجوز ان يقال انه قتله او امر به فضلا عن لعنه ولانه لا يجوز نسبة مسلم الى كبيرة من غير تحقيق الخ(شرح فقه الاكبر لملاعلى قارى ص ۷۲ الكبيرة لا تخرج المومن عن الايمان)

《۲》ترمذی ص ۵۵ ج ۲ باب ماجاء من تكلم بالكلمة ليضحك الناس ابواب الزهد)

《۱》قال الملا على قارى وبعضهم اطلق اللعن عليه اى على يزيد لما انه كفر حين امر بقتل الحسين رضى الله عنه انتهى .ولا يخفىٰ ما فى نقله حيث ابهم فى قائله ثم تعليله يحتاج الىٰ اثبات...... امره بقتل الحسين رضى الله عنه اولا ثم ترتب كفره عليه ثانيا وكلا هما ممنوع .فقد قال حجة الاسلام فى الاحياء فان قيل هل يجوز لعن يزيد لكونه قاتل الحسين رضى الله عنه او امربه قلنا هذا مما لم يثبت اصلاً فلا يجوز ان يقال انه قتله او امر به فضلا عن لعنه ولا نه لا يجوز نسبة مسلم الىٰ كبيرة من غير تحقيق ......ولان الامر بقتل الحسين رضى الله عنه لا يوجب الكفر فان قتل غير الانبياء عليهم السلام كبيرة عند اهل السنة والجماعة الاان يكون مستحلا وهو غير مختص با لحسين ونحوه.....واماما تفوه به بعض الجهلة من ان الحسين كان باغيا فباطل عند اهل السنة والجماعة ولعل هذا من هذيانات الخوارج عن الجادة.(شرح فقه الاكبر ص ۷۲ الكبيرة لا تخرج المؤمن عن الايمان)

لاس په ورغوی باندې خپل نوم، محمد فاروق، لیکلې دې، استاذ ورله لړه شان سزا ورکړه او نصیحت ئې ورته اوکړو چه په دې سره د نوم بې عزتی کیږی ځکه چه په ګس لاس باندې په لوټه یا اوبو سره استنجاء کیږی نو په دې باندې د هلک پلار غصه شو چه دا څه شرعی جرم نه دې دا سزا ناجائز ده او استاذ ظلم کړې دې، نو واضح اوفرمایئ چه په دې صورت کښې د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم او د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د نومونو توهین کول جرم دې که نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: منظور الحق قریشی کوهاله مری... ۱۹۲۹ء ۱۱/۱۱/۱۹

الجواب: په ګس لاس باندې، محمد فاروق، لیکل اګرچه جائز دی لحدیث ابی داؤد كان النبى صلى الله عليه وسلم يتختم فى يساره《۱》انتهى وثبت فى حديث متفق عليه نقش فيه محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم《۲》لیکن دا هم ثابت دی چه پیغمبر عليه السلام به د قضائې حاجت په وخت کښې دا لرې کوله، رواه ابوداؤد عن انس رضى الله عنه مرفوعاً《۳》لهذا ترڅو پورې چه دا مبارک نوم، محمد، په لاس باندې وی نو په هغې سره په اوبو وغیره باندې استنجاء کول جائز نه دی او ده باندې ضروری دی چه دا نوم په څه طریقې سره لرې کړی او وران ئې کړی، پس استاذ په حقه باندې دې په دې شرط چه معامله صرف دومره وی، فقط

د حضرت حسین رضي الله عنه متعلق بعضې سوالونه او د یزید حالات

سوال: (۱) ایا د سیدنا امام حسین رضي الله عنه فضائل په قران او حدیث کښې شته که نه؟ (۲) ایا امام حسین رضي الله عنه د یزید په بیعت نه کولو باندې بغاوت کړې وو او نورو مسلمانانو بیعت کړې وو نو د هغوی درجه څه ده؟ (۳) امام حسین رضي الله عنه په میدان کربلا کښې شهید شوې دې او که د بغاوت په جرم کښې وژلې شوې دې؟ (۴) د یزید متعلق څه خاص پیشنګوئی یا تعریف په قران او حدیث کښې شته که نه؟ (۵) په شریعت اسلامیه کښې د یزید څه حیثیت دې؟ هغه خلیفه راشد دې یا صرف دنیاوی حکمران دې؟ (۶) د شهادت نه پس چه د ساداتو خاندان ته د یزید د دربارنه کومه کال په کال وظیفه ملاویدله دا صحیح ده؟ (۷) د کربلا د واقعې اصلی حقیقت څه دې؟

《۱》عن ابن عمر عن النبى صلى الله عليه وسلم .(ابو داؤد ص ۲۲۹ جلد ۲ باب ما جاء فى التختم فى اليمين او اليسار)

《۲》(مشكواة المصابيح ص ۳۷۷ جلد ۲ باب الخاتم الفصل الاول)

《۳》(ابو داؤد ص ۴ جلد ۱ باب الخاتم يكون فيه ذكر الله تعالى يدخل به الخلاء)

(۸) ایا مروان او شمر هم صحابه ؤو؟ (۹) نن صبا چه کوم جماعت د امام حسین رضي الله عنه خلاف لګیادي ددې څه حقیقت دې؟ایا د دوی په اقتداء کښې مونځ جائز دې؟ (۱۰) ایا د امام حسین رضي الله عنه په حق کښې وینا کول جائز دی د قران او حدیث په رڼا سره خو هغه خارجیان نه دی؟ بینوا وتوجروا

المستفتی :محمد عثمان الوری توحید نگرکراچی..۱۹۷۵ء۱۹۱۳

الجواب: (۱) په قران او حدیث کښې د امام حسین رضي الله عنه بعضې صفتونه ذکر شوی دی قال الله تعالی لیذهب عنکم الرجس اهل البیت الایة ﴿۱﴾ وقال رسول الله ﷺ هما ریحانی من الدنیا. الحدیث ﴿۲﴾ (۲) امام حسین رضي الله عنه نه د یزید سره بیعت کړې وو نه ئې بغاوت کړې وو. (۳) شهید شوې وو (۴) نشته (۵) نالائقه بادشاه وو البته د اوسنو بادشاهانو نه ښه وو (۶) صحیح ده (۷) تفصیل په کښې پکاردې (۸) نه دی (۹) د صحابه کرامو رضي الله عنهم توهین حرام دې دهغه اقتداء مکروه تحریمی ده (۱۰) د عام صحابه کرام رضي الله عنهم خلاف د وینا کولو چه کوم روایتونه راغلی دی هغه د حضرت حسین رضي الله عنه متعلق هم دی وهوالموفق.

صحابه کرام رضي الله عنهم عادلان دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې پاره کښې څه فرمائی یو سړې وائی چه صحابه کرام رضي الله عنهم نه څه خطاګانې شوی دی، او الله تعالی هغوی معاف کړی دی او د هغوی د خطاګانو تذکره صحیح نه ده اودویم کس وائی چه د صحابه کرام رضي الله عنهم نه ګناهونه شوی دی او په هغې به ورته سزا هم وی نو په دې دواړو کښې کوم یو صحیح وائی؟ بینوا وتوجروا

المستفتی :مولوی محمد صادق کوټ کشمیر لکی مروت

﴿۱﴾ (پاره :۲۲ سورة الاحزاب آیت : ۳۳)

﴿۲﴾ (مشکواة المصابیح ص ۵۶۹ جلد ۲ باب مناقب اهل البیت)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین و سب احد من الصحابة و بغضه لا یکون کفرا لکن یضلل ...... و ترد شهادة من یظهر سب السلف لانه یکون ظاهر الفسق ...... و قال الزیلعی او یظهر سب السلف یعنی الصالحین منهم و هم الصحابة والتابعون الخ . (ردالمحتار ص ۳۲۱ جلد ۳ مطلب مهم فی حکم سب الشیخین)

الجواب: صحابه کرام رضي الله عنهم خپل موضوع جوړولو کښې د بې ادبئ خطره ده لهذا د دوی د موضوع جوړولو نه پرهیز کول پکار دی پاتې شوه د هغوی متعلق عقیده ساتل نو د ټولو مسلمانانو دا عقیده پکار ده چه صحابه کرام رضي الله عنهم اګر چه معصوم نه دی لیکن عادلان دی مطلب دا چه اول خو به ترینه ګناه کیدله نه او که ګناه به ترینه اوشوه نو سمدستی به ئې توبه ویستله او دا عقیده هم پکار ده چه په اجتهاد کښې خطائی کیدل د عدالت سره منافی نه دی والتفصیل فی کتب الکلام ﴿۱﴾ وهوالموفق

د صحابه کرام رضي الله عنهم نه علاوه بل چاسره رضي الله عنه وئیل

سوال: د صحابه کرامو نه علاوه چرته بل ولی او امام سره رضی الله عنه وئیل څنګه دی؟ ایا په دې کښې څه ګناه شته یا نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی :عبدالماجد طیب دواخان ټیکسلا....۱۹۷۲ء۱۳۱۷

الجواب: درضي الله عنه جمله د صحابه کرامو سره مخصوص نه ده، کما فی الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۶۵۹ جلد ۵ وکذا یجوز عکسه وهوالترحم للصحابة والترضی للتابعین ومن بعدهم. وهوالموفق.

د یزید د خلافت تحقیق

سوال: د یزید خلافت چه کومو صحابه کرامو رضي الله عنهم منلې دې که د هغوی نو مونه اولیکئ نو ډیره مهربانی به وی، دا رنګې د یزید حیثیت څه دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی : رضی بخاری جناح سټریټ سرګودها

﴿۱﴾ قال العلامه ملا علی قاری و لا نذکر احدا من اصحاب رسول الله ﷺ الا بخیر یعنی و ان صدر من بعضهم بعض ما هو فی الصورة شر فانه اما کان عن اجتهاد ولم یکن علی وجه فساد من اصرار و عناد بل کان رجوعهم عنه الی خیر میعاد بناء علی حسن الظن بهم و لقوله علیه الصلاة والسلام خیر القرون قرنی، ولقوله علیه الصلاة والسلام اذا ذکر اصحابی فامسکوا . و لذلک ذهب جمهور العلماء الی ان الصحابة رضی الله عنهم کلهم عدول قبل فتنة عثمان و علی وکذا بعدها و لقوله علیه الصلاة والسلام اصحابی کالنجوم بایهم اقتدیتم اهتدیتم . رواه الدارمی وابن عدی و غیرهما الخ

(شرح فقه الاکبر ص ۷۱ قبیل الکبیرة لا تخرج المؤمن عن الایمان)

الجواب: دلته په کتب خانه صرف البدایه والنهایه موجود ده په هغې کښې صرف د ابن عمر د طرف نه منل په نظر راغی او (خلیفة الرسول) چا هم نه دی منلې او یزید بن معاویه یو زوراور امیر وو، د هغه خلافت علی منهاج النبوت نه وو. وهو الموفق

د حضرت عمرفاروق ؓ په خپل ځوئ باندې د حد جاری کولو حقیقت

سوال: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! د سلام نه پس عرض دادې چه ماته یو سړی اووئیل چه حضرت عمر ؓ په خپل دور حکومت کښې خپل ځوئ ته د زنا په جرم کښې کوړې ولې اووهلې چه هغه د سزا طاقت نه لرلو نو ولې ئې هلاک کړو ایا دا د هغه خپل قانون وو یا په اسلام کښې داسې شته؟ نو ما ورته جواب ورکړو چه د زنا په بدله کښې ئې کوړې اوخوړلې تردې چه شهید شو لیکن هغه دا نه منی، نو ددې واقعې تفصیل او حقیقت څه دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: قاضی ارشد صاحب لندن... ۲۶/۱۲/۱۹۷۳ء

الجواب: محترم المقام وعلیکم السلام! دا قیصه چه حضرت عمر ؓ د مرګ نه پس هم په خپل ځوئ باندې حد جاری کړو موضوع او باطله ده، بې شکه د یو روایت نه ثابت دی چه حضرت عمر ؓ په خپل ځوئ باندې د شرابو څکلو حد جاری کړې وو او دهغې نه پس اتفاقاً هغه بیمار شو او د بیمارئ دوجې نه وفات شو.

فی الفوائد المجموعة ص ۲۰۳ حدیث ان عمر اقام الحد علی ولد له یکنیٰ اباشحمة بعد موته فی قصة طویلة موضوع وقد روی ان عبد الرحمن الاوسط من اولاد عمر ویکنی اباشحمة کان تمار بالمقر فشرب نبیذاً فجاء الیٰ عمرو بن العاص وقال اقم علی الحد فامتنع فقال الی اخبر ابی اذا قرمت علیه فضیر به الحد فی داره فکتب الیه عمر بلومه فقال اذا فعلت به ما تفعل بالمسلمین فلما جزم علی عرض به فاتفق انه مرض فمات. وهوالموفق

د (حق چار یار) مطلب او خلفائې راشدین

سوال: ایا حضرت حسن ؓ په خلافت راشده کښې داخل دې که نه؟ که داخل وی نو بیا د حق چار یار، نعرې لګولو څه مطلب دې؟ ځکه چه دا خو پنځه شول؟ بینوا توجروا

المستفتی: شیر محمد تله ګنګ ۱۰/۱۰/۱۹۷۸ء

الجواب: د حق چار یار دا مطلب نه دې چه د نورو حقدار و نه دې دهغوی حق واخستلې شی نو په دې سره د اهل بیت د خلافت راشده نه ویستل مرادنه دی.
قال علامه القاری فی شرح الفقه الاکبر ص ۵۴ و خلافة الحسن ابنه (علی رضی الله عنه) ستة اشهر واول ملوک المسلمین معاویة رضی الله عنه وهو افضلهم. ﴿۱﴾

د حضرت عمر ؓ په ځوئ باندې د مرګ نه پس هم د حد شرب والا قیصې زیات تحقیق

سوال: بعضې خلق د حضرت ابوشحمه ؓ واقعه داسې بیانوی چه هغه شراب څکلی وو، او په دغې حالت کښې ترینه زنا هم اوشوه د ښځې په دعوی سره ده د جرم اقرار اوکړو بیا حضرت عمر ؓ راوغوختلو او ۷۲ کوړې ئې ورته اولګولې لیکن د حد د پوره کیدلو نه مخکښې وفات شو او حضرت عمر ؓ د وفات نه پس هم کوړې اولګولې، نو ایا دا واقعه صحیح ده او حقیقت دې؟ حضرت شبلی نعمانی ؒ دا واقعه غلطه ګرځولې ده؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: شفیق الرحمن مدرس وامام مسجد ماړی خیل بهیر کنډ ۸ رمضان ۱۴۰۲ه

الجواب: په دې اثر کښې د متن د اضطراب د وجې نه ضعف پیدا شوی دې، او په کوړو باندې د مړکیدلو واقعه صاحب د (استیعاب) غلطه ګرځولې ده، او د مرګ نه پس د کوړو لګولو واقعه علامه ابن الجوزی ؒ په (فوائد مجموعه) کښې موضوع ګرځولې ده. وهوالموفق

د صحابه کرامو ؓ: امیر معاویه او حضرت علی رضي الله عنهما په باره کښې د اهل سنت والجماعت عقیده

سوال: د اهل سنت والجماعت بعضې خلق د یوې باطلې فرقې سره پاتې شول نو د امیرمعاویه په باره کښې وائی چه هغه لالچی سړی وو، هغه د حضرت علی ؓ او ال رسول ﷺ نه په جنګ باندې خلافت واخستلو، صحابه ئې شهیدان کړل، او دویمه ډله وائی چه مونږ هغه په خطاء باندې ګڼړو، هغه ته

﴿۱﴾ (شرح فقه الاکبر لملاعلی قاری ص ۶۸ افضل الناس بعده علیه السلام الخلفاء الاربعه)

امیر وئیل نه دی پکار، دریمه ډله وائی چه هغه په جلیل القدر صحابه کرامو کښې وی دهغه توهین کول ګمراهی ده، یو بله څلورمه ډله وائی چه ټول صحابه کرام او خصوصاً ابوبکر صدیق او حضرت عمر او حضرت عثمان (هما) لالچیان وو ځکه چه د خلافت په لالچ د حضور ﷺ جنازه هم روستو کړې شوې وه، ددې څلوار وارو ډلو متعلق څه حکم دې مدلل او عام پوهې والا جواب اولیکئ؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: غریب الله صاحب صوابی مردان ۱۹۸۵ء۱۲۱۱۰۱

الجواب: الله تعالی په سورة حدید کښې د صحابه کرام ؓ دوه قسمونه بیان کړی دی یو هغه چه د فتح مکې نه مخکښې مسلمانان شوی وو او د الله په لار کښې ئې مالونه خرچ کړل او جهاد ئې اوکړو، دویم قسم هغه دی چه روستو مسلمانان شول بیا فرمائی، وکلا وعدالله الحسنی ﴿۱﴾ یعنې د دواړو ډلو سره الله تعالی د نیکئ وعده اوکړه، اوفرمائی اولئک عنها مبعدون ﴿۲﴾ هغوی د جهنم نه لرې کړې شول لا یسمعون حسیسها ﴿۳﴾ دهغې یو کمزوری غوندې اواز به هم نه اوری وهم فی ما اشتهت انفسهم خالدون، لا یحزنهم الفزع الاکبر. ﴿۴﴾ دقیامت دهغه سخته ویره به ئې غمژن نکړی، وتتلقهم الملائکة ﴿۵﴾ فرشتې به ئې استقبال کوی. هذا یومکم الذی کنتم توعدون ﴿۶﴾ چه هم دا ستاسو هغه ورځ ده چه تاسو سره ئې وعده شوې وه، د رسول الله ﷺ دهر صحابی داسې شان الله تعالی ښودلې دې نو څوک چه په یو صحابی پسې بدې ردې وائی هغه د الله تعالی چه قهار ذات دې تکذیب کوی او د هغوی په بعضې معاملات چه اکثر د هغې قیصې دروغ دی د الله تعالی د وینا په مقابله کښې پیش کوی د اسلام کار نه دې الله تعالی په دې ایت کښې د هغې خله هم بنده کړیده والله بما تعملون خبیر. او الله تعالی ته ښه معلوم دی چه تاسو څه کوئ او په (باهم) کښې ئې ټولو صحابه کرامو سره د خیر وعده کړیده که ددې نه پس هم څوک څه وائی نو خپل سر دې خوری او جهنم ته به ځی.

علامه شهاب الدین خفاجی نسیم الریاض شرح شفا للقاضی عیاض کښې فرمائی ومن یکون یطعن فی معاویة فذالک کلب من کلاب الهاویة. څوک چه په

﴿۱﴾ (پاره: ۲۷ سورة الحدید آیت: ۱۰)
﴿۲﴾ (پاره: ۱۷ سورة الانبیاء آیت: ۱۰۱)
﴿۳﴾ (پاره: ۱۷ سورة الانبیاء آیت: ۱۰۲)
﴿۴﴾ (پاره: ۱۷ سورة الانبیاء آیت: ۱۰۳)
﴿۵﴾ ایضا
﴿۶﴾ ایضا

امیر معاویه ؓ باندې لعن طعن کوی هغه د جهنم د سپو نه یو سپې دې، په دې ډلو کښې د دریمې ډلې قول صحیح دې. اولنئ او دویمه ډله دروغژن دی، او څلورمه ډله د ټولونه خبیثه او د رافضیانو شیعه ګانو ډله ده. د امام مقررول د هرکار نه اهم دی، ﴿۱﴾ د دنیا او دین ټول انتظامات ددې سره متعلق دی او که د حضور ﷺ جنازه مبارکه که ترقیامته پورې پرته وې نو هم څه خلل پکښې نه راتللو د پیغمبرانو بدنونه نه خرابیږی، حضرت سلیمان ؑ د مرګ نه پس یو کال پورې ولاړ وو، یو کال پس دفن شو او جنازه مبارکه د ام المومنین حضرت عائشه ؓ په حجره کښې وه کوم ځائ کښې چه ئې اوس مزار دې ددینه بهرته وړل پکښې نه وو، ورکوټې کمره وه. او ټولو صحابه کرامو دا جنازه کول یو یو جماعت به راتللو جنازه به ئې کوله او بهر به تلل دویم جماعت به راتللو تر اخره داسې اوشو، درې ورځو پورې دا سلسله جاری وه د د ابلیس په نزد که دا د لالچ سبب وې نو د ټولو نه سخت ترین الزام به په امیر المومنین حضرت علی ؓ باندې وو او هغه لالچی نه وو، دا اعتراض ملعون دې او جنازه مبارکه نه دفن کول هم مصلحت وو، وهو الموفق

د صحابه کرامو ؓ د ورځو مناوهلو مطالبې وغیره

سوال: (۱) د صحابه کرامو ؓ ورځې دې په سرکاری طریقې سره مناؤ کړئ شی او حکومت دې د هغوی سیرت ښور کړی چه خلق د صحابه کرامو ؓ د عظمت نه خبر شی؟ (۲) د صحابه کرامو ؓ د دشمنانو په مقابله کښې د صحابه کرامو ؓ ورځې مناوول پکار دی چه مسلمانان د باطلو عقیدو نه بچ شی؟ (۳) د شیعه ګانو د تعزیر بردار (جلوس) په مقابله کښې د صحابؤ په یاد کښې جلوس ویستل پکار دی چه د شیعه ګانو زور کم شی، د شریعت په رنړا سره دا اقدامات کول څنګه دی؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: محمد عبدالقادر ډیروی درسګاه نیازیه بلاک سی ډیره غازی خان ۱۳ رمضان ۱۴۰۹ھ

الجواب: (۱) دا موقف نه مطلوب شرعی دې او نه ممنوع شرعی دې، البته د مصلحت نه خالی نه دې. (۳) (۲) لنا العزی ولا عزی لکم په جواب کښې لنا مولی ولا مولی لکم ﴿۲﴾ او سود الله وجهه په مقابله کښې کرم الله وجهه نعره لګول د بیدار مناظرینو ډیر ښه اقدام دې. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامه عبدالعزیز الفرهاری ثم الاجماع علی ان نصب الامام واجب ارادا جماع اهل السنة و الشیعة و المعتزلة لا اهل السنة فقط ...... و انما الخلاف فی انه یجب علی الله تعالی ...... او علی الخلق ...... انه یجب لقوله علیه الصلاة والسلام من مات و لم یعرف امام زمانه فقد مات میتة جاهلیة. (النبراس شرح شرح العقائد ص ۳۱۰ نصب الامام واجب)
﴿۲﴾ رواه صحیح البخاری ص ۵۷۹ جلد ۲ باب غزوة احد)

قال الله تعالیٰ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

اَطِيْعُوا اللّٰهَ

وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ

وَاُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ ۚ

(الآية)

باب

ما يتعلق

بالائمة

والعلماء

باب ما یتعلق بالائمة والعلماء

د شاه اسماعیل شهید ولی الله، عالم دین او مجاهد فی سبیل الله کیدل د انکار قابل نه دی

سوال: علمائي دین دې سوال باره کښې څه فرمائی چه مولوی محمد اسماعیل شهید چه د بالاکوټ په مقام کښې د شیعه ګانو سره په مقابله کښې شهید شوې وو ایا دې واقعی عالم دین او د الله تعالی ولی وو؟ او دده (تقویة الایمان) لیکلې شوې څنګه کتاب دې، براه کرم جواب راکړئ او صحیح حالاتو نه مو خبردار کړئ.

المستفتی: رضوان الله بنک سکوائر روډ باړه بازار راولپنډی ۴ محرم ۱۴۰۵ھ

الجواب: د حضرت شاه محمد اسماعیل شهید رحمه الله عالم باعمل او کامل ولی کیدل او مجاهد فی سبیل الله کیدل ناقابل انکار دی او دده کارونو د پاره حنفیت او شافعیت شرط نه دې او ما ډیره موده مخکښې (تقویة الایمان) مطالعه کړې وو، لهذا څه دده کتاب د اجمالی صحت او صواب کیدلو نه علاوه د نور تفصیلاتو د بیان نه قاصر یم (۱) وهو الموفق

د ابن تیمیه په باره کښې د ابن بطوطه تاریخی واقعه

سوال: په یو کتاب (سفرنامه ابن بطوطه حنبلی) کښې ابن بطوطه په سفرنامه کښې لیکی چه یو عالم تقی الدین ابن تیمیه په دمشق کښې وو لیکن د هغه په دماغو کښې څه فرق وو هغه یوه ورځ تقریر اوکړو نورو فقهاء رد کړو، او هغوی د سلطان خواله لاړل ابن تیمیه ئې یو څو کالو پورې قید کړو، د قید په زمانه کښې هغه په شپیتو (۲۰) جلدونو کښې د قران پاک تفسیر اولیکلو، بیا خلاص شو نو داسې بیان ئې بیا ورکړو او ابن بطوطه په دمشق کښې د ابن تیمیه بیان واوریدلو، الله تعالی د اسمان نه ځمونږ دنیا ته داسې راکوزیږی

(۱) علامه رشید احمد ګنګوهی رحمه الله فرمائیلی دی د اسماعیل شهید تالیف تقویة الایمان ډیر ښه کتاب دې او د ایمان مضبوطیا او اصلاح کوی، او د قرآن او حدیث پوره مطلب پکښې دې، دده مؤلف شاه اسماعیل شهید یو مقبول بنده وو. هغه ته چه څوک کافر وائی هغه پخپله شیطان او د حق تعالیٰ ملعون دې. (فتاوی رشیدیه کتاب الایمان والکفر)

لکه څه چه جسمانی طور سره لاندې راکوزیږم، دائې اووئیل او د منبر نه یوه پوړۍ لاندې راکوز شو، یو مالکی عالم په دې باندې اعتراض اوکړو خلقو هغه مالکی عالم اووهلو، خلقو اونیولو او حنبلی قاضی خواله ئې بوتلو هغه ئې قید کړو نورو خلقو مسلمان قاضی ته رپورټ اوکړو نو سلطان ترمرګه پورې ابن تیمیه نظر بند کړو... نو ایا ابن تیمیه غوندې عالم په تقریر کښې داسې خبرې کولې شی کومې چه ده ته منسوب شوې دی؟ ایا داسې خبرې چرته بل ځائې کښې منقول دی؟ د ابن تیمیه دده تقریر په صداقت او بهتان باندې به څنګه سرې پوهه شی؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: محمد اختر 973G اسلام اباد... ۱۴ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: په تاریخ کښې لیکلې شوی واقعات دغور قابلې وی، کله کله ورسره سندونه نه وی ذکر شوی او کله داوی چه سندونه ئې معلول او ضعیف وی، او کله دا د حکومت په چاپلوسۍ او سیاسی اغراضو باندې مشتمل وی نو بس د تاریخ (کتابونو په وجه باندې د چا په باره کښې نیک ګمانه او بدګمانه کیدل د یقین په مرتبه کښې قابل اعتراض دی. بهرحال ابن تیمیه نورو علماؤ هم د (مجسمه) ډلې نه شمار کړی دی، فلیراجع الی شروح شرح العقائد النسفیه. او دده واقعې په وجه باندې د مجسمه نه شمار کول صحیح نه دی.

اما اولا فلعدم ثبوتها بسند صالح و اما ثانیا فلانه قائل بعدم تشبیه ای الله تعالیٰ جسم لاکسائر الاجسام فلعله اراد انه ینزل لاکنزول الاجسام و بالجملة انه اراد النزول معلول و معهود و عرض علی من قال ان المراد منه نزول الملک و الرحمة.

نوټ: د ابن تیمیه نه ډیر داسې اصول او فروع نقل دی چه هغه مردود دی.

د ادم علیه السلام د پیدائش موده

سوال: حضرت ادم علیه السلام د نن نه څومره موده مخکښې تیر شوې دې د اثار قدیمه ماهرین د ډانچو او هډوکو نه ثابتوی چه د انسان تخلیق څو لاکهه کاله مخکښې شوې دې ایا دا صحیح دی؟ که د ادم علیه السلام د پیدا کیدلو لس زره کاله شوی وی نو دا هډوکی د کومې زمانې پورې صحیح کیدې شی؟ ایا د مرزا غلام احمد قادیانی د قول مطابق د ادم علیه السلام نه علاوه بل ادم تیر شوې دې او که نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: قاری احمد سعید جامع مسجد ستی بنک مری ۱۴ رمضان ۱۴۰۵ هجری

الجواب: حضرت ادم علیه السلام چه اولني انسان او اولني پیغمبر دي دهغه متعلق هم څه نص نشته چه څومره موده مخکښې تیر شوې دي او نه د موجوده زماني د محققینو اندازه منل څۀ اصولی خبره ده اود اسلام د دشمنانو د پروپیګنډې نه متاثر کیدل هم د مسلمانانو شان نه دي نو مونږ ته د قادیانی او پرویزی د متعدد ادم کیدلو د رائې ضرورت نشته اونه ددغې محققینو په قول او خیال باندې چپ کیدل څه نقصان کوی. وهو الموفق

د امام ابوحنیفه د قصیدې ماخذ او امام ابوحنیفه ته نسبت

سوال: مفتیان عظام دې باره کښې څه فرمائی چه د مولانا عبد الحکیم ولد مولانا عبد الحئ لکهنوی دنور الایمان کتاب په اخر کښې امام ابوحنیفه رحمه الله د نبی علیه السلام په شان کښې یوه مفصله قصیده لیکلې ده چه د هغې د اشعار شمار ۵۳ دي.

اولني شعر: یا سید السادات جئتک قاصدا...... ارجو رضاک واحتمی بحماک

آخری شعر: وهی صحابتک الکرام جمیعهم.......و التابعین و کل من والاک

او د (السیف المبیر علی اتباع ملابنج بیر لحمدالله الداجوی په اخیره کښې هم دا قصیده لیکلې شوې ده لیکن هغوی دا حواله نه ده ورکړې چه ددې قصیدې ماخذ څه دي؟ مهرباني اوکړئ دا اوښایئ چه یقیناً دا د امام ابو حنیفه رحمه الله قصیده ده اود کوم کتاب نه نقل شوې ده؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: سید غلام قیس نعمانی مرهنی رسالپور نوشهره..۱۹۶۹ء/۵/۱۰

الجواب: ددې قصیدې ماخذ ماته معلوم نه دي او ماخذ معلومول ضروری هم نه دي ځکه چه دا قصیده په چا باندې حجت نه دي او په دې قصیده کښې د حقیقت نه څه مخالف څیز نشته نو د نجدیت مخالف څیزونه په کښې شته. لهذا امام الائمه طرف ته ئې نسبت کول څه لرې خبره نه ده.

علماء دیوبند او د ابن تیمیه تفردات

سوال: ایا ابن تیمیه واقعی د الله تعالی د جسمیت او د عرش د قدیم والی قائل دي؟ که نه وی نو فیض الباری جلد څلورم کښې الله تعالی ته د جهت نسبت کول او د عرش د قدیم والی به د ابن تیمیه په باره کښې څه مفهوم وی، حالانکه اکثر علمائې دیوبند او ملا علی قاری رحمه الله په جمع الوسائل

کښې د هغه تعریف کوی؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: عبد الباری حقانی بلوچستان شریک دوره حدیث دار العلوم حقانیه اکوړه ختک..۱۹۸۵ء/۱۱/۱۲

الجواب: ملا علی قاری او د دیوبند ټول اکابرین د ابن تیمیه په تفرداتو باندې رد کوی او د هغه په عالم او حافظ کیدلو کښې دچا شک نشته، ابن تیمیه په الله تعالی باندې د جسم اطلاق جائز ګرځولې دي البته د لاکسائر الاجسام په تعبیر سره ئې څه سهاره اخستلې ده، او د عرش متعلق ئې دا وئیلي دی کان الله ولم یکن شئ وکان عرشه علی الماء،، اوپه لم یکن شئ کښې عرش داخل نه دي ځکه نو هغه به هم مخلوق وی، والتفصیل فی فتاواه فلیراجع الیها، وهو الموفق

د امام ابوحنیفه رحمه الله نه روایت شوی احادیث او مسند امام اعظم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی، چه زید وائی چه امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله ته د دولس دیارلس حدیثونو نه زیات علم نه وو، ایا واقعتاً هم داسې خبره ده؟ د امام صاحب داسې توهین کول د کومو خلقو عادت دي؟ د داسې سړی پسې دحنفی مسلمان مونځ صحیح دي که نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: فضل الرحمن جے بلاک رسالپور نوشهره... ۱۹۷۲ء/۶/۲۳

الجواب: د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله نه صرف په ظاهر الروایة کښې په سلګونو مسئلې روایت شوی دی، چه په هغې کښې د حدیث نه استدلال کړئ شوی دي او د مخالف د حدیث جواب ئې ورکړې دي دا رنګې د امام ابوحنیفه رحمه الله مسند هم موجود دي(۱)

(۱) و اما تالیفاته فکثیرة کما یشیر الیه ما رواه الحافظ الذهبی عن عبدالعزیز الدراوردی. کان مالک ینظر فی کتب ابی حنیفة و ینتفع بها منها کتاب الاثار. قال السیوطی فی تبیض الصحیفة انه اول کتاب دون علی الابواب الفقهیة و هکذا ذکر الموفق المکی فی مناقب ابی حنیفة و ذکر ایضا انتخب ابو حنیفة الاثار من اربعین الف حدیث انتهی و له نسخ نسخة الامام ابی یوسف و نسخة الامام محمد و نسخة الامام زفر و فی مقدمة عمدة الرعایة و اما تصانیف ابی حنیفة فذکروا منها الفقه الاکبر و کتاب الوصیة و کتاب العالم و المتعلم و غیر ذلک انتهی و اما مسند ابی حنیفة فلیس من تالیفاته بل هو مروياته التی جمعها المحدثون مثل ابی نعیم الاصفهانی و الحافظ ابن عساکر و الحافظ ابن منده و غیرهم. بلغ عدده الی عشرین مسندا ثم جمع العلامة الخوارزمی کلها فی تالیف واحد سماه جامع مسانید الامام الاعظم ...... وما نقله ابن خلدون عن بعض الناس ان ابا حنیفة لم یحفظ الا سبعة عشر حدیثا. قلنا هذا افتراء بلا امتراء کیف و انه مجتهد وفاقا و تلمذ علی اربعة الاف شیوخ و الف کتاب الاثار و انتخبه من اربعین الف حدیث و جمعت مروياته فی المسانید و تمسک بالاحادیث و اجاب عن احادیث الخصم فافهم و حقیقة الامر انه کان الغالب علیه الاستنباط و فقه القرآن و الحدیث ولا یسرد الاحادیث کسرد اهل الحدیث فلم یرو عنه من کان طالب الالفاظ دون الفقه. (البشری لارباب الفتوی ص ۲۸، ۳۱)

نو ددې باوجود د زید خبره څنګه صحیح کیدې شي، داسړې غالباً اهل حدیث معلومیږي که ډیر د حدنه تجاور کونکي نه وي نو مونږ ورپسې کیږي، وهو الموفق

د سیدعلی ترمذی پیر بابا رحمه الله د قبر حرکت کول د نظر دهوکه ده

سوال: اوریدلي مودي چه د پیر باباسید علی ترمذی رحمه الله قبرحرکت کوی بالکل داسې لکه د سړي خیټه چه د ساه اخستلو په وخت کښې بره لاندې کیږي، څوک وائی چه دلته دا د زنا په وجه باندې کیږي څوک وائی دې کښې بارود دی څوک وائی دا دقیامت علامه ده، تاسو دشرعی حکم نه مونږ خبر کړئ؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: سیف الرحمن هائی سکول ډګرسوات...۲۳/۸/۱۹۷۲ء

الجواب: زه وائم چه دا قبر هیڅ حرکت نه کوی کیدې شي چا د نظر د دهوکې د وجې نه داسې محسوس کړې وی، فقط.

د سطیح واقعه په هدایه والنهایه کښې شته

سوال: د سطیح څه مطلب دې یو عالم وئیلی دی چه سطیح یو ساحر او نجومی سړې وو او د ټولو نجومیانو استاذ وو یا هغه صرف یوه ټکره وه؟ بالکل هډوکي پکښې نه وو څکه چه هغه د ښځو د میل میلاپ نه پیدا شوې وو نو ایا د دوه ښځو د ملاویدلو نه بچې پیدا کیږي؟ ددې قیصې حقیقت څه دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: بشیر احمد کمال پارهوتی مردان...۲۴/۸/۱۹۷۵ء

الجواب: محترم المقام.. د سطیح واقعه علامه ابن کثیر رحمه الله په البدایة والنهایة کښې لیکلې ده، لیکن د کتاب د عدم موجودګئ په وجه باندې څه د وضاحت نه قاصر یم، والله اعلم

د امام ابوحنیفه رحمه الله په رمضان کښې ۶۲ څلې ختم قران کول

سوال: ایا واقعی به امام ابوحنیفه رحمه الله په رمضان کښې ۶۱ څلې ختم قران کولو؟ که صحیح وی نو دلیل اوښایئ؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: حافظ عبدالمؤمن جانګ قاضی اباد صوابی مردان ۲ ذی قعده ۱۴۰۲هجری

الجواب: ابن حجر مکی په (الخیرات الحسان) کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله د عبادت په باب کښې ۶۲ څلې د قران د ختم کولو ذکر کړې دې (۱) فلیراجع

امام ابوحنیفه رحمه الله او د حدیثو روایت کول

سوال: (۱) په صحاح سته کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله نه احادیث ولې نه دی نقل شوی؟ حال دادې چه د نورو امامانو نه حدیثونه نقل شوی دی؟ (۲) د امام ابوحنیفه رحمه الله څرته صحابی سره ملاقات شوې دې که نه؟ وضاحت اوکړئ.

المستفتی: حافظ نوراحمد الدین ټوپی مردان...۲۸/۱۱/۱۹۸۲ء

الجواب: (۱) امام ابوحنیفه رحمه الله به د حدیثو الفاظ رسول کم کول اکثر به ئې استنباط او استخراج کولو (۲) ددې وجې نه د الفاظ حدیث روایت کونکی کم دی، د سرد الحدیث، مثال داسې دې چه یو سیر سرۀ زر پرله پسې په هدیه کښې ورکړې، او د استنباط مثال دادې چه سړې د سیر سروزرو نه ګړئ (ګهړئ) جوړې کړی او هدیه کښې ئې ورکړی،

(۲) امام ابوحنیفه رحمه الله حضرت انس رضی الله عنه ډیر څله لیدلې دې (۳) وهو الموفق

د ابن تیمیه او ابن قیم متعلق د اعتدال رویه

سوال: بعضې کتابونو لکه صاوی وغیره په ابن تیمیه او ابن قیم باندې سخت رد کړې دې او بعضې کتابونو لکه فیض الباری وغیره د هغوی تعریف کړې دې نو د دوی متعلق څه رویه اختیارول پکار دی، تفصیل بیان کړئ؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: محمد علی نتهیاسنګهـ سټریټ مسجد روډ کوئټه...۲۱/۵/۱۹۸۴ء

الجواب: د ابن تیمیه متعلق اعدل الاقوال هغه دی کوم چه امام ذهبی په (تذکره) کښې ذکر کړې دی. ملخصه انه حافظ عالم بارع ماهر فی علم القران والحدیث بلغ رتبة الاجتهاد لاکن لااصولا ولافروعا تفردها وخالفناه فیها، وهو الموفق.

---

(۱) علامه ذهبی رحمه الله اوفرمائیل چه دشپې تهجد د دپاره اودریدل او عبادت کول د دوی نه تواتر سره ثابت دی... په یو یو رکعت کښې به ئې یو قرآن شریف ختمولو، کوم ځائې چه دوی وفات شول هلته ئې اویا زره ځل قرآن شریف ختم کړې وو... امام ابویوسف رحمه الله اوفرمائیل چه هره شپه ورځ به ئې یو قرآن ختمولو، او د رمضان نه ترد اختروړځې پورې به ئې دوه شپیته ختمونه کول (جواهرالبیان ترجمه الخیرات الحسان لابن حجرمکی ص ۸۱، ۸۲، الفصل الرابع عشر ....

(باقی حاشیه په راروانه صفحه)

مولانا نصیرالدین غورغشتوی یوصالح عالم دین وو

سوال: د یو جماعت امام صاحب دي چه کله ئي د شیخ الحدیث حضرت مولانانصیرالدین غورغشتوی د وفات خبرواوریدلونو وئیل ئي ډیر ښه اوشو چه یو بدعتی مړشو، ایا واقعی مولانا صاحب بدعتی وو، که نه وي نو یو داسې مولوی چه د دیوبندیت دعوی کوی او یو داسې لوئي عالم دین ته بدعتی وائی نو مونږ ورپسې صحیح دي که نه؟

المستفتی: حکیم عبدالرزاق هری پورهزاره...۲۹،۱۳،۱۹۸۱ء

الجواب: دا امام نیکانو ته د کنځلو په وجه باندې فاسق دې ﴿۱﴾ ده پسې اقتدا کول مکروه تحریمی ده.

مولاناغلام الله خان صاحب دیوبندی وو او د مبتدعینو د پاره سیف صارم وو

سوال: څمونږ کلی ته یو مولانا د تقریر کولو دپاره راغي هغه وئیل ما اوریدلی دی چه ددې کلی څه خلق د پنډي مولانا غلام الله خان د تقریر دپاره راغواړی حال دا چه د مولانا غلام الله خان عقیده باطله ده هغه یو طاغوتی سړې دې هغه واجب القتل دې که هغه دلته د تقریر دپاره راشی نو په ګولئ ویشتل پکاردی هغه ته خو صحیح قران لوستل هم نه ورځی هغه د خر د اواز په شان قران لولی؟ ددې واعظ د بیان متعلق وضاحت مطلوب دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی :مولانا غلام یحیٰ پنډی ګهیپ...۱۲۲جولائی ۱۹۷۵ء

الجواب: د مولانا غلام الله خان صاحب عقائد د علمائي دیوبند (اهل سنت

(بقیه حاشیه) ﴿۲﴾ قال ابن عابدین و الظاهر ان سبب عدم سماعه ممن ادرکه من الصحابة انه اول امره اشتغل با لاکتساب حتی ارشده الشعبی لما رأی من با هر نجا بته الی الاشتغال با لعلم و لا یسع من له ادنی المام یعلم الحدیث خلاف ما ذکرته. (ردالمحتار ص ۴۷ جلد ۱ مقدمه مطلب فی ما اختلف فیه من روایة الامام عن بعض الصحابه)

﴿۳﴾ قال الحافظ ابن کثیر انه ادرک عصر الصحابة ورای انس بن مالک قیل وغیره و ذکر بعضهم انه روی عن سبعة من الصحابة .(البداية و النهاية ص ۱۳۷ جلد ۱۰ الامام ابو حنيفه)

[حاشیه صفحه هذا] ﴿۱﴾ مولانا نصیرالدین غورغشتوی مضبوط حنفی اودیوبندی عالم وو په صوبه سرحد کښې دعلم حدیث ړومبي استاذوو ،په دې وجه ورته دصوبه سرحد او پښتون قوم شاه ولي الله وئیلې شی.ډیرمتقی، صالح، دخدائې مقرب بزرګ اود ستو یوه نمونه وه، دظاهری اوباطنی علوموسمندرو ،دمولانا قمرالدین اومولانا حسین علی میاں والی په قابلو شاګردانو کښې وو. (ازمرتب)

والجماعت) موافق دی، او بهرحال هغه د مبتدعینو دپاره سیف صارم دې هغه ته، خر،، وئیل یا واجب القتل ګرځول پخپله واجب التعزیر دې، پس دا مقرر او واعظ چرته بدعتی دې دده تقریر اوریدل حرام دی.فقط

مولانا حمدالله ډاګئ اهل السنت والجماعت کښې دې

سوال: بعضې خلق مولانا حمد الله جان صاحب ته د شرک او بدعت نسبت کوی تاسو وضاحت اوکړئ چه ایا واقعی هغه مشرک دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: عبدالرحمن جامع مسجد مکیه فقیراباد پشاور۱۱۹ربیع الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: مولانا حمدالله جان ډاګئ صاحب د سلفیانو او مخالفینو ډلې په نزد باندې مشرک دې او دیوبندیانو په نزد مسلمان او اهل السنت والجماعت کښې دې.

د مولانا حسین علی او مولانا غلام الله خان صاحب نه دوره تفسیر کول

سوال: مولانا حسین علی صاحب او مولانا غلام الله خان صاحب دیوبندیان دی که نه؟ او دهغوی نه دوره تفسیر کول پکار دی که نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی :قائم دین ډهوک زمان میاں والی...۱۹۷۸،۱۷،۲۳ء

الجواب: مولانا حسین علی رحمه الله او مولانا غلام الله خان صاحب حنفی دیوبندی مسلک والا علمائي کرام دی، که په پنجاب کښې دا حضرات نه وې نو عوامو به شرک او بدعات اسلام او حنفیت ګرځولې وو. وهوالموفق

مولانا رشید احمد ګنګوهی، مولانا محمد الیاس، مولانا تهانوی رحمهم الله **پاخه مسلمانان دی او اهل سنت والجماعت دی**

سوال: یو کتاب وو تبلیغی جماعت زلزله او مناظره بریلی، چه راشد القادری لیکلې دې هغې کښې دی چه د تبلیغی جماعت مشران مولانا الیاس، مولانا رشید احمد ګنګوهی او مولانا تهانوی رحمهم الله د حضور ﷺ په شان نازیبا الفاظ استعمال کړی دی نو دا بدعقیده دی، او په دوی باندې د کفر فتوی ده، ددې متعلق ستاسو حضراتو څه خیال دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی :اهالیان اسپنړدیر...۱۹۷۵،۱۰،۱۱،۱۱ء

الجواب: مولانا رشید احمد گنگوهی، مولانا محمد الیاس او مولانا تهانوی رحمهم الله پاخه مسلمانان دی او ددین درد لرلو والا اهل السنت والجماعت دی د اسلام په داسې عظیم داعیانو باندې د کفر فتوی لګولو والا جاهل یا متجاهل دي.

مفتی محمود او غلام غوث هزاروی وغیره علمائې کرامو ته کنځل کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو کلی کښې بعضې خلق د مولانامفتی محمود صاحب او مولانا غلام غوث هزاروی او د جمیعت علمائې اسلام نورو اکابرینو پسې کنځلې او بدې وینا ګانې کوی او ډیرې ګنده خبرې ورپسې کوی نو د داسې خلقو شرعی حکم څه دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: رحمان الدین مهمندی ۱۲ صفر ۱۳۹۲ هجری

الجواب: د مسلمان ګستاخی کول فسق دې، لحدیث رواه مسلم: سباب المسلم فسوق ﴿۱﴾ او د علماؤ په ګستاخئ کښې د کفر خطره ده چه بنیادئ ذاتیات نه وی فی الهندیه ویخاف علیه الکفر اذا شتم عالما اوفقیها من غیر سبب.﴿۲﴾ وهو الموفق

د مولانا محمد طاهر پنج پیری سیاسی مسلک

سوال: د مولانا محمد طاهر پینج پیری ضلع مردان صوبه سرحد څه عقیده ده، او هغه د کوم مذهب سره تعلق لری او دده مسلک د علمائې دیوبند سره موافق دې که مخالف او د جمیعت علمائې اسلام سره ئې اتحاد شته که نه؟ که نه وی نو د کوم جمیعت سره تعلق لری؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: محمد عبدالغفور نرول دروازه ډی ائی خان. ۱۹۷۲ء ۱۱۷۱

الجواب: مولوی محمد طاهر د حنفیت په لباس کښې د نجدیت اشاعت کوی د جمیعت سره ئې د مودودیانو په شان افتراق دې. وهو الموفق

﴿۱﴾ (صحیح البخاری ص ۱۲ جلد ۲ کتاب الایمان باب خوف المؤمن من ان یحبط عمله و هو لا یشعر)

﴿۲﴾ (فتاوی عالمگیری ص ۲۷۰ جلد ۲ و منها ما یتعلق با لعلم و العلماء مطلب فی موجبات الکفر)

باب ما یتعلق بالافلاک

...

قال الله تعالیٰ

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِیَ فِی الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ ۝٣٢ وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآىِٕبَیْنِ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ ۝٣٣ (الآية)

....

باب ما یتعلق بالافلاک

سپوږمۍ ته ختل د قرانی نصوصو مخالف نه دی

سوال: علمائي کرام په لاندینۍ مسئله کښې څه فرمائی!

حامداً ومصلیاً ومسلماً: د قران کریم د ډیرو ایتونونه په صراحت سره معلومه ده چه سپوږمۍ په دې اولنی اسمان کښې ده لکه الله تعالی په سورة فرقان کښې فرمائی: تبارک الذی جعل فی السماء بروجا وجعل فیها سراجا وقمرا منیرا. وسورة یس: وکل فی فلک یسبحون. وسورة نوح: وجعل القمر فیهن نورا. وسورة یونس: والقمر نورا. دا قسمه ډیر قرانی ایتونه صریح دلالت کوی چه سپوږمۍ په اسمان کښې ده په تفسیرصاوی کښې دی. اعلم ان القمر فی سماء الدنیا اتفاقا والشمس فی الرابعة ووجهها مما یلی السماء وقفا مهما مما یلی الارض. (تفسیرصاوی برجلالین) مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه په خپل تفسیر کښې لیکی چه د ټولو قرانی نصوصونه معلومه ده چه سپوږمۍ په دې دنیا والا اسمان کښې ده ځکه چه د (فی) حرف په لغت عربی او اصولو او معانی کښې د (ظرفیت) دپاره مقرره دی نو ترڅوپورې د قران او صحیح حدیث نه قطعی دلیل پیدا نشی چه سپوږمۍ په زمکه کښې ده ترهغې پورې ځمونږ ایمان او عمل دې چه سپوږمۍ په اسمان کښې ده په زمکه کښې نشته، په تفسیر مدارک کښې د حضرت عبدالله بن عباس او عبدالله بن عمر رضی الله عنهم نه روایات دی چه سپوږمۍ په اسمانی دنیا کښې ده او عام مفسرین هم د فلک، ترجمه په اسمان سره کوی، دا یو څو دلیلونه مود نمونې دپاره اولیکل کیدې شی د شکوکو لرې کیدو دپاره کافی شی. بله مسئله دا ده چه انسی او جنی شیطانان د اسمان ختلو نه بند دی، او په دې خبره باندې قران ګواه دې، نو که د قران پاک د دلیلونو او د مفسرینو او صحابه کرامو د اقوالو د وضاحت نه پس هم یو سړې اووایی چه دامریکې عیسایان سپوږمۍ ته ختلې دی یا ختلې شی، نو دغه سړې خو به خالص جاهل او ګمراه وی بلکه ظاهراً د قران پاک د نصوصونه منکر معلومیږی او دقران پاک د ایتونونه انکار بدبختی ده او د همیشه عذاب باعث دې. والسلام

المستفتی: ماسټر عبدالکریم شبقدر فورټ چارسده پشاور... ۱۹۶۹ء۱۸۱۹۱

الجواب: واضحه دي وى چه په قران او حديث كښې لفظ د (فى) استعمال شوې چه د ظرفيت دپاره دې برابره خبره ده چه دا ظرفيت واقعى او يقينى وى يا صرف ظاهرى په نظر سره وى لكه چه په. وجدها تغرب فى عين حمئة ﴿۱﴾ كښې راغلې دى. او دا خبره چه سپوږمۍ په اسمان اول كښې دننه ده دقران او حديث نه ثابته نه ده او نه په دې خبره باندې څه دليل شته دې صرح به العلامة الالوسى فى تفسيره (ص۱۴۵ جلد۲۸) بلكه د يونان د فلسفيانو نظريه ده چه د تفسير په كتابونو كښې پرې اعتماد كړې شوې دې او په دې باندې د علماؤ اتفاق هم نشته ځكه چه د اكثرو مفسرينو په نزد ستورى او سپوږمۍ د اسمان نه لاندې دى. صرح به العلامة الالوسى فى تفسيرسورة انبياء وسورة يس) اودا حقيقت د قران او حديث نه ښكاره دې چه كافران په اسمان كښې داخليدې نشى قال الله تعالى لاتفتح لهم ابواب السماء ﴿۲﴾ لهذا كه سپوږمۍ په اسمان كښې دننه وى نو كافران ورته نشى ختلې او كه د اسمان نه لاندې وى نو ختلې شى ورته، او كه په معتمد ذريعو سره معلومه شوه چه امريكى كافران سپوږمۍ ته ختلى دى نوددې خبرې منلو كښې ايمانى حكمت ته هيڅ نقصان نشته بلكه يونانى حكمت (د آسمان په وجود كښې دننه والى نظريه) به غلط ثابت شى، فقط.

د نمر حركت او د عرش د لاندې سجده كول

سوال: عن ابى ذر قال قال رسول الله ﷺ حين غربت الشمس اتدرى اين تذهب هذه قلت الله و رسو له اعلم قال فانها تذهب حتى تسجد تحت العرش فتستأذن فيؤذن لها و يو شك ان تسجد ولا تقبل منها و تستأذن ولا يؤذن لها ويقال لها ارجعى من حيث فتطلع من مغربها وذلك قوله تعالىٰ والشمس تجرى لمستقرلها قال مستقرها تحت العرش. متفق عليه (باب علامات الساعة مشكوٰة شريف)

د جديد نظرياتو مطابق نمر د زمكې په مقابله كښې ولاړ دې او دا نمر پريوتل او راختل د زمكې د ګردش په وجه باندې دى د نمر د ګردش په وجه نه دى، نمر د زمكې په نيم مخ هروخت پرقيږى او باقى باندې شپه وى يعنې نمر د ټولې زمكې نه په يو وخت كښې چرته هم نه غائبيږى، يعنې خامخا هم داسې

﴿۱﴾ (پاره :۱۶ سوره كهف ركوع :۲ آيت :۸۶)

﴿۲﴾ (پاره: ۸ سورة الاعراف ركوع :۱۲ آيت: ۴۰)

هميشه د زمكې په څه حصو باندې راختلې ښكارى نو نمر خپل د عرش لاندې ځائ (مستقرتحت العرش) ته كله ځى او د قيامت نه مخكښې به د مغرب د طرفنه د راختلو څه صورت وى؟ جواب راكړئ د دواړو جهانونو ثوابونه حاصل كړئ.

المستفتى : نامعلوم

الجواب: د صحيح سائنس سره قران او حديث چرته هم نشى متضاد كيدلې.

(الف) او ددې حديث شريف د جديد نظرياتو سره هيڅ ټكراؤ نشته دحديث شريف نه دنمر ګردش او چكر كيدې شى، چه حقيقى چكرمراد وى اوكيدې شى چه صرف په نظر سره چكرمراد وى چه د عوامو په پوهه كښې په اسانۍ سره راځى، نو نمر په راختلو او پريوتلو كښې دواړو احتمالات موجود دى يو د نمر د ګردش په وجه چه دا د زمكې د ساكن كيدو والا خلقو مسلك دې، او دويم د زمكې د محورى ګردش په وجه سره چه د زمكې د ګردش كولو والا خلقو مذهب دې ځكه چه دواړو طرفونو نه علامات او دليلونه موجود دى﴿۱﴾ او جزم او يقين نشته.

(ب) او د سجدې نه مراد انقياد او تابعدارى ده او بعضې محققينو علماؤ ليكلى دى چه په نمر كښې روح موجود دې نو روح د سجدې دپاره بره ځى او دا ككوړې باقاعده په خپل كار كښې مشغول وى نو د كوم وطن چه نيم غروب متحقق وى دهغوى متعلق به دا وئيلې شى چه د نمر روح سجده كوى اګر چه هغه هروخت وى.﴿۲﴾

﴿۱﴾ سائنسدانانو مخكښې دا نظريه پيش كړې وه چه ستورى سپوږمۍ سيارې ګردش كوى او زمكه ولاړه (ساكن) ده، بيا ئې دا نظريه پيش كړه چه نمر ساكن دې او زمكه ګردش كوى، او اوس د جديد سائنسدانانو نظريه داده چه زمكه په خپل محور كښې ګردش كوى او نمر په خپل محور كښې، نو قران او حديث چه څه وئيلې دى هغه د علام الغيوب د طرف نه دى او انسانى عقلونه روزانه خپل نظريات بدلوى نو په هغې باندې جزم او يقين نشى كيدلې او كومې خبرې چه د قران او حديث نه مخالف او متصادم وى هغه به غلطې وى، (مرتب)

﴿۲﴾ قال العلامه بدرالدين العينى الارضون السبع فى ضرب المثال كقطب الرحى والعرش لعظم ذاتى كالرحى فا ينما سجدت الشمس سجدت تحت العرش و ذلك مستقرها ...... السموات و الارضون و غيرهما من جميع العالم تحت العرش فاذاسجدت الشمس فى اى موضع يصح ان يقال سجدت تحت العرش ...... لا ينكر ان يكون لها استقرار تحت العرش من حيث لا ندركه و لا نشاهده و انما اخبر عن غيب فلا نكذبه و لا نكفره ان علمنا لا يحيط به. (عمدة القارى شرح صحيح البخارى ص ۱۱۹ جلد ۱۵ باب صفة الشمس و القمر بحسبان كتاب بدء الخلق)

(ج) اوددې دا صورت هم دې چه زمکه د څه وخت دپاره ساکنه شي (لکه د قدیم حکماؤ په نزد) او دا صورت هم دې چه الله تعالیٰ د زمکې په وخت کښې انقلاب پیدا کړي، او د مشرقي حرکت په بدله کښې د څه وخت دپاره غربي حرکت شي، او کوم الله تعالیٰ چه زمکې ته مشرقي حرکت ورکولې شي هغه د څه وخت دپاره غربي حرکت هم ورکولې شي، فقط

په (سپوږمۍ پورې د انسان رسیدل او اسلام) باندې د څو اشکالاتو جوابونه

سوال: محترم جناب عالی! د رساله الحق،، په شماره د جمادی الاولیٰ کښې مې ستاسو مضمون (چاند تک انسان کی رسائی اور اسلام) اولوستلو نو په زړه کښې مې څه شبهات پیدا شو امید دې چه تاسو تسلي بخش جواب راکړئ، ابن عباس ﷺ د یو ایت لاندې دا فرمائیلي دي چه (النجوم قنادیل بین السماء والارض الخ) او کوم صاحب تفسیر په ابن عباس ﷺ باندې دا حواله ورکړې ده؟ ټول ستوری د اسمان نه لاندې دی او د جناب دا فرمائیل چه په ستورو سره د شیطانانو ویشتل هله کیدې شي چه دا ستوری د دنیا د اسمان نه بهر وی او لاندې وی او په دې ستورو سره د دنیا زینت هم هله کیږي چه دا د اسمان نه لاندې وی او ددې نه مخکښې د لامحدوده پرواز لاندې دوی د سورة جن ایت فرمائیلي دي، انا لمسنا السماء فوجدناها ملئت حرساً شدیداً وشهباً..الخ، ګویا چه اسمان پورې ختل مخکښې او د پهره دارانو او ستورو معلومول روستو شوی دی یعني د اسمان سره لاسونه لږولو سره هغوی ته معلومه شوه چه دا اسمان د پهره دارانو او ستورونه ډک دي لکه چه دایت کریمه د ترکیب او د (وجدناها او (ملئت) د ضمیر نه هم دا واضحه کیږي، او که ستوری د اسمان نه لاندې زوړند وی نو بیا به داسې وی چه د ستورو او پهره دارانو نه تیر شول او اسمان باندې ئي لاسونه اولګول او روستو بیا د ستورو او پهره دارانو پته اولګیدله، او حال دا چه دا معنی په یوه طریقه هم دایت سره جوړ او مطابقت نه لري، بلکه دایت ترکیب بدلیږي،

کل فی فلک یسبحون . یعنی الیل والنهار والشمس والقمر کلهم و یسبحون- ای یدورون فی فلک السماء قاله ابن عباس وعکرمه والضحاک والحسن و قتاده و عطاء الخراسانی و قال عبد الرحمن بن زید بن اسلم فی فلک بین السماء والارض رواه ابی حاتم وهو غریب جداً بل

منکر (ابن کثیر) تبارک الذی جعل فی السماء بروجاً الخ فیها فی السماء قاله ابن عباس رضی الله عنه تنویر المقیاس من تفسیر ابن عباس رضی الله عنه

د فیها نه ظاهراً ددې ستورو په اسمان کښې د ننه کیدل معلومیږي، د بیان القران اشرف علی تهانوی صاحب غوره قول هم دادي، امید دې چه تاسو صاحبان به د پورتني اشکالاتو کافي شافي جوابونه اولیکئ؟

الجواب: (۱) د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما قول په تفسیر روح المعاني صفحه ۵۰ جلد ۳۰ کښې شته (۲) په ستورو باندې د جناتو تیریدل او اسمان باندې لاسونه لګول څه محال کار نه دي ځکه چه په جناتو باندې شهاب ثاقب،، هله مسلط کیږي چه کله هغوی استماع کوی، او د استماع دپاره بره خکته یوشان دی او اشکال به هله لازم کیدلو چه صرف په بره تللو کښې شهاب ثاقب مسلط کیدو، ﴿۲﴾

والامر لیس کذلک کما لا یخفیٰ علیٰ من تفکر فی آیات القرآن حیث قال تعالیٰ فمن یستمع الآن یجد له شهابًا رصداً ﴿۱﴾ و قال تعالیٰ لا یسمعون الی الملأ الا علیٰ و یقذفون من کل جانب. ﴿۲﴾

(۳) فلک او سماء د یو څیز نوم دې یا د جدا جدا څیزونو نومونه دی په دې کښې مفسرین مختلف دی اکثر مفسرین په اختلاف باندې قائل دی (صرح به الالوسی فی تفسیر روح المعانی ص ۴۰ جلد ۱۷)

(۴) د (فی) کلمه د ظرفیت دپاره موضوع ده د (رکزیت) دپاره نه ده ﴿۳﴾ یعني په لغت او عرف کښې د (فی) کلمې مراد دا وی چه ددې مدخول د څه څیز ظرف دې او دا مراد نه وی چه یو څیز دده د مدخول په ټخن او بدن کښې وردننه دې او ظرفیت هم کله په ښکاره او سرسری نظر کښې مراد وی کما فی وجدها تغرب فی عین حمئة ﴿۴﴾ دا رنګې کوم اسمان او زمکه چه په ګول شکل کښې تسلیم کړئ شی نو په دې تقدیر سره د زمکې نمر او سپوږمۍ په،، فی السماء،، کیدلو کښې څه مشکل نشته، (۵) د راجح او غیر مرجوح دا ضابطه د نه منلو قابله ده، فقط

﴿۱﴾ (پاره: ۲۹ سورة جن آیت: ۹) ﴿۲﴾ (پاره: ۲۳ سورة صافات آیت: ۸)

﴿۳﴾ قال عبد الرحمان الجامی و فی للظرفیة ای لظرفیة مدخولها لشئی حقیقة نحو الماء فی الکوز او مجازا نحو النحاة فی الصدق وبمعنیٰ علی قلیلاً. (شرح جامی ص ۳۶۸ بیان الحروف الجر)

﴿۴﴾ (پاره: ۱۶ سورة الکهف رکوع: ۲ آیت: ۸۶)

د سپوږمئ پورې د انسان رسیدل. د څو شبهاتو ازاله

د سائنس په دنیا کښې د خلائی فتوحاتو شهرت چه د عوامو په ذهنونو کښې کوم شور جوړ کړې دې، او د روس دعوی چه د روس محکمه (خلائی تحقیقات) لونانهم. د سپوږمئ په سطح باندې کوز کړو، او د شان د امریکائی خلائی جهاز اپالو دهم وغیره تجربې هم مخې ته راغلې، نو د مذهب او سائنس د دائره کار او حدودو نه د لاعلمئ په طبیعیاتی علومو کښې ناپختګی او د مذهب نه لرې والې یا د کم علمئ په وجه سره عام مسلمانان په شکوکو شبهاتو کښې مبتلا شول، ددې وجې نه سپوږمئ ته د رسیدو په باره کښې دار الافتاء کښې بې شمیره استفتاګانې او خطونه ملاؤ شول. نو حضرت مفتی اعظم دامت برکاتهم ددې قسمه توهماتو او شکوکو شبهاتو په رد کښې د شریعت په رڼا کښې یو تفصیلی مضمون په ماهنامه (الحق) کښې د جولائی او اګست ۱۹۶۹ ء په شمارو کښې شائع کړو، چونکه په بعضې استفتاګانو کښې ددې مضمون حواله هم ورکړې شوې ده نو ددې وجې د عام فائدې دپاره دا پیش کولې شي (ازمرتب)

(الف) اول یو څو بنیادي خبرې عرض کیږي او دا خبره دې واضحه وي چه د ټولو مسلمانانو اجماعي عقیده ده چه ددې ټول عالم جوړونکې صرف یو الله دی او هغه ددې عالم د ټولو ذراتو او ټولو هغه قومونو نه چه په دې عالم کښې پراته دی ښه خبر او عالم دې نو چه الله تعالی د وحی په ذریعې سره کوم حقائق بیان کړي دي په هغې کښې غلطی نا ممکن ده، هم دا وجه ده چه په سائنس او وحي کښې چرته ټکراؤ ښکاره شي نو دا فیصله به کیږي چه سائنسدانانو پوره تحقیق نه دې کړې کښې نو د هغوی صحیح تحقیقات به د وحی سره چرته نه وو متصادم شوې ځکه چه په وحی او سائنس کښې (چه په رشتیاؤ مبنی وي) مخالفت او تصادم نا ممکن دې.

(ب) الله تعالی وحی ددې مقصد دپاره نازله کړې ده چه انسان نه د تعلق مع الله د حاصلولو طریقې معلومې شي او د مرضیات الهی د غیر مرضیاتو نه امتیاز اوشی د وحی الهی مقصد وسلې او کارخانې جوړول نه دی او نه قران کریم د تاریخ او جغرافیه صحیفه ده ددې مقاصدو د حاصلولو دپاره د خدائی نعمت یعنې دعقل استعمال د ضرورت په وخت کښې کافي دې هم دا وجه ده چه په وحی کښې داسې حقائقو طرف ته هیڅ تعرض نه کیږي چه د هغې د وحی د نزول د مقصد سره څه خاص تعلق نه وي.

(ج) د عقلیاتو او اسرائیلیاتو سره اسلامی رویه هم داسې راروانه ده چه په هغې کښې کوم کارونه د وحی سره مخالف دی د هغې به تکذیب کولې شي او چه کوم مخالف نه وي نو هغه په دوه قسمه دی یو دا چه په مشاهدې یا دلیل سره ئې ثبوت شوې وي نو دهغې به تصدیق کولې شي. دویم دا که په مشاهدې یا دلیل سره ئې ثبوت نه وي شوې نو دهغې به نه تصدیق کولې شي او نه تکذیب.

(د) د قران او حدیث نه دا حقیقت معلومیږي چه کافران په اسمان کښې نشي داخیدلې الله تعالی فرمائی "لا تفتح لهم ابواب السماء"(سورة اعراف رکوع ۵

د مکذبینو او کافرانو دپاره (یعنې د هغوی د عملونو، روحونو او بدنونو دپاره) به د اسمان دروازې نه کهلاویږي. لیکن تر اسمان پورې تللو نه منع نه دی او نه اسمان پورې تلل د مسلمانانو سره خاص دی. (ومن ادعی فعلیه البیان) بلکه د شیطانانو او جناتو د اسمان پورې ختل او اسمان سره لاس لګیدل په نص د قران سره ثابت دی الله تعالی فرمائی. (وانا لمسنا السماء فوجدناها ملئت حرسا شدیدا وشهبا (سورة جن) لهذا کوم څیزونه چه د اسمان نه لاندې دی نو هغې ته د کافرانو ختل ممنوع نه دی او مسلمانانو سره هغه مخصوص نه دی.

(ه) د سپوږمئ متعلق د یونان د حکماؤ (سائنس دانانو) ا خیال او عقیده وه چه سپوږمئ د اولنی اسمان په جسم کښې دننه ده او ډیر اهل اسلام هم ددې سره موافقت کوی په دې وجه باندې چه دا عقیده د نصوصو سره متعارض نه وه، ځکه چه په قران او حدیث کښې صفا چرته نه وو وئیلې شوی چه سپوږمئ د اسمان په جسم کښې ده او دا وئیلې شوی دی چه سپوږمئ د زمکې او اسمان په مینځ کښې په فضا کښې ده. ځکه چه د قران پاک د نازلیدلو مقصد ددې سره هډو تعلق نه وو، او بیشکه په قران مجید کښې د سپوږمئ متعلق د (فی) لفظ استعمال شوې دې الله تعالی فرمائی: وجعل فیها سراجا وقمرا منیرا، وقال الله تعالی جعل القمر فیهن نورا، وقال الله تعالی کل فی فلک یسبحون. لیکن د (فی) کلمې مدلول ظرفیت دې مرکوزیت نه دې یعنې د (فی) مدلول دادې چه د هغې مدخل به د څه څیز دپاره زمان یا مکان وي او دا معنی نه ده چه ددې په مدخول کښې څه څیز مرکوز وي، وهذا مما لایخفی علی من تفکر فی الاستعمال)
دا نه د لغت تقاضا ده او نه د عرف، او بله دا چه د ظرفیت نه خو همیشه دا مراد نه وي چه د فی، مدخول په حقیقت او نفس الامر کښې هم ظرف وي، بلکه ډیر کرته دهغې ظاهری او سرسری نظر سره ظرفیت مراد وي، او خاص طور سره هغه ځائ کښې چه عام ذهنونو ته پوهیدلو کښې د مشکلاتو خطره وي او دا معنی هم فصیحه او بلیغه ده الله تعالی فرمائی: وجدها تغرب فی عین حمئة) (ذوالقرنین نمر د چقړې ختې یو تالاب کښې په ډوبیدو اولیدو)
ددې مقصد هم دغه په ظاهری نظر باندې راتلل دی په حقیقت کښې داسې نه وو، نو ددې تحقیق په بناء باندې دا ګنجائش شته چه د سپوږمئ (فی السماء) کیدل هم یو ظاهری او سرسری نظر سره وي.

(و) دلته دا هم په ذهن کښې کینول پکار دی چه (فلک) او (سماء) د بعضې مفسرینو په نزد باندې دیو څیز نومونه دی لیکن تحقیق دا دې چه (فلک

مدار ته وائی اسمان ته نه.

(قال العلامة الآلوسی فی تفسیره جلد ۱۷ ص ۴۰) والفلک فی الاصل کل شئ دائر ومنه فلكة المغزل والمراد به هنا علی ماروی عن ابن عباس والسدی رضی الله تعالیٰ عنهم السماء وقال اكثر المفسرين هو موج مكفوف تحت السماء يجری فيه الشمس والقمر وقال الضحاک هو ليس بجسم وانما هو مدار هذه النجوم. انتهیٰ

حکیم الامت حضرت تهانوی رحمة الله عليه په بیان القران کښې فرمائی چه فلک ګول ځیز ته وائی د نمر او سپوږمئ حرکت مستدیر دی ددې وجې نه ئې ددې مدار ته فلک اووې برابره خبره ده که هغه اسمان وی او که فضاء بین السمائین وی او که فضابین السماء والارض وی، ددې وجې دا مبهم پریخودل احتیاط ته نزدې دې (سورة انبیاء رکوع ۳) ددې عبارت نه معلومه شوه چه فلک او سماء جدا جدا ځیزونه دی او ددې تائید هم اوشو چه نمر او سپوږمئ یقینی طور سره د اسمان په جسم کښې مرکوز نه دی.

(ز) د ستورو متعلق علامه الوسی رحمة الله عليه د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت کړې دې ان النجوم قناديل معلقة بين السماء والارض بسلاسل من نور بايدی ملئكة من نور (روح المعانی جلد ۳۰ ص ۵۰) یعنی ستورې د زمکې او اسمان په مینځ کښې دی او د اسمان په جسم کښې مرکوز نه دی بیا فرمائی: لم يقم دليل علی ان شيئاً من الكواكب مغروز فی شئ من السموات كالفص فی الخاتم (روح المعانی جلد ۲۸ ص ٤۵) حالانکه ددې متعلق الله تعالی فرمائی: تبارک الذی جعل فی السماء بروجا (سورة الفرقان) او د بروج نه مراد ستوری دی. (فی التحقيق وهو منقول عن السلف) نو ځنګه چه د ستورو دپاره د (فی) کلمه استعمال شوې ده او هغې ته د اسمان زینت وئیلې شوې دې او سره ددې چه دا په اسمان کښې مرکوز نه دی بلکه په ښکاره او سرسری نظر باندې اکتفاء شوې ده دغه شان به د سپوږمئ متعلق هم وئیلې شی بلکه چه زمکه او اسمان (دواړه ګول دی نو په دې اندازې سره په نمر سپوږمئ بلکه په زمکه او هر څه باندې دا اطلاق بې شکه بې شبهې صحیح دې چه دا ځیزونه په اسمان او اسمانونو کښې دی.

ددې تمهید نه پس دا حقیقت واضحه شو چه د مسلمانانو دپاره په سپوږمئ او نمر بلکه اسمان باندې کوزیدل ممکن دی، د حضرت ادم عليه السلام، حضرت عیسی عليه السلام او حضرت خاتم النبیین صلی الله عليه وسلم اسمانونو ته مافوق الاسباب ختل ددې امکان واضحه دلیل دې ځکه چه ددې حکم د انبیاء علیهم السلام سره د مخصوص کیدلو څه دلیل نشته، بیشکه دامریکې وغیره کافرانو دپاره ناممکن دی چه

هغوی اسمان کښې داخل شی لیکن چه کوم ځیزونه د اسمان نه لاندې دی په هغې کښې کوزیدل د کافرانو دپاره ناممکن او ممنوع نه دی، نو که سپوږمئ د اسمان نه لاندې وی لکه چه د اکثر مفسرینو رائې ده نو د کفارو دپاره په هغې باندې کوزیدلو کښې هیڅ منع والې نشته، باقی پاتې شوه دامریکې دادعوی چه!

(۱) چه هغوی په سپوږمئ کښې انسانان کوز کړیدی نو ددې په منلو کښې هیڅ حرج نشته ځکه چه دداسې دعوو د وحی سره هیڅ ټکراؤ نشته،

(۲) په الاتو او او رصدګاهونو سره ددې مشاهده شوی ده.

(۳) روس وغیره چه د امریکې مخالف دی هغوی هم دا منلې ده.

(۴) دارنګې په شریعت کښې د کافرانو په دنیاوی خبرو باندې اعتماد کول جائز دی بلکه په دې کښې دینی مصلحتونه هم موجود دی خصوصاً د عیسیٰ عليه السلام اسمان ته ختل او د معراج د واقعې په ذهن کښې کیناستل او په کافرانو باندې اتمام حجت کیدل، او د انکار په صورت کښې د قران مجید د تکذیب خطره ده، خصوصاً چه کله عام سروس شروع شی لهذا ددې په منلو کښې هیڅ خطره نشته البته په دې سره حکمت یونانی ته سخته صدمه اورسیدله ځکه چه دهغوی دا عقیده چه سپوږمئ د اسمان په جسم کښې مرکوزه ده غلطه ثابت شوه.

د څو شبهاتو ازاله :

(۱) الله تعالی فرمائی: ولكم فی الارض مستقر. (ستاسو دپاره په زمکه کښې د استوګنې ځائ دې) ددې نه دا مراد نه دی چه انسان په علویاتو کښې نشی کوزیدلې ګنی نو حضرت عیسیٰ عليه السلام وغیره ځنګه په اسمان کښې استوګنه کوی بلکه مراد دادې چه عام طور سره به انسان په زمکه کښې استوګنه کوی ځکه چه د دنیاوی ژوند د ضروریاتو دلته انتظام شوې دې، لهذا داممکن ده چه بعضې افراد (مافوق الاسباب یا ماتحت الاسباب) د عادت نه خلاف علویاتو ته لاړ شی.

(۲) الله تعالی فرمائی: وفيها نعيدكم) په زمکه کښې به مو واپس کوؤ) ددې نه دا نتیجه نه راوځی چه انسان خلائی پرواز نشی کولې بلکه ددې مراد دادې چه انسان به خامخا یو وخت کښې دې زمکې ته راکوزولې شی، برابره خبره ده چه هغه د مرګ سره متصل وی یا د حشر نه مخکښې.

(۳) وحفظناها من كل شيطن رجيم) محفوظ اوساتلو مونږ دغې لره د هر شیطان مردود نه) نو ددې نه مراد اسمان ته د ختلو او لاس لګولو نه حفاظت نه دې بلکه ددینه مراد د اسمان د حالاتو نه د خبریدلو نه حفاظت دې یا د اسمان دا وسیدونکو سره د اختلاط نه حفاظت دې (صرح به الالوسی فی تفسیره ص ۲۳ جلد ۱٤)

(۴) د شهاب ثاقب حمله هغه وخت کیږی چه کله شیطانان غوږونه کیږدی اوریدلو ته، قال الله تعالی فمن یستمع الان یجد له شهابا رصدا :او دقران حکیم نه دانه ده معلومه چه صرف په ختلو سره داحمله شروع کیږی لهذا د کافرانو اسمان پورې ختلو کښې هیڅ اشکال نشته،

نمر او سپوږمۍ په کوم اسمان کښې دی

سوال: علمائې کرام ومفتیان عظام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه نمر په کوم اسمان کښې دې او سپوږمۍ په کوم اسمان کښې ده؟ بینوا توجروا

المستفتی : شفیق احمد ډیلوری ایجنټ کسروال ضلع ساهیوال.... ۱۹۶۹ء

الجواب: د یونانی سائنسدانانو په نزد باندې نمر په څلورم اسمان کښې دې لیکن په قران او حدیث کښې ددې غیرضروری خبرې متعلق څه ذکر نشته لهذا ممکنه ده چه په اسمان څلورم کښې وی یا په اولنی اسمان کښې وی اوداهم ممکنه ده چه په فضا کښې وی.(وهوالمتبادر) وجمیع الاقوال فی الدرالمنثور فلیراجع الیه.فقط

قران او حدیث د شمس او قمر د رکزیت یا تعلیق نه ساکت دی :

سوال: مفتیان شرع متین په دې مسئلې کښې څه فرمائی په قران پاک کښې دی :رب السموات والارض و ما بینهما و رب المشارق، انا زینا السماء الدنیا بزینة ن الکواکب الخ :کله چه دا ثابت شو چه شیطان د الله پاک دشمن دې په دې سبب سره اسمان ته د ختلو طاقت نه لری، غیر خلق چه کافران دی او د الله تعالی دوستان نه دی چه اسمان نه اوخیژی او په سپوږمۍ کښې اوسیږی او حال دادې چه سپوږمۍ په فلک کښې ده په اسمان کښې دننه ده.لقوله تعالی :وجعل القمر منهن نورا وجعل الشمس سراجا.(نوح) القصه.پیغمبر علیه السلام فرمائیلي دی چه څه د ام هانی بنت ابی طالب، کور کښې ووم چه جبرئیل علیه السلام براق راوستلو څه په براق سور شوم بیت المقدس ته اورسیدم هلته مې انبیاء علیهم السلام ته امامت ورکړو بیا اسمان طرفته روان شوم څنګه اسمان ته اورسیدم نو جبرئیل علیه السلام راوړاندې شو فصاح جبرائیل یا اسمعیل افتح الباب فقال اسمعیل من علی الباب فقال انا جبرائیل الخ اسمان ته دننه لاړو بیا چه نورهم بره شو او سپوږمۍ ته اورسیدو. اندرون اسمان شدیم چون بالاشدیم بمقام ماه رسیدیم مهتاب را مګردون نشانید وګردون راسه صدوشست (۳۶۰) ګوشه هست، وبرهر ګوشه فرشته مقرراست وګردون ماه رامیکشد، چون ماه فروشود باز بطرف عرش مجید میکند چون بزیرعرش مجید رسیدشود، انجاالله تعالی راسجده کند، واپس بحکم الله پاک بمطلع خود بیاید چنین افتاب بزیرعرش مجید سجده کند.

المستفتی : قاضی شهزاده کنډ یر بلامبټ دیراستیټ...۱۹۶۹ء ۸۱۹۱

الجواب: شمس وقمر په اسمان کښې مرکوز دی یا په فضا کښې معلق دی قران او حدیث ددینه ساکت دې او اثار په کښې مختلف دی لهذا په دویم تقدیر سره د کافرانو سپوږمۍ ته ختل ممکن دی. اوهم دا د اکثرمفسرینو قول دې. (وصرح به الالوسی فی روح المعانی) او د زیات وضاحت دپاره (الحق) رساله د اکتوبراو نومبر ۱۹۶۹ء د میاشتې اوګورئ، فقط.

په سپوږمۍ باندې کوزیدل د یونانی حکمت د پاره خطره ده او د ایمانی حکمت د پاره نه ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی څه وایم انسان سپوږمۍ ته نشی ختلې او زمونږ امام صاحب وائی او نور خلق هم وائی چه انسان سپوږمۍ ته ختلې شی دا ممکن ده. نوایا داخبره صحیح ده که نه؟

المستفتی : نامعلوم

الجواب: دقران او حدیث نه داخبره ثابته ده چه د کافرروح که سره د بدن نه وی او که بغیر د بدن نه وی اسمان پورې تللې شی او بره نشی تللې.(لاتفتح لهم ابواب السماء)《۱》او په قران او حدیث کښې دا تصریح نشته چه سپوږمۍ وغیره د اسمان نه لاندې دی یا بره دی، دومره ذکر شته چه کل فی فلک یسبحون 《۲》لیکن د فلک نه مراد مدار دې اسمان نه دې لهذا که سپوږمۍ د اسمان نه لاندې وی نو هغې ته کافر ختلې شی او که بره وی نو نشی ختلې. تاسوهم انتظار کوئ مونږه هم په انتظار کښې یو که او ختل نو پته به اولګی چه دا د اسمان نه لاندې ده او که بالفرض او ختل نو یونانی حکمت ته به خطره ملاؤشی او ایمانی حکمت ته په هیڅ وخت کښې هم خطره نه رسیږی. فقط.

ستوری سپوږمۍ د اسمان نه لاندې دی :

سوال: محترم جناب مفتی صاحب څمونږ پیش امام صاحب وائی چه امریکې والا څکه سپوږمۍ ته اوختل چه ستوری سپوږمۍ او نمر د اسمان نه لاندې دی او مقتدیان وائی چه مولوی صاحب غلط وائی سپوږمۍ په اسمان کښې ده څکه چه د ایت هم دا ترجمه کیدې شی. وجعل القمر فیهن نورا وجعل الشمس سراجا (نوح) او سپوږمۍ مونږ په اسمان کښې نور پیدا کړو او نمر مو په کښې چراغ جوړ کړو، مقتدیان په دلیل کښې قرانی ایت پیش کوی او مولوی صاحب وائی چه نه دا د اسمان نه تقریبا شپږ زره میله لرې فاصله

《۱》(پاره: ۸ سورة اعراف رکوع :۱۲ آیت: ۴۰) 《۲》(پاره: ۲۳ سورة یٰس رکوع : ۲ آیت : ۴۰)

باندې دی. تاسو مهرباني او کړئ مونږ ته د قران او حدیث نه څه ثبوت فراهم کړئ ځکه چې دلته به څه نور بغاوت پیدا شی نو د معاملې صفا کولو دپاره مونږ ته څه دلیل پیش کړئ؟

المستفتی: شیخ سلطان حسن کلاته مرچنټ پاره چنار جمادی الثانی ۱۳۸۹ھ

الجواب: د قران او حدیث نه دا حقیقت معلوم دې چه کافران اسمان ته نشی داخلیدلې او د اسمان نه چه کوم څیزونه لاندې دی هغې ته تللو نه کافران منع نه دی. او د (فی) لفظ دا تقاضا نه کوی چه سپوږمۍ وغیره دې د اسمان په جسم کښې دننه وی اونه په دې خبره څه دلیل شته دې. (روح المعانی ص ۱۴۵ جلد ۲۸) بلکه چه کله ظاهری او سرسری نظر کښې ظرفیت ثابت وی نو د (فی) د استعمال دپاره کافی دې. کما فی وجدها تغرب فی عین حمئة (۱) هم داوجه ده چه مفسرین په دې کښې مختلف دی. لیکن اکثر دا وایی چه ستوری سپوږمۍ د اسمان نه لاندې دی. صرح به فی روح المعانی نفسیر سورة انبیاء ویونس) اوچه کله په دلیل سره دا ثابت شی چه کافران سپوږمۍ ته ختلې دی نو دا به هم منعین شی چه سپوږمۍ د اسمان نه لاندې ده. فقط.

د ستورو او سپوږمۍ د اسمان نه لاندې کیدو باندې په دویم ځل تپوس

سوال: السلام علیکم! عرض دادې چه مونږ په خیریت سره نه یو په جوابی خط کښې څمونږ د زړه خبره نه وه مونږ نور څه وئیل تاسو بل څه لیکلی دی. تردې چه تاسو ددې خبرې تصدیق کړې دې چه امریکایان سپوږمۍ ته ختلی دی ځکه چه سپوږمۍ لاندې ده. تاسو چه کوم حدیث شریف لیکلې دې هغه اوس منسوخ دې د کومې خبرې چه ثبوت نشې ورکولې نو غلط جواب ورکول هم نه دې پکار. ځکه چه د قران کریم د ډیرو ایتونونه دا بیان شوې دې چه سپوږمۍ په اسمان کښې ده او تا څه بل شان جواب راکړې دې صبا له به امریکې والا اووائی چه مونږ عرش معلی ته لاړلو یا اسمان ته اوختلو نو بیا به هم تاسو دا لیکئ چه صحیح ده ختلې شی. تاسو مهربانی اوکړئ دا رسالې خلقو ته مه لیږئ ځکه چه دا رسالې زمونږ ستاسو په شان خلق لیکی اومنی ئې. او قران او حدیث د الله تعالی او پیغمبر علیه السلام فرمانونه دی که تاسو ته څه معلومه نه وی نو دا حدیث شریف په بخاری شریف کښې اوګورئ. چه سپوږمۍ او نمر د الله تعالی نښې دی. په دوی کښې څوک هم

(۱) (پاره: ۱۶ سورة کهف رکوع: ۲ آیت: ۸۶) (۲) (پاره: ۸ سورة اعراف آیت: ۴۰ رکوع: ۱۲)

څه دخل نشی کولې ددې نه علاوه په تفسیرابن کثیر. حقانی عزیزی او ابوسعود ټولو کښې دا خبره په وضاحت سره بیان کړې شوې ده. چه څوک هم د الله تعالی په نظام کښې خلل نه شی اچولې، دغه شان جواب ورکوه. الله تعالی دروغ نه وائی وحفظناها من کل شیطان رجیم. برائې مهربانی صحیح جواب اولیکئ؟

المستفتی: شیخ سلطان حسن کلاته مرچنټ پاره چنار ۱۷ جمادی الثانی ۱۳۸۹ هجری

الجواب: د قران مجید او احادیثو نه دا حقیقت ثابت دې په کافران اسمان ته نه شی داخلیدلې لاتفتح لهم ابواب السماء(۱) (وهکذا فی حدیث رواه احمد) نوچه کله کافران اسمان ته داخلیدلې نشی نو عرش معلی ته چرته هم نشی ختلې. او تراسمان پورې ختل نه د مسلمانانو سره مخصوص دی او نه د کافرانو دپاره ممنوع دی. (ومن ادعی فعلیه البیان) او بیشکه چه شیطانان د اسمان د خبرو اوریدلو نه ممنوع دی او اسمانونه دهغوی نه محفوظ ساتلې شوې دی دا نه چه د لاس لګولو او ختلو نه منع کړې شوې دی.

کما لا یخفیٰ علی من تفکر فی القرآن. قال الله تعالیٰ لا یسمعون الی الملأ الاعلی و یقذفون من کل جانب (۲) وقال وانالمسنا السماء فوجدنا ها ملئت حرسا شدیداً و شهباً وانا کنا نقعد منها مقاعدللسمع فمن یستمع الآن یجد له شهاباً رصداً. (۳) فقط

سپوږمۍ پورې د انسان رسیدل ممکن دی

سوال: امریکه دعوی کوی چه د هغوی: اپالوراکټ او د روس. کاسموس راکټ په سپوږمۍ باندې کوز شوې دی او ددې میاشتې په اولنۍ هفته کښې به ریډیو پاکستان بیا بیا نشرکولو چه د. اپالو ۱۲، د راوړلې شوو کانړو نمائش په پاکستان کښې هم شوې. نو ایا په سپوږمۍ باندې کوزیدل د انسان د وس خبره ده؟ که داخبره د انسان د وس خبره نه وی او خلاف شریعت وی نو امریکه او روس او نور ملکونه چه دا دعوی کوی نو پاکستان ئې تردید ولې نه کوی چه دا اسلامی ملک هم دې او لوئ لوئ علماء کرام ددې خلاف اوازولې نه اوچتوی. نو اوس مونږ په خپله خبره باندې کلک شو یاد امریکې خبره اومنو، دا رنګې سپوږمۍ په اسمان کښې ده اوکه د اسمان نه

(۱) (پاره: ۸ سورة اعراف آیت: ۴۰ رکوع: ۱۲)

(۲) (پاره: ۲۳ سورة صافات آیت: ۸)

(۳) (پاره: ۲۹ سورة جن رکوع: ۱۱ آیت ۹،۸)

لاندې ده؟ مونږ ته تفصیلي معلومات رالیږئ.

المستفتي : كرامت الله امازئ چروړی چمله سوات...۱۹۶۹ء

الجواب: د قران او حدیث نه دا خبره معلومه ده، چه سپوږمۍ په اسمان كښې مظروفه ده او دا معلومه نه ده چه سپوږمۍ په اسمان كښې مركوزه ده، لان كلمة،،فی،، معناها الظرفية لاالركزية، لهذا ممكن ده چه د اسمان په جسم كښې وی (كما قال به حكماء اليونان) او ممكن ده چه په فضا كښې وی، او د صحابه كرام رضي الله عنهم په اثارو كښې اختلاف موجود دې، (كما لايخفى على من راجع الى روح المعانی) لهذا دې مسئله كښې سختي نه ده پكار، بيشكه د قران مجيد نه دا خبره معلومه ده چه د كافرانو روحونه په اسمان كښې نشي داخليدلې برابره خبره ده چه سره د جسمونو وی او كه بغير د جسمونه وی. قال الله تعالى لاتفتح لهم ابواب السماء ﴿۱﴾ نو كه سپوږمۍ د اسمان نه لاندې په فضا كښې وی نو هغې ته د كافرانو ختل څه لرې خبره نه ده لكه څنګه چه د پيريانو شيطانانو اسمان ته ختل ممكن او واقع دی او په ظاهره خو داسې معلوميږی چه ستوری سپوږمۍ بلكه نمر هم د اسمان نه لاندې په فضا كښې دې، د زيات معلومات دپاره د اكتوبر ۱۹۶۹ء مياشتې رساله (الحق) اوګورئ.

د نمر او سپوږمۍ په اسمانونو كښې كيدل د حكمائې يونان نظريه ده

سوال: السلام عليكم ورحمة الله وبركاته! ستاسو حضراتو يوه رساله څمونږ علاقې ته راځی چه هغې كښې ليكلې شوې وو چه سپوږمۍ په اسمان كښې نه ده او په قران مجيد كښې هم د سپوږمۍ په اسمان كښې د كيدلو ثبوت نشته، بلكه د اسمانونو نه لاندې ده څما تعليم چونكه كم دې مګر صرف يو قران مجيد او تفسير ابن كثير سپاره ۲۵ اردو مونږ سره ده په هغې كښې دی چه اووه اسمانونه په دنيا كښې موجود دی (پ: ۲۹ ع:۹ ص ۴۳) نه معلوميږی چه سپوږمۍ په اسمان كښې موجود ده برائې مهربانی مكمله مسئله اوليكئ او رااوليږئ چه څما او د قوم صحيح تسلی اوشی؟

المستفتي : تراب ګل كوټ ملاكنډ ايجنسی....۱۹۶۹ء،۲۹۱۹۱

الجواب: په قران وحديث كښې دا تشريح نشته چه سپوږمۍ او ستوری په اسمان كښې مركوز دی او نه دا تصريح شته چه سپوږمۍ په اولنی اسمان

﴿۱﴾(پاره:۸ سورة الاعراف ركوع:۱۲ آيت:۴۰)

كښې ده او نمر په څلورم اسمان كښې دې په حقيقت كښې دا عقيده د يونان د حكماؤ ده چه علماؤ د نصوصو سره د عدم تعارض په وجه باندې په كتابونو كښې نقل كړې ده، او بيشكه د قران او حديث نه دا ثابته ده چه ستوری سپوږمۍ په اسمان كښې مظروف دی نو ممكن ده چه مركوز هم وی او ممكن ده غير مركوز وی خو صرف په سرسری نظر باندې اكتفا اوكړې شوه كما فی تغرب فی عين حمئة ﴿۱﴾ او ممكن ده چه د اسمانونو د كره كيدو په وجه باندې د ظرفيت اطلاق شوې وی ځكه چه په دې تقدير سره زمكه هم په اسمان كښې ده او ستوری سپوږمۍ هم او د صحابه كرامو رضي الله عنهم نه اثار متعارض دی، لهذا ددې د اسمان نه لاندې كيدل او په فضا كښې معلق كيدل هم ممكن دی او د كافرانو هلته تلل ممكن دی ځكه چه كافرانو دپاره اسمان ته داخليدل ممنوع دی او باقی تر اسمان پورې تلل نه د مسلمانانو دپاره مخصوص دی او نه د كافرانو دپاره ممنوع دی فقط

د ستورو او سپوږمۍ په اسمان كښې كيدلو او نه كيدلو په باره كښې د سلف صالحينو اختلاف

سوال: علمائې دين او د شرع متين مفتيان څه فرمائی دې مسئلې كښې چه زيد وائی نمر او سپوږمۍ د اسمان د پاسه يا دې سره پيوست نه دی بلكه د اسمان نه ډير لاندې په خلاء او فضاء كښې دی دغه شان نورې ټولې سيارې هم د اسمان نه لاندې دی. لكه روح المعانی د ايت (كل فی فلك يسبحون) لاندې ليكلې دی. (قال اكثر المفسرين هو موج مكفوف تحت السماء يجری فيه الشمس والقمر قال الضحاک هو ليس بجسم لان هو مدار وهل النجوم (روح المعانی ص ۴۰ جلد ۱۷) او بل سړې عمر دې هغه وائی چه نمر او سپوږمۍ د اسمان دپاسه دی الله تعالى هم دا فرمائيلې دی چه (ای كل فی خلاء اوفضاء يسبحون) يعنې ټول نمر سپوږمۍ او ستوری په خلاء او فضا كښې ګرزی، بلكه فرمائيلې ئې دی (كل فی فلک يسبحون) او حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمائی. (الفلک السماء) او د جلالين شريف په حاشيه صفحه ۲۷۰، تفسير قادری صفحه ۵۲۵ كښې دی چه د سپوږمۍ ككورې په اسمان كښې دې او ددې رڼا په ټولو اسمانونو كښې خوريږی. لكه چه په زمكه باندې خوريږی او د سپوږمۍ او نمر تفسير په ۲۸ سيپاره كښې دې د هر برج حصه په دائره كښې تاويږی او هره ورځ ددې منزل په اندازه باندې قطع ګوی

﴿۱﴾(پاره:۱۶ سورة كهف ركوع:۲ آيت:۸۶)

او په ټول اسمان کښې ددې رڼا پریوځی الخ ... او تفسیر جلالین ص ۱۲۸ کښې د (هوالذی جعل الشمس ضیاء والقمر نورا وقدر منازل ثمانیة وعشرین منزلاً فی ثمان وعشرین منزل لیلة وفی کل شهر ستر لیلتین ان کان شهر ثلاثین یوماً ولیلة ان کان تسعة وعشرین یوماً) (جلالین ص ۱۶۱) او برجونه په اسمانونو کښې دی لکه ایت شریف دې (تبارک الذی جعل فی السماء بروجا اثنی عشر الحمل والثور الخ (جلالین ص ۳۰۵) ډیر برکت والا دې هغه ذات چه چا په اسمان کښې برجونه پیدا کړل. وجعل فیها سراجا وقمرامنیراً او په دې اسمان کښې ئې نمر او سپوږمۍ پیدا کړل نو معلومه شوه په نمر او سپوږمي لاندې دی بلکه پخپله الله تعالٰی د اسمانونو ذکر کړې دې چه نمر او سپوږمۍ په اسمانونو کښې دی، الم ترکیف خلق سبع سموات طباقا وجعل فیهن نورا وجعل الشمس سراجا. آیا ته نه ګورې څنګه پیدا کړل الله تعالٰی اووه اسمانونه د یوبل د پاسه او جوړه ئې کړه ددې په مینځ کښې سپوږمۍ رڼا والا او نمر رڼا والا، نومعلومه شوه چه سپوږمۍ نمر او ستوری په اسمانونو کښې ګرځی، انه فیه ذلك الکوکب وکل کوکب یجری فی السماء الذی قدرفیه وفی الذی اختلف العلماء فیه فقال بعضهم الفلك لیس بجسم وهواستدارة هذا النجوم، وقال الکثیرون الفلك اجسام تدار النجوم علیها وهذا اقرب الی ظاهرالقرآن. (جلالین حاشیه ص ۲۷۰) او حضرت شاه عبدالعزیز محدث دهلوی لیکی (د اسمان حقیقت څه دې؟ (جواب) د اسمان اووه طبقې دی جدا جدا، په یو اسمان کښې شباب دویم کښې عطارد تراخرې پورې (فتاوی عزیزی ص ۷۷ جلد ۱) نو اوس په دوی کښې د چا خبره صحیح ده؟

المستفتی: شفیق احمد کسوال ضلع ساهیوال... ۲۷ شوال ۱۳۸۹ هجری

الجواب: په قران او حدیث کښې په صراحت سره نه ده فوقیت ذکر شته او نه لاندیوالی او نه ده رکوزیت، او د سلف صالحینو اثار په دې کښې مختلف دی لهذا په کومو خیزونو کښې کافران داخل شی هغه به د اسمان نه لاندې وی، او کومو خیزونو کښې چه داخل شوې نه وی نو په هغې کښې ټول احتمالات موجود دی. فقط.

د اسمان او فلکیاتو په باره کښې د یونان د فلاسفرانو نظریات او شریعت

سوال: (۱) ایا اسمان کلک دې؟ (۲) د اسمان تعریف څه دې؟ (۳) ناری طبقه د سپوږمۍ نه لاندې ده که اوچته؟ (۴) په قران مجید کښې دی چه انسان به په

زمکه باندې مړ کیږی که هغه په سپوږمۍ باندې مړ شو نو بیا به ئې څه تاویل وی؟ (۵) اووه اسمانونه څنګه جوړ دی؟ (۶) سپوږمۍ د اسمانی دنیا نه لاندې ده که د پاسه؟ (۷) د (کل فی فلک یسبحون) څه تفصیل دې؟ (۸) بعضې خلق وائی چه اسمان د زمکې نه برنې حصې ته وائی په دې باره کښې د قران څه نظریه ده؟

المستفتی: نامعلوم ....

الجواب: (۱) (۲) اسمان یو کلک جسم دې په هغې کښې دروازې هم دی او رنګدار هم دې د دلیلونو نه سور رنګ والا معلومیږی. (۳) ناری طبقه د یونانی فلاسفرانو په نزد باندې د سپوږمۍ نه لاندې ده او د ایمانی فلاسفرانو په نزد باندې دا څه مصدقه خیز نه دې ممکن ده چه دا طبقه موجود وی او دا هم ممکنه ده چه نه وی، ځکه چه په وحی کښې دې طرفته څه تعرض نه دې شوې. (۴) دا مضمون په قران مجید کښې نشته او دا مضمون په کښې شته چه انسان به زمکې ته واپس کولې شی او دا چه ستاسو د پاره په زمکه کښې استوګنه ده. لیکن په دې سره سپوږمۍ ته نه ختل نه لازمیږی، ځکه چه دا خو په غالب باندې محمول دی او یا به دا اووئیلې شی چه په سپوږمۍ وغیره کښې مړه خلق به د حشر نه مخکښې زمکې ته واپس کولې شی، او یا به دا اووئیلې شی چه د انسان د ژوند ضروریات او د بقا سامان صرف په زمکه کښې دې. (۵) یو بل نه ډیر لرې دی یو ځائ نه دی ظاهری طور سره ئې شکل (کروی) معلومیږی. (۶) په وحی کښې تصریح نشته لهذا ممکن ده چه په جسم کښې وی او ممکن ده چه په فضا کښې وی. او دا د اکثرو قول دې لیکن اوس دا په یقینی طور سره معلومه شوه چه کافران سپوږمۍ ته ختلې دی نو دا فیصله به کولې شی چه سپوږمۍ په فضا کښې ده جسم کښې نه ده. (۷) حضرت تهانوی او مولانا عثمانی او په روح المعانی کښې تصریح شته چه د فلک نه مراد (مدار) دې اسمان نه دې یعنې هریو په خپل خپل مدار کښې چکرونه وهی. (۸) سماء اسمان ته هم وئیلې شی، او هر بره خیز ته هم سماء وئیل صحیح دی. فقط.

د ستورو او سپوږمۍ په باره کښې د سائنسی تحقیقاتو شرعی حیثیت

سوال: (۱) ایا دا خبره صحیح ده چه انسان سپوږمۍ باندې کوز شوې دې او ځان سره ئې څه نمونې هم راوړې دی؟ (۲) سپوږمۍ د اسمان نه لاندې ده که د پاسه؟ که اوچته وی نو په کوم اسمان کښې ده؟ (۳) سپوږمۍ د زمکې نه وړه ده که لویه؟ او څومره لویه یا وړه ده؟ (۴) ایا د سپوږمۍ جسم کمیږی یا

زیاتیږی او که نه؟ (۵) ایا سپوږمئ د نمر نه رڼرا حاصلوی او که پخپله باندي په کښې رڼرا ده؟ (۶) ایا د نمر په شان ډوبیږی او که نه؟ (۷) سپوږمئ د زمکې نه څومره لرې ده؟ (۸) که د دوی دعوی غلطه وی نو ددې د ناممکن کیدو سبب د قران او حدیث په رڼرا کښې څه دې؟ (۹) مولانا شمس الحق رحمه الله دې باره کښې څه رائې لری؟ (۱۰) خلق وائی چه درویشان خلق سپوږمئ ته په پنځه سوه کاله کښې رسیدلې شی، ایا دا صحیح ده؟ (۱۱) علمائې کرام دې باره کښې چپ دی؟ (۱۲) ځما خیال دادې چه انسان په سپوږمئ باندې کوزیدلې شی ځکه چه الله تعالی فرمائی لیس للا نسان الا ماسعی) یعنې انسان ته به څه نه ملاویږی

لیکن د کوم څیز چه هغه کوشش کوی که دا خیال غلط وی نو اګاه کړئ؟

المستفتی : صدیق الرحمٰن خوبی...... ۱۹۶۹ ء

الجواب: (۱) په ظاهره سره درست ده (۲) د اکثرمفسرینو په نزد باندې د اسمان نه لاندې ده. (۳،۴) په قران او حدیث کښې ددې څه تذکره نشته لهذا په دې غیر ضروری کارونو کښې د سائسدانانو تصدیق کول څه ګناه نه ده. (۵) ظاهراً دا د نمر نه رڼرا حاصلوی. (۶) ځمونږ په نظر سره ډوبیږی او حقیقت څه بل څه دې. (۷)(۸) په قران او حدیث کښې ددې ذکر نشته په داسې غیرضروری خبرو کښې د سائنس والا منل ګناه نه ده. (۹) د مولانا شمس الحق صاحب او ځمونږ یوه رائې ده. (۱۰) غلطه خبره ده. (۱۱) کیدې شی تا نه د (الحق) رسالې مطالعه کړې وی او نه دې د مولانا عبد الحق صاحب خطبه اوریدلې وی. (۱۲) د تعلق مع الله په حاصلولو کښې ددې څه د خل نشته دا جغرافیائی او طبعی مسئله ده لهذا ددینه وحی ساکت (چپ) ده او ستا خیال صحیح دې لیکن دایاتونو نه استدلال غلط دې د زیات تفصیل دپاره د اګست او ستمبر ۱۹۶۹ء د شمارې (الحق) رساله اوګوره.

د اسمان وجود او د ستورو متحرک او ساکن کیدل

سوال: علمائې کرام دې مسئلو باره کښې څه فرمائی: (۱) اسمان موجود دې او که نه؟ (۲) دیوبل دپاسه دی که نه؟ (۳) حرکت کوی که نه؟ (۴) ستوری متحرک دی که نه؟ (۵) د اسمان دپاسه دی که لاندې؟ (۶) امریکې والا

سپوږمئ باندې کوز شوې دی که نه؟ (۷) د شریعت په رڼرا کښې د امریکې یا روس والو سپوږمئ یا اسمان ته رسیدل کیدې شی او که نه؟ د شریعت او حکمت او حقیقت په رڼرا کښې جواب راکړئ ددواړو جهانونو ثوابونه حاصل کړئ؟

المستفتی : محمد اسرار ساکن ګړهی

الجواب: (۱) یقیناً موجود دې (۲) دیوبل دپاسه دی خو پیوست نه دی. (۳) په وحی کښې ددې ذکر نشته. (۴) بعضې متحرک دی او بعضې ساکن دی. (۵) د اکثرمفسرینو په نزد لاندې دی. (۶) کیدې شی. (۷) کافران په اسمان کښې نه شی داخلیدلې او د اسمان نه لاندې ځیزونو ته رسیدلې شی دا ممنوع نه دی او نه دچا پورې مخصوص دی، فقط. د زیات وضاحت دپاره د اګست او ستمبر ۱۹۶۹ ء د شمارې (الحق) رساله مطالعه کړئ.

په سپوږمئ باندې د کوزیدلو دعوی تسلیمولو کښې څه حرج نشته

سوال: نن صبا په ریډیو او اخبارونو کښې دا یوه عام خبره ده چه د امریکې خلابازان په سپوږمئ باندې کوز شوې دی، تاسو صاحبان مهربانی اوکړئ فتوی ورکړئ چه سپوږمئ ته تلل منع دی که نه؟ دا رنګې د امریکې خلابازان سپوږمئ ته رشتیا ختلې دی او که نه؟

المستفتی : نامعلوم......

الجواب: (الف) مختصرا عرض دې چه د قران او حدیث نه دومره معلومه ده چه کافران په اسمان کښې نشی داخلیدې باقی د اسمان نه لاندې چه څومره ځیزونه دی سپوږمئ وی که نمر وی هغې ته ختلې شی، او په قران او حدیث کښې دا تصریح نشته چه سپوږمئ د اسمان په جسم کښې ده. او اکثر مفسرین وائی چه د اسمان نه لاندې ده. (کما فی روح المعانی) لهذا که ثابت شول چه کافران سپوږمئ ته ختلې دی نو مونږ به په دې نتیجې ته اورسیږو چه د اسمان نه لاندې ده. او یونانی حکماء غلط شوې دې.

(ب) د امریکې په دعوی تسلیمولو کښې هیڅ حرج نشته ځکه چه د دعوې نه علاوه په الاتوسره ئې مشاهده هم وی، او روس ئې تکذیب هم نه دې کړې د عام

سروس د تواتر نه مخکښې د کافرانو په اخبارونو باندې یقین کول نه دی پکار.

د اووه زمکو طبقات

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د زمکې کوم اووه طبقات دی نو دا د اسمانونو په شان د یوبل دپاسه دی یا صرف یوه سطحه په اووه حصو کښې تقسیم ده؟

المستفتی: محمد عارف اسماعیله مردان.........۱۹۷۷ء ۱۹/۸/۱

الجواب: په دې کښې څو احتمالات دی (۱) د اسمانونو په شان (۲) اووه مستقلې دی بغیر د یوځائ کیدونه. (۳) اووه اقلیمه ده. ﴿۱﴾ لیکن دویم او دریم قول د (غضب والاحدیث) نه مخالف دې البته د دویم قول تطبیق ممکن دې په خلاف د دریم. وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامه آلوسی والمثلية تصدق بالاشتراک فی بعض الاوصاف فقال الجمهور هی هاهنا فی کونها سبعاً وکونها طباقا بعضها فوق بعض وبین کل ارض وارض مسافة کما بین السماء والارض.........وقال الضحاک هی فی کونها سبعاً بعضها فوق بعض لافی کونها کذلک مع وجود مسافة بین ارض وارض. واختاره بعضهم زاعماً ان المرادبها تیک السبع طبقة التراب الصرفة الجاورة للمرکز، والطبقه، الطنية والطبقة المعدنیه ....وقیل من القائم السبعة وهی مختلفة الحرارة والبرودة واللیل والنهار .الخ (روح المعانی ص ۲۱۱، ۲۱۲ جلد ۱۵ سورة الطلاق پاره:۲۸)

....

باب الکرامات

....

قال الله تعالى

الَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ

لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۶۲﴾

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۶۳﴾

لَهُمُ الْبُشْرٰى فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

وَفِى الْاٰخِرَةِ

(الاية)

باب الكرامات

د كرامت تعريف او د شهداؤ برزخي ژوند

سوال: دكرامت تعريف څه دي؟ دا رنګي :ولاتقولوا لمن يقتل فى سبيل الله اموات (الاية) مطلب او تشريح څه ده؟

المستفتى :غلام رحمانى يوسف خيل مهمند ايجنسى ۲۰ محرم ۱۳۹۲ هجرى

الجواب: كرامت هغه خلاف عادت كارته وائى چه د يوكامل تابع شريعت سړى نه ظاهرشى ﴿۱﴾ برابر خبره ده كه هغه ژوندي وى اوكه مړوى، او د قبرونو زيارت سنت دي.﴿۲﴾ او توسل بالصالحين جائز دي ﴿۳﴾ ددې ايت صفا مطلب دادي چه كوم سړې د اعلاء كلمة الله په سلسله كښې اووژلې شى نو هغه د عام مړو په شان يو مړې مه ګڼړئ ځكه چه هغه ته روحانى راحت، د بدن حفاظت او برزخى ژوند وركړې شوې دي. ﴿۴﴾ وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال الملا على القارى الكرامة خارق للعادة الا انها غر مقرونة بالتحدى وهى كرامة للولى وعلامة لصدق النبى فان كرامة التابع كرامة المتبوع والولى هو العارف بالله وصفاته بقدر مايمكن له، المواظب على الطاعات المجتنب عن السيئات المعرض عن الانهماك فى اللذات و الشهوات و الغفلات واللهوات .(شرح فقه الاكبر للقارى ص ۷۹ الكرامات للاولياء حق)

وقال ابن عابدين و كرامات الاولياء حق فتظهر الكرامة على طريق نقض العادة للولى من قطع المسافة البعيدة فى المدة القليلة وظهور الطعام و الشراب و اللباس عند الحاجة و المشى على الماء والهواء و كلام الجماد و العجماء واندفاع المتوجه من البلاء و كفاية المهم من الاعداء وغير ذلک.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۶۸۴ جلد۲ مطلب فى ثبوت كرامات الاولياء و الاستخدامات)

﴿۲﴾قال الحصكفى وبزيارة القبور وللنساء لحديث كنت نهيتكم عن زيارة القبور الا فزوروها الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص۶۶۵ جلد ۱ مطلب فى زيارة القبور)

﴿۳﴾قال ابن عابدين وقد قال تعالىٰ وابتغوا اليه الوسيلة وقد عد من اداب الدعاء التوسل على ما فى الحصن وجاء فى رواية اللهم انى اسألک بحق السائلين عليک وبحق ممشاى اليک فانى لم اخرج اشرا ولا بطرا الحديث.(رد المحتار هامش الدر المختار ص ۲۸۱ جلد ۵ فصل فى البيع كتاب الخطر والاباحة)

﴿۴﴾قال العلامه آلوسى "ولكن لا تشعرون "اى لا تحسون ولا تدركون ما حالهم بالمشاعر لانها من احوال البرزخ التى لا يطلع عليها ولا طريق للعلم بها الا بالوحى و اختلف فى هذه الحياة فذهب كثير من السلف الىٰ انها حقيقية بالروح و الجسد ولكنا لا ندركها فى هذه النشأة واستدلوا بسياق قوله تعالىٰ عند ربهم يرزقون وبان الحياة الروحانية التى

(بقيه حاشيه په راروانه صفحه

د اولیائي کرامو د مرګ نه مخکښې او روستو نفع او نقصان رسول

سوال: اولیائي کرام ژوندی دی که مړه، څه نفع او نقصان رسولې شی یا نه، وضاحت اوکړئ؟

المستفتی :اهالیان اسبنړ دیرستیت.........۵شوال ۱۳۹۵ھ

الجواب: اولیاء الله که ژوندی وی او که مړه وی ما فوق الاسباب نفع او نقصان نه شی رسولې. البته د اولیاء الله کرامت حق دې د مرګ نه مخکښې ژوند کښې هم او د مرګ نه پس هم ﴿۱﴾

د اولیائي کرامو دخوب نه علاوه په نورو ذریعوسره معلومات حاصلول

سوال: ایا اولیائي کراموته د خوب نه علاوه په نورو ذریعو سره معلومات حاصلیږی او که نه؟ او که حاصلیږی نو اولیکئ؟

المستفتی :مولوی حیات الله اشکرکوټ جنوبی وزیرستان ۷ربیع الثانی ۱۳۸۹ھ

(بقیہ حاشیہ) لیست بالجسدلیست من خواصهم فلا یکون لهم امتیاز بذلک علی من عداهم وذهب البعض الیٰ انها روحانیة وکونهم یرزقون لا ینا فی ذلک فقد روی عن الحسن ان الشهداء احیاء عند الله تعالیٰ تعرض ارزاقهم علی ارواحهم فیصل الیهم الروح والفرح کما تعرض النار علی ارواح آل فرعون غدوًّ وعشیا فیصل الیهم الوجع فوصول هذالروح الی الروح هو الرزق والامتیاز لیس بمجرد الحیاة بل مع ما ینضم الیها من اختصا صهم بمزید القرب من الله عز شانه ومزید البهجة والکرامة الخ .
(تفسیر روح المعانی ص۳۰ جلد ۲ سورة البقرة آیت :۱۵۴)

﴿۱﴾ قال الحافظ ابن کثیر الکرامة لولی من هذه الامة وهی معدودة من المعجزات لان کل مایثبت لولی فهو معجزة لنبیه ....عن ابی سبرة النخعی قال اقبل رجل من الیمن فلما کان ببعض الطریق نفق حماره فقام فتوضأ ثم صلی رکعتین ثم قال اللهم انی جئت من الدفینة مجاهداً فی سبیلک وابتغاء مرضاتک وانا اشهد انک تحی الموتی وتبعث من فی القبور لا تجعل علی الیوم منه اطلب الیک الیوم ان تبعث حماری ،فقام الحمار ینفض اذنیه الخ وایضاً فی باب کلام الاموات وعجائبهم عن ربعی بن خراش العبسی قال مرض اخی الربیع بن خراش فمرضته ثم مات فذهبنا نجهزه فلما جئنا رفع الثوب عن وجهه ثم قال السلام علیکم قلنا وعلیک السلام قدمت ،قال بلی ولکن لقیت بعد کم ربی ولقینی بروح وریحان ورب غیر غضبان ثم کسانی ثیابا من سندس اخضر وان سألته ان یأذن لی ان ابشر کم فاذن لی وان الامر کما ترون فسددوا وقاربوا وبشروا ولا تنفروا فلما قالها کانت کحصاة وقعت فی ماء ثم اورد باسانید کثیره فی هذاالباب .(البدایه والنهایه ص ۱۹۱،۱۹۷ جلد ۶ کرامة لولی من هذه الامة)

الجواب: د کشف، خوب او الهام، ټولو طریقو سره په اولیائي کرامو باندې حقائق ښکاره کیږی. ﴿۱﴾

د مرګ نه پس کرامت او د اولیاؤ تصرف

سوال: ایا د مرګ نه پس د اولیاؤ اختیار ثابت دې؟ بینواوتوجروا

المستفتی : تسلیم هیډ کوارټر شبقدر مهمند ایجنسی ۳ جمادی الثانیه ۱۳۹۷ھ

الجواب: د قران احادیثو او اثارونه ثابت دی چه کرامت بعدالممات﴿۲﴾ او توسل بالصالحین ثابت دې ﴿۳﴾ د ټولو دیوبندیانو اکابرو دا مسلک دې البته د غیر الله نه غائبانه انداز کښې حاجتونه غوښتل یا دهغوی د غیبی طاقت عقیده لرل یا حاجتونه دپاره د هغوی د مقرر کیدلو قول کول یا د هغوی د دعا دقبلیدلو نه خلاف نه کیدلو قول کول دا ټول شرکیات دی. وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال الملاعلی قاری وبالجملة فالعلم بالغیب امر تفرد به سبحانه ولا سبیل للعباد الیه الا باعلام منه والهام بطریق المعجزة اوالکرامة اوالارشا د الی الاستدلال بالامارات فیما یمکن فیه ذلک ،الخ
(شرح فقه الاکبر لملاعلی قاری ص ۱۵۱ حکم تصدیق الکاهن بما یخبر به من الغیب)

﴿۲﴾ عن عائشة قالت لما مات النجاشی کنا نتحدث انه لا یزال یری علی قبره نور رواه ابوداؤد .
(مشکواة المصابیح ص۵۴۵ جلد۲ باب الکرامات)
عن اسماعیل بن طلحة بن عبید الله عن ابیه قال اردت مالی بالغابة فادرکنی اللیل فأویت الی قبر عبد الله بن عمرو بن حرام فسمعت قرأة من القبر ما سمعت احسن منها .الخ
(کتاب الروح لابن القیم الجوزیه ص۱۳۴ این مستقر الارواح الخ)

﴿۳﴾ قال الشیخ المفتی اعظم محمد فرید دامت برکاتهم التوسل بالصالحین وهو قد یکون باعمالهم ودعائهم کما روی البخاری عن مصعب بن سعد مرفوعا هل تنصرون وترزقون الا بضعفاء کم وکما روی صاحب شرح السنة فی شرح السنة ان النبی ﷺ کان یستفتح بصعا لیک المهاجرین وقدیکون بشرکهم کما فی قوله تعالیٰ وما کان الله لیعذبهم وانت فیهم وما کان معذبهم وهم یستغفرون (الانفال)...... وقد یکون بمحبة المتوسل الصالحین وقد یکون بمحبة الله ایاهم و قد یکون بجاههم عند الله ،وتوسل العوام بالصالحین یرجع غالبا الی هذه الاقسام الثلاثة وبالجمله ان التوسل بالذوات الفاضلة لا یرادبه التوسل بالذوات الفاضله من حیث انها ذوات لعدم تفاوت الصالحین من غیر الصالحین فی الذات لکون کلهم من قبیل الحیوان الناطق والانسان ،ولو تفکرت لعلمت انه قد یجتمع من اقسام التوسل بالصالحین قسمان بل اکثر فی مادة واحدة.
(رسالة التوسل فی آخر منهاج السنن شرح جامع السنن ص۳۲۵ جلد ۴)

د کراماتو او معجزاتو په باره کښې د بهار شریعت نومې کتاب په تحقیق باندې نظر

سوال: په (بهارشریعت) کتاب صفحه ۶۳ کښې ئې د ولایت په بیان لیکلی دی چه مړې ژوندې کول، پیدائشی ړوند ته شفا ورکول، د مشرق نه مغرب پورې ټوله زمکه په یو قدم کښې ختمول، غرض ټول خلاف عادت کارونه د اولیاء نه ممکن دی، سوا د هغې معجزې نه چه د نورو خلقو نه د هغې ممانعت ثابت دې، لکه د قران مجید په شان څه سورت جوړول یا په دنیا کښې د بیداریٔ په حالت کښې دیدار الهی کول یا په حقیقی کلام سره مشرف کیدل ددې خبرو چه څوک د خپل ځان دپاره یا د ولی دپاره دعوی اوکړی هغه کافر دې ددې عبارت په باره کښې خپل نکته نظر بیان کړئ؟ بینوا وتوجروا

الجواب: ددې ویونکی اولنې کلام حق دې البته په اخره کښې د کفر فتوی علی الاطلاق ناحقه ده.

ولعل هذا القائل اخذ هذا من ردالمحتار ص ۵۵۲ جلد ۳ ﴿۱﴾ والحاصل انه لا خلاف عندنا فی ثبوت الکرامة وان الخلاف فی ما کان من جنس المعجزات الکبار و المعتمد الجواز مطلقا ولا فیما ثبت بالدلیل عدم امکانه کالاتیان بسورة وتمام الکلام علی ذالک فی حاشیة ردالمحتار. وهوالموفق

کرامت بعدالوفات او تبرک په اثارو د صالحینو او دم تعویذ

سوال: (۱) بعضې خلق د کرامت بعد الوفات قائل دی وائی چه ای پیربابا څمونږ دا کار اوکړې، څمونږ دا اپریشن اوکړې ددې څه حکم دې؟ (۲) بعضې خلق تعویذونه په غاړه کښې اچوی هر وخت ئې ځان سره ړدی بعضې خلق په تعویذ کښې لیکی یاجبرییل یا میکائیل، یا بدوح وغیره، ددې څه حکم دې؟

المستفتی: مولوی الله داد گلستان ضلع پشین بلوچستان ۱۱ محرم ۱۴۱۰ھ

﴿۱﴾ قال ابن عابدین وقد ذکر علماؤنا ان ماهو من المعجزات الکبار کاحیاء الموتی وقلب العصا حیة وانشقاق القمر واشباع الجمع من الطعام وخروج الماء من بین الاصابع لا یمکن اجراؤه کرامة للولی وطی المسافة منه لقوله علیه الصلاة والسلام زویت لی الارض فلو جاز لغیره لم یبق فائدة للتخصیص لکن فی کلام القاضی ابی زید ما یدل علی انه لیس بکفر ....وان امام الحرمین قال المرضی عندنا تجویز جمله خوارق العادات فی معرض الکرامات ثم قال نعم قد یرد فی بعض المعجزات نص قاطع علی ان احداً لایأتی بمثله اصلا کالقرآن الخ.
(رد المحتار هامش الدر المختار ص۳۳۷ جلد ۳ قبیل باب البغاة مطلب فی کرامات الاولیاء)

الجواب: (۱) کرامت بعد الوفات حق دې ﴿۱﴾ او تبرک باثار الصالحین هم حق دې ﴿۲﴾ لیکن د عوامو خودساخته کرامات قابل غور بلکه ناقابل التفات دی. (۲) په تعویذ، دم او معالجه کښې دا ضروری ده چه د قران او حدیث سره معارض نه وی. لحدیث اعرضوا علی رقاکم الحدیث ﴿۳﴾ او دا ضروری نه ده چه د قران او حدیث نه ثابت وی، وهوالموفق.

د کرامت په طور د ستنې په سوری باندې اوښ اوباسل ناممکن نه دی

سوال: صرف دا جواب نقل شوې او سوال نشته دې.

المستفتی: غلام سرور سنگاپور.... ۱۹۸۳ء ۱۰/۱۸/

الجواب: محترم المقام غلام سرور قادری! السلام علیکم: په کرامت سره د مړو ژوندی کول ممکن بلکه واقع دی البته ددې لیکلې شوې واقعې ثبوت په صحیح سند سره نه دې شوې لهذا ددې خاص واقعې نه منل نقصانی نه دی دا رنگې د کرامت په طریقې سره د ستنې په سوری کښې اوښ اوباسل نا ممکن نه دی ﴿۴﴾ وهوالموفق.

د قبر خاوره په ننکو لګول او په کرامت سره د مړو ژوندی کیدل

سوال: (۱) علمائې دین څه فرمائی چه په مزارونو او زیارتونو باندې چه کومه

﴿۱﴾ عن عائشة قالت لما مات النجاشی کنا نتحدث انه لا یزال یریٰ علی قبره نور، رواه ابو داؤد.
(مشکواة المصابیح ص ۵۴۵ جلد ۲ باب الکرامات)

﴿۲﴾ عن عثمان بن عبد الله بن موهب قال ارسلنی اهلی الی ام سلمة بقدح من ماء و کان اذا اصاب الانسان عین او شیٔ بعث الیها مخضبه فاخرجت من شعر رسول الله ﷺ وکانت تمسکه فی جلجل من فضة فخضخضة له فشرب منه قال فاطلعت فی الجلجل فرأیت شعرات حمراء رواه البخاری.
(مشکواة المصابیح ص ۳۹۱ جلد ۲ باب الطب والرقیٰ)

﴿۳﴾ عن عوف بن مالک الاشجعی قال کنا نرقی فی الجاهلیة فقلنا یا رسول الله کیف تری فی ذلک فقال اعرضوا علی رقاکم لا بأس بالرقیٰ مالم یکن فیه شرک. رواه مسلم
(مشکواة المصابیح ص ۳۸۸ جلد ۲ کتاب الطب والرقیٰ)

﴿۴﴾ عدم ایلاج الجمل فی سم الخیاط من العادة العامة فایلاجه غیر ممکن للعامه و اما بالکرامة فممکن وجائز لان الکرامة فهی نقض العادة قال العلامه ملا علی قاری الکرامة خارق للعادة کما فی شرح فقه الاکبر وقال ابن عابدین و کرامات الاولیاء حق فتظهر الکرامة علی نقض العادة للولی الخ.
(فلیراجع الی رد المحتار ص ۶۸۴ جلد ۲)(از مرتب)

مالګه پرته وی چه خلق ئې د تبرک په طور وړی او د قبر نه خاوره او چتوی او په زخمی ځایونو او تنکو باندې ئې لګوی ایا دا جائز دی یا نه؟ (۲) بعضې خلق دا وائی چه پیران پیر شیخ عبد القادر جیلانی رحمه الله د دولسو کالو ډوبه شوې کشتئ سره د هغې د خلقو د دریاب نه راویستلې وه او کوم خلق چه ډوب شوې وو هغه ژوندې راوتلې وو، ایا دا صحیح ده؟

المستفتی: عبدالوهاب زره میانه نوشهره...... ۱۹۷۲ء

الجواب: (۱) تبرک اګر چه ثابت دې لیکن د عوامو خودساخته تبرک منل د علماؤ د شان نه لرې دی (۲) په کرامت سره د مړو ژوندی کیدل اګر چه ممکن بلکه واقع دی (۱) لیکن بې سنده خبره منل د اصولو او تعامل نه خلاف ده.

د پیران پیر کرامت او د عوامو غلو کول

سوال: ځما یا داشت سره داخبره شوې ده او کیږی چه پیران پیر عبد القادر جیلانی رحمه الله د یوولسو کالو ډوبه کشتئ سره د جنج نه د دریاب نه راویستلې وه چه د هغه کرامت وو ځکه دهغه په نوم یوولسمه کوؤ لیکن اوس بعضې خلق وائی چه دا کشتئ نه وه بلکه هغه یوولس کاله ددین سخت محنت او خدمت کړې وو نو ددې وجې نه داخبره مشهوره شویده، په دې کښې کومه خبره صحیح ده او کومه غلطه ده؟

المستفتی: عبد المقتدس جلبئ صوابی مردان...... ۱۹۷۳ء ۱۰۱۴۱

الجواب: داخبره دې واضحه وی چه د کرامت په طور سره د مړو ژوندی کول ممکن بلکه واقع دی (۲) کما فصله فی ترجمان السنة فلیراجع الیه. لیکن دا مخصوص حادثه په صحیح سند سره نه ده ثابت، دارنګې ددې ثبوت د نذر لغیر الله د جواز دپاره مستلزم نه دې، وهو الموفق.

---

(۱) عن ابی سبرة النخعی قال اقبل رجل من الیمن فلما کان ببعض الطریق نفق حماره فقام فتوضأ ثم صلی رکعتین ثم قال اللهم انی جئت من الدفینة مجاهدا فی سبیلک و ابتغاء مرضاتک وانا اشهد انک تحی الموتی وتبعث من فی القبور لا تجعل علی الیوم منه اطلب الیک الیوم ان تبعث حماری فقام الحمار ینفض اذنیه الخ. (البدایة والنهایه لابن الکثیر ص ۱۹۱ جلد ۶ کرامة لولی من هذه الامة)

(۲) قال ابن عابدین ان امام الحرمین قال المرضی عندنا تجویز جملة خوارق العادات فی معرض الکرامات ثم قال نعم یرد فی بعض المعجزات نص قاطع علی ان احدا لا یأتی بمثله اصلا کالقرآن .... ونقض العادة علی سبیل الکرامة لاهل الولایة جائز عند اهل السنة.
(رد المحتار هامش الدر المختار ص۳۳۷ جلد ۳ مطلب فی کرامات الاولیاء قبیل باب البغاة)

د کراماتو منکر معتزلی دې او د ما ثبت بالقران منکر کافر دې.

سوال: کرامات الاولیاء ثابت دی یا نه؟ ددې د منکر څه حکم دې؟ شرعی حکم واضح کړئ.

المستفتی: ماسترامین الحق سرائې نورنګ بنوں...... ۱۳ شعبان ۱۴۰۲ھ

الجواب: کرامات د اولیاؤ حق دی په ژوند کښې او د مرګ نه پس هم، اوددې نه انکار کونکې معتزلی دې (۱) الا اذا انکرما ثبت بنص القران فهو کافر. وهو الموفق.

د اولیاؤ کرامات او ددینه د منکر شرعی حکم

سوال: د کرامات الاولیاء متعلق د شریعت څه حکم دې؟ او ددې نه د منکر څه حکم دې؟ او ددې نه د منکر خلاف تحریک چلول څنګه دی؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: مولوی لطف الرحمن سرائې نورنګ بنوں ۲۳ رمضان ۱۴۰۲ھ

الجواب: کرامات د اولیاء الله حق دی په ژوند کښې هم او د مرګ نه پس هم، د قران او حدیث او علم کلام نه دغه عموم ثابت دې ددینه انکار کونکې بدعتی دې (۲) مونځ ورپسې کول مکروه تحریمی دی (۳) په ده باندې باقاعده رد کول د علمائې حق فرض او ذمه داری ده لکه څنګه چه غیر الله ته اواز کونکې مشرک کس باندې رد کول د علمائې حق فریضه ده، وهو الموفق.

د مرګ نه پس کرامات، روح، حیات، او علیین ته د روح تلل وغیره

سوال: د اولیاؤ کرامات او د انبیائې کرام علیهم السلام معجزات په ژوند او د مرګ

---

(۱) قال العلامه ملا علی قاری والکرامات للاولیاء حق ای ثابت بالکتاب والسنة ولا عبرة لمخالفة المعتزلة واهل البدعة فی انکار الکرامة...... وخالفهم المعتزله حیث لم یشاهدوا فیما بینهم هذه المنزلة.
(شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۷۹ المعجزات للانبیاء والکرامات للاولیاء حق)

(۲) الکرامات للاولیاء حق ای ثابت بالکتاب والسنة ولا عبرة بمخالفة المعتزله واهل البدعة فی انکار الکرامة.
(شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۷۹ المعجزات للانبیاء والکرامات للاولیاء حق)

(۳) قال العلامه طحطاوی وکره امامة العبد ...... والاعمی ...... والاعرابی ...... والفاسق ...... والمبتدع بارتکابه ما احدث علی خلاف الحق المتلقی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم الخ.
(حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۱۶۵ جلد ۱ فصل فی بیان الاحق بالامامة)

نه پس دواړو کښې حق دی یا صرف په ژوند کښې دی او د مرګ نه پس په مړو کښې د قران او حدیث په رڼړا سره څه ژوند او پوهه موجود وی که نه وی؟ په انسان کښې اصل څیز روح وی او روح د مرګ نه پس علیین یا سجین ته ځی نو بیا د منکر نکیر د سوال جواب او د ژوند وغیره به څه کیږی؟ جواب راکړئ.

المستفتی: حضرت خان پشاور.... ۱۰ رمضان ۱۴۰۵ ھ

الجواب: کوم څیز چه د قران او حدیث نه باقاعده ثابت وی او هغه د ممکناتو نه وی او د هغې په موجوید لو سره محال ذاتی نه لازمیږی نو دغه کار به بغیر تاویل نه منلې کیږی نو ددې قاعدې په بنیاد سره معجزات او کرامات بعد الممات ﴿۱﴾ او سوال جواب وغیره په امور حق کښې د عدم مشاهدې او عدم وجود فرق نه کول او په روح او حیات کښې فرق نه کول غلط فهمی ده ﴿۲﴾ وهو الموفق.

د کرامت بعد الوفات ثبوت

سوال: کرامات بعد الوفات د اولیاؤ د پاره په کوم دلیل سره ثابت دی؟ او په کوم شکل کښې شوې دی؟

المستفتی: الحاج نیازولی خان حسن خیل
شمالی وزیرستان ۲ رمضان المبارک ۱۴۰۵ھ

الجواب: کرامت بعد الوفات حق دې. یدل علیه حدیث رویة النور علی قبر النجاشی ﴿۳﴾ والکتابة علی باب الکفل وحدیث بلیغ الارض وغیر ذلک، وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامه ملا علی قاری الایات ای خوارق العادات المسماة بالمعجزات للانبیاء علیهم الصلاة والسلام والکرامات للاولیاء حق ای ثابت بالکتاب والسنة ولا عبرة بمخالفة المعتزلة واهل البدعة فی انکار الکرامة. (شرح فقه الاکبر للقاری ص ۷۹ المعجزات والکرامات حق)

﴿۲﴾ قال الحافظ ابن القیم ومما ینبغی ان یعلم ان ما ذکرنا من شان الروح یختلف بحسب حال الارواح من القوة والضعف و الکبر والصغر ......وانت تری احکام الارواح فی الدنیا کیف تتفاوت اعظم تفاوت بحسب تفارق الاورواح و کیفیاتها وقواها وابطائها فللروح المطلقة من اسر البدن وعلائقه وعوائقه من التصرف و القوة والنفاذ والهمة و سرعة الصعود الی الله والتعلق بالله ......فیکف اذا تجردت وفارقته واجتمعت فیها قواها ......فهذه لها بعد مفارقة البدن شان اخر و فعل اخر...... وکان بمنزلة شعاع الشمس الذی هو ساقط بالارض فاصله متصل بالشمس ......وکما ان السراج لو فرق بینه وبین الفتیلة الاتری ان مرکب النار فی الفتیلة وضوءوها وشعاعها یملأ البیت فکذالک الروح (الی اخره)
(کتاب الروح لابن القیم ص ۱۳۶ فصل فی ان شان الروح یختلف بحسب حال الارواح)

﴿۳﴾ عن عائشة قالت لما مات النجاشی کنا نتحدث انه لا یزال یری علی قبره نور. ابو داؤد.
(مشکواة المصابیح ص ۵۴۵ جلد ۲ باب الکرامات)

کتاب السیاسة

قال الله تعالی

وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا
لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۭ
وَاِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٦٩﴾ ع

(الاية)

كتاب السياسة

د سیاست اصلی معنی او مطلب

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د سیاست معنی څه ده؟ او د نن صبا سیاستدانان د سیاست نه څه معنی اخلی؟

المستفتی: مولانا عجب خان صدر اتحاد قبائل دره ادم خیل ۷۲ء۱۰۱۱ ۲۵

الجواب: سیاست په لغت کښې (پاس داشتن ملک وحکم دادن بررعیت) ته وائی (شمس اللغات ص ۴۱۴) یعنې تدبر او حکومت، او په دې کښې څه خاص اصطلاح نشته البته د موجوده خلقو په اصطلاح کښې سیاست وائی خپل ځان نیک نام کول او خپل ځان اوچتول، مقابل بدنامه کول او غورځول اگرچه په دروغو او دهوکو سره وی او اوگر که مقابل په حقه وی، وهو الموفق.

د سیاست او اقتدار د اصولو کامیابه طریقه

سوال: کوم خلق چه وائی چه شریعت بل د اسلام او عوامو خلاف سازش دې دا رنگې د ۱۹۷۳ء د آئین په موجودگئ کښې د شریعت بل هیڅ ضرورت نشته، حالانکه د ۱۹۷۳ء په ائین کښې په سلگونو دفعات د اسلامی قانون خلاف دی، لهذا ددغې بعضې علماؤ دا وئیل صحیح دی که نه؟ او د دوی دپاره څه سزا ده چه بغیر د څه وجې نه شور جوړوی؟ بینوا و توجروا

المستفتی: حافظ حزب الله ولد امان الله خان ټانک ډی ائی خان ۱۹۸۸ء۱۴۱ ۱۰

الجواب: څه پخپله د سیاست نه ناواقفه یم خو کامیاب سیاست دادې کوم چه مجاهدین او مهاجرین په افغانستان کښې کوی صرف شور چه جنگ په کښې نه وی داسې سیاست سره د اقتدار حاصلول ناممکن دی البته ددې سره د اهل اقتدار د حملونه د حفاظت یوه لویه فائده کیږی او داهم د شیخ الهند او مفتی محمود رحمہ اللہ د سیاست ثمره ده د بل سیاست نه، وهو الموفق.

په موجوده غیر شرعی قانونو کښې فیصلې، وکالت او مقدمات وغیره کول

سوال: دپاکستان د سرکاری قانون اکثره حصه تعزیرات هند دی چه د انګریزانو پخوانی قانون دی چه غیر اسلامی دی دغه شان نور هم قوانین دی چه د شریعت سره متصادم دی ددې قوانینو علم څو وکیلانو یعنی قانون دانو ته وی چه د عام خلقو نه پیسې اخلی او په عدالتونو کښې د مقدماتو پیروی کوی او قانون خو غیر اسلامی دی لیکن د یوم ملک د اوسیدونکو دپاره دیونه یو قانون موجودګی ضروری ده، نو په دې صورت کښې چه د شریعت قانون نشته، په دې کافرانه قانون کښې د مقدماتو پیروی کول فیصلې کول او عدالتونو ته تلل جائز دی که نه؟ بینوا وتوجروا.

المستفتی: محمد عالم کیدام بحرین سوات....۲۲محرم ۱۴۰۱ھ

الجواب: په موجوده قوانینو کښې چه کوم قوانین د شریعت د قوانینو سره متصادم وی نو په هغې باندې فیصله کول او دهغې مطابق د مقدماتو پیروی کول او دهغې معاوضې اخستل ټول په ټوله غیر اسلامی کارونه دی، البته په دغې قوانینو سره جائز حقونه خپلول او د ظالم نه خلاصې موندل ممنوع نه دی، لکه چه حضرت یوسف علیه السلام خپل رور د نورو رونړو د متوقع ظلم نه د بچ کولو دپاره (دین الملک) او مروجه قانون پکار راوستلو ﴿۱﴾ یعنې د مروج قانون په ګرفت کښې د راتللو نه د بچ کیدلو دپاره ئې تدبیر استعمال کړې وو لیکن جج یا وکیل مجبور نه وی، د رزق ګټلو ډیرې ذریعې دی نو غالبه داده چه د ګناه نه د دوی بچ کیدل مشکل دی وهو الموفق.

د ووټ شرعی حیثیت

سوال: محترمی ومکرمی حضرت الاستاذ المحترم مفتی اعظم محمد فرید صاحب دامت برکاتهم العالیه! په یو څو میاشتو کښې پاکستان کښې الیکشن کیدو والادې چه په هغې کښې ټولې سیاسی پارټۍ حصه اخلی په هغوی کښې یوه پارټی داسې ده چه د هغوی مقصد د شریعت قانون نافذ کول

﴿۱﴾ قال الله تعالیٰ ما کان لیأخذ اخاه فی دین الملک ..الآیة (پاره: ۱۳ سورة یوسف رکوع: ۳ آیت: ۷۶)

او د قران او سنت نافذ کول نو ددوی په مقابله کښې بلې سیکولر پارټۍ ته ووټ ورکول څنګه دی او د ووټ ورکولو نه پس به ددې سړی د عبادتونو څه کیږی مهربانی او کړئ زمونږ راهنمائی او کړئ؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: خاکپائې بزرګان دیوبند احمد نواز کوئیه
جنوبی بهکرمیاں والی.....۸ذی قعده ۱۳۸۹ھ

الجواب: (۱) چالره ووټ ورکول په هغه باندې د اعتماد اظهار کول دی.
(۲) او حکومت یا عوامو ته دهغه د اهلیت سفارش کول دی.
(۳) او حکومت یا عوامو ته دهغه د اهلیت مشوره ورکول دی نو چه کوم سړې داسې پارټۍ ته ووټ ورکړی چه هغه شرعی قانون نه غواړی نو دا سړې غدار، خیانت ګر او خراب سفارشی دې.

قال الله تعالیٰ من یشفع شفاعة حسنة یکن له نصیب منها و من یشفع شفاعة سیئة یکن له کفل منها ﴿۱﴾ و قال علیه الصلاة والسلام المستشار مؤتمن ﴿۲﴾ و قال رسول الله ﷺ الدین النصیحة ثلثا قلنا لمن قال لله و لکتابه و لرسوله ولائمة المسلمین و عامتهم رواه مسلم ﴿۳﴾. فقط

د فاسق امارت

سوال: علمائې دین دې مسئلو باره کښې څه فرمائی!
(۱) کوم سړې چه دوه ځلې په دروغه قسم خوړلې وی او دهوکه ئې ورکړې وی نو داسې کس د یو جماعت امیر یا نائب امیر جوړول څومره پورې صحیح دی؟ (۲) کوم سړې چه سمګلر وی، غل، بازاری او د سمګلنګ کاروبار کوی نو داسې سړې امیر مقررول څنګه دی؟

المستفتی: محمد اکرم مین بازار مینګوره سوات.....۱۲ جون ۱۹۷۰ء

الجواب: واضحه دې وی چه داسړې د فسق په وجه باندې د (امارت) لائق نه دې خو په دې شرط چه قوم ترې نه په فسق او فجور کښې زیات نه وی ګڼې نو (اندھوں میں کانا راجہ) په ړندو کښې یوې سترګې والا بادشاه وی) او په دې شرط چه دا سړې د قوم په نسبت مضبوطې رائې او ښه تدبیر والا نه وی ګڼې داخه داسې امامت نه دې چه دده امارت به د امامت په شان مکروه شی.

﴿۱﴾ (پاره: ۵ سورة النساء رکوع: ۸ آیت: ۸۵)
﴿۲﴾ (جامع الترمذی ص ۱۰۵ جلد ۲ ابواب الاداب باب ما جاء ان المستشار مؤتمن)
﴿۳﴾ (صحیح المسلم ص ۵۴ جلد ۱ کتاب الایمان باب بیان الدین النصیحة)

(۲) او سمگلنگ یو سیاسی گناه ده اسلامی گناه نه ده چه کله (خیانت او بې وعدګئ نه خالی وی وهو الموفق.

د شریعت په نوم عالم دین امیر منتخب کول

سوال: علمایئ دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه که یو قوم په اتفاقی طریقې سره یو عالم دین د شریعت په نوم باندې امیر مقرر کړی نو دا به شرعی امیر وی که نه؟ بینو اوتوجروا

المستفتی :محمد سردار وزیرستانی متعلم دار العلوم حقانیه ۱۲۹ذی قعده ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا سړې شرعی امیر دې دده جائز حکم منل ضروری دې البته دا سړې حدود او قصاص نشی جاری کولې او دده نه مخالفت کولو والا ته باغی هم نشی وئیلې کیدې. لعدم تحقق شرائط الامامت الکبری فافهم (۱) وهوالموفق

په موجود عام انتخاباتو کښې د حصې اخستلو شرعی حیثیت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په اسلام کښې د عام انتخاباتو څه حیثیت دې او ایا په دې کښې حصه اخستل جائزدی که نه؟ بینواوتوجروا.

المستفتی :عبد الصبور افغانی متعلم دار العلوم حقانیه اکوړه خټک..۱۹۸۹ء۳۱۸۱

الجواب: په خیر القرون کښې به خاص خاص او هوښیارو خلقو ووټ استعمالولو هریوسړې نه او په موجوده زمانه اعجاب کل ذی رائ برایه (۲) عام رواج دې او ددې مخ نیوې ناممکن دې لهذا د ماکان له ان یاخـذاخاه فی دین الملک....(الایة) (۳) ایت په رڼا کښې د اسلامی اقتدار حاصلول په دې حیلې سره ممنوع نه دی، وهو الموفق.

په افغانستان کښې د کمیونسټانو د اقتدار لاندې خلقوحکم

سوال: سوال لیکلې نشته او د تفصیلی جواب نقل موجود دې؟ ۱۹۸۹ء۱۵۱۸

الجواب: مدعیان اسلام که درافغانستان سکونت پذیر اند، برسه گونه اند

---

(۱) قال العلامه حصکفی فالکبریٰ استحقاق تصرف عام علی الانام وتحقیقة فی علم الکلام ونصبه اهم الواجبات...... ویشترط کونه مسلماً حراً ذکراً عاقلاً بالغاً قادراً .الخ

(۲) (مشکواة المصابیح ص۴۳۷ ج ۲ باب الامر بالمعروف الفصل الثانی)

(۳) (پاره: ۱۳ سورة یوسف رکوع : ۳ آیت: ۷۶)

(۱) اول ان کسان اند که کمیونزم واشتراکیت راموجب ترقی واسلام راموجب تنزل مے دانند ،واین فرقه بلاشک وشبه کافراست وامامت واقتداء بایشان باطل است.

(۲) دوم ان کسان اند که کمیونزم واشتراکیت راباطل مے دانند ولیکن ازوجه خوف وتجبر موافقت کمیونستهان مے کنند واین فرقه مسلمان است وامامت واقتداء ایشان درست است البته برایشان هجرت کردن ضروری است.

(۳) فرقه سوم انکه صرف ازوجه مفاد دنیوی درین جماعت خبیثه داخل شده باشند ورنه اعتقاد واعتقادارتدادنه باشد این کسان بلاشک وشبه فساق وفجار اند ، وهو الموفق.

د افغانستان د مجاهدینو اتحاد ضروری دې

سوال: ایا د افغانستان د مجاهدینو یووالې فرض دې که نه؟ چه اوس د فرقه واریت ښکارشوی دی اوایا د هندوستان، پاکستان او مسلمانانو ملکونو په علماؤ باندې د افغانستان مجاهدینو د یووالی خدمت فرض دې یا نه؟ د جواب احسان اوکړئ.

المستفتی : محمد حارث علاقه جندول ضلع دیر.... ۱۹۸۲ء۲۳۱۳۱

الجواب: دا اتحاد ډیر زیات ضروری دې لیکن عملی طریقې سره دا اتحاد د وخت حکومت کولې شی نورڅوک ئې نشی کولې، د نورو خلقو په اقدام سره به یو بل جماعت هم په وجود کښې راشی. وهو الموفق.

مغربی طرز انتخابات او اسلامی طریقه انتخابات

سوال: سوال لیکلې نشته خود جواب تفصیلی نقل شته دې !

الجواب: الحمد لله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی اما بعد! پس واضح باد که انتخابات عامه که مروج غرب وامریکه اند خلاف تعامل خیرالقرون وقرون ماضیه اند ، نزد برمقاصد ومصالح امامت سازگارنه اند ، وهوواضح، البته دربلادیکه حصول اقتدار وامامت بغیر ازین رویه مغربی حاصل نه مے شود مباح وجائز باشد لعدم ورود النهی عنه لان الله تعالی حسن کید یوسف علیه السلام لاخذاخیه کما قال تعالی کذالک کدنا لیوسف ماکان لیاخذ اخاه فی دین

الملک ای فی قانونه وطاعته. الحمد لله که علماء افغانستان مهاجرین ومجاهدین اعزهم الله تعالی برعدم مطالبه این انتخابات عامه متفق اند، اختلاف صرف درطریقه انتخاب شوری دارند، بعض این انتخاب شوری رابانتخاب عامه جائز مے گویند لعدم ورود النهی عنه لان عمر رضی الله عنه جعل امرالامارة شوری بین الاشخاص البتة وکان عمر قائما مقام الرعیة والامة، وبعض دیگراین راناجائز قرار مے دهند لکونه مخالفا عن التعامل، ولان العوام ینتخبون من لایکون اهلا لها ومن یعطیهم المال الکثیر ویعنیهم فی الامور الدنیویه فشاور عمرفانه کان ممن یعتمد علیه الامة وکان اهل الشوری منه اهلالها ولائقالها.

پس مناسب نزد فقیر این ست که ازانکه اساس هجرت وجهاد نهاده اند وهرقسم قربانی کرده اندوحق اقتدار حاصل کرده اند این شوری رامنتخب کنند یعني ازهرصوبه ومنطقه، تاکه حق قربانی ایشان ضائع نه شود البته تکالیف غیر مهاجرین مناسب است البته برائې ازمنه ائنده یقین اوصاف اهلیت شوری ضروری باشد.

تنبیه: مراد از مهاجرین ومجاهدین اهل حل وعقد ازایشان اند.

د بهوک هړتال حکم اود سینیټ شریعت بل

سوال: (۱) علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د بهوک هړتال څه حکم دې جائز دې که ناجائز دې؟ که په دې وجه باندې سړې مړشو نو جنت ته به ځی که دوزخ ته؟ (۲) سینیټ چه نن صبا کوم شریعت بل منظور کړېدې داخو یوڅو کاله مخکښې غیرائینی اسمبلۍ تیار کړې وو نودې څه حیثیت دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: عزیزالرحمن جنرل سټورنریاب کوهاټ.... ۱۹۹۰ء ۴۱۹۱

الجواب: (۱) بهوک هړتال یوسیاسی چال دې او مباح دې لیکن په لوږې سره خودکشی کول ګناه کبیره ده او حرام دی.

(۲) ددې بل متعلق ټول علمائې کرام یوځائ شوې وو لیکن په نورو ذرائعو سره د حکومت والو منافقت ښکاره شو. وهو الموفق

د کافرانونه د امداد اخستلو حکم

سوال: د دین او شریعت علمائې کرام دې مسئله کښې څه فرمائی چه بعضې

خلق د افغان کیمونسټ حکومت نه وسله او پیسې اخلی اوپه خلقو کښې ئې تقسیموی نو ایا په دې سره سړې کافر کیږی یا نه؟ یعنې د کافرانو نه دداسې امداد اخستلو څه حکم دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: محمد شریف ګیاخیل بنوں.... ۱۰ شوال ۱۴۰۸ ھ

الجواب: امداد خواستن ازکافر (مثلاروس وامریکه) جائز لیکن اگراین امداد باعث وسبب ترک جهاد یا کمزور شدن جهاد باشد حرام است نه که کفراست ونه شعار کفر، وهو الموفق

سیاست او مذهب

سوال: علمائې دین دې مسئلې کښې څه فرمائی چه یو سړې سیاست فضول ګڼړی اووائی چه سیاست د مذهب حصه نه ده دا علماؤ د دولت او اقتدار د حاصلولو یو ذریعه جوړه کړې ده نو دداسې سړی داخبره ترکومې پورې صحیح ده؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: حافظ صدیق الرحمن لنډ پوره بنوں ۱۰ ربیع الثانی ۱۴۰۹ ھ

الجواب: په عربی کښې سیاست حکومت اوتدبیر ته وئیلې شی او انبیاء علیهم السلام ټول په ټوله تدبیر کونکی وو (۱) او د حضرت موسی علیه السلام د زمانې نه په کښې حکومت هم راغلې، نو سیاست ته فضول وئیلو والا په غلطئ باندې دې، البته که ددې سړی مراد داموجوده بې دینه سیاست وی نو د علماؤ نه علاوه د نورو خلقو سیاست صرف د اقتدار دپاره دې او د علماؤ سیاست د اقتدار دپاره د دین دحفاظت دې، وهو الموفق

د ووټ اخستل خرڅول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د ووټ اخستل خرڅول جائز دی که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: بادشاه میرشیرګړه ضلع مردان... ۱۵ ربیع الثانی ۱۴۰۹ ھ

الجواب: ووټ د شفاعت او شهادت نوم دې او په دې کښې په یو باندې هم پیسې اخستل جائز نه دی، وهو الموفق.

(۱) عن ابی هریره رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال کانت بنواسرائیل تسوسهم الانبیاء کلما هلک نبی خلفه نبی (صحیح البخاری ص ۴۹۱ ج ۱ کتاب الانبیاء باب ماذکر عن بنی اسرائیل)

د (دهری حکومت) سره د خپلو اغراضو د پاره د تعلقاتو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه (دهری حکومت) سره تعلق ساتل او د هغوی نه تنخواه اخستل څنګه دی او حال دا چه دا خلق خپل وطن ته راشی نو وائی چه مونږ د خپل غرض دپاره تلې وو او د هغوی نه مو وسلې اخستلې، نو دادسې روئې ساتلو څه حکم دې؟ لکه چه نن صبا په افغانستان کښې داسې کیږی؟ بینواوتوجروا

المستفتی: مولاسید جمعدار سلارزو...۱۴۰۱هـ ۲۹۱۴۱

الجواب: په دې روي سره دا مسلمان فاسق او بې عزته کیږی او د دهریانو په نظر کښې ضمیر فروش او اسلام فروش ښکاری او د مسلمانانو په نزد باندې مداهن ګرځی. وهوالموفق.

د موجوده عوامی طرز انتخابات شرعی حیثیت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه:

(۱) په میراث کښې دوخوریانې د یوبرابر ګرځولې شوې دی او په ګواهئ کښې دوه زنانه د یوسړی برابر ګرځولې شوې دی ددې صریح او قطعی حکم باوجود زنانه ته په ووټ ورکولو کښې د سړی برابر حق ورکول ایا دا د قرانی حکم نفی نه ده؟

(۲) د داسې دستور ساز اسمبلئ، انتخابات چه د هغې د انتخاباتو طریقه د قرانی نصوصو خلاف وی نو ایا دا د (اسلامی اسمبلئ) وئیلو حقداره ده؟ او ایا د دې مرتب کړې شوې د ستور به د مسلمانانو دپاره قابل عمل وی؟

(۳) د پاکستان اکثر سیاسی جماعتونو دپاره سره د جمیعت علمائې اسلام وغیره د داسې د ستور ساز اسمبلئ په انتخاباتو کښې حصه اخستل د شریعت په رڼا کښې جائز دی که نه؟

(۴) داچه کوم غیر اسلامی انتخابات دی مسلمانانو دپاره ددې انتخاباتو بائیکاټ واجب یا مستحب نه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: حکیم شرین ګل ساول ډهیر مردان...۱۵ ربیع الثانی ۱۳۹۰هـ

الجواب: ویثبت عقد الامامة باحد الامرین باستخلاف الخلیفة ایاه واما بیعة من تعتبر بیعته من اهل الحل والعقد ولایشترط بیعة جمیعهم الخ (المسامرة والمسایرة ص ۳۲۶)

ددې عبارت نه معلومه شوه چه بادشاه او امیر په مشورې او اکثرې رائې سره هم مقررولې شی، اودا هم معلومه شوه چه مشوره او رائې ورکول د هرچا حق نه دې بلکه د اهل حل وعقد حق دې ځکه چه په دوی باندې د باقی خلقو اعتماد وی لیکن چه کله د خلقو اعتماد نامعلومه وی نو مجبوراً به عوامو طرف ته رجوع کیږی ځکه چه په اهل حل وعقد باندې اکتفاء دعوامی اعتماد په وجه باندې وو، نودا ووټ ورکول په حقیقت کښې د شفاعت او اعتماد اظهار دې چه په هغې کښې د مذکر او مؤنث هیڅ فرق نشته. ﴿۱﴾ لهذا د انتخاباتو دا طریقه قابل اعتراض نه ده خو نااهل او بې دینوته ووټ ورکول او په هغه باندې اعتماد کول قابل د اعتراض دی او د شریعت سره متصادم دی، فقط.

په دستور ساز اسمبلئ کښې د قطعی محرماتو په باره کښې رائې شماری کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ددین اسلام په واضح، قطعی، منصوصی او حتمی قرانی محرماتو کښې به په قانون ساز ادارو او اسمبلو کښې تعداد ته کتلې شی او که نه؟ لکه د سود په شان قطعی اوخدائی فیصلې په باره کښې د اسمبلئ د ممبرانو رائې شماری په شریعت مصطفوی کښې څه حیثیت لری؟ ددې تجویز پیش کولو والا او د دوی د ملګرو په شریعت کښې څه حکم دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: محمد عبدالله عفی عنه لاهور..... ۱۹۷۳ء

الجواب: داسې تجویز پیش کول بغیر د مصلحت نه ناجائز دې البته د منافق او غیر منافق د امتیاز دپاره یا قانونی طور سره بندیدلو دپاره که داسې مصلحتونه وی نو جائز دې، وهوالموفق.

اسلامی ښارونه د روس یا امریکې اسټیټ جوړول ظلم عظیم دې

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه:

﴿۱﴾ دحضرت عثمان رضی الله عنه دانتخاب دپاره چه د عوامو دپاره کومه رائے اخستے شوے وه د مورخ ابن کثیر په الفاظو کی: حتی خلص الی النساء المخدرات فی حجابهن و حتیٰ سأل الولدان فی المکاتب و حتی سأل من یرد من الرکبان والاعراب الی المدینة فی مدة ثلاثة ایام بلیالیها (البدایة والنهایة ص ۱۴۶ ج۷ خلافت عثمان رضی الله عنه)

(امیر ګرویک)، شمالی وزیرستان د پښتونستان د جوړولو دعوی کوی په دافغانستان کښې هم د سرخ پوش پښتونستان نعره لګوی، نو پښتونستان غوښتل او ازاد قبائل د حکومت پاکستان نه جدا کولو دعوی د امیر ګرویک، دپاره د شریعت په رڼا کښې جائز دی که نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: مولوی ګل منیر خیسور شریف شمالی وزیرستان ۱۵ جنوری ۱۹۸۴ء

الجواب: د پښتونستان نعره په ظاهره یوه سیاسی نعره ده نه مطلوب شرعی ده او نه ممنوع شرعی ده، البته اسلامی ښارونه د روس او روس نواز قومونو استیټ جوړول ظلم عظیم دی لکه څنګه دا د امریکې او امریکه نواز خلقو استیټ جوړول ظلم عظیم دی.

ښځو ته ووټ ورکول

سوال: محترم المقام زید مجدکم! د سلام مسنون او نیک دعاګانو نه پس ستاسو خدمت کښې دا عرض دی چه په شریعت کښې ښځو ته ووټ ورکول څنګه دی، ددې واقعې نه قطع نظر چه د صوبائی اسمبلئ ممبرانو ښځې ته ووټونه ورکړی دی، نو ایا ښځې ته ووټ ورکول جائز دی که نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: مولوی علی اکبر صاحب مدرسه عربیه انوار العلوم
میرا خیل ضلع بنوں ۲۰ محرم ۱۳۹۲ هـ

الجواب: محترم المقام السلام علیکم! نه پس دې واضحه وی چه د ووټ مقصد د اعتماد اظهار او د اهلیت سفارش کول دی لهٰذا په شریعت مقدسه کښې چه زنانه د کومو ذمه دارو ادا کولو حقداره ده نو په هغې کښې ښځې ته ووټ ورکول جائز دی، او د کومو ذمه داریانو چه حقداره نه ده (لکه امامت کبری، صغری، خطابت وغیره) نو په هغې کښې ورته ووټ ورکول حرام دی، قال الله تعالی ومن یشفع شفاعة سیئة یکن کفل منها ﴿۱﴾ وقال الله تعالی ان الله یامرکم ان تؤدوا الامانات الی اهلها ﴿۲﴾ فقط.

د اسلامی ائین نه نافذ کونکو سره د جهاد حکم

سوال: علمائې دین او د شرع متین مفتیان کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د ۲۵ کالونه مسلسل د پاکستان لیډران د اسلامی ائین د نافذ

﴿۱﴾(پاره: ۵ سورة النساء رکوع: ۸ آیت: ۸۵) ﴿۲﴾(پاره: ۵ سورة النساء رکوع: ۵ آیت: ۵۸)

کولو وعده کوی لیکن تر اوسه پورې یو هم دا وعده پوره نه کړه، اوس راروان کال مارچ کښې چه به کوم ائین نافذ کیږی دهغې متعلق هم وعده کوی چه اسلامی ائین به نافذ کوو. که خدائې مه کړه دې ځل هم ائین جوړ نه شو نو دې لیډرانو سره د اسلامی اصولو مطابق جهاد کول جائز دی که نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: مولوی ملک عجب خان صدر اتحاد قبائل دره ادم خیل ۲۵/۱۰/۱۹۷۲ء

الجواب: حقیقت دادې چه اکثریت اسلامی نظام نه غواړی لکه چه دانتخاباتو نه معلومه شوه او په اسمبلئ کښې هم ظاهریږی. که دې ځل دې اسمبلئ والو اسلامی نظام قائم نه کړو نو دې منافقانو سره به د طاقت مطابق جهاد فرض وی او د طریق کار تعین اوس نشی کیدلې فقط.

سیاست شرعیه د اسلام حصه ده

سوال: یو بریلوی مولانا صاحب په تقریر کښې اووئیل چه دیوبندیانو د مرزائیت خلاف کوم تحریک چلولې وو دهغې د اسلامی مذهب سره هیڅ تعلق نه وو، بلکه دا یو سیاسی تحریک وو. ایا دا صحیح ده؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: مولوی غلام یحی پنډی ګهیپ. ۲۲ جولائی ۱۹۷۵ء

الجواب: په سیاست او اسلام کښې هیڅ ټکراؤ نشته. سیاست شرعیه د اسلام حصه ده ﴿۱﴾ فقط.

خدائی قوانین ترقیامته پورې د امن، ترقئ، اوخوشحالئ کفیل دی

سوال: یو مقتدر سړې چه (پرده) یو شرعی حکم دې ددې تشبیه د قید او جیل سره ورکوی او عملاً خلاف کوی په یوه موقع باندې ئې زنانو نه د پردې لرې کولو حکم اوکړو او هغه بې پردې کیناستلې. دا سړې د ملک د سرو سپینو مالک دې که هغه اوغواړی نو د پردې حفاظت هم کولې شی. ائنده دا خطره هم ده چه هغه به خپلې جراتمندانه بداعمالئ سره چرته قران کریم منسوخ اونه ګرځوی دداسې سړی په باره کښې شرعی حکم څه دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: سعد الدین کان الله له..... ۱۴ ربیع الاول ۱۳۹۲ هـ

﴿۱﴾ عن ابی هریرة عن النبی ﷺ قال کانت بنوا اسرائیل تسوسهم الانبیاء کلما هلک نبی خلفه نبی وانه لا نبی بعدی وسیکون خلفاء فیکثرون قالوا فما تأمرنا یا رسول الله قال فوابیعة الاول فالاول اعطوهم حقهم فان الله سائلهم عما استرعاهم.
(صحیح البخاری ص ۴۹۱ جلد ۱ کتاب الانبیاء باب ما ذکر عن بنی اسرائیل)

الجواب: الله تعالی حکیم مطلق چه کوم قوانین او احکامات د خاتم النبیین ﷺ په ذریعې سره رالیږلي دی نو دهغې لازم بین دادې چه دا قوانین او احکام به ترقیامته پورې د امن، ترقئ او خوشحالئ کفیل وی، نو د خارجی اثر د وجې نه د ترقئ په لاره کښې رکاوټ ګڼړل او ختمول د الله تعالی په حکمت او علم باندې بې اعتمادی ده بلکه الحاد او زندیق توب دې، وهوالموفق.

د بې دینه او کافرانو سره سیاسی اتحاد کول

سوال: علمائې دین دهغه سړی باره کښې څه فرمائی چه څوک د سوشلستانو یا کیمونستانو یادیو داسې تحریک او جماعت سره منسلک وی چه هغه سراسر یا ضمنی طور د اسلام د اصولو خلاف وی او د قطعی احکامو منکر وی نو دې قسم خلقو سره د اتحاد کولو څه حکم دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: عبدالکریم اکوړه خټک.۱۹۸۵ء۱۱۱۱۱۲

الجواب: کمیونزم او سوشلزم کافرانه نظامونه دی د دوی تحسین او تائید کول د کافرانو کارونه دی، البته د اسلام د مفادو په خاطر دیو کافر سره اتحاد ممنوع نه دې ﴿۱﴾ وهوالموفق.

د حکومت د زکوة په سستم کښې د جمیعت علمائې اسلام د پالیسئ تائید

سوال: په یو اجلاس کښې دا قرارداد منظور شو چه موجوده د زکوٰة طریقه کار د خالص سود یو شکل دې لهذا مدارس عربیه له ددینه انکار کول پکار دی لیکن تراوسه پورې مدرسې دا زکاتونه اخلی او تاسو حضراتو وئیلې دی چه دا زکوة اخستل صحیح دی نو په اجلاس کښې چه ستاسو په حوالې سره دا خبره شویده څومره پورې صحیح ده په دلائیلو سره ئې وضاحت او کړئ؟ بینوا وتوجروا.

المستفتی: محمد داؤد خان افغانی چارسده...۱۹۸۴ء۱۲۱۲۱۴

الجواب: د زکوة په موجوده طریقه کار کښې دوه خبرې قابل اعتراض دی،

اول: دا د سودی پیسو نه اخستل او په سود سره اخستل.

دویم: دا د کالج په طالب علمانو او د فوجیانو په بچو باندې خرچ کول او د

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین قوله و قد استعان علیه الصلاة والسلام .... انه علیه الصلاة والسلام استعان فی غزوة خیبر بیهود من بنی قینقاع و فی غزوة حنین بصفوان بن امیه و هو مشرک .الخ (رد المحتار ص۲۵۷ ج۳ مطلب فی الاستعانة بمشرک فصل فی کیفیة القسمة)

هغوی پورې مخصوص کول.

ددینه علاوه په کښې قابل اعتراض څه خبرې ظاهراً نه معلومیږی.

نوټ: که د جمیعت علمائې اسلام په نزد باندې ددې اخستل د مصلحت خلاف وی نو څما د هغوی سره هیڅ مخالفت نشته. وهوالموفق.

د مرزایانو اتحادی جماعت ته ووټ ورکول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو جماعت مرزایانو سره (قادیانانو) اتحاد وی هغوی له ووټ ورکول یا په هغې کښې شاملیدل یا د هغوی تشهیر کول جائز دې که ناجائز؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: سید محمد صغیر شاه مینابازار کیمل پور شهراټک ۱۹۷۰ء۱۹۱۲۰

الجواب: که ددې جماعت سره د مرزایانو اتحاد د اسلامی نظام د حاصلولو دپاره وی نو ووټ ورکول ورته جائز دی او که دا اتحاد په دې ارادې سره نه وی نو ووټ ورکول ورته حرام دی برابره خبره ده چه مرزایان معاون او تابع وی یا د جماعت سره برابر وی، وهوالموفق.

د ختم نبوت په مسئله کښې د ,,خدمت,, د الفاظو صحیح مطلب

سوال: جناب مفتی صاحب دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک پیښور السلام علیکم! د پاکستان په مذهبی جماعتونو کښې د یو جماعت مولانا دا دعوی کړې وه (په لیکلو سره) چه په دې اخری زمانه کښې د ختم نبوت مسئلې کوم خدمت څمونږ جماعت کړې دې ددې مثال په تیرو دیارلسو پیړو کښې ملاویدل ګران دی ایا په دې عبارت سره خوبه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او دهغه نه روستو خلقو توهین نه وی شوې، هغوی خو د مرتدینو سره جنګونه کړی دی او جهنم ته ئې داخل کړی دی، بیا د هغوی نه روستو خلقو هم مرتدین د جهنم اور ته داخل کړی دی. لیکن نن صبا علماؤ خو نه چرته مرتد جهنم ته داخل کړو او نه ئې جنګ کړې دې او نبی ﷺ فرمائی. خیرالقرون قرنی ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم الخ؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: محمد یعقوب بورې والا شهر ملتان ریل بازار...۱۹۶۹ء ۴۱۵

الجواب: کیدي شی ددې مولانا مراد علمی خدمت او په ژبې سره دلیل بازی او مناظره وی چه په مخکنو پیړو کښې د ضرورت د نیشتوالی په وجه باندې نه وی شوې، اویا به دده مراد دا وی چه څمونږ جماعت بغیر د حکومت او اهل اقتدار د امداد نه کوم خدمت کړې دې آلخ لهذا دا الفاظ د مؤاخذې قابل نه دی. (لظهوره مراده) فقط.

د ښځې اقتدار او حکمرانی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زنانه په حکومت او اقتدار کښې د کوم حد پورې داخلیدلې شی، شرعی حکم ئې واضح کړئ؟ ډیره مهربانی به وی.

المستفتی: محمد ارشاد اینډ برادرز پشاور شهر...۲ شعبان ۱۴۰۵ هـ

الجواب: زنانه په زوره باندې حکمران کیدلې شی «۱» لیکن بغیر د طاقت نه حکمرانه جوړول ناجائز دی او د بی برکتئ باعث دی «۲» وهو الموفق.

د مصلحت په وخت کښې مودودیانو سره اتحاد جائز دې

سوال: دجمیعت علمائې اسلام د مودودیانو سره د اتحاد څه حکم دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: محمدزرین تل کوهاټ...... ۲۷ ذی الحجه ۱۴۰۶ هـ

«۱» قال ابن عابدین اذا تغلب آخر علی المتغلب وقعد مکانه انعزل الاول و صار الثانی اماما ....فقد علم انه یصیر اماما بثلاثة امور لکن الثالث فی الامام المتغلب و ان لم تکن فیه شروط الامامة و قد یکون بالتغلب مع المبایعة و هو الواقع فی سلاطین الزمان نصرهم الرحمن.
(ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۳۳۹ ج ۳ مطلب الامام یصیر اماما بالمبایعة او بالاستخلاف باب البغاة)

«۲» عن ابی بکرة رضی الله تعالیٰ عنه قال لقد نفعنی الله بکلمة .... لن یفلح قوم و لوامرهم امرأة (صحیح البخاری ص ۶۳۷ ج ۲ کتاب المغازی کتاب النبی الیٰ کسریٰ و قیصر)
وقال العلامة عبدالعزیز الفرهاری (والنساء ناقصات عقل و دین .... وایضا هی مامورة بالتستر و ترک الخروج الیٰ مجامع الرجال و ایضا قد اجمع الامة علیٰ عدم نصبها حتی فی الامامة الصغریٰ (النبراس شرح شرح العقائد ص ۳۲۱ و یشترط ان یکون الامام من اهل الولایة)

الجواب: چه هرکله د مصلحت په وخت کښې د هندوانو سره اتحاد جائز دې «۱» نو د بدنام مسلمانانو سره به څنګه ناجائزه وی. فقط.

د الیکشن یعنی د انتخاباتو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه الیکشن (انتخابات) د شریعت په رڼا کښې جائز دې که نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: ماسټر روز مین خان واړئی ضلع دیر...۲۵ صفر ۱۳۹۷ هـ

الجواب: الیکشن د (اظهاررائې) نوم دې او دخپل نمائنده انتخاب دې اسلام ددې اجازت ورکوی «۲» او په دې وخت کښې دملک ښه ښه مشران په دې کښې حصه اخلی کوم مولوی صاحب چه ددې مخالفت کوی هغه غلط وائی.

ازاد امیدوارته د ووټ ورکولو فتوٰی ورکول د سیاست نه بې خبری ده

سوال: یو مولوی صاحب د ۷ مارچ انتخابات کښې د قومی اتحاد امید وار ته د ووټ ورکولو فتوی ورکړه او په لسم مارچ باندې انتخاباتو دپاره ئې دخپل کلی د ازاد امیدوار په حق کښې فتوی ورکړه چه د ګاونډی حق زیات دې نو داسې مولوی صاحب پسې مونځ جائز دې یا نه؟ بینوا وتوجروا.

المستفتی: الطاف حسین عبدالمجید اینډ کمپنی ګندم منډی راولپنډی ۱۹۷۰ء

«۱» قال الحصکفی و مفاده جواز الاستعانة بالکافر عند الحاجة و قد استعان علیه الصلاة والسلام بالیهود علی الیهود و رضخ لهم. قال ابن عابدین انه علیه الصلاة والسلام استعان فی غزوة خیبر بیهود من بنی قینقاع و فی غزوة حنین بصفوان ابن امیه و هو مشرک. (الدر المختار مع رد المحتار ص ۲۵۷ ج ۳ مطلب فی الاستعانة بمشرک)

«۲» دحضرت عثمان رضی الله عنه دانتخاب دپاره چه کومه رائې اخستې شوې وه هغه عوامی رائې وه او کله چه الیکشن د اغیارو په لاسونو کښې وی او نتائج د عوامی رائې مطابق نه وی بلکه د پورته نه راځی نو بیا دا الیکشن هم نه دې بلکه سلیکشن دې دې ته انتخابات وئیل غلط وی لهذا په آزاد انتخاباتو کښې عوامی رائې دشریعت په رو سره جائز ده:
کما یدل علیه کلام ابن کثیر حتی خلص الی النساء المخدرات فی حجابهن و حتی سأل الولدان فی المکاتب و حتی سأل من یرد من الرکبان والاعراب الی المدینة فی مدة ثلاثة ایام و بلیالیها (البدایة والنهایة ص ۱۴۶ ج ۷ خلافت عثمان رضی الله عنه) (مرتب)

الجواب: په دې تضاد باندې خو په مونږ باندې څه اثر نه پریوځی لیکن دا مولوی صاحب د سیاست نه بالکل ناواقفه دی، وهو الموفق.

شاهراه ریشم د تحریک نظام مصطفی دپاره
د اکابرو د هدایت مطابق بندول پکار دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه چین نه تللو والا لار (شاهراه رشیم) د بهټو صاحب د مخالفت او د تحریک نظام مصطفی د حاصلولو دپاره بندول جائز دی که نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: عالمګیر پټین کوهستان......١٩٧٧ء

الجواب: د سوشلزم د مغلوب کولو دپاره او د اسلامی نظام راوړلو دپاره چه کوم اقدام هم اوشی جائز دې البته مصلحت په دې کښې دې چه د اکابرو د هدایاتو مطابق تحریک او چلولې شی. (دې پاره چه ګډوډی د تحریک د ناکامیاب کیدلو سبب جوړنشی) وهو الموفق.

د ښځو په جلوس کښې وتل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په جلوسونو کښې د ښځو وتل جائز دی که نه؟ یعني په شریعت کښې د ښځو د جلوس څه حکم دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: عبدالله مرکزی جامع مسجد اسلام اباد.

الجواب: فقهائې کرامو لیکلی دی چه کله جهاد (فرض کفایه) وی نو ښځه به د خاوند د اجازت نه بغیر نه ځی او چه کله (فرض عین) وی نو بغیر اجازت نه تللې شی نودغه شان به مظاهرو له وتل هم وی البته بې پردګی هر وخت ممنوع ده.

د شرعی حقوقو خیال ساتلو سره سره د ښځو د جلسې جلوسونو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ایا د ښځو جلسې جلوسونه جائز دی یا نه؟ چه د پردې خیال ساتل په کښې وی؟ بینوا وتوجروا.

المستفتی: نامعلوم.... ٢٦ جمادی الاول ١٩٩٧ ھ

الجواب: بې پردګی حرامه ده د شرعی حقوقو خیال ساتلو سره سره ﴿١﴾ د اسلامی قوانینو د نافذ کولو دپاره دا کوششونه او د ښځو چغې سورې وهل جائز دی. وهو الموفق.

د اسلامی نظام دپاره جلسې جلوسونه کول جهاد دې بغاوت نه دې

سوال: نن صبا چه د قومی اتحاد خلق کومې جلسې جلوسونه کوی او د بادشاه وخت نه بغاوت کوی نود داسې فسادیانو او باغیانو خلقو شرعی سزا څه ده؟ د جواب احسان اوکړئ.

المستفتی: میاں کریم الدین کاکاخیل سرډهیری مردان.....١٩٧٧ء ٣١٨١

الجواب: غیر مسلح قوم چه کله جلسې او جلوسونه کوی نو دوی ته باغیان وئیل د دین نه ناواقفیت ده، ﴿٢﴾ او حال دا چه دا خلق د سوشلزم د کمزوري کولو او اسلامی نظام د راوړلو دپاره جهاد او کوششونو کولو والا وی.

نوټ: شرعی باغی مباح الدم وی. کذا فی جمیع کتب الفقه، وهو الموفق.

په موجوده سیاست کښې د اسلامی نظام دپاره کوشش کول

سوال: موجود سیاست یقینی جهاد دې که نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: سمیع الرحمن مردان ګمبت

الجواب: د اسلامی نظام د قائمولو دپاره کوشش کول یقینی جهاد دې والطریقة المروجة وسیلة له کما ان یوسف علیه السلام توسل بدین الملک. ﴿٣﴾ فافهم.

﴿١﴾ یجوز لهن الخروج اذا کان باذن الزوج تفلات مجتنبات عن لباس الزینة والتعطر واختلاط الرجال فما دامت النساء راعت هذه الشرائط فلا ضیر فیه. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ١٢٩ ج٥) باب ماجاء فی خروج النساء فی الحرب)

﴿٢﴾ قال ابن عابدین ان المسلمین اذا اجتمعوا علی امام و صارو آمنین به فخرج علیه طائفة من المؤمنین فان فعلوا ذالک لظلم ظلمهم به فهم لیسوا من اهل البغی و علیه ان یترک الظلم و ینصفهم و لا ینبغی للناس ان یعینوا الامام علیهم لان فیه اعانة علی الظلم
(رد المحتار هامش الدر المختار ص ٣٣٨ ج٣ باب البغاة)

﴿٣﴾ قال الله تعالیٰ ما کان لیأخذ آخاه فی دین الملک...... الآیة (پ: ١٣ سورة یوسف ع: ٣ آیت: ٧٦)

د علماؤ د پاره اسلامی نظام راوړل د اقتدار او کرسئ نه بغیر ناممکن دي

سوال: که په الیکشن کښې په مقابله کښې علمائې کرام مثلاً مفتی محمود صاحب وغیره امیدوار شی نو که یو سړي دي علماؤ ته ووټ ورنکړی نو شرعا به مجرم وی که نه؟ او بعضې خلق وائی چه علمائې کرام په انتخاباتو کښې صرف د کرسئ حاصلولو دپاره حصه اخلی د نظام مصطفی دپاره انتخابات نه کوی، او کومو خلقو چه تیرشوو انتخاباتو کښې د پیپلزپارټئ (ppp) او سوشلزم حمایت کړې د هغوی شرعی حکم څه دي؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: حافظ عبد الخالق ډی ائی خان... ۱۹/۹/۱۹۷۷ء

الجواب: خبرشه چه په هر مسلمان باندې ضروری دی چه د اسلامی نظام راوړو حمایت او تعاون اوکړی، او د غیر اسلامی نظامونو لکه سوشلزم، کمیونزم، کیپټلزم، او فاشزم وغیره مقابله اوکړی نو چه کوم سړي ددې نه مخالف وی هغه به منافق وی او بعضې صورتونو کښې کافر کیږی مثلا چه دا غیر اسلامی نظامونه د ترقئ باعث اومنی او اسلامی نظام د تنزل باعث اوګڼړی، اودا خبره دي هم په ذاګه وی چه په دې زمانه کښې بغیر د اقتدار اوکرسئ نه یو نظام راوړل ناممکن دی، نو په هرمسلمان باندې ضروری دی چه علماؤ کرامو سره په کرسئ او اقتدار حاصلولو کښې پوره امداد اوکړی، او د علمائې کرامو نه دا امید کیدې شی چه هغوی اسلامی نظام رائج کړی د نورو پارټیانو نه دا امید ساتل غلط دی او د تجربې نه خلاف دی، وهو الموفق

دجمیعت علمائې اسلام حمایت اود جماعتی فیصلې مطابق ووټ استعمالول

سوال: په دې زمانه کښې هره پارټی د اسلام نعره وهی، نو مونږ له په کومه پارټئ کښې شمولیت اوحمایت کول پکار دی چه الله او رسول ﷺ څمونږ نه راضی شی، دارنګې پیپلزپارټی د اسلام سره د سوشلزم نعره هم وهی، نو ایا سوشلزم اسلامی نظام دې، او په داسې جماعت کښې ورتلل او د هغوی حمایت کول څنګه دی او دوی ته ووټ ورکول څنګه دی؟ چه کله مذهبی څوک امیدوار نه وی؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: سیدمحمد بلوچستانی... ۶شعبان ۱۳۹۴ھ

الجواب: په موجوده زمانه کښې د جمیعت علمائې اسلام حمایت کول ضروری دی دهغوی نه د اسلامی نظام توقع کیدلې شی، نورې پارټئ دخپل غرض

دپاره د اسلام نوم اخلی. نوچه کوم ځائ کښې د جمیعت نمائنده نه وی هلته د جمیعت د جماعتی فیصلې مطابق ووټ استعمالول پکار دی. فقط

د علماؤ د پاره اتحاد ډیر اهم او ضروری دې

سوال: بخدمت جناب محترمی ومکرمی شیخ الحدیث صاحب دامت برکاتهم، السلام علیکم! د خیریت نه پس عرض دادې چه موجوده سیاسی کشمکش عام طور سره او د علمائې دیوبند کشمکش خاص طور سره څمونږ دپاره یو لوئ مصیبت جوړ شوې دې ځکه چه نه خو په مدرسو کښې طالبان سبقونه وائی اونه په ارام سره یوه مدرسه کښې اوسیږی. اوخاص کر په علمائې دیوبند کښې د جمیعت علمائې اسلام هزاروی ګروپ اوتهانوی ګروپ اختلاف د طالبانو دپاره یو غټ مصیبت جوړ شوې دې ځکه چه کوم ځائ کښې د هزاروی ګروپ مدرسه ده هلته د تهانوی ګروپ سره تعلق والا طالبان نه ایساریږی، اوپه کوم ځائ کښې چه د تهانوی ګروپ مدرسه ده هلته د هزاروی ګروپ سره تعلق ساتلو والا طالبان په سکون کښې نه دی الخ؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: منجانب: محمد تاج اشرف العلوم گوجرانواله ۱۴/۹/۱۹۷۰ء

الجواب: محترم المقام د وعلیکم السلام نه پس خبره داده چه د علمائې کرامو دپاره اتحاد ډیر اهم او ضروری دې او خاص طور په هغه وخت کښې چه دنیاداري پارټیانې د اتحاد دپاره او داختلاف ختمېدلو دپاره محنت کوی نو علمائې کرامو دپاره به د اتحاد نه مخ اړول سراسر وبال وی څمونږ طرفنه هیڅ انکار نشته لیکن صرف څمونږ په کوشش سره دا اتحاد ناممکن دې. فقط

د جمیعت علمائې اسلام د سواد اعظم، نه مخالفت کول غلطی ده

سوال: محترم جناب مفتی صاحب نن صبا د جمیعت په نوم سره یو ګروپ جمیعت علمائې اسلام دې او دویم ګروپ د (مرکزی جمیعت) په نوم سره کار کوی، او د یوبل مخالف دی، نو په دوی کښې کوم یو ګروپ په غلطئ دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: عبدالله کانګړه چارسده... ۲۲ ربیع الاول ۱۳۹۰ھ

الجواب: د مرکزی جمیعت افراد لږ دی او د سواداعظم نه مخالفت کولو په وجه باندې په غلطئ دی، دوی دپاره ضروری ده چه په دې نازک وخت کښې ددې خپلې روئې نه واپس شی جمیعت علمائې اسلام یومنظم کارکن، سرفروش او دهرې فتنې اوزندقې مقابلې کولو والا جماعت دې او دهغوی

اراده ده چه په یو جماعت کښې هم مدغم نه شو بیشک نور جماعتونه د دوی سره د دوی په منشور باندې یو ځآئ کیدلې شی فقط.

د جمیعت علمائې اسلام سره تعاون او الحاق ضروری دې

سوال: د سلام او ادابونه پس عرض دادې چه نن صباد بې دینه پارټیانو په مقابله کښې دوه مذهبی پارټیانې دی جمیعت علمائې اسلام او جماعت اسلامی، لیکن دا دوه پارټۍ هم په یو بل باندې د کفر فتوی لګوی مثلا اوس اوس څمونږ په علاقه کښې د جماعت اسلامی علماؤ د جماعت اسلامی نه علاوه په ټولو باندې د کفر فتوی اولګوله ستاسو صاحبانو په خدمت عالیه کښې عرض دې د قران او حدیث په رنړا کښې اولیکئ چه مونږ په کومه پارټۍ کښې شریک شو چه خالص د اسلام د سربلندئ دپاره کوشش کوی او مکمل اسلامی نظام او شریعت محمدی نافذ کول غواړی او په کومه پارټۍ چه تاسو اعتراض کوئ په هغې باندې د قران او حدیث مطابق فتوی ورکړئ مونږ به ستاسو د فتوی رارسیدلو پورې یوې پارټۍ سره هم الحاق نه کوؤ؟ بینوا و توجروا.

المستفتی: محمدرسول کمبړلعل قلعه علاقه میدان ضلع دیر ۱۰ ربیع الثانی ۱۳۹۰ھ

الجواب: د جمیعت العلماء په نزد باندې مودودی جماعت کافر نه دې خو په مودودی او د هغه په تابعدارو افرادو بآندې د کفر خطره موجوده ده، او دجماعت اسلامی په نزد باندې سوشلزم کفر دې لیکن د جمیعت علمائې اسلام په نزد باندې هم سوشلزم خلاف اسلام ډله ده، لهذا جمیعت العلماء ته سوشلستان او کمیونستان وئیل او د دوی کفر ثابتول غلط دی. په دې کښې شک نشته چه جمیعت العلماء د مکمل اسلامی نظام په نافذ کولو کښې محنت کوی او دا خلق بدنام نه دی په خلاف د جماعت اسلامی چه هغوی حدود جاری کول نه غواړی د هغوی په منشور کښې د حدود هیڅ تذکره نشته، دا رنګې هغوی ټول لاهوری ګروپونه او اکثر قادیانیان په اکثریت کښې د شاملولو وئیلې دی، او دا خلق بدنام هم دی، لهذا په هر دیندار مسلمان باندې ضروری دی چه د جمیعت العلماء سره الحاق اوکړی او د هغوی سره تعاون اوکړی. فقط

جمیعت علماء اسلام له ووټ ورکول پکار دی

سوال: نن صبا ووټ کومې پارټۍ له ورکول پکار دی؟ بینوا و توجروا

المستفتی: فضل احد غلام احد بازار بټ خیله ملاکنډ ایجنسی ٦ جون ۱۹۷۰ء

الجواب: د جمیعت علماء اسلام، جماعت اسلامی او مرکزی جمیعت نه علاوه ټول جماعتونه د اسلامی قانون د نافذ کولو مطالبه نه کوی، نو ددې فرق نه بچ کیدل ډیر زیات ضروری دی او په دې دریواړو کښې جماعت اسلامی بدنام دې دا خلق تیهډی اسلام او ماډرن اسلام غواړی چه په هغې کښې حدود هم نه وی او د مرزایانو په کښې هم ګنجائش وی، لهذا د دوی نه هم پرهیز ضروری دې. او مرکزی جمیعت والا ډیر کم دی او د هغوی کار کول د سواد اعظم نه په ځان له طریقې سره داهم غلطی ده، لهذا هغوی ته ووټ ورکولو سره مقصد نه حاصلیږی، نو بس تا دپاره ضروری ده چه جمیعت علمائې اسلام ته ووټ ورکړې دا اهل حق دی او د هر باطل مقابلې دپاره هر وخت تیار دی د دوی نه ډیره توقع او امید کیدلې شی. فقط

جمیعت العلماء د هرې فتنې مقابلې کولو والا جماعت دې

سوال: مفتیان شرع څه فرمائی چه د علماء دوه ګروپه دی د مودودی صاحب جماعت او جمیعت علمائې اسلام، ددې دواړو ډلو متعلق په دوابه او کانګړه علاقه ډیر اختلاف دې لهذا مونږ ته اطلاع راکړئ چه په دې دواړو ډلو کښې کوم یو بهتره ده. دا رنګې په کانګړه کلی کښې د جمیعت العلماء یوه جلسه شوې وه، په هغې کښې مولانا ګل بادشاه صاحب امیر صوبه سرحد او نورو علماؤ په تقریر کښې تردې پورې اووئیل چه مودودیانو پسې مونځ نه کیږی نو حقیقت حال نه مونږ خبردار کړئ؟ بینوا و توجروا

المستفتی: روح الله موضع کانګړه چارسده.... یکم جون ۱۹۷۰ء

الجواب: مودودی هم په اسلام کښې ترمیم او تجدید کړې بلکه د یهودیانو په شان د معنوی تحریف په جرم کښې مبتلا دې او په خپل منشور کښې ئې د حدودو جاری کولو څه تذکره نه ده کړې او اکثر بلکه ټول مرزایان ئې په اقلیت کښې د داخلیدلو نه بچ کړی دی او تجدید ملک چه د سوشلزم بنیادی طریقه ده هغه ئې جائز کړې لهذا ټولو مسلمانانو دپاره ضروری دی چه دې جماعت سره تعاون نه کوی ددې ماډرن او تیهډی اسلام د نافذ کولو په بدله کښې د مکمل اسلامی نظام د نافذ کولو دپاره کوشش ضروری دې او جمیعت علمائې اسلام یو منظم، کارکن، سرفروش او د هرې فتنې او زندقې مقابلې کولو والا جماعت دې او د دوی اراده ده چه په چا کښې به نه مدغم کیږی او بیشکه نور جماعتونه د دوی سره الحاق کولې شی، خو د دوی په منشور، لهذا تاسو خلق د دوی سره بغیر شک شبهې نه شاملیدلې شئ او په جهاد کښې حصه اخستلې شئ. فقط

د جمیعت العلماء او جماعت اسلامی د اسلام دعوی

سوال: محترمی ومکرمی صاحب عرض دادې چه د ضلع دیر په پاکستان کښې دمدغم کیدو سره په دې ملک کښې مختلفې پارټیانې په وجود کښې راغلی دی د هرې پارټې مقررین د قران او حدیث په رڼا کښې د خپلې مدعی په ثابتولو باندې دلیلونه ورکوی او په دې ریاست کښې مخکښې څه پارټی نه وه اوس مونږ حیران او پریشان حال یو چه په کومه پارټئ کښې شرکت اوکړو؟ چه د اسلام د ترقئ او عروج باعث اوګرځی نو مونږ د جمیعت علماء اسلام سره موافقت اوکړو که د جماعت اسلامی سره؟ د اسلام په دعوی کښې څوک صحیح دی؟ بینوا وتوجرا

المستفتی: سلطان ادریس باغدوشخیل تالاش ریاست دیر...۱۳۸۹ ه

الجواب: جمیعت علمائې اسلام د شرعی قانون په نافذ کولو کښې کوشش کوی. لهذا د دوی سره الحاق ضروری دې او نورې پارټیانې خو یا د اسلام نوم د دهوکې دپاره اخلی او یا د دهوکې دپاره نه وی خو په هغوی باندې خطره ده چه هسې نه ماډرن اسلام ئې مراد وی لکه جماعت اسلامی لهذا د دوی سره الحاق نه کول ضروری دی. فقط.

د جماعت اسلامی د غیر اسلامی خیالاتو نه بچ کیدل پکار دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه جماعت اسلامی ته اسلامی جماعت وئیل صحیح دی که نه؟ ځکه چه اکثر اکابرینو او لویو لویو علماؤ د دوی په خیالاتو او بعضې غلط نظریاتو باندې نیوکه کړې ده؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: مولوی فضل الرحمن کوټهه صوابی مردان.... ۱۹۶۹ء ۸۱۹۱

الجواب: دمسلم لیګ، نظام اسلامی پارټی او جماعت اسلامی د غیر اسلامی خیالاتو نه بچ کیدل ضروری دی نوم چه هرڅنګه وی په نوموړو اعتراض کول بې مقصده کار دې.

په جماعت اسلامی او جمیعت العلماء کښې فرق

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دې وخت کښې په پاکستان کښې دوه جماعتونه په منظم طریقې سره د اسلامی نظام دعوت

کونکی دی، یو جمیعت العلماء او دویم جماعت اسلامی، د دوی دواړو خپل مینځ کښې سخت اختلاف دې نو دې دواړو کښې د کوم جماعت سره اشتراک او تعاون پکار دې او د کوم جماعت عقیدې او نظریات د اسلام او سلف صحالحینو د تعبیراتو مطابق دی؟ د جواب مهربانی اوکړئ.

المستفتی: نامعلوم

الجواب: په دې دواړو جماعتونو کښې د جمیعت علمائې اسلام عقیدې او نظریات د اسلامی او سلف صالحینو د تعبیر کړې شوې دین موافق دی. نو د جمیعت العلماء سره تعاون او شریکیدل ضروری دی ترڅو چه د خود غرضه خلقو اله کار نه وی او جماعت اسلامی بدنام دی د دوی اسلام ماډرن اسلام دې فقط.

په مودودی جماعت. تبلیغی جماعت او جمیعت العلماء کښې په کوم جماعت کښې کار کول پکار دی

سوال: محترمی مکرمی صاحب حضرت مفتی محمد فرید صاحب دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک. د مولانا مودودی جماعت اسلامی. تبلیغی جماعت او جمیعت العلماء په باره کښې ستاسو حضراتو رائې څه ده. په کوم جماعت کښې کار کول د ثواب کار دې. بعضې خلق جماعت اسلامی د. ادخلوا فی السلم کافةً، مصداق ګرځوی. څمونږ راهنمائی اوکړئ؟

المستفتی: مولوی محمد افضل خان شاه پور کانا سوات ۱۹۶۹ء ۲۹۱۹۱

الجواب: د مودودی صاحب او دهغه (د تفرداتو) په هم خیاله خلقو باندې د کفر سخته خطره ده. ځکه چه د هغوی په نزد باندې قادیانیان (لاهوریان) کافران نه دی او حال دادې چه دا خلق د معجزاتو نه منکر دی. او د حضرت عیسیٰ علیه السلام د پلار په کیدلو قائل دی (چه یوسف نجار دې) او تبلیغی جماعت نیک او بااثره جماعت دې، په دوی کښې بعضې کسان (چه هغه معلمینو او متعلمینو ته د درسونو په وخت دعوت ورکوی یا بال بچ والا محتاج د ځان سره په بوتللو مجبور کوی) په غلطئ دی. په جمیعت العلماء کښې کار کول د ثواب کار دې (دا د علماء سواد اعظم دې) اګر چه جماعت اسلامی صرف منظم او مالدار تنظیم دې

ورهما از جهان شود معدوم   پس نیا بد بزیر سایهء بوم........ وهو الموفق

موجوده وخت کښې اهل حق جمیعت علمائې اسلام ته ووټ ورکول جهاد دې

سوال: ووټ ورکول جائز دی که نه؟ او د ووټ حقداره کومه پارټی ده؟ جواب

راکړئ مهربانی به وی۔ المستفتی: شاه نواز ضلع دیر... ۱۹۷۶ء ۱۷/۳/۱

الجواب: د حق اوباطل د مقابلې په وخت کښې اهل حق ته ووټ ورکول جهاد دې په موجوده وخت کښې اهل حق جمیعت علماء اسلام دې او کوم ځآئ کښې چه د جمیعت العلماء امیدوارنه وی نوهلته د جماعتی فیصلې مطابق عمل کول پکار دی، وهوالموفق.

جمیعت علمائې اسلام د اعتماد، الحاق او تعاون قابل جماعت دې

سوال: نن صبا پاکستان کښې د مختلفو نظریاتو والا پارټیانې دی مونږ خلق په کښې د حق جماعت تمیز نه شو کولې تاسو فکر والا او علم والا خلق ئې نو ستاسو په نزد باندې قابل اعتماد او قابل الحاق کومه پارټی ده چه مونږ په کښې شامل شو؟ بینوا وتوجروا۔

المستفتی: رحمٰن الدین ضلع دیرملاکنډ ډویژن

الجواب: جمیعت علمائې اسلام د اکابرین علمائې دیوبند یو نمائنده مذهبی او سیاسی جماعت دې چه د هغوی منشور قران او سنت، د مملکت نظام جوړول دی او د دوی ماضی او تاریخی تسلسل هم بدنام نه دې نو جمیعت علمائې اسلام چه د علماؤ سواد اعظم دې دې کښې شاملیدل، الحاق او تعاون کول پکار دی. فقط

د جمیعت علمائې اسلام مقصد او نصب العین

سوال: کوم سړې چه جمیعت علمائې اسلام ته د قومی اسمبلئ ووټ ورنکړی نو دهغه سړی څه حکم دې؟ او نورو پارټیانو ته د ووټ ورکولو یا نه ورکولو څه حکم دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: رحیم الله اضاخیل بالانوشهره ۱۹۸۸ء ۳/۱۱/۱۱

الجواب: د جمیعت علمائې اسلام نه علاوه د نورو پارټیانو نصب العین د اسلام سره متضاددې نو د هغوی نصب العین حق منل او د جمیعت علمائې اسلام نظام او نصب العین غلط او د تنزل باعث ګڼړل ښکاره کفردې، او دې نورو پارټوته ووټ ورکول ددین سره د شمنی ده اوچه کله د جمیعت علمائې اسلام امیدوار مقرر نه وی نو چاته ووټ مه ورکوئ، بهر حال جمیعت علمائې اسلام مکمل اسلامی نظام راوړل غواړی او په جماعت اسلامی باندې خطره ده چه هغوی چرته تیږی اسلام رانه ولی او مسلم لیګ صرف د اسلام نوم قدرې باقی ساتل غواړی، او نیشنل پارټی او پیپلزپارټی د اسلام نوم هم ختمول غواړی. فقط.

پیپلزپارټی، مسلم لیګ نیشنل وغیره سره اتحادکول اوهغوی ته ووټ ورکول

سوال: په پاکستان کښې مختلف سیاسی پارټیانې دی مثلاً پیپلزپارټی، مسلم لیګ او نیشنل پارټئ وغیره د یو مذهبی پارټئ دوی کښې یوې سره اتحاد کول څنګه دی؟ او دوی ته ووټ ورکول څنګه دی؟ جواب راکړئ

المستفتی: سید رحیم الله باچا اضاخیل بالانوشهره ۱۳ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: پیپلز پارټئ نیشنل پارټئ اومسلم لیګ ته ووټ ورکول ناجائز دی دا ټول د کافرانه نظام حفاظت کونکی دی دا د چین روس او امریکې په اشارو باندې چلیږی خو چه کله د اسلام د مفادو دپاره عیسایانو سره اتحاد جائز دې لکه چه حدیث شریف کښې راغلی دی ﴿۱﴾ نو دانشور علماؤ (حضرت مدنی رحمه الله مفتی محمود رحمه الله) د اسلام د مفادو دپاره داسې اتحاد جائز ګرځولې دې خو دومره ده چه په هغوی کښې ادغام (بالکل ورننوتل) بیاهم ناجائز دی چونکه د پیپلزپارټئ، نیشنل پارټئ او مسلم لیګ نصب العین او منشور د اسلام سره متضاد دې دا خلق د سوشلزم، کمیونزم (کپیټلزم) او سیکولرازم حمایت کونکی دی چه د اسلام مخالف دی نو دوی ته ووټ ورکول حرام دی او د اسلام سره دشمنی ده البته د اسلام د مفادو دپاره ورسره اتحاد جائز دې دانشور علماؤ مثلاً حضرت مدنی، حضرت عثمانی او مفتی محمود رحمه الله دوی سره اتحاد کړې دې او د ادغام نه ئې ځان ساتلې دې او موجوده زمانه کښې د تجربې نه ثابته ده چه دا پارټیانې اهل حق ته دهوکې ورکوی او خاص طورسره د مسلم لیګ دهوکه خو اظهر من الشمس (د نمرنه هم زیاته ښکاره ده) لهذا د (لایلدغ المومن من جحر واحد مرتین) حدیث په وجې سره د اتحاد نه ځانله والی کښې سلامتیاده فقط.

د سوشلزم خلاف تحریک چلول د ثواب کار دې

سوال: نن صبا چه د سوشلزم او بهټو خلاف کوم تحریک روان دې او مفتی محمود ئې قیادت کوی نو ددې تحریک شرعاً څه حکم دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: مولولی عبدالحکیم جنډ امیان والی... ۱۹۷۷ء

﴿۱﴾ عن ابن عمر رضی الله عنهما قال حاربت النضیر و قریضة فاجلی بنی النضیر و اقر قریظة و من علیهم حتی حاربت قریضة فقتل رجالهم و قسم نساء هم و اولادهم و اموالهم بین المسلین الا بعضهم لحقوا بالنبی صلی الله علیه وسلم الخ (صحیح البخاری ص ۵۷۴، ج ۲ کتاب المغازی باب حدیث بنی النضیر)

﴿۲﴾ (صحیح البخاری ص ۹۰۵ ج ۲ کتاب الادب باب لایلدغ المؤمن جحر مرتین)

الجواب: سوشلزم د اسلامی نظام سره متضاد دی ددې خلاف تحریک چلول د ثواب باعث کار دې. وهو الموفق.

په اسلام کښې د سیاسی اومعاشی ژوند مکمل راهنمائی موجود ده

سوال: ایا په سیاسی معاملاتو کښې قران خاموش (چپ) دې؟ ایا ددې خبرو متعلق په اسلام کښې هدایات او احکام موجود دی؟ دا رنګې سوشلزم او جمهوریت چه هرسړی دپاره ډوډۍ، جامې او کور مفت (بې پیسو) دی ایا په اسلام کښې ددې کارونو متعلق څه پرګرام نشته. دا رنګې د سیاسی حالاتو متعلق د سوشلزم نظریه اختیارول چه خپله عقیده دې صحیح وی نو ایا دې کښې څه قباحت شته؟ اسلام دې باره کښې څه فرمائی؟ بینوا بالدلیل توجروا عند الجلیل.

المستفتی: میاں محمد دین جامعه حنفیه ضلع لائل پور ۱۰ ذی قعده ۱۳۸۹ھ

الجواب: (۱) قران او حدیث د ژوند یو مکمل قانون دې د سیاسی معاملاتو باره کښې دده چپ کیدل د عقل او د واقعې نه خلاف دی په دې کښې د سیاسی معاملاتو اصول په شاهانه طریقې سره بیان او ذکر دی، که په دې کښې سیاست نه وی نو غیر اسلامی سیاسی جماعتونو ته به ئې بدترین شکست نه ورکولو، (۲) په اسلام کښې بې کارتوب، فضول خرچی، حسد، حرام کاری، تعصب وغیره ممنوع دی د زکوة، عشر، تصدق، رحم، او همدردۍ وغیره حکم په کښې ورکړې شوې دې، چه په هغې باندې عمل کولو سره غریبانان او مالداران دواړه په اطمینان سره ژوند تیرولې شی،

(۳) دا عملاً ناممکن دی ځکه چه د جاګیردارونه اخستل هغه وخت جائز دی چه دا جاګیرونه د پخوانو خلقو نه په زور اخستلې شوې وی او انګریزانو (مثلاً) دې جاګیردارانو ته په انعام کښې ورکړې وی نو دا وخت دا جائز دی چه ددغه جاګیدارونه دا جاګیرونه واخستلې شی او پخوانو کسانو اویا دهغوی وارثانو ته دې واپس کړې شی، او دانه دی جائز چه د ټولو جاګیردارونه جاګیرونه واخستلې شی او پردو خلقو باندې تقسیم کړې شی دا رنګې سرمایه دارد زکوة او عشر نه زیاتی مال جمع کولو باندې مجرم نه دې نو دا شرعا نه دی جائز چه دهغوی د رضا نه بغیر د هغوی نه په زور باندې مالونه واخستلې شی او دغه شان د کارخانو د املاکو حکم هم دې ﴿۱﴾ فقط

﴿۱﴾ عن ابی حرة الرقاشی عن عمه قال قال رسول الله ﷺ الا لا تظلموا الا لا یحل مال امرء الا بطیب نفس منه. رواه البیهقی فی شعب الایمان والدار قطنی فی المجتبیٰ.
(مشکواة المصابیح ص ۲۵۵ جلد ۱ باب الغصب والعاریة)

د اسلام په اقتصادی نظام او سوشلزم کښې عملی مطابقت بالکل ممکن نه دې

سوال: محترم جناب مفتی صاحب مدظله العالی به معرفت حضرت مولانا عبد الحق صاحب رحمه الله نن صبا په ملک کښې د سوشلزم او د اسلامی سوشلزم نعره لګولې کیږی؟ (۱) ایا د اسلام خپل څه اقتصادی نظام نشته؟ (۲) ایا په اسلام او سوشلزم کښې مطابقت ممکن دې؟ ددې دوه سوالونو جوابونه رااولیګۍ مهربانی به وی.

المستفتی: اکرام الله زید ګنج لائل پور.....۱۹۷۹ء۱۱\۲۶

الجواب: (۱) دا د زکوة وغیره نظام د اسلام مستقل اقتصادی نظام دې ﴿۱﴾ (۲) په عملی طور سره ناممکن دې فقط.

اسلامی سوشلزم، اسلامی جمهوریت اوپاکستان صرف زړه راخکونکی الفاظ دی

سوال: علمائې دین څه فرمائی چه ایا په اسلام کښې د اسلامی سوشلزم څه ګنجائش شته دلته چه کوم خلق د سوشلزم نعرې لګوی هغوی ورته اسلامی سوشلزم وائی او دا خلق دالله تعالی د ذات، پیغمبرانو، فرښتو او قیامت منکر هم نه دی بلکه صرف دا وائی چه بعضې څیزونه په قومی ملکیت کښې اخستل دی، لوئ صنعتونه سرمائې او جاګیرونه خو څه کوې دا څیزونه په قومی ملکیت کښې اخستل ناجائز دی اوچه کله ورته اسلامی سوشلزم وائی نو بیا د ناجائز والی څه وجه ده وضاحت اوکړئ؟

المستفتی: امیرمقام شیرګړه مردان

الجواب: د اول نه په اسلامی سوشلزم، اسلامی جمهوریت اوپاکستان وغیره زړه

﴿۱﴾ عشر، خراج جزیه، زکوة، صدقات، فی، خمس، ضرائب، کراء الارض، عشور، وقف، اموال فاضله وغیره دغسې ممنوع جواری، سټه، سود. ذخیره اندوزی وغیره دغسې مضاربت، شرکت، بیوع وغیره۔ مولانا حفظ الرحمٰن سیوهاروی فرمائی داسلام معاشی نظام یو داسې عامه فلسفه باندې قائم دې چه دهغې نوم اسلام دې. چه دا عالمګیر دعوت او عام انقلاب طرف ته داعی دې، اوددنیا دانسانو صرف معاشی صلاح اوکامیابی نه غواړی، بلکه روحانی، مذهبی، اخلاقی، سیاسی، معاشرتی، اومعاشی غرض هرقسم دینی اودنیوی کامیابی اوکامرانی اوهدایت غواړی،ــــ په دې وجه دا دژوند هرې شعبې دپاره د یو صالح اجتماعی نظام غوښتونکې دې. اوهم ددې ژوند یوه شعبه صالح نظام معاش هم دې. (اسلام کا اقتصادی نظام ص ۲۶ حفظ الرحمٰن سیوهاروی)

راخکونکو الفاظو سره علماء اله کار جوړوی بیا روستو علماء بې کاره ثابتوی. دارنګې د ټولو سرمایه کارانو نه سرمایه اخستل او ټولو جاګیردارانو نه جاګیرونه اخستل په اسلام کښې ناجائز دی او په جائز اوناجائز کښې په ثبوت شرعی سره امتیاز کول ناممکن دی او دا دغرض والوخلقو نصب العین هم نه دې، دا ځما رائې ده دې باره کښې تاسو نوروسیاسی علماؤ (جمیعت علمائې اسلام) طرفته هم رجوع اوکړئ. فقط.

د سوشلزم حمایت کونکوته د ووټ ورکولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د سوشلزم دعوت ورکونکې پارټۍ ته د ووټ ورکولو څه حکم دې؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: فیض الرحمن دره ایبټ اباد

الجواب: که چرې سوشلزم د ترقۍ باعث ګڼړی او اسلام زوړ نظام تصور کوی نو دې سړی خپل ځان د اسلام نه اوویستلو اوکه د ویرې قومیت او عصبیت په وجه باندې سوشلزم ته ووټ ورکوی نو منافق دې کافرنه دې، وهو الموفق

د سوشلزم خورولووالا سره د قتال مسئله

سوال: چه کله سوشلزم کفر دې نو ددې خورولووالا سره جنګ ولې ناجائز دې؟ بینواوتوجروا

المستفتی: مولوی عبدالله لورالائی بلوچستان

الجواب: د هرجائز کار دپاره جداجدا وخت وی، داکابرود هدایاتو سره موافقت کولو کښې مصلحت دې وهو الموفق.

د سوشلزم والوسره د جنګ په مسئله باندې په دویم ځل سوال

سوال: ستاسو د فتوی عبارت (چه د هرکار دپاره جداجدا وخت وی مصلحت د اکابروپه هدایاتو کښې دې) دادوضاحت محتاج دې؟

المستفتی: مولوی عبدالله مدرسه عربیه لورالائی بلوچستان

الجواب: ددې سوالاتو د تفصیلی جواباتو نه مونږ د مصلحت په بنیاد باندې ممنوع او معذور یو فقط.

د مرزائی فرقې سره سیاسی اتحاد د سوشلزم او اهل حق علماؤ پیژندګلو

سوال: (۱) یو سړې د مرزایانو قادیانی ډلې ته کافر وائی لیکن لاهوری ډلې ته کافر نه وائی نو داسې خلقو سره د سیاسی اتحاد په باره کښې څه حکم دې؟

(۲) یو سړې د علمائې حق په نظر ضال او مضل دې د هغوی یو سیاسی تنظیم دې په ملک کښې د اسلام نافذ کولو دپاره هغوی سره د اتحاد کولو ضرورت راځی او دا ګمراه او ګمراه کونکې سړې د خپلې ګمراهئ نه رجوع هم نه کوی نو ایا د هغوی سره اتحاد جائز دې اوکه ناجائز؟

(۳) یو سړې دې دا ذکرشوې ګمراه نه دې اسلام د ژوند کامل او مکمل قانون ګڼړی مګر په غلطۍ سره د اسلامی سوشلزم اصطلاح د اسلامی مساواتو هم معنی ګرځوی نو د داسې سړی څه حکم دې؟

(۴) که په دې برنو (۲) یا (۳) کښې د یو سره اتحاد کول یا الحاق کول وی نو اهون البلیتین به کوم یو وی؟ بینواوتوجروا

المستفتی: محمد حمزه نعیم ایم اے پاکستان
قومی عجائب گهر محمد بن قاسم باغ کراچی نمبر ۱

الجواب: (۱) په دې سړې باندې د کفر سخته خطره ده، داسې سیاسی اتحاد کول چه په هغې سره مرزایانو ته په اکثریت کښې د داخلیدلو بهانه موجود وی نودا الحاد او زندقه ده. (۲) ددې فرقې سره د علماؤ اتحاد او داسې فرقه باندې اعتماد کول د خداترسه علماؤ سره مناسب نه دی. (۳) اسلامی مساوات یو مبهم لفظ دې که ددې داسې تشریح اوکړې شی چه د اسلامی اصولو سره متصادم نه وی نو دا مساوات د اعتراض قابل نه دی ګنې نو داعتراض قابل دی.

(۴) دلته د (اهون البلیتین) صورت نشته ځکه چه جمیعت علمائې اسلام اهل حق دی او د مکمل اسلامی نظام غوښتونکی دی او دهغوی د چاسره هم اتحاد یا الحاق کول ځما په خیال کښې مضر نه دی او دوی سره ددې (علماؤ) په منشور باندې اتحاد کول صحیح دی. فقط

اسلام نه سوشلزم نبی کریم ﷺ ته د سوشلزم علمبردار وئیل

سوال: یو څو عبارتونه ستاسو خدمت کښې وړاندې کوم چه په هغې کښې د

نبی کریم ﷺ شخصیت او د هغوی راوړلی شوی دین مکمل سوشلزم ګرځولی شوی دی او بله دا چه نبی کریم ﷺ د اسلام او سوشلزم تکمیل کړی دی او که حضرت عیسی علیه السلام د تجرد ژوند نه تیرولی نو دهغه ژوند به د موجوده اشتراکیت دپاره بنیادی اصول جوړ شوی وو، حج ئې هم د اسلامی سوشلزم مظاهره ګرځولی، من وعن الفاظ لاندی دی.

(۱) افسوس دی چه مسلمانانو د انحضرت ﷺ ددی عظیمی کارنامی او دهغه د ډیر زیات اوچت سوشلزم قدر اونکړو د عربو بزرګ ترین سوشلسټ د رنګ او ملت فرقونه ختم کړل.

(۲) خدائی تعالی رحمة للعالمین راولیږه هغه په خپلو اسلامی اصولو سره د عرب دنیا په ټولو معاشرو کښی یو حیران کونکی انقلاب پیدا کړو، که د عربو نوی او پرشکوه ژوند د سوشلزم په ذریعه سره وی نو د ټولی دنیا د اسلام په ذریعه او د سوشلزم او اسلام چه چا تکمیل کړی دی دا هغه سچائی نتیجه وه، الخ ددی عبارت متعلق د شریعت څه حکم دی؟

نوټ: ستاسو صاحبانو د مخکښی نه هم فتوی موجوده ده چه دا د کمیونستانو انقلاب دی او د کمیونستانو حمایت کونکی هم د هغوی په حکم کښی دی.

المستفتی: عبدالحئ مندوخیل ناظم مدرسه ریاض العلوم
ژوب بلوچستان ۲۷ اګست ۱۹۸۴ء

الجواب: که ددی سوشلستانو په نزد رسول الله ﷺ بزرګ سوشلسټ دی او اسلام بلند ترین سوشلزم دی نو هغوی د اسلام او مسلمانانو مقابله ولی کوی او په کومو ملکونو کښی چه د اسلام دپاره کوششونه کیږی هلته د سوشلستانو د رکاوټونو څه ضرورت دی؟ که سړی خور قوم محتاجو انسانانو ته اووائی چه ویریږئ مه! څمونږ خواته راځئ ستاسو د ټولو مسئلو او حاجتونو حل مونږ سره دی نو ایا دا به د تسلیمولو قابل خبره وی.

نوټ: مونږ د مخکنئ فتوی حمایت او تائید کوو. وهو الموفق

سوشلستانوته د ووټ ورکولو او علماؤ ته د کنځلو کولو حکم

سوال: علمائی دین دی مسئلی باره کښی څه فرمائی (۱) چه یو سړی وائی اسلام

زمونږ دین دی، سوشلزم څمونږ معیشت دی او د طاقت سرچشمه عوام دی.
(۲) یو سړی بنه په سوچ سره ددی عقیدی پارټئ پیپلزپارټئ ته ووټ ورکوی (۳) کوم خلق چه وائی مونږ اتحاد ته ووټ ورکړی دی ددی نه علاوه په مونږ باندی هیڅ ذمه داری نشته او د بائیکاټ په وخت کښی ئې بیا بائیکاټ اونکړو، (۴) هغه خلق چه سوشلزم ته ووټ ورکوی او علمائی کرامو ته کنځلی کوی د هغوی په باره کښی د شریعت څه حکم دی؟ (۵) هغه خلق چه په الیکشن کښی ئې یوی پارټئ ته هم ووټ ورنکړو دهغوی په باره کښی د شریعت څه حکم دی؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: کس شاه ضلع دیر ۱۸/۱/۱۹۷۸ء

الجواب: (۱) خبرشئ چه سوشلزم د اسلام سره متصادم نظام دی نو چه کوم سړی سوشلزم د ترقئ باعث ګنړی او اسلامی نظام د تنزل باعث او د زمانی سره ناموافق منی نو هغه مسلمان نه دی ددی سړی د الله تعالی په علم او حکمت باندی اعتماد نشته دی. (۲) کوم سړی که ددی مخکښنی اعتقاد مطابق ووټ ورکړی وی نو هغه مسلمان نه دی او کوم سړی که د طمع یا ویری او یا د قومیت په بنیاد باندی ووټ ورکړی وی نو هغه منافق دی کافر نه دی، (۳) بائیکاټ نه کول د جهاد نه کولو په حکم کښی دی. (۴) یو عالم ته کنځل کول فسق دی او عام علماؤ ته کنځل کول کفر دی په حقیقت کښی دا سړی د علم او دین سپکوالی کوی. (۵) بی خبره سړی معذوره دی او باخبره به نیولی کیږی. وهو الموفق

د حکومت سره د تعاون په باره کښی تپوس

سوال: د موجوده حکومت نظریه د اسلام په نفاذ کښی مخلصانه ده که غیر مخلصانه؟ مونږ د قبائلو خلق په فکر کښی یو چه تعاون ورسره او کړو که نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: ملک عجب خان افریدی دره ادم خیل ۲۲/۱۱/۱۴۰۱ھ مطابق ۱۹۸۱ء

الجواب: ماته په دی کښی شک دی چه دا سړی مخلص نه دی یا بهادر نه دی. فقط.

قال اللہ تعالیٰ

فَلَوْلَا نَفَرَ

مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ

مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ

لِّيَتَفَقَّهُوْا فِى الدِّيْنِ

(الاية)

مسائل شتی

مسائل شتی

په دې باب کښې مختلف النوع اهم مسئلې جمع کړې شوې دی چه د ضرورت په وخت کښې حضرت مفتی صاحب دامت برکاتهم لیکلې دی او بیا وخت په وخت درې میاشتنئ رساله (الفرید) کښې د دارالافتاء په عنوان سره شائع شوې دی، اګرچه د بعضو مسئلو به د تیرشوبابونو سره تعلق وی خو اکثرغیرمتعلق الابواب مسئلې دی و ددې وجې نه (الفرید) جلد نمبر۱ شماره اول نه ترجلد نمبر۳ شماره ځلورم پورې مسئلې مو رایوځائ کړې اود (مسائل شتی) په عنوان سره مود فتاوی سره شامل کړې. (ازمرتب)

په سنتئ کښې د میلمستیا دعوت

سوال: په سنتی (ختنه) کښې دعوت کول جائز دې که ناجائز دې؟

الجواب: په سنتی کښې دعوت کول جائز دې لیکن معمول نه وو.

کما فی الهندیة ص ۳۴۳ جلد ۵ لا ینبغی التخلف عن اجابة الدعوة العامة کدعوة العرس والختان و نحو هما و اذا اجاب فقد فعل ما علیه یدل علیه ما فی ادب المفرد قال سالم ختنی ابن عمر رضی الله عنه و نصیحا فذبح علینا کبشا فلقد را یتنا و انالنجذل به علی الصبیان ان ذبح عنا کبشا (رقم حدیث: ۱۲۴۶)

اوپه معمول نه کیدلو باندې د مسند احمد حدیث دلالت کونکې دې: ولیمة الختان لم یکن یدعی لها.

د مړی مخ کتل جائز دی

سوال: د مړی مخ کتل جائز دی که ناجائز؟

الجواب: د مړی کتل جائز دی:

کما فی الهندیة ص ۱۳۵ جلد ۵. لاباس بان یرفع ستر المیت لیری وجهه. وان یکره ذالک بعد الدفن. وقد ورد فی الحدیث ان النبی ﷺ رأی وجه عثمان بن مظعون و رأی ابو بکر رضی الله عنه وجه النبی ﷺ و قبله (رواه البخاری)

په دواړو لاسونو مصافحه کول بهتر دی

سوال: مصافحه په دواړو لاسونو سره ثابت ده که په یو لاس سره؟

الجواب: مصافحه په دواړو لاسونو بهترده:

کما فی الهندیة صفحه ۳۶۹ جلد ۵. وتجوز المصافحة والسنة فیها ان یضع یدیه علی یدیه من غیر حائل من ثوب وغیره. (کذا فی خزانة الفتاویٰ) و صافح حماد بن زید ابن المبارک بیدیه بخاری جلد ۲ ص ۹۲۶.

د دعوت خوړلو نه پس دعا کول

سوال: د دعوت خوړلو نه پس دعا کول جائز دی که ناجائز؟

الجواب: جائز دی:

کما فی الهندیة ص ۳۴۳ جلد ۵ فان کان صائما اجاب و دعا وان لم یکن صائما اکل و دعا و فی سنن الدارمی جلد ۲ ص ۲۱ فلما طعموا دعا ﷺ لهم فقال اللهم اغفر لهم وارحمهم و بارک لهم فی رزقهم.

د روژې په حالت کښې د قئ کولو مسئله

سوال: که د روژې په حالت کښې په ډکه خله قئ راشی نو روژه ماتیږی که نه؟ اوکه په قصد سره اوکړی نو روژه ماتیږی که نه؟

الجواب: پخپله باندې قئ راتلل د روژې ماتونکې نه دی اګر که په ډکه خله باندې وی، اوپه زور سره قئ راوستل روژه ماتوی خو چه په ډکه خله وی:

قال رسول الله ﷺ من ذرعه القی و هو صائم فلیس علیه القضاء. ومن استقاء عمدافلیقض. رواه الترمذی و ابو داؤد و ابن ماجه و فی الدر المختار علی ردالمحتار جلد ۲ ص ۴۱۴ طبع الحلبی و ان ذرعه القی و خرج ولم یعد لا یفطر مطلقا ملا اولا وان استقاء عامدا ای متذکراً الصومه ان کان ملا الفم مفسدا بالاجماع.

...

د جنازې د مونځ نه پس دعا کول

سوال: د جنازې د مونځ نه پس دعا کل ممنوع دی که مشروع دی؟

الجواب: په صفونو کښې په ولاړه باندې دعا کول ممنوع دی او د صفونو ماتولونه پس دعا کول مشروع دی اکثرفقهاؤ او مفسرینو دلیل نه دې ذکر کړې صرف لایدعوا قائما او لایقوم بالدعاء ئې وئیلې دی، اوچا په کښې د جنازې په تکرار (دوباره کیدلو) سره تعبیر کړې او بعضو زیادت علی الجنازه) علت ګرځولې او دا منکرات په هغه وخت کښې لازمیږی چه دعا د ولاړې په حالت کښې اوکړئ شی اوچه کله د صفونوماتولونه پس وی یا په ناسته سره وی نو هیڅ منکر نه لازمیږی، البته په حدیث کښې ددې نه منع نه ده راغلې نو دا صرف جائز دی سنت نه دې.

د واده کولو نه پس ولیمه کول سنت ده او مخکښې ترې نه مباح ده

سوال: که د واده نه مخکښې ولیمه اوکړې شی نو دا جائز دی که ناجائز؟

الجواب: د واده نه پس ولیمه کول سنت هم ده او عبادت هم ده او د واده نه مخکښې نه سنت او نه عبادت دې بلکه مباح او جائز دې صرف د دعوت قبلول په کښې دی لفوات الوقت.ونظیره ذبح الاضاحی قبل صلاة العید کما فی البخاری باب الاکل یوم النحر.ص ۱۳۱ فذبحت شاتی وتغدیت قبل ان آتی الصلاة قال شاتک شاة لحم. یعنې دا عبادت پاتې نه شو صرف غوښه ده.

د قربانئ د څرمنو قیمت په جماتونو باندې خرچ کول

سوال: د قربانئ د څرمنو قیمت په جماتونوباندې لګول جائز دی که ناجائز؟

الجواب: د هندی مشائخوپه نزد ناجائز دی.

کما فی الهندیة ص ۳۰۱ جلد۵ . ولاییعه بالدراهم لینفق الدراهم علی نفسه و عیاله . لو باعها بالدراهم یتصدق بها لانه قربة کالتصدق کذا فی التبین قالوا و التصدق هو التملیک

او د افغانستانی مشائخوپه نزد صرف جائز قدرې دی.

و هو المختار بدلیل التعلیل الزیلعی لانه قربة ای التصدق بالدراهم کالتصدق بالجلود .

یعنې مقصود ثواب حاصلول دی هغه په قیمت ورکولو کښې موجود دې لکه چه څنګه په څرمن ورکولو کښې موجود دې قرب په تملیک او اباحت تولو کښې موجود دې ونظیره جلود الهدایا والضحایا فیها الاباحة العامة دون التملیک سلفاوخلفا.

جائز کلماتو والا تعویذونه د حدیث نه ثابت دی

سوال: د سردردی او بدنظرئ نه د حفاظت تعویذونه جائز دی که ناجائز؟

الجواب: په جائز کلماتو سره لیکلې شوې تعویذونه جائز دی د سلفواو خلفو د وخت نه لیکلې کیږی، دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه تعویذ لیکل ثابت دی کما فی ابی داؤد باب کیف الرقی کان عبدالله بن عمر یعلمهن من عقل من بنیه ومن لم یعقل کتبه فاعلقه علیه او شاه ولی الله صاحب اوشاه عبدالعزیزصاحب او شاه انورشاه صاحب وغیرهم په خپلو کتابونو کښې شائع کړې دی او په حدیث کښې چه کوم (ان الرقی والتمائم والتولة شرک) راغلې دی نو د (تمائم) نه مراد مشکنے دی (قالوارید بها الخزرات اللتی تعلق النساء فی اعناق الاولاد علی ظن انها توثرة وتدفع العین او په ناجائز کلماتوسره لیکلې شوې تعویذونه د (خزرات) په حکم کښې دی لکه چه د (رقی) نه مراد ناجائز (رقی) دی.

بغیر د خطبې نه هم نکاح صحیح ده

سوال: بغیر د خطبې نه نکاح صحیح ده که نه؟ بنیواوتوجروا

الجواب: په نکاح کښې خطبه وئیل سنت دی واجب نه ده. لماروی ابوداؤد خطبت الی النبی ﷺ امامة بنت عبدالمطلب فانکحنی من غیران یتشهد ابوداؤد ص ۲۹٦ جلد ۱ ورواه البخاری فی تاریخه الکبیر

په نکاح کښې به خطبه مخکښې لوستلې کیږی

سوال: خطبه به مخکښې لوستلې کیږی یا روستو؟

الجواب: مخکښې به لوستلې کیږي، لماروی الدارمی ثم یتکلم لحاجته وفی شرح التنویر و یندب اعلانه وتقدیم خطبة فی اول النکاح.

په نکاح کښې یوځل ایجاب او قبول کافی دي

سوال: د نکاح په وخت کښې به ایجاب او قبول دري ځلې وئیلې کیږي او که یوځل کافی دی؟

الجواب: دري ځلې وئیل څه منصوصی نه دی بلکه موهم دی چه کله یوځل د ایجاب او قبول نه پس څه عارض راشي نو عوام وائی چه نکاح پخه نه ده، لکه چه په یو یا دوه سره طلاق نه مضبوط کیږي.

د مهر مقررول او د ایجاب او قبول تلازم

سوال: په بعضې ښارونو کښې صرف مهر مقرر کولې شی او مجلس د (ایجاب) او قبول نه خالی وی ایا دا صحیح کیدیشی؟

الجواب: چه کله هلک طرف والا او د جینئ طرف والا د ګواهانو په موجودګئ کښې داسې اووائی چه دا جینئ د فلانکی هلک د پاره په یو لاکه وریې باندې اوکړه، نونکاح صحیح ده، کما فی الهندیة ص ۲۷۱ جلد ۱ فینعقد بلفظ الهبة وکذا بلفظ الجعل علی الصحیح کذا فی العینی.

په تراویح کښې په ختم قران باندې د حافظ پسې اخستل

سوال: حافظ ته په تراویح کښې دختم قران نه پس چه کوم رقم ورکولې شی ددې اخستل جائز دی که نه؟

الجواب: پیسې اخستل ورکول جائز دی ځکه که یو حافظ د رمضان نه علاوه ورځو کښې په جمات کښې ختم قران اوکړی نو هغه د څه قسمه رقم مستحق نه شمارلې کیږي دارنګې که په فرضو کښې ختم قران اوکړی نو هم مستحق نه ګرځی بلکه چه کله په تراویح کښې امام جوړشی او د ټول قران ختم اوکړی نو مستحق شمارلې کیږي نومعلومه داشوه چه دارقم د مخصوص امامت معاوضه ده چه کله د قراءت رکن ټول قران وی مثلا یو سړې صرف د جمعې د ورځې امام جوړشی چه د فجر مونځ کښې به سورة الم سجده او سورت دهر وائی او د جمعې په مونځ کښې به سورت اعلی او سورت غاشیه وائی. ولاحرج فیه .

په مقبره کښې د دعا په وخت کښې لاس اوچتول

سوال: په مقبره کښې د دعا په وخت کښې لاس اوچتول جائز دی که نه؟

الجواب: په مقبره کښې د دعا کولو په وخت کښې لاس اوچتول جائز دی. لحدیث مسلم جاء النبی ﷺ البقیع فقام فاطال القیام ثم رفع یدیه ثلاث مرات ثم انحرف ص ۳۱۲ جلد ۱ نو لاس اوچتول جائز دی البته که د غیر الله د طلب کولو شک وی نو بیا به لاس نشی اوچتولې.

د سنتو نه پس دعا ته بدعت وئیل غباوت یا غوایت دي

سوال: بعضې خلق د سنتو نه پس دعا ته بدعت وائی، ایا دا صحیح دی؟

الجواب: د احنافو په نزد باندې دعا د سنتو نه پس افضل ده:

قال صاحب البحر لاکن عندنا السنة مقدمة علی الدعاء الذی هو عقب الفراغ ص ۳۰۴ جلد ۱ . قال صاحب الخلاصة بعد الفریضة الاشتغال بالسنة اولی من الاشتغال بالدعاء ص ۹۵ جلدا. وفی الاشباه و النظائر ص ۱۲۷ الاشتغال بالسنة عقیب الفرض افضل من الدعاء و فی البزازیة علی هامش الهندیة ص ۳۸۰ والاشتغال باداء السنة اولیٰ من الدعاء و فی شرح شرعة الاسلام و یغتنم الدعا بعد المکتوبة قبل السنة علی ما روی البقالی من ان الافضل ان یشتغل بالدعاء ثم بالسنة و بعد السنن والا وراد علی ما روی عن غیره و هو المشهور المعمول به فی زماننا .

نو د سنتو نه پس دعا کولو ته بدعت وئیل غباوت یا غوایت دي.

د مسافر سړی په مقیم پسې اقتداء کښې د رکعاتونو د نیت مسئله

سوال: مسافر به په څلور رکعته والا مونځ کښې مقیم پسې د څو رکعتونو نیت کوی؟

الجواب: د برجندی په نزد به د مطلق فرض نیت تړی د رکعتونو تعین به په کښې نه کوی او د (جامع الرموز) په نزد به د دوه رکعتونو نیت کوی او ځمونږ شیخ علامه غورغشتوی رحمه الله به فرمائیل چه د څلور رکعتونو نیت به

کوی ځکه چه د امامت نیت د تکبیر تحریمه نه مخکښې صحیح دې. لانــه یشرف ان یکون اماما نو د څلورو نیت هم صحیح دې.

د سفر په دوران کښې د سنتو کولو یا نه کولو مسئله

سوال: د سفر په حالت کښې به سنت کوې که نه؟

الجواب: غوره قول دادې چه د ویرې په وخت کښې سنت پریږدی او د امن اوقرار په وخت کښې ئې کوی، والمختاران لایاتی بها فی حال الخوف ویاتی بها حالة القرار والامن هکذا فی الوجیز للکردی هندیه ص ۱۳۹ جلد۱)

د فجر سنت به د نمر راختلو نه روستو ادا کولې شی

سوال: که د سحر د مونځ سنت پاتې شی نو دفرض ادا کولونه پس به کولی شی اوکه د طلوع شمس نه پس؟

الجواب: د فرضو نه پس ئې ادا کول منع دی اود طلوع شمس نه پس ادا کول امام محمد رحمه الله غوره کړې دی ځکه چه په روایاتو کښې د سحر او مازیګر نه پس مونځ ممنوع دې او د کوم حدیث نه چه د فرض نه پس قضاء ثابت کولې شی هغه منقطع دې محمد بن ابراهیم د قیس بن عمر نه او ریدل نه دی کړې او دا حدیث په (محلی) کښې روایت شوې دې ددې په سند کښې حسن بن ذکوان دې چه د ضعیف کیدلو نه علاوه قدریه فرقې والا هم دې. اوکوم حدیث چه (ابن منده) وغیره متصل ذکر کړې نو حافظ رحمه الله فرمائی چه غریب وتفرد به اسد موصولا.

د جمعې د مونځ نه مخکښې څلور رکعته سنت د حدیث نه ثابت دی

سوال: بعضې علمائې کرام فرمائی چه د جمعې د مونځ نه مخکښې سنت نشته او پیغمبر علیه السلام او صحابه کرام رضی الله عنهم دا سنت نه دی کړې، ایا دا صحیح خبره ده؟

الجواب: نبی علیه السلام به د زوال نه پس څلور رکعته کول (ترمذی) حضور ﷺ به د جمعې د مونځ نه مخکښې او روستو څلور رکعتونه کول (طبرانی فی معجم الوسط مصنف عبدالرزاق وروی الترمذی عن عبدالله بن مسعود موقوفا) او د بعضې علماؤ دلیل د هغوی په علم باندې موقوف دې.

د استدلال قابل ثابت احادیث دی صرف د بخاری شریف حدیثونه نه دی

سوال: اهل حدیث وائی چه زمونږ حدیثونه د بخاری شریف دی چه اصح الکتب دې او ستاسو دلائل د (ابن ابی شیبه) وغیره دی چه په ضعیفو او هرقسم حدیثونو باندې مشتمل دی؟ بینوا وتوجروا

الجواب: امام بخاری رحمه الله د ډیرې لوئ درجې محدث دې او صحیح بخاری اصح الکتب دې امام بخاری صاحب د خیرالقرون نه بهر دې د تبع تابعینو شاګرد دې او صحیح بخاری ته (اصح) وئیل چرته په شرالقرون کښې څوک امام دې نه صحابی دې اونه تابعی دې نو دا کلام په چا باندې حجت او دلیل نه دې، دا رنګې دلیل خو هغه احادیث دی چه ثابت وی دا نه چه صرف د بخاری حدیث به دلیل وی او بیا کله چه د بخاری په احادیثو کښې تعارض هم وی مثلا (جلسه استراحت) په صفحه ۱۱۳ کښې مسنون کیدل راغلی او په کتاب الایمان والنذور صفحه ۹۸۲ کښې عدم د جلسه استراحت روایت شوې. حیث قال ثم ارفع حتی تستوی قائما اولنې حدیث د رسول الله ﷺ فعل دې او دویم د تعلیم په ځائ کښې ذکر شوې دې او مقام د تعلیم راجح او غوره وی نو په دې کښې خو راجح او مرجوح موجود دی، او قران مجید اصح الکتب دې په هغې ناسخ او منسوخ شته دې نوکه یو حدیث د سند په لحاظ سره (اصح) وی او دهغه معارض (اصح سندا) نه وی او ناسخ وی مثلا د (رفع الیدین) او د قرات خلف الامام احادیث شو نو په دې کښې څه استبعاد دې.

په سرتور سره مونځ کول مکروه او خلاف سنت دی

سوال: په سرتور سر مونځ کول جائز دې یا ناجائز؟

الجواب: د احرام نه بغیر د سرې دپاره په سرتورسر مونځ کول مکروه او خلاف سنت دی برابره خبره که د نا راستئ په وجه وی یا د ویښتو د ښائست دپاره وی یا د بې پرواهئ په وجه وی چه دا څه فرض او واجب خو نه ده یا د خیرنو او شلیدلو ټپو د وجې نه وی کما فی شرح التنویر وصلاته حاسرا راسه

للتکاسل.لکه چه په خیرنو او شلیدلو جامو کښې مونځ مکروه تنزیهی دې.
کما فی شرح التنویر صلاته فی ثیاب بذلة ومهنة ای بما یلبسه فی بیته ولایذهب به الی الاکابر والظاهران الکراهیة تنـزیهـیة. لکه چه دنورو ښو جامو په نه موجودګئ کښې په لغړ بدن (بغیرجامو) مونځ نه کوی، نود نورو ښه ټوپو په نه موجودګئ کښې به په سرتورسر هم مونځ نه کوی.

د ډرائیور خپلې سورلئ بغیر د قصد نه هلاک کول قتل سببی دې

سوال: که د ډرائیور نه د خپلو سورلو نه علاوه نور خوک هلاک شول نو په دې کښې دیت او کفاره شته که نه؟

الجواب: دا قتل (جارمجرائې خطاء) دې لهذا په دې کښې دیت او کفاره دواړه واجب دی.

د دوه ګاډو ایکسډنټ د دواړو طرف نه قتل سببی دې

سوال: چه کله یو ډرائیور د بل ډرائیور سره ایکسډنټ اوکړی نو د دې هلاک شوو خلقو به څه حکم وی؟

الجواب: دا د جانبینو نه قتل سببی دې دې کښې دیت واجب دې او کفاره نشته.

د تعزیت د پاره تلل او درې ورځو پورې کیناستل

سوال: تعزیت جائز دې که ناجائز دې؟

الجواب: جائز دې د (ابن ماجه او ترمذی د حدیث په وجه او درې ورځو پورې کیناستل جائز دی لیکن بهتر نه دی.

مړې په قبر کښې مخ په قبله دفن کول

سوال: مړې داسې دفن کول چه سرئې شمال (قطب) طرف ته وی او ښپې ئې جنوب (سویل) طرفته وی او سینه ئې قبلې طرفته وی په دې څه دلیل دې؟

الجواب: په دې د امت تعامل دلیل دې، روی المحدثون عن ابن مسعود موقوفا ماراٰی المؤمنون حسنا فهو عندالله حسن. جعله الامام محمد مرفوعا فی بلاغاته او د اهل حدیثو د پاره پرې هیڅ دلیل نشته.

په جمات کښې د مړی اعلان

سوال: په جمات کښې د چا د مرګ اعلان کول ممنوع دې که مشروع دی؟

الجواب: په جمات کښې دا اعلان جائز دې پیغمبر علیه السلام د نجاشی د مرګ اعلان په جمات کښې کړې وو. خرج به العینی فی شرح البخاری ص ۲۲ جلد ۴ او د واقدی نه په صفحه ۲۵ باندې روایت شوې دې ان علیه السلام علی المنبر واخبر عن موت امراء موتة.

د مطلقه مغلظه غیر مدخول بها بغیر د حلالې نه په دویم ځل د نکاح مسئله

سوال: چه کله غیر مدخول بها زنانه ته درې طلاقه په یو لفظ سره ورکړې شی نو ایا په دې کښې حلاله ضروری ده؟

الجواب: دا زنانه بغیر د حلالې نه په نکاح کیدلې شی.

کما فی معین الحکام ص ۳۲۹ و فی المشکلات من طلق امرته الغیر المدخول بها ثلاثا فله ان یتزوج بها بلا تحلیل و اما قوله تعالیٰ فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجاً غیره فی حق المدخول بها .انتهیٰ

قلت المذکور سابقا طلاق المدخول بها لان الامساک والرجوع یکون فی المدخول بها بخلاف الغیر المدخول بها لعدم صحة الا مساک والزجوع فیها .

د ابن الهمام وغیره په دې مسئله کښې کلام شته.

د حائضې، نابالغ او نوې مسلمان عجیبه مسئله

سوال: کومه حائضه چه د څلورو منزلو په نیت سره روانه شوه لیکن اولنی دوه منزلونه ئې د حیض په حالت کښې پوره کړل اوس هم هغه مسافره نه ده او چه اوس اولامبی (غسل اوکړی) نوپوره څلور رکعتونه به کوی او چه کله نابالغه

مسافر د دوه منزله سفر کولو نه پس بالغ شی هغه به هم اتمام (پوره مونځ) کوی. اوچه کله کافر د دوه منزله سفر کولو نه پس مسلمان شی نوهغه به قصر کوی. د دوی په مینځ کښې د فرق څه وجه ده؟

الجواب: د حائضې نه مونځ ساقط دې نو ګویا چه دا مسافره نه ده. اود کوم وخت نه چه د ادا کولو اهل شوه دهغې وخت نه به اعتبار کیږی. او نابالغ چه د کوم وخت نه بالغ شو د هغې وخت نه مکلف شو. په خلاف د کافر باندې چه د هغه نیت معتبر دې فلیراجع الی شرح التنویر والدرقبیل باب الجمعة.

د (ض) لهجه به د (ظاء) سره مشابه وی که د (دال) سره

سوال: (ض) به (ظواد) وئیلې کیږی که (دواد)؟

الجواب: ددې حرف په مخرج او صفاتو کښې هیڅ اختلاف نشته البته په اواز او لهجه کښې ئې اختلاف دې بعضې قاریان ئې (ظواد) وائی چه دا حرف (ظاء) ته ډیر نزدې دې. صرف په مخرج او استطالت کښې فرق دې لیکن امام سیرافی (ظاء) او بین الضاد والظاء ته (ضاد) ضعیفه وائی:

كما فى الرضى شرح الشافيه صفحه٢٧٨ قوله الضاد ضعيفة قال السيرافى انها فى لغت قوم ليس فى لغتهم ضاد فاذا احتاجوا الى التكلم بها فى العربية اعتاصت عليهم فربما اخرجوها ظا اخراجهم اياها من طرف اللسان و اطراف الثنايا و ربما تكلفوا اخراجها من مخرج الضاد فلم ينأت لهم فخرجت بين الضاد و الظاء.

نو ددې حرف لهجه نه (ظاء) ده اونه مابین الظاء والضاد ده.

اصلی اواز ددینه علاوه دې د مصریانو علماؤ او عربی بانډچیانو لهجه صحیح ده چه نه (ظاء) ده اونه مشابه بالظاء) ده البته ددې د (ظاء) سره صرف په استطالت کښې فرق دې لیکن په دې سره په اواز کښې مشابهت نه لازمیږی لکه چه په (طاء) او دال کښې صرف په اطباق کښې فرق دې كما فى منح الفكريه شرح مقدمة الجزريه صفحه ٢٩ قال الرمانى وغيره لولاالاطباق لصارت الطاء دالا لانه ليس بينهما فرق الاالاطباق. ددې نه دا نه لازمیږی چه دال به د طاء سره مشابه فى الصوت وی.

په انګلینډ کښې په سود سره په کرایه باندې کور اخستل یا خرڅول

سوال: په انګلینډ کښې کله کور په بیعه اخستلې کیږی اوکله په کرایه اخستلې کیږی نو د مسلمان نه اصل قیمت سره د سود نه وصولولې شی ایا دا جائز دی؟

الجواب: دا جائز دی.ولابين حربى ومسلم مستامن ولو بعقد فاسد او قمار.شرح التنوير صفحه ١٨٦.

په جهاد او دهشت ګردئ کښې فرق

سوال: ایا د هشت ګردی اوجهاد یوڅیز دې؟ بینوا وتوجروا

الجواب: جهاد یومقدس عبادت دې چه د فساد د ختمولو دپاره شرعی طورسره فرض کړې شوې دې خوامریکه او دهغې د فکرخلق جهاد . مدارس او طالبانو د بدنامولو دپاره دا غلط نوم ذکرکوی لیکن د هغوی ناکامی د هغوی د خپلې دهشت ګردئ نه معلومه ده.

د تعزیت په وخت کښې په دعا کښې لاس اوچتول

سوال: ایا د تعزیت په وخت کښې لاس اوچتول مباح دی یا مکروه؟

الجواب: د پښتنو په ښارونو کښې د تعزیت په وخت کښې لاسونه اوچتولې شی دا یو مباح کار دې مکروه نه دې ځکه چه د پیغمبر علیه السلام نه د یو کار متعلق منع نه وی راغلې نوهغه به بدعت او مکروه نه وی صرف دومره ده چه هغه محبوب هم نه وی:

كما فى الاحياء ص ٣٣١ اذا لم يرد فيه نهى فلا ينبغى ان يسمىٰ بدعة و مكروها ولكنه ترك الاحب وقال الشافعى رحمه الله ماخالف الكتاب و السنة والاثر والاجماع فهو ضلالة . وما احدث من الخير مما لايخالف شيئاً من ذلك فليس بمذموم.

د حلالو حراموول قسم دې

سوال: د حلال څیز حراموول قسم دې که نه؟ په دې کښې کفاره واجب ده یا نه؟

الجواب: د حلال څیز حراموول داقسم دې اوکفاره په کښې واجب ده.

تحریم الحلال یمین کذا فی الخلاصة فمن حرم علی نفسه شیئا مما یملکه لم یصر محرماً ثم اذا فعل مما حرمه قلیلا او کثیرا حنث ووجبت الکفارة کذا فی الهدایة .

په زور سره د طلاق واقع کیدل

که دشمن په چا باندې په زور سره طلاق ورکړی نو دا به منظور وی که نامنظور؟

الجواب: د احنافو په نزد باندې دا طلاق منظور دې (۱) لکه څنګه چه په ټوقو سره سبب ارادةً موجود یږی او مسبب په ترتب باندې راضی نه وی دغه شان په اکراه سره هم سبب ارادة موجود یږی او د مسبب په ترتب باندې راضی نه وی. کما فی الحدیث ثلاثة. جدهن جد وهزلهن جد، النکاح والطلاق والرجعة. نو طلاق به واقع کیږی. (۲) دا رنګې امام عقیل د صفوان بن عمران الطائی ؓ نه اخراج کړې دې چه پیغمبر علیه السلام د زوج مکره طلاق نافذ کړو چا باندې چه خاوند اکراه کړې وه. (۳) دارنګې عبدالرزاق د حضرت عبدالله بن عمر ؓ نه اخراج کړې چه هغه طلاق د مکره نافذ کړې دې. (۴) دارنګې په دې کښې د خاوند د قتل کیدلو نه بچاؤ دې که دشمن ته دا معلومه وی چه طلاق نه نافذ کیږی نو هغه به دا خاوند قتل کړی ځکه چه د ښځې ازادی صرف په دې کښې ده او په کوم حدیث کښې چه راغلی دی لاطلاق ولااعتاق فی اغلاق نو مراد ترې نه غضب دې اکراه نه ده کما فی ابی داؤد او محتمل دې صریح نه دې.

د ونو د جرړونه پیداشوې ونې به د کرلو والا وی

سوال: د ونو پریکولونه پس چه دهغې د جرړونه نورې ونې پیداشی هغه به د چاوی؟

الجواب: دا ونې به د کرلو والا وی کمافی الهندیه ص ٤٧٤ جلد۲ ولوقطعها فنبتت من عروقها اشجار فهی للغارس کذا فی فتح القدیر

جمات او مدرسه د مال مالکان دی خو زکوة پرې نشته

سوال: چه کله جمات یا مدرسې ته مالونه ورکړئ شی هغه مالکان ګرځی که نه؟ او په دې مالونو کښې زکوة واجب دې که نه؟

الجواب: ناظم او مهتمم ته ورکولو سره جمات او مدرسه مالکان ګرځی.

کما فی الهندیه ص ۴۶۰ جلد۲ . ولو قال وهبت داری للمسجد واعطیتها له صح . و یکون تملیکا فیشترط التسلیم کما لوقال وقفت هذه المأة للمسجد یصح بطریق التملیک اذا سلمه للقیم کذا فی الفتاویٰ العتابیة

او په دې کښې شرط نه دې موجود لهذا په دې کښې زکوة واجب نه دې کما فی شرح التنویر وشرط افتراضها عقل وبلوغ واسلام وحریة والعلم به.

درې طلاقه ورکولو په لاعلمئ کښې به پیدا شوې بچې ثابت النسب وی

سوال: که څوک خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړی او د ښځې خاوند په لاعلمئ کښې بغیر د حلالې نه ماشوم پیداشی نو دا ماشوم به ثابت النسب وی یا نه؟

الجواب: دا ماشوم به ثابت النسب وی،

کما فی الهندیة ص ۵۴۰ جلد ۱ و لو طلقها ثلاثا ثم تزوجها قبل ان تنکح زوجا غیره فجاء ت منه بولد و لا یعلمان بفساد النکاح فالنسب ثابت و ان کانا یعلمان بفساد النکاح یثبت النسب ایضا عند ابی حنیفة رحمه الله کذا فی التتارخانیه.

د طلاق رجعی د عدت په دوران کښې چه خاوند وفات شی نو عدت د وفات به شروع کوی

سوال: خاوند ښځې ته طلاق رجعی ورکړو او یو ورځ کم درې حیضه تیریدلونه پس خاوند مړشو نو دا ښځه به د وفات عدت شروع کوی که د طلاق عدت به پوره کوی؟

الجواب: دا ښځه به اوس د وفات عدت شروع کړی، فی الهندیه رجل طلق امرئته طلاقا رجعیا فاعتدت بثلاث حیض الایوماً فمات الزوج یلزمها اربعة اشهروعشر کذا فی غایة البیان.

په اسفار د فجر کښې د رمضان استثناء نشته

سوال: په بعضې ښارونو کښې د رمضان په میاشت کښې د سحرمونځ د اسفارنه مخکښې په اولنی وخت کښې ادا کوی. ایا دا بهتردی؟

الجواب: دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د مزدلفې نه علاوه په هره زمانه کښې اسفار بهتردې فقهائې کرامو د رمضان استثناء نه ده کړې.

و مارواه البخاری ان الفصل بین السحور و قیام الصلاة قدر خمسین او ستین آیة و ایضا روی ان بین الفراغ من السحور و بین الدخول فی الصلاة قدر ان یقرء الرجل خمسین آیة فهو اشارة الی تعجیل اقامة الصلاة علی ان الآیة فی الحدیث المذکور تحتمل الطویلة والقصیرة و تحتمل القراءة بالترتیل و بالاسراع .

ژوندي څناوریا قیمت صدقه کولوسره د قربانئ نه ذمه نه فارغیږی

سوال: که یو سړې د قربانئ په ورځ ژوندي څناوریاد هغې قیمت صدقه کړی په دې سره ئې ذمه فارغیږی یا نه؟

الجواب: په دې سره ئې ذمه نه فارغیږی.

کما فی البدائع ص ۶۶ جلد ۵ و منها ان لا یقوم غیرها مقامها حتی لو تصدق بعین الشاة او قیمتها فی الوقت لا یجزیه عن الاضحیة لان الوجوب تعلق بالاراقة.

که د یو والا غواه میخه د نصاب قیمت ته رسیږی نوقربانی واجب ده

سوال: د یو سړی سره یوه غوا یا یوه میخه ده او عواملو کښې نه ده مثلاد پیودپاره ده او دهغې قیمت نصاب ته رسیږی یعنې دوه پنځوس نیمې تولې چاندی یا ۲۳۰۰ روپوته رسی نوپه ده باندې قربانی واجب ده که نه؟

الجواب: په ده قربانی واجب ده داسړې د نصاب خاوند دې کمافی الهندیة جلد۵ ص ۲۹۳ والزراع بثورین والة الفدان لیس بغنی وبقرة واحدة غنی.

د (فلانکی کورتللو) سره معلق طلاق د مرګ نه پس معلق نه پاتې کیږی

سوال: خاوند ښځې ته اووئیل که ته د فلانکی کورته لاړلې نو طلاقه به ئې اوس دا ښځه د فلانکی د مرګ نه پس کورته لاړه نوایا طلاق به واقع کیږی؟

الجواب: په ښځه باندې طلاق نه واقع کیږی که په دې فلانکی باندې ئې دین مستغرق وی او که نه وی.

کما فی البزازیه علی هامش الهندیه (ص ۳۲۱ ج۴) ان دخلت دار فلان فانت کذا فمات فلدخلت الدار ان لم یکن علی دین مستغرق لا یحنث لانتقال ملکه. وان کان فا لفتوی علی انه لا یحنث ایضا.

مرداري غوښې ته به پیشو راوستلې کیږی بالعکس به نه وی

سوال: د مردار څناور غوښه به پیشو دپاره کورته راوړلې کیږی یا پیشووغیره به د مرداري خواته بوتلې کیږی؟

الجواب: پیشو به ددې مرادرې خواته راوستلې کیږی بالعکس به نه کیږی.

کما فی البزازیه علی هامش الهندیه (ص ۸۲ ج۴) ولایحمل الجیفة الی الهرة ویحمل الهرة الی الجیفة .

اجیر په اجاره باندې مالک ته مستاجر نه شی ورکولې

سوال: ایا اجیر په اجاره سره مالک ته مستاجر ورکولې شی؟

الجواب: اجیر دا څیز مالک ته په اجاره نه شی ورکولې برابرخبره ده چه ثالث متوسط وی یا نه.

کما فی الهندیه (ص ۴۶۵ ج۴) ان المستاجر لو اجره من المواجر لا یصح تخلل الثالث اولا. وبه عامة المشائخ. وهو الصحیح و علیه الفتوی کذافی الوجیز للکردی.

په فصل باندې د افت په صورت کښې د اجرت مسئله

سوال: که د زراعت نه پس افت راشی نو د مستاجر نه به بدل اجاره ساقطیږی که نه؟

الجواب: د تیرشوې اجرت به ثابت وی او د مابقی اجرت به ساقط وی.

کما فی الهندیه اذا استاجر ارضا للزراعة فاصطلمه آفة کان علیه اجرما مضی وسقط عنه اجر مابقی لمدته بعد الا صطلاح .

اودرد ایت نیم په یو رکعت او باقی نیم په بل رکعت کښې وئیل

سوال: په یو رکعت کښې چه نیم ایت اووئیلې شی او باقی نیم په بل رکعت کښې نو ایا دا مونځ به صحیح وی؟

الجواب: دا مونځ به صحیح وی.........

کما فی الدر المختار ص ۳۹۷ جلد ۱ ولو قرء آیة طویلة فی الرکعتین فالا صح الصحة اتفاقا لانه یزید علی ثلاث آیا ت قصار قاله الحلبی.

د قصیده : بدءالامالی) د یو شعر مطلب

سوال: د قصیده (بدء الامالی) د دې شعر څه مطلب دې؟

ورب العرش فوق العرش لاکن .... بلا وصد التمکن واتصالی.

الجواب: دا د جمهورعلماؤ مذهب دې د الله تعالی د ذات او صفاتو متعلق به همیشه دپاره دوه ایتونو ذهن کښې حاضر ساتې. (الله الصمد) الله تعالی بې نیاز دې هیڅ قسم احتیاج نه لری. (لیس کمثله شئ) دهغه په شان هیڅ خیز هم نشته، نو په عرش باندې الله تعالی ته فوقیت د نصوصو په بناء حاصل دې اوهم د امام ابوحنیفه امام مالک او امام شافعی او امام احمد (رحمهم الله تعالی) قول دې، او هم دا د امام مزنی، امام ابوحاتم، امام ذهبی، امام سراج الدین حنفی، امام ابن الهمام او امام عبدالعزیزوغیره نه روایت شوې دی اوپه کوم حدیث کښې چه راغلی دی کان الله ولم یکن شئ. هغه په ظاهر باندې محمول دی اوپه کومو نصوصو کښې چه علی العرش استوی. ثابت دی نو استوا معلومه ده مجهوله نه ده او د هغې کیفیت نامعلوم دې خو د متشابهاتو نه دې. ای استواءمنزه عن التمکن والاستقرار. وانه فوق العرش ومع ذالک هوقریب من کل موجود وهواقرب من حبل الورید ولا یماثل قربا قرب لاجسام اوپه کوم حدیث کښې چه. نزول السماء. راغلی دی نودیو توجیه په بناء باندې داتجلی ده اوکوم ځائ کښې چه داراغلی. وهومعکم این ماکنتم نوددې نه مرادخویامعیت علماً و قدرةً وعوناً اویاتربیه مراد معیت ذاتی دې. کمایلیق به تعالیٰ لامن حیث التمکن والمماسته والمحاذاة. ویشیر الیها کلام اهلاالفن.

د دیوال سره ګولئ ټکراؤ شی او څوک قتل شی نودا قتل خطاء دې

سوال: که یو سړې بل سړې په ګولئ باندې اوولی. لیکن ګولئ په دیوال وغیره باندې اولګی اوبیا واپس شی او هغه دویم سړې قتل کړی. نو په دې کښې قصاص واجب دې که نه؟

الجواب: دا قتل خطاء دې نو په دې وجه باندې دیکښې قصاص واجب نه دې. کما فی الهندیه ص ۳ جلد ۶. رجل رمی انساناًبسهم فاخطاء فاصاب السهم حائطا ثم عادالسهم فاصاب ذالک الانسان وقتله قال هذاخطاء.

د غټې ښځې په جماع سره مړه کیدلو باندې ضمان نشته

سوال: یو سړې دغټې ښځې سره جماع اوکړې اوپه دې جماع سره هغه مړه شی نوآیاپه دیکښې ضمان شته؟

الجواب: په دیکښې هیڅ ضمان نشته کما فی الهندیه ص ۲۸ جلد ۶ رجل جامع امراته ومثلها یجامع فماتت من ذالک فلاشئ علیه.

د احنافو په نزد د سنتونه پس دعا افضل ده

سوال په بعضې ښارونو کښې خلق دفرضونه پس دعا کوی دسنتونه پس نه. اودلویو لویو علماؤ اومفتیانو حوالې پیش کوی نوافضل دسنتونه پس ده که دفرضو نه پس؟

الجواب: داحنافوپه نزد باندې دسنتونه پس افضل ده.

کما فی البحر ص ۳۰۴ جلد ۱ .لکن عند نا السنة مقدمة علی الدعاء الذی عقب هو الفراغ و کما فی الخلاصة الفتاویٰ ص ۹۵ جلد ۱ بعد الفریضة الاشتغال بالسنة اولیٰ من الاشتغال بالدعاء وکما فی الاشباه و النظائر ص ۱۲۷ .الاشتغال فی السنة عقیب الفرض افضل من الدعاء . و کما فی البزازیه علی هامش الهندیة ص ۳۸۰ جلد ۲ . والاشتغال بعد

الفرض باداء السنة اولیٰ من الدعاء و کما فی شرح شرعة الاسلام و یختم الدعاء بعد المکتوبة قبل السنة علی ما روی البقالی . من ان الافضل ان یشتغل بالدعاء ثم بالسنة و بعد السنن والاوراد علی ما روی عن غیره وهو المشهور المعمول به فی زماننا .

(۱)کوم علماء چه دسنتونه پس دعانه کوی نوهغوی داحنافو دثابت قول نه بغیر دوجهې نه اعراض کوی (۲)عوام په هغوی باندې اعتماد کوی چه دوی مونږته دامام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه قول ښائی خوحال دادې چه هغوی دشوافعو او اهل حدیثو قول ذکرکوی (۳) اوپه حدیث کښې چه دبرمکتوبات دبرالمکتوبة راغلی دی دعوامو داذهن جوړوی چه ددې نه پس متصل مراددې حال داچه دسنتو نه پس دعاهم دبر مکتوبات ده =مقدم علی المکتوبات نه ده (۴) اوکوم احادیث چه مخالفین ذکرکوی هغه ټول څمونږ په نزد باندې بغیرتاویل نه معمول دی.

د لا تشدوا الرحال الا ثلاثة مساجد (الحدیث) وضاحت

سوال: په حدیث شریف کښې راغلی لاتشدوالرحال الاثلاثة مساجد اوابن تیمیه وغیره ددې نه استنباط کوی چه دپیغبر عليه السلام دزیارت دپاره دوفات نه پس سفرناجائزدې ددې وضاحت اوکړئ؟

الجواب: که داحدیث په ظاهرباندې محمول شی دربوجماتونونه علاوه نوروځایونوته سفرکول جائزنه وی نودپیغبر عليه السلام په ژوندکښې دملاقات دپاره به تبوک ته هم سفرکول ناجائزوی.

یو دوه درې ته په ماطلاقه ئې.. ددې جملې حکم

سوال: که خاوندښځې ته اووائی چه یودوه درې ته په ماطلاقه ئې.نوعوام دادتغلیظ دپاره استعمالوی آیا دا اراده صحیح ده؟

الجواب: دتغلیظ په اراده سره دااستعمال غلط دې په دې سره طلاق رجعی واقع کیږی ځکه چه یودوه درې دیوځیزشمارل وی انشاء نه وی اوکه دائې مرادوی چه یوطلاقه دوه طلاقه درې طلاقه نودابه دطلاق شمارل شی لیکن

په دې کښې حکم نشته یعنی بئ اونه بئ اوکه راتلونکې جمله بئ مرادوی چه ته به په ماطلاقه بئ.داخیال وی نوددې جملې سره ئې هډو ربط اوتعلق نشته نه دمفعول مطلق کیدلواونه دتمیزکیدلو۔ دادخپل فاسد خیالونو شمار دې. فلیراجع الی محاورة السلمانین.

د ضاد . تفصیلي مسئله

سوال: ضاد .دظاء.سره مشابه دې که د.دال.سره؟

الجواب: ضاد .ظاء.دآل.داجداجدا حروف دی اود هریومخرج جداجدا دې.

قال فی الشافیه و للضاد اول احدی حافتیة و ما یلیها من الاضراس و للظاء طرف اللسان و طرف الثنایا و للدال طرف اللسان و اصول الثنایا العلیا انتهی مختصرا مع تقدیم و تا خیر فی العبارة . و هکذا فی کتب التجوید

دارنګې دصفاتوپه اعتبارسره هم داحروف جداجدا دې اګرچه ضاد او ظاء حروف داستطالت په صفت کښې جداجدا دې.اوضاد اودال تقریباً په اوو صفاتوکښې جداجدا دې (کما لایخفي علی من راجع الی کتب التجوید)

دارنګې دعلماء فن نه منقول دې چه ضاد په اعتبار دصفاتو سره ظاء ته نزدې دې اوپه اعتباردمخرج دال نه نزدې دې اوداهم منقول دې که په ضادکښې اطباق نه وی نودال ترې نه جوړیږی لکه چه په ضاد کښې که استطالت نه وی نو ظاء به شی. کما صرح به فی المفتاح الرحمانی فی علم القراءة لولا الاطباق فیها لکان الصاد سینا والظاء ذالا والضاددالا.انتهی ددېنه ثابته شوه چه دضاد دال سره پوره قرب اونزدیکت دې چه صرف اطباق پکښې تمیز دې بلکی په اعتباردمخرج سره دضاد دال سره ډیر نزدیکت دې.

صرح به فی امداد الفتاویٰ ص ١٧٧ جلد ١ و فی شرح الشاطبی ان هذا الثلث (الضاد، والظاء، والذال) متشابهة فی السمع . و الضاد لا تفرق من الظاء الا باختلاف المخرج و زیادة الاستطالة فی الضاد ولو لاهما لکانت احدٰ هما الاخریٰ . مجموعة الفتاویٰ ص ٢٦٩ جلد ١۔

ددې تمهیدنه پس واضحه شوه چه ضاداګر چه ظاء اودال دواړه سره نزدې دې لیکن ددې په ادا کولو کښې دخلقوژبې مختلفې دی.

قال فی المنح الفکریة ص ۳۸ ولیس فی الحروف ما یفسر علی اللسان مثله و السنة الناس فیه مختلف فمنهم من یخرجه دالا مهملا او معجمة و منهم من یخرجه طاء مهملة کا لمصریین ومنهم من یشمه ذالا و منهم یشیر بها با لظاء المعجمة ۔

فقهاء او اکثر مجودین دظاء سره مشابهت ته مائل دی کما لایخفی علی من راجع الی باب زلة القاری والی کتب التجوید او بعضی امامان مشابه بالظاء ته قبیح او مستهجن وائی.

قال الرضی فی شرح الشافیه ص ۳۷۸ والضاد الضعیفة. قال السیرافی انها فے لغة قوم لیس فی لغتهم ضاد فاذا احتاجوا الی التکلم بها فی العربیة اعتاصت علیه فربما اخرجوها ظاء لاخراجهم ایاها من طرف اللسان والطرف الثنایا و ربما تکلفوا اخراجها من مخرج الفساد فلم یتات لهم فخرجت بین الضاد والظاء انتهی . و فی کتب اللغة ان هذا الحرف لم یو جد فی غیر العربیة .

......ددې اختلافو باوجود په دې حرف کښې سختی کول نه دی پکار بلکه کوم سړې چه ددې حرف په ادا کولو کښې ددې دمخرج او صفت خیال ساتی نو هر یو آواز چه او وځی غلط به ورته نه وئیلې کیږی، او مونځ ورپسې صحیح دې او داد محققینو علماؤ رائې ده مولانا گنگوهی رحمة الله علیه فرمائی اصل حرف، ضاد دې دخپل مخرج نه ئې اداکول واجب دې او که بیاهم نه کیږی نود عذر په صورت کښې دډک دال، په آوازسره هم مونځ کیږی (فتاوی رشیدیه ص۲۷۲) او فرمائی چه کوم سړې خالص دال یا ظاء په قصد سره وائی هغه پسې مونځ مه کوئ مګر چه کوم سړې ئې د ډک دال په آواز سره وائی هغه پسې مونځ کوئ

ص ۲۷۴ و فی فتاویٰ دار العلوم دیو بند ص ۴۷ جلد ۱ . و آنچه از قراء و علماء عرب و علماء حرمین شریفین مسموع میشود . ضاد را شبه صوت بالدال المهمله المعجمه مے خواند تغلیط آن همه علماء و قراء هم سهل نیست.

حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمائی دضاد په ځاې باندې دال وئیل هم غلط ظاء وئیل هم غلط دی په قصد وئیل ګناه ده لیکن دعموم بلوی دوجې نه ددواړو مونځونه نه فاسد یږی. دتجوید دماهر قاری نه مشق او کړئ او دصحیح وئیلو کوشش کوئ که بیاهم غلط او وځی نو معذوری ده

(امداد الفتاوی ص ۱۸۰ جلد ۱) نو ددې تصریحاتو په بناء باندې په دیکښې سختی کول ښه نه ښکاری ځکه چه حقیقت دادې چه دمشاق قاریانو آوازونه هم مختلف وی. فقط

دسجده سهوپه صورت کښې درودشریف اودعاء

سوال: دسجد سهوې په صورت کښې به درود شریف او دعاء په کومه قاعده کښې اداکولې شی؟

الجواب: احتیاط دادې چه په دواړو قعدو کښې دې اداکړې شی (یعنی دسجده سهوې نه مخکښې او پس) کمافی شرح التنویر وقیل فیهما احتیاط

په سجده سهوه کښې یوطرفته سلام ګرځول

سوال: بعضې خلق وائی چه امام به یو طرفته سلام ګرځوی او منفرد به دواړو طرفونو ته سلام ګرځوی.

الجواب: صحیح داده چه صرف ښی طرفته به سلام ګرځوی (کما فی الهندیة ص ۱۶۵ جلد ۱) والصواب ان یسلم تسلیمة واحدة وعلیه الجمهور الیه اشار فی الاصل کذافی الکافی، ویسلم عن یمینه کذا فی الزاهدی.

د ټولو واجباتو د ترک په صورت کښې به صرف دوه سجدې کوې

سوال: که څوک ډیر واجبات پریږدی نو په هغه باندې به څومره سجدې واجب وی؟

الجواب: دټولو واجباتو پرېښودلو سره به دوه سجدې واجب کیږی (کما فی رد المحتار حتی لو ترک جمیع واجبات الصلاة سهوا لایلزمه الا سجدتان، بحر ص ۴۹۷ جلد ۱)

په ولاړه باندې التحیات وئیلو سره سجده سهو نه واجب کیږی.

سوال: که څوک په ولاړه (دقیام په حالت کښې) التحیات او لولی نو په هغه سجده سهوه واجب ده که نه؟

الجواب: په هغه سجده سهوه واجب نه ده که په اول رکعت کښې وی او که په دوئم رکعت کښې وی (هندیه ۱۷۲ جلد ۱)

دفاتحې نه پس التحیات وئیلوسره سجده سهوه واجب ده

سوال: که د سورت فاتحې نه مخکښې یاروستوڅوک التحیات اووائی نو په دیکښې سجده سهوه واجب ده که نه؟

الجواب: په مخکښې وئیلوکښې واجب نه ده اوروستووئیلوکښې واجب ده لتاخیر الواجب (هندیه ص ۱۲۷ جلد ۱)

د تشهد په ځائې فاتحه وئیلویادفاتحې نه پس تشهد وئیلوسره سجده سهوه واجب ده

سوال که د تشهد په ځائې فاتحه اولولی یادفاتحې نه پس تشهد هم اووائی نو سجده سهوه واجب ده که نه؟

الجواب: په دې دواړوصورتونو کښې سجده سهوه واجب ده هندیه ص ۱۲۷ جلد ۱.

د اولنی رکعت والاسورت نه مخکښې سورت په دویم رکعت کښې وئیلوسره سهوه نه واجب کیږي

سوال که په دویم رکعت کښې داولنی رکعت والا سورت نه مخکښې سورت اووائي نو په دې سجده سهوه واجب ده که نه؟

الجواب: په دیکښې سجده سهوه واجب نه ده کذافی المحیط هندیه ص ۱۲٦ جلد ۱.

داختراو جمعې په مونځ کښې سجده سهوه

سوال داختراوجمعې په مونځ کښې به سجده سهوه کولې شی که نه؟

الجواب: په دیکښې په سهوې سره سجده سهوه پریخودل بهتردی ناجائزنه دی شامی ص ۵۰۵ جلد ۱

مسبوق د امام سره سلام اوګرځوی نوسهوه واجب ده یانه

سوال که مسبوق دامام سره سهوأ سلام اوګرځوی نو په دیکښې سجده سهوه واجب ده که نه؟

الجواب: که مسبوق دامام داولنی سلام سره یااولنی سلام سره پیوست سلام اوګرځوی نو په هغه باندې سجده سهوواجب نه ده اوکه دامام د اولنی سلام نه پس اوګرځوی نو په هغه باندې سجده سهو واجب ده (کبیری ص ۴٦۵)

که دظهار یاقتل په کفاره کښې رمضان راشی

سوال که دظهار یاقتل کفارې په مینځ کښې رمضان راشی نوآیادا کفاره به بیادسره اداکولې شی؟

الجواب: دا به بیادا ول نه اداکولې شی ځکه چه دې کفاره کښې تتابع یعنی پرله پسی والې ضروری دې کما فی الهندیه ص ۵۱۲ جلد ۱ فکفارته صوم شهرین متتابعین لیس فیها شهر رمضان ولا یوم الفطر ولایوم النحر ولاایام التشریق کذا فی غایة البیان،

د متعدد قسمونو په صورت کښې یوه کفاره

سوال: د قسمونو متعدد کیدلو په وخت کښې د کفاره یو کول جائزدی که نه؟

الجواب: دامام محمد رحمة الله علیه دیوقول په بناءباندې یوکول کافی دي کمافی ردالمحتارص ۷۱٤ جلد ۳ وفی البغیة کفارات الایمان اذا اکثرت تداخلت ویخرج بالکفارة الواحدة عن عهدة الجمیع وقال شهابالائمة هذا قول محمد وقال صاحب الاصل هو المختار عندی.

دواده کړې سړی دښځې داجازت نه بغیر څلوریاڅلورمیاشتونه زیات سفرکول

سوال یوواده کړې سړې دعلم حاصلولویاعرفی تبلیغ دپاره څلورمیاشتې یاڅلورمیاشتونه زیات سفرکولې شی یانه؟

الجواب: دښځې درضااواجازت نه بغیر داسفرناجائزدي.

فی شرح التنویر ولا یبلغ مدة الایلاء الا برضاها .وفی ردالمحتار ص ۲۰۳ ج ۳ ویؤید ذالک قول عمرلما سمع فی اللیل امرءة تقول . فسئل بنته حفصة کم تصبر المرءة عن الرجل فقالت اربعة اشهر فامر امراء الاجناد ان لا یتخلف المتزوج عن اهله اکثر منها .

د موجوده تبلیغ درجه

سوال که څوک اووائی چه داعرفی تبلیغ فرض دي دپاره ؛څه وخت مقررول نشته آیاداصحیح ده؟

الجواب: دټول دین تبلیغ شوي دي په دي کښې هيڅ کمي نه دي پاتي شوي حضرت مولانامحمدالیاس رحمة الله علیه په شرالقرون کښې یواصلاحی پروګرام جوړکړي ددي درجه دبدعت حسته نه زیاته نه ده =دېته فرض وئیل دجاهل متاجهل رویه ده.

قنوت نازله اوامام طحاوی

سوال قنوت نازله وئیل جائزدی که ناجائز؟ حال داچي امام طحاوی په شرح معانی آلآثارکښې فرمائی: فثبت لماذکرناانه لاینبغی القنوت فی الفجرفی حال الحرب ولافی غیره وهذاقول ابی حنیفه وابی یوسف ومحمدرحمهم الله تعالی؟

الجواب: کیدي شی امام طحاوی په نوروتصانیفو مختصروغیره کښې دقنوت نازله جوازذکرکړي وي اوکیدي شی امام طحاوی په محاربه کښې ددي نفی کړي وی اوپه شدت محاربه کښې ئې مشروع وئیلي وی اوهم داجواب صحیح دي.

په غاړه یا په مټ تعویذ زوړندول

سوال په سټ یا لاس باندي تعویزاچول جائزدی یاناجائز بعضي خلق ورته ناجائز وائی؟

الجواب: په جائز کلماتوسره لیکلي شوي تعویذ جائزدي.

لما رواه ابو داؤد عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ان رسو ل الله ﷺ کا ن یعلمهم من الفزع کلمات اعوذ بکلمات الله التامة من غضبه و شر عباده ومن همزات الشیاطین وان یحضرون .وکا ن عبدالله بن عمریعلمهن من عقل من بنیه من لم یعقل کتبه فاعلقه علیه .

اوپه کوم حدیث کښې چه،ان الرقی والتمائم والتولة شرک،راغلي نودتمائم نه مراد الخرزات التی تعلقهاالنساءفی اعناق الاولادعلی ظن انهاتوثروتدفع العین یعنی مشکنې اومرئ دي چه په هغې کښې دتبرک څه بوئی

قدري هم نشته لکه چه درقی نه مراداسماءالاصنام والشیاطین والا دي صحیح کلماتووالانه دی.

درمضان په فجرکښې تغلیس کول حنفی مذهب نه دي

سوال: په بعضي ښارونوکښې په رمضان کښې همیشه دفجرپه مونځ کښې تغلیس کولي شی ایاداداحنافومذهب مطابق دی.

الجواب: داامام ابوحنیفه رحمة الله په نزد باندي دحدیث په بنیادباندي دحاجیانودپاره په مزدلفه کښې تغلیس بهتردي په نوروځایونوکښې نه کما فی شرح التنویروالمستحب الابتداء باسفاروالختم به الالحاج بمزدلفه. اوبخاری شریف کښې چه کوم راغلی دی چه دپیشمنی (سحری)اومونځ اودریدلوپه مینځ کښې دپنځوسو یا شپیتو آیاتونو لوستلوپه اندازه فرق وو.اوپه کور کښې دپیشمنی کولونه پس به ئې په تیزئ سره دسحر مونځ کولو.نودامحتمل دي چه داالوستل په ترتیل سره وویابغیردترتیل نه وواودپیشمنی داکورلري وویانزدي وونوپه داسې محتمل روایتونوسره مذهب پریخودل بې باکی ده.

په ختم القرآن فی التراویح کښې دحافظ قرآن پیسي اخستل دا اجرت علی الامامةدي اجرت علی التلاوت نه دي

سوال: حافظ قرآن چه په تراویح کښې په ختم القرآن باندي کومې پیسې اخلی داجائزدی که ناجائز؟

الجواب: فقهائې کراموپه تلاوت باندي اجرت اخستلوته ناجائزوئیلی دی لیکن څمونږپه ښارونوکښې حافظان تلاوت هم کوی اوامامت هم کوی.نودهغوی پیسې صرف دتلاوت بدل ګرځول اودامامت نه چپ کیدل بې وجې دی اوکه صرف تلاوت مرادکړي شی نودتلاوت نه خویوتراویح هم خالی نه دی نوبیاباپه مطلق تراویح باندي اجرت اخستل ناجائزوی.بهرحال دحافظ په دي پیسوباندي انکارکول هندی مسئله ده حنفی نه ده.اوداأجرت علی الامامت دي علی محض التلاوت نه دي.

د جهاد اصغراو جهاد اکبر وضاحت

سوال: حدیث رجعنامن الجهادالاصغرالی الجهادالاکبر، حدیث مرفوع دې یاد یو راوی کلام دې؟

الجواب: ملاعلی قاری په موضوعات کبیر صفحه ۴۰کښې فرمائي چه عسقلاني فرمائي چه دا په ژبوباندې مشهوردې خوداده ابراهیم بن عبله کلام دې کمافی الکنی للنسائی ذکرالحدیث فی الاحیاء ونسبه العراقی الی البیهقی من حدیث جابرقال السیوطی روی الخطیب فی تاریخه من حدیث جابر، اوپه دې حدیث کښې راغلی دی. الجهادالاکبرقال جهادالقلب. وفی روایه هومجاهدة العبد هواه. یعنی جهاداصغردکفراوباطل سره مقابله ده اوجهاداکبردخواهشاتوسره مقابله ده.

د حدیث (سورالمومن شفاء) وضاحت

سوال: دسورالمومن شفاء، حدیث صحیح دې که نه؟

الجواب: ملاعلی قاری په المصنوع فی احادیث الموضوع ص ۱۴ کښې فرمائي قال العراقی هکذا اشتهر علی الالسنة ولا اصل له بهذا اللفظ.

په ذوی الارحام کښې مفتی بهٔ قول

سوال: دذوی الارحام متعلق په احناف علماءکښې ډیر اختلاف دې په دې کښې غوره کوم یو دې؟

الجواب: دامام محمدرحمة الله علیه قول اشهرالروایتین دې اوهغه مفتی به هم دې. کمافی السراجیه ص ۴۰وقوله محمد رحمة الله اشهرالروایتین عن ابی حنیفه رحمةالله تعالی فی جمیع ذوی الارحام وعلیه الفتوی.

د بیت المال نه کیدلوپه صورت کښې دلاورث دمال حکم

سوال: چه دکوم سړی ذوی الفروض عصبات، ذوی الارحام وارثان نه وی. اوبیت المال هم نه وی نودهغه میراث به چاته ورکولې شی؟

الجواب: چه کله بیت المال نه وی نو نورو رشته دارانوته ورکول جائزدی (فلیراجع الی ردالمحتار ص۷۸۸ جلد۶)

که ما دا کار اوکړو خه به زنا کار او غل یم.
په دې الفاظو وئیلو کښې د قسم او کفارې مسئله

سوال: که چا دا الفاظ اووئیل چه که ما فلانکې کار اوکړو نو خه به زنا کار یم اوغل یم په دې کښې د قسم کفاره شته که نه؟

الجواب: په دې کښې کفاره نشته دې. کما فی الهندیه ص ۵۵ جلد۲ ولو قال ان فعلت فانازان اوسارق فلیس بحالف.

که ما دا کار اوکړو نوخه به یهودی یا نصرانی یم.
په دې الفاظو وئیلو کښې د قسم او کفارې مسئله

سوال: که چا دا الفاظ اووئیل، که ما دا فلانکې کار اوکړو نوخه به یهودی یا نصرانی یم په دې کښې کفاره شته که نه؟

الجواب: دا قسم دې په دې کښې کفاره واجب ده. کما فی الهندیه ص ۵۴ جلد ۲ ولوقال فهویهودی او نصرانی اونحو ذلک مما اعتقاده کفر فهویمین استحسانا کذا فی البدائع.

د حانث کیدلو نه مخکښې ورکړې شوې کفاره به نه واپس کیږی

سوال- که چا د حانث کیدلو نه مخکښې کفاره ورکړه نو دا به واپس کولې شی یا نه؟

الجواب: دا به واپس کولې نه شی. کما فی الهندیه ص ۶۴ جلد ۲ ان قدم الکفارة علی الحنث لم یجزئه ثم لایسترد من المسکین لو قوعه صدقة کذا فی الهدایة.

د سرکاری رؤیت هلال. کمیټئ شرعی حیثیت

سوال: څمونږ په ضلع کښې یو غیرسرکاری رؤیت هلال کمیټئ مقرره ده نو ده بعضې وجوهاتو په بناء باندې د سرکاری رؤیت هلال کمیټئ اعلان نه شو اوریدلې آیا دا جائز دی؟

الجواب: خبرشئ چه رؤیت هلال کمیټی یو انتظامی او ضروری کاروائی ده په قران او حدیث کښې نه مطلوب ده او نه ممنوع بلکه مباح ده د مسلم شریف او ترمذی شریف په حدیث کښې د حضرت معاویه رضي الله عنه او د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه تصریح ده. چه حضرت معاویه رضي الله عنه د وخت بادشاه وو په شام کښې ئې د اختر کولو فیصله کړې وه او حضرت ابن عباس رضي الله عنه په مدینه منوره کښې په قصد سره په دویمه ورځ باندې د اختر کولو فیصله کړې وه نو ددینه معلومه شوه چه په دې معامله کښې د بادشاه وخت سره موافقت ضروری نه دی خصوصاً په کوم وطن کښې چه اسلامی نظام نه وی او په کمیټئ کښې د وطن دټولو اطرافو خیال ساتل ضروری وی او څمونږ په وطن کښې د سرحد لحاظ نشته، بې شمیره حاجیان او عادلان خلق میاشت اووینی او ګواهی ورکوی او کمیټی اعلان کوی چه میاشت په نظر رانغله اوحال داچه په سرحد کښې ټول خلق میاشت وینی، نو د یوې علاقې رؤیت به په ټول وطن باندې حاوی کیږی دانه چه د پنجاب او سندهـ نه لیدل دې په ټول وطن باندې لاګوشی. اوپه کمپیوټر باندې بناء کول دحدیث انا امة امیة لا نکتب ولا نحسب په بنیاد باندې دعلم هیئت اوعلم حساب په باریکو باندې بناء کول غیرشرعی امردې. اوانسانی ساخت دې.

په یو. دوه. درې طلاق.. کښې. د پښتوخاص محاوره

سوال: په پښتنو کښې دا رواج دې چه کله څوک ښځې ته اووائی، ته طلاقه ئې یو، دوه، درې، نو دا مغلظه ګرځی، نو آیا دا رواج صحیح دې یا نه؟

الجواب: دا رواج صحیح نه دې، (۱) ځکه چه ددې نه مراد شماردې د طلاقو انشاء نه ده. (۲) دا رنګې دا د شمار الفاظ دی په دې کښې حکم شته یانه، نشته. (۳) که په دې کښې حکم اومنلې شی چه ددې معنی یو طلاق دې دوه طلاقه دی درې طلاقه ده، نو د محاورې په بنیاد سره پکښې د ،،په، لفظ راوړل ضروری دی یعنې ته په یو طلاق طلاقه ئې، ته په دوه، ته په درې، او حال دادې چه،،په،، لفظ نشته. (۴) که دا سړې د دریو طلاقو نیت اوکړی او دا ،،یو،، دوه، درې، د هغه دنیت تفصیل وی نو په صریح کښې د دریو نیت غیر صحیح دې.

په عصبات کښې علاتی رور. په اعیانی وراره باندې مقدم دې

سوال: علاتی رور په اعیانی وراره باندې مقدم دې که نه؟

الجواب: علاتی رور په اعیانی وراره باندې مقدم دې. کما فی الهندیه ص ٤٥١ جلد ٦ فی العصبات ثم الاب ثم الجد اب الاب وا علا. ثم الاخ لاب وام ثم الاخ لاب. ثم ابن الاخ لاب وام.

په دوه مختلفو رمضانونوکښې په روژې ماتولو باندې د جدا جدا کفارې مسئله

سوال: که روژه دار په دوه رمضانونو کښې جماع اوکړی نو دې په کفاره تداخل کولې شی اوکه نه د هرې روژې دپاره به ځان ځان له کفاره ادا کوی؟

الجواب: د ظاهر الروایت مطابق مسئله داده چه د هر یو دپاره به ځان ځان له کفاره ورکوی. کما فی الهندیه ص ۱۰۱ جلد ۲ ولو جامع فی رمضانین ولم یکفر الاول فعلیه لکل جماع کفارة فی ظاهرالروایة.

که خپلوان نه وی نو پردې خلق هم د ښځې لاش دفن کولې شی

سوال: که د ښځې خپلوان نه وی نو پردی خلق ئې دفن کولې شی که نه؟

الجواب: پردی خلق ئې دفن کولې شی. کما فی البدائع ص ۳۲۰ جلد ۱ ولو لم یکن فیهم ذورحم فلاباس للاجانب وضعها فی قبرها.

د باغ او میوه جاتو متعلق مسائل

مسئله (۱) که یو مالک د باغ نه په عشر کښې میوې واخلی نو دا اسان کار دې چه عاشر (د زکوة ذمه وار کس) دا زکوة په خپل ټرک کښې یا د کرائې په ټرک کښې د باغبان په ټرک کښې داحسان په طور یوسی، او مالک د زکوة نه علاوه په میوه جاتو کښې مختار دې چه چرته منډئ ته ئې یوسی، خو بهرحال دا کرایه وغیره به ددې مالک په ذمې باندې وی.

مسئله (۲) که د باغ مالک ټولې میوې نزدې یا لرې منډئ ته یوړلې نو خرچې به ټولې دده په ذمه باندې وی او د ټول قیمت نه به عشرورکوی، اګرکه د مقامی عشر په حساب سره څو چنده وی.

مسئله (۳) که څوک ټولې میوې واخلی نو کرایه به په خریداروی اوکه د باغ مالک ته به د مقامی نرخ په حساب سره د زکوة قیمت ادا کوی،

د ریالونو او روپو په مینځ کښې د بیع ناآشنا مسئله

سوال: که د یو سړی سره زر ریالونه وی او هغه د سوداګر خواته لاړ شی او دا اووائی چه د هزار په مقابله کښې په پاکستان کښې ځما څوی ته شپاړس زره روپئ ورکړه، داجائز دی که ناجائز؟

الجواب: په دې معامله کښې ظاهری طور سره سوداګر مشتری (اخستونکې) هم دې او بائع (خرڅونکې) هم دې، چه دا ناجائز دی، لیکن د دې مؤکل په امر سره د یو رائې په بناء باندې دا معامله جائز ده.

کما فی البزازیة علی هامش الهندیة ص ٣٧٥ جلد ٥ وان امر ہ الموکل ان یبیعه من نفسه او اولاده الصغار او ممن لایقبل له شهادة فباع منهم جازوهو قول الطحاوی.

دا رنګې عربی او پاکستانی نوټونه هم بدل دی کتغائر الثوب الهروی والمروی. چه په دې کښې تفاضل او نساء، دواړه جائز دی.

کتغائر الثوب الهروی والمروی چه په دے کی تفضال اونسأ دواڑه جائزدی: قلت نظیر هذه الوکالة کارسال الرقم بالبرید.

په دعا بعد السنت کښې اختلاف په غوره والی کښې دې په بدعت او سنت کیدوکښې نه دې

سوال: په کوم مونځ کښې چه د فرضونه پس سنت وی نو هندوستانی علماء د سنتو نه مخکښې دعا کوی او سلیمانی علماء د سنتونه پس دعا کوی، کوم یو قول غوره دې؟

الجواب: پیغمبر عليه السلام نه د سنتو نه مخکښې دعا کړې اونه روستو، دادپیغبر عليه السلام فعل دې او د پیغمبر عليه السلام په قول کښې (دبرالمکتوبات) لفظ راغلې دې او د (دبر) په معنی کښې اختلاف دې، هندوستانی علماء ترې نه روستو متصل مراد کوی او څمونړ سلیمانی علماء مثلاً ابن الهمام، ابن عابدین، ابن نجیم صاحب د خلاصة الفتاوې صاحب د بزازیه وغیره تول د (دبر) نه مابعد مراد کوی که متصل وی او که منفصل وی، او د فقهی دلائلو په وجې سره سلیمانی علماء دې دویم قول ته ترجیح ورکوی او دا اختلاف په اولویت کښې دې په بدعت او سنت کیدلو کښې نه دې. (تمت جلد اول)

ولو ردوه الى الرسول والى اولى الامر منهم لعلمه الذين يستنبطونه (النساء)

جامعہ دارالعلوم حقانیہ اکوڑہ خٹک کے نصف صدی کے فتاویٰ کا مجموعہ

فارسی

فتاویٰ حقانیہ

افادات
شیخ الحدیث مولانا عبدالحق ودیگر مفتیان کرام
جامعہ دارالعلوم حقانیہ

نگرانی واہتمام
مولانا سمیع الحق مہتمم واستاذ حدیث
جامعہ دارالعلوم حقانیہ

ترتیب مفتی مختار اللہ حقانی

مکتبہ رشیدیہ
جی۔ٹی روڈ اکوڑہ خٹک ضلع نوشہرہ 0344-9084693